د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه

مولوی سلطان عزیز عزام حفظه الله

ناشر

دار الکنوز العلمیة

Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ ﴾ [حم السجدة]

او ببشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

د "طه" [۲۵] ايت څخه، "الأنبياء، الحج، المؤمنون، النور"

او د "الفرقان" تر [۲۰] ايت پورې

اتم ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفی الله عنه

حسن خيل مومند: د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الكنوز العلمية

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نېټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نېټه پای ته ورسیده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نېټه يې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه وربانډې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب کې هره میاشت د دېرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.


## څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



## د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړیکو پتې:

۱) بریښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸٤٦۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱٦٥۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹٦۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹٦۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خوانې شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲٥٦٥٥۳۸)

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾
يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ﴿٢٨﴾ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ
أَزۡرِي ﴿٣١﴾ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ﴿٣٢﴾ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ﴿٣٣﴾ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ
كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ﴿٣٥﴾ ﴾

[۲۵] موسی ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! زما سینه زما دپاره پرانیزې (حوصله مې غټه کړې).
[۲۶] او (هم) زما کار (چې اوس پرې مقرر کړی شوم) زما دپاره اسان کړې (توفیق راکړې).
[۲۷] او (هم) زما د ژبې څخه (د بندش) غوټه خلاصه کړې.
[۲۸] ترڅو فرعونیان (او نور خلک) زما په خبره باندې پوه شي.
[۲۹] او (هم) زما د اهل (خپلوانو) څخه (يو کس) کومک کوونکی زما دپاره مقرر کړې.
[۳۰] (زه په يو کس سره) خپل ورور هارون اراده کوم (چې زما معين مقرر شي).
[۳۱] زما شا زما په ورور باندې کلکه کړې (چې د دعوت په جريان کښې مې شاته ودرېږي).
[۳۲] او (هم) زما ورور (هارون) زما په کار (پيغمبري دعوت) کښې (راسره) شريک کړې.
[۳۳] (ذکر شوي سوالونه ما د دې دپاره وکړه) ترڅو مونږ ستا ډېر تسبيحات ووايو.
[۳۴] او (د دې دپاره چې) مونږ (په اجتماعي توګه) ستا ډېره (ډېره) يادونه وکړو.
[۳۵] يقيناً (ای ربه!) ته په مونږ باندې بينا يې (او زمونږ ټول کړه وړه ګوري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ایتونو کښې موسی ﷺ ته د نبوت او د معجزاتو د ورکړې بيان نازل شوی وه او په دې ایتونو کښې هغو شیانو ته اشاره شوې ده کومو ته چې، د دعوت په جريان کښې ضرورت وه او موسی ﷺ يې د خپل رب ﷻ څخه سوال وکړ، نو حاصل يې داسې راځېژي:

ای پيغمبره! کله چې موسی ﷺ په نبوت سره سرلوړی شو او د معجزاتو مثالونه يې د نظره تېر شوه او بالآخره مکلف کړی شو چې فرعون ته لاړ شي نو د الله ﷻ په حضور کښې يې لاندې پېشنهادات وړاندې کړه چې:

١ـ ای زما ربه! زما سينه پراخه کړې او حوصله مې غټه کړې، چې ژر زړه تنګی نه شم او په جلتۍ سره په غُصه نه شم.

٢ـ ای زما ربه! د نبوت مکلفيت ډېر ذروند دی او لکه څنګه چې مناسب دی توحيد ته د فرعونيانو دعوتول ډېر مشکلات لري، نو هيله ده چې ماته خپل دغه کار اسان کړې او توفيق راکړې چې له باره يې ووتلی شم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٣_ ای زما ربه! د دعوت کار فصیحې ژبې ته ضرورت لري او زما ژبه څه غوټه لري او په زغرده مطلب نه شم اداء کولی، نو اُمید دی چې زما د ژبې غوټه پرانیزې او د ژبې بندش مې لږ څه خلاص کړې، ترڅو فرعونیان او نور خلک زما په خبره باندې پوه شي او د خبرې څخه مې غلطه معنی وانخلي.

۴_ ای زما ربه! ماته یو کومکي نفر وټاکې چې زما د اهل او خپلوانو څخه وي چې زه یې ښه پېژنم او ښه اعتماد ورباندې لرم، چې زما سره په دعوتي امورو کښې کومک وکړي.

۵_ ای زما ربه! زما په خپلوانو کښې چې څوک ماته د ذکر شوې دندې دپاره د هر مناسب بریښي، هغه زما ورور (هارون) دی، چې حوصله یې هم زیاته ده او ژبه یې هم زما څخه ښه فصیحه ده. نو ای زما ربه! ما په همدغه (هارون) باندې قوي کړې چې زما ملاتړ شي چې په سخته کښې مې شاته ودرېږي.

۶_ ای زما ربه! زما نوموړی ورور زما سره په همدغه راسپارلي شوي کار (پیغمبري دعوت کښې شریک کړې، یا په بل عبارت: هغه هم پیغمبر وګرځوې او په نبوت باندې یې سرلوړی کړې.

٧_ ای زما ربه! زما د وروړ شریکېدل ما څخه پېشنهاد کړ ترڅو ما سره په راز کښې شریک او په مسئولیت کښې یو رنګ شي، چې په اجتماعي توګه ستا ډېر ډېر تسبیحات ووایو او هم تا ډېر ډېر یاد کړو. یا په بل عبارت: ترڅو ستا په عملي تسبیحاتو او په دعوتي ساحه کښې ښه موثر واقع شو.

## توضیحات

١_ په ﴿ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې موسی ﷺ د الله ﷻ څخه هغه شی وغوښت کوم چې الله ﷻ زمونږ پیغمبر (محمد ﷺ) ته ورکړی وه چې: ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴾ [الشرح: ١] یعني: ای پیغمبره! ایا مونږ ستا سینه نه ده پراخه کړې او د نبوت د بار پورته کولو دپاره مو ستا حوصله نه ده قوي کړې؟ (بلکې دا مو درسره کړي دي).

### د موسی ﷺ د ژبې غوټه پرانستله شوه

٢_ په ﴿ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ﴾ کښې د عقد (غوټې) په هکله مفسرینو کرامو ډېر څه لیکلي دي[1] چې په څه ډول یې د موسی ﷺ په ژبه کښې ځای ونیوه، چې مهم ټکي یې دا دي:

الف: یوه ورځې موسی ﷺ د ماشومتوب په وخت کښې فرعون د ږیرې څخه راکش کړه، او یا یې په سر باندې په لرګي باندې ووهه.

ب: د فرعون خیال ته ورغله چې دا هغه ماشوم دی چې زه د هغه د مخنیوي په غرض د بني اسرائیلو زامن وژنم، نو دستي یې جلادان او قاتلان راوغوښتل چې راشئ دغه ماشوم ذبحه کړئ.

ج: د فرعون ماندینه (آسیه بنت مزاحم رضي الله عنها) د دې کار مانعه شوه چې دا ماشوم دی او د ناپوهۍ د کبله یې ذکر شوی کار کړی دی.

د: هغې (رضي الله عنها) په لاندې عملیه باندې فرعون ته قناعت ورکړ چې:

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٢١۶؛ تفسير الطبري ج١۶ ص١۵٩؛ تفسير ابن كثير ج٣ ص۴٩؛ تفسير القرطبي ج١١ ص١٩٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: په یو پلېټ (ظرف) کښې یې د اور سره سکروټه کېښودله او په بل پلېټ کښې یې سور یاقوت کېښود او دواړه یې د موسی ﷺ مخې ته ورووړاندې کړه، چې که یاقوت ته یې لاس وړاندې کړ نو ماشوم هوښیار دی او فرعون یې په قصدي توګه د زیرې څخه نیولی دی او یا یې په قصدي توګه په سر ګوزار ورکړی دی، او که بالعکس سکروټې ته یې لاس وړاندې کړ نو ماشوم ناپوه دی او د فرعون سره معامله یې هم د ناپوهۍ د امله ترسره کړې ده.

دوهم: موسی ﷺ په قدرتي توګه یاقوت پرېښود او په سکروټه باندې یې حمله وکړه، او یا یې لاس یاقوت ته وړاندې کړ خو جبرائیل ﷺ د سکروټې په لور ورتاو کړ.

دریم: په هر صورت موسی ﷺ سکروټه په لاس کښې ونیوه او خپلې خولې ته یې اوچته کړه (په ژبه باندې یې کېښودله).

څلورم: د موسی ﷺ لاس په قدرتي توګه ونه سوزېد او یا وسوزېد خو په درو درملو سره روغ شو، مګر مبارکه ژبه یې پرې وسوزېده او لکنه (غوټه) پکښې پیدا شوه، چې په زغرده یې خبرې نه شوې کولی، ترڅو چې د مبعوثیت په وخت کښې یې خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای ربه! زما د ژبې غوټه هم پرانیزې.

## تبصره

۳ـ مفسرینو کرامو (زمونږ د پلټنې مطابق) د ذکرې شوې قیصې د اثبات دپاره په کوم مرفوع حدیث باندې استناد نه دی کړی، نو د همدې کبله مونږ دا احتمال هم بعید نه ګڼو چې ذکره شوې غوټه به د موسی ﷺ په مبارکه ژبه کښې خلق شوې وه لکه چې د ډېرو ماشومانو په ژبو کښې خلق کېږي او بدون د کسبي سببه په خبرو کښې ترټریان وي.

د سینې تنګي او د ژبې بندش الله ﷻ په بل ایت کښې د موسی ﷺ د خولې څخه داسې حکایت کړې دي چې: ﴿ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى ﴾ [الشعراء:۱۳] یعني ای زما ربه! زما سینه تنګېږي او ژبه مې بنه نه چلېږي نو په خپل فضل سره هارون ته هم نبوت ورکړه چې حوصله یې زما څخه غټه ده او په فصاحت کښې راڅخه زیات دی (په ژبه کښې یې بندش نشته).

## وَزیر څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَٱجْعَل لِّى وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِى ﴾ کښې د "وَزِير" کلمه د "وِزْرٌ" ـ لکه "عِلْمٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "وِزْرٌ" دروند بار ته ویل کېږي[۱]، نو څوک چې د یوه امیر (پاچا) د مشغولیت دروند بار په خپلو اوږو باندې اخلي او کومک ورسره کوي هغه ته د وزیر لقب ورکولی کېږي. امکان لري چې نبي کریم ﷺ به ذکر شوي ایت شریف ته اشاره کړې وي کله یې چې علي ﷺ ته وفرمایل چې: «أَوَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى غَيْرَ أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي»[۲] یعنې نبي کریم ﷺ د تبوک غزا ته روان

(۱) مفردات الراغب ص۵۵۸

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو نو علي ﷺ یې په مدینه منوره کښې د خلیفه په حیث وټاکه، خو علي ﷺ د منافقانو د پروپاګند د کبله او د دې کبله چې غزا ته ډېر راغب وه نبي کریم ﷺ ته وراندیز وکړ چې: یا رسول الله! بل څوک دلته خلیفه وټاکه زه به غزا ته لاړ شم. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: او ایا ته په دې باندې نه خوښېږې چې ته زما په نسبت داسې حیثیت ولرې لکه چې هارون ﷺ د موسی ﷺ په نسب درلود چې په دعوت کښې یې ورسره کومک کاوه او په خپل غیاب کښې یې د خلیفه په حیث دراوه خو ستا او د هغه دومره فرق شته چې ته په نبوت کښې شریک نه یې چې زما څخه وروسته پیغمبر نشته، او هغه پکښې شریک وه.

لنډه دا چې موسی ﷺ د درانه مکلفیت د پورته کولو دپاره د وزیر غوښتنه وکړه چې کومک ورسره وکړي خو د ﴿ وَأَشْرِكْهُ فِىٓ أَمْرِى ﴾ جمله یې ورسره اضافه کړه، او په همدې جملې سره یې د علي ﷺ د وزارت څخه فرق پیدا کړ.

خو په یاد ولرئ چې د ذکر شوي حدیث شریف څخه د علي ﷺ دپاره په خلافت کښې د اولیت حق نه ثابتېږي لکه چې اهل التشیع خیال کوي، د ښه وضاحت او تفصیل دپاره دې څینو حواشیوو ته مراجعه وکړی شي[1].

## هېر مو نه شي!

۵ـ هېر مو نه شي چې د نبي کریم ﷺ دپاره الله ﷻ د پیغمبري دعوت دروند بار په قدرتي توګه سپک کړی وه چې: ﴿ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ۝ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴾ [الشرح:۲ـ۳] یعنې: او مونږ ستا څخه هغه دروند پېټی ښکته کړی (سپک کړی) دی کوم چې ستا شا یې چغوله (نژدې وه چې ماته کړې یې وی)، چې حوصله مو ستا غټه کړه او استقامت مو ستا قوي او کلک کړ.

همدې کیفیت ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي»[2] یعنې جبرائیل ﷺ زما سینه څیرې کړه او بیا یې د سرو زرو لوی ښانک راوړ چې د حکمت او ایمان څخه ډک وه او زما په سینه کښې یې ورواړاوه (پکښې خالي یې کړ) او بیا یې بېرته وربنده کړ.

## د "أَزْر" معنی

۶ـ په ﴿ ٱشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِى ﴾ کښې د "أزر" کلمه د "إزار" سره په اصلي تورو کښې متحده ده، دا کلمه د قوت دپاره او یا په بدن کښې د هغه ځای دپاره وضعه شوې ده په کوم ځای باندې چې "إزار" (لنګ) تړل کېږي، او همدارنګه د "ظهر" (شا) معنی هم ورکوي[3].

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۲۶؛ سنن ابن ماجه ص۱۲
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵۰
(۳) لسان العرب ج۴ ص۱۸؛ صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۲

Scanned by CamScanner

په دې مقام کښې تولې معناوې صحت لري چې: ای ربه! زما قوت زما په ورور باندې زیات کړه او یا زما ورور زما د ملاتړ دپاره مقرر کړه او بالآخره یا زما ورور زما شانته ودروه چې زه پرې قوي شم، نو ذکرې شوې درېواړه معناوې په مصداق کښې سره څه فرق نه لري، یو مضمون ترې راخېژي.

## یادونه

۷ـ د ﴿کَیۡ نُسَبِّحَكَ كَثِیرٗا ۝ وَنَذۡكُرَكَ كَثِیرًا﴾ دواړه ایتونه په لاندې دوه وو دولونو سره تفسیر کېدلی شي:

الف: چې د موسی ﷺ د ټولو سوالونو سره ارتباط ورکړی شي، لکه څنګه چې مونږ پرې په ترجمه کښې عمل کړی دی.

ب: چې یوازې د هغه سوال سره مربوط وګڼل شي کوم چې د هارون ﷺ د نبوت په هکله د الله ﷻ په حضور کښې وړاندې شوی وه، لکه څنګه چې مونږ ورته د مطلب په خلاصه کښې اشاره کړې ده.

﴿قَالَ قَدۡ أُوتِیتَ سُؤۡلَكَ یَٰمُوسَىٰ ۝٣٦ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَیۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ۝٣٧ إِذۡ أَوۡحَیۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا یُوحَىٰٓ ۝٣٨ أَنِ ٱقۡذِفِیهِ فِی ٱلتَّابُوتِ فَٱقۡذِفِیهِ فِی ٱلۡیَمِّ فَلۡیُلۡقِهِ ٱلۡیَمُّ بِٱلسَّاحِلِ یَأۡخُذۡهُ عَدُوࣱّ لِّی وَعَدُوࣱّ لَّهُۥۚ وَأَلۡقَیۡتُ عَلَیۡكَ مَحَبَّةࣰ مِّنِّی وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَیۡنِیٓ ۝٣٩ إِذۡ تَمۡشِیٓ أُخۡتُكَ فَتَقُولُ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ مَن یَكۡفُلُهُۥۖ فَرَجَعۡنَٰكَ إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَیۡ تَقَرَّ عَیۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَۚ وَقَتَلۡتَ نَفۡسࣰا فَنَجَّیۡنَٰكَ مِنَ ٱلۡغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونࣰاۚ فَلَبِثۡتَ سِنِینَ فِیٓ أَهۡلِ مَدۡیَنَ ثُمَّ جِئۡتَ عَلَىٰ قَدَرࣲ یَٰمُوسَىٰ ۝٤٠ وَٱصۡطَنَعۡتُكَ لِنَفۡسِی ۝٤١ ٱذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔایَٰتِی وَلَا تَنِیَا فِی ذِكۡرِی ۝٤٢ ٱذۡهَبَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ۝٤٣﴾

[۳٦] الله ﷻ (د ذکرو شوو وړاندیزونو په هکله) وویلې چې: بې شکه تاته ستا غوښتنې درکړی شوې ای موسی! (ډاډه اوسه).

[۳۷] او یقیناً مونږ په تا باندې (د دې وخت څخه وړاندې) بل ځل (بل وخت هم) احسان کړی دی (او ستا احتیاجات مو درکړي دي).

[۳۸] (ته) هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ ستا مور ته (ستا د ولادت په موقع) هغه وحې وکړه کومه چې ورته وحې کړی شوه (او په هغه وخت کښې یې ورته ضرورت وه).

[۳۹] (هغه دا) چې موسی ﷺ په صندق کښې واچوه نو بیا یې (د صندق سره) په سیند (رود نیل) کښې وغورزوه، نو سیند دې دا (موسی ﷺ) په (خپله) غاړه واچوي (رود نیل به یې هلته واچوي) ترڅو مالره دښمن او ده لره دښمن (فرعون) یې ونیسي (او په خپل کور کښې پنا ورکړي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (همدارنګه) ما د خپله جانبه په تا باندې محبت (خوښېدل) اچولي وه (ترڅو د فرعونيانو د ضرره بچ کړی شې) او ترڅو زما د مراقبت (او حفاظت) لاندې وپالل (تربيت کړی) شې.

[۴۰] (ای موسی! ته) هغه وخت (ياد کړه) چې ستا خور (ستا د څارنې دپاره د فرعون د کور په طرف) روانه شوه، نو (فرعونيانو ته يې) وويلې چې: ايا زه تاسو ته هغه څوک (هغه زنانه) وښايم کومه چې د دې ماشوم (موسی) کفالت (روزنه) وکړي؟

(هغوی وويلې چې: هو!) نو ته مونږ (په همدې سلسله باندې) خپلې مور ته ورتاو کړې (وروګرځولې) ترڅو د هغې سترګې يخې شي (خوشاله شي) او خپه نه شي.

او (ای موسی! هغه وخت هم درپه زړه کړه چې) تا يو کس (سړی) وواژه (او په تاباندې د اعدام فيصله وشوه، او ته ډېر غمژن شوې) نو تاته مونږ له غمه نجات درکړ، او (هغه وخت هم ياد کړه چې) ته مونږ امتحان کړې امتحانول (يا مونږ په ډېرو امتحانونو سره امتحان کړې چې جلا وطنۍ ته مجبور شوې)، نو تا ډېر کلونه د مدين ښار په اهاليوو کښې درنګ وکړ (هلته يوازې پاتې شوې)، بيا (دغه دی اوس دې مقام ته) په (الهي) تقدير سره راغلې، ای موسی! (او په نبوت باندې سرلوړی شوې).

[۴۱] او د خپل ځان (شريعت) دپاره مې جوړ کړې (غوره کړې چې خلکو ته يې ابلاغ کړې).

[۴۲] (ای موسی!) ته او ستا ورور زما په معجزاتو (دلايلو) سره لاړ شئ او زما په ذکر (عملي او قولي يادونه) کښې سستي مه کوئ.

[۴۳] دواړه فرعون ته لاړ شئ، يقيناً چې ده د حد څخه زيات طغيان (سرکشي) کړې ده (او د توحيد دعوت ورکړئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د يو پلوه موسی ﷺ ته د سوالونو د قبول خبر ورکړی شوی دی او د بله پلوه ورته څه نور احسانات ښودلي شوي دي چې بدون د سوال کولو څخه ورته عنايت شوی دی، ترڅو د موسی ﷺ اطمنان او ډاډ لا زيات شي، نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! د ذکرو شوو سوالونو څخه وروسته د مناجات ځينې ټکي دا دي چې:

۱ـ الله ﷻ موسی ﷺ مخاطب کړه چې: ای موسی! تاته ستا ټول غوښتل شوي شيان درکړی شوه، تاته دې مبارک وي.

۲ـ ای موسی! مونږ به ستا سوالونه ولې نه قبلولو او وړانديزونه به دې ولې نه منظوره وو، چې مونږ د دې وخت څخه په غير په نورو وختونو کښې هم ستا سره ډېر احسانات کړي دي حال دا چې تا غوښتې هم نه وه، نو غوښتلی شوي شيان خو به ضرور درکوو. د ښه وضاحت دپاره ته دغه احسانات درپه زړه کړه:

الف: ای موسی! ته ماشوم وې او تازه تولد شوی وې نو مونږ ستا مور ته په زړه کښې يو عظيم الشان الهام واچاوه، که نه نو ستا مور ډېره زياته وارخطا وه او مضطربه وه چې اوس به د فرعون

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جلادان راشي او زوی به مې ذبحه کړي، الهام دا وه چې:

اول: خپل زوی (موسی ﷺ) په یوه صندق کښې واچوه او چاودونه یې بنه بند کړه چې اوبه ورداخلې نه شي.

دوهم: بیا دغه بند او تړلی شوی صندق سیند (نیل) ته وغورزوه او هیڅ تشویش مه کوه مونږ به ستا زوی (موسی ﷺ) بېرته ستا غېږې ته راوګرځوو، خو دا به داسې وخت وي چې ستا سره به د خپل زوی د هلاکت او ضائع کېدلو تشویش پاتې نه وي.

درېم: یا په بل عبارت کله چې تا خپل زوی په سیند کښې واچاوه نو سیند به یې خپلې غاړې ته کړي او په ساحل کښې به یې وغورزوي.

څلورم: په ساحل (څنډه) کښې به یې هغه څوک ونیسي کوم چې زما دښمن دی چې غټ کافر دی، او هم ستا د زوی دښمن دی چې وژلو پسې یې تاند وهي، او د همدې کبله ته وارخطا او مضطربه یې.

نو ای موسی! که بالفرض مونږ ستا مور ته ذکر شوي الهامات نه وی کړي نو تا به د فرعون د جلادانو څخه نجات نه وی موندلی او مور به دې د اضطراب څخه نه وی خلاصه شوې.

ب: ای موسی! مونږ د فرعون په کور کښې تاته ځای درکړ چې ستا وژلو پسې یې هڅه کوله. یا په بل عبارت: تاته مو د خپل غټ دښمن په غېږ کښې د همدغه دښمن څخه پنا درکړه. او دا ځکه چې په تا باندې مو د خپله جانبه غیبي محبت نازل کړی وه چې د هر لیدونکي به خوښېدلې او محبت به یې درسره پیدا کېده، د همدې کبله ته د فرعون ماندینې ته ډېر زیات محبوب وګرځېدلې چې په زویتوب سره یې ونیولې او ستا د ژوندي پاتې کېدلو په غرض یې خپل مېړه (فرعون) ته قناعت ورکړ چې همله ته د اوسېدانې جوګه شوې.

مونږ ذکره شوې نقشه د ډېروحکمتونو په بنیاد عملي کړه او بل د دې دپاره چې (ای موسی!) ته خاص زما د مراقبت لاندې وپالل شې، که بالفرض زما مراقبت نه وی نوته به د دښمن په کور کښې ژوندی نه وی پاتې شوی.

ج: ای موسی! ته خو هغه وخت درپه زړه کړه چې په څومره عجیبه طریقه باندې مو ته بېرته د خپلې مور غېږې ته ورسولې. هغه دا چې:

اول: په تا باندې مو د خپلې مور څخه په غیر د نورو ټولو ښځو شوده حرام کړي وه، او په خارق العاده توګه مو ته د هغوی د تیونو د رودلو څخه منعه کړی وې، د همدې کبله فرعونیان په ډېر تشویش کښې وه چې ماشوم د لوږې مړ نه شي.

دوهم: آن تر دې چې بل چا نه، ستا خپلې خور فرعونیانو ته وویلې چې ایا زه تاسو ته داسې یوه زنانه درپه ګوته کړم چې دغه ماشوم ته تی ورکړي؟ ماته داسې ښځه معلومه ده چې د هغې تی هر یو ماشوم روي.

درېم: ټولو ورته وویلې چې هله ژر شه مونږ دغې ښځې ته ورسوه، چې ماشوم وږی دی او ژاړي، چې د لوږې د کبله د خطر سره مخامخ دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څلورم: نو ستا خور سمدستي فرعونيانو ته لاربنودانه وکړه چې ته یې خپلې مورته ورسولې، کله چې هغې په خپلې غېږ کښې ونیولې او خپل تي تې ته یې واچولې، نو تا د تي په رودلو پیل وکړ.

دا د دې دپاره چې د هغې سترګې په تا باندې یخې شي او غمژنه نه شي، که نه نو هغه خو ستا په جدا کېدلو او په سیند کښې د اچولو د کبله ډېره غمژنه او خپه وه.

نو ایا تا زمونږ څخه غوښتي وه چې مونږ ذکره شوې عملیه اجراء کړو؟

د: ای موسی! ما په تا باندې بل احسان دا کړی دی چې: تاته مو د لوی غم او خفګان څخه نجات درکړ البته کله چې تا په خطا کښې یو قبطي سړی قتل کړ او په سوک باندې دې وواهه، ستا ورته د وژلو نیت نه وه او کومه قاتلانه حمله دې ورباندې نه وه کړې او نه دې کومه قاتلانه وسله استعماله کړې وه، خو د دې سره-سره د فرعوني حکومت مشرانو ستا د وژلو فیصله وکړه خو مونږ ترې تاته نجات درکړ او د تښتېدلو زمینه مو درته برابره کړه.

لنډه دا چې: ای موسی! مونږ ته د ډېرو امتحانونو لاندې واقع کړې او د سختو مشکلاتو سره مو وخت په وخت مخامخ کړې، خو د ټولو څخه مو بریالی وویستلې.

خو په دغه وخت کښې مو د ډېر لوی امتحان لاندې واقع کړې چې هجرت کولو ته مجبور شوې او د پردېس (مسافر) په حیث دې د مدین د ښاریانو په منځکښې لس کاله تېر کړه او ډېرې تودې سړې درباندې درغلې.

ه: یا په بل عبارت، مونږ د فرعون په کور کښې ستا بدني روزنه وکړه چې ته د هغه دښمن وې او هغه ستا دښمن وه، خو د دې سره-سره ستا دپاره مو خدمتګار ګرځولی وه. نو چې کله ستا بدني روزنه بشپړه شوه بیا مو د خپل دوست (شعیب ﷺ) کورته وروستلې چې هلته خپله اخلاقي او نفسي روزنه بشپړه کړې.

و: خو کله چې په لسو کلونو کښې دغه روزنه هم پوره شوه نو دا دی اوس مو د عمر په ټاکلي معیار او ټاکلي وخت سره په دغه مقام کښې ودرولې او نبوت مودرکړ.

ای موسی! ایا ذکر شوي انعامات ستا د پلوه غوښتلي شوي وه؟

ز: نو کله چې مونږ تاته په ذکر شوي تفصیل سره غیبي تربیه درکړې ده نو ته مو په حقیقت کښې د خپل دین د ابلاغ دپاره جوړ کړی یې، او د جنډرۍ څخه مو ویستلی یې، په راتلونکي کښې هم زه ستا ضروریات پوره کوم او سوالونه دې قبلوم.

ایا د ذکرو شوو ټولو احساناتو سره-سره به زه تا بې کومکه پرېږدم؟ هیڅکله به دا کار ونه کړم.

۳ــ نو ای موسی! ستا ورور ته مې هم نبوت ورکړ، او کومې معجزې مې چې تاته درکړې دي هغه ستا د ورور دپاره هم معجزې دي. نو:

الف: ته او ورور دې (هارون ﷺ) د معجزاتو سره لاړ شئ او زما په قولي او عملي یادولو کښې سستي مه کوئ، بلکې ما ډېر ډېر یادوئ چې ستاسو کامیابي زما په یادولو کښې نغښتې ده او دزړونو اطمنان مو په همدې پورې ارتباط لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دواړه لاړ شئ او فرعون توحيد ته دعوت کړئ يقيناً چې فرعون د حد څخه تجاوز کړی دی او ډېر لوی سرکشه دی.

## توضيحات

١ـ که څوک وايي چې: په ﴿ عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ مَرَّةً ﴾ کلمه خو اصلاً د "يو خل تېرېدلو" دپاره وضعه شوې ده[١] مګر د مجاز په توګه د "وخت" په معنی باندې استعمالېږي[٢] نو بايد چې حاصل يې داسې راوخېژي چې: ای موسی! مونږ په تا باندې بل وخت هم ډېر احسانونه کړي دي؛ نو پوښتنه دا ده چې د دغو احسانونو اجمالي ذکر ته خو په راتلونکو ايتونو کښې اشاره شوې ده چې د ميلاد څخه نيولې آن د بعثت پورې په ډېرو وختونو کښې يې صورت نيولی دی، نه په يوه وخت کښې؟

مونږ وايو چې:

الف: د ﴿ مَرَّةً ﴾ د کلمې په لږو او ډېرو وختونو دواړو باندې اطلاق کېږي او دلته ترې ډېر وختونه مراد دي[٣].

ب: دلته د ﴿ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴾ څخه بل اوږد وخت مطلب دی چې د ميلاد څخه تر بعثت پورې ټولو احساناتو ته شاملېدلی شي[۴].

ج: دا هم څه لرې نه ده چې ﴿ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴾ کلمات د هر يو احسان سره مراد کړی شي. يعنې ای موسی! ستا سره مو په بل وخت کښې دا احسان کړی دی، او په بل کښې دا، او په بل کښې دا، آن تر آخره پورې.

## د وحې ډولونه

٢ـ په ﴿ إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ ﴾ کښې د ﴿ أَوْحَيْنَا ﴾ کلمه د "وَحي" څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق د وحې ډولونه او مثالونه د [آل عمران:۴۲] او د [النساء:۱۶۳] ايتونو لاندې ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## يادونه

٣ـ په دې مقام کښې چې کومو واقعاتو ته اشارې شوې دي هغه په لاندې ايتونو کښې لږ څه تفصيلوارې نازلې شوې دي:

الف: فرعون امر کړی وه چې د بني اسرائيلو نارينه اولادونه دې ذبحه کړی شي [البقرة:۴۹].

---

(١) لسان العرب ج۵ ص۱۶۵
(٢) روح المعاني ج۱۶ ص۱۸۷
(٣) حاشيه الشيخ زاده تفسير البيضاوي ج۳ ص۳۱۳
(۴) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: لاندې واقعاتو د "القصص" د سورت په لومړنيو ايتونو کښې نزول موندلی دی:

اول: د موسی ﷺ مور خپل ګران زوی په سيند (د نيل په رود) کښې واچاوه.

دوهم: کوم صندق چې هغې په خپل زوی باندې بند کړی وه او په سيند کښې يې لاهو کړی وه، هغه د يوې لويې ويالې (نهر) په سلسله د فرعون کور ته ورغی.

دريم: خدمتګارانو صندق د اوبو څخه راونيوه او د فرعون او بي بي آسيې رضی الله عنها مخې ته يې ورووړ.

څلورم: بي بي آسيې رضی الله عنها فرعون ته وړانديز وکړ چې دا ماشوم به په زويتوب سره ونيسو، دا مه وژنه، دا به زمونږ په درد وخوري.

پنځم: موسی ﷺ د يوې ښځې تی هم نه رود، چې په نتيجه کښې الله ﷻ د خپلې خور په ذريعه خپلې مور ته وصل کړ او د هغې په غېږ کښې يې قرار ونيوه.

شپږم: موسی ﷺ د زلميتوب په حال کښې په خطا سره يو فرعوني سړی په يوه سوک باندې وواژه.

اوم: فرعونيانو يې د وژلو فيصله وکړه خو موسی ﷺ د مدين ښار ته وتښتېد او هلته يې لس کاله تېر کړه.

اتم: په دغه ښار کښې د شعيب ﷺ سره ملاقي شو او د ده لور يې په نکاح باندې واخستله.

نهم: لس کاله وروسته د خپلې ماندينې په شمول مصر ته روان وه چې په لاره کښې په توره شپه کښې د نبوت په منصب باندې سر لوړی شو.

## په موسی ﷺ باندې محبت اچولی شوی وه

۴_ د ﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي﴾ کلمات مفسرينو کرامو په ډېرو معناوو سره تفسير کړي دي[١] چې موسی ﷺ ته الله ﷻ ښايسته څېره ورکړې وه چې خلک به ورباندې عاشقان ګرځېدل او يا يې په سترګو کښې داسې جذبه موجوده وه چې ليدونکي يې خپل ځان ته راکشول او داسې نور.

مګر مونږ په داسې حال کښې چې ذکر شوي تفسيرونه نه رده وو، وايو چې ذکر شوی محبت به د هغه محبت څخه عبارت وي کوم ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا﴾ [مريم:٩٦] يقيناً هغه کسان کومو چې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي، ژر دی چې ډېر مهربان الله ﷻ به هغوی ته (په مختلفو ډولونو سره) محبت پيدا کړي.

نو په همدې بنياد الله ﷻ د بي بي آسيې رضی الله عنها په زړه کښې[٢] او حتی د فرعون په زړه کښې[٣] د موسی ﷺ محبت واچاوه چې په همدې محبت سره يې د قتل څخه نجات وموند.

---

(١) تفسير القرطبي ج١١ ص١٩٦؛ تفسير البغوي ج٣ ص٢١٧

(٢) تفسير الطبري ج١٦ ص١٦٢

(٣) تفسيز الکشاف ج٣ ص٦٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې په ﴿ وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴾ کښې "و" توری د عطف دپاره دی، نو پوښتنه دا ده چې: معطوف علیه یې کوم یو کلام دی؟

مونږ وایو چې: معطوف علیه کلام په دې مقام کښې محذوف دی، څه لږې نه ده چې مونږ تري په "لتحفظ" سره تري تعبیر وکړو.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴾ کلمات د حفظ او مراقبت څخه کنایي دي، چې په عربي محاوراتو کښې دا ډول استعمال رواج دی، حتی زمونږ په پښتو کښې هم دا ډول استعمال شته لکه چې وایو: فلانی کار یا فلانی سړی زما د سترګو لاندې دی (زه یې څارنه کوم).

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای موسی! مونږ په تا باندې محبت درنازل کړ چې هر چا به خوښېدلې او دوست او دښمن ستا په محبت کښې فرق نه درلود، دا د دې دپاره چې ته د دښمن د ضرر څخه بچ وساتل شې او د دې دپاره چې یوازې زمونږ د مراقبت او څارنې لاندې د نبوت دپاره چمتو کړی شې، زمونږ څخه په غیر تاته هیڅا په دغې خطري موقع کښې امن نه شو درکولی

## فتون څه معنی؟

۶_ په ﴿ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًا ﴾ کښې د فتون کلمه یا مصدر دی او یا د "فتنة" جمعه ده، یعني ای موسی! ته مونږ امتحان کړې امتحانول، او یا مو په ډېرو امتحانونو سره امتحان کړې، او د ټولو څخه مو روغ رمټ راوویستلې، لکه څنګه چې څوک په ذوب کولو (ویلې کولو) سره د سرو زرو څخه خیری لرې کړي او صاف سوچه زر پاتې شي همدارنګه ته په امتحانانو سره د نبوت دپاره مساعد جوړ شوې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: په ذکره شوې جمله کښې کوم امتحان یا امتحانونو ته اشاره ده؟

مونږ وایو: علماوو کرامو د همدې جملې په تفسیر کښې د موسی ﷺ د ولادت څخه نیولې آن د بعثت پورې ټول واقعات (ټولې سړې او تودې پېښې) شاملې ګڼلې دي او په همدې ارتباط یې ډېر اوږد حدیث روایت کړی دی چې تقریباً لس مخونه ورباندې ډک شوي دي[1]، غالبه دا ده چې د اسرائیلیاتو څخه به خالي نه وي[2].

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د ذکرې شوې جملې دپاره به راتلونکی ایت شریف تفسیر واقع شوی وي، لکه چې په ﴿ فَلَبِثْتَ سِنِينَ ﴾ کښې د "ف" توری په همدې مطلب باندې دلالت کوي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای موسی! زمونږ بل امتحان یا امتحانونه په تا باندې دا وه چې ته د مدین ښار ته وتښتېدلې او د لاندې مشکلاتو سره مخامخ شوې:

---

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۵۶۹. ۵۷۹: تفسیر الطبري ج۱۶ ص۱۶۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۵۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د خپل وطن څخه پردي وطن ته تبعید شوې او دائمي مسافر شوې.

ب: د هجرت او سفر د سختیو سره مخامخ شوې او لوږه او تنده درباندې درغله حال دا چې تر دغه وخته پورې د متکبر پاچا په کور کښې اوسېدې او د هیڅ نعمت کمبود دې نه وه لېدلی، خو ناڅاپه بې توښې په پښو باندې روان (سترې ستومانه) شوې.

ج: د خپلو اقاربو څخه جدا شوې او د خوږې مور د لیدلو څخه محروم شوې.

د: بالآخره د شعیب ﷺ سره دې شپني ونیوه او (په اصطلاح) د ډېر مجبوریت د کبله دې شپنی او مزدوری ته ملا وتړله او داسې نور.

## "وَنَى" څه معنی؟

٨ـ په ﴿ وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي ﴾ کښې د ﴿ تَنِيَا ﴾ کلمه د "وَنَى" ـ لکه "فَتَى" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د سستوالي او کمزورۍ معنی ورکوي[1]، یعنې ای موسی! ته او ورور دې دواړه زما په عملي او قولي ذکر کښې سستي او کمزوري مه کوئ چې په همدې کښې ستاسو کامیابي نغښتې ده.

لنډه دا چې: اول یوازې تاته امر کېده چې د سرکشه فرعون دعوت ته لاړ شه، او اوس ته او ستا ورور دواړه په همدغه کار باندې مکلف یاست، چې دواړه لاړ شئ او د هغه مقابله وکړئ.

﴿ فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَآ أَنَّ ٱلْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ ﴾

[۴۴] نو تاسو دواړه فرعون ته نرمه (او پسته) خبره وکړئ شاید چې نوموړی (ستاسو د خبرې څخه) پند واخلي او یا (د الله ﷻ د عذابه) وډار شي (تاسو په همدې امید دعوت ورکړئ).

[۴۵] دواړو (موسی ﷺ، هارون ﷺ) وویلې چې: ای زمونږ ربه! یقینًا مونږ ډارېږو چې فرعون به په مونږ باندې وړاندېوالی (افراط) وکړي (او خبره به راباندې قطعه کړي) او یا به (نوره زیاته سرکشي وکړي (ستا په شان کښې به نامناسبې خبرې وکړي).

[۴۶] الله ﷻ وفرمایل چې: تاسو دواړه مه ډارېږئ (ځکه چې) یقینًا زه له تاسو دواړو سره یم، اورم او ګورم (هیڅ شی راڅخه پټ نه دی).

[۴۷] نو دواړه فرعون ته ورشئ نو ورته ووایاست چې: یقینًا مونږ دواړه ستا د رب ﷻ د پلوه رالېږلي شوي یاستو نو زمونږ سره بني اسرائیل ولېږه (خوشې کړه) او دوی (نور) مه معذبوه، یقینًا

---

(١) لسان العرب ج١٥ ص٣١۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ تاته ستا د رب ﷻ د پلوه (د خپل رسالت د اثبات دپاره) لویه معجزه (او قطعي دلیل) راوړی دی، او ټوله سلامتیا (د الله ﷻ د پلوه فقط) په هغه چا باندې ده کوم چې (د ده ﷻ) د هدایت (او لارښوونکي) پیروي کوي (او بس)

[۴۸] یقیناً مونږ ته بې شکه وحې کېږې چې په رښتیا سره (الهي) عذاب په هغه چا باندې (نازلېدونکی) دی کوم چې (د پیغمبرانو) تکذیب کوي او (د دعوت څخه یې) مخ اړوي (نو ته زمونږ تکذیب مه کوه او زمونږ د دعوت څخه مخ مه اړوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه په دې باندې تمام شوي وه چې تاسو دواړه (موسی ﷺ، هارون ﷺ) فرعون ته د دعوت دپاره ورشئ: او په دې ایتونو کښې دوی دواړو ته توصیه شوې ده چې فرعون ته د دعوت په جریان کښې داسې-داسې ووایاست، او هم پکښې د دوی دواړو څه نورو سوالونو ته هم اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مناجات په وروستني پړاو کښې لاندې وصایا او سوالونه متحقق شوه:

۱ـ الله ﷻ موسی ﷺ او هارون ﷺ ته توصیه وکړه چې فرعون ته په نرمو خبرو او پسته لهجه دعوت ورکړئ او داسې کلمات ورته مه استعمالوئ چې هغه په غُصه شي:

الف: شاید چې ستاسو په خبرو کښې فکر وکړي او پند ترې واخلي (او په ایمان باندې مشرف شي).

ب: شاید چې چرت ووهي او د الله ﷻ د عذابه وډار شي او ستاسو نصیحت قبول کړي.

۲ـ موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړو عرض وکړ چې: ای زمونږ ربه! مونږ د دې کارونو څخه ډاربږو چې:

الف: فرعون به په مونږ باندې د اندازې څخه زیات په قهر شي حتی چې مونږ به پرهېزدي چې مونږ په ډېره پسته لهجه دعوت ورکړو، بلکې زمونږ دعوت به د خپل ځان دپاره سپکاوی وګڼي لکه چې ټول متکبران دغسې عادت لري.

ب: او یا به یې سرکشي او طغیان لا اضافه شي، او څه کفري خبرې به وکړي (ځان به پرې په کفر کښې لا کلک کړي).

۳ـ الله ﷻ دوی دواړو ته توصیه وکړه چې د ذکرو شوو دواړو کارونو څخه مه ډارېږئ، زه ستاسو خبرې اورم او حالات مو وینم، نو داسې زمینه به درته برابره کړم چې تاسو نوموړي ته دعوت ورکړی شئ: او د فرعون خبرې او حالات هم زما څخه پټ نه دي، که کفري خبرې وکړي نو خپل پښتې به دروند کړي. تاسو ته یې څه مسئولیت نه متوجه کېږي.

۴ـ نو تاسو دواړه لاړ شئ او په داسې ډول دعوت ورکړئ:

الف: د هر څه څخه وړاندې هغه ته ووایاست چې ته رب نه یې، ته یو بنده او مخلوق یې، نو د الوهیت دعوه مه کوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. مونږ ستا د همغه رب ﷻ د پلوه رالېږلي شوي یاستو کوم چې ته یې پیدا کړی یې، نو د خپل رب ﷻ درلېږلو شوو ته غوږ ونیسه. هغه دا چې:

اول: د خپل رب ﷻ په وحدانیت معترف شه او بندګي یې قبوله کړه، ترڅو ستا د اعتراف په سبب ټول خاص او عام قبطیان (د بني اسرائیلو په شمول) د خپل رب ﷻ په وحدانیت اعتراف او اقرار وکړي او دنیا او آخرت یې اصلاح شي، او که دا کار نه کوې نو:

دوهم: مونږ ته بني اسرائیل راخوشې کړه چې کوم بل وطن ته لاړ شو او په ارامه فضاء کښې د خپل رب ﷻ عبادت وکړو.

درېیم: تر اوسه پورې دې بني اسرائیلو ته زښت ډېر تعذیبونه ورکړي دي نور د دوی د تعذیب څخه لاس واخله او اضافه یې مه معذبوه.

ج: ای فرعونه! مونږ په خپل رسالت باندې معجزات لرو چې ستا د رب ﷻ د پلوه مو تاته راوړي دي، نو په خپل ځان باندې رحم وکړه او په هلاکت کښې یې مه اچوه.

د: دا ځکه چې ستا د رب ﷻ د پلوه هغه چاته د عذاب څخه سلامتیا ورکوله کېږي کوم چې د هدایت پیروي وکړي او زمونږ دعوت قبول کړي.

ه: که نه نو مونږ ته وحې کېږي او خبر راکول کېږي چې یقیناً زمونږ د رب ﷻ عذاب په هغه چا باندې ورنازلېدونکی دی کوم چې:

اول: معجزاتو ته اعتناء نه کوي او د الله ﷻ پیغمبرانو ته د دروغو نسبت کوي چې تاسو پیغمبران نه یاست.

دوهم: او د دعوت د قبول څخه یې مخ اړوي او په حق باندې تکبر کوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا ﴾ کښې د "لَیّن" کلمه د "لِیْن" _لکه "فِیْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د نرمښت او پوستوالي معنی ورکوي او په مقابل کښې یې د "خشونة" کلمه استعمالېږي چې د زیګوالي دپاره وضعه شوې ده[1]. علماوو کرمو د پاسته او نرم کلام دپاره ډېر مثالونه ښودلي دي[2] مګر مونږ ته هغه مثالونه په زړه پورې برېښي کوم چې الله ﷻ پخپله موسی علیه السلام ته ورښودلي دي او مونږ ته یې حکایت کړي دي چې:

الف: یو مثال خو هغه دی کوم چې په ذکره شوې مجموعه کښې شامل دی چې: ﴿ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ ﴾ یعنې ای موسی! هغه ته په نرمه لهجه دعوت ورکړه چې ای فرعونه! د الله ﷻ د عذابونو څخه سلامتي د هغه چا په برخه ده کوم چې د ده ﷻ د هدایت پیروي کوي. نو په سخته لهجه دعوت مه ورکوه چې ژر شه ایمان راوړه که نه نو د الله ﷻ په غضب به ککړ شې.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۸
(۲) زاد المسیر ج۵ ص۲۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بل مثال يې دا دی چې: ﴿ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴾ [النازعات: ١٨] يعنې ای موسی! سرکشه فرعون ته ورشه او ورته ووايه چې: ايا تاته شوق شته چې د معاصيوو او جناياتو څخه پاکيزه شې؟ ايا دې ته مېنه لرې چې زه درته د خپل رب ﷻ په طرف سمه سېده لاره وښايم چې د عذابه وډار شې؟

## يادونه

۲_ په کوم شي باندې چې الله ﷻ موسی ﷺ او هارون ﷺ مکلف ګرځولي وه هغه يې په خپل فضل سره نبي کريم ﷺ ته د يوه خاصيت او عادت په توګه ورکړي وه چې: ﴿ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ ﴾ [آل عمران: ١٥٩] يعنې ای پيغمبره! د الله ﷻ د لوی رحمت د کبله چې په تاباندې شوی دی ته مؤمنانو ته نرمې کوې او په پسته ژبه ورته احکام بيانوې، او که چېرته ته د بد خوی او کلک زړه خاوند وی نو دوی به ستا د شاوخوا څخه تار په تار شوي وی، او ټولو به درڅخه نفرت کولی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴾ څخه په ظاهري نظر څرګندېږي چې هارون ﷺ هم د مناجات په وخت کښې حاضر وه او دواړو ورونو په شريکه عرض وکړ چې: ای زمونږ ربه! فرعون ډېر سرکشه دی او مونږ ډارېږو چې زمونږ دعوت به په نطفه کښې خنثی کړي، حال دا چې هارون ﷺ خو هلته حاضر نه وه؟

مونږ وايو چې[1]:

الف: ذکر شوي عرض د تغليب په توګه صورت نيولی دی چې هارون ﷺ هم د موسی ﷺ غوندې حاضر ګڼلی شوی دی، يا په بل عبارت: که په دغه مقام کښې هارون ﷺ حاضر وی نو هغه به هم د خپل رب ﷻ په حضور کښې ذکر شوی عرض وړاندې کړی وي.

ب: ذکر شوی اشتراک په حکايت کښې دی او بس چې موسی ﷺ په مناجات کښې عرض وکړ او هارون ﷺ فرعون ته د ورتګ په وخت کښې عين عرض وړاندې کړ، مګر الله ﷻ د دواړو څخه په يو ځل حکايت وکړ.

د همدې جواب يو نظير دا ايت شريف دی چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُواْ صَٰلِحًا ﴾ [المؤمنون: ٥١] يعنې ای پيغمبرانو! تاسو پاکيزه (او حلال) شيان خورئ او صالح عملونه کوئ.

پوره واضحه ده چې ذکر شوی خطاب هر يو پيغمبر ته په خپله‌خپله زمانه کښې متوجه شوی دی خو مونږ ته الله ﷻ په اجتماعي توګه نازل کړ، ته به وايې چې دوی ټولو په يوه زمانه کښې ژوند کړی دی.

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَـٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾
قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى فِى كِتَـٰبٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّى وَلَا يَنسَى
﴿٥٢﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً
فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُوا۟ وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَـٰمَكُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ
لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ مِنْهَا خَلَقْنَـٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾ ﴾

[۴۹] فرعون وویلې چې: ای موسی! ستاسو (دواړو) رب څوک دی (چې ما ور دعوت کوئ)؟

[۵۰] موسی ﷺ وویلې چې: زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته یې (مناسب) شکل ورکړی دی، (او) بیا یې (ورته د ورکړی شوي شکل څخه د استفادې) لاره هم ښودلې ده (ایا ته دغسې کار کولی شې؟).

[۵۱] فرعون وویلې چې: نو د پخوانیو پېړیو څه حال دی؟ (څه قیصې او څه حالات یې زاته بیان کړه).

[۵۲] موسی ﷺ وویلې چې: د پخوانیو پېړیو معلومات زما د رب ﷻ سره (دي او) په لوح محفوظ (لوی کتاب) کښې (ساتلي شوي هم) دي. زما رب ﷻ نه خطا کېږي (چې څه شی ورک کړي) او نه (څه شی) هېروي (سمدستي د پخوانیو پېړیو د حالاتو بیان زما مطلب نه دی).

[۵۳] زما رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې ځمکه د اوسېدانې دپاره مساعده ګرځولې ده (لکه چې د یوه ماشوم دپاره زانګو مساعده وي)، او الله ﷻ ستاسو دپاره په ځمکه کښې لارې غزولې دي او د اسمانه (د پاسه) یې (دربانديې) اوبه (باران) نازل کړی دی.
(الله ﷻ وایي چې:) نو مونږ په اوبو باندې مختلف ډولونه نباتات رازرغونه وو.

[۵۴] (ای انسانانو! دغه) خورئ او خپل څاروي (پکښې) څروئ.
یقینًا په دغه (مذکور بیان) کښې د عقلونو خاوندانو ته (د الله ﷻ د پېژاندلو دپاره) ډېرې لویې نښې دي.

[۵۵] (ای انسانانو!) مونږ تاسو د ځمکې څخه پیدا کړي یاست او په همدې ځمکه کښې مو بېرته ورتاوه وو (او منحل کوو) او (بالآخره) د همدې ځمکې څخه به مو (د قیامت په ورځ) بل وار راوباسو (ژوندي راپورته کوو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه سوال جواب ته اشاره شوې ده کوم چې د موسی ﷺ او د فرعون تر منځ یې صورت نیولی وه، نو حاصل یې داسې راځبرژي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! کله چې د موسی ﷺ مناجات د خپل رب ﷻ سره انجام شو او کوم ارشادات چې ورته خپل رب ﷻ ورکړي وه هغه يې په خپل زړه کښې ښه کلک وساتل:

۱_ نو د مصر په لور روان شو، هلته يې خپل ورور (هارون ﷺ) د خپله خانه سره ملګری کړ او مخامخ فرعون ته ورغله او دعوت يې ورکړ چې: مونږ ستا د رب ﷻ د پلوه د رسولانو په حیثث تاته دراستولی شوي یاستو نو ته پرې عقیده وکړه او زمونږ سره بني اسرائیل د تعذیب څخه راخوشې کړه.

۲_ فرعون د دواړو څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو هغه رب څوک دی چې تاسو يې را استولي یاست او ما يې د توحید عقیدې ته وربلی؟

۳_ موسی ﷺ ورېلې چې: زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: هر شي ته يې موجودیت ورکړی دی او زمونږ او ستاسو په شمول يې ټول شیان د نشت څخه پیدا کړي دي، او مناسب شکل او څېرې يې ورکړې دي.

ب: بیا يې هر شي ته د هغه د خال سره موافقه لارښوونه کړې ده، او په دنیا کښې يې د ژوند لارې چارې ورښودلې دي.

ج: په دې باندې علاوه انسان ته يې په طبعي لارې باندې د پاسه شرعي لاره هم ښودلې ده چې پیغمبران يې د همدې مطلب دپاره را استولي دي، نو مونږ دواړه د همدغه شرعي هدایت دپاره تاته راغلي یاستو.

۴_ له دې کبله چې فرعون د ذکر شوي واضحه دلیل په مقابل کښې خپل ثبات د لاسه ورکړ او غوښتل يې چې خپل عجز او ناتواني د خلکو څخه پټه کړي نو موسی ﷺ او هارون ﷺ ته يې غیر مقصودي سوال راجع کړ چې: که تاسو رښتیاني پیغمبران یاست نو د پخوانیو زمانو حالات څنګه وه؟ د هغوی څه قیصې راته بیانې کړئ.

۵_ خو دوی دواړو د فرعون غیر مقصودي سوال ته ډېر لنډ او ډېر مکمل جواب ورکړ چې:

الف: د پخوانیو زمانو او تېرو شوو قرنونو علم مونږ ته نه دی راکړی شوی او نه د هغوی د قیصو د بیانولو دپاره مونږ را استولي شوي یاستو، د هغوی پوره حالات برسېره په دې چې زمونږ د رب ﷻ په علم کښې دي، په لوح محفوظ کښې هم ثبت دي.

ب: زما یا زمونږ رب ﷻ نه په څه شي کښې خطا کېږي او نه ترې څه شی هېرېږي.

ج: زما یا زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې ځمکه استوګنځای جوړه کړې ده، او د ځمکې اضطراري حرکت يې ودرولی دی، که نه نو تاسو به پرې پاچايي لا څه چې ژوند هم نه وی کړی.

د: همدغه اقدس ذات تاسو ته په ځمکه کښې د ګرځېدلو راګرځېدلو لارې جوړې کړي دي، که نه نو تاسو به په ځمکه باندې دغسې نه وی ګرځېدلي لکه څنګه چې اوس پکښې ګرځئ راګرځئ.

هـ: او هم يې ستاسو دپاره د اسمانه اوبه نازلې کړي دي چې د بارانونو په شکل دباندې راورېږي، او غرونه رغونه درته خړوبوي، او په ځمکه کښې زخیره کېږي چې د چینو او کاریزونو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په شکل سره ښېرته ترې راوځي او تاسو ترې استفاده کوئ.

۶_ موسی ﷺ او هارون ﷺ فرعون ته دا هم وویلې چې: زمونږ رب ﷻ فرمایي چې:

الف: مونږ په اوبو باندې ستاسو دپاره د ځمکې څخه ډول-ډول نباتات رارزغونوو، او مړه ځمکه وربانډې ښېرته راژوندۍ کوو.

ب: نو تاسو د ځمکې د قسما قسم حاصلاتو څخه وخورئ او خپل ژوند وربانډې تامین کړئ، او هم پکښې خپل څاروي وڅروئ او عند الموقع ترې استفاده وکړئ.

ج: یقینًا په ذکر شوي تخلیق کښې (چې د اسمانه اوبه نازلېږي او ځمکه وربانډې شنه کېږي) د هوښیارانو دپاره د الله ﷻ د پېژاندلو په هکله ډېر لوی دلایل نغښتي دي.

د: مونږ تاسو د آدم ﷺ په شمول ټولې پخوانۍ پېړۍ د همدې ځمکې څخه پیدا کړي دي، او په همدې ځمکه کښې مو ښېرته منحل کوو او بالآخره مونږ تاسو د قیامت په ورځ د همدې ځمکې څخه ښېرته راوباسو.

۷_ دوی دواړو وویلې چې: ای فرعونه! ایا د ذکرو شوو کارونو څخه کوم یو ته کولی شې چې یا د اسمانه یو څاڅکی اوبه راښکته کړې او ځمکه پرې زرغونه کړې او یا داسې نور؟

## توضیحات

۱_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[1] د فرعون د لومړي دعوت په ارتباط څه عجائب او غرائب لیکلي دي خو مونږ ترې ځکه صرف نظر شوو چې په کوم اعتباري دلیل باندې یې اتکاء نه درلوده، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

۲_ ظاهره دا ده چې: موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه په ګډه توګه د فرعون دعوت ته ورغلي وه، اما په ایتونو کښې د فرعون مکالمه (خبرې او سوال جواب) ځکه د موسی ﷺ په نامه باندې په انفرادي شکل صورت نیولی دی، چې موسی ﷺ په نبوت کښې اصل وه او هارون ﷺ ورته د یوه مرستیال حیثت درلود.

۳_ مفسرینو کرامو د ﴿ أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ کلمات په متعددو معناوو سره تفسیر کړي دي[2]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته یې مناسب صورت او شکل ورکړی دی او بیا یې ورته د ورکړی شوي شکل سره موافقه لارښودانه هم کړې ده چې په څه ډول سره ترې استفاده وکړي او په څه ډول یې استعمال کړي. مثلاً:

اول: پیل ته یې خلتم ورکړی دی او د خلتم د استعمال طریقه یې هم ورښودلې ده.

دوهم: مرغانو ته یې وزرونه ورکړي دي خو د الوتلو په طریقه یې هم پوه کړي دي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۶ ص۱۹۹

(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۰۰، زاد المسیر ج۵ ص۲۰۳، تفسیر ابي السعود ج۶ ص۲۰، اضواء البیان ج۴ ص۴۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دربم: چرګوړی مېښوکې لري نو د دانو په راټولولو باندې پوهېږي خو د تي په رودلو باندې نه پوهېږي چې د مېښوکې جوړښت ورسره سمون نه خوري. بالعکس د پیشو بچی د تي په رودلو پوهېږي خو د دانو راغونډول يې په اولو وختونو کښې زده نه وي.

ب: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خپل هر یوه مخلوق ته یې ټول هغه شیان ورکړي دي کوم ته چې محتاج وي، لکه مختلف خوراکونه، او بیا یې هر یو شی پوه کړی دی چې ستا دا خوراک دی او ستا دا، هر یو خپل خوراک پېژني، او داسې نور.

ج: الله ﷻ هر شی پیدا کړی دی او بیا یې هر شی د خپل اقدس ذات په وحدانیت باندې لارښودونکی ګرځولی دی، چې شریک نه لري.

غالبه دا ده چې مفسرینو کرامو به ایت شریف د مثال په توګه تفسیر کړی وي او حصر به یې مطلب نه وي ځکه چې د ایت شریف مفهوم ډېر عام او غیر محصور دی، ډېرو معناوو ته شامل دی.

## بال څه معنی؟

۴_ په ﴿فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ﴾ کښې د ﴿بَالُ﴾ کلمه په ډېرو معناوو کښې استعمالېږي، لکه: حال، شان، قلب، سعة (پراخي) او داسې نور[١]، مګر دلته لومړی معنی په زړه پورې ده.

یعنې کله چې فرعون د موسی ﷺ د استدلال د رد څخه عاجز شو او وېې نه شو ویلی چې هر شي ته ما مناسب شکل ورکړی دی او بیا مې ورته د استعمال طریقه ښودلې ده، نو موسی ﷺ ته يې ذکر شوی سوال راجع کړ چې ښه نو ته د پخوانیو پېړیو حال راته بیان کړه چې هغوی څنګه ژوند تېر کړی وه او په څه او څه کیفیت سره د دنیا څخه تېر شوي دي؟، او همدارنګه راته ووایه چې هغوی به په دوزخ کښې وي او که په جنت کښې؟

امکان لري چې د ذکر شوي سوال په مطرح کولو کښې فرعون لاندې مطالب درلودل:

الف: ترڅو د موسی ﷺ توجه د مقصودي کار (دعوت) څخه غیر مقصودي شیانو ته واړوي او خپل ځان د جواب څخه خلاص کړي چې دعوت مني او که نه یې مني.

ب: ترڅو د حاضرینو په سترګو کښې خاورې واچوي چې ما خو د موسی ﷺ په مقابل کښې ماتې نه ده خوړلې او د سوال جواب څخه عاجز نه یم.

ج: ترڅو د موسی د خولې څخه دا خبره راوباسي چې پخواني خلک ټول په دوزخ کښې دي او ټول ګمراهان دي (کومو چې د پیغمبرانو دعوت نه دی قبول کړی)، نو په دې خبره باندې به مصریان په غُصه کړي او د موسی ﷺ په مقابل کښې به یې راوپاروي، چې ایا ته زمونږ پلرونو ته د ګمراهانو او دوزخیانولقب ورکوې؟

د: ترڅو موسی ﷺ په قیصو شروع وکړي او فرعون ﷺ ته د مباحثې او خبرو اترو زمینه برابره

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٧٤

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي چې دا دې ربښتیا ده او دا دې دروغ ده او داسې نور.

مګر موسی ﷺ د الله ﷻ په توفیق داسې بلیغ او فصیح جواب ورکړه چې فرعون ته ذکر شوي مطالب یو هم لاس ته ورنغی او په ټولو کښې ناکام شو، او بالآخره د پخوانیو حالات یې هم ورته څه ناڅه بیان کړه چې ټول بنیادمان د پخوانیو په شمول د ځمکې څخه پیدا شوي دي او په ځمکه کښې به منحل کېږي او د قیامت په ورځ به بېرته د ځمکې څخه رااوچتېږي.

## د ایتونو تنسیق

۵ـ د ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا ﴾ الآیات، په تنسیق او تنظیم کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي چې ایتونه د ټولو احتمالاتو تحمل کولی شي، مګر کوم احتمال چې مونږ ته په زړه پورې برېښېدلی دی هغه دا دی چې: ذکر شوي ټول ایتونه الله ﷻ مونږ ته د موسی ﷺ د مبارکې خولې څخه راحکایت کړي دي او په ټولو باندې یې فرعون مخاطب کړی دی.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَأَخْرَجْنَا ﴾ څخه نیولې آن د ایتونو تر آخره پورې داسې کلمات نازل شوي دي چې موسی ﷺ ته یې نسبت نه شي کېدلی او د الله ﷻ سره مناسبت لري چې د ځمکې څخه مختلف نباتات الله ﷻ راوباسي او د خاورو څخه انسان همده ﷻ جوړ کړی دی او هم مړه کول او بیا ژوندي کول د همده ﷻ کار دی، نه د موسی ﷺ او هارون ﷺ.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا دا امکان لري چې د دغسې کلماتو حکایت د موسی ﷺ څخه وکړی شي؟

مونږ وایو چې: هو! د موسی ﷺ څخه یې په لاندې لحاظونوسره حکایت صحت لري:

الف: چې د "يَقُوْلُ اللهُ" جمله ورسره په لحاظ کښې وساتله شي، یعنې الله ﷻ وایي چې نو مونږ په اوبو سره مختلف او ډول-ډول نباتات د ځمکې څخه رازرغونه وو (تر آخره پورې) ای فرعونه! ایا ته دغه کارونه کولی شې؟

د دې ډول تقدیر یو نظیر په ﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ ﴾ [مریم:۳۶] کښې تېر شوي دي یعنې عیسی ﷺ د وخت ټولو خلکو ته ویلي وه چې الله ﷻ زما رب دی او ستاسو رب هم دی نو یوازې د همده ﷻ عبادت وکړئ او ماته د الوهیت لقب مه راکوئ.

ب: چې په ﴿ فَأَخْرَجْنَا ﴾ کښې د "نا" ضمیر د الله ﷻ او د موسی ﷺ او هارون ﷺ څخه کنایه شي، یعنې مونږ (الله ﷻ او موسی ﷺ او هارون ﷺ) په اوبو باندې نباتات رازرغونه وو او داسې نور.

د دغسې مشترک ضمیر استعمال یو مثال په [الکهف:۸۱] ایت کښې تېر شوي دي هلته پرې د الله ﷻ په توفیق ښه تحقیقي بحث لیکلی شوی دی، چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه وینو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو تو هغه ته یې فقط دوه معجزې وښودلې چې ﴿ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴾ [الأعراف: ۱۰۷، ۱۰۸] یعنې نو موسی ﷺ خپله همسا واچوله نو ناڅاپه ترې ښرګنده ښامار جوړ شو، او خپل لاس یې د ګریوان څخه راوویست نو ناڅاپه د لیدونکو دپاره تک سپین ځلېدونکی جوړ شو. نو نهه واره معجزات څو موسی ﷺ فرعون ته په لومړي ملاقات کښې نه وې ښودلې بلکې د شلو (۲۰) کالو په اوږدو کښې یې ورښکاره کړې[1] نو پوښتنه دا ده چې، په ذکر شوي تفسیر سره دا ایت او هغه ایتونه سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې ذکر شوي سوال ته مفسرینو کرامو متعدد جوابونه کړي دي لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دلته په ﴿ ءَايَٰتِنَا ﴾ کښې د "آیات" د کلمې څخه هغه دلایل او استدلالات مطلب دي کوم چې موسی ﷺ او هارون ﷺ د فرعون په وړاندې اقامه کړه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده[2]، او د همسا او لاس دواړه معجزې یې هم ورښکاره کړې چې په دې مقام کښې یې ذکر نه دی نازل شوی.

ب: د ذکرې شوې کلمې څخه همدغه دواړه (همسا او لاس) مطلب دي او په مثنی باندې کله کله په عربي کلام کښې د جمعې اطلاق کېږي. او یا به په دې اعتبار سره دغې مثنی ته د جمعیت په نظر کتلی شوي وي چې دغه دواړه معجزې په ډېرو خوارقو باندې مشتملې وې لکه د ښامار ګرندیتوب، د خولې لوی والی چې اتیا ګزه ارته وه، په لکۍ باندې ودرېدل چې یو میل پورته اوچت وه او داسې نور[3].

ذکر شوي دواړه جوابونه مونږ ته غیر متبادر برېښي، مونږ وایو چې:

ج: د ﴿ ءَايَٰتِنَا ﴾ څخه همغه مشهورې او معهودې نهه معجزې مطلب دي خو په ایت شریف کښې مطلب دا نه دی چې په همدغه ابتدایي وخت کښې ټولې فرعون ته وروښودلې شوې، بلکې دلته د فرعون په طغیان باندې یوې عمومي تبصرې ته اشاره شوې ده چې نوموړي لکه څنګه چې د موسی ﷺ او هارون ﷺ دعوت په اوله ورځ باندې قبول نه کړ نو په همدغه عناد باندې آن تر مرګه پورې کلک پاتې شو او د ټولو معجزاتو په ښودلو سره هم د خپل عناد او ضد څخه بلې خوا نه شو.

د دې جواب په لحاظ سره په ﴿ قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا ﴾ الآیة. کښې د نوموړي د عناد یوه بېلګه وړاندې شوې ده چې د جادو په نوم اینښودلو سره یې د معجزې څخه انکار وکړ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: موسی ﷺ خو د فرعون څخه دوه شیان غوښتي وه: یو دا چې ایمان راوړي

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج ۶ ص ۲۳

(۲) تفسیر الطبري ج ۱۶ ص ۱۷۵؛ تفسیر القرطبي ج ۱۲ ص ۲۱۱

(۳) روح المعاني ج ۱۶ ص ۲۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بل دا چې بني اسرائيل ورسره خوشي کړي چې د مصر څخه ووځي، لکه چې د همدې سورت په [۴۷] ايت کښې ورته اشاره شوې ده؛ نو پوښتنه دا ده چې د فرعون دا تهمت لګول (چې ته غواړې چې مونږ د خپله وطنه وباسې) د څه وجې څخه سرچينه اخلي؟

مونږ وايو چې: فرعون د پرقېدونکي لاس او همسا څخه پوه شو چې موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه په حقه پيغمبران دي خو عناد او ضد اجازه ورنه کړه چې د دعوت قبول ته غاړه کېږدي، او هم په دې باندې پوه شو چې وروستنۍ غلبه د همدوی دواړو په برخه ده خو د خپل رعيت د اغفال او ناخبره ساتلو دپاره يې داسې تهمت په موسی ﷺ باندې ولګاوه چې دوی پرې په غُصه کړي او د خپل ځان په انډيوالۍ باندې يې کلک کړي هسې نه چې څوک پرې ايمان راوړي، لکه چې همدا کار په نتيجه کښې ساحرانو وکړ او په ايمان مشرف شوه.

## يو نحوي تحليل

۴ـ په ﴿ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهُۥ نَحْنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانًا سُوًى ﴾ کښې د ﴿ لَّا نُخْلِفُه ﴾ جمله د ﴿ مَوْعِدًا ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده او بارز ضمير يې هغه "وَعد" ته راجع دی په کوم باندې چې د ﴿ مَوْعِدًا ﴾ کلمه مشتمله ده.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مَكَانًا سُوًى ﴾ کلمات د ﴿ مَوْعِدًا ﴾ څخه بدل واقع شوي دي، نو حاصل يې داسې راځېږي چې فرعون موسی ﷺ مخاطب کړ چې: د مقابلې دپاره يو ځای وټاکه چې د هغه ځای د وعدې څخه نه مونږ مخالفت وکړو او نه ته، البته داسې ځای چې د ښار منځ وي چې ټول خلک ورته رسيدګي وکړی شي او د جادوګرانو د ننداري څخه هيڅوک محروم پاتې نه شي.

يا په بل عبارت: داسې ځای چې ښه هوار وي، لوړې او ژورې ونه لرې او هم هغه ته د ورتللو دپاره د اجازې اخستلو ضرورت نه وي، بلکې مشران او کشران پکښې يو برابر وي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: دا عجيبه ده چې فرعون د مقابلې دپاره موسی ﷺ ته د ځای د ټاکنې اختيار ورکړ خو موسی ﷺ د ځای ټاکنه په سکوت کښې پرېښودله او د زمانې ټاکنه يې وکړه چې: ﴿ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحْشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴾ يعنې: ستاسو د وعدې زمانه د ډول او سنګار ورځ ده او هغه وخت دی چې ټول خلک د څاښت په وخت کښې راغونډ کړی شي ترڅو هيڅوک بې ننداري پاتې نه شي؟

مونږ وايو چې کله موسی ﷺ وخت وټاکه چې هغه د فرعونيانو د جشن ورځ وه نو د ځای ټاکلو ته څه اړتيا پاتې نه شوه، او دا ځکه چې هغوی د خپل کلنې جشن دپاره ښه پراخ ځای ټاکلی وه لکه چې په ټولو دولتونو کښې ـ د نن زمانې په شمول ـ رواج دي چې د جشن دپاره خاص ځای جوړوي.

﴿ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنِ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱفۡتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ
يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجۡمِعُواْ
كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ﴿٦٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ
وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن
سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ
ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدٗا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ ۞

[۶۱] جادوګرانو ته موسی عليه السلام (د مقابلې د شروع څخه وړاندې) وویلې چې: افسوس دې وي تاسو لره، په الله ﷻ باندې دروغ مه تړئ نو په عذاب سره به مو بېخ وباسي (او هلاک به مو کړي)، او یقیناً هغه څوک ناکام دی کوم چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي.

[۶۲] نو جادوګرانو په خپل منځکښې د خپل کار (د مقابلې) په هکله جګړه (مشوره او جرو بحث) وکړ، او خپل راز (فیصله) یې پټه کړه.

[۶۳] (هغه دا چې) دوی وویلې چې: یقیناً دغه دواړه کسان (موسی عليه السلام او هارون عليه السلام) هرو مرو جادوګران دي (او) دواړه اراده لري چې تاسو د خپلې ځمکې (مصر) څخه د خپل جادو په سبب (په زور) وباسي او ستاسو (دیني) غوره لاره د منځه یوسي (او په عوض یې خپله دیني لاره رواج کړي).

[۶۴] نو تاسو خپل (ټول) سامان (چل) راغونډ کړئ (او) بیا یو صف (په اتفاق سره د مقابلې میدان ته) راشئ، او یقیناً نن ورځ هغه څوک کامیاب (او مطلب ته رسېدلی) دی کوم چې (د مقابلې په میدان کښې) لوړ (او برلاسی) شي.

[۶۵] (نو) جادوګرانو (ټولو په یوه خوله موسی عليه السلام ته) وویلې چې: ای موسی! یا به ته (خپله همسا په اول ځل) اچوې (او ښامار به ترې جوړوې) او یا به مونږ اولنې هغه کسان شو کوم چې (خپل سامان میدان ته) وراچوي.

[۶۶] موسی عليه السلام وویلې چې: بلکې تاسو (خپل سامان اول ځل) واچوئ (لومړی نوبت دې ستاسو وي)، نو (جادوګرانو خپل سامانونه میدان ته ورواچول) چې ناڅاپه د دوی د پړو (رسیو) او د دوی د همساګانو (په هکله) د دوی د جادو د کبله د موسی عليه السلام خیال ته ورغله چې دا (ټول) منډې وهي (او تېز حرکت کوي خو حقیقت هغسې نه وه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۷] نو موسی ﷺ په خپل نفس (خپل زړه) کښې ډار مونده کړ (هسې نه چې خلک ورباندې تېر وځي).

[۶۸] مونږ (موسی ﷺ ته) وویلې چې: ډارېږه مه، یقینًا ته چې یې همدا ته ډېر لوړ (غالب) یې.

[۶۹] او هغه شی واچوه کوم چې ستا په ښي لاس کښې دی چې هغه شیان ښویه تېر کړي کوم چې جادوګرانو جوړ کړي دي.

یقینًا هغه شیان (څیزونه) چې دوی جوړ کړي دي د جادوګر چل (او غولونه) ده (چې په خلکو باندې یې چشمبندي کړې ده)، او جادوګر فلاح (کامیابي) نه شي موندلی هرچرته چې راشي (او هر چرته چې وي).

[۷۰] نو جادوګران (د دغې صحنې د لیدلو د کبله) سجده کوونکي (په ځمکه باندې) وغورزولی شوه (تا به ویل چې څوک یې سجدې ته ټېل وهي، او په لوړ اوازسره یې) وویلې چې: مونږ د هارون او موسی په رب ﷻ باندې ایمان راوړی دی (فرعون رب نه دی دروغژن دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! کله چې فرعون د خپل ټول قلمرو څخه ټکړه ټکړه جادوګران راغونډ کړه او په ډېر غرور سره ټاکلي میعاد ته حاضر شو نو د مقابلې په میدان کښې لاندې کیفیاتو صورت ونیوه:

۱_ د هر څه څخه وړاندې موسی ﷺ جادو ګرانو ته دعوت ورکړ او د الله ﷻ د عذابه یې وډار کړه، چې:

الف: ای جادوګرانو! افسوس دی چې تاسو د بل چا سره نه بلکې د الله ﷻ سره مقابلې ته راپورته شوي یاست، او په همده ﷻ باندې دروغ تړئ چې د پیغمبر څخه یې انکار کوئ.

ب: الله ﷻ څخه وډار شئ او د مقابلې څخه یې لاس واخلئ چې په عذاب باندې به مو هلاک کړي او د نجات دپاره به هیڅوک مونده نه کړئ.

ج: ای جادوګرانو! هرچا چې په ا لله ﷻ باندې دروغ تړلي دي هغه ناکام شوی دی او ښه ورځ یې نه ده لیدلې، هسې نه چې تاسو د دغه برخلیک سره مخامخ شئ.

۲_ د موسی ﷺ دعوت او نصیحت په جادوګرانو باندې بې اثره پاتې نه شو، بلکې دوی په خپل منځکښې په خبرو اترو باندې بوخت شوه او د مقابلې موضوع یې مشورې ته واچوله چې په څه ترتیب عملیات شروع کړو او په څه ترتیب د موسی د جادو مخه ونیسو. یا په بل عبارت: جادوګران د موسی په دعوت باندې په غُصه شوه، او لاندې فیصله یې د راز په توګه پټه وساتله چې:

الف: یقینًا دغه دوه کسان (موسی ﷺ او هارون ﷺ) بل څوک نه دي بلکې فقط دوه جادوګران دي چې نه پیروان لري او نه یې په دې حکومت کښې کومکیان شته، نو د منځه وړل یې ډېر ضرور دي. او دا ځکه چې:

ب: دوی دواړه غواړي چې د خپل جادو په زور باندې تاسو په خپل وطن او خپلې ځمکې باندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱفۡتَرَىٰ ﴿٦١﴾ فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ
يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجۡمِعُواْ
كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ﴿٦٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ
وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن
سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ
ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدٗا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ ﴾

**[۶۱]** جادوګرانو ته موسی ﵇ (د مقابلې د شروع څخه وړاندې) وویلې چې: افسوس دې وي تاسو لره، په الله ﷻ باندې دروغ مه تړئ نو په عذاب سره به مو بېخ وباسي (او هلاک به مو کړي)، او یقیناً هغه څوک ناکام دی کوم چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي.

**[۶۲]** نو جادوګرانو په خپل منځکښې د خپل کار (د مقابلې) په هکله جګړه (مشوره او جرو بحث) وکړ، او خپل راز (فیصله) یې پټه کړه.

**[۶۳]** (هغه دا چې) دوی وویلې چې: یقیناً دغه دواړه کسان (موسی ﵇ او هارون ﵇) هرو مرو جادوګران دي (او) دواړه اراده لري چې تاسو د خپلې ځمکې (مصر) څخه د خپل جادو په سبب (په زور) وباسي او ستاسو (دیني) غوره لاره د منځه یوسي (او په عوض یې خپله دیني لاره رواج کړي).

**[۶۴]** نو تاسو خپل (ټول) سامان (چل) راغونډ کړئ (او) بیا یو صف (په اتفاق سره د مقابلې میدان ته) راشئ، او یقیناً نن ورځ هغه څوک کامیاب (او مطلب ته رسېدلی) دی کوم چې (د مقابلې په میدان کښې) لوړ (او برلاسی) شي.

**[۶۵]** (نو) جادوګرانو (ټولو په یوه خوله موسی ﵇ ته) وویلې چې: ای موسی! یا به ته (خپله همسا په اول خل) اچوې (او ښامار به ترې جوړوې) او یا به مونږ اولنې هغه کسان شو کوم چې (خپل سامان میدان ته) وراچوي.

**[۶۶]** موسی ﵇ وویلې چې: بلکې تاسو (خپل سامان اول خل) واچوئ (لومړی نوبت دې ستاسو وي)، نو (جادوګرانو خپل سامانونه میدان ته ورواچول) چې ناڅاپه د دوی د پړو (رسیو) او د دوی د همساګانو (په هکله)، د دوی د جادو د کبله د موسی ﵇ خیال ته ورغله چې دا (ټول) منډې وهي (او تېز حرکت کوي خو حقیقت هغسې نه وه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۷] نو موسی ﷺ په خپل نفس (خپل زړه) کښې ډار مونده کړ (هسې نه چې خلک ورباندې تېر وځي).

[۶۸] مونږ (موسی ﷺ ته) وويلې چې: ډاريږه مه، يقينًا ته چې يې همدا ته ډېر لوړ (غالب) يې.

[۶۹] او هغه شی واچوه کوم چې ستا په ښي لاس کښې دی چې هغه شيان ښويه تېر کړي کوم چې جادوګرانو جوړ کړي دي.

يقينًا هغه شيان (څيزونه) چې دوی جوړ کړي دي د جادوګر چل (او غولونه) ده (چې په خلکو باندې يې چشمبندي کړې ده)، او جادوګر فلاح (کاميابي) نه شي موندلی هرچرته چې راشي (او هر چرته چې وي).

[٧٠] نو جادوګران (د دغې صحنې د ليدلو د کبله) سجده کوونکي (په ځمکه باندې) وغورزولی شوه (تا به ويل چې څوک يې سجدې ته ټېل وهي، او په لوړ اوازسره يې) وويلې چې: مونږ د هارون او موسی په رب ﷻ باندې ايمان راوړی دی (فرعون رب نه دی دروغژن دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! کله چې فرعون د خپل ټول قلمرو څخه ټکړه ټکړه جادوګران راغونډ کړه او په ډېر غرور سره ټاکلي ميعاد ته حاضر شو نو د مقابلې په ميدان کښې لاندې کيفياتو صورت ونيوه:

١ـ د هر څه څخه وړاندې موسی ﷺ جادو ګرانو ته دعوت ورکړ او د الله ﷻ د عذابه يې وډار کړه، چې:

الف: ای جادوګرانو! افسوس دی چې تاسو د بل چا سره نه بلکې د الله ﷻ سره مقابلې ته راپورته شوي ياست، او په همده ﷻ باندې دروغ تړئ چې د پيغمبر څخه يې انکار کوئ.

ب: الله ﷻ څخه وډار شئ او د مقابلې څخه يې لاس واخلئ چې په عذاب باندې به مو هلاک کړي او د نجات دپاره به هيڅوک مونده نه کړئ.

ج: ای جادوګرانو! هرچا چې په ا لله ﷻ باندې دروغ تړلي دي هغه ناکام شوی دی او ښه ورځ يې نه ده ليدلې، هسې نه چې تاسو د دغه برخليک سره مخامخ شئ.

٢ـ د موسی ﷺ دعوت او نصيحت په جادوګرانو باندې بې اثره پاتې نه شو، بلکې دوی په خپل منځکښې په خبرو اترو باندې بوخت شوه او د مقابلې موضوع يې مشورې ته واچوله چې په څه ترتيب عمليات شروع کړو او په څه ترتيب د موسی د جادو مخه ونيسو. يا په بل عبارت: جادوګران د موسی په دعوت باندې په غُصه شوه، او لاندې فيصله يې د راز په توګه پټه وساتله چې:

الف: يقينًا دغه دوه کسان (موسی ﷺ او هارون ﷺ) بل څوک نه دي بلکې فقط دوه جادوګران دي چې نه پيروان لري او نه يې په دې حکومت کښې کومکيان شته، نو د منځه وړل يې ډېر ضرور دي. او دا ځکه چې:

ب: دوی دواړه غواړي چې د خپل جادو په زور باندې تاسو په خپل وطن او خپلې ځمکې باندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د حکومت کولو څخه عزل کړي او پخپله د دې وطن د حکومت واګې په لاس کښې واخلي، لکه چې همدا کار څو کلونه وړاندې یوسف ﷺ کړی وه.

ج: په دې باندې علاوه، دوی دا هم غواړي چې ستاسو دیني غوره لاره د منځه یوسي او په عوض یې د خپلو خانونو سره راوړې باطله (نامطلوبه) لاره ځای په ځای کړي.

د: نو یو تربله یې سره توصیه وکړه چې خپل کار مو راغونډ کړئ او یوې قوې حملې ته خپل ځانونه برابر کړئ. یا په بل عبارت: خپلمنځي اختلاف پرېږدئ او په اتفاق سره د مقابلې دپاره یو صف جوړ کړئ.

هـ: نن ډېره مهمه ورځ ده، همغه څوک به کامیاب وي کوم چې نن ورځ برلاسي او زوروړ شي، مونږ ته په کار دي چې برلاسي ترلاسه کړو چې د یو پلوه د پاخه دښمن مخه ونیسو او د بله پلوه د خپل بادار (فرعون) څخه انعامونه ترلاسه کړو.

۳ـ د ذکرې شوې مشورې او فیصلې څخه وروسته دوی د موسی ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

الف: ای موسی! ستا خوښه چې اول لمبر ته اخلې او د خپلې همسا څخه دې ښامار جوړوې (میدان ته یې را اچوې)، او که مونږ ته د اولیت حق راکوې چې مونږ خپل ساز او سامان میدان ته واچوو او ته یې مقابله وکړې؟

ب: موسی ﷺ دوهم شق غوره کړ چې: تاسو اول نوبت واخلئ او خپله وسه تمامه کړئ.

دا د دې دپاره چې د جادوګرانو ملامتیا ښه په ډاګه او څرګنده شي، که بالفرض موسی ﷺ اول نوبت اخستی وی نو احتمال وه چې جادوګران بالکل د مقابلې څخه صرف نظر شوي وی نو مغلوبیت به یې پټ پاتې شوی وی.

۴ـ جادوګرانو د همدې خبرې سره سم په عملیاتو باندې شروع وکړه چې خپل پړي (رسۍ) او همساګانې یې میدان ته ورواچولې او د جادو منترونه یېورباندې پیل کړه، آن تر دې چې:

الف: نور حلک لا څه چې پخپله موسی ﷺ ته د دوی د جادو د کبله خیال ته ورغله چې دغه پړي او همساګانې واقعًا ښوړلي او منډې وهي.

ب: نو د موسی ﷺ په زړه کښې ډار پیدا شو هسې نه چې خلک ورباندې وغولېږي او باور ورباندې وکړي، او ماته د دې موقع هم رانه کړي چې خپل وار (نوبت) تېر کړم.

۵ـ ای پیغمبره! په عین وخت کښې مونږ موسی ﷺ ته ډاډ ورکړه چې ډارېږه مه، همدا ته د پاسه یې او همدا ته برلاسی یې، نور تال ورته مه کوه ځکه چې:

الف: همغه شی چې ستا په ښي لاس کښې دی او د مناجات په وخت کښې دې په عجیبه کیفیت کښې اړولی شوی لیدلی وه، میدان ته ورګوزار کړه، نو:

ب: سمدستي به ترې اژدها جوړه شي او څه چې جادوګرانو د مقابلې په میدان کښې خواره کړي دي هغه به ټول ښویه تېر کړي، او دا ځکه چې:

ج: کوم شیان چې هغوی جوړ کړي دي هغه په واقعیت باندې ولاړ نه دي بلکې د جادوګرانو چل

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او فریب دی چې ډېر ژر به د منځه لاړ شي.

د: جادوګر په هیڅ ځای کښې فلاح او کامیابي نه شي موندلی او هرومرو د ناکامۍ سره مخ کېږي.

موسی ﷺ زمونږ د ارشاد مطابق خپله همسا میدان ته ورواچوله چې اژدها ترې جوړه شوه او د جادوګرانو پړي مړي یې ټول ښویه تېر کړه.

۶_ نو کله چې جادوګرانو ذکره شوې عملیه په خپلو سترګو باندې ولیده نو سمدستي یې باور راغی چې دا جادو نه دی او دوی دواړه جادوګران نه دي بلکې دا معجزه ده او دوی دواړه واقعاً پیغمبران دي، نو په زغرده په سجده باندې پرېوتل، تا به ویل چې څوک یې ټېل وهي، او ټولو په لوړ اواز باندې او په یوه خوله چیغې کړې چې مونږ د موسی ﷺ او د هارون ﷺ په رب باندې ایمان راوړی دی او د فرعون د ربوبیت څخه انکار کوونکي یاستو.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۱۱۳] ایت لاندې د هغو جادوګرانو په هکله کوم چې د موسی ﷺ د مقابلې دپاره فرعون راغونډ کړي وه څه معلومات لیکلي دي، او هم مو د هغو ی د پرو او همساګانو اندازه ښودلې ده چې په جادو سره یې خلکو ته ماران وبرېښول. نو که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي، مونږ اضافه معلوماتو ته څه اړتیا نه ګورو.

## سُحت څه معنی؟

۲_ په ﴿ فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٍ ﴾ کښې د "فَيُسْحِتَ" کلمه اصلاً د "سُحْتٌ" _لکه "كُفْرٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "سُحْتٌ" هغه پوستکي ته ویل کېږي کوم چې له بېخه ویستلی شي[1]، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای ساحرانو (جادوګرانو) د الله ﷻ څخه وېدار شئ او دروغ ورپورې مه تړئ، چې په عذاب باندې به مو بېخ وباسي او ټول به پوپنا کړي.

## د نَجوی معنی

۳_ په ﴿ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴾ کښې د "نَجْوَى" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۱۱۴] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې د راز معنی ورکوي. یعنې جادوګرانو په خپل منځکښې د مشورې کولو او د جر او بحث څخه وروسته خپله فیصله د یوه راز په توګه پټه وساتله او په عملیاتو یې شروع وکړه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې د جادوګرانو د راز خبره څه شی وه، یا په بل عبارت: دوی په کومه خبره باندې سره متفق شوه؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو مفسرینو کرامو ډېر احتمالات مونږ وایو چې د نوموړي راز او پټې خبرې په تعین کښې په متصلو ایتونو کښې افشاء کړی لیکلي دي[۱] مګر ظاهره دا ده چې د هغوی راز مونږ ته الله ﷻ په ﴿ قَالُوٓا۟ إِنْ هَـٰذَٰنِ لَسَـٰحِرَٰنِ ﴾ الآیتین.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ د ﴿ إِنْ هَـٰذَٰنِ لَسَـٰحِرَٰنِ ﴾ په اعراب کښې علماوو کرامو ډېر اوږده تحلیلونه کړي دي[۲] چې مونږ فقط د یوه تحلیل په ذکر باندې اکتفاء کوو چې په لاندې نکاتو ولاړ دی[۳]:

الف: د "إنْ" توری د "إنّ" مخفف دی چې د تحقق معنی ورکوي خو خپل اسم ته نصب نه ورکوي.

ب: د ﴿ هَـٰذَٰنِ ﴾ کلمه مبتدأ ده او د ﴿ لَسَـٰحِرَٰنِ ﴾ کلمه یې خبر واقع شوې ده.

ج: په ﴿ لَسَـٰحِرَٰنِ ﴾ کښې د "ل" توری د تاکید دپاره دی، نو په همدغه توري سره څرګندېږي چې د "إنْ" توری د نفي دپاره نه دی ځکه چې د تاکید "ل" د نافیه "إنْ" سره نه استعمالېږي بلکې د هغه "إنّ" پورې اختصاص لري کوم چې د مشدد څخه مخفف کړی شوی وي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د جادو ګرانو په شوری کښې فیصله شوه چې یقیناً دغه دواړه (موسی ؑ، هارون ؑ) هرو مرو جادوګران دي.

## طریقة څه معنی؟

۶ـ په ﴿ وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلْمُثْلَىٰ ﴾ کښې که څه هم علماوو کرامو د "طریقة" کلمه په دې مقام کښې د اشرافو او غوره کسانو په معنی باندې تفسیره کړه[۴] یعنې دغه دوه کسان (موسی ؑ او هارون ؑ) غواړي چې ستاسو اشراف او غوره کسان د منځه یوسي او پخپله یې په ځای باندې کښېني. یا په بل عبارت: غواړې چې ستاسو حکومت ړنګ کړي او خپل حکومت تشکیل کړي.

خو په ذکر شوي تفسیر سره دغه جمله د وړاندېنۍ جملې دپاره تاکید واقع کېږي، نو د همدې کبله مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د طریقې څخه دیني لاره مطلب وي او څه لرې نه ده چې جادوګرانو به دا خطر د فرعون د هغې خبرې څخه اقتباس کړی وي کوم چې مونږ ته الله ﷻ د ده د خولې څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ ﴾ [غافر: ۲۶] یعنې: فرعون خپل رعیت مخاطب کړ چې ما پرېږدئ ترڅو موسی ؑ ووژنم او دی دې خپل رب وبلي چې زما څخه یې خلاص کړي، او دا ځکه چې زه ډارېږم چې ستاسو دین به بدل کړي چې ډېر غوره دین دی، او په باطل دین باندې به مو واړوي.

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲۰۷

(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۲۲۱؛ تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۱۷۲

(۳) البحر المحیط ج۷ ص۲۵۰

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۵۷؛ تفسیر الطبري ج۱۶ ص۱۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "خَیال" معنی

٧_ په ﴿ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴾ کښې د ﴿ يُخَيَّل ﴾ کلمه اصلاً د "خَیالٌ" _لکه "سَلامٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "خَیالٌ" هغه صورت ته ویل کېږي چې واقعیت ونه لري لکه چې سړی څه شی په خوب کښې وګوري او یا ورته په آینه کښې ښکاره شي[1]، یعنې د موسی ﷺ په تصور کښې د جادوګرانو د جادو د کبله دا خبره واچوله شوه چې پړي او همساګانې منډې وهي او حرکت کوي حال دا چې واقعیت هغسې نه وه.

### سوال جواب

٨_ که څوک وایي چې: د ذکر شوی ایت شریف څخه څرګندېږي چې جادو واقعیت نه لري او محض خیالي او تصوري شی دی حال دا چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ﴾ [البقرة:١٠٢] یعنې یهودانو به د هاروت او ماروت څخه هغه جادو زده کاوه د کوم په سبب به یې چې د سړي او د ده د مېرمنې ترمنځ جدایي واقع کوله. دا ایت په صراحت سره دلالت کوي چې سحر (جادو) واقعیت لري او د ښځې او مېړه جدایي ورباندې مرتبېږي.

مونږ وایو چې: د سحر (جادو) په هکله د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:١٠٢] ایت لاندې څه بیان ته اشاره شوې ده خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې:

الف: سحر (جادو) د هغو خارق العاده کیفیاتو نوم دی کوم چې په پټو سببونو باندې مرتبېږي، او عوام یې نه شي تشخیص کولی.

ب: سحر (جادو) زښت ډېر ډولونه لري چې ځینو مفسرینو کرامو یې اته ډوله لیکلي دي[2] مګر ځینو آن پنځلس (١٥) ډولو ته رسولی دی[3]، چې په دغو ډولونو کښې ځینې هغه ډولونه دي چې واقعیت لري او د ښځې او مېړه بېلتون هم ورباندې ترتب مومي، مګر ځینې نور هغه دي چې واقعیت او حقیقت نه لري محض په تخیل باندې ولاړ وي. د فرعون د جادوګرانو جادو د همدې قبیلې څخه وه لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ سَحَرُوٓاْ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ ﴾ [الأعراف:١١٦] یعنې جادوګرانو د خلکو په سترګو باندې جادو وکړ او حقیقت یې نه درلود. دغه ډول ته ځینې خلک چشمبندي وایي.

﴿ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُواْ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا فَٱقْضِ مَآ أَنتَ

(١) مفردات الراغب ص١٦٤
(٢) التفسير الکبیر ج٣ ص٢١٣؛ الجواهر للطنطاوي ج١ ص١٠٦
(٣) اضواء البیان ج٤ ص٤٨١، ٥١٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ
أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ۗ وَٱللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿٧٣﴾ إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ رَبَّهُۥ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا
يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿٧٤﴾ وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ
ٱلْعُلَىٰ ﴿٧٥﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾

[۷۱] فرعون (ساحرانو ته) وویلې چې: ایا تاسو موسی ﷺ ته له دې څخه مخکښې عقیده وکړه (او د ده نبوت مو تسلیم کړ) چې زه تاسو ته اجازه وکړم؟ یقیناً موسی ﷺ ستاسو هغه مشر دی کوم چې تاسو ته یې جادو ښودلی دی (نو تاسو په دستوري توګه خپل ځانونه ناکام کړه)، نو ضرور هرومرو به زه ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ردو بدل پرې کړم، او هم به هرومرو او خامخا تاسو د خرماګانو په ډډونو کښې ځوړند (په دار) کړم او (بالآخره) هرومرو او ضرور به تاسو پوه شئ چې زمونږ (فرعون او موسی) کوم یو د عذاب د حیثه ډېر کلک او ډېر پایدار دی (زه که هغه؟).

[۷۲] جادوګرانو وویلې چې: مونږ به هیڅکله تاته په هغه شي باندې غوروالی درنه کړو کوم چې مونږ ته (زمونږ رب ﷻ د پلوه) راغلی دی چې د ځرګندو دلایلو (او معجزاتو) څخه عبارت دی، او (همدارنګه به هیڅکله تا) په هغه اقدس ذات باندې (غوره نه کړو) کوم چې مونږ یې د نشت څخه پیدا کړي یاستو. نو (ای فرعونه!) په مونږ باندې هغه حکم وکړه (جاري کړه) د کوم چې ته حکم کوونکی (او جاري کوونکی) یې، یقیناً ته (په مونږ باندې) په دغې نژدې (او حقیر) ژوند کښې حکم کولی شې (او راباندې یې جاري کولی شې او بس).

[۷۳] یقیناً مونږ په خپل رب ﷻ باندې د دې دپاره ایمان راوړی دی چې مونږ ته زمونږ ګناهونه وبښي او هغه شی (راته هم وبښي) په کوم باندې چې تا مونږ مجبور کړي وو چې (هغه) د جادو (د زده کړې) څخه عبارت دی.

او الله ﷻ (د ثواب د حیثه ستا څخه) غوره دی او د (عذاب د حیثه درڅخه) ډېر پایدار دی.

[۷۴] (ای فرعونه!) یقیناً شان دا دی چې هرڅوک چې خپل رب ﷻ ته د مجرمیت (کفر) په حال کښې ورشي (مړ شي) نو یقیناً ده لره (هلته) دوزخ دی چې نه به پکښې مړ کېږي او نه به (پکښې) ژوندي کېږي (مستریح کېږي).

[۷۵] او هرڅوک چې خپل رب ﷻ ته په داسې حال کښې ورشي چې ایماندار وي (او) صالح اعمال یې کړي وي، نو دغه کسان چې دي دوی لره (هلته) لوړې درجې دي.

[۷۶] (چې) د اقامت د جنت (څخه عبارت دی، داسې جنت چې) لاندې ترې (څلور) ویالې بهېږي (او هم به) دوی هلته همېشه وي. او (ای فرعونه!) دغه د هغه چا جزا ده چې (د کفریاتو او شرکیاتو څخه) پاک شوی وي (او زمونږ غوندې په ایمان باندې مشرف شوی وي او بس).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې ساحران (جادوګران) په سجده پرېوتل او په صراحت سره یې د فرعون د ربوبیت څخه انکار وکړ نو نوموړی وډار شو، هسې نه چې ټول لیدونکي او اورېدونکي همغه لاره خپله کړي کومه چې هغوی خپله کړه، نو:

۱ ـ فرعون جادوګران تهدید کړه او نور خلک یې په غوږ باندې ووهل چې:

الف: ای ساحرانو! ایا تاسو زما د اجازې څخه وړاندې په موسی ﷺ باندې ایمان راوړ او په نبوت ورته قائل شوئ؟

ب: ستاسو د دغه بې اجازې کار څخه ښکاریږي چې موسی ﷺ ستاسو مشر دی بلکې ستاسو استاذ دی، چې د همده څخه مو جادو زده کړی دی، نو د کوم مطلب دپاره چې موسی ﷺ راپورته شوی دی عین همغه مطلب تاسو هم راپورته کړي یاست.

لنډه دا چې تاسو په دستوري توګه د نوموړي په مقابل کښې خپل ځانونه ناکام وښودل او د خپل قوي جادو څخه مو کار وانخست ترڅه هغه برلاسی معرفي کړئ.

ج: نو زما دې سوګند وي چې هرومرو او خامخا به زه ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ردو بدل پرې کړم، او هرومرو به مو د خرماګانو په ډډونو باندې راځوړنداو په دار کړم.

د: ای ساحرانو هرومرو او خامخا به تاسو پوه شئ چې په مونږ (موسی او فرعون) کښې کوم یو د عذاب د حیثه کلک او دوامدار دی.

یا په بل عبارت: تاسو به پوه شئ چې زما عذاب کلک او دائمي دی او که د موسی ﷺ د رب ﷻ عذاب ډېر شدید او نه پرې کېدونکی دی، چې تاسو د هغه له ډاره ایمان راوړ.

۲ ـ ساحرانو د فرعون د تهدید آمېزه خبرو په مقابل کښې داسې جواب ورکړ چې:

الف: ای فرعونه! مونږ به هیڅکله ستا په تهدیدونو باندې ونه ډار شو چې په خپله کړنلاره باندې پښېمانه شو، او هیڅکله به ستا لاپو شاپو ته په هغه واضحه دلایلو باندې ترجیح ورنه کړو کوم چې مونږ ته د موسی ﷺ په لاس باندې راغلي او راښودلي شوي دي.

ب: همدارنګه به مونږ هیڅکله تاته په هغه اقدس ذات باندې غوره کول در نه کړو کوم چې مونږ یې د نشت څخه پیدا کړي یاستو او روزمره احتیاجات مو پوره کوي.

ج: نو ای فرعونه! هغه څه په مونږ باندې اجراء کړه د کوم شي چې ته په مونږ باندې اجراء کوونکی یې، او په هر یو عذاب باندې چې زمونږ تعذیبول غواړې د هغه په عملي کولو کښې هیڅ ډیل مه کوه، مونږ نه ستا د تهدیداتو څخه ډارېږو او نه ستا د تعذیبولو څه پروا لرو او دا ځکه چې:

د: ستا هر ډول تعذیب انتهاء لري او فنا کېدونکی دی چې د همدغه حقیر او نژدې ژوند پورې ارتباط نیسي او بس، د مرګ څخه وروسته ستا تعذیب په مونږ باندې هیڅ اثر نه شي پرېښودلی.

ه: ای فرعونه! مونږ په خپل حقیقي رب ﷻ باندې ایمان راوړی دی ترڅو مونږ ته زمونږ ګناهونه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وبښي او د هغه عذاب څخه مو بچ کړي کوم چې دائمي دی او د مرګ څخه وروسته صورت نيسي.

و. همدارنګه همدغه اقدس ذات ته امید لرو چې مونږ ته د هغه شي ګناه هم وبښي په کوم باندې چې تا مونږ مجبور کړي یاستو چې هغه د جادو د زده کړې څخه عبارت دی، چې په زور دې رابانديې زده کړی دی.

ز. ای فرعونه! مونږ ډېر ښه پوهېږو چې ستا په پیروی کښې هیڅ خیر او ګټه نشته او ټولې ښېګڼې زمونږ د رب ﷻ په پیروی کښې پرتې دي.

ح. همدارنګه مونږ پوهېږو چې ستا تعذیب دائمي نه دی بلکې د الله ﷻ تعذیب دائمي دی او د سړی په مرګ باندې انقطاع نه مومي بلکې د مرګ څخه وروسته د ابد الآباد پورې دوام کوي.

لنډه دا چې:

ط. یقینًا هرڅوک چې د مجرمیت په حال کښې مړ شي او خپل رب ﷻ ته ورشي نو د ده دپاره د مرګ څخه وروسته دوزخ ټاکلی شوی دی چې هلته مرګ نشته، او نه هلته داسې ژوند شته چې هوسا او د خوشالۍ ژوند وي، نو په دوزخ کښې به دوزخیان نه مړه کېږي او نه به پکښې ژوند کولی شي او د همېشه دپاره به هلته په همدغه مړژواندي حال باندې پراته وي.

ی. او څوک چې خپل رب ﷻ ته په داسې حال باندې ورشي چې ایمان یې وړباندې راوړی وي. او نېک عملونه یې کړي وي، نو د دغو کسانو دپاره د الله ﷻ په نزد لوړې او اوچتې درجې ټاکلې شوې دي چې دغه درجې د داسې جنت څخه عبارت دی چې د اقامت او دائمي اوسېدانې ځای دی او د ونو لاندې به یې ځلور ویالې روانې وي چې د شاتو، شودو، سوچه اوبو او شرابو بېلې-بېلې ویالې وي.

یا: ای فرعونه! دغه جنت -چې څه حال یې وړاندې بیان شو- د الله ﷻ په نزد د هغه چا دپاره جزا او بدله ده کوم چې خپل ځان په ایمان او صالح عمل باندې تزکیه او پاک کړی وي او د کفریاتو څخه پاک او صاف وي.

نو مونږ د همدغه جنت په تمه په ایمان باندې مشرف شوو او خپله عقیده مو د کفر او شرک څخه صافه او پاکه کړه، نو ستا خوښه په هر ډول تعذیب باندې چې مونږ معذب کوې معذب مو کړه.

## توضیحات

١_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴾ کښې ﴿ أَيُّنَا ﴾ ضمیر د چا څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي ضمیر په مطلب کښې مفسرین کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشل کېږي:

الف: په ذکر شوي ضمیر کښې د فرعون خپل ځان او د موسی علیه السلام رب مطلب وه[1]، یعني ای ساحرانو! تاسو به پوه شئ چې زما عذاب سخت او دائمي دی او که د موسی علیه السلام د رب عذاب ډېر

---

(١) المحرر الوجیز ج١١ ص٨٨

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قوي او مستحکم دی، چې تاسو د هغه له ډاره ایمان راوړ.

البته هغه عذاب چې موسی ﷺ ترې د مقابلې څخه وراندې ساحران ډارولي وه چې: ﴿ وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ﴾ [طه: ٦١] یعنې: ای جادوګرانو! تاسو ته دې افسوس او حسرت وي، په الله ﷻ باندې دروغ مه تړئ چې په عذاب سره به مو بېخ او بنیاد وباسي.

ب: دغه ضمیر فرعون د خپل ځان او د موسی ﷺ د مجموعې څخه عبارت ګڼه[1]، یعنې تاسو به پوه شئ چې زما عذاب ډېر خطرناک دی او که د موسی ﷺ عذاب ډېر خطري دی چې تاسو د هغه له ډاره د هغه په نبوت باندې اعتراف وکړ او د اژدها څخه یې ودار شوئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په کار دي چې په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو کښې لومړنی تفسیر د صحت دپاره متعین شي څکه چې موسی ﷺ خو څه عذاب نه درلود؟ مونږ وایو چې[2]:

الف: څه لرې نه ده چې فرعون به موسی ﷺ هم د تمسخر او ملنډو په توګه د عذاب خاوند ګڼلی وي او جادوګران به یې په غوږ باندې وهلي وي چې تاسو ته په کار وه چې د هغه چا امر او اطاعت مو کړی وی کوم چې د هر ډول عذاب توان لري چې زه یم، نه د هغه چا چې هیڅ شی یې د لاسه پوره نه دي چې موسی ﷺ دی.

ب: دا هم احتمال لري چې فرعون به د موسی ﷺ همسا ته اشاره کړې وي چې تاسو د اژدها څخه وډار شوئ چې د پړو په شان به مو وخوري، څکه مو پرې ایمان راوړ.

## تبصره

۳_ مونږ ته ذکر شوي دواړه تفسیرونه په زړه پوري برېښي او څه منافات هم سره نه لري نو که دواړه د بدلیت په اعتبار سره مراد کړی شي، هیڅ بده نه ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: ساحران خو پخپله د موسی ﷺ مقابلې ته وراندې شوي وه د همدې کبله دوی د فرعون څخه د غلبې په صورت کښې مزدوري او انعامات هم غوښتي وه، الله ﷻ د ساحرانو څخه حکایت کوي چې: ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴾ [الأعراف: ۱۱۳] یعنې ساحرانو فرعون مخاطب کړ چې مونږ ته خو به ضرور څه حق الزحمه وي که چرته همدا مونږ غالب شوو. فرعون ورته وویلې چې: (هو، ولې نه) تاسو به په دغه وخت کښې زما د مقربینو څخه یاست چې بدون د اجازې به راتلای شئ؛ حال دا چې د ﴿ وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ ﴾ د کلماتو څخه

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۶ ص۱۸۹

(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۲۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څرګندېږي چې ساحران د فرعون د پلوه په جادو کولو باندې مجبور کړی شوي وه، نو ایا دا دواړه ایتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې د ذکر شوي سوال د جوابولو دپاره مفسرینو کرامو ډېر جوابونه کړی دي[1] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د فرعون عادت وه چې په خینو خلکو باندې به یې په جبر او اکراه سره د جادو زده کړه کوله[2]، نو په ذکرو شوو کلماتو کښې د جادو تعمیل ته اشاره نه ده چې دوی ورته په خپله خوښه وړاندې شوي وه بلکې د جادو تَعَلُّمْ (زده کړې) ته اشاره ده، یعنې ای فرعونه! مونږ لا د هغې ګناه څخه مغفرت غواړو په کومه باندې چې تا مجبور کړي وو او په زور باندې دې د جادو زده کړې ته اړ ویستلي وو.

ب: په ذکرو شوو کلماتو کښې د جادوګرانو راغونډولو ته اشاره ده[3]، یعنې مونږ لا د هغې ګناه څخه مغفرت غواړو په کومه باندې چې تا مجبور کړو او د یوه حقاني پیغمبر مقابلې ته دې د خپلو کورونو څخه په اکراه (زور) باندې دلته راوستلو، که څه هم مونږ مقابله په خپله خوښه کړې ده خو د مقابلې میدان ته د عسکري قوت په اثر راوستلی شوي یاستو.

خو مونږ ته لومړنی جواب د ایت شریف د کلماتو سره ډېر نژدې او ډېر مناسب برېښي، که څه هم ایت شریف د دوهم جواب تحمل هم کولی شي او څه منافات ورسره نه لري.

## یادونې

۵ـ مونږ د الله په توفیق د [الأعراف:۱۲۶] ایت لاندې دوه موضوعګانې بنې څېړلې دي چې بیا څېړلو ته یې څه اړتیا نه ګورو هیله ده چې هملته ورته مراجعه وکړی شي، هغه دا چې:

الف: امکان لري چې جادوګرانو ته د فرعون د پلوه د ډېرو خبرو کولو فرصت نه وي ورکړی شوی، که نه نو هغوی نوموړي ته نور جوابونه هم ورکولی شوه.

ب: د تهدید څخه وروسته ایا فرعون په جادوګرانو باندې خپل اورولی شوی اخطار عملي کړ او که څنګه؟ ظاهره دا ده چې دوی ټول یې شهیدان کړه، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿ وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى فَٱضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِى ٱلْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخَٰفُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴿٧٧﴾ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾ ﴾

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲۱۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۵۹؛ تفسیر الطبري ج۱۶ ص۱۹۰؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۲۲۵
(۳) اضواء البیان ج۴ ص۵۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۷] او یقیناً مونږ موسی ﷺ ته (د اوږده دعوت څخه وروسته) وحې وکړه چې زما بندګان (بني اسرائیل) د شپې په څه برخه کښې (د مصر څخه وباسه او د سینا ټاپو طرف ته یې) بوځه، نو (هلته د همدوی (د نجات) دپاره (د قلزم) په دریاب کښې وچه لاره ووهه (جوړه کړه).
(مونږ ورته دا هم وویلې چې:) ته به (د دغې لارې په جوړولو سره د فرعوني لښکر) د موندلو (نیولو) څخه نه ډارېږې او (هم په دریاب کښې د غرقېدلو څخه) به نه وېرېږې (د دغو دواړو خطرو څخه به په امن کښې یې).
[۷۸] نو (کله چې دوی په دریابي لاره باندې روان شوه) فرعون یې د خپل لښکر په شمول پیروي وکړه (او دریاب ته ورښکته شو)، نو (بني اسرائیلو نجات ومونده او) فرعونیانو لره د دریاب (قلزم) څخه هاغومره اوبو پټ (غرق) کړ کومو چې پټ (غرق) کړ (چې په اندازه باندې یې یوازې الله ﷻ خبر دی او بس).
[۷۹] او (په دغه ترتیب سره) فرعون (د خپل ځان په ګمراهۍ باندې د پاسه) خپل قوم هم ګمراه کړ او (سمه لاره) یې ورته ونه ښودله (حال دا چې هغوی ته یې د سمې لارې د ښودلو وعده ورکړې وه).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د فرعون دنیاوي انجام ته اشاره شوې ده ترڅو د هر وخت فرعونیان او متکبران ترې عبرت واخلي، نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! کله چې فرعون د مقابلې په میدان کښې ماتې وخوړه او د موسی ﷺ حقانیت ورته ښه پوره په ډاګه په اثبات ورسېد نو د موسی ﷺ په معجزه (د همسا اژدها) باندې یې د جادو نوم وروتاپه او خپل کفر او فرعونیت ته یې ادامه ورکړه، نو:
١_ موسی ﷺ وخت په وخت نورې معجزې هم وروښودلې آن تردې چې د ټولو معجزاتو شمېره نهو ته ورسېده، خو فرعون په خپل فرعونیت باندې کلک ولاړ وه.
٢_ په نتیجه کښې چې کله مونږ د هغه د هلاکت او پوپنا کولو اراده وکړه نو موسی ﷺ ته مو داسې هدایت ورکړ چې:
الف: زما بندګان (بني اسرائیل) د شپې په تیاره کښې د مصر څخه د سینا په لور روان کړه.
ب: کله چې هلته ستاسو مخې ته دریاب حائل واقع کېږي او تاسو نه پرېږدي چې د سینا ټاپو ته ورپوربوځې؛ خو تاته امر کوم چې زما د بندګانو د نجات دپاره په خپله همسا باندې دریاب ووهه او د پورېوتلو لاره پکښې جوړه کړه.
ج: ستا جوړه کړې شوې لاره به داسې لاره وي چې د دریاب په منځکښې به وچه کلکه وي او هیڅ لوندوالي او خټې به نه لري چې ستاسو پښې پکښې ښویه شي.
د: ای موسی! په ډېر اطمنان سره د بني اسرائیلو په شمول په ذکرې شوې لاره باندې تاسو د سینا ټاپو وزمې ځمکې ته ورپوربوځئ؛ چې د شا د پلوه به د فرعونیانو څخه نه ډارېږئ چې لاس نیولي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مو بیرته ستانه کړي، او د مخې د پلوه به درسره دا خطره هم نه وي چې په دریاب کښې به غرق شې.

۳_ نو کله چې موسی ﷺ توصیه شوي هدایت ته عملي صورت ورکړ او د شپې یې بني اسرائیل د سینا طرف ته وخوځول نو:

الف: د فرعون د هلاکت وخت ډېر ورنږدې شو، او له دې کبله چې خپل وژلځای ته ورودانګي په ډېرې جلتۍ سره یې ښه لوی لښکر د خپله ځانه سره واخست او د موسی ﷺ او بني اسرائیلو په تعقیب روان شو.

ب: آن تر دې چې د دریاب په داخل کښې یې هم تعقیب کړه، خو موسی ﷺ او ملګري یې د دریاب څخه په اجتماعي توګه پورېواته، حال دا چې د فرعون لښکر وروستنۍ ډله هم دریاب ته ورننوتله او سرکښان یې لا بل ساحل ته نه وه رسیدلي، نو په دغه وخت کښې الله ﷻ دریاب ته امر وکړ چې خپل جریان پیل کړي او توقف ته خاتمه ورکړي.

ج: نو نتیجه دا شوه چې فرعون او ټول فرعوني لښکر د "الف" څخه تر "ي" پورې په دریاب کښې غرق شو، او د اوبو دومره مقدار پټ کړه چې د الله ﷻ څخه په غیر یې هیڅوک اندازه نه شي درک کولی، چې څومره ملیاردونه ټنونه وزن به یې درلود او څومره زره مترونه به ورباندې اوچتې شوې وې.

۴_ ای پیغمبره! دا وه د هغه فرعون عاقبت کوم چې د الوهیت مدعي وه او ادعاء یې کوله چې خپل قوم یې په سمه لاره باندې سوق کړی دی او همدی یې لوی رب دی.

لنډه دا چې فرعون خپل ځان هم بې لارې کړ او خپل قوم یې هم په دنیا او آخرت کښې د هلاکت کندې ته واچاوه او سمه لاره یې ورته ونه ښودله، که بالفرض نومړي ایمان راوړی وی نو هم به پخپله د نجات خاوند شوی وی او هم به یې خپل قوم ته نجات ورکړی وی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره دی چې دا جمله پرې په یوه مقدره جمله باندې عطفېږي چې مضمون یې دا دی:

د مقابلې په میدان کښې د ناکامۍ څخه وروسته هم فرعون خپلو کفریاتو ته تر ډېرو کلونو پورې ادامه ورکړه، او یقینًا مونږ (د ډېر وخت د تېرېدلو څخه وروسته) موسی ﷺ ته وحي وکړه چې د مصر څخه ووځئ چې د فرعونیانو د هلاکت وخت رانږدې شوی دی.

مونږ څکه ذکر شوی مضمون مقدر وګڼه چې علماوو کرامو لیکلي دي چې د جادوګرانو د ایمان د راوړلو څخه وروسته آن د شلو (۲۰) کالو پورې فرعون په خپل تکبر باندې باقي پاتې وه او موسی ﷺ یې په دعوت باندې مصروف وه[۱]. خو د دغه کافي وخت د درلودلو سره- سره په ایمان مشرف نه شو، او څینو لا آن دېرش (۳۰) کلونه ښودلي دي، والله ﷻ أعلم.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٢_ په ﴿ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى ﴾ کښې د ﴿ أَسْرِ ﴾ کلمه د "إِسْرَاءٌ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د شپې بېولو ته وضعه شوې ده(١)، يعنې مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه چې زما بندګان د شپې د پلوه د مصر څخه وباسه.

شايد چې الله ﷻ به ورته د شپې وخت ځکه خوښ کړی وي ترڅو دوی د لمر خاته تر وخته پورې د قلزم بحيرې ته ورسېږي چرته چې د فرعونيانو غرقېدلو صورت ونيوه.

## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: د مصر څخه د وتلو په وخت کښې خو د بني اسرائيلو تعداد د شپږو لکو او اويا زرو (٦٧٠٠٠٠) تنو په شاوخوا کښې وه(٢)، په دې باندې علاوه هغوی د حکومتي مراقبت لاندې هم واقع وه؛ نو پوښتنه دا ده چې: دغه غټ تعداد خلک څنګه په يوه شپه کښې د کوچ او بار دپاره چمتو شوه او حکومت هم ورباندې اطلاع حاصله نه کړه چې د شپې يې د هغوی د حرکت مخه نيولې وی؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال جواب ته د [يونس: ٩٠] ايت لاندې څه اشاره شوې ده _والحمد لله ﷻ_ خو په دې مقام کښې ورباندې زياتوو چې: د موسی ﷺ سره فرعون د بني اسرائيلو د خوشې کولو وعده کړې وه چې لاړ شئ او د حمل او نقل دپاره تياری ونيسئ، نو په همدې بنياد يې د مراقبت او څارنې لړۍ هم ختمه شوې وه، نو هغوی په ډاډه زړه او په څرګنده توګه د سفر تياری ونيوه او وتوانېده چې شپې د مخې حرکت وکړي او آن د قلزم بحيرې ته ورسېږي.

مګر فرعون د هغوی د حرکت څخه وروسته وعده خلافي وکړه او د خپل لوظ څخه وګرځېده(٣)، او په تعقيب باندې يې پيل وکړ. او دا ځکه چې فرعون ډېر بد عهده او بې لوظه انسان وه، الله ﷻ د فرعونيانو د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ [الأعراف:١٣٤] يعنې کله به چې فرعونيانو ته د معجزې عذاب ورسېد نو دوی به موسی ﷺ مخاطب کړ چې: ای موسی! که زمونږ څخه دغه عذاب لرې کړې نو هرو مرو او ضرور به مونږ په تا باندې ايمان راوړو او هم به درسره بني اسرائيل خوشې کړو چې بېرته شام ته لاړ شي، خو کله به چې الله ﷻ د دوی څخه عذاب لرې کړ نو سمدستي به يې خپلې وعدې ماتې کړې، نه به يې ايمان راوړ او نه به يې اجازه ورکړه چې بني اسرائيل د شام په لور سوق کړي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٤_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَمَا هَدَىٰ ﴾ د جملې مضمون خو په ﴿ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ ﴾ کښې پروت دی نو پوښتنه دا ده چې د ذکر شوې جملې په نزول کښې څه حکمت دی؟

---

(١) مفردات الراغب ص٢٣٧

(٢) روح المعاني ج١٦ ص٢٣٧ .

(٣) المحرر الوجيز ج٧ ص١٤٥؛ تفسير القاسمي ج١١ ص١٨١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ. وایو چې: د نوموړې جملې په نزول کښې ـوالله ﷻ أعلمـ دې ته اشاره ده چې د فرعون هغه دعوه په صراحت سره تردیده شي کومه چې الله ﷻ د هغه د خولې څخه حکایت کړې ده چې: ﴿ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴾ [غافر:۲۹] یعنې فرعون خپل قوم مخاطب کړ چې: زه تاسو ته نه ښایم مګر سمه (روغه) لاره.

## د دې زمانې فرعون

۵ـ په هره زمانه کښې چې فرعون پیدا شي په همغې زمانه کښې ورته الله ﷻ موسی هم پیدا کوي؛ نو لکه چې موسی ﷺ د خپلې زمانې فرعون سرکوب کړ همدارنګه د هرې زمانې فرعون د خپلې زمانې دموسی د لاسه پوپنا کېږي او د هلاکت سره مخامخ کېږي.

د افغانستان د جهاد د شروع په وخت روسي دولت د وخت فرعون وه چې الله ﷻ ورته د افغان مجاهدو څخه موسی جوړ کړ او د روسانو پراخه دولت یې دړې وړې اوتیت پرک کړ.

په دې زمانه کښې ـچې روسي فرعون د منځه تلی دیـ امریکایي فرعون سر راپورته کړی دی او غواړي چې په ټوله دنیا باندې خپل حکومت وکړي او په غیر مستقیمه توګه یې د خپل تسلط لاندې وساتي، د دې فرعون اصلي نوم "کلنټن" دی چې فعلاً اولسمشر دی.

د همدې کبله یې څو ورځې وړاندې(۱) د افغانستان خاوره په خپلو کروز توغندیو باندې وویشتله او سل فیره میزایل یې ورباندې د درياب د منځه وورول، د دې کار وجه دا وه چې د دې زمانې موسی "اسامه بن لادن" ـوفقه اللهـ فعلاً په افغانستان کښې اوسېږي. خو د الله ﷻ فضل وه چندان تلفات یې ونه لرل اوځینو توغندیو لا بالکل انفلاق هم نه وه کړی. همدارنګه د دې زمانې فرعون په عین وخت کښې لس کروز توغندي د سوډان په خاوره باندې هم په دې بهانه وغورزول چې هلته د اسامه بن لادن ـحفظه اللهـ د سلاګانو د جوړولو فابریکه ده، حال دا چې هغه فابریکه چې د وخت فرعون په توغندیو باندې ورانه کړه د دوا جوړولو فابریکه وه.

د الله ﷻ څخه امید کوو چې د دې زمانې فرعون به هم یوه ورځ د همدې زمانې د موسی د لاسه نسکور شي، او د ځمکې مخ به یې د فسادونو څخه خلاص شي، الله ﷻ دې هغه چاته ترقي او موفقیت ورکړي کوم چې د اسلام ترقي غواړي، او الله ﷻ دې هغه څوک نسکور کړي څوک چې د اسلام د ترقی مخنیوی کوي، آمین.

﴿ يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ۝٨٠ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۖ وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ۝٨١ وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا

(۱) ۱۳۷۷/۵/۳۰ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٨٢﴾ وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ
إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ﴿٨٤﴾ قَالَ فَإِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ ﴾

[۸۰] (مونږ د موسی ﷺ په ذریعه وویلې چې:) ای بني اسرائیلو! یقیناً مونږ تاسو ته ستاسو د دښمن څخه نجات درکړ، او ستاسو سره مو (د تورات د درکولو دپاره) د طور د غره ښي طرف وعده کړې، او (هم) مونږ په تاسو باندې مَنّ او سَلوی درنازل کړه.

[۸۱] (او هم مو تاسو ته وویلې چې:) د هغو پاکیزه (او خوندورو شیانو) څخه خورئ کوم چې مونږ تاسو ته روزي کړې دي او سرکشي پکښې مه کوئ (د حد څخه تجاوز مه کوئ)، چې زما غضب به درباندې درخلاص (درنازل) شي، او هرڅوک چې زما غضبورباندې ورنازل شي نو یقیناً هغه (د هلاکت کندې ته) ولوېد.

[۸۲] او یقیناً زه د هغه چا دپاره ډېر بښونکی یم چې (د کفر څخه یې) توبه ویستلې وي او ایمان یې راوړی وي او (هم) نېک عمل یې کړی وي، بیا یې هدایت موندلی وي (ذکرو شوو خاصیتونو ته یې ادامه ورکړې وي).

[۸۳] او (مونږ وویلې چې:) ای موسی! ته د خپل قوم (اویا کسیزې جرګې) څخه څه شي راتوند کړې (چې د هغوی څخه وړاندې د مناجات خای ته راغلې)؟.

[۸۴] موسی ﷺ وویلې چې: هغوی دغه دي راپسې دي (نژدې دي)، او ما تاته توندي وکړه (په توندۍ سره راغلم) ای زما ربه د دې دپاره چې ته (راڅخه لا نور زیات) راضي شې، (نو عتاب راته مه متوجه کوه).

[۸۵] الله ﷻ وویلې چې: نو یقیناً مونږ ستا قوم ستا (د څلوېښت ورځني غیاب) څخه وروسته د امتحان لاندې واقع کړه او (په نتیجه کښې) دوی لره سامري (نامي سړي) بې لارې کړه، (ایا ته مطمئن یې چې ستا اویا کسیزه جرګه به ستا په غیاب کښې ګمراهان جوړ نه شي).

## ارتباط او د خلاصه

د موسی ﷺ دعوتي امت په دوه وو برخو باندې ویشلی شوی وه: یوه برخه یې فرعون او فرعونیان وه چې حالاتو یې په غرقېدلو سره اختتام وموند لکه چې وړاندې تېر شوه، او دوهمه برخه یې بني اسرائیل وه چې په دغو ایتونو کښې یې ځینو حالاتو ته اشاره شوې ده، چې خلاصه یې داسې راځېږي:

مونږ بني اسرائیلو ته د موسی ﷺ په ذریعه وویلې چې:

۱_ ای بني اسرائیلو! مونږ په خپل فضل سره تاسو ته د یوه ډېر قوي دښمن څخه نجات درکړ چې ستاسو د سترګو لاندې مو د قلزم په بحیره کښې غرق کړه.

او په دې باندې علاوه مو تاسو ته زښت ډېر نعمتونه درکړه چې ځیني مثالونه یې دا دي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د فرعون او فرعونیانو د غرق څخه وروسته مو ستاسو سره د طور د غره ښي طرف وعده کړې چې هلته به موسی ﷺ ستاسو د مشرانو سره راشي او د تعمیل دپاره به کتاب ورکړو چې تورات به نومېږي.

ب: او هم مو په تاسو باندې د "سینا" په بیدیا کښې له اسمانه ښه مزه ناک خوراک درنازل کړ چې "مَن" نومېږي.

ج: او هم مو تاسو ته د خوندورو مرغانو غوښې اسانې کړې چې په خپله خوښه ستاسو په وړاندې کښېني او تر هغه نه الوزي ترڅو چې تاسو ترې د خپل ضرورت په اندازه باندې ښکار کړئ، دغو مرغانو ته "سلوی" ویل کېږي.

د: همدارنګه مو تاسو ته د کلکې ډبرې څخه دولس چینې راوخوټولې چې هر قوم د خپلې ټاکلې چینې څخه په بې غمۍ سره اوبه څښې.

ه: بالآخره وریځ مو ستاسو دپاره مسخره کړه چې د ښه ساړه سوري لاندې یې خپل ژوند تېروئ.

۲ـ بیا مو بني اسرائیل مخاطب کړه چې:

الف: ای بني اسرائیلو! د هغو پاکیزه او خوندورو شیانو څخه خورئ او څښئ او استفاده ترې کوئ کوم چې مونږ تاسو ته درپېرزو کړي دي، او طغیان (سرکشي) پکښې مه کوئ چې زما غضب به درباندې درخلاص (درنازل) شي، یا په بل عبارت: زما د نعمتونو څخه استفاده کوئ او درنازل شوی شریعت مې تعمیل کړئ، که نه نو زما د غضب لاندې به واقع شئ او د ناشکرانو په ډله کښې به وشمېرل شئ.

ب: او هرڅوک چې زما د غضب لاندې واقع شي هغه د هلاکت کندې ته لوېږي، که څه هم ستاسو د بني اسرائیلو څخه وي او دښمن یې تازه هلاک شوی وي.

ج: او یقیناً زه د هغه چا دپاره د ګناهونو بښونکی یم کوم چې لاندې صفات ولري:

اول: چې په خپله ګناه باندې نادم او پښېمانه شي او خپل رب ﷻ ته توبه تائب شي.

دوهم: چې د توبې څخه وروسته ایمان راوړي او په آخرت عقیده ولري.

دریم: چې د ایمان سره نېک عمل هم ملګری کړي.

څلورم: لنډه دا چې د جنایت څخه وروسته په شرعي لاره باندې روان شي او خپلو همدغو تللو ته ادامه ورکړي.

نو تاسو ته توصیه کېږي چې تر خپلې وسې د ګناهونو څخه ځانونه وساتئ او چې کله پکښې واقع شوئ نو سمدستي توبه وباسئ او خپل رب ﷻ ته راجع شئ، چې غضب درباندې درنازل نه شي، او دا خیال مه کوئ چې د فرعون د غرقېدلو څخه وروسته به په تاسو باندې د الله ﷻ د غضب د درنازلېدلو خطر د منځه تللی وي.

۳ـ ای پیغمبره! د بني اسرائیلو ثبات او عزم ډېر کمزوری وه او د امتحانونو په مقابل کښې ډېر کاواکه او سست وه. د همدې کبله مونږ د موسی ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. ای موسی! په تا باندې څه باعث وه چې د خپلو ملګرو څخه دې د مناجات مقام ته توندي وکړه او د هغوی څخه وړاندې دي خپل ځان را ورساوه؟ ایا له تا سره دا خطره نه وه چې ستا په غیاب کښې به دغه اویا کسه جرګه بې لارې شي.

ب: موسی ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! زما ملګري دغه دي راپسې دي، لرې نه دي، او ما ځکه ستا مناجات ته توندي وکړه ترڅو ته راڅخه لا زیات راضي شې، نو هیله ده چې ما په دغې توندۍ باندې ملامت نه کړې.

ج: الله ﷻ موسی ﷺ ته ډاډ ورکړ او ورته یې وویلې چې ذکره شوې پوښتنه تاته د عتاب په توګه نه ده متوجه شوې بلکې د دې کبله تاته راجع شوه چې ستا د قوم ثبات او عزم کمزوری دی ستا په غیاب کښې ډېر ژر د سمې لارې څخه اوړي، هسې نه چې ستا په تعجیل سره ستا اویا کسه ملګري هم ګمراهي غوره کړي لکه څنګه چې ستا په غیاب کښې ستا متباقي قوم لاره خطا کړه او خوسکی یې په الوهیت سره ونیوه. یا په بل عبارت: یقینًا ستا متباقي قوم ستا د غیاب څخه وروسته مونږ د سامري په سلسله د امتحان لاندې واقع کړه چې په نتیجه کښې د همده په دسیسه ګمراهان وګرځېده.

## توضیحات

۱ـ د [البقرة:۵۷]ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق د مَن او سَلوی بیان او هم بني اسرائیلو ته د نورو پاکیزه شیانو ور روزي کول او د دوی د ظلمونو شرحه ښه تفصیلواره تېره شوې ده چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

۲ـ په ﴿ فَقَدْ هَوَىٰ ﴾ کښې د ﴿ هَوَى ﴾ کلمه د "هَوِیَان" ـلکه "حَیْوَان"ـ څخه اشتقاق شوې ده، چې د لوړې څخه ژورې ته د غورزېدلو معنی ورکوي[1]، یعنې په هرچا باندې چې زما غضب ورښکته شي نو یقینًا هغه د دوزخ ژورې کندې ته وغورزېد او په معنوي هلاکت باندې هلاک شو.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د ﴿ ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ ﴾ په مفهوم کښې خو توبه او ایمان او هم صالح عمل درېواړه شامل دي حال دا چې د "ثُمَّ" د کلمې څخه تغایر څرګندېږي، نو پوښتنه دا ده چې: هغه کوم یو هدایت دی چې د ذکرو شوو درېواړو شیانو څخه مغایر دی؟

مونږ وایو چې: کوم هدایت چې د درېواړو څخه غیر دی هغه استقامت دی، یعنې یقینًا زه د هغه چا دپاره ښښونکی یم کوم چې ذکر شوي درېواړه کارونه وکړي او بیا پرې ثابت قدمه اوسي او پښې یې ښویه نه شي. همدې مضمون ته په لاندې حدیث کښې اشاره شوې ده چې:

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه یوه صحابي ؓ پوښتنه وکړه چې: یا رسول الله! ماته په اسلام کښې داسې یوه جامعه (هر اړخیزه) خبره وکړه چې د هغې د زده کولو څخه وروسته د بل چا پوښتنې

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۳۷۱: مفردات الراغب ص۱۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته ار نه اوخم، نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ»[1] وروايه چې په الله ﷻ باندې مې ايمان راوړی دی، او بيا (په همدې باندې) ثابت (مستقيم) اوسه.

## سامري څوک وه؟

۴_ په ﴿وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ﴾ كښې د "سامري" كلمه ځينو مفسرينو كرامو په ډېرو معناوو باندې تفسيره كړې ده[2] خو مونږ ته هغه معنی بهتره برېښي كومه چې د لغت كتابونو ليكلې ده، هغه دا چې د "سامري" كلمه "سَامِرَة" ته منسوبه ده، چې د يهودانو د قبايلو څخه د يوې خاصې قبيلې نوم دی كومه چې د نورو يهودانو څخه په ځينو ديني شيانو كښې مخالفه ده[3].

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: بني اسرائيلو لره د خوسې په ذريعه يوه داسې سړي ګمراه كړه چې د "سَامِرَة" د قبيلې څخه وه.

﴿ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ
أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى
﴿٨٦﴾ قَالُوا۟ مَآ أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا
فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِىُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ فَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ
وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا
﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى
وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ ﴾

[۸۶] نو موسی ﷺ خپل قوم ته بېرته په داسې حال ورتاو شو چې (هم ورته) په غُصه وه (او هم) غمژن وه، (په همدغه حال كښې يې) وويلې چې: ای زما قومه! ايا ستاسو سره خپل رب ﷻ (د تورات) وعده نه وه كړې ښايسته (نېكه) وعده؟ ايا نو په تاسو باندې (د دغه) عهد (موده) اوږده شوه (چې بالكل مو د ياده ووتله) او يا تاسو (قصداً) غوښتل چې د خپل رب ﷻ د پلوه درباندې غضب دربشكته (خلاص) شي؟ نو تاسو خو زما په وعده باندې هم وفا ونه كړه (چې ستا د بېرته راستنېدلو پورې به مونږ په خپله عقيده باندې كلك ولاړ ياستو).

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۸
(۲) روح المعاني ج۱۶ ص ۲۴۴
(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۷] د خوسکي عبادت کوونکو (په اعتذار کښې) وویلې چې: مونږ ستا د وعدې مخالفت په خپل اختیار (په خپله خوښه) نه دی کړی (ترڅو مونږ د ملامتې لاندې واقع شو) مګر (له دې کبله وربانديې مبتلاء شوو چې) په مونږ باندې (د مصر څخه د راوتلو په وخت) درانه بارونه تحمیل کړی شوه (چې دا درسره انتقال کړئ) چې هغه د (ټول) قوم (بني اسرائیلو) د ښایست (ګاڼو) څخه عبارت دي، نو مونږ (د دغو درونو بارونو څخه خپلې اوږې سپکې کړې او په اجتماعي توګه مو په اور کښې) وغورزولې، همدارنګه سامري هم (پکښې هغه ګاڼې) وغورزولې (کومې چې د هغه په اوږو باندې بار وې).

[۸۸] نو (د دغو ګاڼو په ذوب کېدلو سره ترې) سامري د قوم دپاره مجسم خوسکی راوویست (چې نقش او خیال نه وه، او هم) زرین خوسکي ته (د غوا په شان) رمباړه وه.

نو دوی (سامري او د ده پیروانو) وویلې چې: دغه (زرین خوسکی) ستاسو معبود دی او د موسی ﷺ معبود (هم) دې خو هغه هېر کړی دی (او د مناجات دپاره یې د طُور غره ته تللی دی).

[۸۹] (دغه اعتذار یې مقبول نه وه ځکه چې) ایا نو دوی نه کتل چې زرین خوسکی (خو) دوی ته نه خبره ورتاوولی شي (چې سوال جواب ورسره وکړي) او نه ورته (د عدم عبادت په صورت کښې) د ضرر رسولو توان لري او نه (ورته د عبادت په صورت کښې) د ګټې (نفعې) رسولو (توان او وسه لري).

[۹۰] (په دې باندې علاوه) دوی ته خو وړاندې هارون ﷺ وویلې چې: ای زما قومه! یقیناً تاسو په زرین خوسکي سره په فتنه (او امتحان) کښې واچولی شوئ، او بې شکه ستاسو رب ﷻ ډېر مهربان دی نو زما پیروي وکړئ او زما امر ومنئ (توبه تائب شئ).

[۹۱] دوی (ورته) وویلې چې: مونږ به (د زرین خوسکي) په عبادت باندې همېشه کلک ولاړ یاستو ترڅو چې مونږ ته موسی ﷺ بېرته راوګرځي (راستون شي).

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې موسی ﷺ د الله ﷻ مناجات انجام کړه او تورات یې ترلاسه کړ او هم بېرته خپل قوم ته د خپلو اویا نفرو ملګرو سره ستون شو، حال دا چې د خوسکي په عبادت باندې ورته ډېرې غُصې نیولی وه او هم په دغه کار باندې ډېر غمژن وه، نو د هغوی سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

۱ _ هغوی یې مخاطب کړه چې: ای زما قومه څرنګه چې تاسو زما په غیاب کښې خوسکي په الوهیت سره نیولی دی نو تاسو ماته د لاندې پوښتنو جواب راکړئ:

الف: ایا تاسو ته خپل رب ﷻ ډېره ښایسته وعده نه وه درکړې چې اسماني کتاب به درکړي او ستاسو د دنیا او آخرت چارې به سمبال کړي؟

ب: نو ایا په تاسو باندې د ذکر شوي کتاب د راوړلو وعده اوږده شوه چې بالکل مو هېره کړه؟ ایا په څلوېښتو ورځو کښې څوک دغسې عظیم الشانه وعده هېروي؟

ج: او یا تاسو د خوسي عبادت ته په قصدي توګه اقدام کړی دی ترڅو په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه غضب درنازل شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په دې باندې علاوه، ايا تاسو هغه وعده هم د پېښو لاندې کړه کومه چې تاسو زما سره کړې وه چې ستا د ښېرته راستنېدلو پورې به مونږ په خپله توحيدي عقيدې باندې کلک ولاړ ياستو؟ اى زما قومه! دغسې کار خو ستاسو سره هيڅ مناسب نه وه چې نه مو د خپل رب ﷻ د ښايسته وعدې مراعات وکړ او نه مو زما د وعدې حفاظت او څارنه وکړه.

## د موسى ﷺ د قوم جواب:

۲_ د ذکرو شوو پوښتنو په جواب کښې موسى ﷺ ته خپل قوم داسې جواب ورکړ چې:

الف: مونږ نه د خپل رب ﷻ د کتاب د راکولو وعده هېره کړې ده او نه مو ستا وعده د پښو لاندې کړې ده، همدارنګه مونږ نه په قصدې توګه د خپل رب ﷻ د غضب د نزول اراده کړې وه او نه راباندې د وعدې موده اوږده شوې وه چې د وعدې د نه پوره کولو ګومان مو په زړه کښې ګرځېدلى وي.

ب: دا کار مونږ په خپل اختيار او په خپله خوښه نه دى کړى بلکې مونږ دغه کار ته سامري تشويق کړي او هڅولي ياستو.

ج: د دې کار ډېره د هغه وخت څخه اېښودلې شوې ده چې کله مونږ د مصر څخه راوتلو همدا ستا د پلوه مکلف وګرځولى شوو چې هرڅوک دې د خپله ځانه سره د خپل کور قيمتي سامان يوسي.

د: نو ستاسو په هدايت مونږ خپلې ګاڼې او زيورات را انتقال کړه چې ډېر يې سترې کړي وو او په حمل او نقل باندې يې ډېر ستومانه شوي وو، نو هغه مو ټول په اور کښې وغورزول او خپلې اوږې مو ترې سپکې کړې.

ه: همدارنګه سامري هم خپل تحميل شوي زيورات پکښې وغورزول او د هغو زيوراتو سره يې يوځاى کړه کوم چې مونږ غورزولي وه، نو کله چې د زيوراتو ټوله مجموعه ذوب (ويلي) شوه نو خوسکى يې راته ترې جوړ کړ چې دا ستاسو معبود دى.

و: اى موسى! نو د ذکر شوي بد کار په کولو باندې مونږ مه ملامته کوه او زمونږ اعتذار ومنه، که بالفرض نوموړي سامري زمونږ بې لارې کولو ته دسيسه نه وى جوړه کړې نو مونږ به نه وى ګمراه شوي، په دغه کار کښې فقط سامرى ملامته دى چې مونږ ته يې دام کېښود او پکښې ويې نښلولو؛ مونږ خو نوي او تازه د فرعونيانو (بوت پرستانو) څخه نجات موندلى وه او ايمان مو په زړونو کښې پوره ځاى نه وه نيولى (زمونږ ايمان ډېر کاواکه وه).

## نامقبول اعتذار:

۳_ اى پيغمبره! د خوسکي پرستانو اعتذار د قبول قابليت نه درلود او دا ځکه چې:

الف: نوموړي سامري خو هغوى لره د ګاڼو او زيواراتو په ذوب کولو سره د دوى د سترګو لاندې د خوسکي مجسمه جوړه کړه چې د غوا غوندې رمباړه يې وهله.

ب: ايا دوى نه پوهېده چې دغه مجسمه خو د سامري صنعت دى؟ لږ وخت وړاندې يې هيڅ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موجودیت نه درلود، د دې مجسمې د عبادت څخه خو پخپله د سامري عبادت بهتر دی چې د همدې مجسمې جوړوونکی دی.

ج: ذکر شوې مجسمې خو د صنعت په زور محض يوه رمباړه کوله، نه يې چاته هدایت کولی شو او نه لاربښودانه.

د: د هغوی بالکل غیر مقبوله او د هر حیثه مردوده خبره لا دا وه چې ټولو په يوه خوله نارې کړې چې همدغه خوسکی ستاسو لا څه چې د موسی ﷺ معبود هم دی، خو ده هېر کړی دی او د مناجات دپاره يې د طُور غره ته سفر کړی دی، موسی ﷺ ته په کار وه چې همدلته نژدې يې د خپل معبود سره مناجات کړي وی.

هـ: په دې باندې علاوه، ايا نو هغوی نه پوهېده چې د خوسکي مجسمه خو ورته د خبرې جواب نه شي ورکولی او نه ورته ویلی شي چې دا مو ښه وکړه او يا مو بد وکړه، دا خبره مو منم او يا دا مو نه منم. دغه مجسمه خو د عدم عبادت په صورت کښې هغوی ته ضرر نه شي رسولی چې ولې مو زما عبادت ونه کړ، او نه ورته د عبادت په وخت کښې څه ګټه رسولی شي چې آفرین دا مکافات مو درواخلئ چې زما عبادت مو وکړ.

و: هغوی ته خو هارون ﷺ لا په وخت ويلي وه چې: ای خلکو! د خوسکي د عبادت څخه خپل ځانونه وساتئ دا يوه فتنه او يو امتحان دی چې تاسو پکښې واقع شوئ، نو خپلې پښې کلکې کړئ او د سامري په دروغينه وينا باندې مه غولېږئ.

ز: او يقيناً ستاسو رب ﷻ ډېر مهربان دی نو زما پيروي وکړئ او د خوسکي د عبادت څخه توبه تائب شئ، چې توبه مو قبوله کړي او د تېرې شوې ګناه څخه درتېر شي.

ح: زما اطاعت وکړئ او زما حکم ته غاړې کېږدئ چې په دنيا او آخرت کښې د سعادت خاوندان شئ.

ط: بالآخره د عدم قبول د ذکرو شوو وجوهو سره-سره د خوسکي عبادت کوونکو هارون ﷺ ته په صراحت سره جواب ورکړه چې: مونږ به هيڅکله د نوموړي زرين خوسکي د عبادت څخه لاس وانخلو او ترهغه پورې به ورباندې کلک ولاړ اوسو ترڅو چې مونږ ته موسی ﷺ د طُور د دورې څخه بېرته راستون شي او مونږ ترې په همدې باره کښې هدايت واخلو چې: ايا زمونږ دغه کار رښتيانی باطل کار دی او که څنګه؟

## توضيحات

۱_ د [الأعراف: ۱۵۰] ایت لاندې د الله ﷻ په توفيق په ﴿ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا ﴾ کښې د "غَضْبَان" او هم د "أَسِف" دواړو کلمو معناوې شرحه شوي دي چې د "غُصناک او غمژن" معناوې ورکوي. بيا شرحه کولو ته يې اړتيا نه ګورو.

۲_ په ﴿ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ ﴾ کښې د "يَعِدْ" کلمه د هغه وعد څخه اشتقاقه شوې ده کومه چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د پلوه بني اسرائیلو ته ورکړه شوې وه چې تورات به درکړم.

او په ﴿ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴾ کښې هغې وعدې ته اشاره ده کومه چې د هغوی څخه موسی ﷺ اخستې ده چې زما په خط السیر به کلک ودرېږئ او زما د خلیفه (هارون ﷺ) اطاعت به کوئ.

## ملک څه معنی؟

۳ـ په ﴿ مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا ﴾ کښې د "مَلْك" کلمه په دې مقام کښې مفسرینو کرامو[۱] په اختیار او طاقت سره تفسیره کړې ده، یعنې مونږ ستا د وعدې مخالفت په خپل اختیار او طاقت سره نه دی کړی بلکې مونږ دغه کار ته مجبور کړی شوي یاستو او د اضطرار په حال کښې مو ورته اقدام کړی دی، چې سامري راباندې زور اچولی وه.

## د أوزار معنی

۴ـ په ﴿ وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾ کښې د "أوزار" کلمه د "وِزْرٌ" ـ لکه "عِلْمٌ" ـ جمعه ده چې د درونـد پېټي (بار) معنی ورکوي، او د کنایې په توګه په ګناه کښې هم استعمالېږي[۲]، اکثرو مفسرینو کرامو[۳] همدغه ایت شریف په دوهمه معنی باندې حمل کړی دی، او د ﴿ ٱلْقَوْمِ ﴾ څخه يې فرعونیان (قبطیان) مراد کړي دي چې مضمون يې په لاندې ټکو کښې خلاصه کېږي.

الف: کله چې بني اسرائیلو د مصر څخه د وتلو تصمیم ونیوه، نو موسی ﷺ هغوی ته هدایت وکړ چې هرڅوک دې د خپلو ګاونډیانو (قبطیانو) څخه ګاڼې راواخلي چې مونږ پکښې د واده یا د اختر خوشالي تېره کړو نو په تاسو باندې به خپلې ګاڼې بېرته وسپارو. همدې خبرې ته په ﴿ حُمِّلْنَا ﴾ کښې اشاره شوې ده چې د موسی ﷺ د پلوهورباندې د ګاڼو را اخستل تحمیل شوی وه.

ب: بیا چې کله فرعونیان په دریاب کښې غرق شوه نو ذکرې شوې ګاڼې د بني اسرائیلو په لاس کښې پاتې شوې (البته څومره چې چا اخستې وې).

ج: نو کله چې موسی ﷺ د طُور غره ته د مناجات دپاره لاړ او هلته د دېرشو شپو په عوض څلوېښت شپې تال شو نو سامري بني اسرائیلو ته ووېلې چې:

دغه ګاڼې خو د فرعونیانو (قبطیانو) دي چې زمونږ سره د غنیمت په توګه پاتې شوې دي حال دا چې غنیمت مونږ ته جواز نه لري، د همدغې ګناه اثرات دي چې موسی ﷺ په خپل ټاکلي معیاد (دېرش شپې) راستون نه شو، نو بهتره دا ده چې مونږ ټول ذکرې شوې غنیمتي ګاڼې راغونډې کړو او اور ورباندې بل کړو چې وسوزي، لکه چې د مقبول غنیمت همدغه (سوزول) غته نښه ده.

د: بني اسرائیلو د سامري خبره ومنله او په نتیجه کښې هغه کیفیت پېښ شو کوم ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۶۲، تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۲۳۴

(۲) مفردات الراغب ص۵۵۸

(۳) البحر المحیط ج۷ ص۳۶۹؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۲۲۸؛ روح المعاني ج۱۶ ص۲۴۶؛ تفسیر الطبري ج۱۶ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "أَوْزَار" کلمه په حقیقي معنی سره ده

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق دوه دري ورځې پلټنه وکړه ترڅو په یقین سره معلومه کړو چې د زرین خوسکي خام مواد (ګاڼې) اصلاً د فرعونیانو (قبطیانو) څخه سوالي اخستلی شوي وي او په پلمې سره د مصر څخه د سینا بیدیا ته انتقالې شوي وي، او که دا خپله د بني اسرائیلو پورې مربوطې وي؟ په پلټنه کښې زمونږ سترګې د نبي کریم ﷺ په کوم حدیث کښې باندې ونه لګېدلې، که زمونږ د نظر لاندې په همدې موضوع کښې کوم حدیث واقع شوی وی نو په سر او سترګو به مو قبول کړي وی او خپل نظر به مو د پښو لاندې کړی وی خو دغسې ونه شوه.

مونږ ته داسې برېښي چې اکثرو مفسرینو کرامو به ذکر شوی تفصیل په لاشعوري توګه د اسرائیلیاتو څخه نقل کړی وي، حتی چې په دوی کښې خو ځینو لا په صراحت سره د بني اسرائیلو په کتاب باندې حواله هم ورکړې ده[1].

نو د همدې کبله مونږ وایو چې: په ﴿ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾ کښې د "أَوْزَار" کلمه په خپله اصلي (حقیقي) معنی سره ده چې د پېټهو او بارونو معنی ده، او په ﴿ مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾ کښې د "قَوْم" کلمه د بني اسرائیلو څخه عبارت ده، چې په ځینو عقلي او نقلي دلایلو سره همدغه مضمون د سړي په ذهن کښې کېني. دلایل دا دي:

الف: د هجرت په وخت کښې به د موسی ؑ او قومي مشرانو د پلوه بني اسرائیلو ته ویلی شوي وي چې هرڅوک دې په خپل کور کښې قیمتي سامان د خپله ځانه سره واخلي، او پوره واضحه ده چې ګاڼې د قیمتي سامانو څخه دي.

یا په بل عبارت: د بني اسرائیلو هجرت زمونږ (افغانانو) هجرت ته ورته وه چې هر افغان به د خپلې وسې په اندازه خپل قیمتي سامان د ځانه سره واخست او نور تول سامان آلات یې روسیانو او کمونستانو ته پاتې شوه.

ب: دا خبره عقل نه شي منلی چې بني اسرائیلو ته دې فرعونیانو دومره ډېرې ګاڼې ورکړې وي ـ که څه هم د سوال په توګه وي ـ چې د یوه خوسکي د وزن سره برابرې وي، حال دا چې هغوی خو د دوی په زامنو باندې د ذبحه کولو صرفه نه کوله، ایا یو دښمن په بل دښمن باندې دومره لوی اعتماد کوي؟ که بالفرض مونږ د هجرت په وخت کښې د افغاني کمونستانو څخه د یوه ډېر لږ شي استعاره کړې وی نو ایا هغوی به راکړی وی؟.

ج: د ذکرو شوو ګاڼو (د خوسکي د خامو موادو) نسبت الله ﷻ په صراحت سره بني اسرائیلو ته کړې دي چې: ﴿ وَٱتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَىٰ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ ﴾ [الأعراف: ۱۴۸] یعنې بني اسرائیلو د موسی ؑ د تللو څخه وروسته د خپلو ګاڼو څخه مجسم خوسکی جوړ کړ چې د غوا غوندې رمباړه یې درلوده.

---

(۱) التحریر و التنویر للشیخ عبد الطاهر بن عاشور ج۹ ص۹۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څوک په ﴿ حُلِيِّهِمْ ﴾ کلمه کښې مجازي نسبت اراده کړي (چې د ګاڼو ذو اليدي د دوی په لاس وه) نو دغه اراده به بې ضرورته وي او چندان مناسب کار به نه وي.

د: په لړ وړاندېنيو ايتونو کښې د "قَوْم" کلمه د بني اسرائيلو په قوم باندې تفسيره شوې ده چې:

اول: په ﴿ عَن قَوْمِكَ يَـٰمُوسَىٰ ﴾ [طه:۸۳] کښې د "قَوْم" کلمه د هغو اويا نفرو بني اسرائيلو څخه عبارت ده کوم چې د موسی ﷺ سره د طور غره ته تللي وه چې تورات راوړي.

دوهم: په ﴿ قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ ﴾ [طه:۸۵] کښې د "قَوْم" کلمه د هغو بني اسرائيلو په معنی ده کوم چې د هارون ﷺ د خلافت لاندې د سينا په بيديا کښې د تورات راوړلو ته منتظر وه او په نتيجه کښې د خوسکي په عبادت باندې مبتلا شوه.

دريم: همدارنګه په ﴿ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَـٰنَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَـٰقَوْمِ ﴾ [طه:۸۶] کښې د "قَوْم، قَوْم" دواړه کلمې هم د عمومي بني اسرائيلو څخه عبارت دي.

نو په کار ده چې: ﴿ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾ کښې هم د "قَوْم" کلمه د همدوی (بني اسرائيلو) معنی ورکړي، نو د دوی د جواب حاصل به داسې راوخېژي چې:

ای موسی! مونږ ستاسو د پلوه د مصر څخه د حرکت په وخت کښې مکلف کړی شوو او تاسو راباندې تحميل کړه چې قيمتي سامان (ګاڼې) د ځانه سره واخلو، مونږ دا کار وکړ چې دلته (د سينا په بيديا کښې) راباندې درندې شوې او لوی پېټی ترې راته جوړ شو، نو مونږ د ټول قوم ګاڼې يوه ځای ته راغونډې کړې او د هر چا د ګاڼو د وزن اندازه مو وټاکله او بيا مو ورباندې اور بل کړ ترڅو ذوب (ويلي) شي او يوه ټوټه يا دوه ټوټې ترې جوړې کړو چې حفظ يې راته اسان شي او د ټولو خلکو اوږې ترې سپکې شي[1]، اما زمونږ د دغه کار څخه سامري معکوسه نتيجه اوچته کړه او مونږ ته يې ترې خوسکی جوړ کړ چې دا ستاسو معبود دی، لنډه دا چې د خوسکي په عبادت کښې مونږ ملامت نه ياستو بلکې سامری ملامته او ګرم دی.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: که بالفرض په ﴿ مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ ﴾ کښې د "قَوْم" د کلمې څخه بني اسرائيل مطلب وي نو "مِنْ زِيْنَتِنَا" کلمات به نازل شوي وی، يعنې په مونږ باندې خپلې ګاڼې درندې شوې؛ ايا بني اسرائيلو د خپلو ځانونو څخه په "قَوْم" باندې تعبير وکړ؟

مونږ وايو چې: څرنګه چې ګاڼې د ټول قوم پورې مربوطې وې او موسی ﷺ يوازې د خوسکي عبادت کوونکي د استنطاق لاندې نيولي وه، نو که بالفرض "مِنْ زِيْنَتِنَا" نازل شوی وی نو معنی به يې دا ورکړې وی چې ګاڼې يوازې همدوی پورې مربوطې وې او د ټولو قوم پورې يې تعلق نه درلود. حال دا چې واقعيت داسې نه وه بلکې د ټولو برخې پکښې شاملې وې.

---

(۱) التحرير والتنوير ج۱۶ ص۲۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه متوسطه لاره

٧_ علماوو كرامو په دې خبره كښې چې د خوسكي خام مواد (ګاڼې) د فرعونيانو ملكيت وې او كه د بني اسرائيلو په ملكيت پورې يې ارتباط درلود؟ يوه متوسطه لاره غوره كړې ده هغه دا چې: ګاڼې اصلاً د فرعونيانو او قبطيانو ملكيت وې، خو كله چې د قلزم درياب د الله ﷻ په اراده د فرعون كالبوت په وچه باندې وغورزاوه نو ښې پرېمانه ګاڼې يې هم ورسره راوغورزولې چې د فرعون او د ده د ملګرو سره غرقې شوې وې[1] او د بني اسرائيلو لاس ته ورغلې. يا په بل عبارت: ذكرې شوې ګاڼې د اصل په اعتبار سره د فرعونيانو ملكيت وې خو په انتهاء كښې د بني اسرائيلو ملكيت وګرځېدې.

نو په ﴿مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ﴾ كښې د ﴿ٱلْقَوْمِ﴾ څخه فرعونيان (قبطيان) مطلب دي او د ګاڼو اصل ته كتلى شوي دي، او د [الأعراف:١٤٨] ايت كښې يې انتهاء په نظر كښې نيولې شوې ده او بني اسرائيلو ته يې اضافت شوى دى.

مګر مونږ ته دغه متوسطه لاره هم چندان په زړه پورې نه برېښي چې په ماثور قول باندې اتكاء نه لري، نو ځكه په خپل نظر باندې كلك ياستو چې ذكرې شوې ګاڼې د بني اسرائيلو اصلي ملكيت وې، والله ﷻ أعلم.

## غير مقبول اعتذار

٨_ څرنګه چې د زرين خوسكي د عبادت كوونكو اعتذار معقول او قناعت ښوونكى نه وه نو ځكه نه د موسى ؏ د پلوه مقبول وګرځېد او نه د الله ﷻ په دربار كښې قبول شو، نو د همدې كبله الله ﷻ دوى ته د توبې طريقه وښودله چې تاسو خپل خانونه ووژنئ، چې پوره بيان يې د [البقرة:٥٣] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ.

﴿قَالَ يَـٰهَـٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾﴾

[٩٢] موسى ؏ وويلې چې: اى هارونه! ته څه شي منعه كړې (په تاباندې څه باعث وه) چې كله تا بني اسرائيل (په خپلو سترګو باندې) وليده چې ګمراه شوه.

[٩٣] چې تا زما (د ټګلارې) پيروي ونه كړه، ايا نو تا زما د امر (ارشاد) څخه عصيان (نافرماني) كړې ده؟

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٢٢٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۴] هارون ﷺ وويلې چې: اې زما د مور زويه! زما ږيره او زما (د) سر (ويښتان) مه نيسه (ځکه چې) يقيناً زه ډارېدم (که ډېر زيات شدت وکړم) نو ته به راته ووايې چې: (ايا) تا د بني اسرائيلو ترمنځ جدايي واقع کړه (او په جنګ دې سره واچول)، او (دا به هم راته ووايې چې) تا زما خبرې ته انتظار ونه کړ (زما د راستنېدلو پورې دې ورته صبر ونه کړ).

## د مطلب خلاصه

يعنې کله چې موسى ﷺ د خوسکي پرستانو غير مقبول او غير معقول اعتذار واورېدل نو د هغوی څخه يې د استنطاق مخ خپل ورور (هارون ﷺ) ته وروااړاوه، او په داسې حال کښې يې د استنطاق لاندې ونيوه چې په يوه لاس باندې يې د ږيرې څخه نيولې وه او بل لاس يې ورته د سر په ويښتانو کښې بند کړی وه چې:

١_ اې هارونه! ته څه شي منعه کړې چې د دغو خلکو سره دې زما په تګلارې باندې تلل کړي وی او په کلکه باندې دې د دوی مخه نيولې وی؟ ايا دوی ستا د سترګو لاندې ګمراهان شوه او حقه لاره يې پرېښودله؟ ايا تا زما پيروي ونه کړه؟ ايا نو خلافت داسې وي؟ ايا تا زما د امر څخه عصيان کړی دی چې دا خلک ګمراهان شوه؟

که بالفرض زه ستا په ځېر خليفه پاتې شوی وی او يا دلته حاضر وی نو ما به په سوک څپېړې نه بلکې د وسلې په زور د دوی مخه نيولې وی او د خوسکي عبادت ته به مې نه وی پرېښې.

٢_ هارون ﷺ خپل اعتذار په لاندې ټکو کښې وړاندې کړ چې:

الف: اې زما د مور زويه! په ما باندې لږ څه زړه سوی وکړه او خبرې ته مې غوږ ونيسه.

ب: ږيره او سر مې پرېږده او دښمنان راباندې مه خوشاله وه چې دوه ورونه سره په جنګ دي.

ج: ما ستا په دعوتي خلافت کښې سستي نه ده کړې او په ډېر جديت سره مې دوی د شرکي عقيدې څخه منعه کړي دي چې زما اطاعت وکړئ، زه د موسى ﷺ خلفيه يم، او د خپل رب ﷻ دپاره توبه وباسئ چې د لوی غضبه بچ شئ.

د: مګر دوی په قطعي ډول باندې جواب راکړ چې مونږ ستا اطاعت نه کوو او د سامري اطاعت کوو، ما د دوی په دعوت کښې دومره کلکوالی وکړ چې زه يې په مرګ باندې تهديد کړم او نږدې وه چې ما ووژني، اړ په قوم کښې د قتل قتول يوه لويه فتنه جوړه شي.

ه: دا کار به هم ما کړی وی خو د دې خبرې څخه ډارېدلم چې همدا ته به په دغسې کار باندې ماته د ملامته ګوته ونيسې چې: اې هارونه! تا ولې بني اسرائيل په جنګ واچول او د دوی ترمنځ دې د اختلاف اور ته لمن ووهله، تا خو به ماته انتظار کړی وی، چې ما په خبرو باندې اصلاح کړې وی او منځنی اختلاف يې دومره موج ته نه وی رسېدلی.

## توضيحات

١_ که څوک وايي چې: په ﴿ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا ۝ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ﴾ کښې د ﴿ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ﴾

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمه د ﴿ مَا مَنَعَكَ ﴾ دپاره دوهم مفعول واقع شوې ده نو په کار دي چې معنی یې داسې راوخېژي چې: ای هارونه! کله چې تا بني اسرائیل ولیده چې لاره یې خطا کړه نو ته زما د عدم اتباع څه شي منعه کړې؟ ته ولې زما په اتباع (پیروی) باندې کلک شوې او عدم اتباع دې د پښو لاندې کړه؟؛ حال دا چې دغه خو مقلوبه او غیر مطلوبه معنی ده؟

مونږ وایو چې: همدغه سوال ته ورته یو سوال د ﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾ [الأعراف:۱۲] ایت لاندې په دوه وو جوابونو سره جواب شوی دی چې په دې مقام کښې دواړه د تطبیق وړ دي:

یو دا چې د "لا" توری زائد دی[۱]، یعني ای هارونه! کله چې تا بني اسرائیل ولیده چې د زرین خوسکي په سبب بې لارې شوه نو ته څه شي منعه کړې چې زما اتباع (پیروي) دې کړې وی؟، بل دا چې ﴿ مَا مَنَعَكَ ﴾ د "مَا حَمَلَكَ" معنی ورکوي[۲] یعنې په ذکر شوي صورت کښې په تاباندې څه شی باعث شو او څه وجه وه چې زما اتباع (پیروي) دې ونه کړه؟.

## په دې مقام کښې اتباع څه معنی؟

۲ـ د ﴿ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ﴾ کلمات په اصل کښې "أَنْ لا تَتَّبِعَنِي" وه نو د "ن" توری په "ل" کښې ادغام شو او وروستنی توری (ي) د تخفیف دپاره په "أنْ" سره حذف شو نو هغه کلمات ترې جوړ شوه کوم چې په ایت شریف کښې قرائت کوو.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه هغه اتباع مفسرینو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسیره کړې ده د کومې څخه چې د "لا تَتَّبِعَنِي" کلمه اشتقاقه شوې ده هغه دا چې:

الف: دلته د اتباع معنی دا ده چې ما پسې به د طور غره ته راغلی وی[۳]، یا په بل عبارت: موسی ﷺ خپل ورور (هارون ﷺ) په دې ملامته کړ چې کله بني اسرائیلو خوسکی په الوهیت سره ونیوه نو ته به د دوی څخه سمدستي جدا شوی وی او د طور غره طرف ته به دې د خپلو ملګرو سره زما اتباع او تعقیب کړی وی.

مګر دا معنی مونږ ته په زړه پورې نه برېښي، ځکه چې د ایت شریف متصله ټکره ﴿ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴾ ورسره توافق نه لري چې موسی ﷺ خو ورته په ذکره شوې اتباع باندې امر نه وه کړی.

ب: بهتره دا ده چې دلته د اتباع څخه په عادت او خاصیت کښې اتباع مراده کړی شي، یعنې موسی ﷺ خپل ورور ملامته کړ چې تا ولې زما اتباع او پیروي ونه کړه چې د مفسدانو مخه دې نیولې وی او مرتد کېدلو ته دې نه وی پرېښي لکه چې زما همدا عادت او خاصیت دی.

په همدغه مضمون باندې موسی ﷺ هغه ته د رخصت کېدلو په وخت کښې هم توصیه کړې وه،

---

(۱) اضواء البیان ج۴ ص۵۴۷
(۲) مفردات الراغب ص۴۹۶
(۳) تفسیر الطبري ج۱۶ ص۲۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴾ [الأعراف: ۱۴۲] يعنې موسی ﷺ خپل ورور (هارون ﷺ) ته د روانېدلو په وخت کښې وويلې چې: زما په قوم کښې زما خلافت وکړه او زما په عادتونو ورسره چلېږه چې د دوی ترمنځ د اصلاح هڅې کوه (فساد ته يې مه پرېږده) او پخپله هم د مفسدانو د لارې اتباع (پيروي) مه کوه، بلکې زما د لارې پيروي وکړه.

## ږيره د ټولو پيغمبرانو اتفاقي سنت ده

۳ــ د ږيرې پرېښودل د ټولو پيغمبرانو علیهم السلام اتفاقي سنت دی چې په دوی کښې يو پيغمبر هم ږيرخرېيلی نه دی تېر شوی. مونږ په دې مقام کښې نه غواړو چې د ږيرې پرېښودلو د اثبات دپاره دلايل وړاندې کړو، بلکې مونږ غواړو چې د لاندې دوه وو مطلبونو اثبات څرګند کړو:

الف: ټولو پيغمبرانو علیهم السلام ږيرې درلودې، که بالفرض هارون ﷺ ږيره نه درلودی او يا يې ږيره خرېيلې وی نو موسی ﷺ به ترې نه وی نيولې.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «عَشْرَةٌ مِنَ الْفِطْرَةِ... وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ»[۱]، يعنې لس شيان د ټولو پيغمبرانو اتفاقي دي، ته به وايې چې مونږ په همدې باندې پيدا شوي ياستو، چې د دغو لسو شيانو څخه يو شی د ږيرې پرېښودل دي.

ب: برسېره په احاديثو، د ږيرې پرېښودل په قرآن کريم باندې هم اثباتېږي چې ذکر شوی ايت شريف د دې ايت شريف سره څنګ په څنګ کېښودل شي چې: ﴿ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقۡتَدِهۡ ﴾ [الأنعام: ۹۰] يعنې: نو ای پيغمبره! د تېرو شوو پيغمبرانو په هدايت پسې اقتداء وکړه، او همدارنګه ستا امت دې هم ورپسې اقتداء وکړي، حال دا چې د هغوی د هدايت څخه د ږيرې پرېښودل هم شمېرل کېږي.

## مقبول اعتذار

۴ــ د هارون ﷺ اعتذار د موسی ﷺ په نزد مقبول وګرځېد او سمدستي يې د هغه ږيره او د سر وېښتان پرېښودل او د الله ﷻ په حضور کښې يې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ﴿ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ ﴾ [الأعراف: ۱۵۱] يعنې ای زما ربه! ماته هم مغفرت وکړې او زما ورور ته هم، او مونږ (دواړه) په خپل رحمت کښې داخل کړې.

﴿ قَالَ فَمَا خَطۡبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ۝٩٥ قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي نَفۡسِي ۝٩٦ قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۷۳.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ
إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾ ﴾

[۹۵] موسی علیه السلام وویلې چې: نو ستا څه حال دی؟ ای سامریه! (په څه وجه دې دغه کار ته اقدام وکړ؟).

[۹۶] سامري وویلې چې: زه په هغه شي باندې بینا شوم (پوه شوم) په کوم باندې چې بني اسرائیل نه وه بینا شوي (پرې نه وه پوه شوي)، نو ما یو موټی (خاورې) موټی‌کړې (واخستې البته) د رالېږلي شوي (جبرائیل علیه السلام) د قدم څخه (بلکې د ده د آس د سُوَم څخه)، نو دا (موټی خاورې) مې (په زرین خوسکي یا په ګاڼو باندې) ورواچولې (نو سمدستي هغه ژوندی شو او د غوا غوندې رمباړه یې وکړه) او همدغسې (کار) ماته خپلې نفس (خپل خان) ښایسته کړی وه (زما سره د جواز هیڅ دلیل نشته).

[۹۷] موسی علیه السلام وویلې چې: درومه (له مخې مې چېېږه)، نو یقیناً تاته په (ټول) ژوند کښې (د هر چا سره د نژدېکت په وخت کښې) د دې جملې ویل دي چې (لا مِسَاس) زما او ستا ترمنځ جنس تماس نشته (نه به ته رانژدې کېږې او نه به زه درنژدې کېږم)، او (په دې باندې علاوه ای سامریه!) یقیناً تاته (یوه بله) وعده (هم) شته چې هیڅکله به ترې وروسته نه کړی شي (چې د اخروي عذاب څخه عبارت ده).

او (ای سامریه!) خپل هغه معبود ته دې وګوره د کوم (په عبادت) باندې چې ته کلک ولاړ وې (چې مونږ ورسره څه معامله کوو)، ضرور او هرومرو به ستا معبود (زرین خوسکی په اور باندې وسوزوو (او) بیا به یې ضرور په دریاب کښې (په تېز باد باندې) والوزوو، الوزول.

[۹۸] (ای خلکو!) یقیناً ستاسو معبود هغه الله ﷻ دی چې (حقیقي او واقعي) معبود نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، چې هر شی د علم د حیثه ځایوي (هر شي ته یې په کامله توګه علم رسېدلی دی).

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې موسی علیه السلام د خپل قوم او هم د هارون علیه السلام د استنطاق څخه فارغ شو نو سامری نامی سړی یې د استنطاق لاندې ونیوه او داسې سوال جواب یې ورسره وکړه چې:

۱ـ موسی علیه السلام نوموړي ته وویلې چې: ای سامریه! څه وجه او څه باعث وه چې بني اسرائیلو ته دې لویه فتنه جوړه کړه او ډېر کسان دې پکښې د کفر سره مخامخ کړه؟

۲ـ سامري نامي سړي په لاندې ډول مفصل جواب ورکړ چې:

الف: ای موسی! ما داسې شی ولید او داسې شی مې کشف کړ کوم چې بني اسرائیلو نه وه کشف کړی او نه یې ورباندې علم رسېدلی وه، یا په بل عبارت: ما د جبرائیل علیه السلام اس او هم د اس څه عجیبه کیفیت ولید چې نورو بني اسرائیلو ونه لید. هغه دا چې کله به د نوموړي آس سوم وچې ته ورسېد نو هغه ځای به سمدستي زرغون شو او شنیلی به ترې جوړ شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ما د همدغه عجیبه کیفیت د لیدلو د کبله د نوموړي اس د سوم لاندې شوې یو موټی خاورې را اوچتې کړې او د خپله خانه سره مې وساتلې چې یو وخت به د همدغه یو موټی خاورو څخه هم څه عجیب اثار څرګند شي.

ج: نو کله چې بني اسرائیلو خپلې ګانې ویلې (ذوب) کړې او ما هم ورسره خپل ملکیت ګانې ضمیمه کړې نو د خاورو هغه موټی مې هم پګښې ورواچاوه کوم چې ما د وراندې څخه د خپله خانه سره ساتلې وه او عجیبه اثارو ته یې په تمه وم.

د: لنډه دا چې ما ذکره شوې مجموعه (همدغه ذوب کړی شوې ګانې) د خوسکي په قالب کښې ورواړولې چې زرین خوسکی ترې جوړ شو او د غوایه غوندې رمباړه یې حاضرینو ته ورواوروله.

ه: د همدغې رمباړې په اورېدلو سره په زرین خوسکي باندې بني اسرائیلو د الوهیت نوم کېښود او په معبودیت ورته قائل شوه، او هم ما ورته پرې توصیه وکړه.

دا وه هغه نقشه کومه چې ما د زرین خوسکي د جوړولو دپاره عملي کړه.

و: پاتې شوه دا خبره چې دا کار مې ولې وکړ؟، د دې جواب دا دی چې همدغسې کار ماته خپل نفس او خپلو خواهشاتو ښایسته کړی وه، زما دغه کار کول په هیڅ کوم معقول دلیل او معقوله وجه باندې ولاړ نه دی.

۳ـ نو د سامري د اعتراف څخه وروسته هغه ته موسی ﷺ داسې وویلې چې:

الف: پورته شه! د دې مجلس څخه په داسې حال کښې لاړ شه چې ته به هیڅا سره ناسته ولاړه نه شې کولی او ترڅو پورې چې ته ژوندی یې ته به هر چاته فقط همدا کلمات اوروې چې: (لا مِسَاس) زما سره تماس مه نیسه او ماته مه رانژدې کېږه. یا په بل عبارت: ټوله دنیا به ستا دپاره د مرګ د ورځې پورې بندیخانه وګرځي او ته به پګښې بندي پروت یې.

ب: په دې باندې علاوه ستا دپاره د عذاب یو بل ځای او یو بل وخت هم شته چې ته به یې هیڅکله خطا نه کړی شې چې ترې بچ پاتې شې، چې هغه د قیامت ورځ ده، ته به هلته د اخروي عذاب سره ضرور مخامخ شې.

ج: ای سامریه! کوم زرین معبود چې تا د عبادت دپاره درولی وه او ته یې د خپلو ملګرو په شمول په عبادت باندې کلک ولاړ وې نو د هغه حال به داسې وګرځي چې:

اول: نو هرومرو او ضرور به مونږ نوموړی زرین خوسکی په اور باندې وسوزوو.

دوهم: او بیا به یې هرومرو او ضرور میده میده کړو او په دریاب کښې به یې په باد باندې والوزوو چې تیت پیت او،تالا ترغه شي. نو ته او ستا ملګري به وګورئ چې ذکر شوی معبود به د خپله ځانه هیڅ دفاع ونه کړی شي.

۴ـ بیا نو موسی ﷺ د سامري او سامریانو په شمول ټول بني اسرائیل مخاطب کړه چې: ای خلکو! یقینًا ستاسو حقیقي معبود هغه اقدس ذات الله ﷻ دی چې د ده څخه په غیر په حقه باندې بل معبود نشته مګر همدی ﷻ دی او بس، چې هر شي ته د علم د حیثه رسېدلی دی او د کامل علم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه يې هيڅ شی نه دی وتلی د همدې کبله معبوديت د همده ﷻ سره مناسب دی او همده ﷻ پورې مختص دی او بس.

## توضيحات

١ـ په ﴿ فَمَا خَطْبُكَ ﴾ کښې د "خَطْب" کلمه هغه لوی کار ته ويل کېږي چې ډېرو خبرو او ډېر بحث ته اړتيا لري[١]، يعنې ای سامريه! د دغه لوی عظيم الشان کار وجه څه ده چې د ګانو څخه دې زرين خوسکی جوړ کړ او د الوهيت لقب دې ورکړ؟

## سوالونه

٢ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: يو دا چې کوم سوال چې د موسی ﷺ د پلوه سامري ته راجع کړی شوی وه د هغه د جوابولو دپاره فقط همدغې جملې کفايت کاوه چې: ﴿ وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِي نَفْسِي ﴾ همدغسې کار ماته خپل نفس ښايسته کړی وه؛ نو پوښتنه دا ده چې: سامري په څه منظور د خپل کار ټوله نقشه بيانه کړه؟

ب: بله دا چې سامري د خپل کار نقشه په مجهول ډول باندې وښودله او وضاحت يې ورنه کړ چې:

اول: هغه څه شی وه چې سامري وزباندې پوه شو او د زړه په سترګو باندې يې وليد او نور خلک ورباندې پوه نه شوه، او يا ورته د چا فکر نه شو؟ ﴿ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهِ ﴾.

دوهم: سامري يو موټی خاورې د چا د قدم څخه را اوچتې کړې؟ يا په بل عبارت: د ﴿ الرَّسُولِ ﴾ کلمه د چا څخه عبارت ده؟ ﴿ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ الرَّسُولِ ﴾.

درېم: بيا سامري دا هم واضحه نه کړه چې ذکر شوی يو موټی خاورې يې په څه شي کښې خالي کړې؟ د ګانو په ډېرۍ کښې او که د زرين خوسکي په خوله کښې؟

خو د دې سره-سره چې د سامري د پلوه په ذکرو شوو مجهولو ټکو باندې څه رڼا وانچوله شوه، د موسی ﷺ د پلوه ترې هم وضاحت ونه غوښتلی شو چې تا څه شی وليد، "الرَّسُول" څوک وه او بالآخره تا خپل موټی چرته خالي کړ؟

## جوابونه

د لومړنۍ پوښتنې جواب خو دا دی ـوالله ﷻ أعلمـ چې: سامري غوښتل چې خپل ځان د ملامتۍ څخه په څنګ کړي او ټوله ملامتيا په "الرَّسُول" باندې ورواچوي، چې خوسکی خو د هغه په اثراتو باندې ژوندی شو او رمباړه يې وکړه که نه نو زما په توان کښې نه وه چې زه يې ژوندی کړم او رمباړه ترې وباسم. لنډه دا چې د خوسکي عابدينو په سامري باندې ملامته ورواچوله او سامري وغوښتل چې ټوله ملامته په رسول باندې ورواچوي.

اما د دوهمې پوښتنې جواب دا دی چې:

---

(١) مفردات الراغب ص١٥٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: موسی ﷺ ته د سامري د نقشې مجهول ټکي معلوم وه او څه اړتیا نه وه چې وضاحت یې ترې غوښتی وی، په همدې مطلب باندې په ﴿ ٱلرَّسُولِ ﴾ کښې د "ا، ل" توري دلالت کوي، ته به وایې چې سامري موسی ﷺ مخاطب کړی وي چې ما د هغه رسول د قدم څخه یو موټی خاورې د خپله خانه سره ساتلې وي کوم چې ما او تاته معلوم دی، او ما هغه څه ولیده کوم چې تا هم لیدلي دي.

ب: په دې باندې علاوه که بالفرض موسی ﷺ ته د نقشې مجهول ټکي معلوم نه وه نو وضاحت به یې ترې ځکه نه وي غوښتی چې د ده په نزد یې څه اهمیت نه درلود، د ده په نزد خو فقط همدې اهمیت درلود چې د ذکرې شوې نقشې د تعمیل وجه او سبب معلوم کړي او بس؛ د همدې کبله یې خپلې خبرې د ﴿ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴾ په جمله باندې ختمې کړې، یعنې الله ﷻ ته هر شی ښه څرګند او معلوم دی، ستا د نقشې مجهول ټکي هم ترې پټ نه دي.

## علماء کرام څه وایي؟

٣_ څرنګه چې الله ﷻ د سامري د نقشې مجهول ټکي نه دي واضحه کړي او د نبي کریم ﷺ په احادیثو کښې هم ترې جهالت نه دی پورته شوی نو بهتره دا ده چې په خپل حال باندې پرېښودل شي چې کوم شرعي حکم ورپورې توقف نه لري، خو د دې سره-سره علماوو کرامو (صحابه ﷺ، تابعینو ﷺ) پکښې زښت ډېر معلومات ورکړي دي[١] چې مونږ ترې فقط د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د ﴿ ٱلرَّسُولِ ﴾ څخه جبرائیل ﷺ مراد دی چې سامري په لاندې ځایونو کښې لیدلی وه:

اول: کله چې فرعونیان غرقېدل نو په دغه وخت کښې جبرائیل ﷺ د الله ﷻ د پلوه په اس باندې سور رااستولی شوی وه[٢] چې دوی کوم یو بې غرقه پاتې نه شي او بني اسرائیل ټول نجات مونده کړي.

دوهم: الله ﷻ چې موسی ﷺ د طور غره ته د کتاب د راوړلو دپاره بللی وه نو جبرائیل ﷺ ورته په اس باندې سور رالېږلی شوی وه[٣].

ځینې لا وایي چې سامری د جبرائیل ﷺ په لاس باندې تربیه شوی دی، دا ځکه چې نوموړی په هغه وخت کښې تولد شوی وه کله چې فرعون د بني اسرائیلو نارینه اولادونه ذبحه کول، نو د همدغه ډار د کبله نوموړی خپلې مور په یوه غار کښې پټ کړ او هملته یې پرېښود نو الله ﷻ نوموړي ته جبرائیل ﷺ د تربیه کولو دپاره ور استولی وه[٤]، والله ﷻ أعلم.

ب: کله چې سامري ولیده چې هغه ځمکه سمدستي راشنه کېږي کومه چې د جبرائیل ﷺ د اس د سوم سره تماس مومي نو د همدغې عجیبه صحنې د لیدلو د کبله یې د همغې خاورې څخه یو

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص٢٥٤

(٢) تفسیر القرطبي ج١١ ص٢٣٩

(٣) اضواء البیان ج٤ ص٥٣٩

(٤) تفسیر القرطبي ج١١ ص٢٤٠: تفسیر الخازن ج٣ ص٢١٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موتې خاوره وساتله په کومه باندې چې د نوموړي آس سوم لګېدلی وه[١].

ج: بیا یې همدغه یو موټی خاوره د هغو ګاڼو سره یو ځای کړه د کومو څخه چې د خوسکي مجسمه جوړه شوې وه[٢]، او یا یې په هغه وخت کښې په خوله کښې وراچولې وه کله چې زرینه مجسمه جوړه شوه[٣].

## عجیبه بندیخانه

۴_ کله چې سامري په خپل جنایت باندې اعتراف وکړ نو موسی ﷺ په عجیبه بندیخانه کښې په عمري بند باندې محکوم کړ هغه دا چې: موسی ﷺ نوموړي ته ښېرا وکړه چې الله ﷻ دې تا په داسې مصیبت باندې اخته کړي چې د ﴿ لَا مِسَاسَ ﴾ جمله په دوامداره توګه وایې، یعنې څوک چې تاته درنژدې کېږي نو ته به په چیغه خبر ورکوې چې زما او ستا په منځکښې په هیڅ ډول سره تماس نشته، نه به ته رانژدې کېږي او نه زه درنژدې کېږم.

د ذکرې شوې جملې د ویلو وجه مفسرینو کرامو په لاندې ډولونو سره ښودلې ده:

الف: الله ﷻ د سامري حالت داسې جوړ کړ چې هرڅوک به ورنژدې شو نو سمدستي به دواړه (سامری او نژدې کېدونکی) په ګرمه تبه اخته کېدل، نو د همدې کبله به سامري نارې وهلې چې ماته مه رانژدې کېږه چې په تبه باندې اخته نه شو[۴].

ب: په سامري باندې الله ﷻ د مالخولیا (سَودا) مرض ورنازل کړ چې د خلکو څخه به تېښتېده او د هیچا سره یې ناسته ولاړه نه شوه نیولی[۵].

ج: موسی ﷺ ټول بني اسرائیل مکلف کړه چې د سامري سره به هیڅوک ناسته پاسته او راکړه ورکړه نه کوي، او د خبرو اترو څخه به یې ځان ساتي[۶].

ذکرې شوې درېواړه وجې یو تربله څه منافات نه لري، نو کیدلی شي چې په سامري به الله ﷻ د بل چا د ملاقات په صورت کښې تبه هم نازلوله او په مالخولیا (سودا مرض) باندې به هم اخته وه او بني اسرائیلو ته به ذکره شوې توصیه هم شوې وه.

په هر تقدیر د سامري دپاره ټوله دنیا یوه بندیخانه جوړه شوه، لکه څنګه چې د نبي کریم ﷺ درې صحابه وو کرامو ﷺ ته ټولې دنیا د بندیخانې شکل نیولی وه، البته کله چې دوی درېواړه د تبوک د غزا څخه په قصدي توګه پاتې شوي وه چې پوره قیصه یې د [التوبة:١١٨] لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

اما د سامري بندیخانې او د دوی بندیخانې سره لاندې فرقونه درلوده:

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص١٦٣
(٢) تفسیر الطبري ج١٦ ص٢٠٥
(٣) تفسیر البغوي ج٣ ص٢٢٩
(۴) تفسیر الکشاف ج٣ ص٨٥
(۵) البحر المحیط ج٧ ص٣٧٨
(۶) تفسیر الطبري ج١٦ ص٢٠۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د سامري بنديخانه عمري وه، په اصطلاح حبس دوام وه، او د صحابه کرامو ﷺ بنديخانه تقريبًا د پنځوسو ورځو په تېرېدلو سره ختمه شوه.
دوهم: د دوی توبه الله ﷻ قبوله کړه او د أُخروي عذاب څخه يې نجات وموند، اما سامری د أُخروي عذاب څخه خلاص نه دی او په مخکښې ورته پروت دی.

## موسى ﷺ خپله خبره رښتيا کړه

۵_ موسى ﷺ د زرين خوسکي په هکله سامري ته وويلې چې: ﴿ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴾ يعنې مونږ به ضرور او خامخا ستا خوسکی په اور باندې وسوزوو (او د ايرې توره دېرې به ترې جوړه کړو او) بيا به يې په درياب کښې هرومرو په تېز باد باندې داسې والوزوو چې بالکل يې نوم نښان ورک شي.
موسى ﷺ خپله خبره رښتيا کړه او د زرين خوسکي سره يې ذکر شوی چال چلند وکړ، شايد چې درياب به يې د هغه د شندلو دپاره خکه خوښ کړی وي ترڅو د خوسکي عبادت کوونکي د خپل معبود بځرکي راټول نه کړي او د دوهم خل دپاره ورباندې د إله او معبود نوم کېښېږدي، او هم د خوسکي نښې او اثار د فرعونيانو غوندې په درياب کښې په دائمي توګه محوه او نابود شي.

## خوسکی وسوزېد او ذوب نه شو

۶_ لکه څنګه مونږ د [الأعراف:۱۴۸] ايت لاندې دېته ترجيح ورکړې ده چې د سامري خوسکی خپل حقيقت بدل کړی وه، دلته هم ليکو چې نوموړی خوسکی په خارق العاده توګه وينه او غوښه ګرځېدلی وه چې په اور باندې توره ايره شو او بيا په باد باندې والوزولی شو، که نه نو هغه به ويلې (ذوب) شوی وی خو سوزېدلی به نه وی، او همدارنګه به باد نه وی الوزولی.
خو ځينو علماء کرام[1] تحريق (سوزول) د سوانولو څخه کنايي اخلي او د تنسيف (په باد باندې د الوزولو) څخه په شدت سره شندل مرادوي، نو په دې تقدير به خوسکي خپل اصليت نه وي بدل کړی، خو دغه دواړه معناوې متبادرې نه دي.

﴿ كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكۡرٗا ٩٩ مَّنۡ أَعۡرَضَ
عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ١٠٠ خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ١٠١
يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ١٠٢ يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ
إِلَّا عَشۡرٗا ١٠٣ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ١٠٤ ﴾

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۹] (ای پیغمبره!) دغه رنګه (لکه چې وړاندې تېر شو) مونږ په تاسو باندې د هغه شي د خبرونو څخه کوم چې یقیناً وړاندې تېر شوي دي څېنې (خبرونه) بیانوو (درنازلوو)، او بې شکه مونږ تاته د خپل (فضل) د پلوه قرآن کریم درکړی دی (چې سراسري پند او عبرت دی).

[۱۰۰] هرڅوک چې د قرآن کریم څخه اعراض وکړي (او قبول یې نه کړي) نو یقیناً همدا (کس) به د قیامت په ورځ (د ګناه) پېټی (په خپل ځان باندې) بار کړي.

[۱۰۱] دوی به د همدې پېټي (په عقوبت) کښې همېشه وي، او ذکر شوی بار او پېټی دوی (اعراض کوونکو) ته د بار د حیثه ډېر بد (او ناکاره) دی.

[۱۰۲] او هغه ورځ (یاده کړه) چې په (دوهمه) شپېلۍ کښې پوکې وکړی شي، په دغې ورځ کښې به مونږ مجرمان (کافران) په داسې حال کښې حشر کړو چې سترګې به یې شنې وي (لیدل به نه شي کولی).

[۱۰۳] (په دغې ورځ کښې به) مجرمان په خپل منځکښې پټ-پټ وایي چې تاسو (په دنیا کښې) درنګ نه دی کړی مګر لس ورځې.

[۱۰۴] (ای پیغمبره!) مونږ په هغو خبرو باندې ډېر پوه یاستو کومې چې دوی یې وایي (او په هغې خبرې باندې هم) کله چې د مجرمانو د لارې (هوښیاره) د حیثه بهتر کس ووایي چې تاسو هلته درنګ نه دی کړی مګر یوه ورځ.

## ارتباطونه

د دې سورت د پیل څخه تردې ځایه پورې الله ﷻ په خپل پیغمبر ﷺ باندې د پخوانیو غیبو څخه زښت ډېر معلومات ورنازل کړه چې موسی ﷺ ته په څه ډول سره نبوت ورکړی شو؟ د خپل رب ﷻ سره یې څنګه سوال جواب وکړ؟ فرعون ته یې څنګه دعوت ورکړ؟ د مقابلې په وخت کښې ساحرانو څنګه ایمان راووړ؟ د موسی ﷺ د مناجات قیصه څنګه وه؟ د مناجات څخه د بېرته ستنېدلو په وخت کښې یې د بني اسرائیلو، هارون ﷺ او سامري څخه څنګه استنطاق وکړ؟ او داسې نور.

په دې ایتونو کښې په ذکرو شوو غیبي مضامینو باندې یوه تبصره نازله شوې ده چې څېنې مهم ټکي یې دا دي:

۱ـ که بالفرض نبي کریم ﷺ په خپل نبوت کښې رښتینی نه وی نو د ذکرو شوو غیبي مضامینو څخه به یې هیڅ معلومات نه درلودی.

۲ـ ترڅو نبي کریم ﷺ متسلي شي چې د غیبي مضامینو سلسله لا ختمه نه ده، د قرآني ایتونو په ضمن کښې به نور غیوب هم نازل شي بلکې ټول قرآن کریم د غیبي معلوماتو یوه مجموعه ده.

۳ـ ترڅو د دې زماني فراعنه پوه شي چې د دوی انجام به هم د موسی ﷺ د فرعون څخه څه کم نه وي، چې په دنیا کښې به پوپنا شي او په قیامت کښې به د خطرناک عذاب سره مخامخ شي، نو حاصل یې داسې راځېژي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د وړاندېني بیان غوندې نور بیانات هم مونږ په تا باندې درنازلوو، چې په پخوانیو حالاتو او هم په راتلونکو حالاتو باندې به دې خبر کړو او دا ځکه چې:

۱ـ تاته مونږ د خپله جانبه (بدون ستا د غوښتنې څخه) لوی ذکر درکړی دی چې په غیبې علومو باندې مشتمل دی او د قرآن څخه عبارت دی.

۲ـ په دې قرآن کریم کښې د اعراض کوونکو د قناعت دپاره د هر پاخه دلایل نازل شوي دي او د نازلېدلو سلسله یې لا ختمه نه ده، د همدې کبله:

۳ـ نو هرڅوک چې د دې قرآن کریم څخه اعراض کوي او د منلو څخه یې مخ اړوي هغه به د قیامت په ورځ د ګناهونو دروند پېتی په اوږو اخلي او د همدغه پېټي په سبب به په دوزخ کښې واچولی شي چې هلته به پکښې د همېشه دپاره پروت وي.

۴ـ د دغو اعراض کوونکو دپاره د قیامت په ورځ کفري ګناه ډېره بده ګناه او ډېر بد او ناکاره بار دی چې هیڅکله به یې د اوږو څخه ښکته نه شي او په دائمي توګه به ترې لاندې کړېږي.

۵ـ ای پیغمبره! ته هغه ورځ دریاده کړه چې کله د بیا راژوندي کولو دپاره په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي او کفارو ته د کاملې جزا ورکولو وخت پیل شي.

۶ـ دغه به ډېر هولناک وخت وي چې مجرمان (کفار) به په دغې ورځ کښې په داسې حال د قبرونو څخه د حساب کتاب میدان ته راټول کړی شي چې سترګې به یې له ډېره غمه تکې شنې ګرځېدلې وي چې نُور به پکښې نه وي، او په بدنونو باندې به یې د ذلت نښې د ورایه ځرګندېږي.

۷ـ په دغه وخت کښې به په خپلو منځو کښې پټ‌پټ سره وایي چې تاسو خو په دنیا کښې درنګ نه دی کړی او هلته مېشت نه یاست پاتې شوي مګر فقط لس ورځې؛ دوی به خپل دنیاوي ټول عمر په لسو ورځو باندې ځکه تعبیروي چې هغه به ډېر سخت وخت او ډېره غمژنه ورځ وي.

۸ـ ای پیغمبره! مونږ په هغې خبرې باندې هم لا له اوسه پوهېږو کومه به چې کفار د قیامت په ورځ باندې وکړي، البته کله چې د دوی ښه هوښیار سړی او د دغې ورځې په خطراتو باندې ښه پوه سړی ووایي چې تاسو په دنیا کښې لس ورځې ژوند نه دی تېر کړی بلکې ټول ژوند مو هلته د یوې ورځې څخه اضافه نه وه، افسوس چې خپل دائمي ژوند مو د یوې ورځې په ژوند باندې ضائع کړ.

## توضیحات

۱ـ د قرآن کریم د نومونو څخه یو نوم "ذِکْر" دی چې د نصیحتونو مجموعه ده او د خپل رب ﷻ د ارشاداتو یادونه ده، د همدې کبله مفسرینو کرامو په ﴿ مِن لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴾ کښې د "ذِکْر" کلمه په قرآن کریم سره تفسیره کړې ده[۱]، چې یقیناً تاته مو قرآن کریم درکړی او درنازل کړی دی.

---

(۱) اضواء البیان ج۴ ص۵۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جمل څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ حِمْلاً ﴾ کښې د "حِمْل" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ۱۸۹] ایت لاندې شرحه کړې ده چې دا د هغه بار او پېټي نوم دی کوم چې په سترګو باندې ښکارېږي، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې شرحه وراضافه کوو چې:

الف: په دنيا کښې په ګناه باندې د "وِزر" ـلکه "ثِقل"ـ اطلاق کېږي، لکه چې د همدې سورت د [۸۷] ایت لاندې یې شرحه تېر شوې ده ـوالحمد لله ﷻـ، مګر د "حِمل" اطلاق ورباندې نه کېږي ځکه چې حمل د هغه بار نوم دی کوم چې په سترګو لیده کېږي او په دنیا کښې خو څوک ګناه په سترګو نه شي لیدلی.

ب: اما په آخرت کښې ګناه ته همدغه لقب ورکولی شي چې هلته ګناهونه په سترګو باندې لیدلی کېږي او مجسمې ګرځولی کېږي، لکه چې همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې زما دې سوګند وي چې: «لَا يَنَالُ أَحَدُ مِنْكُمْ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى عُنُقِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ أَوْ بَقَرَةٌ لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةٌ تَيْعِرُ»(۱) یعنې ستاسو څخه یو کس (چې د زکات په راغونډولو باندې ټاکلی شوی وي) د هدایاوو څخه هیڅ شی نه ترلاسه کوي مګر د قیامت په ورځ به په داسې حال کښې راشي چې نوموړی شی به یې په غاړه کښې پروت وي او په څټ باندې به یې بار وي (مثلاً اوښ به وي چې غړغړې به وهي او غوا به وي چې رمباړې به وهي او ګډه به وي چې رېږې به.

## د "زُرْقَةٌ" معنی

۳ـ په ﴿ وَنَحْشُرُ ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴾ کښې د "زُرق" کلمه د "زُرْقَةٌ" ـلکه "كُدْرَةٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده او د "أزرق" ـلکه "أشْرَف"ـ جمعه ده، "زُرْقَةٌ" د هغه رنګ نوم دی کوم چې د سپینوالي او توروالي ترمنځ واقع دی. یا په بل عبارت: "زُرْقَةٌ" هغه شینوالي ته ویل کېږي کوم چې د سترګو په توروالي کښې تحقق ولري(۲). په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د "زُرْقَةٌ" کلمه په ډېرو معناوو باندې تفسیره کړې ده(۳) د مثال په توګه:

الف: د مخ په تورـوالي؛ یعنې کفار بـه د قـیامت پـه ورځ مونږ په داسې حال باندې حشر کړو چې مخونه به یې له ډېره غمه تک تور اوښتي وي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسْوَدَّةٌ ﴾ [الزمر: ۶۰] یعنې د قـیامت پـه ورځ بـه تـه هـغه کسـان وګورې کوم چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې مخونه به یې تک تور وي.

ب: په ډېرې زیاتې تندې سره؛ یعنې دوی به په هغې ورځ د زیاتې تندې په حال کښې حشر کړو،

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۱۲۳
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۱۳۸؛ مفردات الراغب ص۲۱۷
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴾ [مريم:٨٦] يعني: او مونږ به مجرمان (کافران) دوزخ ته په داسې حال سوق کړو چې دوی به ډېر تږي وي او داسې نور.

ج: مګر مونږ ته بهتره او متبادره برېښي چې دلته به د "زُرْقًا" کلمه د شينوالي معنی ورکوي، يعنې په دغې ورځ کښې به د کفارو سترګې تکې شنې وي چې نه به پکښې سپين ښکارېږي او نه تور، او پوره واضحه ده چې دغه حالت نه دی مګر ړندوالی دی.

يا په بل عبارت: د کفارو سترګې به شنې وي خو په هغه شينوالي سره نه چې د سترګو نظر يې په خپل حال باقي وي، لکه چې مونږ افغانان وايو چې په افغانستان باندې يو ځل شين سترګو انګرېزانو حمله وکړه چې زمونږ نيکونو په ګونډو کړه، او بل کرت ورباندې شين سترګو روسانو نظامي تېری وکړ چې مونږ د الله ﷻ په کومک د ماتې سره مخامخ کړه.

بلکې په هغه شينوالي سره به شنې وي د کوم سره چې ړندوالی لازم دی، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کوي چې: ﴿ وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴾ [طه:١٢٤] يعنې هغه څوک چې د قرآن کريم د منلو څخه اعراض کوي مونږ به يې د قيامت په ورځ باندې د قبر څخه ړوند راپورته کړو او د حشر ميدان ته به يې سوق کړو.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَرَءَا ٱلْمُجْرِمُونَ ٱلنَّارَ ﴾ [الكهف:۵۳] او مجرمان به اور (دوزخ) وګوري، او پوره واضحه ده چې ليدل په هغه وخت کښې صورت نيولی شي چې مجرمان (کافران) ليدل وکړی شي، نو ايا دا ايت د هغه ايت سره متناقض نه برېښي؟

مونږ وايو چې: د قيامت ورځ اوږده ورځ ده، په دې ورځ کښې به په کفارو باندې بېلابېل حالات ورشي چې په ځينو کښې به ړانده وي او هيڅ شی به نه شي کتلی او په ځينو نورو کښې به بينا وي او ليدل به کولی شي، همدغه ډول مضمون د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روايت شوی دی[1].

ځينو مفسرينو کرامو[2] ذکر شوی روايت داسې تفسير کړی دی چې حشر په دوه وو ډولونو باندې وېشلی کېږي:

الف: يو هغه حشر دی کوم چې د قبرونو څخه د حساب کتاب ميدان ته صورت نيسي.

ب: بل هغه حشر دی کوم چې د حساب کتاب د ميدان څخه خپل دائمي مستقر (ارامګاه) ته متحقق کېږي چې جنتيان به جنت ته حشر شي او دوزخيان به دوزخ ته ورټول کړی شي.

نو کفار به د قبرونو څخه د پورته کېدلو څخه نيولې آن د حساب کتاب د فيصلې پورې ليدل کولی شي او ړانده به نه وي، اما د فيصلې څخه وروسته به دوزخ ته په داسې حال باندې بوتللی شي چې ړانده او کاڼه به وي او هم به خبرې نه شي کولی او په مخونو باندې به روان وي، العياذ بالله ﷻ.

---

(١) روح المعاني ج١٦ ص٢٦٠، تفسير الطبري ج١٥ ص١٦٧، تفسير ابن كثير ج٣ ص٦٥

(٢) تفسير القاسمي ج١١ ص٢١٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يادونه

۵_ د الله ﷻ په توفيق د [يونس:۴۵] ايت لاندې د لاندې موضوعاتو په هکله څه بحث تېر شوی دی چې:
الف: په څه وجه به د قيامت په ورځ کفارو ته دنياوي ژوند ډېر لنډ ځرګندېږي؟
ب: دا څه وجه ده چې هلته د کفارو د خولو څخه مختلف کلمات راحکايت شوي دي؟ چې کله به د ټول دنياوي عمر څخه په يو سات تعبير وکړي، کله په يوه ورځ او بالآخره کله د ورځې په ځينې برخه باندې او داسې نور.
نو هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي، مونږ ورباندې په دې مقام کښې فقط لاندې معلومات وراضافه کوو چې:
مفسرين کرام په دې کښې اختلاف لري چې کفار به د قيامت په ورځ خپل کوم يوه عمر ته د لږوالي نسبت وکړي، دنياوي عمر ته، يا په قبره کښې برزخي عمر ته او بالآخره يا د برزخ هغه عمر ته کوم چې په دوی باندې د دواړو شپېليو ترمنځ تېرېږي چې څلوېښت کاله دی[1].
په درېواړو اقـوالـو کښې مونږ ته لـومړی قـول بـهتر برېښي، د همدې کبله مو ترجمه او تفسير د همدې قول په مقتضی روان کړي دي، ځکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ ٱلنَّذِيرُ﴾ [فاطر:۳۷] يعنې کفار به په دوزخ کښې چيغې وهي او فرياد به کوي چې: ای زمونږ ربه! مونږ د دې دوزخ څخه وباسه او دنيا ته مو بېرته بوځه ترڅو مونږ د هغه عمل څخه په غير بل (ښه) عمل وکړو کوم چې مونږ کړی دی (ته به وايې چې دوی خپل عمر ته د تفکر دپاره د کافي عمر لقب نه ورکوي). الله ﷻ به جواب ورکړي چې: ايا تاسو ته ما دومره عمر نه وه درکړی چې هغه چا پکښې پند اخستلی شو کوم چې پند يې اخست (ستاسو عمر د تفکر دپاره ښه کافي عمر وه)، او په دې باندې علاوه تاسو ته ډاروونکی (پيغمبر) هم درغلی وه، چې وخت په وخت يې دعوت درکاوه او آخرت يې درپه ياداوه.

﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا
تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِىَ لَا عِوَجَ لَهُۥ ۖ وَخَشَعَتِ
ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ فَلَا تَسْمَعُ إِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ
ٱلرَّحْمَٰنُ وَرَضِىَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا

(١) البحر المحيط ج٧ ص٣٨٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ﴿١١١﴾ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا يَخَافُ ظُلۡمٗا وَلَا هَضۡمٗا ﴿١١٢﴾ ﴾

[١٠٥] او (ای پیغمبره!) ستا څخه خلک د غرونو په هکله پوښتنه کوي (چې د قیامت په ورځ به یې څه حال وي)؟ نو ته (ورته په جواب کښې) ووایه چې زما رب ﷻ به یې (د ګرد غوندي) والوزوي، الوزول.

[١٠٦] نو ځمکه به ترې نرمه (ښویه) هواره پرېږدي (ته به وایې چې ټول اجزاء یې په یوه صف ولاړ دي).

[١٠٧] ته به (ای پیغمبره!) په ځمکه کښې نه پیچومی (کوږوالی) ګورې او نه لوړه ژوره.

[١٠٨] په دغې ورځ کښې به (ټول) خلک (د حشر میدان ته) د بلونکي (په لور) پیروي کوي چې (د خلکو دپلوه به) بلونکي ته هیڅ کوږوالي (او په څنګ کېدل) نه وي (ټول به هلته مستقیماً ورځي)، او ټول اوازونه به (په دغې ورځ کښې) ډېر مهربان الله ﷻ ته (د ده ﷻ له ډاره) ښکته (او چپ) شي، نو ته به (هلته) نه اورې مګر پسپسکی (او یا د پښو ځپاری).

[١٠٩] په دغې ورځ کښې به (هیچاته) شفاعت ګټه نه شي رسولی مګر هغه چاته چې ډېر مهربان الله ﷻ د ده دپاره (چاته) اجازه وکړي او هم الله ﷻ د ده د داسې قول څخه راضي وي چې (په دنیا کښې یې) درلود (چې د کلمې طیبې څخه عبارت دی).

[١١٠] (او دا ځکه چې) ډېر مهربان الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې د خلکو په وړاندې دي او په هغه شي باندې (هم پوهېږي) کوم چې د دوی څخه وروسته دي (نو د شفاعت مستحق ښه پېژني)، او خلک د الله ﷻ (په هیڅ شي) باندې د علم د حیثه احاطه نه شي کولی.

[١١١] او (په دغې ورځ کښې به) ټول مخونه (ټول ذوات) خاص ازلي او ابدي (او په ټولو امورو باندې په علم او قدرت سره) ولاړ الله ﷻ ته اطاعت کوي (او ټول به ورته عاجزي کوي)، او یقیناً (په دغې ورځ کښې) هغه څوک نااُمیده (ناکام) شو کوم چې (په دنیا کښې) د ظلم (کفر) متحمل شوی وي.

[١١٢] او هرڅوک چې د صالحاتو څخه (نېک عملونه) وکړي حال دا چې ایماندار (مؤمن) وي، نو نه به (په دغې ورځ کښې) د ظلم (تیري) څخه وېدار شي او نه (به په خپل استحقاق کښې) د نقصان (واقع کېدلو خوف وکړي).

## ارتباط او شان نزول

١ ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې هغو حالاتو ته اشاره شوې ده کوم چې د دوهمې شپېلۍ څخه وروسته صورت نیسي، په دې ایتونو کښې د لومړنۍ شپېلۍ پورې اړونده ځینو حالاتو ته اشاره کېږي، او د دوهمې شپېلۍ د متباقي حالاتو څخه هم ځینو حالاتو ته دلته اشاره شوې ده.

٢ ـ او د نزول وجه یې دا ده چې د نبي کریم ﷺ څخه ځینو مشرکانو پوښتنه وکړه چې د قیامت په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځ به د غرونو څه حال وي؟ ایا په خپلو خپلو ځایونو باندې به ولاړ پاتې شي او که څنګه؟. امکان لري چې ذکره شوې پوښتنه به یې د ملنډو او مسخرو په توګه کړې وي ځکه چې دوی خو د قیامت په ورځ باندې عقیده نه درلوده؛ بیا نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه[1].

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! ستا څخه ځینې خلک د مسخرو او استهزاء په توګه پوښتنه کوي چې د قیامت په ورځ به د غرونو څه حال وي؟ ایا په خپلو ځایونو به پاتې شي او که څه تغیرات به پکښې واقع شي؟ نو ته ورته په دغو ټکو کښې خپل جواب خلاصه کړه چې:

۱_ د ځمکې د مخ ټول غرونه به یو هم په خپل ځای ولاړ پاتې نه شي بلکې د لاندې کیفیت سره به مخامخ شي:

الف: ټول غرونه به زما رب ﷻ د ګردونو په شکل کښې د ځمکې د مخ څخه والوزوي، ته به وایې چې هر یو غر د ایرو یوه ډیری ده او د تېز باد په چلښت سره د ځمکې د مخ څخه پورته کېږي او تار مار کېږي.

ب: زما رب ﷻ به د ځمکې مخ د غرونو څخه داسې خالي او صاف کړي چې:

اول: ټوله ځمکه به نرمه او ښویه وګرځوي چې نه به یې په مخ باندې ډېره لیده کېږي او نه به پرې کوم بوټي او نبات د چا سترګو ته ورځي.

دوهم: داسې هواره به یې پرېږدي ته به وایې چې اجزاء یې د معمار په رجه او یا په خط کش باندې یو صف جوړ کړی شوي دي.

دریم: ای پیغمبره! که بالفرض همدا ته پخپله په همدغه وخت کښې ځمکې ته وګورې او ډېر دقت هم وکړې نو نه به پکښې کوږوالی او نه به پکښې څه ټیټ او لوړ ځای وګورې، بلکې ټوله ځمکه به د دوک په څوکه هواره کړی شوې وي.

۲_ بیا چې کله دوهمه شپېلۍ پوکوهلی شي او خلک د قبرونوڅخه د محشر میدان ته وبللی شي نو په هغه وخت کښې به لاندې کیفیات صورت ونیسي:

الف: ټول خلک به د قبرونو او ځمکې څخه راپورته شي او بې له درنګه به د بلونکې پرښتې (اسرافیل ؈) په لور حرکت پیل کړي، په دغه وخت کښې به هیڅوک د بلونکې پرښتې بې اطاعتي نه کوي، که څه هم په دنیا کښې یې د بلونکي (پیغمبر) په دعوت او بلنه کښې بې اطاعتي کوله.

ب: ټول خلک به بلونکې پرښتې ته مخامخ او سیده ورځي او په هیڅ ډول کوږوالی به ترې صورت نه نیسي، چې ځمکه به پوره هواره وي نه به پکښې لوړه ژوره وي او نه به پکښې پېچومی او تاوکښ موجودیت لري.

ج: ای پیغمبره! په دغې ګڼې ګوڼې کښې به په هیڅ ډول شور ماشور او په هیڅ ډول اواز تحقق

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۳۱. تفسیر ابي السعود ج۶ ص۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونه نیسي، نو ته به په همدغه ازدحام کښې د پښو د څپاري او کړپ مړپ څخه پرته بل اواز وانه وري، او دا ځکه چې په هر چا باندې به د ډېر مهربان الله ﷻ ډار او هیبت ناست وي او هرڅوک به په همدې چرت کښې واقع وي چې اوس به څه کېږي. او دا ځکه چې:

د: دغه ډېره سخته او خطرناکه ورځ ده، حتی چې په دغې ورځ کښې به بې قید او شرطه شفاعت کول هم صورت نه شي نیولی بلکې لاندې شرطونه به ولري:

اول: هغه څوک به شفاعت کولو ته وړاندې کېدلی شي چې د شفاعت کولو اجازه ورکړی شي.

دوهم: د شفاعت کولو ساحه به هم محدوده وي، که بالفرض د محدودې ساحې څخه په غیر څوک شفاعت وکړي نو هغه به د قبول درجې ته نه رسېږي.

لنډه دا چې شفاعت به ګټه نه شي رسولی مګر هغه چاته د کوم په هکله چې ډېر مهربان الله ﷻ د شفاعت کولو اذن صادر کړی وي چې د ده دپاره دې شفاعت وکړی شي.

دریم: همدارنګه به شفاعت کول هغه چاته ګټه رسولی شي چې ډېر مهربان الله ﷻ د قول د حیثه خوښ کړي وي او ترې راضي وي، یا په بل عبارت: د شفاعت د قبول دپاره دا شرط دی چې شفاعت کړی شوي دې کلمه طیبه په دنیا کښې ویلي وي او په همدغه حال باندې دې وفات شوی وي، نو د کافر او مرتد دپاره شفاعت نشته.

۳ــ ای پیغمبره! یوازې ډېر مهربان الله ﷻ پوهېږي چې څوک د شفاعت د قبول وړ دی او څوک نه دی، څوک په ایمان وفات شوی دی او څوک په کفر باندې مړ شوی دی. ځکه یوازې الله ﷻ د خلکو په هغو حالاتو باندې پوهېږي کوم چې دوی وړاندې تېر کړي دي او کوم یې چې وروسته پرېښې دي، بلکې د دوی په ټولو حالاتو باندې یې د علم او قدرت د حیثه احاطه کړې ده.

اما خلګو بلکې ټولو مخلوقاتو د الله ﷻ د صفاتو څخه په یوه شي باندې هم احاطه نه ده کړې او نه ورباندې پوره علم او پوهه لري.

۴ــ په دغې ورځ کښې به ټول مخونه د هغه ازلي او ابدي او د ټولو امورو په تدبیر باندې د ولاړ الله ﷻ په حضور کښې ذلیله او عاجزې کوونکي وګرځي، هلته به هغه څوک څه مخ او رسوخ ونه لري کوم چې په دنیا کښې د ظلم او کفر متحمل شوی وي، بلکې دغه ډول خلک به هیڅکله مطلب ته ونه رسېږي او همېشه به د ناکامۍ سره مخامخ وي.

۵ــ بالمقابل چا چې په دنیا کښې نېک عملونه کړي وي او د ایمان په حال وفات شوی وي (ایمان یې تېر کړی وي) نو دوی به د هره حیثه کامیاب وي او بریالیتوب به یې په برخه شي.

په دې باندې علاوه دغه ډول خلک به نه د دې څخه ډارېږي چې د استحقاق سره مناسب ځای به ورنه کړی شي او نه به د نقصان څخه ډارېږي چې د استحقاق څخه لږ او کمه جزا به ورا عطاء کړی شي.

## توضیحات

۱ــ په ﴿ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴾ کښې د "نَسْفُ" کلمه چې "يَنسِفُهَا" ترې اشتقاق موندلی دی د یو شي

Scanned by CamScanner

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو

د بېخه ويستلو او د منځه د وړلو دپاره وضعه شوې ده[۱]، يعنې په دغې ورځ كښې به زما رب ﷻ غرونه د بېخه وباسي او د منځه به يې يوسي. پاتې شوه دا خبره چې غرونه به په دغه وخت كښې كوم طرف ته بوتللى شي نو هغه خبره د قرآن كريم په لاندې ايتونو كښې ښه شرحه شوې ده چې:
الف: ﴿ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴾ [القارعة:۵] يعنې په دغې ورځ كښې به غرونه داسې وګرځي لكه رنګينې وړۍ يا مالوچ چې په ډانډس باندې وهلى شوې وي.
ب: ﴿ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ﴾ [الواقعة:۶] يعنې: نو غرونه به محض يوه دوړه او ګرد جوړ شي چې نارومار او شيندلي شوي به وګرځي.

## سوال جواب

۲_ كه څوک وايي چې: په ﴿ فَيَذَرُهَا ﴾ كښې بارز ضمير څه شي ته راجع وي؟
مونږ وايو چې: دغه ضمير (الأرض) ځمكې ته راجع دى، كه څه هم دغه كلمه په صراحت سره ذكره نه ده مګر حكمًا ذكره ده[۲] ځكه چې غرونوورباندې استقرار نيولى دى، نو د ﴿ ٱلْجِبَالِ ﴾ كلمه داسې وګڼله شوه لكه چې "الْجِبَالُ عَلَى الأَرْضِ" نازله شوې وي.

## د ځمكې څلور كيفتونه

۳_ په ﴿ قَاعًا صَفْصَفًا ۝ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴾ كښې الله ﷻ ځمكه په څلورو كيفيتونو باندې مكيفه ښودلې ده چې شرحه يې لاندې لوستلى شئ:
الف: "قَاعٌ" يا "قَاعَةٌ" هغې پستې نرمې او هوارې ځمكې ته ويل كېږي چې نه پكښې ټيټ او جګ وي، نه پكښې شګې اوكانې وي او بالآخره نه پكښې څه شى زرغون وي[۳]. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:
نبي كريم ﷺ فرمايي چې: زه د ابراهيم عليه السلام سره په هغې شپه كښې ملاقي شوم په كومه كښې چې زه معراج ته بيولى شوى وم نو راته وېې ويلې چې: «يَا مُحَمَّدُ! أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ وَأَنَّ غِرَاسَهَا: سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ»[۴]
يعنې: اى محمده په خپل امت باندې دې زما د پلوه سلام ووايه او د سلام څخه وروسته يې خبر كړه چې: يقينًا جنت سپېڅلې خاوره لري او خوږې (خوندورې) اوبه لري، او هم يې خبر كړه چې: د جنت ځمكې قيعاني دي چې بوټي او نبات پكښې نشته، او هم يې خبر كړه چې: د جنت د ځمكو نهال كښنول او كرل دا كلمات دي چې: «سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ».

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۱۲
(۲) تفسير ابن كثير ج۳ ص۱۶۵
(۳) لسان العرب ج۸ ص۳۴
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: "صَفْصَف" د هغې هوارې ځمکې نوم دی کومه چې په دوک یا د معمار په رجه باندې برابره شوې وي[۱] ته به وایې چې ټول اجزاء یې یو صف ودرولی شوي دي.

ج: د "عِوَج" کلمه هغه کوږوالي ته وضعه شوې ده کومه چې په سترګو نه معلومېږي مګر په فکري دقت سره څرګندېږي، یا په بل عبارت: د معنوي شیانو کوږوالی د "عِوَج" _لکه "قِوَدٌ"_ په نامه یادېږي او د محسوساتو په کوږوالي کښې "عَوَج" _لکه "شَرَف"_ استعمالېږي[۲].

د: د "أَمْت" کلمه د ټیټوالي او اوچتوالي دپاره وضعه شوې ده[۳].

د ذکرو شوو څلورو واړو کلماتو حاصل داسې راځېږي چې د غرونو د الوتلو څخه وروسته به ځمکه بې اندازې هواره او نرمه شي، لوړه او ژوره به پکښې د سر په سترګو لا څه چې د زړه په سترګو هم نه لیده کېږي.

## یو مطلب په یاد ولرئ!

۴_ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[۴] د زخو دم تجربه کړې دی، چې هغه زخې ورسره د الله ﷻ په فضل د منځه ځي کومې چې د بنیادم په بدن باندې راپورته کېږي، هغه دا چې:

الف: باید د اوربشو د بوسو څخه هغه درې خلي راواخستل شي په کومو کښې چې بند (غوټه) موجوده وي.

ب: بیا دې هره یوه د بوسو غوټه په زخه باندې ووهله شي او د ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ ﴾ الآیة، دې یو کرت ولوستلی شي.

ج: بیا دې ذکر شوي درې دم شوي خلي په لمده ځمکه کښې دفن کړی شي، نو ترڅو چې خلي ورستېږي زخه به هم ورکه شي، إن شاء الله ﷻ.

## سوال جواب

**۵_ که څوک وایي چې: په ﴿ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِىَ ﴾ کښې د "دَاعِي" (بلونکي) څخه څوک مراد دی؟**

مونږ وایو چې: اکثره علماء کرام وایي چې دلته د "دَاعِي" څخه اسرافیل عليه السلام مراد دی، چې کله دوهم ځل شپېلۍ پوک وهي نو داسې اعلان به وکړي چې: ای ورستو هډوکو او شکېدلو پوستکو او جدا_جدا شوو غوښو! تاسو ټول راپورته شئ او د ډېر مهربان الله ﷻ حضور ته د حساب کتاب دپاره وړاندې شئ[۵].

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۹۰
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۸۸
(۳) لسان العرب ج۲ ص۵
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۲۴۶
(۵) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د خُشوع او همس معناوې

۶_ په ﴿ وَخَشَعَتِ ٱلۡأَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمَٰنِ فَلَا تَسۡمَعُ إِلَّا هَمۡسٗا ﴾ کښې د "خَشَعَتْ" کلمه د "خُشُوع" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تواضع او عاجزۍ معنی ورکوي، خو کله یې چې اوازونو ته نسبت شي لکه چې په همدې مقام کښې یې ورته نسبت شوی دی_ نو د خفا او پټوالي معنی ورکوي[۱].

او د "هَمْس" کلمه نهایت ټیټ اواز او یا د پښو کشاري او ځپ‌ځپ ته وضعه شوې ده.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: په دغې ورځ کښې به ټول اوازونه د ډېر مهربان الله ﷻ له هیبته ټیټ او غلي شي چې هیڅوک به په جهر سره خبره نه شي کولی نو کوم شی چې ته اورې هغه به یا پسپسکی وي او یا به د خلکو د پښو ځپاری وي چې د محشر میدان ته به روان وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ﴾ کښې د "لَهُ" ضمیر چاته راجع دی؟

مونږ وایو چې: ذکر شو ضمیر بالاتفاق په ﴿ مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ کښې د "مَنْ" کلمې ته راجع دی، مګر په دې کښې اختلاف دی چې ذکر شوی "مَنْ" د "شَافِع" څخه عبارت دی او که د "مَشفوع لَهُ" څخه[۲]. لاندې تفصیل ته متوجه شئ:

الف: ځیني علماء کرام وایي چې: ذکره شوې د "مَنْ" کلمه د "مشفُوع لَهُ" څخه عبارت ده، او په ﴿ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ﴾ کښې د "لَـهُ" توری د متعلق په اعتبار سره د ﴿ قَوۡلٗا ﴾ دپاره مقدم صفت دی؛ نوحاصل به یې داسې راوځېږي چې: د قیامت په ورځ هیچا ته شفاعت ګټه نه شي رسولی مګر هغه چاته ګټه رسولی شي چې د ډېر مهربان الله ﷻ د پلوه کوم شفاعت کوونکي ته د نومړي د شفاعت کولو اذن ورکړی شي، او هم ډېر مهربان الله ﷻ د نومړي د داسې قول څخه راضي وي کوم چې هغه په دنیا کښې کړی وي، یا په بل عبارت: چې په دنیا کښې یې طیبه کلمه ویلې وي او په اسلام باندې مړ شوی وي.

نو په دې تقدیر د شفاعت د قبول دپاره دوه شیان شرط وګرځولی شوه چې یو اذن او اجازه ده، او بل د "مشفوع له" ایمان او اسلام دی چې د کافر دپاره شفاعت نشته.

ب: ځیني نور وایي چې: ذکره شوې د "مَنْ" کلمه د "شَافِع" څخه عبارت ده، یعنې په دغې ورځ کښې د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت ګټه نه شي رسولی مګر د هغه شفاعت کوونکي چې ډېر مهربان الله ﷻ ورته د شفاعت کولو اذن ورکړی وي او د همده د عالي شان د کبله د ده د قول څخه راضي وي (چې شفاعت یې د قبول مقام ته رسوي).

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۰۷

(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۲۶۵؛ تفسير الطبري ج۱۶ ص۲۱۵؛ تفسير القرطبي ج۱۱ ص۲۴۷؛ تفسير البغوي ج۳ ص۲۳۲؛ تفسير الخازن ج۴ ص۲۲۰؛ البحر المحيط ج۷ ص۳۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۸_ که څه هم ایت شریف د ذکرو شوو دوارو قولونو تحمل کولی شي، که په بدلیت سره دواړه واخستلی شي هم څه منافات نه لري؛ مگر مونږ ته لومړنی قول د لاندې وجوهو د کبله بهتر برېښي:

الف: په دوهم قول کښې تاکید دی چې چاته الله ﷻ اجازه ورکوي د هغه به شفاعت هم مني، او په لومړني قول کښې تاسیس دی او پوره واضحه ده چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ب: په دوهم قول کښې څه تقدیر ته حاجت شته چې د ﴿ إِلَّا مَنْ أَذِنَ ﴾ سره د "شَفَاعَة" کلمه مقدره وګڼله شي او په "إِلَّا شَفَاعَة مَنْ أَذِنَ" سره ترې تعبیر وکړی شي ترڅو مطلوبه معنی لاس ته راشي، حال دا چې په لومړني قول کښې تقدیر ته څه اړتیا نشته.

## عُنُوٌّ څه معنی؟

۹_ په ﴿ وَعَنَتِ ٱلْوُجُوهُ ﴾ کښې د "عَنَتْ" کلمه د "عُنُوٌّ" _لکه "عُلُوٌّ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د اطاعت او عاجزۍ کولو معنی ورکوي[1]، او د "وُجُوه" د کلمې څخه د کنایې په توګه ذوات مطلب دی نو حاصل یې داسې راځېږي چې د قیامت په ورځ به ټول مخلوقات او د دنیا ټول مخور خلک د ازلي او ابدي الله ﷻ په حضور کښې اطاعت او عاجزي کوونکي وي او هیڅوک به هلته سرکشي ونه شي کړی، بلکې ټول به ایمان راوړي خو هلته د کفارو ایمان د قبول درجې ته نه شي رسېدلی، هغه ایمان مقبول دی چې بالغیب یې صورت نیولی وي، نه بالمشاهده.

## د ظلم او هضم ترمنځ فرق

۱۰_ الله ﷻ د مؤمنانو په هکله د ﴿ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا هَضْمًا ﴾ کلمات نازل کړي دي چې نه به هلته د "ظُلْم" څخه ډارېږي او نه د "هَضْم" څخه، چې دواړه په لاندې ډول فرق درلودلی شي:

د "ظُلْم" کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې یو شی د خپل مناسب ځای څخه په غیر مناسب ځای کښې کېښنودلی شي[2]. اما د "هَضْم" کلمه که څه هم په معده کښې د طعام ښه پوره نرمېدلو ته ویل کېږي، چې په کُلمو کښې څه سختي او بندش نه مونده کوي، مگر د خپل حق څخه د نقصان او کمبود په معنی باندې هم استعمالېږي[3]، چې په دې مقام کښې همدغه معنی په زړه پورې برېښي.

نو د دواړو کلماتو حاصل داسې راځېږي چې: په آخرت کښې به مؤمن سړی نه د دې څخه وډار شي چې حق به پوره ورکړی شي خو د ده سره به پوره مناسب نه وي، او نه به د دې څخه ډارېږي چې څه حق تلفي به یې وشي او خپل پوره حق به ورنه کړی شي، بلکې نوموړی به په عدل او انصاف باندې په بشپړه توګه مطمئن وي او هیڅ تشویش به ورسره نه وي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۱۰۱
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۳۷۳
(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۶۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ ٱلْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا
﴿١١٣﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ
وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

[۱۱۳] او همدارنګه مونږ په تا باندې په داسې حال کښې کتاب نازل کړی دی چې په عربي ژبه باندې لوستلی کېږي او بیا بیا مو پکښې دخپل وعید (ډارولو) څخه (وعیدات) د دې دپاره بیان کړي دي ترڅو دوی (سمدستي) وډار شي (او ایمان راوړي) او یا دوی ته (په زړونو کښې) څه پند (او د حق یادونه) پیدا کړي (چې په راتلونکي کښې په ایمان باندې مشرف شي).

[۱۱۴] نو (د ټولو کفریاتو او شرکیاتو څخه) الله ﷻ لوړ (او اوچت) دی چې په حقه (مطلق) واکدار دی. او (ای پیغمبره!) ته د قرآن کریم (په لوستلو) باندې د دې څخه وړاندې توندي (او تېزي) مه کوه چې تاته یې وحې کول فیصله (انجام) شي، او وایه چې: ای زما ربه! ما د علم د حیثه زیات کړه (نور علم هم راپېرزو کړه).

[۱۱۵] او یقیناً مونږ آدم ﷺ ته لا پخوا کلک حکم ورکړی وه (او توصیه مو ورته کړې وه) خو هغه ﷺ هېره کړه، او مونږ ده لره کلکه اراده مونده نه کړه (کلکه اراده یې نه درلوده، په توصیه کښې کاواکه شو او هېره یې شوه).

## ارتباط اود مطلب خلاصه

د دې سورت د اول سر څخه تردې ځایه پورې ټول بیانات د غیبو د جملې څخه دي چې د واقع په مطابق وربانديې پوهېدل په الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو که بالفرض نبي کریم ﷺ په حقه پیغمبر نه وی نو نه به یې مونږ ته د موسی ﷺ حالات بیان کړي وی او نه به یې د فرعون په حالاتو باندې خبر کړي وی، همدارنګه نه به یې د غرونو په انجام باندې پوه کړي وی او نه به یې راته د حشر د میدان کوائف هو بهو څرګند کړي وی.

په دې ایتونو کښې د نبوت د اثبات څه نورو دلایلو ته اشاره شوې ده چې د قرآن کریم قرآئت پورې مستقیماً ارتباط نیسي نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! لکه چې مونږ په ذکرو شوو ایتونو کښې په تاباندې د دنیاوي او اخروي غیوبو څخه داسې مضامین درنازل کړه چې ستا د نبوت د اثبات دپاره پوره کفایت کوي همدارنګه ستا د حقانیت څه نور دلایل هم درباندې درنازلوو، هغه دا چې:

۱ـ مونږ په تا باندې دا کتاب په عربي ژبه نازل کړی دی حال دا چې په دغې ژبه کښې ډېر نصحاء او بلغاء شته خو دوی ټول د دغه قرآن کریم په مثل یو ایت یا یو سورت هم نه شي جوړولی، که بالفرض تا ټول قرآن کریم د خپله ځانه جوړ کړی وی نو نورو عربانو خو به د یوه ایت یا یوه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سورت د جوړولو توان درلودلی وی. که څه هم د یوه جنس افراد په خپل مابین کښې تفاوت لري مګر په اصطلاح د ځمکې او اسمان په اندازه تفاوت خو نه لري.

۲_ په دې قرآن کریم کښې مونږ د منکرینو د راویښولو دپاره خپل وعیدات بیا-بیا په نوي-نوي طرز باندې بیانوو چې هر یو طرز بیان د بل څخه ممتاز او جدا دی.

که بالفرض دا کتاب حقاني کتاب نه وی نو خپل یو مطلب به یې په دغسې ممتازو او ګنو (خوندورو) طریقو باندې نه وی څرګند کړی، دا ټول د دې دپاره چې:

الف: ترڅو معاندین د الله ﷻ د غضب څخه وډار شي او د شرکیاتو او کفریاتو څخه توبه تائب شي او خپل ځانونه ترې وساتي.

ب: او یا ترڅو چې په زړونو کښې څه ولوله (او سوچ) ور واچوي چې د قرآن کریم په حقانیت کښې فکر وکړي او په نتیجه کښې په فکري توګه د کفریاتو او شرکیاتو څخه اعراض وکړي.

ج: او هم د دې دپاره چې دوی خپل رب ﷻ (لکه څنګه چې مناسب دی) وپېژني هغه دا چې:

اول: د الله ﷻ شان د هغو ټولو شرکیاتو څخه پورته دی د کومو چې مشرکان مرتکب شوي دي.

دوهم: الله ﷻ د مطلق واک او اختیار خاوند دی او ټول مخلوقات د همده ﷻ د ارادې تابع دي.

درېیم: د الله ﷻ هره یوه خبره حقه ده او د واقع سره مطابقه ده، نه یې په واکدارۍ کښې څه شک شبه شته او نه د شرکیاتو څخه په پورتوالي او اوچتوالي کښې.

۳_ ای پیغمبره! ستا د حقانیت بل دلیل دا دی چې زمونږ د پلوه د قرآن کریم ایتونه ستا په زړه کښې په یو ځل دراورولو سره ځای نیسي، که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه وی نو تا به د قرآن کریم ایتونه په یوه کیفیت باندې نه وی قرائت کړي، نن به دې په یوه ډول لوستلی او سبا په بل ډول، د همدې کبله مونږ تاته توصیه کوو چې:

الف: د وحې د انجام څخه وړاندې د قرآن کریم په قرائت باندې عجله (توندي) مه کوه چې درڅخه هېر به شي، یا په بل عبارت: د قرآن کریم د وحې په وخت کښې انتظار کوه چې وحې پای ته ورسېږي او د جبرائیل ؑ د قرائت سره خپل قرائت مه ضمیمه کوه چې وحې کړی شوي ایتونه به درڅخه هېر شي، او دا څکه چې د قرآن کریم نازلول هم ستا د رب ﷻ کار دی او ستا په زړه کښې ساتل یې هم د همده ﷻ کار دی او بس.

ب: ته فقط خپل رب ﷻ ته سوال کوه او وایه چې: ای زما ربه! ماته علم او پوهه نوره هم زیاته کړې او نور ایتونه هم راباندې نازل کړې او په غیبي معلوماتو باندې مې لا زیات پوه کړې. او دا څکه چې: ای پیغمبره! ته خو بل څوک نه یې بلکې د آدم ؑ د اولادې څخه یې، نو لکه څنګه چې آدم ؑ هېرونکی وه همدارنګه د ده اولاده هم هېرونکې ده.

ته نه ګورې چې مونږ یقیناً آدم ؑ ته لا پخوا کلک حکم ورکړی وه چې دغې ونې ته مه ورنږدې کېږه، خو هغه زمونږ کلک عهد او حکم هېر کړ او د ممنوعه ونې څخه یې څه وخواړه، او مونږ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


داسې مونده نه کړ چې خپل عهد وساتي او خپل عزم او ثبات خراب نه کړي.

نو که بالفرض ستا سره د خپل رب ﷻ فضل او لطف ملګری نه وی، د قرآن کریم ایتونه به ستا په زړه کښې هم ځای ونه نیسي او درڅخه به هېر شي. نو خپل رب ﷻ ته دوامداره سوال کوه چې د هېرولو څخه دې بچ وساتي، لکه چې تر اوسه پورې یې ترې بچ ساتلی یې.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمایلي دي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ يُحَرِّكُ بِهِ لِسَانَهُ يُرِيدُ أَنْ يَحْفَظَهُ فَأَنْزَلَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى ﴿لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ﴾»[۱] یعنې نبي کریم ﷺ وه کله به چې وربانديې قرآن کریم نازلېده چې خپله مبارکه ژبه او خپلې مبارکې شونډې به یې وربانديې ښورولې د دې دپاره چې حفظ یې کړي او ترې هېر نه شي، نو الله ﷻ ورته ارشاد نازل کړ چې: ای پیغمبره! د نزول په وخت کښې په قرآن کریم بانديې خپله مبارکه ژبه د دې دپاره مه ښوروه چې په حفظ بانديې یې عجله (تونديې) وکړې ا. په همدغه یو ځل قرائت سره یې په مبارک زړه کښې کېښنوې او حفظ یې کړې. دا کار ځکه مه کوه چې په تابانديې د وحې ثقل نور هم اضافه کېږي او د مشقت سره مخامخ کېږې، مونږ دا التزام کړی دی چې ستا په مبارک زړه کښې به قرآن کریم ته ځای ورکوو او همدا ستا په ژبه به یې په خلکو بانديې هو بهو قرائت کوو، نو هیڅ تشویش مه کوه چې درڅخه به هېر شي.

نو د ذکر شوي ایت شریف د نزول څخه وروسته به د نبي کریم ﷺ عادت دا وه چې «فَكَانَ إِذَا أَتَاهُ جِبْرِيلُ أَطْرَقَ فَإِذَا ذَهَبَ قَرَأَهُ»[۲] کله به ورته جبرائیل علیه السلام راغی او وحې به یې ورته راوړه نو مبارک سر به یې ټیټ ونیوه او چپ به شو، نو کله به چې جبرائیل علیه السلام لاړ او وحې به یې انجام کړه نو نبي کریم ﷺ به په همغه ډول بانديې لوستله لکه څنګه به چې نازله شوې وه.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد ذکر شوی ارشاد (په دغه ایت شریف کښې چې د بحث لاندې دی) د دوهم ځل دپاره نازل شو؟

مونږ وایو چې: دوهم ځل نزول یې له دې کبله صورت نه دی نیولی چې په اول ځل بانديې نبي کریم علیه السلام نه وه عملي کړی نو تکراري نزول ته اړتیا پېښه شوه، بلکې دوهم ځل د دې دپاره نازل شوی دی چې دغه ډول خارق العاده حفظ د نبوت د دلایلو څخه یو بل دلیل دی، چې د بشر د توان څخه وتلی دی.

یا په بل عبارت: پخپله قرآن کریم یوه معجزه او د نبوت نښه ده او د نبي کریم ﷺ په سینه کښې ځای نیول یې بله معجزه او نښه ده، بلکې د نبي کریم ﷺ د امت په سینو کښې د قرآن کریم حفظ او ساتنه هم یو خارق العاده کار دی چې بل کتاب هیڅوک داسې نه شې حفظ کولی لکه څنګه چې

---

[۱] جامع الترمذي ج۲ ص ۱۷۰
[۲] صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قرآن کریم حفظ کولی شي. په همدې ارتباط د [الحجر:۹] ایت لاندې څه تحقیق تېر شوی دی
ـ والحمد لله ﷻ ـ چې یو خل کتل یې بد نه دي.

## د ایت شریف ارشاد

۲ـ په ﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴾ کښې ټول امت ته ارشاد دی چې د علم په زیادت پسې تاند ووهي، څکه چې الله ﷻ خپل پیغمبر ته د بل شي د زیادت په غوښتنه کښې توصیه نه ده کړې بلکې د علم په زیادت کښې یې ورته توصیه کړې ده، سره له دې چې په ټولو بنیادمانو کښې همده ﷺ ته ډېر علم ورکړی شوی وه چې قرآن کریم ورباندې نازل شوی دی.

نبي کریم ﷺ به د ذکر شوي ارشاد تعمیل داسې کاوه چې: «اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي وَزِدْنِي عِلْمًا الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ وَأَعُوذُ بِاللهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ»[1] یعني: ای الله! ماته په هغه علم ګټه ورسوې چې ماته دې راښودلی دی او هم ماته هغه علم رازده کړې کوم چې ماته ګټه رسوي، او ما د علم د حیثه زیات کړې (نور علم هم راکړې)، خاص الله ﷻ ته په هر حال باندې ثناء او صفت دی، او زه د اهل النار د حال څخه په الله ﷻ باندې پنا غواړم.

## آدم ﷺ هېر دله وه

۳ـ د ﴿ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ ﴾ په ارتباط نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَنَسِيَ آدَمُ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ»[2] او آدم ﷺ خپله وعده هېره کړه نو اولاده یې هم هیرول کوي. د دغه اوږد حدیث مضمون مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۱۷۲] ایت لاندې مشرح لیکلی دی نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## عزم څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴾ کښې د "عَزْم" کلمه څو اصلاً دې ته وضعه شوې ده چې څوک په خپل زړه کښې د یو کار کول غوټه کړي او فیصله پرې وکړي[3]، همدغې فیصلې ته تصمیم هم ویل کېږي، ته به وایې چې خپل ځان یې "أصم" کرخولی دی چې په خلاف به یې د هیچا خبره نه اوري[4].

نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راخېژي چې: مونږ آدم ﷺ ته د مخصوصې ونې په ارتباط توصیه وکړه او آدم ﷺ ورته د تعمیل قصد وکړ مګر قصد یې د تصمیم مقام ته ونه رساوه، چې زمونږ توصیه یې هېره کړه او د ابلیس وسوسه یې په یاد پاتې شوه، نو که بالفرض خپل قصد یې د تصمیم مقام ته رسولی وی نو توصیه به یې نه وی هېره شوې.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۸
(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۳۹۹
(۴) مفردات الراغب ص۲۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې موضوع کښې د [الأعراف: ۲۰ـ ۲۲] ایتونو لاندې ښه تحقیق تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ، هیله ده چې محترم لوستونکي هلته یو ځل مراجعه وکړي.

﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ (١١٦) فَقُلۡنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ
هَٰذَا عَدُوّٞ لَّكَ وَلِزَوۡجِكَ فَلَا يُخۡرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلۡجَنَّةِ فَتَشۡقَىٰٓ (١١٧) إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا
وَلَا تَعۡرَىٰ (١١٨) وَأَنَّكَ لَا تَظۡمَؤُاْ فِيهَا وَلَا تَضۡحَىٰ (١١٩) فَوَسۡوَسَ إِلَيۡهِ ٱلشَّيۡطَٰنُ قَالَ
يَٰٓـَٔادَمُ هَلۡ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلۡخُلۡدِ وَمُلۡكٖ لَّا يَبۡلَىٰ (١٢٠) فَأَكَلَا مِنۡهَا فَبَدَتۡ لَهُمَا
سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ (١٢١) ثُمَّ
ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ (١٢٢)﴾

[۱۱۶] او (ای پیغمبره!) هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ پرښتو ته وویلې چې: آدم عليه السلام ته (د تعظیم) سجده وکړئ نو (ټولو ورته) سجده وکړه مګر ابلیس (سجده ونه کړه او) منعه (امتناع) یې (ترې) وکړه.

[۱۱۷] نو مونږ (آدم عليه السلام ته) وویلې چې: ای آدمه! یقینًا دغه (ابلیس) ستا دپاره هم دښمن دی او ستا د ماندینې دپاره هم (او غواړي چې تاسو د جنت څخه وباسي) نو نوموړی دې تاسو دواړه د جنت څخه ونه وباسي، چې ته به (د خپلې مېرمنې او خپل ځان د ضروریاتو په هکله) په مشقت کښې پرېوځې (او د ستومانۍ سره به مخامخ شې).

[۱۱۸] یقینًا تاته په جنت کښې (دا خبره) ده چې نه پکښې وږې کېږې او نه پکښې بربنډ ېږې.

[۱۱۹] او یقینًا (تا ته په جنت کښې دا هم ده چې) نه پکښې تږی کېږې او نه دې (پکښې) ګرمي کېږي.

[۱۲۰] نو آدم عليه السلام ته شیطان وسوسه ورواچوله (او ورته) ویې ویلې چې: ای آدمه! ایا زه تاته د همېشه والي په ونه باندې دلالت وکړم او (هم) داسې پاچاهي (دروښایم) چې نه زړېږي (نه ختمېږي)؟

[۱۲۱] نو (ممنوعه ونه یې ورېه ګوته کړه چې) دواړو (آدم عليه السلام او حواء رضي الله عنها) ترې (څه) وخواړه، نو (سمدستي) دواړو ته خپل عورتونه بربنډ شوه نو دواړو شروع وکړه چې په خپلو ځانونو باندې د جنتي پاڼو څخه څه پاڼې ونښلوي (او عورتونه پرې پټ کړي)، او آدم عليه السلام د خپل رب ﷻ څخه (د خپل شان سره مناسب) عصیان وکړ نو (د خپل ځان سره مناسبه لاره یې) خطاء کړه (او مطلب ته ونه رسېد).

[۱۲۲] بیا (د عصیان څخه وروسته) خپل رب ﷻ غوره وګرځاوه چې په رحمت سره یې پرې رجوع وکړه او لا (د) زیات هدایت (توفیق) یې ورکړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغې قیصې ته څه تفصیل ورکړی شوی دی کومې ته چې د وړاندینیو ایتونو په وروستنۍ ایت کښې اشاره شوې وه چې آدم ﷺ د الله ﷻ تاکیدي حکم هېر کړ، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د دې دپاره چې ستا امت ته ښه پوره واضحه شي (چې د دوی پلار او مور د شیطان د پلوه غولولي شوي وه او بیا توبه تائب شوه) د قیصې لاندې نکات وربه یاد کړه:

۱_ مونږ د ابلیس په شمول پرښتو ته وویلي چې: تاسو ټول آدم ﷺ ته د عبادت نه بلکې د احترام سجدې وکړئ او ټول ورته سلامي شئ؛ نو ټولو پرښتو د فرمان منښه وکړه او آدم ﷺ ته یې د تعظیم سجدې وکړې او په خمکه کښې یې په خلافت سره وپېژاند، مګر یوازې ابلیس د سجدې کولو څخه اباء وکړه او په صراحت سره یې وویلي چې: زه خو د آدم ﷺ څخه بهتر یم، نو هیڅکله به هغه ته په خپل ځان باندې په بهترۍ قائل نه شم چې خپل سر ورته په سجده کېږدم، او په دې باندې علاوه زه به د خپلې وسې پورې د ده اولاده پرېنږدم چې په سمه لاره باندې لاړ شي.

۲_ نو بیا مونږ د ابلیس د خبرو په بنیاد آدم ﷺ مخاطب کړ چې:

الف: ای آدمه! دغه ابلیس دی، ښه ورته وګوره او ښه یې وپېژنه.

ب: دغه ستا هم دښمن دی او ستا د ماندینې (بي بي حواء رضي الله عنها) هم دښمن دی، نو تاسو دواړه یې په دښمنۍ سره ونیسئ؛ او هیڅکله ورباندې د دوست او خیر خواه خیال ونه کړئ.

ج: نومونږ غواړې چې تاسو د جنت څخه په حیلو او دسیسو سره وباسي خو تاسو ورته ډېر متوجه اوسئ چې په دغه مطلب کښې کامیاب نه شي او د جنت څخه مو ونه باسي، که نه نو تاسو به د سختو مشکلاتو سره مخامخ شئ. او دا ځکه چې:

اول: یقیناً تاته په جنت کښې دا نعمت درکړی شوی دی چې نه پکښې وږی کېږې او نه پکښې لوڅېږې، نه د خوراک پیداکولو ته اړ یې او نه د لباس او جامو موندل ستا په اوږو بار دي. که بالفرض ته د جنت څخه وویستلی شوې نو ته به مجبور شې چې خپل ځان او خپلې ماندینې ته په کسب سره هم خوراک مونده کړې او هم د لباس غم وخورې.

دوهم: همدارنګه ته په جنت کښې نه تږی کېږې او نه دې پکښې ګرمي کېږي چې په کسب سره یا د اوبو غم وخورې او یا د سورې بندوبس وکړې، خو د جنت څخه د وتلو سره سم به د دغو دواړو شیانو د موندلو بار ستا په اوږو باندې پرېوځي.

۳_ نو د ذکرو شوو وصایاوو سره شیطان هغه ته وسوسه ورواچوله او مخاطب یې کړ چې:

ای آدمه! ایا زه تاته داسې ونه دروښایم چې د هغې څخه په څه خوراک سره به تاسو دواړه په جنت کښې همېشه یاست او د پرښتو غوندې به پکښې نه په عبادت باندې ستومانه کېږئ او نه به درباندې زوړوالی او بوډاتوب درځي، بلکې همېشه به په ښه قوت سره د خپل رب ﷻ عبادت کوئ.

Scanned by CamScanner

۴_ نو د وخت په تېرېدلو سره آدم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها د خپل رب ﷻ وصايا هېر کړه او د شيطان وسوسه يې هېره نه کړه، بلکې هغې ته يې د عمل جامه ورواغوستله چې:

الف: نو دواړو د تاکلې شوې ونې (بوټي) څخه د دروغينې تمې په بنياد څه وخوړل چې:

ب: سمدستي د دواړو څخه جنتي لباس توی شو او خپل عورتونه ورته لوڅ پوڅ شوه.

ج: او سمدستي دواړو شروع وکړه چې د خپلو خانونو پورې د جنتي ونو پاڼې ونښلوي او خپل عورتونه ورباندې پټ کړي، يا په بل عبارت: دوی ته څرګنده شوه چې د شيطان وعدې ټولې دروغينې وې او د ونې خوراک د خلود سبب نه وه بلکې د خروج سبب وه.

د: لنډه دا چې آدم ﷺ د خپل رب ﷻ د وصاياوو په هکله داسې وګڼل شو لکه عصيان او نافرماني يې چې کړې وي.

ه: نو د خپلو ضرورياتو د پوره کولو اسانه او بې مشقته لاره يې خطا کړه او سختې او با مشقته لارې ته اړ شو چې خپل ضروريات پرې ترلاسه کړي.

۵_ مګر په عين حال کښې آدم ﷺ په خپله خطا باندې پوه شو چې د شيطان د دروغينې خبرې په اساس وغولېد، نو سمدستي خپل رب ﷻ ته راجع او توبه تائب شو، نو خپل رب ﷻ د خطايې څخه ورتېر شو او نور يې هم غوره وګرځاوه (هغه کلمات يې ورزده کړه په کومو باندې چې دوی دواړو د خپل رب ﷻ په وړاندې خپل اعتذار وړاندې کړې) او توبه يې ورقبوله کړه او د لا زياتو نېکيو توفيق او هم استقامت يې وروبښه.

## توضيحات

۱_ د آدم ﷺ او د ابليس د قيصې اړونده بحثونه، سوالونه او جوابونه په [البقرة:۳۴]، [الأعراف:۲۶]، [الحجر:۲۶]، [الإسراء:۶۰] او [الكهف:۵۰] کښې تير شوي دي، والحمد لله ﷻ.

که چاته په دې هکله څه مشکل پېښ شي او څه اشتباه ورته پيدا شي نو ذکرو شوو سورتونو ته دې مراجعه وکړي، الله ﷻ ته اُميد دی چې مشکل به يې حل او اشتباه به يې پورته شي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: ﴿ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴾ څخه څرګندېږي چې آدم ﷺ د خپل رب ﷻ عصيان کړی وه، حال دا چې لږ وړاندې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمًا ﴾ [طه: ۱۱۵] يعنې نو آدم ﷺ زمونږ عهد هېر کړ او مونږ با ثباته مونده نه کړ؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا عصيان او نسيان سره منافات نه لري؟ چې په نسيان باندې خو څوک د ملامتې لاندې نه واقع کېږي او په عصيان سره د ملامتې لاندې واقع کېږي.

مونږ وايو چې: د ځينو علماوو کرامو په نظر په نسيان باندې عدم مواخذه (نه نيونه) د همدې آخر الزمان امت خاصه ده، چې پخواني امتونه په نسيان باندې هم نيول کېدل او د هېرې عمل يې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قصدي ګڼل کېده(١). مګر مونږ ته په جواب کښې بهتره برېښي چې د آدم عليه السلام د عالي شان سره د هېرولو عمل په عصيان سره ځکه تعبير شوی دی چې د ده دپاره خلاف الاولی وه، او د "حَسَنَاتُ الأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ" په بنياد ورباندې د عصيان نوم اېښودلی شوی دی، يعنې د نېکانو ښه کارونه د مقربينو ګناهونه دي.

په ذکر شوي تحليل سره هغه پوښتنه هم جوابېږي کومه چې د ﴿ فَغَوَىٰ ﴾ په ارتباط د سړي ذهن ته ورځي، هغه دا چې د "غَوَى" کلمه خو د "غَيٌّ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د ضلالت او ګمراهۍ معنی ورکوي(٢)، او د يوه پيغمبر د عالي شان سره سمون نه خوري، د جواب حاصل يې دا دی چې: دلته هغه بې لارې کېدل مطلب نه دي چې په عصيان باندې مرتبېږي بلکې هغه مطلب دی چې په خلاف الاولی (نه بهتر) کار په کولو باندې ترتب مومي.

په دې باندې علاوه، د "غَيٌّ" کلمه لکه څنګه چې د ضلالت معنی ورکوي همدارنګه د "خيبة" دپاره هم وضعه شوې ده(٣) چې په پښتو کښې ترې په نا اُميدۍ باندې تعبير کوو، يعنې آدم عليه السلام هغه اُميد ته ونه رسېد د کوم دپاره يې چې د ممنوعه ونې څخه ځکه کړې وه چې په جنت کښې به همېشه يم او د ملکي صفت به خاوند شم.

## پيغمبران د ګناهونو څخه معصومين دي

٣ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:٣٧] ايت لاندې په دې اړوند لږ څه بحث ليکلی دی چې پيغمبران عليهم السلام د ګناهونو څخه په عصمت کښې وه که څه هم د ګناه کولو استعدادونه په پکښې موجود وه، او پرښتې عليهم السلام د دوی په خلاف دي چې بالکل پکښې د ګناه کولو استعداد نشته. نو که څوک په دې موضوع کښې دلته اوږد بحث غواړي ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(٤).

﴿ قَالَ ٱهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًۢا ۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِىٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَـٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنۢ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِۦ ۚ وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٢٧﴾ أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا

---

(١) اضواء البيان ج٤ ص٥٦٦

(٢) مفردات الراغب ص٣٨٠

(٣) لسان العرب ج١٥ ص١٤٠

(٤) تفسير الخازن ج٣ ص٢٢٥؛ اضواء البيان ج٤ ص٥٨٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِى مَسَٰكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾

[١٢٣] الله ﷻ وویلې چې: تاسو (آدم، حواء) ټول (د اولادونو په شمول) د جنت څخه په داسې حال کښې ښکته شئ چې ستاسو ځینې (اولادونه) به د ځینو نورو دښمنان وي، نو که چرته ضرور زمونږ دپلوه تاسو ته هدایت درغی نو هرڅوک چې زما د هدایت پیروي وکړي نو نه به لاره ورکه کړي او نه به د مشقت (سختیو) سره مخامخ شي.

[١٢٤] او هرڅوک چې زما د ذکر (قرآن کریم او نورو کتابونو) څخه اعراض وکړي (قبول یې نه کړي) نو یقینًا ده لره به (په دنیا کښې) تنګ ژوند وي (حرص به ورباندې مسلط وي او قناعت به نه لري)، او مونږ به یې د قیامت په ورځ ړوند حشر کړو.

[١٢٥] نوموړی به ووایي چې: ای زما ربه! زه دې ولې (د څه وجې) ړوند حشر کړم حال دا چې زه (په دنیا کښې) بینا وم (لیدل مې کولی شوه)؟

[١٢٦] الله ﷻ به (ورته) ووایي چې: دغه ډول (ځکه حشر کړی شوې چې) تاته زمونږ ایتونه درغلي وه نو تا هېر کړه (او باور دې ورباندې ونه کړ)، او همدغه ډول نن ورځ ته هم هېر کړی شوې (ړوند حشر کړی شوې).

[١٢٧] او (ای پیغمبره!) مونږ دغه ډول جزا هغه چاته ورکوو چې د حد څخه تجاوز وکړي او د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې ایمان نه راوړي. او هرومرو د آخرت عذاب ډېر سخت دی او ډېر دوامدار دی.

[١٢٨] ایا نو کفارو ته دې خبرې لارښوونه ونه کړه چې مونږ د دوی څخه وړاندې څومره ډېرې پېړۍ هلاکې کړې دي، چې دوی یې په (ورانو ویجاړو) مساکنو کښې په پښو باندې ګرځي راګرځي (باید چې عبرت یې ترې اخستی وی او د لارښوونې استفاده یې ترې کړې وی او دا ځکه چې): یقینًا په دغه (اهلاک) کښې د عقلونو د خاوندانو دپاره ضرور (د قدرت) ډېر دلایل (پراته) دي.

## د مطلب خلاصه

یعني د هغه څخه وروسته چې الله ﷻ د آدم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها توبه قبوله کړه نو بیا یې دواړو ته څه نور ارشادات وفرمایل چې حاصل یې په لاندې ټکو کښې لوستلی شئ:

١ـ الله ﷻ ورته امر وکړ چې تاسو ځمکې ته ټول (د اولادونو په شمول) ښکته شئ چې هلته لا شیطان ستاسو څخه مخکښې ښکته کړی شوی دی. نو هلته به ستاسو دواړو اولاده ځینې د ځینو دښمنان جوړ شي، چې یوه ډله به ستاسو دواړو واقعي پیرو وګرځي او بله ډله به د شیطان پیرو جوړ شي او د دښمنۍ اور به بل وساتي.

٢ـ یا په بل عبارت: په ما باندې لازمه نه ده چې ستاسو اولادې ته هدایت ورواستوم، خو که دا کار مې وکړ او په خپل فضل سره مې ځمکې ته هدایت ورولېږه چې د پیغمبرانو او کتابونو څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت دي، نو ستاسو دواړو اولاده به په لاندې ګروپونو وویشله شي:

الف: هرڅوک چې زما د هدایت پیروي وکړي نو هغه به نه په دنیا کښې حقه لاره ورکه کړي او نه به ترې د جنت لاره غلطه او خطا شي، او همدارنګه نوموړی به نه په دنیا کښې د زړه تنګي او بامشقته ژوند سره مخامخ شي او نه به په آخرت کښې د مشکلاتو سره لاس او ګرېوان شي.

ب: بالمقابل هرڅوک چې زما د هدایت د منلو څخه انکار وکړي او زما هغه ذکر قبول نه کړي کوم چې ما د دوی د پند او ګټې دپاره وراستولی وي نو یقینًا هغه به د لاندې حالت درلودونکی جوړ شي:

اول: په دنیا کښې به د ډېر تنګ ژوند خاوند شي چې حرص به ورباندې مسلط وي او په زښته ډېره مالداری (او ثروت) باندې به نه مَړېږي، او همېشه به د زیادت په غم کښې پروت وي.

دوهم: نوموړی به مونږ د قیامت په ورځ ړوند راپورته کړو چې د خپل رب ﷻ سره به لاندې سوال جواب وکړي:

ړوند راپورته شوی: ای زما ربه! زه دې د کوم جنایت د کبله ړوند راپورته کړم حال دا چې زه په دنیا کښې بینا وم، لیدونکی وم سترګې مې درلودلې؟

رب ﷻ: که څه هم تا په دنیا کښې د سر سترګې درلودې خو د زړه سترګې دې ړندې وې، نو همدغه ډول ته نن ورځ ړوند را اوچت کړی شوې. یا په بل عبارت: تاته زمونږ هدایت او ایتونه درغلي (در رسېدلي) وه خو تا د عمل څخه پرېښودل او هېر دې کړل، نو دا دی نن ورځ ته هم د خپل رب ﷻ د عظیم فضل او رحمت څخه پرېښودلی شوې او د هېر کړی شوي غوندې وګرځولی شوې.

۳_ ای پیغمبره! همدغه ډول جزا مونږ هر هغه چا ته ورکوو چې د شرعي حد څخه تجاوز وکړي او د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې ایمان رانه وړي، چې په دنیا کښې به د تنګ ژوند خاوندان جوړ شي او په اخرت کښې به ړانده حشر کړی شي.

او هرومرو د آخرت عذاب فقط په ړوند حشر کېدلو باندې اختتام نه مونده کوي، بلکې دا ډېر سخت عذاب دی چې د دوزخونو څخه عبارت دی او ډېر دوامدار عذاب دی چې د دنیاوي عذاب غوندې په مرګ باندې انجام ته نه رسېږي، چې هلته مرګ نشته.

۴_ ایا نو _ای پیغمبره_ ستا د امت کفارو ته دې خبرې هدایت ونه کړ او عبرت یې ترې وانخست چې مونږ د دوی څخه وړاندې څومره ډېرې پېړۍ هلاکې کړي دي چې دوی یې د ابادیو په نښو او اثارو کښې روزمره ګرځي راګرځي؟ ایا دوی دې ته نه فکر کېږي چې یوه ورځ به د دوی زُور او قوت هم د هغوی غوندې د خاورو سره برابر شي او نور خلک به یې د تعمیراتو په بقایاوو کښې ګرځي راګرځي.

۵_ یقینًا _ای پیغمبره_ په دغه اهلاک (پوپنا کولو) کښې د عقلونو د خاوندانو دپاره د قدرت ډېرې لویې نښې او دلایل شته چې باید د زړه په سترګو ورته وکتل شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ ځینو علماوو کرامو په ﴿ ٱهۡبِطَا ﴾ کښې دا احتمال هم جائز ګڼلی دی چې په ذکره شوې کلمه باندې آدم ﷺ او ابلیس دواړه مخاطب وګڼل شي[۱]، خو مونږ ته غوره برېښي چې په ذکره شوې کلمه کښې به آدم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها ته خطاب متوجه وي او همدوی دواړو ته به په ﴿ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ ﴾ کښې د ا ولادې په اعتبار سره د جمعي خطاب متوجه شوی وي. او دا ځکه چې:

زمونږ په فکر هرڅوک چې په ﴿ ٱهۡبِطَا ﴾ کښې مخاطب دي هغه به په ﴿ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى ﴾ کښې هم مخاطب وي، نو څرنګه چې دلته ابلیس مخاطب نه دی چې هدایت ورته نه دی وراستولی شوی هدایت خو بنیادمانو پورې اختصاص لري، نو هلته به هم مخاطب نه وي او خطاب به ورته شامل نه وي، والله ﷻ أعلم وعلمه أتم وأكمل.

## ضَنک څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا ﴾ کښې د "ضَنك" کلمه د تنګوالي دپاره وضعه شوې ده چې مفرد او جمعه او هم مذکر او موئنث یې یو برابر دي[۲] د همدې کبله په دې مقام کښې "ضَنكة" نه ده نازله شوې، سره د دې چې موصوف یې ﴿ مَعِيشَةٗ ﴾ موئنث دی.

پاتې شوه دا خبره چې د کافر دپاره په کوم ځای کښې تنګ ژوند د تعذیب په توګه ټاکلی شوی دی؟، نو په دې کښې علماوو کرامو لاندې اقوال کړي دي:

الف: د کفارو دپاره په قبره کښې ډېر تنګ معیشت دی چې د هره طرفه به ورباندې خپل قبر راتنګ شي حتی چې د یوه اړخ پوښتۍ به یې د بل اړخ څخه وباسي، او بیا به د قبر څخه رونډ راپورته کړی شي[۳]، لکه چې په همدې مضمون باندې یو اوږد حدیث هم روایت کړی شوی دی[۴].

ب: د کفارو دپاره به په دوزخ کښې ډېره تنګه ګذاره وي چې په اور باندې د پاسه به "غسلین" او "حَمیم" (زوې او ګرمې اوبه) څښي او زقوم او ضریع به خوري[۵].

ج: کفارو ته په دنیا کښې د شدید حرص د کبله او هم د عدم قناعت د کبله ډېر تنګ ژوند دی.

ځینو مفسرینو کرامو همدا قول متبادر ګڼلی دی[۶].

## تبصره

۳ـ علماوو کرامو نوموړې کلمه په ځینو نورو معناوو باندې هم تفسیره کړې ده، مګر مونږ په

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۲ ص۱۲۹
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۴٦۲
(۳) تفسير الطبري ج۱٦ ص۲۲۸
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۷۲
(۵) تفسير الخازن ج۳ ص۲۲۷
(٦) روح المعاني ج۱٦ ص۲۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې حال کښې چې د متعددو تفسیرونو سره څه منافات نه ګورو، دا هم څه لرې نه ګڼو چې په ایت شریف کښې ټولو ته اشاره وي چې تحمل یې هم کولی شي، خو دریم قول راته په زړه پورې برېښي، که زیات بحث ته پکښې د چا زړه نه تنګېږي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1].

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د دریم قول اراده کول خو څکه بهتري نه لري چې په دنیا کښې خو د ژوند تنګي په کفارو پورې اختصاص نه لري، الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴾ [الإسراء: ٢٠] یعني ای پیغمبره! ستا د رب ﷻ ورکړه په دنیا کښې نه د کفارو څخه ممنوعه ده او نه د مسلمانانو څخه بلکې دواړه ترې استفاده کوي، په هره ډله کښې د پراخۍ او تنګۍ خاوندان شته دي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د تنګوالي څخه تنګلاسي (فقر) مراد نه دی بلکې زړه تنګي ترې مطلب ده، نو څه لرې نه ده چې په حرص او بې قناعتۍ او یا بې صبرۍ سره ترې تعبیر وکړی شي، نو حاصل یې داسې راځېږي چې: په کفارو باندې په دنیا کښې زړه تنګي او حرص مسلط دی، که هرڅومره ډېر مال او ثروت ولري قناعت او صبر ورسره نه وي او د همېشه دپاره د مالونو ډېرولو او راغونډولو په غم کښې ډوب وي چې په څه ډول یې راټول کړم او په څه ډول یې وساتم.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: ﴿ مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ﴾ [النحل: ٩٧] یعني هرڅوک چې صالح عمل وکړي نارینه وي او که ښځینه وي خو چې ایمان درلودونکی وي، نو هرومرو او ضرور به ورته مونږ پاکېزه خوندور ژوند ورکړو او د قناعت خاوند به یې وګرځوو (پوره بیان یې په خپل ځای کښې تېر شوی دی، والحمد لله).

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ»[2] یعني غنا د سامان او ثروت د ډېروالي څخه نه حاصلېږي مګر غنا چې ده د نفس (زړه) غنا ده، برابره خبره ده چې دنیاوي سامان لري او که نه.

نو داسې ډېر مالداران شته چې مالونه او ثروتونه ښه ډېر لري خو د دې سره سره دوی فقیران وي. یهودان د همدې قبیلې مالدارانو څخه دي چې زړونه یې وږي او فقیران دي او د فقر د مسکنت خیمې پرې ولاړې دي.

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ هُدِيَ إِلَى الْإِسْلَامِ وَرُزِقَ الْكَفَافَ وَقَنَعَ بِهِ»[3] یعني یقینًا هغه څوک کامیاب شو چې اسلام ته هدایت کړی شو او د کفایت په اندازه روزي ورکړی شوه او په همدې باندې قناعت ورکړی شو.

---

(١) تفسیر الطبري ج١٦ ص٢٢٥؛ تفسیر القاسمي ج١١ ص١٠٣

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٦٢

(٣) سنن ابن ماجه ص٣٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اپاسین لخوا سکین شو



د: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ آمَنَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللهُ بِهِ»[۱] یعني یقینًا هغه څوک د فلاح خاوند شو چې ایمان یې راوړ او د کفایت په اندازه روزي ورکړی شوه او الله ﷻ ورته پرې قناعت روزي کړ.

هـ: نبي کریم ﷺ په قدسي حدیث کښې د الله ﷻ د پلوه فرمایلي دي چې: «يَا ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ مَلَأْتُ صَدْرَكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ»[۲] یعنې ای بنیادمه! زما عبادت ته فارغ شه چې سینه دې د غنا څخه ډکه کړم او د فقر مخه دې بنده کړم، او که دا کار ونه کړې نو سینه (زړه) به دې د شغل (کاروبار) څخه ډک کړم او د فقر مخنیوی به دې پرې ونه کړم (که هرڅومره ډېر مال جمعه کړې پرې موړ به نه شې).

و: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «مَنْ كَانَ هَمُّهُ الْآخِرَةَ جَمَعَ اللهُ شَمْلَهُ وَجَعَلَ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ الدُّنْيَا فَرَّقَ اللهُ عَلَيْهِ ضَيْعَتَهُ وَجَعَلَ فَقْرَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَلَمْ يَأْتِهِ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ»[۳] یعنې د هر چا چې اصلي مطلب او هدف آخرت وي نو الله ﷻ به یې کارونه راټول کړي او پرېشاني به ترې لرې کړي او هم غنا به یې ورته په زړه کښې پیدا کړي (زړه به یې موړ شي) او دنیا به ورته په داسې حال کښې ورتلونکې وي چې خوړ سترګې به وي (په اسانۍ سره به لاس ته ورځي)، او د هرچا نیت چې دنیا وي نو الله ﷻ به وربانديې د ده کارو بار متفرق کړي (پرې پرېشانه به شي) او فقیري به یې په داخل د سترګو کښې وګرځي (سترګې به یې وږې وي) او که څه هم ډېر زیار وباسي خو لاس ته به د دنیا څخه نه ورځي مګر هغه څه چې ورته لیکلی شوې وي.

لنډه دا چې قناعت لویه خزانه او خوشالي ده او حرص لویه فقیري او غټ غم دی، چې په کفارو باندې په دنیا کښې مسلط دي ـ نعوذ بالله ﷻ منه ـ. یوه پښتون شاعر څومره ښه ویلي دي چې[۴]:

**تر حرص پورته بله بلا نشته :: دا بلا د ستا په خونه شوه نزوله**

## ړوند په دوه ډوله دی

۵ـ په ﴿ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ ﴾ کښې د ﴿ أَعْمَىٰ ﴾ کلمه د رانده دپاره وضعه شوې ده خو ړوند په لاندې دوه ډوله دی:

الف: یو هغه ړوند دی کوم چې د سر په سترګو باندې ړوند وي او په اصطلاح "بَصَر" ونه لري.

ب: بل هغه دی کوم چې د زړه په سترګو باندې ړوند وي او په اصطلاح د زړه "بَصِيْرَت" ونه لري.

په دې مقام کښې ځینو علماء کرامو[۵] د ﴿ أَعْمَىٰ ﴾ کلمه په دوهمه معنی سره تفسیره کړې ده،

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۷۲، ۵۸۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۰۲
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۱۴۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۷۳
(۴) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۱۶۹
(۵) تفسیر الطبري ج۱۶ ص۲۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې کفار به د قيامت په ورځ په داسې حال باندې حشر کړی شي چې د اعتذار دپاره به هيڅ بصيرت ونه لري او هيڅ حجت به يې په لاس کښې نه وي.

يا په بل عبارت: نوموړی به د قيامت په ورځ د دروغو بهانه وړاندې کړي چې: ای ربه! ما خو په دنيا کښې ستا د وحدانيت ټول دلايل د زړه په سترګو ليدل او زه ورباندې ايمان درلودونکی وم نو نن ورځ دې ولې بې بصيرته وګرځولم او د ړندو په قطار کښې دې ودرولم؟ د الله ﷻ د پلوه به جواب ورکړی شي چې ته دروغ وايې، په دنيا کښې خو تا زمونږ دلايل د پېښو لاندې کړي وه او هيڅ بصيرت دې ورباندې نه درلود.

خو مونږ په داسې حال کښې چې اولې معنی ته ترجيح ورکوو دوهمه معنی هم نه ردوو، او د ترجيح وجه يې دا ده چې په بل ايت کښې صراحت شوی دی چې کفار به د قيامت په ورځ د سر په سترګو ړانده حشر کړی شي لکه چې فرمايي: ﴿ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ﴾ [الإسراء:۹۷] يعنې: او مونږ به د قيامت په ورځ کفار په خپلو مخونو باندې په داسې حال حشر کړو چې دوی به ړانده او ګونګان او کاڼه وي.

د همدې موضوع په ارتباط د همدې سورت (طه) د [۱۰۰] ايت لاندې څه تحقيق او څه سوال جواب تېر شوي دي، چې يو خل کتل يې ضرور دي. همدارنګه د همدې موضوع په اړوند د [الإسراء: ۷۲] ايت لاندې ښه خوندور بحث ليکلی شوی دی، که څوک ورته مراجعه وکړي مزه به ترې واخلي، والحمد لله ﷻ على کل حال.

## يوه مهمه مسئله

۶ـ ځينې مفسرين کرام[۱] د ﴿ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَـٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ﴾ په تفسير کښې زياتوي چې په دغه وعيد کښې هغه مسلمان قاري شامل نه دی کوم چې د قرآن کريم ايتونه او يا ټول قرآن زده کړي او بيا ترې هېر شي خو په مقتضی باندې يې عمل کوي، دغه قاري به د قبر څخه ړوند نه راپورته کېږي.

هو! د قرآن کريم د زده کړې هېرول ګناه ده چې بايد سړی ترې خپل ځان وساتي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ إِلَّا لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ»[۲] يعنې هيڅ سړی نه دی چې قرآن کريم قرائت کول زده کړي او بيا يې هېر کړي مګر د قيامت په ورځ به په داسې حال کښې د الله ﷻ سره ملاقي شي (د حشر ميدان ته به بوتللی شي) چې د جذام په مرض به اخته وي[۳].

۷ـ په ﴿ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴾ کښې د "نُهَی" کلمه د "نُهْيَة" ـلکه "رُقْيَة"ـ جمعه ده چې د "نَهْيٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د منعه کولو معنی ورکوي[۴].

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۱۶۹

(۲) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۰۷

(۳) لسان العرب ج۱۲ ص۸۷

(۴) القاموس المحيط ج۴ ص۴۵۴؛ مفردات الراغب ص۵۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلته د ﴿ ٱلنُّهَىٰ ﴾ څخه عقلونه مراد دي ځکه چې عقلونه خپل خاوندان (عاقلان) د جناياتو د ارتکاب څخه منعه کوي.

﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ
وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ۖ وَمِنْ ءَانَآئِ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ
ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ ٱلْحَيَوٰةِ
ٱلدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٣١﴾ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا
نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾ وَقَالُوا۟ لَوْلَا يَأْتِينَا بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّهِۦٓ ۚ أَوَلَمْ
تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُوا۟ رَبَّنَا
لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ
مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟ ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾﴾

[١٢٩] او (ای پیغمبره!) که ستا د رب ﷻ د پلوه (د دې امت په هکله) خبره نه وی تېره شوې (او نه وی فیصله شوې چې په دوی باندې به پوره کوونکی عذاب نه ورنازلېږي) نو ضرور به عذاب (د دوی سره) لازم شوی وی (د دوی او د عذاب په منځکښې به تلازم واقع شوی وی)، او (همدارنګه که د دوی د پوره کوونکي عذاب دپاره) ټاکلې نېټه (نه وی نو ضرور به ورباندې ورنازل شوی وی خو مخکې له وخت څخه ورباندې نه ورنازلېږي).

[١٣٠] نو ته (د عذاب د ټاکلي وخته پورې) په هغو خبرو باندې صبر کوه (حوصله پرې مه خرابوه) کومې چې دوی وايي، او خپل رب ﷻ ته د حمد سره تسبيحات وايه (البته) د لمرختلو څخه وړاندې او (هم) د لمر پرېوتلو څخه مخکښې، او د شپې د وختونو څخه (هم) نو (د تحميد سره) تسبيح وايه او په څه برخو د ورځې کښې هم، شايد چې ته خوشاله (او راضي) شې، (چې د کفارو مقاومت به مات شي او اسلام به مخ په وړاندې لاړ شي).

[١٣١] او ته خپلې سترګې (نظر) هغه شي ته مه اوږده وه (په تعجب ورته مه ګوره) په کوم باندې چې مونږ د کفارو د جملې څخه څه ټولګيو ته (لنډه او تنګه) ګټه رسولې ده، (کوم مو چې ورته) د حقير ژوند تازګي (ډول او سنګار) د دې دپاره (ګرځولې دی) چې مونږ يې پکښې امتحان کړو.

او (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ (د پلوه درکړی شوې) روزي ډېره بهتره او ډېره دوامداره ده (چې په نبوت باندې يې سرلوړی کړی يې).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٣٢] او (ای پیغمبره!) خپل اهل (خپلو مربوطینو) ته په لمانځه باندې امر وکړه او پخپله پرې (هم) کلک اوسېږه (چې د خوراک په موندلو باندې یې هېر نه کړې او دا ځکه چې) مونږ ستا څخه رزق نه غواړو (چې یا یې خپل ځان ته ورکړې او یا خپلو مربوطینو ته) مونږ تاته (هم) رزق درکوو (او ستا مربوطینو ته هم)، او عاقبت (انجام) د تقوی دپاره (اختصاص) دی (چې همدا به کامیابېږي او بس).

[١٣٣] او مشرکان (تاته اشاره کوي او) وایي چې: ولې مونږ ته د خپل رب ﷻ د پلوه معجزه نه راوړي (البته د کومې چې مونږ فرمایش ورکوو).

ایا دوی ته (په قرآن کریم کښې په معجزانه توګه) د هغه شي بیان نه دی ورغلی کوم چې په ړومبنیو کتابونو (تورات، انجیل، زبور) کښې وه؟ (ایا دا بیان ورته کفایت نه کوي؟).

[١٣۴] او که (بالفرض) مونږ دوی په داسې عذاب سره هلاک کړي وی چې د قرآن کریم (د نزول) څخه یې وړاندې صورت نیولی وی نو ضرور به دوی ویلي وی چې: ای زمونږ ربه! ولې دې مونږ ته پیغمبر راونه لېږه (او ولې دې مونږ ته معجزانه کتاب رانازل نه کړ) چې مونږ پخوا د هغه څخه ستا د ایتونو پیروي کړې وی چې ذلیله او شرمنده شو.

[١٣۵] (ای پیغمبره! په آخر کښې ورته) ووایه چې: (مونږ او تاسو) هره یوه ډله انتظار ویستونکې یاستو، نو انتظار وباسئ (لکه چې مونږ انتظار وباسو)، نو ژر دی چې په دې باندې به پوه شئ چې (په مونږ او تاسو کښې) څوک د سمې لارې خاوند دی او څوک په سمه لاره باندې روان دی.

## ارتباطونه

١ـ وړاندېني ایتونه په دې باندې تمام شوي وه چې د دې زمانې کفار د پخوانیو زمانو کفارو په خط السیر باندې روان دي خو د هغوی په انجام باندې د اخته کېدلو څخه نه ډارېږي، چې عناد ورباندې سترګې پټې کړې دي. او دلته نبي کریم ﷺ ته د عنادیانو په مقابل کښې په زغم او حوصلې کولو توصیه شوې ده چې د خپل رب ﷻ په عبادت مشغول اوسه او د عنادیانو مال متاع ته التفات مه کوه.

٢ـ بالآخره دلته د عنادیانو د عناد یو مثال هم ښودلی شوی دی چې د قرآن کریم د موجودیت سره سره دوی فرمایشي معجزات غواړي، نو حاصل یې داسې راخیژي:

## د مطلب خلاصه

١ـ ای پیغمبره! ستا د زمانې کفارو د پخوانیو زمانو د کفارو عادت خپل کړی دی نو که بالفرض د دوی په هکله د عذاب د نزول موانع موجود نه وی نو دوی به هم د هغوی په شان پوپنا شوې وی، موانع دا دي:

الف: ستا رب ﷻ لا پخوا دا خبره فیصله کړې ده چې د آخر الزمان پیغمبر امت به د عادیانو او ثمودیانو په شان په بېخ ویستونکي عذاب باندې نه مبتلاء کوي.

ب: د دوی د اهلاک او تعذیب دپاره نېټه ټاکلې شوې ده او هغه نېټه لا تر اوسه نه ده رارسېدلې.

لنډه دا چې ستا رب ﷻ دغه امت په بېخ ویستونکي عذاب باندې نه هلاکوي، او د بل عذاب

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(چې ببخ ویستونکی نه وي) تاکلې نېټه نه ده را رسېدلې، کله یې چې نېټه راورسېده نو سمدستي په دربانديې ورنازل کړی شي.

۲ـ نو ای پیغمبره! د دغو عنادیانو کفارو د غیر انساني وضعې څخه ډېر مه غمژن کېږه او خپله حوصله پرې مه خرابوه او په خبرو باندې یې صبر وکړه، د دې دپاره چې ته ډېر ښه متسلي شې لاندې کارونه عملي کړه:

الف: د خپل رب ﷻ تسبیحات وایه او د لمر له ختلو څخه وړاندې د خپل رب ﷻ تسبیحات وایه اوحمدونه او ثناوې ورته ثابتوه، چې د تسبیحاتو او تحمیداتو ډېر ښه صورت د سهار لمونځ دی.

ب: همدارنګه د لمر پرېواته څخه وړاندې هم د خپل رب ﷻ تسبیحات او تحمیدات وایه او د مازدیګر په لمانځه باندې کلک اوسېږه.

ج: د شپې د وختونو څخه هم ځینې وختونه د خپل رب ﷻ په تسبیحاتو باندې ښایسته کړه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه ودروه.

د: بالآخره د ورځې په څه برخو کښې هم د خپل رب ﷻ تسبیحات مه هېروه، او د ماسپښین لمونځونه قائم کړه.

ه: شاید چې خپل رب ﷻ تا راضي کړي، څه چې ستا زړه غواړي هغه درکړي (د امت په هکله به دې شفاعتونه قبول کړي او اسلام به ټولې دنیا ته خور کړي).

۳ـ ای پیغمبره! پام کوه چې هیڅکله د کفارو هغو مالونو او ثروتونو ته سترګې اوږدې نه کړې او په تعجب سره ورته ونه ګورې کوم چې مونږ هغوی ته د څو ورځو د لنډو او تنګو استفادو دپاره ورکړې دي، او دا څکه چې:

الف: ذکر شوي ټول شیان د دې نړدې او حقیر ژوند تازګی دي او په انجام کښې ورپورې کوم مهم مطلب ارتباط نه لري، او نه پکښې تحقق موندلی شي.

ب: دا ټول د دې دپاره دي چې مونږ یې په دنیا کښې وربانديې د امتحان او ازمېښت لاندې واقع کړو، نه د دې کبله چې دوی د الله ﷻ په نزد څه قدر او عزت لري.

ج: هو! بالمقابل چې کوم شی تاته روزي کړی شوی دی او په کوم شي باندې چې ته سرلوړی ګرځولی شوی یې هغه د کفارو د حقیرو مالونو څخه ډېر بهتر او ډېر باقیدار دی، او یا په بل عبارت: تاته په آخرت کښې جنتي نعمتونه ساتل شوي دي او په انجام کښې به همدغه ستا دین ټولې دنیا ته ورسېږي او ټوله دنیا به پرې روښانه وګرځي.

۴ـ په دې باندې علاوه، خپل اهل او خپلو اتباعو او پیروانو ته هم د لمونځونو په اقامه کولو باندې امر وکړه ترڅو هغوی هم متسلي شي، او پخپله هم په لمونځونو باندې صبر کوه او په اداء کولو باندې یې کلک اوسېږه. او دا څکه چې:

مونږ ستا څخه نه غواړو چې خپل ځان او یا خپلو مربوطینو ته روزي پیدا کړه او ضروریات ورپوره کړه. بلکې دغه کار مونږ په خپل ځان باندې تفضلاً لازم ګرځولی دی چې هر ساکښ ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روزي ورکړو، نو تاته په کار دي چې د روزۍ د پیدا کولو له امله په عبادت کښې نقصان واقع نه کړې، او په خپله تقوی کښې خلل وانچوي چې د انجام کامیابي د تقوی سره ملګرې ده او بس.

۵_ او ای پیغمبره! عنادي کفار د قرآن کریم په عظیم الشانه معجزه باندې سترګې پټوي او وایي چې: ولې د خپل رب ﷻ د پلوه هغه معجزه نه راوړي د کومې چې مونږ فرمایش ورکوو، که دی رښتیانی پیغمبر وي نو دغه غوښتنه دې پوره کړي؟

نو ته په دغې عنادي غوښتنه باندې هم مه غمژن کېږه او دا ځکه چې مشرکان عناد نیولي دي او په دېره لویه عظیم الشانه معجزه باندې یې خپل ځانونه رانده اچولي دي، هغه دا چې مونږ تاته قرآن کریم نازل کړی دی چې د پخوانیو اسماني کتابونو بیان پکښې په ځرګنده توګه بیان شوی دی حال دا چې ته خو دپخوانیو کتابونو د نزول په وختونو کښې دنیا ته نه وې راغلی چې په خپلو سترګو دې لیدلي وي، نه تا د چا شاګردي کړې ده چې هغه درته ښودلي وي او بالآخره نه ته ځه لیک او لوست لرې چې هغه دې پخپله لوستي وي؛ نو ستا د نبوت د اثبات دپاره د قرآن کریم دائمي معجزه کفایت کوي او بس. د همدې کبله:

۶_ که بالفرض مونږ د دغه قرآن کریم د نزول څخه وړاندې کفار هلاک کړي وی نو دوی به ضرور د خپل رب ﷻ په حضور کښې بهانه وړاندې کړې وی او ویلی به یې چې: ای زمونږ ربه! مونږ ته دې ولې یو پیغمبر نه رالېږه چې کتاب دې وربانددې نازل کړی وی نو مونږ به ستا د ایتونو او ستا د کتاب پیروي کړې وی او د دغه ذلت او د دغې شرمندګۍ سره به نه وی مخامخ شوی چې اوس ورسره مخامخ شوو او د عذاب د نزول لاندې واقع شوو.

۷_ ای پیغمبره! دا دی مونږ دغو عنادیانو کفارو ته ستا غوندې جلیل القدر پیغمبر ورولېږه او د قرآن کریم غوندې عالي الشان کتاب مو ورنازل کړ خو د دې سره-سره دوی د خپل عناد څخه نه اوړي او تاته د معجزاتو فرمایش درکوي، نو دوی ته لاندې وروستنی اعلان وکړه او ورته ووایه چې: مونږ او تاسو هره یوه ډله منتظر یاستو، نو تاسو هم زمونږ غوندې انتظار وباسئ؛ ډېر ژر به پوه شئ چې د سمې لارې خاوندان څوک دي؟ او په سمه لاره باندې څوک روان دي؟ مونږ که تاسو؟

## توضیحات

۱_ د ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى﴾ په تفسیر کښې ځینو مفسرینو کرامو ښه اوږد بحث کړی دی مګر کوم تفسیر چې مونږ ته غوره برېښي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: د ﴿كَلِمَةٌ﴾ کلمه د دې څخه عبارت ده چې الله ﷻ د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د دعوتي امت کفار د عادیانو او ثمودیانو غوندې په بنیاد ویستونکي عذاب باندې نه مبتلا کوي، لکه چې په همدې ارتباط ځینې احادیث د [الأنعام:۶۵] ایت لاندې لیکلی شوي دي، بلکې د دوی عمده عذاب یې د قیامت ورځې ته ټال کړی دی لکه چې فرمایي: ﴿بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ﴾ [القمر:۴۶] یعنې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې د قیامت ورځ د کفارو د عذاب مهم موعد دی، چې هیڅکله ترې بچ کېدلی نه شي.

ب: د ﴿ لِزَامًا ﴾ کلمه د "لازَمَ، يُلازِمُ" دپاره مصدر ده چې د مبالغې په توګه ورباندې عذاب او اهلاک توصیف شوی دی.

ج: د "إِسْتِيْصَال" (بوپنا کوونکی) عذاب څخه رابښکته نور عذابونه دې امت ته هم ورکول کېږي خو چې د الله ﷻ اراده ورته شوې وي.

نو د ذکر شوي ایت شریف خلاصه مضمون داسې راخېژي چې: ای پیغمبره! د الله ﷻ په نزد فیصله ده چې ستا د امت کفارو ته د إستیصال عذاب نه ورکولی کېږي لکه عادیانو او نورو کفارو ته چې ورکړی شوی وه، اما د غیر إستیصال د عذاب څخه بچ نه شي پاتې کېدلی چې د الله ﷻ په نزد ټاکلې نېټه لري چې لا تر اوسه پورې نه ده رارسېدلې، نو کله چې راورسېږي نو بیا به هیڅ دول مهلت ورنه کړی شي.

## د پنځو وختونو استنباط

۲_ علماوو کرامو د ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ ﴾ ،الایة- څخه په متعددو طریقو باندې د پنځو فرضي لمونځونو وختونه استخراج کړي دي[1] خو مونږ د لاندې یوې طریقې[2] په ذکر باندې اکتفاء کوو چې:

الف: د ﴿ قَبْلَ طُلُوعِ ٱلشَّمْسِ ﴾ څخه د سهار د لمانځه وخت مطلب دی.

ب: په ﴿ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا ﴾ کښې د مازدیګر لمانځه ته اشاره ده.

ج: د ﴿ وَمِنْ ءَانَآيِ ٱلَّيْلِ ﴾ څخه د ماښام او ماسخوتن دواړه لمونځونه اراده کېږي ځکه چې د ﴿ ءَانَآيِ ﴾ کلمه د "إِنًى" جمعه ده چې د ساتڅه برخې ته وضعه شوې ده، یعنې ای پیغمبره! د شپې په څه برخو کښې د خپل رب ﷻ تسبیحات او تحمیدات ووایه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه پکښې اداء کړه.

د: او د ﴿ وَأَطْرَافَ ٱلنَّهَارِ ﴾ څخه د ماسپښین د لمانځه وخت مراد دی، او دا ځکه چې د "أَطْرَاف" کلمه د "طَرَف" _لکه "شَرَف"_ جمعه ده چې د څنډې دپاره هم وضعه شوې ده او د یوې برخې دپاره یې هم وضعه موندلې ده[3]، په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده یعنې د ورځې په هغو برخو کښې د خپل رب تسبیح او تحمید وایه کومې چې د زوال څخه پیل کېږي او د مازدیګر د لمانځه تر وخته پورې ادامه پیدا کوي.

که څه هم د هر لمانځه وخت د شروع څخه تر ختمه پورې یو وخت دی مګر د دقیقو او ساتونو په اعتبار سره او هم د اوړي او ژمي په لحاظ سره ترې په جمعه باندې تعبیر صورت نیولی شي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۱۵؛ تفسیر ابي السعود ج۶ ص۵۰

(۲) روح المعاني ج۱۶ ص۲۸۱

(۳) لسان العرب ج۹ ص۲۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ایتونو ارشاد

٣_ که څه هم په ﴿ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ﴾ کښې یوازې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی چې خپلو مربوطینو او اقاربو ته په لمانځه باندې امر وکړه او پخپله هم ورباندې کلک اوسېږه، مګر په حقیقت کښې ټول امت ته ارشاد دی چې په ټولو حالاتو کښې عموماً او د وارخطاکېدلو په حالاتو کښې خصوصاً ذکره شوې کړنلاره خپله کړي او د روزۍ د موندلو د کبله الله ﷻ هېر نه کړئ. د ښه وضاحت دپاره لاندې نکات ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴾ [الرعد:٢٨] یعنې خبردار! د الله ﷻ په یادولو سره زړونه ډاډه کېږي (او وارخطایي او ډار یې لرې کېږي).

ب: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [الطلاق: ٢ ، ٣] او هرڅوک چې د الله ﷻ څخه وډار شي نو الله ﷻ به ورته (د غمونو څخه) د وتلو لاره پیدا کړي او له داسې پلوه به روزي ورکړي چې د هغه په ګومان کښې به (هم) نه ورځي.

ج: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ»(١) یعنې تاسو خپلو اولادونو ته لا په هغه وخت کښې په لمانځه باندې امر وکړئ چې دوی د خپلو عمرونو اوه کلنۍ ته ورسېږي ترڅو ورسره عادت شي، او که ستاسو امر یې نه عملي کاوه نو په هغه وخت کښې یې تادیباً ووهئ چې دوی لس کلن شوي وي، او (په همدغه عمر کښې) د دوی ترمنځ د بسترو جدا کول هم عملي کړئ او هر یو ته په بېله-بېله بستره کښې د شپې د مخې استراحت ورکوئ.

د: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د یوه پیغمبر او د ده د امت په هکله فرمایلي دي چې: «وَكَانُوا إِذَا فَزِعُوا فَزِعُوا إِلَى الصَّلَاةِ»(٢) یعنې هغوی وو چې کله به ورته د کومې وجې د کبله وارخطایي او سخته وېره متوجه شوه نو په وارخطایۍ او توندۍ سره به یې لمانځه ته رجوع کوله.

هـ: نبي کریم ﷺ به هم د غمژن کېدلو په وخت کښې لمانځه ته رجوع کوله لکه چې حذیفه ؓ وایي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى»(٣) یعنې نبي کریم ﷺ وه چې کله به ترې کوم مشکل کار راچاپېر شواو غمژن به یې کړ نو لمونځ به یې کاوه او د مشکل د حل کولو سوال به یې کاوه.

## عظیمه او دائمه معجزه

۴_ په ﴿ أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴾ کښې د ﴿ بَيِّنَةُ ﴾ کلمه د هغه واضحه او ښکند

---

(١) سنن ابي داود ج١ ص٧١
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص٢۴١
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٩ ص٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیان څخه عبارت ده کوم چې د یوه مطلب د اثبات دپاره کفایت کوي[۱]، د همدې کبله دوه شاهدانو ته "بَیِّنَة" ویل کېږي چې د مدعي غوښتنه ورباندې اثبات ته رسېږي.

مگر علماوو کرامو په دې مقام کښې د ایت مطلب په دوه وو ډولونو باندې اوچت کړی دی:

الف: ایا مشرکانو ته د پخوانیو کتابونو واضحه بیان نه دی ورغلی چې د فرمایشي معجزې د نه منلو په صورت کښې به د وخت په کفارو باندې عذاب ورنازلېد، لکه چې په ثمودیانو باندې ورنازل شوی وه البته کله چې هغوی د معجزې ناقه ونه منله او په صالح ﷺ باندې یې ایمان نه راووړ[۲]، نو ایا دوی د دغه حال څخه نه ډارېږي؟

ب: ایا دوی ته په دغه قرآن کریم کښې د پخوانیو کتابونو واضحه او څرگند بیان نه دی ورغلی حال دا چې نبي کریم ﷺ نه په لیک او لوست باندې پوهېږي چې د چا څخه یې څه زده کړي وي او نه د تورات او انجیل او هم نه د زبور او نورو صحیفو د نزول په زمانه کښې موجود وه چې پخپله یې اورېدلي وي. نو پوره واضحه ده چې که قرآن کریم عظیم الشانه دائمي معجزه او د الله ﷻ حقاني کتاب نه وی نو نبي کریم ﷺ به د پخوانیو کتابونو څخه داسې ساکت وي لکه څنگه چې د نبوت څخه وړاندې ورڅخه ساکت او چپ وه.

## تبصره

۵ـ که څه هم مونږ لومړنی تفسیر نه رد کوو مگر د ایت د کلماتو سره راته دوهم تفسیر ډېر مناسب او متبادر برېښي، چې بل ایت شریف هم په عین مضمون باندې دلالت کوي هغه دا چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ﴾ [العنکبوت: ۵۱] یعنې ای پیغمبره! تاته مشرکان د معجزاتو فرمایش درکوي، ایا دوی ته دا کفایت نه کوي چې مونږ یقیناً په تا باندې کتاب (قرآن کریم) نازل کړی دی چې روزمره ورباندې لوستل کېږي، دا ډېره عظیم الشانه معجزه ده او په څنگ کښې یې بلې هیڅ معجزې ته اړتیا نشته.

د الله ﷻ په توفیق د "طه" سورت ترجمه او تفسیر بشپړ شو چې ورسره شپارسمه سپاره هم پای ته ورسېده، الله ﷻ دې لا زیات توفیق راکړي چې ﴿ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴾ ته ورسېږو.

ای الله! ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپلې زمانې د فراعنه وو څخه نجات راکړه لکه څنگه چې دې موسی ﷺ ته د هغې زمانې د فرعون څخه نجات ورکړ!

آمِینَ یَا رَبَّ الْعَالَمِینَ.

۱۴۱۹/۷/۵ هـ ق = ۱۳۷۷/۸/۳ هـ ش.

---

(۱) مفردات الراغب ص۶۷
(۲) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۲۳۷

Scanned by CamScanner

# الأنبياء (٢١)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# سریزه

د دې ښخه وړاندې چې د دې سورت په ترجمه او تفسیر باندې پیل وکړو غواړو چې د محترمو لوستونکو توجه لاندې ټکو ته راواړوو:

۱_ دا سورت د "الأنبياء" په نامه باندې نومولی شوی دی، دغه نوم د کوم خاص ایت ښخه نه دی اخستلی شوی بلکې د دې کبله ورباندې دغه نوم ایښودلی شوی دی چې په دې سورت کښې لاندې پنځلس تنه پیغمبران یا په نومونو باندې ذکر شوي دي او یا ورته اشاره ده:

(۱) موسی ﷺ (۲) هارون ﷺ (۳) ابراهیـم ﷺ (۴) لوط ﷺ (۵) نـوح ﷺ (۶) داود ﷺ (۷) سلیمان ﷺ (۸) ایوب ﷺ (۹) اسماعیل ﷺ (۱۰) ادریس ﷺ (۱۱) یونس ﷺ چې په ﴿ ذَا ٱلنُّونِ ﴾ باندې ورته اشاره شوې ده (۱۲) زکریا ﷺ (۱۳) یحیی ﷺ (۱۴) عیسی ﷺ چې په ﴿ وَٱبْنَهَا ﴾ ترې تعبیر شوی دی (۱۵) ذو الکفل ﷺ چې اکثرو علماوو کرامو د پیغمبرانو ښخه شمېرلی دی.

په دې سورت کښې د پیغمبرانو ذکر په دې لحاظ باندې شوی دی چې دوی ټول صابرین وه، د مثال په توګه لکه ښنګه چې داود ﷺ او سلیمان ﷺ د نعمتونو په ډېروالي کښې بې صبره نه شوه همدارنګه د ابراهیم ﷺ د نمرود اور ته حوصله خرابه نه شوه او ایوب ﷺ د مصیبتونو په مقابل کښې صبر د لاسه ورنه کړ، او نه یونس ﷺ د ماهي په ګېډه کښې بې حوصلې شو.

نو په ذکر شوي نوم ایښودلو کښې دا مطلب نه دی چې د ټولو پیغمبرانو ذکر دې پکښې نازل شوی وي او نه پکښې دا مطلب دی چې په دې سورت کښې د ذکرو شوو پیغمبرانو د حالاتو ښخه پرته نور څه نه دي نازل شوي بلکې دغه سورت په نوموړي نوم سره صرف د نورو سورتونو ښخه راجدا کړی شوی دی او بس.

۲_ دا سورت په اتفاق سره ټول مکي سورت دی[1] چې د هجرت ښخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی، د همدې کبله عبد الله بن مسعود ﷺ د نوموړي سورت په شمول ښو نورو مکي سورتونو ته اشاره کړې ده چې: «وَهُنَّ مِنْ تِلَادِي»[2] یعنې دا د هغو سورتونو ښخه دي کوم چې ما د ډېر پخوا ښخه (په مکه معظمه کښــې) حفظ کړي وه.

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[3]:

الف: د ایتونو شمېر یې یو سلو دولس (۱۱۲) دی.

ب: د کلماتو شمېر یې یو زرو یو سلو شپیته (۱۱۶۰) دی.

ج: د حرفونو شمېر یې ښلور زره اته نوې (۴۰۹۸) دی.

[1] المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۲۱
[2] صحيح البخاري ج۲ ص۶۹۳
[3] اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۴۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دې سورت د بحث مهم موضوعات

۴_ په دې سورت کښې هم د نورو مکي سورتونو غونډې د عقيدوي احکامو په اثبات باندې د بحثونو زيات زور اچولی شوی دی، چې تقريبًا د سورت لومړنی نيمايي برخه په لاندې عقيدوي مطالبو باندې مشتمله ده:

الف: د الله ﷻ وحدانيت په متعددو او مختلفو دلايلو باندې په اثبات رسولی شوی دی.

ب: د نبي کريم ﷺ د نبوت په اثبات باندې هم متعدد دلايل نازل شوي دي او په همدې ارتباط د منکرينو شبهاتو ته جوابونه ورکړی شوي دي.

ج: د بعث بعد الموت (د مرګ څخه وروسته د بيا ژوندي کېدلو) موضوع ښه تحقيقي څېړله شوې ده او ضرورت يې واضحه شوی دی، او داسې نور.

د سورت تقريبًا دوهمه نيمايي برخه د پيغمبرانو د حالاتو په شرحه باندې مشتمله ده، چې په عقيدوي احکامو کښې يې څه اختلاف نه درلود او هر يو ورته په خپل وخت کښې متشابه دعوتونه چلولي دي.

۵_ د ذکر شوي بيان څخه د دې سورت (الأنبياء) او د (طه) د سورت تناسب هم د ورايه څرګندېږي چې دواړه مکي سورتونه دي او دواړه په عقيدوي احکامو پورې زيات ارتباط لري او په دواړو کښې د پيغمبرانو حالات نازل شوي دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ ٱقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِى غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ﴿١﴾ مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم
مُّحْدَثٍ إِلَّا ٱسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٢﴾ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ۗ وَأَسَرُّوا ٱلنَّجْوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا هَلْ
هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۖ أَفَتَأْتُونَ ٱلسِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّى يَعْلَمُ ٱلْقَوْلَ
فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٤﴾ بَلْ قَالُوٓا أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍۭ بَلِ ٱفْتَرَىٰهُ بَلْ
هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَأْتِنَا بِـَٔايَةٍ كَمَآ أُرْسِلَ ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٥﴾ ﴾

د ډېر مهربان او زيات با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] خلکو ته خپل حساب (د قيامت ورځ) نژدې شوی ده حال دا چې دوی (ترې) په غفلت کښې دي (او لا ترې) اعراض (انکار) کوونکي دي (او دا خکه چې:)

[۲] دوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه هيڅ نوی (تازه) ذکر (ايتونه) نه ورځي (ورنازلېږي) مګر دوی يې په داسې حال کښې اوري چې دوی (پرې) لوبې کوونکي دي.

Scanned by CamScanner

[٣] (او په داسې حال کښې یې اورې چې) زړونه یې (په دنیاوي مزو چړچو باندې) مشغول دي، او (کفار د فساد په غرض) رازونه پټوي (البته) هغه کفار کومو چې ظلم کړی دی (او په شرک باندې کلک ولاړ دي، داسې چې):
ایا دغه (محمد) دی؟ (بلکې نه دی) مګر ستاسو غوندې بنیادم دی (او څه یې چې راوړي دي هغه جادو دي)، ایا نو تاسو جادو ته ورځئ (قبلوئ) حال دا چې تاسو لیدل کولی شئ (ړانده نه یاست).
[۴] (پیغمبر ﷺ) د دوی خبره رده کړه او) ویې ویلې چې: زما رب ﷻ په (هره) خبره باندې (برابره خبره ده) چې په اسمان کښې (پټه وکړی شي) او (یا په) ځمکه کښې، او همدی ﷻ پوهېږي او ربدونکی دی (او همدی ﷻ په هر شي باندې) پوه دی.
[۵] (مشرکان یوازې د جادو په لقب اکتفاء نه کوي) بلکې وایي چې (دا کتاب) د باطلو خوبونو مجموعه ده، بلکې (وایي چې د خپله ځانه یې) په دروغو جوړ کړی دی.
بلکې (دا یو شعر دی او) دا (راوړونکی یې) شاعر دی (که داسې نه وي) نو مونږ ته دې یوه داسې معجزه (دلیل) راوړي لکه څنګه چې ړومبني (پیغمبران پرې) رالېږلي شوي وه (لکه د موسی ﷺ همسا او داسې نور).

## ارتباط، شان نزول او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه اشتباه جوابه شوې ده کومه چې د "طه" سورت د وروستني ایت څخه کفارو ته زړونو ته ورغلې وه هغه دا چې کله په مشرکانو باندې ﴿ قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ فَتَرَبَّصُواْ ﴾ الآية، ولوستلی شو نو دوی وویلې چې: محمد مونږ په بیا راژوندي کېدلو او د اعمالو په جزاء باندې تهدیدوي حال دا چې دا صحت نه لري، که بالفرض صحت ولري نو راتګ یې ډېر لرې دی. نو الله ﷻ د دوی اشتباه جوابه کړه او ذکر شوي ایتونه یې نازل کړه[1] چې حاصل داسې راځېږي:
یعنې ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته یو ځل بیا خلک د غفلت د خوبه راویښ کړه او لاندې مطالبو ته یې متوجه کړه:
۱ـ دغسې نه ده لکه چې خلک خیال کوي چې د قیامت ورځ ډېره لرې ده بلکې حقیقت دا دی چې:
الف: خلکو ته د دوی د حساب کتاب ورځ ډېره نژدې ده، د دنیا عمر اختتام ته رسېدلی دی، مګر دوی په غفلت او ناخبرۍ کښې پراته دي چې:
ب: کله ورته خبر ورکړی شي چې د غفلت د خوبه راببدار شي نو دوی ترې دستي اعراض کوي بلکې په دوامداره توګه ترې مخ اړونکي دي.
ج: حتی چې دوی ته د خپل رب ﷻ د پلوه هیڅ تازه ایتونه نه نازلېږي چې حقایق ورته واضحه کړي مګر دوی ورته په داسې حال کښې غوږ نیسي چې:
اول: دوی پرې ساتېري او لوبې کوي، او پېچموزې او مسخرې پرې کوي.

[1] البحر المحیط ج۷ ص۴۰۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: په عین حال کښې د دوی زړونه د دنیا په محبت باندې مشغول دي او د ایتونو مضامینو ته بالکل نه متوجه کېږي چې د غفلت څخه یې رابېدار کړي.

د: حتی چې د خلکو غټان-غټان په خپلو منځو کښې سره پټې مشورې کوي چې د عوامو د غولونې په موخه په پیغمبر ﷺ او هم په قرآن کریم باندې څه نومونه کېږدي، لکه:

اول: دوی وايي چې: دغه (محمد) خو نه دی مګر ستاسو غوندې بنیادم دی، ایا دا عجیبه نه ده چې هغه ته دې وحې راشي او هغه دې پیغمبر جوړ شي او مونږ ته دې نه وحې راځي او نه دې پیغمبران یاستو؟!، که بالفرض الله ﷻ پیغمبر رالېږلی نو هغه به ضرور پرښته وی.

دوهم: دوی وايي چې: د محمد عجیب کلام د ده د نبوت نښه نه ده بلکې دا یو سحر او جادو دی، او غواړي چې زمونږ سترګې پټې کړي او خپل ځان راباندې د پیغمبر په حیث قبول کړي، ایا نو تاسو به جادو ته د قبول په حیث ورځئ حال دا چې تاسو په سترګو باندې لیدل کوئ او ګورئ چې دا جادو دی؟!.

۲_ که څه هم د الله ﷻ په پیغمبر باندې د کفارو ذکر شوی بهتان ډېر دروند تمامېږي او ورته وايي چې: ای خلکو! تاسو په ما باندې د ساحر نوم مه ږدئ او قرآن کریم ته د جادو لقب مه ورکوئ او دا ځکه چې زما رب ﷻ په هغې هرې یوې خبرې باندې پوهېږي کومه چې په اسمان کښې وکړه شي او یا یې څوک په ځمکه کښې وکړي، همدی ﷻ هم اورېدونکی دی او هم په هر شي باندې پوه دی، ستاسو د عوام فریبۍ پټ مجالس به هم افشاء کړي؛ مګر کفار ورته اعتناء نه کوي.

۳_ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ ښه پوهېږي چې ته د کفارو په دروغینو القابو باندې ډېر زورېږي او ډېره هڅه کوي چې ترې منعه یې کړي خو دوی ترې لاس نه اخلي بلکې څه نور دروغین القاب هم اضافه کوي هغه دا چې:

الف: دوی وايي چې قرآن کریم د څو ګډو وډو خوبونو مجموعه ده او کوم واقعیت او حقیقت نه لري.

ب: بلکې وايي چې د خپله ځانه یې جوړ کړی دی، او الله ﷻ ته یې د دې دپاره منسوب کړی دی چې رواج ورکړي او په خلکو باندې یې د یوه الهي کتاب په حیث ومني.

ج: بلکې دغه کتاب چې محمد یې د قرآن کریم په نامه بولي په اصل کښې د اشعارو مجموعه ده او پخپله محمد د یوه شاعر څخه په غیر بل څوک نه دی.

۴_ کفار وايي چې: که زمونږ القاب واقعیت ونه لري او نوموړی رښتیانی پیغمبر وي نو مونږ ته دې هغه فرمایشي معجزه راوړي د کومې چې ترې مونږ غوښتنه کوو.

یا په بل عبارت: داسې معجزه دې راوړي لکه څنګه چې پخوانیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې لکه د صالح ؈ اوښه، د موسی ؈ همسا او-داسې نورې.

## توضیحات

۱_ په ﴿ اَقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ﴾ کښې د ﴿ اَقْتَرَبَ ﴾ کلمه د "اقْتِرَاب" څخه اشتقاقه شوې ده،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د نژدېکت معنی ورکوي، که څه هم نژدېکت کله د زمان یا مکان په اعتبار سره اخستلی کېږي او کله د رتبې او قدرت په لحاظ سره[۱]، مګر په دې مقام کښې د زمان نژدېکت مطلب دی او د حساب څخه د قیامت د ورځې محاسبه مراده ده، یعنې خلکو ته قیامت نژدې شوی دی او لږه زمانه پاتې ده چې قائم شي خو خلک ترې غافله دي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ایت شریف د نزول څخه راپه دېخوا تقریبًا څوارلس سوه کاله تېر شوي دي او لا تر اوسه هم قیامت قائم نه شو، نو ایا دومره زمانه فاصلې ته د نژدې لقب ورکولی شو؟

مونږ وایو چې: که څه هم علماوو کرامو د ذکر شوي سوال په جواب کښې ډېر اوږد بحث کړی دی[۲] مګر کوم جواب ته چې نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده هغه د ټولو جوابونو څخه غوره او بهتر دی هغه دا چې:

ابو سعید الخدري ؓ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې: یوه ورځې د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته مونږ ته نبي کریم ﷺ یوه ښه اوږده خطابه راواوروله چې د قیامت د ورځې پورې یې هیڅ شی پرېښنبودل مګر مونږ ته یې ورباندې خبر راکړ، آن تر دې چې مونږ به لمر ته کاته چې ایا غروب (لوېدلو) ته یې څه وخت پاتې دی او که څنګه؟ (لمر د غره څوکې ته ورسېد) نو په دغه وخت کښې یې وفرمایل چې: «أَلَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ»[۳] یعنې: د دنیا څخه د تېرې شوې زمانې په اعتبار سره وخت نه دی پاتې مګر دومره پاتې دی لکه څومره چې د ننۍ ورځې څخه پاتې دی. (البته د همدغې ورځې څخه د تېر شوي وخت په اعتبار سره چې د سهار څخه پیل شوې ده او اوس د اختتام په حالت کښې قرار لري).

یا په بل عبارت: که مونږ د دنیا عمر ته د ورځې په معیار باندې وګورو او فرض کړو چې ټول عمر یې د یوې ورځې د دقیقو سره مساوي دی، نو لکه څنګه چې نن ورځ اخر ته رسېدلې ده او په ساعت ګړی کښې به لمر ولوېږي او ورځ به ختمه شي همدارنګه د دنیا عمر هم پای ته رسېدلی دی چې په نژدې وخت کښې به قیامت قائم شي او دنیا به ورانه شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ﴾ کښې متبادره دا ده چې د "النّاس" څخه ټول خلک مطلب دي چې مؤمنان هم پکښې شامل دي څکه چې د قیامت ورځ لکه چې کفارو ته رانژدې شوې ده همدارنګه مؤمنانو ته هم رانژدې ده حال دا چې وروستني ضمائر لکه په ﴿وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ﴾ کښې یو هم د مؤمنانو سره مناسبت نه لري، چې دوی خو نه د قیامت د قیام څخه په غفلت کښې دي

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۴
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۳؛ تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۲۲۸
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او نه ترې اعراض کوونکي (انکار کوونکي) دي.

مونږ وایو: که څه هم د "النَّاس" کلمه مؤمنانو ته هم شامله ده مګر ضمائر ورته د کفارو په لحاظ سره راجع کړی شوي دي، یعنې ټولو خلکو ته د قیامت قیام نژدې دی مګر کفار پرې باور نه کوي.

او په محاورو کښې دا ډول استعمال زښت ډېر دی چې یوې کلمې ته د ځینو افرادو په اعتبار سره ضمائر راجع کړی شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نظائر ولولئ:

الف: په [البقرة:۲۲۸] ایت شریف کښې د ﴿ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ ﴾ کلمه ټولو طلاقو کړی شوو ښځو ته شامله ده، برابره خبره ده چې په رجعي طلاق سره طلاقي شوې وي او که په بائن طلاق سره، خو په ﴿ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ ﴾ کښې ورته ضمائر د هغو طلاقو شوو په لحاظ راجع کړی شوي دي کومو ته چې رجعي طلاق ورکړی شوی وي او بس ځکه چې بائنې مطلقې ته رجوع کول صحت نه لري ترڅو چې د نکاح تجدید ونه کړي او یا د بل چا سره نکاح ونه کړي.

ب: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه یوه پوښتنه د مچ په هکله روایت شوې ده چې محرم سړی یې ووژني[1] او بله پوښتنه ترې د ماشي په ارتباط رانقله شوې ده، چې مونږ د دوهمې پوښتنې په خلاصه باندې اکتفاء کوو، هغه دا چې یوه سړي ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

سړی: ایا په هغه محرم باندې څه فدیه شته کوم چې د احرام په حال کښې ماشی ووژني؟

ابن عمر ﷺ: ته د کوم ځای یې (چې خپل ځان ډېر زیات متقي رامعرفي کوې)؟

سړی: زه د عراق د اوسېدونکو څخه یم.

ابن عمر ﷺ: «انْظُرُوا إِلَى هَذَا يَسْأَلُنِي عَنْ دَمِ الْبَعُوضِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هُمَا رَيْحَانَايَ مِنَ الدُّنْيَا»[2] یعنې: دغه سړي ته وګورئ چې د ماشي د وینې پوښتنه کوي حال دا دی چې دوی (عراقیانو) د نبي کریم ﷺ زوی (المسمی حسین ﷺ) وژلی دی، او ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې: دوی دواړه (حسن ﷺ، حسین ﷺ) زما دپاره په دنیا کښې د کشمالو حیثیت لري.

نو په «وَقَدْ قَتَلُوا» کښې ټولو عراقیانو ته ضمیر راجع کړی شو چې دوی حسین ﷺ وژلی دی حال دا چې دا کار خو ټولو نه وه کړی بلکې ځینو عراقیانو د هغه په وینو باندې لاسونه سره کړي وه.

## د اسرار معنی او یو نحوي تحلیل

۴ــ په ﴿ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجْوَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ﴾ کښې د "أَسَرُّوا" کلمه د "إسرار" څخه اشتقاقه شوې ده چې د پټولو معنی ورکوي او د ﴿ ٱلنَّجْوَىٰ ﴾ کلمه هم پټ راز ته وایي، چې د خلکو څخه پټ وي، نو یوه کلمه د بلې دپاره تاکید واقع شوې ده.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۳۰
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۸۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[1]، که څه هم د ټولو تحلیلونو په مضمون کښې چندان اختلاف نشته او یوه شي ته راجع کېږي، مګر مونږ ته بهتر بریښي چې دا به د "أَسَرُّوا" د ضمیر څخه بدل واقع شوې وي، ترڅو دلالت وکړي چې د کفارو د فساد پټې مجالس د ظلم څخه منشا اخلي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: کفار ظالمان دي، هم په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي چې شرک یې غوره کړی دی او هم په نورو عوامو باندې ظلم کوي چې د اسلام د راوړلو مخه یې په هغو چلونو باندې نیسي کوم چې دوی یې په خپلو پټو مجالسو کښې غوټه کوي او په پټولو باندې یې تاکید کوي ترڅو نه په آینده کښې افشاء شي او نه څوک په دې باندې پوه شي چې هغه دی پټې مشورې ته ناست دی چې څه خبره به غوټه کړي؟.

د کفارو د پټو مجالسو غوټه کړی شوې خبره دا ده چې د الله ﷺ پیغمبر ته ساحر وایي او په قرآن کریم باندې د جادو نوم ږدي، که څه هم دوی خپل رازونه د خلکو څخه پټوي خو د الله ﷻ څخه یې نه شي پټولی.

## یادونه

۵- ﴿ بَلْ قَالُوٓاْ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍۭ ﴾ الآیة، په ﴿ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجْوَى ﴾ الآیة، باندې عطف دی نو حاصل یې داسې راځېږي چې: مشرکان د نبي کریم ﷺ او د قرآن کریم په طعن کښې په یوه خبره باندې نه ودرېږي، کله وریاندې د ساحر او سحر نومونه ږدي، او کله ورته د خوب لیدونکي او ګډوډو خوبونو د مجموعې لقبونه ورکوي او داسې نور.

اما ﴿ قَالَ رَبِّى يَعْلَمُ ٱلْقَوْلَ فِى ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ د معترضې جملې په شکل د هغې وینا حکایت دی کومه چې نبي کریم ﷺ د کفارو د پټو مجالسو په رد کښې کړې وه، یعنې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ کفارو ته وویلې چې: د دغو فسادي مجالسو څخه لاس واخلئ چې زما رب ﷻ په هر شي باندې پوه دی، که نه نو ډېر ژر به مو رسوا کړي، لکه چې همداسې وشوه او په افشاء کولو کښې یې ایتونه نازل شوه.

پاتې شوه د ﴿ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ﴾ تحلیل، نو دا د [یوسف:۴۴] ایت لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## کفار په یوه خبره ولاړ نه وه

۶- که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې په قرآن کریم باندې د مختلفو تورونو لګوونکي د کفارو مختلفې ډلې وې[2] چې چا به ورته د جادو (سحر) لقب ورکاوه او چا به د باطلو

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۸؛ المحرر الوجیز ج۱۷ ص۱۲۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۲۶۸
(۲) أضواء البیان ج۴ ص۶۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوبونو مجموعه باله او داسې نور، مګر مونږ ته د ايتونو د سياق (وړاندې) څخه ذهن ته راځي چې د القابو تعدد د قائلينو د تعدد څخه منځ ته نه دی راغلی بلکې چا چې ورته د جادو لقب ورکړی دی هغه ورته د باطلو خوبونو مجموعه هم ويلې ده، او داسې نور.

او دا څکه چې کفار په خپله يوه خبره باندې ولاړ نه وه بلکې هره يوه خبره به چې خولو ته ورغله په همغې باندې به يې تلفظ کاوه، او زور به يې لګاوه چې په قرآن کريم باندې يې وروتپې، خو په قرآن کريم پورې يوه هم نه نښتله او يوه هم ورسره نه شوه مطابقه کېدلی.

لنډه دا چې د القابو اضطراب د بطلان نښه وه که بالفرض د ذکرو شوو القابو څخه کوم يوه واقعيت درلودی نو کفارو به هم ورباندې استقرار نيولی وی او نورې اوتې بوتې به يې نه وی ويلې.

﴿ مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم مِّن قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآۖ أَفَهُمۡ يُؤۡمِنُونَ ۝٦ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ۝٧ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ۝٨ ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۝٩ لَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ كِتَٰبٗا فِيهِ ذِكۡرُكُمۡۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ۝١٠ ﴾

[۶] د دوی څخه مخکښې هيڅ قريې ايمان نه دی راوړی (کومې) چې مونږ هلاکې کړې دي (او فرمايشي معجزې ورکړی شوې وي)، ايا نو دوی به (د فرمايش د پوره کېدلو په صورت کښې) ايمان راوړي؟

[۷] او مونږ ستا څخه وړاندې (د پيغمبرانو په حيث) نه دی لېږلی مګر داسې سړی چې (زمونږ دپلوه به) ورته وحې کېده.

نو (ای مشرکانو!) تاسو د ذکر (د کتابونو) د خاوندانو څخه پوښتنه وکړئ که چرته تاسو ياست چې نه پوهېږئ (اهل الکتابو ته دا موضوع معلومه ده).

[۸] مونږ (پخواني) پيغمبران داسې جسدونه نه وه ګرځولي (جوړ کړي) چې طعام به يې نه خوړ (بلکې طعام به يې خوړ) او (هم) دوی نه وه (چې په دنيا کښې د قيامت د ورځې پورې) دوامداره اوسېدونکي وه.

[۹] بيا مونږ هغوی ته خپله وعده رښتيا کړه نو دوی ته او هغه چا ته مو نجات ورکړ کومو ته چې زمونږ اراده شوې وه او د حد څخه تجاوز کوونکي مو هلاک کړه.

[۱۰] يقيناً مونږ تاسو ته داسې کتاب (قرآن کريم) درنازل کړي دي چې: ستاسو عزت (او شرف) پکښې نغښتی دی، ايا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ (چې په خپل شرف باندې پوه شئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې دکفارو د هغو اشتباګانو رد نازل شوی دی کومې چې الله ﷻ په وړاندېنيو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اېتونو کښې د هغوی د خولو څخه حکایت کړي دي. هغه دا چې:
۱ـ محمد پیغمبر نه دی ځکه چې هغه بنیادم دی او پرښته نه ده.
۲ـ قرآن د جادو څخه په غیر بل شی نه دی.
۳ـ بلکې دا کتاب د ګډوډو خوبونو مجموعه ده.
۴ـ بلکې دا کتاب نوموړي د خپله ځانه په دروغو جوړ کړی دی.
۵ـ بلکې دا کتاب د نوموړي د اشعارو مجموعه ده او پخپله ښه پوخ شاعر دی.
۶ـ که خبره دغسې نه وی لکه چې مونږ یې وایو نو د پخوانیو پیغمبرانو غوندې دې یوه معجزه زمونږ په فرمایش باندې راوړي چې مونږ پرې باور وکړو.
نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د کفارو د دروغینو ویناګانو په رد کښې لاندې مطالب قرائت کړه:
۱ـ مونږ خو پخوانیو قومونو ته د هغوی فرمایشي معجزې ورلېږلې وې خو هغوی یوې ډلې هم ورباندې ایمان رانهووړ، چې په نتیجه کښې مو هغوی ټول پوپنا کړه مثلاً:
صالح ﷺ ته مو د ثمودیانو فرمایشي معجزه ورکړې وه خو کله چې هغوی ایمان رانه ووړ ټول مو هلاک کړه.
۲ـ نو پوښتنه دا ده چې: ایا ستا د امت کفار به ایمان راوړي البته کله چې د دوی فرمایش پوره کړی شي او هغه څه ورکړی شي د کوم چې دوی غوښتونکي دي؟
د دې پوښتنې جواب دا دی چې دوی به هم ایمان رانه وړي لکه څنګه چې هغوی په ایمان باندې مشرف نه شوه، نو بیا به په کار وي چې دوی هم د هغوی غوندې پوپنا کړی شي، حال دا چې د دې امت په هکله مونږ پخوا فیصله کړې ده چې په دوی باندې به بېخ ویستونکی عذاب نه ورښکته کوو، که نه نو د دوی فرمایش به مو پوره کړی وی او بیا به مو هلاک کړي وی.
۳ـ ای پیغمبره! که ته بنیادم یې او زمونږ د پلوه درته وحې کېږي نو دا خو څه د تعجب خبره نه ده، مونږ ستا څخه وړاندې هم د پیغمبرانو په حیث نه دی لېږلي مګر سړي (انسانان)، چې وحې به مو ورته کوله، او په نورو انسانانو باندې به یې همدغه امتیاز درلود.
نو که د دې زمانې کفارو ته همدا خبره دروغه برېښي نو ورته ووایه چې: تاسو د اهل الکتابو څخه پوښتنه وکړئ چې ایا رښتیا ستاسو پیغمبران بنیادمان وه؟ البته که تاسو پخپله په دغې مشهوره خبره باندې نه پوهېږئ نو د هغوی څخه خپل ځانونه پوه کړئ.
۴ـ مونږ خو پخواني پیغمبران داسې جسدونه نه وه ګرځولي چې خوراک او څښاک یې نه کاوه او د بنیادمانو په شان مادي ضروریات یې نه درلوده، یا په بل عبارت مونږ په پخوانیو پېړیو کښې هم پرښتې د پیغمبرانو په حیث نه وې ورلېږلې ترڅو نن ورځ دوی اعتراض وکړي چې د دې عصر پیغمبر ولې پرښته ونه ګرځوله شوه چې د قیامت تر ورځې پورې دوامداره عمر یې درلودی؟
۵ـ هو! پخواني پیغمبران بنیادمان وه او مونږ ورسره وعده کړې وه چې د تکذیب په صورت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې به په تکذیب کوونکو (کفارو) باندې بېخ ویستونکی عذاب ورښکته کړو چې:

په نتیجه کښې مونږ د هغوی سره خپله وعده رښتیا کړه چې پیغمبرانو او د دوی مخلصو امتیانو ته مو نجات ورکړ او د حده تجاوز کوونکي (کفار) مو هلاک کړه.

۶ـ نو ای پیغمبره! ستا او د پخوانیو پیغمبرانو فرق دا دی چې ذکره شوې وعده (چې د تکذیب په صورت کښې به ستا په امت باندې پوپنا کوونکی عذاب ورنازلوو) مو تاته نه ده درکړې او هغوی ته مو ورکړې وه.

د همدې کبله مو تاسو ته داسې کتاب درنازل کړی دی چې د قیامت د ورځې پورې به باقي وي چې ستاسو شرف او عزتمندي پکښې نغښتې ده، او بالآخره داسې یوه عظیم الشانه معجزه ده چې د ایمان راوړلو دپاره کفایت کوي او د بل هیڅ ډول معجزې فرمایش ته اړتیا نه پرېږدي؛ نو ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې د دې کتاب په دائمي اعجاز او هم په خپل شرف او عزتمندۍ باندې پوه شئ؟!.

## توضیحات

۱ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځې د مکې معظمې مشرکان راټول شوه او فیصله یې وکړه چې یو ټولګی مدینې منورې ته واستوي ترڅو هلته د اهل الکتابو څخه د نبي کریم ﷺ په هکله پوښتنه وکړي ځکه چې دوی اهل العلم دي نو یو ټولګی یې هلته واستاوه[١]، چې پوره بیان یې د [الإسراء:۸۵] ایت په شان نزول کښې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

په همدې بنیاد علماوو کرامو په دې مقام کښې په ﴿فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ﴾ کښې د ﴿أَهْلَ ٱلذِّكْرِ﴾ څخه یهود او نصارا مراد کړي دي[٢].

که څه هم د ذکرو شوو شپږو اشتباهګانو څخه الله ﷻ د دوه وو اشتباهګانو (اولې او شپږمې) په رد باندې صراحت هم کړی دی خو اشارةً یې شپږ واړه د همدغې جملې په نزول باندې ردې کړې دي. د ښه وضاحت دپاره یې لاندې صورتونه ولولئ:

الف: ای اهل الکتابو! مونږ ته رښتیا ووایاست چې ستاسو پیغمبران پرښتې وې او که بنیادمان وه؟

ب: ایا ستاسو کتابونه (تورات او انجیل) جادو وه او که الهي وحې وه؟

ج: ایا ستاسو کتابونه د ګډوډو خوبونو مجموعې وې؟

د: ایا ستاسو کتابونه ستاسو پیغمبرانو د خپلو ځانونو څخه په دروغو باندې جوړه کړي وه؟

هـ: ایا ستاسو پیغمبران شاعران وه؟ او کتابونه مو د هغوی د اشعارو دیوانونه وه؟

و: بالآخره، ای اهل الکتابو! ایا پخوانیو قومونو په فرمایشي معجزاتو باندې ایمانونه راوړه او که خپلو کفریاتو ته یې ادامه ورکړه؟ او هم د هغوی انجام څنګه شو؟ ایا د هلاکت سره مخامخ نه شوه؟

---

(١) تفسیر البغوي ج٣ ص١٣٤

(٢) روح المعاني ج١٧ ص١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوره واضحه ده چې په ذکرو شوو ټولو پوښتنو کښې جوابونه منفي دي، نو تاسو ته په کار دي چې دغه اتهامات په خپل پیغمبر (محمد ﷺ) باندې ورونه تپئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ذکرو شوو شپږو اشتباهګانو څخه اولنۍ اشتباه (چې پیغمبر باید پرښته وي) په لاندې دوه ټکو باندې رده شوې ده:

الف: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالاً ﴾ او مونږ ستاسو څخه وړاندې نه وه لېږلي مګر رجال ، چې د رِجَال کلمه د بنیادمانو د سړيو پورې مختصه ده او په پرښتو باندې يې اطلاق نه کېږي.

ب: ﴿ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدًا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ ﴾ يعني او مونږ پخواني پیغمبران داسې جسدونه نه وه ګرځولي چې خوراک او څښاک يې نه کاوه، چې ملکو پورې اختصاص لري.

نو پوښتنه دا ده چې: د ﴿ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ﴾ د جملې په نزول کښې څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: که څه هم علماوو کرامو پکښې څه نور اشارات ښودلي دي[1] مګر بهتره دا ده چې په ذکره شوې جمله کښې به د بنیادمانو يوه بل خاصیت ته اشاره وي، هغه دا چې بنیادمان په دنیا کښې د پرښتو په شان دوامدار نه شي پاتې کېدلی چې تر قیامته به ژوندي وي، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کوي چې: ﴿ وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبۡلِكَ ٱلۡخُلۡدَ ﴾ [الأنبياء:۳۴] يعني مونږ د تشریعي او تکویني حکمتونو په بنیاد ستا څخه وړاندې هم هیڅ بنیادم ته دوام نه دی ورکړی چې تر قیامته به ژوندی وي.

﴿وَكَمۡ قَصَمۡنَا مِن قَرۡيَةٖ كَانَتۡ ظَالِمَةٗ وَأَنشَأۡنَا بَعۡدَهَا قَوۡمًا ءَاخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّآ أَحَسُّواْ بَأۡسَنَآ إِذَا هُم مِّنۡهَا يَرۡكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرۡكُضُواْ وَٱرۡجِعُوٓاْ إِلَىٰ مَآ أُتۡرِفۡتُمۡ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُسۡـَٔلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلۡكَ دَعۡوَىٰهُمۡ حَتَّىٰ جَعَلۡنَٰهُمۡ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾ ﴾

[۱۱] او څومره ډېر ښارونه مونږ په داسې حال کښې چیت پیت (هلاک) کړي دي چې هغوی به ظلم (کفر) کوونکي وه، او (څومره ډېر) نور قومونه مو ترې وروسته پیدا کړي دي (او د هغوی خایونه مو ورباندې ډک کړي دي).

[۱۲] نو هر کله به چې هغوی زمونږ عذاب حس کړ (ولیده) نو ناڅاپه به د خپلو ښارونو څخه ښتېدل.

---

[1] تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۲۷۲؛ تفسیر ابي السعود ج۶ ص۵۷؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳] (هغوی ته به ویل کېدل چې:) مه تښتئ او هغه شي ته بېرته ورتاو شئ په کوم کښې چې تاسو ته (اسودګي او خوشالي) درکړی شوي وه، او (همدارنګه) خپلو استوګنځایونو ته (ورو ګرځئ) شاید چې ستاسو څخه (یو ځل بیا ایمان راوړل) وغوښتلی شي (او تاسو یې اجابت وکړئ).

[۱۴] هغوی به (په جواب کښې) ویل چې: ای زمونږ افسوسه! (راشه همدا دې وخت دی) یقینًا مونږ ظالمان وو (ځکه د دغه عذاب سره مخامخ شوو).

[۱۵] دغې وینا به یې (چې مونږ ظالمان وو) تر هغې ادامه درلوده چې مونږ به لو کړی شوي یخ پخ وګرځول (او هلاک به مو کړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې پخوانیو ځینو قومونو فرمایشي معجزې هم نه وې منلې نو هغوی مو هلاک کړي وه، په دې ایتونو کښې یې د هلاکت په حال باندې یوه تبصره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! د ظلمونو او کفریاتو د کبله مونږ په پخوانیو زمانو کښې زښت ډېر ښارونه او کلي وران کړي دي او کوم ظالمان به چې پکښې اوسېده هغوی مو چیت پیت او هلاک کړي دي.

۲ـ خو بالمقابل مو نور قومونه پیدا کړي دي او ویجاړ شوي ښارونه مو ورباندې بیا اباد کړي دي، یا په بل عبارت د هغوی په هلاکت باندې دنیا ورانه نه شوه لکه چې د هغوی خیال وه بلکې په نورو خلکو باندې اباده کړی شوه، نو که مونږ د دې زمانې ظالمان او کفار هلاک کړو د دوی په هلاکت به هم دنیا ورانه نه شي او په عوض به یې نور خلک پیدا کړو او دنیا به پرې اباده کړو.

۳ـ هغوی د هلاکت تر وخته پورې په خپلو ښارونو کښې په زیات تکبر سره اوسېده او په خیال کښې یې نه ورتله چې د کبر کاسه به یې نسکوره شي خو چې کله به هغوی زمونږ عذاب ولید چې ور ورسېد نو د لاندې کیفیت سره به مخامخ شوه:

الف: نا څاپه به دوی په ځغاسته شروع وکړه چې د عذاب څخه به په منډې نجات مونده کړي.

ب: په عین حال کښې به دوی ته ویل کېده چې مه تښتئ د خپلو اسودګیو ځایونو ته بېرته ورتاو شئ؟ تاسو خپلې بنګلې او دنګې ماڼۍ چاته پرېښودلې؟، دا خو هغه تعمیرات او ښارونه دي په کومو باندې چې ستاسو د همېشه والي ګومان وه.

ج: بېرته ورتاو شئ شاید چې ستاسو څخه یو ځل بیا د ایمان راوړلو غوښتنه وکړی شي، نو دا ځل به یې تاسو اجابت وکړئ او په ایمان باندې به مشرف شئ چې په نتیجه کښې به د عذاب څخه نجات مونده کړئ.

د: نو په دغه حال کښې به یې په لوړو اوازونو باندې چیغې وهلې چې: ای زمونږ حسرته او ای زمونږ افسوسه راشه چې همدا دې وخت دی یقینًا مونږ ظالمان وو او په کفر باندې کلک وو نن ورځ مونږ ته نه مددګار شته او نه څوک نجات راکولی شي او بالآخره نه مو ایمان د قبول درجې ته رسېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: د ذکرو شوو ظالمانو به همدغه د افسوس خبره په خولو وه، او د کوکارو او چیغو اوازونه به بې پورته کېده چې مونږ به ټول پوپنا کړه، تا به ویل چې نباتات لو کړی شوي دي، او ټول به مو په ځمکه باندې یخ پخ وغورزول تا به ویل چې د خرماوو ډډونه پراته دي، نو د دغه وخت چیغو او فریادونو به ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ ﴾ کښې د ﴿ قَصَمْنَا ﴾ کلمه د "قصْم" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "قصْم" د یوه کلک شي ماتولو ته ویل کېږي چې یوه ټوټه یې د بلې څخه جدا شي[1]، یعني مونږ ډېر کفار او ظالمان تار په تار کړي (هلاک کړي) دي او ښارونه مو ورباندې ورچپه کړي دي، البته کله به چې هغوی خپل ظلم او کفریاتو ته ادامه ورکړه، نو ایا د دې زمانې ظالمان د هغوی څخه عبرت نه اخلي؟

۲ـ د ﴿ يَرْكُضُونَ ﴾، ﴿ لَا تَرْكُضُوا ﴾ دواړه کلمې د "رَكْض" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اخستلې شوې دي، "رَكْض" خو اصلاً دې ته وضعه شوی دی چې سړی ځمکه په پښه باندې ووهي[2] چې په پښتو کښې ورته لغته وايي، خو په دې مقام کښې ترې تښتېدل او ځغاسته مطلب ده چې څوک د عذاب څخه وتښتي[3].

پاتې شوه دا چې دغو معذبینو ته به د چا د پلوه ویل کېده چې مه تښتئ بېرته هغو ځایونو ته ورتاو شئ په کومو کښې چې تاسو ته بې شماره نعمتونه درکړی شوي وه او ښه اسوده ژوند مو پکښې کاوه؟، نو په دې کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[4] چې د ټولو اجتماع هم څه منافات نه لري، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هغوی ته به د حال په ژبه ذکره شوې وینا کېدله، یا په بل عبارت هغوی د دې لایق وه چې دغه خبره ورته ویل شوې وی.

ب: د پرښتو د پلوه به په دغې خبره باندې د استهزاء په توګه مخاطب ګرزول کېدل.

ج: کوم مسلمانان چې هلته د عذاب څخه بچ پاتې وه هغوی به ورته دغه خبره کوله.

د: الله ﷻ به هغوی ته په عین وخت کښې دغه خبره په زړونو کښې وراچوله.

ه: څینو معذبینو به څینو نورو ته ذکره شوې وینا کوله.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴾ کښې څرنګه پوښتنه مطلب ده چې معذبینو ته به

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۴۸۵
(۲) مفردات الراغب ص۲۰۸
(۳) لسان العرب ج۷ ص۱۵۹
(۴) روح المعاني ج۱۷ ص۱۶؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۰۵؛ تفسیر المدارک ج۲ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تمه ورکوله کېده چې درڅخه به وکړه شي؟

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې په تعین کښې علماوو کرامو زښتې ډېرې توجیهګانې کړې دي[1] لاندې مثالونه یې د نظره تېر کړئ:

الف: د استهزاء او مسخرو په ډول به دوی ته ویل کېده چې:

اول: شاید ستاسو خدمتګاران او چوپړیان درڅخه هدایت وغواړي چې په کوم کار باندې شروع وکړو؟، تاسو مونږ ته کوم امر کوئ.

دوهم: شاید چې فقیران او سوالګري ستاسو څخه څه وغواړي چې کومک راسره وکړئ.

درېم: شاید چې ستاسو څخه ځینې خلک د خپل عادت په بنیاد مشورې وغواړي.

ب: شاید چې ستاسو څخه د عذاب په مقابل کښې څه فدیه وغوښتله شي چې د هغې په منلو سره به د هلاکت څخه بچ شي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې د پوښتنې توجیه داسې وکړی شي چې:

ج: شاید چې ستاسو څخه یو ځل بیا وغوښتلی شي چې د کفریاتو څخه لاس واخلئ او په ایمان باندې مشرف شئ، نو دا ځل به یې قبول کړئ او د عذاب څخه به نجات ومومئ.

په همدې توجیه باندې دا تعقیب دلالت کوي چې: ﴿ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾ یعنې افسوس چې مونږ ظالمان وو، د قبول وخت راڅخه تېر شوی دی او لاس ته نه راځي.

﴿ وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا لَٰعِبِينَ ١٦ لَوۡ أَرَدۡنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهۡوٗا لَّٱتَّخَذۡنَٰهُ
مِن لَّدُنَّآ إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ ١٧ بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ
وَلَكُمُ ٱلۡوَيۡلُ مِمَّا تَصِفُونَ ١٨ ﴾

[۱۶] او مونږ اسمان او ځمکه او (هم) هغه شیان کوم چې د دواړو ترمنځ دي په داسې شان سره نه دي پیدا کړي چې مونږ لوبې کوونکي یاستو.

[۱۷] که (بالفرض المحال) مونږ اراده کړې وی چې (څه عبث) مشغولتیا ونیسو نو هرومرو به مونږ د خپله نزده (د خپل اقدس ذات سره) نیولې وی (او دنیا به مو نه وی پیدا کړې). که مونږ (د دغه کار) کوونکي وی (نو دغسې به مو کړي وی).

[۱۸] بلکې مونږ حق په باطل باندې په شدت سره ورولو چې د باطل کوپړۍ ماتوي (او ماغزه یې شیندي) نو ناڅاپه باطل نابود شوی وي (او تالا ترغه شوی وي).

او خاص تاسو ته (ای کفارو!) د هغو ویناوو څخه افسوس دی کومې چې تاسو (د الله ﷻ په هکله) بیانوئ (چې دنیا یې عبث پیدا کړې ده).

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۴۲؛ المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۲۶؛ التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه اشتباه رده شوې ده د کومې د کبله چې پخواني کفار قومونه هلاک شوي وو، هغه دا چې د دنیا ژوند لهو او لعب دی او په انجام کښې کوم حساب کتاب او تصفیه نه لري نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د کفارو اشتباه رده کړه او لاندې مطالب ورباندې قرائت کړه چې:

۱ـ مونږ اسمان او ځمکه او څه چې د دغو دواړو تر منځ موجودیت لري په داسې شان سره نه دي پیدا کړي چې مونږ ورباندې لوبې کوونکي یاستو او د ساتېرۍ او مشغولتیا څخه په غیر پکښې بل مطلب نه وي، بلکې دا پیدا کول د حکمت په بنیاد ولاړ دي.

۲ـ که بالفرض المحال مونږ اراده کړې وی چې د خپل اقدس ذات دپاره څه لوبه او څه مشغولتیا جوړه کړو چې محض ساتېري مو پکښې په نظر کښې وی او بس، او یا بالفرض المحال که دغه کار زمونږ سره مناسب وی نو دا کار به مو د خپله ځانه سره کړې وی، نه به مو اسمانونه پیدا کړي وی او نه ځمکې او بالآخره نه هغه شیان کوم چې د دواړو ترمنځ موجودیت لري.

یا په بل عبارت: که مونږ د لوبو او مشغولتیا کوونکي وی نو دغسې به مو کړي وی لکه چې وراندې تېر شوه، نو دنیا به مو د حق او د باطل د ټکر میدان نه وی جوړه کړې او نه به مو د دغې مبارزې د تصفیه کولو دپاره د قیامت ورځ ټاکلې وی.

۳ـ نو خبره دغسې نه ده لکه چې کفار خیال کوي بلکې خبره دا ده چې دنیا د حق او د باطل د جنګ میدان ده، نو:

الف: په دغې معرکه کښې مونږ حق په باطل باندې ورولو او د باطل ماغزه ورباندې وباسو، یا په بل عبارت: باطل د څه وخته پورې د حق سره مقابله کوي خو په نتیجه کښې باطل نابودېږي او مضمحل (تالا ترغه) کېږي.

ب: ای پیغمبره! کفارو ته زمونږ د پلوه ووایه چې: تاسو ته افسوس او حسرت دی البته د هغو خیالاتو د کبله کوم چې تاسو یې بیانوئ او هم ورباندې اعتماد کوئ.

نو څه لرې نه ده چې تاسو هم د پخوانیو کفارو په شان یوه ورځ د ﴿ يَـٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَـٰلِمِينَ ﴾ په کلماتو باندې اوازونه پورته کړئ.

## توضیحات

۱ـ مونږ ـ لله ﷻ الحمد والمنة ـ د [الأنعام: ۳۲] ایت لاندې د لهو او لعب معناوې شرحه کړې دي چې بیا شرحه کولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

۲ـ د ﴿ لَوْ أَرَدْنَآ أَن نَّتَّخِذَ لَهْوًا ﴾ الآية، اکثرو علماوو کرامو په هغه مضمون باندې تفسیر کړی دی په کوم باندې چې په راتلونکي [۲۶] ایت کښې صراحت شوی دی چې الله ﷻ د ولدیت څخه پاک

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او منزه دی[۱]. او ځینو نورو په نورو ډولونو باندې تفسیر کړی دی[۲].

مګر کوم مضمون چې مونږ ته په دې مقام کښې بهتر برېښي او د متصل ایت ﴿ بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ ﴾ الآیة، سره په ډېره ښه توګه پیوند نیسي هغه ته د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده او څه زیات وضاحت یې دا دی چې:

که بالفرض المحال مونږ د خپل ځان دپاره څه د لوبو او مشغولتیا صحنه جوړولی نو څه اړتیا نه وه چې اسمان او ځمکه او هم انسانان مو پیدا کړي وی، او داسې مخلوقات مو پکښې خواره واره کړي وی چې د نیکو او بدو دواړو استعدادونو درلودونکي وی، او همدارنګه دې ته هم څه ضرورت نه وه چې مونږ جنت او دوزخ پیدا کول او د حساباتو د تصفیه کولو دپاره مو د قیامت ورځ قائمولهٔ، او دنیا مو د حق او باطل د جنګ میدان جوړوله.

که دغه کار مونږ کولی نو د خپل اقدس ذات سره به مو د لهو او لعب سامان آلات پیدا کړي وی او دنیا به مو نه وی پیدا کړې، خو دغه ډول کار نه د حکمت غوښتنه ده او نه زمونږ سره څه مناسبت لري.

## د درېوو لغاتو معناوې

۳_ په ﴿ بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ﴾ کښې د درېوو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د ﴿ نَقۡذِفُ ﴾ کلمه د "قَذْفٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې په قوت سره د یوه شي د ویشتلو دپاره وضعه شوې ده[۳].

ب: د "یَدْمَغُهُ" کلمه د "دَمْغٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اخستله شوې ده چې د سر د کوپړۍ ماتولو ته ویل کېږي آن چې ماغزه ترې تیت پرک شي[۴].

ج: د ﴿ زَاهِقٌ ﴾ کلمې د "زُهُوْق" _لکه "قُتُوْل"_ څخه اشتقاقه موندلې دی چې د اِضمِحْلال (تالا ترغه) کېدلو معنی ورکوي[۵].

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: مونږ دنیا د لوبغاړو د لوبو میدان نه دی ګرځولی بلکې د حق او باطل د جنګ میدان مو جوړ کړی دی، چې حق په باطل باندې په شدت سره ورولو او د باطل کوپړۍ پرې ورماتوو او ماغزه یې پرې وباسو چې زمونږ په همدغه عمل سره باطل د منځه ځي او تالا ترغه ګرځي ته به وایې چې هیڅ موجودیت یې نه درلود.

---

(۱) تفسير الطبري ج۱ ص۱۰؛ تفسير القرطبي ج۱۱ ص۲۷۶؛ تفسير البغوي ج۳ ص۲۴۰
(۲) في ظلال القرآن ج۴ ص۲۳۷۱
(۳) لسان العرب ج۹ ص۲۷۷
(۴) لسان العرب ج۹ ص۴۲۴
(۵) لسان العرب ج۱۰ ص۱۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۹] او خاص الله ﷻ ته هغه څوک دی کوم چې په اسمانونو کښې دي او (کوم چې) په ځمکو کښې دي (ټول یې ملکیت دی).

او هغه څوک چې د ده ﷻ په نزد دي (او د پرښتو څخه عبارت دي) د ده ﷻ د عبادت څخه سرکشي (تکبر) نه کوي او نه (یې د عبادت څخه) ستومانه کېږي.

[۲۰] همدوی (پرښتي) شپه او ورځ (د دائم دپاره الله ﷻ ته) په داسې حال کښې د پاکۍ او تنزیه نسبت کوي چې نه سستېږي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

کوم مضمون ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه چې الله ﷻ دنیا عبثه نه ده پیدا کړې د همغه مضمون څه دلایل په دې ایتونو کښې نازل شوي دي نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! الله ﷻ دنیا عبثه او بې حکمته نه ده پیدا کړې لکه چې کفار خیال کوي، ځکه چې:

۱_ هرڅوک چې په اسمانونو کښې دي او هرڅوک چې په ځمکو کښې دي دوی ټول د الله ﷻ ملکیت او عبادت کوونکي دي، حتی چې د کفارو بدنونه هم بلا اختیاره د ده ﷻ په عبادت کښې مشغول دي، خو دوی د اختیاري عبادت څخه غاړې غړوي، نو ایا خپل رب ﷻ ته بندګي کول عبث او بې حکمته کار دی؟

۲_ هغه څوک چې د الله ﷻ په نزد منزلت لري چې د پرښتو څخه عبارت دي هغوی د الله ﷻ د عبادت څخه نه سرکشي کوي او نه ترې خپل ځانونه لوړ او پورته ګڼي بلکې د همېشه دپاره یې په تواضع سره په عبادت کښې مشغول دی او نه ستومانه کېږي، ایا دغه کارونه عبثیات دي؟

۳_ بلکې دوی د همېشه دپاره د خپل رب ﷻ تسبیحات وایي چې هیڅ سستي ورباندې نه ورځي، ایا د خپل رب ﷻ تسبیحات ویل عبثیات ګڼلی شي؟

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ په ارتباط مونږ دومره پوهېږو چې دلته پرښتې، انسانان او هم پیریان موجودیت لري، اما زمونږ پوهه په همدغو درېواړو ډلو کښې د حصر په توګه نه ده څه لرې نه ده چې الله ﷻ دلته نور د عقل خاوندان هم پیدا کړي وي خو مونږ به ورباندې علم نه لرو[۱].

## د پرښتو تسبیح او زمونږ تنفس

۲_ یوه ورځې د کعب الاحبار علیه الرحمة څخه چا پوښتنه وکړه چې: ایا د خبرو په کولو سره او یا د یوه

(۱) في ظلال القرآن ج۴ ص۲۳۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رسالت په رسولو سره د پرښتو تسبیحات نه قطعه کېږي چې الله ﷻ د دوی په هکله فرمایلي دي چې: ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ﴾ پرښتې شپه او ورځ (ټول اوقات) تسبیحات وایي او نه ستړې کېږي؟

نوموړي تابعي علیه الرحمة جواب ورکړ چې د پرښتو تسبیحات داسې مثال لري لکه زمونږ تنفس[1]، چې نه ترې د یو کار په کولو باندې غافلېږو او نه پرې د خبرو کول یا اوده کېدل څه اثر اچوي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا د دغه ایت شریف څخه نه فهمېږي چې پرښتې د بنیادم څخه بهترې دي، لکه چې خینو مفسرینو کرامو ترې همدغه افضلیت فهم کړی دی[2]؟

مونږ وایو: که څه هم پرښتې دوامداره د الله ﷻ په تسبیحاتو باندې مشغولې دي او هیڅ وخت ترې نه غافلېږي، مګر عدم غفلت یې اختیاري نه دی بلکې طبعي شی دی لکه چې زمونږ دپاره تنفس طبعي دی، نو څکه دا ایت چې بحث پکښې روان دی د پرښتو په افضلیت باندې دلالت نه کوي.

﴿ أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ﴿٢١﴾ لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾ لَا يُسۡـَٔلُ عَمَّا يَفۡعَلُ وَهُمۡ يُسۡـَٔلُونَ ﴿٢٣﴾ ﴾

[۲۱] ایا مشرکانو د ځمکې څخه معبودان نیولي دي چې دوی د قبرونو څخه مړي راپورته کوي (بې روحه شیانو ته روح ورکوي)؟

[۲۲] که چرته (بالفرض المحال) په دواړو (ځمکو او اسمانونو) کښې د الله ﷻ څخه په غیر (نور په حقه) معبودان (یا کوم یو په حقه معبود) موجود وی، نو ضرور به (ځمکې او اسمانونه) دواړه فاسد شوي وی (او نظام به یې خراب شوی وی).

نو الله ﷻ ته چې د (لوی) عرش خاوند دی د هغه څه څخه پاکي ده چې مشرکان یې بیانوي.

[۲۳] د الله ﷻ څخه د هغه شي پوښتنه نه شي کېدلی کوم چې پخپله یې کوي، او بندګان چې دي (د الله ﷻ د پلوه) ترې تپوس کول کېږي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې په اسمانونو او په ځمکو کښې هرڅوک د الله ﷻ مملوک او مخلوق دی او پرښتې یې دوامداره تسبیحات وایي. په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی چې د مخلوقاتو څخه هیڅوک د الوهیت لیاقت نه لري. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! مشرکانو ته د شرکي عقیدې د ابطال دپاره لاندې دلایل واوروه:

۱ـ ایا مشرکانو د ځمکې څخه داسې شیان په الوهیت سره نیولي دي چې د قبرونو څخه مړي هم راپورته کولی شي؟ ایا د دوی معبودان په ځمکه کښې نه منحل کېږي؟

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۷۵ : الدر المنثور ج۵ ص۶۲۱
(۲) التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اپاسین لخوا سکین شو


ايا هغه څوک چې پخپله مړ کېدونکي وي په حقيقي معناوو کښې معبود ګرځېدلى شي؟ بالآخره: ايا د دوى معبودان کوم شي ته روح وربښلى شي؟

۲ـ که بالفرض المحال يوازې په ځمکه کښې نه بلکې که چرته په ځمکې او اسمان دواړو کښې د الله ﷻ څخه پرته په حقه معبودانو موجوديت درلودى او تصرف يې هم کولى شوى نو د دواړو کښې به خراب شوي وي او يو به هم په هغه نظام باندې باقي نه وي پاتې شوى په کوم باندې چې د خلقت څخه نيولې آن تر نن ورځې پورې مليارد‌ونه-ملياردونه کلونه جاري دي، ضرور به د متعددو معبودانو ترمنځ اختلاف واقع شوى وى، يوه به په يوه ډول نظام چلول غوښتى او بل به په بل ډول نظام خوښولى نو په نتيجه کښې به موجوده نظام د منځه تللى وى.

لنډه دا چې د ځمکو او اسمانونو د نظام بقاء په دې دلالت کوي چې د الله ﷻ څخه په غير نه بل څوک حقيقتاً معبود شته او نه بل د ازلي ارادې خاوند موجوديت لري.

نو الله ﷻ ته چې د اسمانونو او ځمکو لا څه چې د عرش عظيم رب دى، د هغو کفرياتو او شرکياتو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان يې بلا دليله بيانوي او د خولو څخه يې راوباسي.

۳ـ نو د همدې کبله چې د الله ﷻ سره شريک نشته د ده ﷻ څخه پوښتنه نه کېږي چې دا دې ولې وکړه؟ او دا دې ولې ونه کړه؟

که بالفرض المحال شريک يې درلودى نو ضرور به ترې پوښتنې هم صورت نيولى وى او ضرور به د سوال جواب سلسله په جنګ او جګړه باندې ختمه شوې وى، او نظام به د منځه تللى وى، ځکه چې په دغې فرضيه کښې خو به شريک يا شريکان هم د قدرت خاوندان وي.

هو! د باطلو معبودانو په شمول ټول مخلوقات د الله ﷻ د پلوه د پوښتنې او استنطاق لاندې واقع کېدلى شي چې دا دې ولې کړي دي؟ او دا دې ولې نه دي کړي؟ نو څرنګه دوى کامل قدرت نه لري نو د سوال جواب څخه جګړه هم نه جوړېږي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةً مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ هُمۡ يُنشِرُونَ ﴾ کښې لاندې اشتباهګانې صورت نيولى شي:

الف: يوه دا چې د مشرکانو د باطلو معبودانو معبوديت خو مطلقًا منکر او بد کار دى، برابره خبره ده چې په ځمکه کښې موقعيت ولري او که په اسمان کښې. نو پوښتنه دا ده چې: د ﴿ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ کلمې په نزول کښې څه حکمت دى؟

د دې اشتباه د جوابولو په هکله علماوو کرامو ليکلي دي چې دغه کلمه د دې دپاره نازله شوې ده چې د باطلو معبودانو حقير نوعيت تشخيص شي، چې د ډبرو او نورو ځمکنې شيانو څخه جوړ کړى شوي دي، او په هيڅ وجه پکښې د معبوديت لياقت نشته[۱]، (تخصيص پکښې مطلب نه دى).

---

[۱] تفسير القاسمي ج۱۱ ص۲۴۱؛ روح المعاني ج۱۷ ص۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکر شوي تشخیص نظیر په هغه سوال جواب کښې نغښتی دی کوم چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د یوې وینځې سره کړی وه. هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ: «أَيْنَ اللهُ؟» الله ﷻ چرته دی؟.

وینځه: «فِي السَّمَاءِ» الله ﷻ په اسمان کښې دی.

نبي کریم ﷺ: «مَنْ أَنَا؟» زه څوک یم؟.

وینځه: «أَنْتَ رَسُولُ اللهِ» ته د الله ﷻ را استولی شوی بنده یې.

بیا نبي کریم ﷺ د وینځې مالک (بادار) مخاطب کړ چې: «أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ»(۱) یعنې ازاده یې کړه ځکه چې یقینًا دا وینځه ایمانداره ده (کفاره ورباندې خلاصیږي).

لنډه دا چې نبي کریم ﷺ د نوموړې وینځې د وینا څخه په «فِي السَّمَاءِ» باندې دلیل ونیوه چې دا د بوتانو څخه بېزاره ده چې د ځمکې د جنس څخه جوړ شوي دي او همدلته موقعیت لري، که نه نو الله ﷻ خو لا مکان دی او په علم او قدرت سره یې په ټولو مکانونو او ټولو مکانیاتو باندې احاطه کړې ده چې نه مکان ته احتیاج دی او مکانیاتو ته.

ب: بله دا چې په ایت شریف کښې بوت پرستي په دې باندې هم رده شوې ده چې: ایا ځمکني باطل معبودان (بوتان) کولی شي چې د قبرونو څخه مړي ژوندي راپورته کړي؟ کله چې دا کار نه شي کولی نو د معبودیت لیاقت او استحقاق هم نه لري حال دا چې الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه حکایت کوي چې ﴿ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِىَ رَمِيمٌ ﴾ [یس:۷۸] یعنې هغه به څوک وي چې وراسته هډوکي بېرته راژوندي کړي، نو پوښتنه دا ده چې: ایا په دوی باندې ذکر شوی تردیدي الزام لګېدلی شي چې دوی ترې بالکل انکار کوي؟

مونږ وایو چې:

اول: د دې اشتباه د جوابولو دپاره ځینو علماوو کرامو لیکلي دي(۲) چې د مړو ژوندي کول د الوهیت لازم صفت دی نو اګر که مشرکان ورباندې معتقد نه وه خو ادعاء داسې وګڼل شوه لکه چې دوی ورباندې معتقد وي، او بیا ورته ذکر شوی رد د الزام په توګه متوجه کړی شوی دی.

دوهم: مګر مونږ ته په جواب کښې دا هم بده نه برېښي چې په مشرکانو کښې به یوې داسې ډلې هم موجودیت درلود چې د قدرت څخه به یې انکار نه کاوه بلکې دوی به ویل چې الله ﷻ د مړو د بیا ژوندي کولو قدرت لري خو د دې قدرت څخه کار نه اخلي او مړي نه راژوندي کوي، لکه چې الله ﷻ د دوی څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾ [النحل:۳۸] یعنې مشرکان په الله ﷻ باندې سوګندونه کوي کلک سوګندونه چې الله ﷻ به هغه څوک د قبرونو څخه راپورته نه کړي کوم چې مړه شوي دي اګر که قدرت ورباندې لري.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۰۴

(۲) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې تقدير به د دې الزام حاصل داسې راوخېژي چې: ايا مشركان په خپلو ځمكنيو باطلو معبودانو باندې دا عقيده كولى شي چې دوى د مړو په راژوندي كولو باندې توان لري، لكه چې په الله ﷻ باندې همدغه عقيده لري، خو د تعميل څخه يې انكار كوي.

درېيم: په دې باندې علاوه په جواب كښې دا خبره هم احتمال لري چې: د ﴿يُنشِرُونَ﴾ كلمه د هغه "إِنْشَار"_لكه "إِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې وي كوم چې د ژوندي كولو معنى وركوي برابره خبره ده چې پخواني مړه شوي وي لكه چې د قيامت په ورځ به د قبرونو څخه راپورته كېږي او يا يوه بې روحه شي ته روح وركړى شي.

نو په دې اعتبار باندې يې بايد حاصل يې داسې واخستلى شي: مشركانو چې كوم ځمكني معبودان نيولي دي، ايا دوى څه شي ته روح وركولى شي؟ ايا دوى په يوه ماشي كښې روح اچولى شي؟ لكه چې الله ﷻ ټوله دنيا ژوندۍ كړې ده، او دوى ټول پرې اعتراف هم كوي.

## برهان التمانع

۲_په ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾ كښې الله ﷻ د خپل وحدانيت يوه عقلي دليل ته اشاره كړې ده چې په ډېرو وجيزو كلماتو كښې نازل شوى دى، خو علماوو كرامو پكښې ډېر اوږده بحثونه كړي دي[۱]، چې په همدغو وجيزو كلماتو كښې د ټولو بحثونو دپاره استعداد شته او د عاقلانو د ټولو طبقاتو مراعات پكښې ساتلى شوى دى، يا په بل عبارت كه څوك غواړي چې خپل بحث پكښې هرڅومره اوږد كړي پكښې اوږدولى يې شي، او كه څوك غواړي چې په لنډ مطلب باندې اكتفاء وكړي نو هم خپل مطلب لاس ته ورو‌ړلى شي او هيڅ اشكال پكښې نه پاتې كېږي، نو هرڅوك ترې د خپل ذهني استعداد په اندازه ګټه پورته كولى شي.

كه څوك د اوږدو بحثونو شوق لري نو هيله ده چې اوږدو كتابونو ته مراجعه وكړي خو مونږ په دې مقام كښې د تفسير هغه طريقه غوره كوو كومه چې عام الفهمه ده او څه دقيقو علومو ته ضرورت نه لري نو حاصل يې داسې اخلو چې:

كه بالفرض په ځمكو او اسمانوكښې د الله ﷻ څخه په غير نورو په حقه معبودانو موجوديت درلودى نو دوى به ضرور تصرف كوونكي او پيدا كوونكي وى، كه داسې نه وي نو په حقه معبودان به نه وى، او كله چې دوى تصرف كوونكي وى نو ضرور به د ځمكو او اسمانونو نظام خراب شوى وى چې هر يوه به د خپلې ارادې مطابق پيدا كول او تصرف كولى چې د يوه تصرف به د بل د تصرف مناقض واقع كېدلى او په جنګ او جګړه باندې به يې خاتمه موندلى او پوره واضحه ده چې په دغه رخت كښې به دغه موجوده نظام چې د يوه خالق څخه نمايندګي كوي د منځه تللى وي او په خپل حال به نه وى پاتې شوى، نو كله چې دا نظام باقي پاتې دى معلومه شوه چې د الله ﷻ څخه په غير نور په حقه معبودان بالكل موجوديت نه لري.

---

[۱] روح المعاني ج۱۷ ص۲۳؛ التفسير الكبير ج۲۲ ص۱۵۰؛ تفسير القاسمي ج۱۱ ص۲۴۲؛ شرح المقاصد ج۲ ص۶۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکر شوی مضمون د نورو ایتونو څخه هم فهمېږي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ﴾ [الإسراء: ۴۲]، د دې ایت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفيق ليکلي دي چې ځينې علماء کرام يې داسې معنی کوي چې: ای پيغمبره! مشرکانو ته ووايه که بالفرض المحال د الله ﷻ سره نور په حقه معبودان وی لکه چې دوی يې وايي نو په دغه وخت کښې به ضرور دغو معبودانو د عرش العظيم خاوند ته د جنګ لاره خپله کړې وی، (ضرور به جګړه واقع شوې وی او په نتيجه کښې به نظام ګډوډ شوی وی).

ب: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنۡ إِلَٰهٍۚ إِذٗا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهِۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖۚ ﴾ [المؤمنون: ۹۱] يعنې او د الله ﷻ سره بل په حقه معبود نشته که بالفرض المحال بل معبود يا نور معبودان ورسره وی نو په دغه وخت کښې به هر يو معبود هغه شی وړی (جدا) کړی وی کوم يې چې پيدا کړی وی (د هر يو معبود مخلوق به د بل معبود د مخلوق څخه بېل وی او خلط ملط به نه وی). او همدارنګه به ځينو معبودانو په ځينو نورو باندې اوچتوالی او غلبه غوښتی. نو په نتيجه کښې به مغلوب معبود د الوهيت څخه وتلی وی، او که دواړه سمسکي پاتې شوې وی نو دواړه به د الوهيت څخه وتلي وی، ځکه چې په دې صورت کښې به يوه هم د مطلقې غلبې خاوند نه وی جوړ شوی او حقيقي (په حقه) معبود هغه څوک کېدلی شي چې د مطلقې غلبې خاوند وي، او بالکل مثل او سيال ونه لري.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په ﴿ لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا ﴾ کښې د متعددو باطلو معبودانو د بطلان برهان بيان شوی چې د ﴿ ءَالِهَةٌ ﴾ کلمه جمعه ده او د جمعې افراد اقلاً بايد درې وي، نو پوښتنه دا ده چې: د يوه باطل معبود او يا د دوه وو باطلو معبودانو د ابطال برهان څه شی دی؟

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې دوه مطلبونه مرموز دي:

الف: يو دا چې د حقو معبودانو تعدد نشته برابره خبره ده چې تعدد په يوه معبود سره وي يا په دوه وو سره او يا په درېوو او ډېرو سره وي، خو الله ﷻ د درېوو او يا ډېرو د تعدد په ابطال باندې ځکه صراحت وکړ چې د مشرکانو معبودان په يوه يا دوه وو کښې منحصر نه وه بلکې متعدد وه.

يا په بل عبارت: که بالفرض المحال تعدد واقعيت درلودی نو بيا به په يوه يا دوه وو کښې منحصر نه وی او په غير انحصار سره به متعدد وی.

ب: بل دا چې حق معبود يکي يو دی چې په هيڅ وجه شريک نه لري، او همدغه په حقه معبود بل څوک نه دی فقط الله ﷻ دی او بس.

## يو نحوي تحليل

۴_ علماء کرام وايي چې په ﴿ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ کښې د "إلا" کلمه د استثناء دپاره نه ده بلکې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"غير" د کلمې معنی ورکوي چې د ﴿ ءَالِهَةٌ ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده، خو څرنګه چې نوموړې د "إلا" کلمه حرف ده او حروف د اعراب قابليت نه لري (که نه نو د خپل موصوف په شان به يې د رفعې پېښې) تحمل کړی وي)، نو رفعه يې په ما بعد باندې جاري شوه چې د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ مبارکه کلمه ده، د زيات تفصيل دپاره دې اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی شي[١].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: د ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ ﴾ معنی دا ده چې: الله ﷻ په هيڅ وجه مسؤل نه واقع کېږي، حال دا چې الله ﷻ د کفارو د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمَىٰ ﴾ [طه: ١٢٥] يعنې د قيامت په ورځ به کافران ړانده راپورته شي نو د الله ﷻ څخه به پوښتنه وکړي چې: اې زما ربه! زه دې نن ورځ د قبر څخه ولې ړوند راپورته کړم حال دا چې زه خو به دنيا کښې بينا وم؟

مونږ وايو چې: د وړاندې او بېرته (سياق، سباق) په اعتبار سره په دې مقام کښې هغه پوښتنه د الله ﷻ څخه نفې شوې ده کومه چې د اعتراض او ملامته کولو په توګه صورت نيسي ځکه چې د ده ﷻ هر يو کار او هر يو تصرف په خپل ملکيت کښې دی او هر يو د حکمت څخه ډک دی چې د ګوتې د اېښودلو ځای پکښې نشته. اما د "سُورة طه" په ايت کښې د خپل ځان د پوه کولو په غرض سوال مطلب دی چې د دې ايت سره څه منافات نه لري.

﴿أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً قُلْ هَاتُواْ بُرْهَـٰنَكُمْ هَـٰذَا ذِكْرُ مَن مَّعِىَ وَذِكْرُ مَن قَبْلِى بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْحَقَّ فَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾﴾

[٢۴] ايا مشرکان د الله ﷻ څخه په غير (نور شيان) معبودان نيسي (جوړوي)؟

ته ورته ووايه چې: (د دغو معبودانو په اثبات باندې) خپل برهان راوړئ، (که نه نو تاسو دروغژن ياست). دغه (اسماني وحې) د هغه چا پند (او د توحيد نقلي برهان) دی کوم چې زما سره دي (زما پيروان دي) او د هغه چا پند (او د توحيد نقلي برهان) دی کوم چې زما څخه وړاندې تېر شوي دي (د نورو پيغمبرانو پيروان وه).

(نو ايا ستاسو سره د شرک د اثبات دپاره څه وحې شته؟) بلکې د دوی اکثريت حق نه پېژني نو دوی (بلا دليله ترې) اعراض کوونکي دي.

[٢۵] او (اې پيغمبره!) مونږ ستا څخه مخکښې هيڅ پيغمبر نه دی لېږلی مګر وحې به مو ورته کوله چې يقيناً شان دا دی چې (په حقه) معبود نشته مګر همدا زه يم، نو خاص زما عبادت وکړئ (او په همدې باندې کلک اوسئ).

---

(١) تفسير القرطبي ج١١ص٢٧٩؛ تفسير الكشاف ج٣ ص١١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې د باطلو معبودانو د ابطال دپاره عقلي دليل ته اشاره شوې ده، او په دې ايتونو کښې د همدغه مطلب نقلي برهان ته اشاره کېږي.

۲ـ هلته الله ﷻ په خپل وحدانيت باندې يو قطعي دليل اقامه کړی وه او دلته د مشرکانو څخه غوښتل شوي دي چې تاسو په خپلو شرکياتو باندې کوم عقلي يا نقلي دليل اقامه کړئ.

۳ـ هلته د هغو باطلو معبودانو موجوديت ابطال شوی وه کوم چې د الله ﷻ سره سيال او سمسمکي وي، او دلته د هغو باطلو معبودانو ابطال ته اشاره کېږي کوم چې د الله ﷻ سره سمسمکي نه وي خو په شفاعت او نورو شيانو کښې ورته (د مشرکانو په خيال) رجوع کېدلی شي، نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د وحدانيت د اثبات څخه وروسته اوس په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ ايا د ذکر شوي قطعي برهان څخه وروسته هم مشرکان د الله ﷻ څخه په غير نور معبودان نيسي او د عبادت مستحق يې ګڼي؟ نو دوی ته لاندې سوالونه متوجه کړه چې:

الف: ما خو د خپل رب ﷻ په وحدانيت باندې عقلي قاطع برهان تېر کړ، نو کله چې تاسو په خپل دريغ باندې کلک ولاړ ياست، تاسو هم په خپل دريغ باندې کوم برهان او قاطع عقلي دليل راوړئ، چې ستاسو د باطلو معبودانو حقيت او واقعيت په اثبات ورسوي.

ب: دغه وحې چې ماته شوې ده د هغه چا دپاره پند او نصيحت دی کوم چې زما سره دي او زما پيروان دي، دوی ته د نقلي دليل او برهان په حيث کفايت کوي.

همدارنګه دغه وحې چې پخوانيو پيغمبرانو ته شوې وه د هغه چا دپاره پند او نصيحت وه کوم چې زما څخه وړاندې تېر شوي دي، او ټولو ترې د نقلي برهان په حيث کار اخست.

نو تاسو هم په خپلو شرکياتو باندې کوم نقلي دليل تېر کړئ چې د الله ﷻ سره نور باطل معبودان شته دي چې د دنيا په نظام کښې ورسره سمسمکي دي. او يا اقلاً دا په کوم نقلي دليل سره په اثبات ورسوئ چې الله ﷻ ستاسو بوتانو ته د شفاعت کولو څه اختيار ورکړی دی؟

۲ـ ای پيغمبره! د مشرکانو سره هيڅ دليل او برهان نشته او اکثريت يې ښه پوهېږي چې الله ﷻ واحد لا شريک دی او په هيڅ وجه شريک نه لري، خو دوی د همدغه حق څخه عناداً اعراض کوي او مخونه ترې اړوي، او نور اقليت بيا د دوی ړوند تقليد کوي او په پټو سترګو ورپسې ځغلي.

۳ـ ای پيغمبره! مونږ خو ستا څخه وړاندې هيڅ پيغمبر نه دی لېږلی مګر وحې مو ورته کړې ده چې يقيناً شان دا دی چې په حقه معبود نشته مګر همدا زه يم نو خاص زما عبادت کوئ او بس.

نو د همدې کبله ستا غوندې تېر شوي پيغمبران هم ټول موحدين وه او توحيد ته يې دعوت چلاوه، خو چا چې د هغوی دعوت قبول نه کړ نو د ډېر بد انجام سره مخامخ شوه، په همدې بنياد ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته خپل وخت کفارو ته د توحید دعوت چلوه او نتیجه یې مونږ ته سپاره ځنګه چې ورسره مناسب هم د دې مفسې چال چلند به ورسره وکړو.

﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۚ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ ﴿٢٨﴾ وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَٰهٌ مِّن دُونِهِ فَذَٰلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ ﴿٢٩﴾﴾

[۲۶] او (مشرکان) وايي چې: ډېر مهربان الله ﷻ ولد نیولی دی (او پرښتې بنات الله دي).
(دغسې نه ده لکه چې دوی یې وايي بلکې) الله ﷻ ته (د ولد نیولو څخه) پاکي ده، (او) بلکې پرښتې (د الله ﷻ دپاره) عزتمند بندګان دي (او بس، اولادونه یې نه دي).

[۲۷] پرښتې د الله ﷻ څخه په هیڅ خبره کښې وړاندېوالی نه کوي او (هم) دوی د ده ﷻ امر عملي کوي (او هیڅ ډیل پکښې نه کوي).

[۲۸] الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي چې د پرښتو په وړاندې (راتلونکی) وي، او په هغه څه باندې (هم پوهېږي) چې د دوی په وروسته (پاتې کېږي)، خو پرښتې د الله ﷻ په یوه شي باندې هم احاطه نه لري).

او (همدارنګه د الله ﷻ په حضور کښې) پرښتې (د هیچا دپاره) شفاعت نه کوي مګر د هغه چا دپاره چې الله ﷻ ترې راضي وي (او کلمه طیبه یې ویلې وي).

او (په دې باندې علاوه) پرښتې د الله ﷻ د ډاره (او هیبته په خپلو ځانونو باندې) وېرېږي (چې چرته په عذاب باندې اخته نه شي).

[۲۹] او د پرښتو څخه چې هر چا وویلې چې: زه یقیناً د الله ﷻ څخه په غیر معبود یم، نو دغه کس ته به په دوزخ سره جزا ورکړو، همدغه رنګه مونږ ظالمانو (کفارو) ته جزا ورکوو.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مشرکانو د شرکیاتو په رد کښې یو بل ډول شرک رد شوی دی چې دوی به پرښتو ته د بنات الله (د الله ﷻ لورګانې) لقب ورکاوه نو حاصل یې داسې کېږي چې:

اې پیغمبره! اوس دمشرکانو یوه بله شرکي عقیده رده کړه چې دوی پرښتو ته د الله ﷻ د لورګانو لقب ورکوي او وايي چې: ډېر مهربان الله ﷻ اولادونه نیولي دي نو د رد نکات یې دا دي چې:

۱ـ الله ﷻ ته د اولاد نیولو څخه پاکي ده ځکه چې اولاد نیول عیب او نقصان دی او همدی ﷻ د هر ډول عیب او نقصان څخه منزه او پاک دی.

۲ـ پرښتې د الله ﷻ اولادونه نه دي بلکې د ده ﷻ مکرم اومعزز بندګان دي، او بندګي دولدیت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره منافي ده، دوی په دوامداره توګه د ده ﷻ په عبادت باندې مشغول دي، د همدې کبله:

۳ـ د الله ﷻ څخه په خبرو کښې نه وړاندې کېږي چې په کارونو کښې یې څه مداخله وکړي بلکې همېشه یې اوامرو ته انتظار کوي او کله چې ورته د ده ﷻ د پلوه څه امر صادر شي نو سمدستي هغه عملي کوي او ډېل پکښې نه کوي. او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي کوم چې د پرښتو په وړاندې دي او په هغه څه باندې هم پوه دی کوم چې د دوی وروسته دي، بلکې د الله ﷻ کامل علم په دوی باندې احاطه کړې ده، که بالفرض المحال دوی د اوامرو په اجراء کښې لږ څه ناغېړي وکړي نو د عتاب لاندې به واقع شي.

ب: پرښتې د الله ﷻ په حضور کښې د هیچا شفاعت نه کوي، مګر د هغه چا دپاره د کومو څخه چې الله ﷻ راضي وي چې طیبه کلمه یې ویلې وي او د مؤحدینو د جملې څخه وي، نو مشرکان دې د پرښتو شفاعت کولو ته نه په تمه کېږي.

۴ـ پرښتې د نورو مخلصو بندګانو غوندې دالله ﷻ د ډار د کبله وېرېدونکي دي چې (خدای مه کړه) د اوامرو په اجراء کښې راڅخه څه قصور واقع نه شي چې د عتاب او عذاب مستحق به وګرځو.

۵ـ پرښتې د نورو بندګانو په شان مکلفیت لري چې د شرکیاتو څخه خپل ځانونه بچ وساتي، بلکې په دوی کښې الله ﷻ د جنایت استعداد نه دی اچولی، خو بالفرض المحال که د دوی څخه کومه یوه پرښته خپل ځان د الله ﷻ څخه په غیر معبود وګڼي او خپل ځان ته په عبادت باندې قائله شي لکه چې مشرکان همدا خیال کوي، نو ضرور به مونږ ورته د دوزخ جزا ورکړو لکه چې نورو مشرکانو او جنایتکارانو ته یې ورکوو.

لنډه دا چې پرښتې په هغې تګلارې باندې روانې دي په کومې باندې چې نور بندګان روان دي، او د هغو خاصیتونو درلودونکي دي د کومو چې نور مخلص بندګان درلودونکي دي، او بالآخره د هغه عذابه ډارېدونکي دي کوم چې ظالمانو او جنایتکارانو ته متوجه دی نو چې کله نورو بندګانو ته مشرکان د ولدیت لقب نه ورکوي نو په پرښتو یې په څه دلیل ورتپي؟.

## توضیحات

۱ـ که څه هم په ذکرو شوو ایتونو کښې مستقیمًا په مشرکانو باندې د هغوی عقیده رده شوې ده چې پرښتې به یې د بنات الله ﷻ په نامه بللې مګر په همدې ایتونو سره د نصارا وو عقیده (چې عیسی ﷺ ابن الله ګڼي) او د ځینو یهودو عقیده (چې عُزَیر ﷺ ته ابن الله وایي) هم ردېږي.

## شفقة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ ﴾ کښې د ﴿ مُشْفِقُونَ ﴾ کلمه اصلاً د "شفقة" څخه اشتقاقه شوې ده. شفقة دې ته وایي چې یو ناصح په چا باندې وډار شي چې د کوم زحمت سره به مخامخ شي[۱].

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۱۸۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځي چې: پرښتې د الله ﷻ د ډار او هيبت د کبله په خپلو خانونو باندې ډارېږي چې د ده ﷻ په عذاب باندې اخته نه شي، يا په بل عبارت که څه هم پرښتې د الله ﷻ معزز او مکرم بندګان دي خو د دې سره-سره د ده ﷻ د عذابه مامون نه دي او د خپله ضعفه او د خپلې کمزورۍ د کبله ترې ډارېږي.

﴿أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ وَجَعَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٣٣﴾﴾

[۳۰] ايا هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی (په خپل کفر باندې کلک دي) دوی نه ګوري چې: يقيناً اسمانونه او ځمکې دواړه (نوعې) بندې وې نو مونږ دواړه بېرته کړې، او (همدارنګه دوی نه ګوري چې) مونږ د اوبو څخه هر ژوندی شی پيدا کړی دی (خو طبائع يې مختلف دي).

ايا نو دوی (د دغو دلايلو د ليدلو سره-سره) ايمان نه راوړي؟.

[۳۱] او مونږ په ځمکه کښې (قوي) ميخونه (غرونه) پيدا کړي دي چې ځمکه به په خلکو سره (اضطراري) حرکت وکړي (او هيڅوک به ورباندې ګوزاره ونه شي کړی).

او مونږ په غرونو کښې (يا په ځمکه کښې) پراخه لارې جوړې کړې دي (چې په اسانۍ سره ورباندې خلک ګرځي راګرځي)، شايد چې دوی (خپلو مطالبو ته) هدايت ومومي.

[۳۲] او مونږ (د ځمکې دپاره) اسمان ساتلی شوی چت ګرځولی دی (چې د سقوط څخه په امن کښې دی) حال دا چې کفار د اسمان د (قدرتي) نښو څخه اعراض کوونکي دي (د اثر لاندې يې نه راځي).

[۳۳] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې شپه او ورځ او (هم) لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي دي چې هر يو (لمر او سپوږمۍ او نور ستوري) په خپل-خپل تاکلي مدار کښې لامبو وهي (تاوېږي راتاوېږي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هم د وړاندېنيو ايتونو غوندې د توحيد د دلايلو څخه ځينو کونيه دلايلو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځي:

اې پيغمبره! اوس نو مشرکانو ته د توحيد د دلايلو په سلسله کښې لاندې دلايل واوروه:

۱ـ ايا هغه کسان چې کفر يې غوره کړی دی په شرک باندې کلک دي او دې ته نه ګوري چې اسمانونه او ځمکې دواړه بند وه او مونږ دواړه پرانستل چې:

الف: اسمانونه مو د ځمکو څخه جدا کړه، او د دواړو ترمنځ مو هوا حائله کړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه مونږ بیا د اسمانونو مجموعې ته انکشاف ورکړ او اوه اسمانونه مو ترې جوړ کړه، او د ځمکو مجموعه مو هم په اوو مجموعو باندې ووېشله.

ج: بالآخره مونږ د اسمانونو څخه بارانونه جاري کړه او د ځمکې څخه مو پرې نباتات رازرغون کړه، که بالفرض المحال الله ﷻ څه شریک یا شریکان درلودی نو ایا ذکره شوې عملیه به ترسره شوې وی او هیڅ جنګ جګړې به صورت نه وی نیولی؟

۲ـ مونږ هر ژوندی شی د اوبو څخه پیدا کړی دی خو د دې سره- سره چې ټول ژوندي شیان د یوه اصل څخه پیدا شوي دي، په طبائعو او جوړښتونو کښې یې زښت زیات تفاوت موجود دی. ایا نو دا کار د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک کولی شي؟ ایا نو مشرکان د دغو دلایلو په اورېدلو سره هم ایمان نه راوړي؟

۳ـ بیا مو په ځمکې باندې لوړ-لوړ غرونه ودرول، یا په بل عبارت: قوي میخونه مو پرې ووهل ترڅو د ځمکې اضطراري حرکت ځای په ځای ودروي او د انسانانو د اوسېدانې دپاره یې مساعده وګرځوي، که نه نو هیڅوا به ورباندې ژوند نه وی کړی، او په دوامداره توګه به پکښې زلزلې جریان درلودی.

۴ـ مونږ په ځمکه کښې د ګرځېدلو او راګرځېدلو دپاره پراخه لارې جوړې کړې ترڅو پکښې انسانان د یوه ځای څخه بل ځای ته لاړ شي او راشي او د خپلو مطالبو د موندلو په غرض پکښې هڅې وکړي، که بالفرض مونږ ځمکه د لارو دپاره مساعده نه وی ګرځولې او غرونه مو پکښې د لارو بندوونکي جوړ کړي وی یا په بل عبارت که مونږ په غرونو باندې د ځمکې اضطراري حرکت ودرولی وی خو خوړونه او درې مو پکښې نه وی جوړې کړې، نو هر څوک به په ځای ناست وی او د حرکت توان به یې پکښې نه وی موندلی.

۵ـ او مونږ اسمان داسې لوړ چت پیدا کړی دی چې د یو پلوه مو د شیطانانو د ورختلو څخه محفوظ ګرځولی دی، او د بله پلوه د ملیاردونو-ملیاردونو کلونو په تېرېدلو سره د زوړوالي او سقوط (رالوېدلو) څخه ساتلی شوی دی، چې په دوامداره توګه بې ستنو ولاړ دی او شین ښکارېږي، نه یې په رنګ کښې تغیر واقع کېږي او نه یې چرته کومه څنډه سقوط کوي.

۶ـ په دې باندې علاوه لمر او سپوږمۍ او نورو بې شمېره ستورو ته مو پکښې ځای ورکړی دی او د خپل قدرت په زښتو ډېرو نښو نښانو باندې مو مشتمل ګرځولي دي، حال دا چې مشرکان د هغو ټولو قدرتي علاماتو څخه اعراض کوونکي دي په کومو باندې چې اسمان مشتمل دی.

۷ـ لنډه دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په قدرتي عجیب نظام سره یې شپه او ورځ او (هم) لمر او سپوږمۍ بلکې نور ستوري پیدا کړي دي چې هر یو په خپل مدار کښې څرخېږي، نه کوم یو د خپل مدار څخه اوځي او نه یې د بل ستوري سره څه ټکر صورت نیسي، که بالفرض د الله ﷻ قدرتي نظام په اسمانونو کښې موجودیت نه درلودی نو تر اوسه به یو ستوری هم پاتې نه وی ټول به یو تربله سره ټکر شوي وی او ټولو به سقوط کړی وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ کومو کارونو ته چې په [الأنبیاء:۲۲] ایت کښې اشاره شوې ده (چې که بالفرض المحال په ځمکو او اسمانونو کښې د الله ﷻ سره شریکان موجود وی نو ضرور به پکښې نزاع واقع شوې وی او په نتیجه کښې به د دنیا نظام رنګ شوی وی) په دې ایتونو کښې د همغو کارونو څو مثالونه ښودلی شوي دي، لکه د اسمان او ځمکې یو تر بله جدا کول او داسې نور.

## د رتق او فتق معناوې

۲_ په ﴿ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَا ﴾ کښې د "رَتْقٌ" کلمه د دوه وو شیانو پیوستون ته وضعه شوې ده، برابره خبره ده چې د دواړو پیوستون د خلقت په اعتبار سره وي او یا بې په کسبي او صنعتي توګه صورت نیولی وي[۱].

او د ﴿ فَفَتَقۡنَٰهُمَا ﴾ کلمه د "فَتْقٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "فَتْقٌ" هغې معنی ته وضعه شوي ده کومه چې د "رَتْقٌ" د کلمې په ضد ده[۲]، یعنې د دوه وو شیانو جدا کولو ته "فَتْقٌ" وایي برابره خبره ده چې د پیدا کولو په لحاظ سره وي او که په کسبي توګه یې تحقق نیولی وي.

اما علماوو کرامو د ایت شریف په تفسیر کښې ګڼ شمېر اقوال کړي دي[۳]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په ابتدایي خلقت کښې ټول اسمانونه او ټولې ځمکې یوه مجموعه وه چې یو تربله پیوسته او متصل وه خو بیا پکښې الله ﷻ جدایي واقع کړه، او اسمانونه یې د ځمکو څخه بېل کړه، لکه چې فلاسفه د دنیا په پیدابښت کښې همدې تفسیر ته ورته نظر لري.

ب: ټول اسمانونه یوه مجموعه وه بیا الله ﷻ سره جدا_جدا کړه او اوه اسمانونه یې ترې جوړ کړه، همدارنګه ځمکه هم یوه بنده مجموعه وه خو بیا الله ﷻ په اوو ځمکه باندې تقسیم کړه.

ج: ټول اسمانونه او ټولې ځمکې د پیدابښت څخه وړاندې په یوه عدم کښې پرتې وې او په ټولو باندې د عدم موجودیت تیاره خوره وره وه، خو الله ﷻ هر یو موجود کړ او د عدم د تیارو څخه یې د وجود په رڼا کښې سره جدا_جدا کړه.

د: د اسمانونو دروازې د باران په اعتبار سره بندې وې چې یو ځاځکی هم ترې نه راتوبیده، نو الله ﷻ یې بندش پرانست او د اورښت استعداد یې پکښې واچاوه.

همدارنګه د ځمکې دروازې هم د نباتاتو د ټوکېدلو او زرغونېدلو په لحاظ سره تړلې وې خو الله ﷻ پکښې د بوټو او ونو د زرغونېدلو استعداد واچاوه او د نه زرغونولو غوټه یې ورخلاصه کړه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۹۲
(۲) لسان العرب ج ۱۰ ص۲۹۶
(۳) اضواء البیان ج۴ ص۶۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

۳ـ ځینو علماوو کرامو درېیم قول ته ترجیح ورکړې ده[۱] او په ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ﴾ کښې یې د "رُؤْيَة" څخه علمي رُؤْيَة اخستی دی، یعنې: ایا کفار نه ګوري او دې خبرې ته یې علم نه رسېږي چې اسمانونه او ځمکې د عدم په تیاره کښې پراته وه او الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره د وجود رڼا ته راوویستل. او ځینو نورو اول قول بهتر ګڼلی دی[۲] د اکثرو معاصرو فلاسفه وو نظریات هم د همدې قول په شاوخوا باندې څرخېږي، چې ځینو اوږدو کتابونو یې پوره تفصیل لیکلی دی[۳].

مګر اکثرو مفسرینو او علماوو کرامو څلورم قول ته ترجیح ورکړې ده[۴] چې د ترجیح وجوه یې لاندې لوستلی شئ:

الف: په ایت شریف کښې دا جمله ﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ﴾ د څلورم تفسیر سره ښه تناسب لري یعنې مونږ د اسمان څخه اوبه راښکته کوو او ځمکه وربانده زرغونوو بلکې مونږ هر ژوندی شی د اوبو څخه پیدا کړی دی.

ب: ظاهره دا ده چې په ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ ﴾ کښې به بصري (د سترګو) لیدل مطلب وي چې د اسمانه د باران ورېدل او د ځمکې څخه د نباتاتو رازرغونېدل ټول کافران د سر په سترګو باندې ویني، او څه اړتیا نشته چې د علماوو او یا د فلاسفه وو څخه خپله علمي لیدنه ترلاسه کړي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: څلورم قول ته باید ترجیح ورنه کړی شي ځکه چې په ایت شریف کښې د ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ کلمه جمعه نازله شوې ده حال دا چې باران خو فقط د لومړي اسمان څخه نازلېږي که بالفرض په باران سره بېرته کېدل مطلب وی نو د ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ په عوض به "السَّمَاءِ" نازل شوی وی؟

مونږ وایو چې[۵]: دا خبره اتفاقي نه ده چې باران د لومړني اسمان څخه نازلېږي ترڅو اعتراض وارد شي. ځینې علماء کرام وایي چې: باران د اووم اسمان څخه او ځینې وایي چې د څلورم اسمان څخه نازلېږي؛ او که بالفرض وګڼو چې په اتفاق سره باران فقط د نږدې اسمان څخه راښکته کېږي هم د ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ د جملې نزول ورسره څه منافات نه لري او دا ځکه چې:

اول: څه لرې نه ده چې نور اسمانونه به هم د باران په ورښت کښې څه دخل لري اوبالکل به بې دخله نه وي.

دوهم: په ایت شریف کښې د "سَمَاوَات" څخه او همدارنګه د "أرْض" څخه دوه نوعې مرادې دي، د

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۲۵۰
(۲) التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۶۳
(۳) الجواهر للطنطاوي ج۱۰ ص۲۰۷
(۴) روح المعاني ج۷ ص۳۶؛ تفسیر ابي السعود ج۶ ص۶۵؛ اضواء البیان ج۴ ص۶۱۴؛ تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۹
(۵) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۲۰؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۴۷؛ تفسیر المظهري ج۶ ص۱۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدي کېله دواړو ته په ﴿ كَانَتَا ﴾ کښې د مفرد موئث مثنی ضمير راجع شو که نه نو بايد يا ورته مفرد موئث راجع شوی وی او په "جماعة" سره مؤول ګڼلی شوی وی او يا ورته د جمعي موئنثې ضمير راجع کړی شوی وي او د "جماعات" په لحاظ سره ورته کتلی شوي وی.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د اسمان نوعه بنده وه او مونږ د اولني اسمان په اعتبار سره راخلاصه کړه او د اورښت استعداد مو پکښې کېښود.

دريم: دا هم احتمال لري چې د "سَموت" څخه يوازې لومړنی اسمان مطلب وي او د قطعاتو په اعتبار سره ترې په جمعې باندې تعبير شوی وی.

## مونږ څه وايو؟

۵ـ مونږ وايو: لکه څنګه چې د همدې سورت [۲۲] ايت په ډېرو عجيبو جامعو کلماتو کښې د الله ﷻ د وحدانيت برهان بيان کړی دی، چې د هرې طبقې د خلکو مراعات يې پکښې ساتلی دی، او هره طبقه خلک کولی شي چې د خپل علم او ذکاوت په معيار ترې ګټه پورته کړي، همدارنګه په دغه ايت کښې چې بحث پکښې روان دی د ټولو طبقاتو مراعات شوی دی، د يوه عادي سړي څخه نيولې آن تر يوه لوی عالمه او يا يوه لوی فيلسوفه پورې پکښې د ټولو د اذهانو درښښت شوی دی، چې د قرآن کريم د نزول د وخت څخه د قيامت تر قيامه پورې پکښې د هيچا د طرز فکر مخه نه ده بنده شوې، بلکې هرڅوک په خپله زمانه کښې خپل ځان په حقه ګني، نو بايد چې دا ډول (د جامعو کلماتو نزول) د قرآن کريم د معجزاتو څخه وګڼلی شي، د الله ﷻ څخه په غير د بل چا په توان کښې نشته چې يو مضمون په ذکر شوي جامعيت سره بيان کړي.

نو مونږ ته بهتره برېښي چې "رَتْق" د ما يطلق عليه الرتق (هر هغه شی چې د "رَتْق" اطلاق پرې کيږي) او د "فَتْق" د ما يطلق عليه الفتق (هر هغه شی چې د "فَتْق" اطلاق پرې کيږي) په تاويل سره دواړه کلمې په عموم سره پرېښودلی شي چې ترڅو ايت شريف ذکرو شوو څلورو واړو تفسيرونو ته شامل شي نو په دې تقدير به څلور واړو تفسيرونو هر يوه د مثال په توګه صورت نيولی وي او حصر به پکښې مطلب نه وي.

په همدې خبره باندې (چې حصر به پکښې مطلب نه وي) لاندې وضاحت هم دلالت کوي:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) څخه اول تفسير هم روايت شوی دی چې: «كَانَتَا شَيْئًا وَاحِدًا مُلْتَزِقَتَيْنِ، ﴿ فَفَتَقْنَاهُمَا ﴾ فَصَلْنَا بَيْنَهُمَا بِالْهَوَاءِ»[۱] يعنې د اسمانونو مجموعه او د ځمکو مجموعه دواړه سره نښتې وې (دواړه يوه مجموعه وه) نو مونږ دواړه فتق کړې (سره جدا مو کړې او په هوا سره مو د دواړو ترمنځ فاصله واقع کړه).

ب: يوه ورځې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه يوه سړي وپوښتل چې: ﴿ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ

[۱] تفسير البغوي ج۳ ص۲۴۳؛ الدر المنثور ج۵ ص۶۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ﴾ څه معنی؟ نو ابن عمر ﷺ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) ته اشاره وکړه او پوښتونکي ته یې وویلې چې دغه شیخ ته ورشه او خپله پوښتنه ورته وړاندې کړه نو کوم جواب چې تا د هغه د پلوه واورېد بېرته راشه او هغه ما ته واوروه.

کله چې پوښتونکي رئیس المفسرین ﷺ ته خپل سوال وړاندې کړ نو داسې جواب یې واورېد چې: «نَعَمْ كَانَتِ السَّمَاوَاتُ رَتْقًا لا تُمْطِرُ وَكَانَتِ الْأَرْضُ رَتْقًا لا تُنْبِتُ فَلَمَّا خَلَقَ لِلأَرْضِ أَهْلاً فَتَقَ هذِهِ بِالْمَطَرِ وَفَتَقَ هذِهِ بِالنَّبَاتِ»[۱] یعنې هو، اسمانونه رتق وه باران یې نه کاوه او د اورښت استعداد پکښې نه وه، او ځمکې هم رتق وې چې نباتات یې نه زرغونول (دا استعداد پکښې نه وه)، نو کله چې الله ﷻ اراده کړې وه چې د ځمکې دپاره اهل (اوسېدونکي) پیدا کړي نو دغه (اسمانونه) یې په باران سره فتق کړه (د اورښت استعداد یې پکښې کېښود) او دغه (ځمکې) یې هم په زرغونولو سره فتق کړې (د نباتاتو د راټوکولو استعداد یې پکښې خای په خای کړ).

کله چې پوښتونکي اورېدلی جواب بېرته عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته واوراوه نو هغه وویلې چې: زه اوس ښه پوه شوم چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته د قرآن کریم په تفسیر کښې پوهه ورکړې شوې ده، بالکل صحیح جواب یې درکړی دی.

نو څرنگه چې د رئیس المفسرین ﷺ څخه اول تفسیر او څلورم تفسیر دواړه روایت شوي دي معلومه شوه چې ذکر شوي څلور واړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري.

## هر ژوندی شی د اوبو څخه پیدا کړی شوی دی

۶ـ په ﴿ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ کښې د "جَعَلْنَا" کلمه د "خَلَقْنَا" معنی ورکوي او یوه مفعول ته متعدي ده چې ﴿ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ دی، که بالفرض د "صَيَّرْنَا" معنی یې ورکولی نو دوه مفعوله به یې درلودلي وی[۲].

اما مفسرین د ایت شریف په تفسیر کښې په لاندې متعددو گروپونو باندې وېشلی شوي دي:

الف: ځینې علماء کرام وايي[۳] چې د ﴿ ٱلْمَآءِ ﴾ څخه نطفه مراده ده، یعنې مونږ هر ژوندي شی د نطفې څخه پیدا کړی دی. نو په دې تفسیر سره ایت شریف هغو حیواناتو پورې مختص گرځي د کومو پیدایښت چې د توالد او تناسل په طریقه باندې صورت نیسي او هغو حشراتو ته نه شاملېږي کوم چې د رطوباتو څخه پیدا کېږي نه د نطفې څخه لکه چنجی او نور.

ب: ځینې نور وايي[۴] چې د ﴿ ٱلْمَآءِ ﴾ د کلمې څخه متعارفې اوبه مرادې دي خو د اوبو څخه پیدا کول عام دي چې مستقیماً د رطوباتو څخه متولد شي لکه ځینې چنجي او ځینې حشرات، او یا ترې

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۷۷
(۲) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۶۵
(۳) زاد المسیر ج۵ ص۲۴۱
(۴) اضواء البیان ج۴ ص۶۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غیر مستقیمه توګه صورت نیسي لکه د انسان په شمول تناسلي حیوانات، چې د نطفې په سلسله خلق کېږي مګر نطفه د هغو غزاګانو څخه جوړېښت مومي کومې چې د اوبو په ذریعه نشأ او نمو کوي. په دې تعمیم سره لاندې دوه صورتونه هم حل کېږي:

اول: عیسی علیه السلام که څه هم د نطفې څخه نه دی خلق کړی شوی، مګر د رحم د رطوبت څخه بچ نه دی پاتې شوی.

دوهم: آدم علیه السلام اصلاً د خاورې څخه پیدا کړی شوی دی مګر خاوره په اوبو باندې اغږله شوې وه، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ﴾ [الأنعام:٢] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې (د اصل آدم علیه السلام) په اعتبار سره د ختې څخه پیدا کړي یاست.

ج: ځینې نور وایي[١] چې د اوبو څخه متعارفې اوبه مطلب دي، خو د اوبو څخه د ژوندیو شیانو د خلق کولو معنی دا ده چې دوی ورته زښت ډېر احتیاج لري، ته به وایي چې دوی بالکل د اوبو څخه جوړ شوي دي.

نو په دې تفسیر سره به دغه ایت چې بحث پکښې روان دی د دې ایت نظیر وګرځي چې: ﴿ خُلِقَ ٱلْإِنسَـٰنُ مِنْ عَجَلٍ ﴾ [الأنبياء:٣٧] یعنې انسان د جلتۍ څخه جوړ شوی دی، د جلتۍ سره دومره زیات تړاو لري ته به وایي چې بالکل جلتي یې اصل دی او د همدې څخه جوړ شوی دی.

دا ډول استعمال په عربي ژبه کښې بلکې په نورو ژبو کښې هم رواج دی لکه چې وایي: "خُلِقَتْ فُلَانَةُ مِنْ حُسْنٍ" یعنې فلانکۍ ښځه د حسن څخه جوړه ده (ډېره ښایسته ده).

د: ځینې نور وایي[٢] چې د ﴿ ٱلْمَآءِ ﴾ کلمه په خپله متعارفه معنی سره ده مګر حیات (ژوند) عام دی حتی چې د نباتاتو نشأ او نمو ته هم شامل دی، یعنې مونږ هر ژوندی شی حتی نباتات هم د اوبو څخه پیدا کړي دي.

## تبصره

٧ـ که څه هم ذکر شوي څلور واړه تفسیرونه سره یو تربله څه منافات نه لري، نو که د بدلیت په اعتبار ټول مراد کړی شي هم څه بده نه ده، مګر مونږ ته دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي، او دا ځکه چې د ایت شریف لومړنۍ ټکړه د متعارفو اوبو پورې ارتباط نیسي، لکه چې وړاندې په درېمه او څلورمه توضیح کښې ورته اشاره شوې ده، نو ظاهره دا ده چې دوهمه ټکړه به یې هم په همدغو متعارفو اوبو پورې ارتباط لري.

## سوال جواب

٨ـ که څوک وایي چې: د همدغه غوره (دوهم) تفسیر په لحاظ لاندې پوښتنه د سړي په زړه کښې

---

[١] تفسیر المظهري ج۶ ص١٩۴
[٢] تفسیر الطبري ج١٧ ص٢٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تېرېږي چې: د ﴿ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ په عموم کښې خو پرښتې او پيريان هم شامل دي حال دا چې دغه دواړه د اوبو څخه نه دي خلق کړی شوي؟، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ»[۱] يعنې پرښتې د نُور څخه پيدا کړی شوي دي او پيريان د لوغړنو لمبو څخه پيدا کړی شوي دي چې د اور څخه عبارت دي او بالآخره آدم ﷺ د هغه شي څخه پيدا کړی شوی دی چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه بيان کړی شوی دی چې د خاورو او ختو څخه عبارت دي.

مونږ وايو چې: د ﴿ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾ ټکړه الله ﷻ په بل ايت کښې تفسيره کړې ده او پرښتې او پيريان يې ترې ويستلي دي چې: ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ﴾ [النور:۴۵] يعنې الله ﷻ هره يوه دابه د اوبو څخه پيدا کړې ده. او پوره واضحه ده چې په پرښتو او پيريانو باندې د "دَابَّة" اطلاق نه کېږي ځکه چې دغه کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې په ځرګنده توګه په ځمکه باندې حرکت کوي او پرې ګرځي راګرځي، برابره خبره ده چې تميز لري او يا يې نه لري[۲]، او پرښتې او پيريان خو په ځمکه باندې په ځرګنده توګه حرکت نه کوي.

## فج څه معنی؟

۹_ په ﴿ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا ﴾ کښې د "فِجَاج" کلمه د "فَج" _لکه "حَج"_ جمعه ده، "فَج" هغې پراخې لارې ته وضعه شوې دی کومه چې د دوه غرونو ترمنځ واقع وي[۳]، نو څه لرې نه ده چې مونږ ترې په پښتو کښې په درې سره او يا په خوړ سره تعبير وکړو.

په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې دپاره د ﴿ سُبُلًا ﴾ کلمه د تفسير حيثيت لري ځکه چې د "سُبُل" کلمه د "سَبِيْل" جمعه ده، چې د "سَبَلٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "سَبَلٌ" نرموالي او پوستوالي ته ويل کېږي، د همدې کبله د باران هغه څاڅکي ته "سَابِل" وايي کوم چې په هوا کښې د ځمکې په لور رارون وي[۴].

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: الله ﷻ په ځمکه باندې لوړ غرونه د دې دپاره نصب کړي دي چې د ځمکې د اضطراري حرکت مخه ونيسي او د سکونت قابله يې وګرځوي، خو د دې سره-سره په غرونو کښې يې لارې او خوړونه هم پيدا کړي دي چې انسانان پکښې په اسانۍ سره تګ راتګ کولی شي، او د يوه وطن څخه بل وطن ته انتقالېدلی شي.

په دې باندې علاوه، غرونه يې هم د ګرځېدلو راګرځېدلو دپاره قابل جوړ کړي دي چې د پياده خلکو دپاره او د څارويو د ځرولو دپاره پکښې څه مانع نشته، د همدې کبله پښتانه په يو متل

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۴۱۳
(۲) لسان العرب ج۶ ص۳۶۹: تفسير الخازن ج۳ ص۴۰۸
(۳) لسان العرب ج۲ ص۲۳۸
(۴) مفردات الراغب ص۲۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې وايي چې: "که غر لوړ دی هم په سر يې لار ده" (که څوک هرڅومره معتبر شي هم بايد حق ته غاړه کېږدي او د پښو لاندې يې نه کړي).

## د فلک معنی

١٠ـ په ﴿كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ﴾ کښې د ﴿فَلَكٍ﴾ کلمه په عربي کلام کښې هر ګردمرد (غونډارۍ) شي دپاره وضعه شوې ده[١] د همدې کبله د څرخي ګاډي ته "فِلْكَة" وايي چې: "هذا فِلْكَةُ الْمِغْزَلِ" دا د څرخې ګردمرد ګاډی دی چې د مالچو څخه پرې تار جوړېږي.

خو د لغت کتابونو په "مدار" سره معنی کړې ده[٢] چې اکثرو مفسرينو همدغه معنی په دې مقام کښې خوښه کړې ده[٣]. دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ايت شريف کښې د ذکرې شوې کلمې څخه جنس فلک مطلب دی چې د هر يوه ستوري په مدار باندې صادقېږي.

د دې نظير دا دی چې: "قَلَّدَ الْأَمِيرُ الْقَوْمَ سَيْفًا"[٤] يعنې پاچا ټول قوم ته يوه-يوه توره ورپه غاړه کړه، هسې نه چې ټول قوم ته يې فقط يوه توره په غاړو کښې وراچولې وه.

يعنې هر يو (لمر او سپوږمۍ او نور ستوري) په خپل-خپل ټاکلي مدار (دايره) کښې څرخېږي او دباندې ترې نه اوځي که نه نو ډېر ټکرونه به واقع شوي وي.

﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ ٱلْخُلْدَ ۖ أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[٣٤] او مونږ د هيڅ بنيادم دپاره ستا څخه وړاندې (هم په دنيا کښې) همېشه والی نه دی ګرځولی (نه دی ورکړی)، ايا نو (ای پيغمبره!) که ته مړ شې نو دوی (مشرکان په دنيا کښې) همېشه پاتې کېدونکي دي؟ (دغسې نه ده څکه چې:)

[٣٥] هر نفس د مرګ څکونکی دی (مړ کېدونکی دی)، او مونږ تاسو په شر (سختيو) او په خير (اسودګيو) باندې امتحانوو، امتحانول، او خاص مونږ ته به تاسو راجع کړی شئ (او بېرته به ژوندي کړی شئ).

## ارتباطونه

١ـ په دې سورت کښې تر دې ځايه الله ﷻ د خپل وحدانيت د اثبات او د شرک د ابطال دپاره زښت ډېر غاښن ماتوونکي دلايل نازل کړه چې د مشرکانو په خولو کښې يې ژبې وچې کړې او د مقابلې کولو توان يې د لاسه ورکړ، نو شايد چې دوی به د خپلو زړونو د تسکين او ډاډينې په خاطر

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٢٤٣
(٢) لسان العرب ج٣ ص٤٧٨
(٣) تفسير الطبري ج١٧ ص٢٣٠
(٤) تفسير الكشاف ج٢ ص١١٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د نبي کریم ﷺ د مرګ ارزو کړې وي چې ګونډې په مرګ سره یې دعوت ختم شي نو الله ﷻ په دې ایتونو کښې د هغوی ارزو رده کړه.

همدغه مضمون ته ورته مضمون ځینو مفسرینو هم لیکلی دی چې مشرکان د نبي کریم ﷺ مرګ ته خوشالېده نو په دغو ایتونو کښې د هغوی خوشالي رده شوې ده[1].

۲ـ په وړاندېنیو نژدې ایتونو کښې الله ﷻ د خپلو هغو نعمتونو ذکر کړی دی کوم چې د انسانانو په دنیاوي ژوند پورې ارتباط نیسي، او په دې ایتونو کښې د دوی اُخروي ژوند ته اشاره شوې ده نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خلکو باندې لاندې مطلبونه قرائت کړه:

۱ـ مونږ په دنیا کښې هیڅ بنیادم ته دوامداره ژوند نه دی ورکړی، د همدې کبله ستا څخه وړاندې پیغمبران د خپل-خپل ټاکلي عمر څخه وروسته وفات شوي دي، نو ته به هم یوه ورځ د خپل ټاکلي عمر د تېرولو څخه وروسته وفات کېږې، خو ستا په فوت کېدلو سره به اسلامي دعوت خاتمه ونه مومي او د قیامت تر ورځې پورې به جاري وي.

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه کفار ستا مرګ ته خوشالېږي خو دوی دې ته نه ګوري که چرته ته د دوی د آرزو سره سم وفات شې نو ایا دوی به په دنیا کښې باقي پاتې شي؟ ایا ستا په مرګ سره به اسلامي دعوت ختم شي؟ نو که ته مړ شې هم د اسلامي داعیانو د پلوه به کفارو ته غاښ ماتوونکي استدلالات وړاندې کېږي، او د دعوت په سکوت سره به د دوی زړونه یخ نه شي، او نه به دوی په دنیا کښې باقي پاتې شي.

۲ـ دنیا د دائمي اوسېدانې دپاره نه ده اباده شوې بلکې په دنیا کښې هرڅوک فاني کېدونکی دی او هر نفس (هرڅوک) د مرګ څکونکی دی.

خو په یاد ولرئ چې د دې نژدې ژوند په تعقیب بل ژوند شته چې هغه دائمي او نه فاني کېدونکی ژوند دی او د قیامت د قیام څخه وروسته پیل کېږي.

مونږ ځمکې او اسمانونه، غرونه او رغونه، شپه او ورځ، لمر او شپوږمۍ او نور شیان عبث نه دي پیدا کړي بلکې دا ټول مو د دې دپاره پیدا کړي دي چې تاسو وړاندې د راتلونکي ژوند دپاره ځوري تهیه کړئ.

همدارنګه تاسو په دنیا کښې مونږ کله په خوشالۍ او کله په غمونو باندې امتحانوو ترڅو په اُخروي ژوند کښې تاسو ته جزا یا سزا درکړو، ځکه چې تاسو ټول به یو وخت مونږ ته راجع کړی شئ او د حساب کتاب دپاره به زمونږ په حضور کښې ودرولی شئ.

لنډه دا لکه څنګه چې مونږ ستاسو مادي ضروریات پوره کړي دي همدارنګه مو ستاسو زوحي

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۶۶؛ تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۲۵۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضروریات هم د نظره نه دي غورزولي چې يو لک څلېرشت زره ـ زيات يا کم ـ پيغمبران مو درلېږلي دي، ترڅو تاسو أخروي ژوند ته هدايت کړي او د دنيا په لذتونو کښې ډوب پاتې نه شي.

## توضيحات

۱ـ که څه هم په دې مقام کښې د بحث موضوع انسانان دي نو په کار دي چې په ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ کښې د ﴿ نَفْسٍ ﴾ څخه انساني نفس مراد شي[۱]، لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾ [الرحمن:۲۶] هرڅوک چې په ځمکه باندې (ژوند) کوي (هغه) فاني کېدونکی دی.

مګر بهتره دا ده چې د ﴿ نَفْسٍ ﴾ کلمه په خپل عموم سره پرېښودلی شي ترڅو پيريانو او نورو حيواناتو او حشراتو ته هم شامله شي، ځکه دغه ټول مره کېدونکي دي.

۲ـ د ﴿ ذَآئِقَةُ ﴾ کلمه د "ذَوْق" ـ لکه "قَوْل" ـ څخه اشتقاق شوې ده چې په ژبه باندې د څکلو معنی ورکوي، مګر په قرآن کريم کښې اکثره د عذاب په رسېدلو کښې استعمالېږي[۲].

څرنګه په دې مقام کښې د مرګ د رسېدلو څخه په "ذَوْق" سره تعبير شوی دی نو معلومېږي چې د مرګ سره څه ناڅه عذاب ملګری دی، همدې ته نبي کريم ﷺ په يوه اورېده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ»[۳] يعنې يقيناً د مرګ سره د عذابونو داسې شدت شته چې د سړي عقل د منځه وړي او سړی بې خوده کوي.

## يو نحوي تحليل

۳ـ په ﴿ وَنَبْلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلْخَيْرِ فِتْنَةً ﴾ کښې د "نَبْلُو" کلمه د "بَلاءٌ" څخه اشتقاق شوې ده چې د امتحان او ازمېښت معنی ورکوي[۴] همدارنګه د ﴿ فِتْنَةً ﴾ کلمه هم په امتحان باندې دلالت کوي، نو ﴿ فِتْنَةً ﴾ د "نَبْلُو" دپاره من غير اللفظ تاکيدي مفعول مطلق دی چې په معنی کښې ورسره اتحاد لري او په لفظ کښې ترې جدا دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې مونږ تاسو په دنيا کښې په شر او په خير سره امتحانوو، امتحانول.

﴿ وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَـٰذَا ٱلَّذِى يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَـٰنِ هُمْ كَـٰفِرُونَ ۝٣٦ خُلِقَ ٱلْإِنسَـٰنُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُو۟رِيكُمْ ءَايَـٰتِى فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ۝٣٧ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَـٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ۝٣٨

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۴۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۸۵
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۴
(۴) مفردات الراغب ص۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَن وُجُوهِهِمُ ٱلنَّارَ وَلَا عَن ظُهُورِهِمْ
وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا
هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم
مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾

[٣٦] او کله چې تا هغه کسان وګوري کومو چې کفر غوره کړی دی نو تا نه نیسي مګر مسخره (په تا باندې خاندي، تاته اشاره کوي او یو تربله سره وايي چې) ایا دغه سړی هغه کس دی چې ستاسو معبودان (په بدۍ سره) يادوي؟

(دوی ذکره شوې خندنی کوي) حال دا دی چې د دېر مهربان الله ﷻ (په وحدانیت سره) په یادولو باندې همدوی کفر کوونکي (انکار کوونکي) دي (باید په دوی باندې خندنی وکړی شي).

[٣٧] انسان د جلتی څخه پیدا کړی شوی دی (ته به وايې چې جلتي یې اصلي ماده ده نو مشرکان څکه په عذاب باندې جلتي کوي) نو دېر ژر دی چې زه به خپل (قدرتي) دلایل درولبده کړم نو تاسو (پرې) زما څخه بې وخته جلتی مه کوئ (ای مشرکانو!).

[٣٨] او مشرکان (په اُخروي عذاب باندې هم جلتي کوي او) وايي چې کله به وي دغه (د قیامت) وعده؟، که تاسو رښتني یاست (نو وخت یې وټاکئ).

[٣٩] که (بالفرض) هغه کسان کومو چې کفر اختیار کړی دی (د هغه) وخت (په سختی) باندې پوه شوي وی چې نه د خپلو مخونو څخه (د دوزخ) اور ایسارولی شي او نه یې د خپلو شاګانو څخه (بلې خوا ته اړولی شي) او (بالآخره) نه دوی وي چې کومک ورسره وکړی شي، (نو کفر به یې نه وی اختیار کړی او په قیامت به یې عجله نه وی کړې).

[٤٠] بلکې قیامت به دوی ته ناڅاپه ورشي نو دوی به (هک پک) حیران جوړ کړي نو نه به دوی توان ولري چې بېرته یې تاو کړي او نه به دوی وي چې مهلت ورکړی شي.

[٤١] او یقیناً (ستا څخه وړاندې) په پیغمبرانو باندې مسخرې کړی شوي دي (چې عذاب ولې ټال دی؟) نو (بیا) د هغو کسانو څخه کومو به چې د پیغمبرانو څخه مسخرې کولې هغه عذاب راچاپېر شوی دی د کوم په سبب به چې دوی استهزاء کوله (چې ولې ټال دی؟).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو خوشالي رده شوې وه چې د دلایلو په مقابله کښې د نبي کریم ﷺ مرګ ته سترګې په لار وه چې کله به ورته مرګ ورسېږي، او په دې ایتونو کښې د یوه پلوه د دلایلو په وړاندې د هغوی خندنی او مسخرې ردې شوې دي او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته داډ او تسلي ورکړه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ ای پیغمبره! په کوم وخت کښې چې ته د کفارو د نظر لاندې راشي نو تاته د حقارت په نظر باندې وګوري او په مسخرو او ملنډو سره دې نیسي. حتی چې تاته د توهین په توګه اشاره کوي او په خپلو منځو کښې وايي چې ايا دغه سړی هغه څوک دی چې ستاسو معبودان په ناتوانی سره یادوي او د باطلو نسبت ورته کوي؟!

حال دا چې د تحقیر او توهین دپاره همدوی لایق دی چې مسخرې او ملنډې وړپورې وکړی شي او دا ځکه چې د ډېر مهربان الله ﷻ د وحدانیت په یادونه باندې همدوی انکار کوونکي دي.

۲ـ ای پیغمبره! مطلق انسان تونديي کوونکی او جلتي کوونکی دی ته به وايي چې د پیدایښت اصلي ماده یې جلتي ده او د همدې څخه یې جوړښت موندلی دی.

خو کافر انسان ډېر جلتي کوونکی دی ځکه چې په الله ﷻ باندې عقیده نه لري ترڅو یې د جلتۍ مخه ونیسي او زړه ته یې ارام او اطمنان ورکړي. د ښه وضاحت دپاره د کافر انسان د جلتۍ مثالونه ولولئ:

الف: کافر انسان په دنیاوي عذاب باندې جلتي کوي چې هله ژر شه عذاب راباندې رانازل کړه که نه نو ته په حقه پیغمبر نه یې.

نو ای پیغمبره! زما دپلوه دوی مخاطب کړه چې ډېر ژر به زه د خپل قدرت نښاني په تاسو باندې وګورم او په یو ډول عذاب باندې به مو مبتلا کړم، تاسو جلتي مه کوئ او بې وخته یې مه غواړئ، څه وخت لا ورته پاتې دي.

ب: همدارنګه کفار په اُخروي عذاب باندې هم جلتي کوي او بې وخته د قیامت قیام غواړي او وايي چې دغه د قیامت د قیام وعده به کله پوره شي؟، که تاسو رښتیا ویونکي یاست نو قیامت قائم کړئ او ټال مه ورکوئ. یا په بل عبارت که د قیامت د قیام خبره رښتیا وی نو تر اوسه به قائم شوی وی، خو دا خبره دروغ ده.

۳ـ ای پیغمبره ! نن ورځ خو کفار د قیامت په قیام باندې باور نه کوي او د استهزاء په توګه پوښتنه کوي چې قیامت به کله وي؟ خو که چرته په دنیا کښې بالفرض کفار پوه شوي وی چې دوی نه به د قیامت په ورځ باندې څه وربېښېږي نو دوی به هیڅکله د مسخرو په توګه پوښتنه نه وی کړې بلکې تیاری به یې ورته نیولی وی، د دوی حال به د قیامت په ورځ داسې وګرځي چې:

الف: د دوی څخه به عذاب راچاپېر شي نه به یې د خپلو مخونو څخه ایسارولی شي او نه به یې د خپلو شاګانو د پلوه بندولی شي بلکې د یوه پلوه به هم د عذاب په مخنیوي باندې توان نه لري.

ب: همدارنګه به نه هلته څوک وموندلی شي چې کومک ورسره وکړي او د عذاب مخه ترې چپه کړي او نجات ورکړي.

۴ـ ای پیغمبره! د قیامت د ټالبدلو وجه بله نه ده فقط همدا ده چې ټاکلی وخت یې نه دی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رارسېدلی، نو کله یې چې ټاکلی وخت راورسېږي بیا به ډېر لږ ورروستوالی هم ونه کړي او ناڅاپه به ورباندې قائم شي، چې هک پک به وګرځي او ټول به متحیرین جوړ شي.

نو په دغه وخت کښې به کفار نه دا توان لري چې قیامت بېرته ستون کړي او د قیام مخه یې ونیسي او نه به دوی ته ټال ورکولی کېږي چې د مهلت څخه څه استفاده وکړي.

۵ـ ای پیغمبره! ته د خپلې زمانې د کفارو په مسخرو باندې مه خپه کېږه او خپله حوصله ورته مه خرابوه او دا ځکه چې ستاسو څخه وړاندې په نورو پیغمبرانو باندې هم د خپلو-خپلو وختونو د کفارو د پلوه ملنډې وهلی شوي دي او مسخرې ورباندې کړی شوي دي، نو ته هم د همدوی د جملې څخه یو فرد (یو پیغمبر) یې، په تا باندې به هم ملنډې وهلی کېږي.

خو لکه څنګه چې په پخوانیو کفارو باندې د خپلې استهزاء او ملنډو عذاب راچاپېر شوی وه او په خپلو-خپلو وختونو کښې یې سزا موندلې وه همدارنګه به ستا د زمانې د کفارو څخه هم د استهزاء عذاب راچاپېر شي او د ملنډو د سزا سره به مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ خُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ مِنۡ عَجَلٖ ﴾ کښې د ﴿ عَجَلٖ ﴾ کلمه هغې توندۍ او جلتۍ ته وضعه شوې ده کومه چې بې وخته د یوه شي په غوښتلو پورې تعلق ونیسي[1]، یعنې انسان ډېر زیات عجله کوونکی او د یوه شي بې وخته غوښتونکی دی ته به وایې چې د جلتۍ او توندۍ څخه جوړ شوی دی.

همدغه مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې فرمایلی دی چې: ﴿ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴾ [الإسراء:۱۱] او انسان جلتي کوونکی دی.

په عین عبارتونو سره الله ﷻ د انسان د کمزورۍ څخه تعبیر کړی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ﴾ [الروم:۵۴] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د کمزورۍ څخه پیدا کړي یاست، تاسو دومره زیات کمزوري یاست لکه چې کمزوري ستاسو دپاره اصل وي.

ب: ﴿ وَخُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ ضَعِيفٗا ﴾ [النساء:۲۸] او انسان کمزوری پیدا کړی شوی دی.

۲ـ په ﴿ سَأُوْرِيكُمۡ ءَايَٰتِي ﴾ کښې د خطاب په ضمیر کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو ویشلی شوي دي:

الف: دغه خطاب مؤمنانو ته متوجه دی[2] یعنې ای مؤمنانو! تاسو د کفارو په تعذیب باندې عجله مه کوئ چې لا تر اوسه پورې یې وخت نه دی رارسېدلی، کله یې چې وخت راورسېږيْ نو ډېر ژر به مونږ تاسو ته خپل قدرتي دلایل درولیدل کړو اوعذاب به ورباندې ورنازل کړو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۳۴

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس یاسین لخوا سکین شو


ب: په ذکر شوي ضمیر سره مشرکان (کفار) مخاطب کړي شوي دي[1]، یعنې ای مشرکانو! تاسو په دنیا کښې په عذاب باندې بې وخته تونده مه کوئ ژر دی چې مونږ به په تاسو باندې خپل قدرتي دلایل وګورو او په عذاب به مو مبتلا کړو.

خو مونږ ته د مقام په اعتبار سره دوهم تفسیر په زړه پوری برېښي، لکه چې الله ﷻ د کفارو د خولو څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الأنفال ۳۲] یعنې کفار وایي چې: ای الله! که دا قرآن ستا په نزد کښې حق وي نو په مونږ باندې د اسمانه د کاڼو باران وکړه او یا راته دردناک عذاب راوله (راولېږه).

## سوال جواب

۳- که څوک وایي چې: کله د انسان په خټه کښې جلتي او تونديّ اغېکلې شوې ده نو په کار دي چې مشرکان په ﴿ فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴾ باندې نه وی مخاطب کړی شوي، ځکه چې په دې صورت کښې خو جلتي د انسان طبیعت جوړېږي او د طبعي شیانو څخه خو څوک خپل ځان نه شي اداره کولی او د خواهشاتو مخه نه شي نیولی؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی اعتراض به په هغه وخت کښې وارد وی که الله ﷻ د عجلې او تونديّ د مخنیوي چاره نه وی نازله کړې، الله ﷻ خو په انسان کښې عقل او حواس د همدې دپاره پیدا کړي دي چې په خپل ځان لږ څه زحمت تېر کړي او د خپلو خواهشاتو مقابله وکړي، او د شهوت پرستۍ څخه یې بچ کړي.

بالآخره د همدغې لاربښوونې او ارشاد دپاره الله ﷻ یو لک څلېرشت زره -زیات یا کم- پیغمبران رالېږلي دي او ګڼ شمېر کتابونه یې نازل کړي دي، نو که څوک د دغو وسائلو څخه کار واخلي د بې ځایه جلتۍ او تونديّ څخه بچ کېدلی شي لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ۝٤٠ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِيَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴾ [النازعات: ۴۰، ۴۱] یعنې او هر هغه څوک چې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د ودرېدلو څخه وډار شي او خپل نفس د خواهشاتو څخه منعه کړي نو یقیناً جنت چې دی د همدوی دپاره استوګنځای دی.

﴿قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَٰنِ ۗ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ۝٤٢
أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ
۝٤٣ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰٓؤُلَآءِ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۗ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ
نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآ ۚ أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ۝٤٤ قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ

---

(1) تفسير ابي السعود ج۶ ص۶۷؛ تفسير البغوي ج۳ ص۲۴۵

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَئِن مَّسَّتۡهُمۡ نَفۡحَةٞ مِّنۡ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ
يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ
نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾

[۴۲] (اى پيغمبره!) ته کفارو (مشرکانو) ته ووايه (او پوښتنه ترې وکړه) چې: د ډېر مهربان الله ﷻ (د عذاب څخه) تاسو په شپه او ورځ کښې څوک ساتي؟

(دوی ساتونکی نه لري) بلکې دوی د خپل رب ﷻ د ذکر څخه (عناداً) اعراض کوونکي دي.

[۴۳] ايا مشرکانو (کفارو) ته زمونږ څخه په غير داسې معبودان شته چې (زمونږ د عذابه يې) بچ کوي؟ (دوی ته دغسې معبودان نشته).

(بلکې) د مشرکانو (باطل) معبودان د خپلو ځانونو د نصرت توان نه لري، او نه زمونږ د پلوه ورسره (مدد) ملګرى کېږي (چې خپل پيروان پرې د عذابه بچ کړي).

[۴۴] (د مشرکانو عذاب غوښتنې د دوی د قوت څخه منشا نه ده اخستى) بلکې (منشا يې دا ده چې) مونږ دغو (مشرکانو) ته او د دوی پلرونو ته د ژوند سامان (متاعګانې) ورکړي دي، آن تر دې چې په دوی باندې (په بې غمۍ او خوشالۍ کښې) عمر اوږد شو (او ډېره موده ورباندې تېره شوه نو خيال يې وکړه چې د عذاب نزول دروغژنه خبره ده).

ايا نو مشرکان نه ګوري چې مونږ (د دوی) ځمکې ته ورځو (قصد کوو او) د څه برخو څخه يې کموو؟ (ايا دا کار د دوی د زوال نښه نه ده؟).

ايا نو دوی (مشرکان په مسلمانانو باندې) غلبه موندونکي دي؟ (دغسې نه ده).

[۴۵] (اى پيغمبره! کفارو ته) ووايه چې يقيناً زه تاسو (د عذاب څخه د خپله ځانه نه ډاروم بلکې) په وحې سره (مو ترې) ډاروم (نو زما خبره بالکل يقيني ده).

او (تاسو ترې کاڼه ياست چې) کوڼ خو بلل (دعوت) نه اوري (البته) کله چې دوی وډارولى شي (نو تاسو يې څکه نه اورئ).

[۴۶] او که چرته مشرکانو ته ستا د رب ﷻ د عذاب د پلوه يوه وږمه (ډېره کمه برخه) ورسېږي نو هرومرو ضرور به دوی ووايي چې اى زمونږ افسوسه (راشه چې همدا دې وخت دى) يقيناً چې مونږ ظلم کوونکي (تيرى کوونکي) وو.

[۴۷] او مونږ به د قيامت په ورځ کښې د انصاف درلودونکې تلې کېږدو (ودروو)، نو په هيڅ نفس به د هيڅ شي ظلم ونه کړى شي.

او که چرته (د عمل) يو شى د اُورې د دانې په اندازه (وړوکى) وي هم مونږ به يې (تلې ته د حساب دپاره) راولو (حاضر کړو).

او مونږ د حساب کوونکو په حيث بس (او کافي) ياستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## ارتباط او د مطلب خلاصه

د دواړو اندېښنو ایتونو په مضامینو کښې دا خبره هم شامله وه چې کفار د قیامت د قیام غوښتنه کوي چې کله به قائم شي، خو که بالفرض د هغې ورځ په سختیو باندې نن ورځ پوه شوي وی نو ذکر شوې غوښتنه به یې نه وی کړې.

په دې ایتونو کښې عین مضمون د دنیاوي عذاب په نسبت منعکس شوی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! ته کفارو ته ووایه چې تاسو په دنیا کښې د عذاب په نزول باندې توندي کوئ او په جلتۍ سره یې غواړئ نو تاسو د دې خبرې جواب راکړئ چې:

که د ډېر مهربان الله ﷻ مهرباني نه وي نو هغه څوک دی چې تاسو د ده ﷻ د عذاب څخه د شپې یا د ورځې په امن کښې وساتي؟ ایا تاسو دومره توان درلودلی شئ چې پخپله د عذاب مخنیوی وکړئ او خانونه ترې په څنګ وساتئ؟

ښه نو چې نه قوي دوست لرئ او نه پخپله د عذاب د مخنیوي قوت لرئ نو په کوم عقل سره د عذاب غوښتنه کوئ؟

۲ـ ای پیغمبره! کفار ښه پوهېږي چې په هیڅ وجه د عذاب مخنیوی نه شي کولی بلکې عناد نیولي دي او په عناد سره د خپل رب ﷻ د منلو څخه اعراض او انکار کوي، که نه نو:

الف: ایا کفار داسې معبودان لري چې زمونږ څخه په غیر یې د عذاب څخه بچ کړي او د عذاب مخه ترې بل طرف ته واړوي؟

ب: د مشرکانو باطل معبودان خو د خپلو خانونو سره نصرت نه شي کولی او د بوت شکن د منګولو څخه خپل خانونه نه شي بچ کولی نو د هغوی سره به څه مرسته وکړي؟.

ج: هو! بوتان ورسره په دې شرط مرسته کولی شي چې زمونږ د پلوه هغوی ته مرسته او نصرت ملګري وګرځولی شي، خو دا کار مونږ نه کوو، او باطلو معبودانو ته نصرت نه ورکوو.

۳ـ ای پیغمبره! مشرکان ښه پوهېږي چې د دوی د باطلو معبودانو هیڅ شی د لاسه نه کېږي او دوی ته هیڅ خیر نه شي رسولی بلکې د عذاب د نزول غوښتنه د دې کبله کوي چې د عذاب نزول ورته دروغ برېښي او دا ځکه چې مونږ مشرکانو ته او د دوی پلرونو ته د ژوند ښه ډېر وسائل ورکړي دي چې دوی لګیا دي دنیاوي استفاده ترې کوي، آن تر دې چې په عافیت او خوشالۍ کښې یې ښه اوږده عمرونه تېر کړه، نو د دوی خیال ته ورځي چې په آینده کښې به هم همدغسې په عافیت او خوشالۍ کښې ژوند وکړي، خو خبره دغسې نه ده لکه چې دوی یې اټکل کوي بلکې خبره دا ده چې:

الف: مشرکانو ته د عذاب د نزول وخت رانږدې شوی دی او په نن سبا کښې به یې ورباندې ورنازل کړو.

ب: ایا نو مشرکان نه ګوري چې د عذاب د نزول نښې ښکاره شوې دي چې مونږ کفري ځمکې ته راځو (قصد ورته کوو) چې روزمره د کفري ځمکې د برخو څخه څه ناڅه کموو او په اسلامي ځمکه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیل کړی دی او د کفارو په وطنونو کښې یې ورشاملوو. یا په بل عبارت اسلام په خوربدلو پیل کړی دی او د کفارو په وطنونو کښې مسلمانان مخ په زیاتېدلو دي.

ځ: ایا نو کفار اوس هم په خپلو خانونو باندې ګومان کوي چې دوی غلبه موندونکي دي؟ دغسې نه ده بلکې دوی د مغلوبیت په لور روان دي، او هغه وخت رانژدې شوی دی چې دوی بالکل مغلوب وګرځي او د اسلام بېرغ په ټول عربستان کښې ورپېږي.

۴ـ ای پیغمبره! ته کفارو ته ووایه چې: زه تاسو په مغلوبیت او د عذاب په نزول باندې د خپله خانه نه ډاروم بلکې د وحې په سبب تاسو ته انذار او اطلاع درکوم چې هیڅ دروغ او هیڅ کوز پاس پکښې نشته، خو افسوس چې تاسو پرې خپل خانونه کاڼه اچولي دي، او پوره واضحه ده چې کله کاڼه خلک ډارول کېږي نو دوی ډارول او حق ته رابلل نه اوري.

۵ـ ای پیغمبره! مشرکانو خو نن ورځ ستا په دعوت باندې خپل ځانونه کاڼه اچولي دي او د عذاب څخه ستا ډارولو ته هیڅ التفات نه کوي، مګر که چرته ستا د رب ﷻ د عذاب څخه دوی ته لږ څه وږمه ورسېږي نو دستي به یې د غوږونو کوڼوالی لرې شي او په چیغو چیغو به خپل افسوس ته نارې کړي چې هله راشه همدا دې وخت دی، یقینًا چې مونږ ظالمان وو او د پیغمبر په ډارولو او دعوت باندې مو خپل غوږونه کاڼه کړي وه.

۶ـ که مونږ په کفارو باندې په دنیا کښې عذاب ورنازل کړو او یا یې درباندې ورنازل نه کړو په هر صورت کښې دوی ته د قیامت عذاب ور روان دی او دوی د قیامت عذاب ته ورروان دي چې سات په سات سره نژدې کېږي، هیڅکله به ترې نجات ونه مومي او دا ځکه چې:

الف: په دغې ورځ کښې به مونږ د انصاف تلې ځای په ځای کېږدو (ودروو) نو په هیچا باندې به تېری ونه کړی شي او د هیڅ شي کمبود به ترې ونه کړی شي.

ب: په دغې ورځ کښې به داسې دقیق حساب صورت ونیسي چې که بالفرض د کوم سړي د یوې ورې دانې په اندازه عمل وي او دانه هم د اُوري دانه وي نو هغه به هم د محاسبې دپاره حاضره کړو او پته به یې پرېنږدو.

ج: هلته به د محاسبې په نتیجه کښې زمونږ محاسبه نهایي محاسبه وي او همدا مونږ به د حساب کوونکي په حیث بس او کافي یاستو.

## توضیحات

۱ـ په ﴿مَن يَكۡلَؤُكُم بِٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ﴾ کښې د "يَكۡلَؤُ" کلمه د "كِلاءُ، كِلاءَةٌ" ـ لکه "نِفَاذٌ، نِفَاذَةٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د حفاظت او ساتنې معنی ورکوي[1] په یوه اورده حدیث کښې نبي کریم ﷺ بلال ﷛ مخاطب کړ چې: «اِكۡلَأۡ لَنَا اللَّيۡلَ»[2] یعنې کله چې نبي کریم ﷺ د یوې غزا څخه را ستون شو

(۱) مفردات الراغب ص۴۵۵
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۲۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خوب پرې غلبه وکړه نو په شپه کښې یې کاروان تم کړ او بلال ﷺ ته یې وظیفه ورکړه چې مونږ ته راته شپه وساته چې د سهار لمونځونه راڅخه فوت نه شي.

اوده کېږو او ته راته شپه وساته چې د سهار لمونځونه راڅخه فوت نه شي.

په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېږي چې: ای کفارو! هیڅوک نشته چې تاسو د الله ﷻ له عذاب څخه وساتي په عدم حفاظت کښې شپه او ورځ یو برابر ده چې د ده ﷻ د عذاب په مقابل د ورځې وینښ او بیدار خلک داسې ناتوانه دي لکه د شپې په خوب باندې ویده (پراته) خلک چې ناتوانه دي.

## اصحاب څه معنی؟

۲_په ﴿وَلَا هُم مِّنَّا يُصْحَبُونَ﴾ کښې د ﴿يُصْحَبُونَ﴾ کلمه د "اِصْحَاب" _لکه "اِكْرَام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اِصْحَاب" دې ته وایي چې څوک د چا سره څه شی ملګری کړي.

په دې مقام کښې مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده چې د بدلیت په اعتبار سره څه منافات هم سره نه لري[1]:

الف: د مشرکانو باطل معبودان نه د خپلو ځانونو د نصرت توان لري او نه خپلو عابدینو ته نجات ورکولی شي، بلکې پخپله دوی ته به هم زمونږ د پلوه د عذاب څخه پنا ورنه کړی شي او نجات به ورسره ملګری نه کړی شي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ [الأنبياء:۹۸] یقینًا (ای مشرکانو!) تاسو او هغه شیان کوم چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ د دوزخ خاشاک یاست.

ب: د مشرکانو باطل معبودان نه د خپلو ځانونو او خپلو عابدینو سره کومک کولی شي او نه به زمونږ د پلوه ورسره معونت او نصرت ملګری کړی شي چې زمونږ په کومک یا د خپلو ځانونو سره او یا د خپلو معبودانو سره مدد وکړي او زمونږ د عذابه نجات ورکړي.

یا په بل عبارت: د باطلو معبودانو سره به زمونږ د پلوه توفیق ملګری نه کړی شي لکه څنګه چې د پیغمبرانو او د خیر د داعیانو سره ملګری ګرځولی کېږي.

همدې مضمون ته په بل ایت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ﴾ [طه:۴۶] یعنې الله ﷻ موسی ﷺ او هارون ﷺ ته داډ ورکړه چې دارېږئ مه، یقینًا زما نصرت او کومک ستاسو سره ملګری دی (زه ستاسو سره یم) اورم او ګورم.

## سوال جواب

۳_که څوک وایي چې: د ﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآ﴾ مضمون خو

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۳۹؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۱۱۹؛ تفسير المظهري ج۶ ص۱۹۸؛ تفسير البغوي ج۳ ص۲۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې راخبرژي چې: ايا نو مشرکان خپلې کفري ځمکې او ښارونو ته نه ګوري چې مونږ ترې خينې ځنډې او خينې برخې کموو او د مسلمانانو د تسلط لاندې يې واقع کوو؟ ايا نو دوی اوس هم تمه کوي چې دوی به غالب شي او مسلمانان به مغلوب کړی شي؟

نو پوښتنه دا ده چې: په ذکر شوي تفصيل سره خو کفري ځمکې په مدينه منوره کښې په تنقيص (کمبود) باندې پيل کړي وو کله چې جهاد فرض شو او مسلمانانو د خپل جهاد لمن چارچاپېره ځمکو او ښارونو ته وراوږده کړه، حال دا چې دا سورت مکي دی او په مکه کښې خو جهاد نه وه فرض شوی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی سوال مونږ د الله ﷻ په توفيق باندې د [الرعد:۴۱] ايت لاندې جواب کړی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې جوابونه وراضافه کوو:

الف: که څه هم سورت مکي دی خو همدغه يو ايت پکښې مدني دی[۱] او په هغه وخت کښې نازل شوی دی کله چې جهاد ښه په درز کښې روان وه.

ب: د ﴿ٱلْأَرْضَ﴾ څخه د پخوانيو کفارو ځمکه مطلب ده لکه عاديان، ثموديان او نور[۲].

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخبرژي چې: ايا نو د مکې مشرکان د هلاکو شوو کفارو کنډوالې نه ګوري ترڅو دوی زمونږ په عادت باندې پوه شي؟ هغه دا چې مونږ کفري ځمکې ته ورځو او قصد ورته کوو چې لږ-لږ برخې يې کموو او بالآخره ټوله په کنډواله باندې بدلوو، ايا دوی د دې څخه عبرت نه اخلي؟ او ايا دوی لا اوس هم خپلې غلبې ته په تمه دي؟.

## نفحة څه معنی؟

۴_ د ﴿نَفْحَةٌ﴾ کلمه خو اصلاً د خوږې وږمې دپاره وضعه شوې ده مګر د کنايې په توګه په عذاب کښې هم استعمالېږي[۳]، په دې مقام کښې همدغه کنايي معنی مراده ده، يعنې نن ورځ خو مشرکان د استهزاء په توګه د عذاب د نزول غوښتنه کوي خو که اصلي عذاب نه بلکې د عذاب وږمه ورباندې ولګېده نو بيا به د افسوس چيغې او فرياد پورته کړي او بې وخته په خپله غوښتنه باندې پښېمانې ښکاره کړي.

## يادونه

۵_ په ﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ﴾ کښې د "مَوَازِين" په کلمه باندې مونږ د الله ﷻ په توفيق سره د [الأعراف:۸] ايت لاندې ښه کافي بحث کړی دی دلته پرې نه نور څه زياتوو او نه يې په بيا ليکلو کښې څه ګټه ګورو، هيله ده چې محترم لوستونکي هملته يو ځل مراجعه وکړي.

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۵۳
(۲) اضواء البيان ج۴ ص۶۳۴
(۳) مفردات الراغب ص۵۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَبَّهُم بِٱلۡغَيۡبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشۡفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكۡرٞ مُّبَارَكٌ أَنزَلۡنَٰهُۚ أَفَأَنتُمۡ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾

[۴۸] او یقیناً مونږ موسی ﷺ او هارون ﷺ ته (د حق او باطل) جدا کوونکی (او د دنیا او آخرت دپاره) رڼا او (بالآخره) د متقیانو دپاره پند او نصیحت (کتاب) ورکړی وه.

[۴۹] متقیان هغه کسان دي چې د خپل رب ﷻ څخه په غیبو سره ډاریږي، او (همدارنګه) دوی د قیامت د ورځې څخه (په خپلو ځانونو باندې) شفقت کوونکي دي (چې چرته په عذاب باندې اخته نه شي).

[۵۰] او دغه (قرآن کریم) پند (او شرف) دی (او) د برکت څخه ډک دی چې مونږ نازل کړی دی. نو (ای مشرکانو!) ایا تاسو (بل کتاب ته نه بلکې) همدې کتاب ته (د همدې کتاب څخه) انکار کوونکي یاست؟

## ارتباطونه

۱ـ مونږ د دې سورت په سریزه کښې لیکلي دي چې دا سورت تقریباً په دوه وو برخو باندې ویشلی شوی دی چې یوه یې د توحید د استدلالاتو برخه ده او بله یې د پیغمبرانو د حالاتو د شرحه کولو برخه ده، نو کله چې اوله برخه ختمه شوه نو په ذکرو شوو ایتونو سره یې دوهمه برخه پیل شوه.

۲ـ په وړاندېنیو نژدې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د نصرت او غلبې د ورکړې اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې په همدغه مطلب باندې د رڼا اچولو دپاره د موسی ﷺ او هارون ﷺ نصرت او غلبې ته په اجمالي توګه اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپل تسکین دپاره چې په نژدې وختونو کښې به په خپلو دښمنانو باندې غالب شې د موسی ﷺ او هارون ﷺ د غلبې حالات په لاندې ډول یاد کړه:

۱ـ مونږ دوی دواړو ته داسې کتاب ورکړی وه چې:

الف: د حق او باطل ترمنځ یې په قطعي توګه فیصله کوله.

ب: په دې کتاب کښې د دنیا او آخرت په امورو کښې رڼا نغښتې وه.

ج: بالآخره هغه داسې کتاب وه چې د متقیانو دپاره پند او نصیحت وه، البته متقیان د هغو کسانو څخه عبارت دی چې:

اول: د خپل رب ﷻ څخه په غیبو باندې ډاریږي چې دوزخ یې په سترګو باندې نه دی لیدلی خو د خپل کتاب فرامین داسې ګڼي لکه په سترګو باندې یې چې لیدلي وي.

دوهم: دوی د قیامت د ورځې څخه هم په خپلو ځانونو باندې په ډار کښې دي چې هلته د خجالت سره مخامخ نه شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ لنډه دا چې مونږ ذکرو شوو دوه وو پیغمبرانو ته د خپل وخت په فرعون باندې غلبه ورکړه حال دا چې په ابتدايي وخت کښې يې د خپلو څانونو (دوه وو تنو) څخه اضافه پيروان نه درلوده، خو د تورات غوندې جليل القدر کتاب او نهه قوي معجزې مو ورته ورکړې وې.

نو ډېر ژر دی چې تاته به هم د خپل وخت په فراعنه وو باندې غلبه درکړو حال دا چې:

الف: ته خو يوه ډله پاخه مسلمان ملګري لرې او يوازې نه يې.

ب: په دې باندې علاوه په تا باندې مو دغه برکتناک کتاب (قرآن کريم) هم درنازل کړی دی چې په برکت کښې په تورات باندې زيات دی.

۳_ نو اوس يو څل بيا زمونږ د پلوه مشرکان (کفار) مخاطب کړه چې: ايا تاسو بل کتاب ته نه بلکې دغه مبارک کتاب (قرآن کريم) ته د انکار په نظر ګورئ؟ ايا تاسو د موسی ﷺ د فرعون څخه د عبرت درس نه اخلئ چې خپل انکار ته ادامه ورکوئ؟.

## توضيحات

۱_ اکثرو مفسرينو کرامو[1] په ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا ﴾ کښې درېواړه کلمې "فُرْقَان، ضِيَاء، ذِكْر" د تورات څخه کنايه ګڼلې دي چې دا کتاب په درېواړو صفاتو باندې مشتمل وه، خو مونږ ته بهتره برېښي چې په تورات پورې انحصار ورنه کړی شي څکه چې ذکر شوي درېګوني صفات لکه چې په تورات باندې صادقېدل په معجزاتو باندې يې هم صدق مونده کاوه. نو بايد چې درېواړه کلمې د تورات او معجزاتو څخه عبارت وګڼلی شي.

۲_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۹۲] ايت لاندې د ﴿ مُّبَارَكٌ ﴾ کلمه ښه تحليله کړې ده، او د قرآن کريم برکات مو شرحه کړي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَـٰلِمِينَ ۝٥١ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا هَـٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِىٓ أَنتُمْ لَهَا عَـٰكِفُونَ ۝٥٢ قَالُوا۟ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَـٰبِدِينَ ۝٥٣ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ۝٥٤ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا بِٱلْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ ٱللَّـٰعِبِينَ ۝٥٥ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلَّذِى فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّـٰهِدِينَ ۝٥٦ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَـٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟ مُدْبِرِينَ ۝٥٧ فَجَعَلَهُمْ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ۝٥٨ قَالُوا۟ مَن فَعَلَ هَـٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُۥ

(۱) تفسير القاسمي ج۱۱ ص۲۶۲؛ روح المعاني ج۱۷ ص۵۷

Scanned by CamScanner

لَمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتًى يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ
عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوٓاْ ءَأَنتَ فَعَلۡتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ
﴿٦٢﴾ قَالَ بَلۡ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمۡ هَٰذَا فَسۡـَٔلُوهُمۡ إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ
أَنفُسِهِمۡ فَقَالُوٓاْ إِنَّكُمۡ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُواْ عَلَىٰ رُءُوسِهِمۡ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا
هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا
يَضُرُّكُمۡ ﴿٦٦﴾ أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾

[۵۱] او یقینًا مونږ ابراهیم ﷺ ته د موسی ﷺ او هارون ﷺ څخه وړاندې د ده جامع هدایت ورکړی وه، او مونږ په ده باندې پوهېدونکي وو (چې استعداد يې پکښې شته دی).

[۵۲] (ای پیغمبره!) هغه وخت (یاد کړه کله چې) ابراهیم ﷺ خپل پلار او خپل قوم ته وویلې چې دغه مثالي مجسمې څه شی دي؟ (ستاسو څه په درد خوري؟ البته) کومو ته چې تاسو د عبادت په بېت (د منجاورانو غوندې) ولاړ یاست.

[۵۳] مشرکانو (په جواب کښې) وویلې چې: مونږ همدې (بوتانو) ته خپل پلرونه عبادت کرونکي موندلي دي (نو مونږ د خپلو پلرونو په تګلارې روان یاستو).

[۵۴] ابراهیم ﷺ وویلې چې: یقینًا تاسو او ستاسو پلرونه په څرګنده ګمراهۍ کښې یاست.

[۵۵] مشرکانو وویلې چې: (ای ابراهیمه!) ایا ته مونږ ته په حقه راغلی یې او که د ساتیروونکو څخه یې؟ (ته رښتیا وایې او که ټوقه کوې؟).

[۵۶] ابراهیم ﷺ وویلې چې: (زه ټوقه نه کوم) بلکې ستاسو رب ﷻ د اسمانونو او ځمکو رب دی (البته) هغه رب چې د اسمانونو او ځمکو مجموعه يې بدون د سابقه مثله پیدا کړې ده.
او زه په همدغه کار باندې د شهادت ورکوونکو څخه یم (او اعتراف پرې کوم).

[۵۷] او په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه به هرومرو خامخا ستاسو د بوتانو (په ماتولو کښې زیار وباسم، (البته) د هغه څخه وروسته چې تاسو (مېلې ته) مخونه په داسې حال کښې دروګرځوئ چې (بوتانو ته) شاکوونکي یاست.

[۵۸] نو ابراهیم ﷺ (ټول) بوتان میده-میده کړه مګر لوی بوت (چې) دوی ته (لوی ښکارېده)، شاید چې مشرکان همده (لوی بوت) ته رجوع وکړي (او پوښتنه ترې وکړي چې دا ولې؟).

[۵۹] مشرکانو وویلې چې: هر چا چې دغه کار زمونږ د بوتانو سره کړی دی یقینًا چې هغه د ظالمانو څخه دی (نو معلومات راکړئ چې دا کار چا کړی دی؟).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۰] (ځینو) مشرکانو وویلې چې: مونږ د یوه ځوان څخه واورېده چې بوتان یې (په بده) یادول، چې ابراهیم ورته ویل کېږي (په همدې نامه یادېږي او د بوتانو سره عداوت لري).

[۶۱] مشرکانو وویلې چې ابراهیم (نامی ځوان) د خلکو د سترګو لاندې راولئ، شاید چې دوی (د نوموړي په ورانکارۍ) شهادت ورکړي (او استنطاق یې وګوري).

[۶۲] مشرکانو (ابراهیم ﷺ ته) وویلې چې: ایا زمونږ د معبودانو سره تا دغه کار کړی دی؟ ای ابراهیمه!.

[۶۳] ابراهیم ﷺ وویلې چې: بلکې دا کار د بوتانو دغه لوی بوت کړی دی، نو تاسو ترې پوښتنه وکړئ که دوی وي چې خبرې کوي (نو جواب به درکړي).

[۶۴] نو مشرکانو خپلو ځانونو ته رجوع وکړه (او په فکر کښې ولوېده) نو (بیا) یې (د خپلو ځانونو سره) وویلې چې: یقینًا همدا تاسو ظالمان یاست (چې بوتان مو بې حفاظته پرېښي وه او د ابراهیم ﷺ سره جګړه کوئ).

[۶۵] بیا (د فکر او حجت د حیثه) په خپلو سرونو باندې نسکور کړی شوه (او وېې ویلې چې: ای ابراهیمه!) ته خو پوهېږې چې دغه (معبودان) خبرې نه کوي.

[۶۶] ابراهیم ﷺ وویلې چې: ایا نو تاسو بدون د الله ﷻ څخه د هغو شیانو عبادت کوئ کوم چې تاسو ته نه د څه شي ګټه رسولی شي او نه درته د ضرر د رسولو (توان) لري؟

[۶۷] تاسو ته او هغو شیانو ته افسوس (او د أُف کلمه ده) د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ.

ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ (چې په حسرت او افسوس باندې پوه شئ).

## د مطلب خلاصه

د پیغمبرانو د حالاتو د بیان څخه په ذکر شوو ایتونو کښې د ابراهیم ﷺ حالات نازل شوي دي نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې عمومًا او په قریشو مشرکانو باندې خصوصًا د ابراهیم ﷺ حالات قرائت کړه چې د دوی نیکه دی، شاید چې څه عبرت ترې واخلي او د بوت پرستۍ څخه توحید ته راوګرځي، هغه دا چې:

۱ـ یقینًا مونږ لا د موسی ﷺ او هارون ﷺ څخه پخوا ابراهیم ﷺ ته د سمې لارې د پېژاندلو سلیقه او استعداد ورکړی وه او مونږ ورباندې پوه وو چې د خپل استعداد په مطابق کار کولی شي او د باره یې وتلی شي. د ښه وضاحت دپاره د ابراهیم ﷺ د مبارزې لاندې قیصه په خپل امت باندې ولوله چې د مشرکانو په مقابل کښې په څومره قوي عزم سره ودرېد او د خطرناکو پلانونو څخه یې ونه ډار شو چې:

۲ـ هغه وخت خپل امت ته ورپه یاد کړه چې ابراهیم ﷺ د خپل قوم سره عمومًا او د خپل پلار

Scanned by CamScanner

ی، خصوصاً د بوتانو په رد کښې داسې مباحثه وکړه چې:

ابراهیم ﷺ: دغه مجسمې څه شی دي؟ دغه څه ارزښت لري چې تاسو په خپلو لاسونو باندې جوړې کړې دي او په عبادت باندې یې په دوامداره توګه کلک ولاړ یاست؟

ایا دغه تمثالونه (مجسمې) تاسو ته په عبادت سره څه ګټه رسولی شي؟ او یا دعدم عبادت په صورت کښې تاسو ته د څه ضرر رسولو توان لري؟.

مشرکان: دغه مجسمې که مونږ ته نه ګټه رسولی شي او نه د ضرر توان لري هم مونږ یې خکه په عبادت باندې کلک یاستو چې مونږ په همدغه حالت باندې خپل پلرونه موندلي وه، چې د همدغو مجسمو په عبادت باندې به مشغول وه، دا مونږ ته د هغوی څخه راپاتې دي او مونږ نه غواړو چې د خپلو پلرونو لاره پرېږدو او په هغې لارې باندې روان شو کومې ته چې ته دعوت راکوې.

ابراهیم ﷺ: عجیبه ده چې تاسو د خپلو پلرونو په پټو سترګو تقلید کوئ، او د هغوی په کړنلاره کښې سوچ او فکر نه کوئ چې هغوی په حقه روان وه او که باطله لاره یې خپله کړې وه؟.

که بالفرض تاسو دغه ډول سوچ کړی وی د هغوی پیروي به مو نه وی کړې او دا خکه چې هغوی په خپل وخت کښې په ښکاره ګمراهۍ کښې اخته وه او تاسو نن ورځ په څرګنده بې لارۍ کښې واقع یاست، نو بهتره دا ده چې د هغوی څخه صرف نظر شئ.

مشرکان: ای ابراهیمه! ایا دغه خبرې د زړه څخه کوې او که ټساتیري کوې؟ ته د خپله ځانه سره فکر وکړه او خپله خوله اداره کړه، دا څه وایې؟ ایا دا خبره د کولو ده چې مونږ او زمونږ پلرونه ټول ګمراهان یاستو او یوازې ته په سمه لاره باندې روان یې؟.

ابراهیم ﷺ: زه ساتیري نه کوم بلکې تاسو ته په قصدي توګه وایم چې ستاسو په لاسونو جوړې کړې شوې مجسمې ستاسو حقیقي معبودان نه دي، تاسو د هغو په عبادت کښې خطا شوي یاست بلکې:

الف: ستاسو حقیقي معبود او حقیقي پالونکی هغه اقدس ذات دی کوم چې د اسمانونو او ځمکو حقیقي پالونکی دی.

ب: همدغه اقدس ذات هر شی پیدا کړی دی، یا په بل عبارت حقیقي معبود هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې او هم تاسو او ستاسو معبودان یې پیدا کړي دي، او د نشت څخه یې موجود کړي دي، ایا ستاسو مجسمې پیدا کول کولی شي؟.

ج: تاسو خبردار اوسېږئ، زه تاسو ته خپله عقیده په ډاګه اعلانوم او په دې باندې د شهادت ورکوونکو څخه یم چې حقیقي معبود یکي یو الله ﷻ دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې دي او د هغو شیانو خالق هم دی په کومو باندې چې دغه دواړه مشتمل دي.

د: زما دې په خپل رب ﷻ باندې سوګند وي چې زه به هرومرو تاسو ته ستاسو د باطلو معبودانو ناتواني درونبایم، او داسې پټ تدبیر به ورسره وچلوم چې تاسو یې هم په ناتوانۍ باندې اعتراف وکړئ، البته دا هله چې تاسو خپلې میلې ته مخې وګرځوئ او دغو باطلو معبودانو ته شا کړئ (دلته یې یوازې پرېږدئ).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



### ابراهیم ﷺ خپله نقشه عملي کړه:

۳_کله چې مشرکان خپلې مېلې ته لاړه او بوتخانه بې چوکیداره (بې محافظه) پاتې شوه، نو ابراهیم ﷺ په بوتانو باندې خپله نقشه عملي کړه چې:

الف: یو تبر یې د خپله خانه سره واخست او بوتخانې ته ورننووت، نو ټول بوتان یې په تبر باندې پرچه-پرچه او ټوټه-ټوټه کړه، مګر هغه بوت یې روغ رمټ پرېښود کوم چې د مشرکانو په نزد لوی برېښېده او د نورو په نسبت یې ورته په درانه نظر کاته، او یا هغه چې جسم یې د نورو څخه غټ وه.

ب: بیا یې خپل تبر د همدغه غټ بوت په غاړه کښې واچاوه، تا به ویل چې غټ بوت په ورو بوتانو باندې په غُصه شوی دی او ټول یې د تبر د خولې څخه ویستلي دي، او غُصه یې لا اوس هم سړه نه ده (تبر یې په غاړه کښې پروت دی).

ج: ابراهیم ﷺ دغه کار د دې دپاره عملي کړ ترڅو ده ﷺ ته د مشرکانو سره د سوال جواب زمینه برابره شي، چې هغوی به ورته رجوع وکړي چې دا کار دې ولې کړی دی؟ او ابراهیم ﷺ به جواب ورکړي چې د دغه مشر بوت څخه پوښتنه وکړئ.

### مشرکان د مېلې څخه راستانه شوه:

۴_ کله چې مشرکان د مېلې څخه راستانه شوه او په بوتخانه کښې یې د خپلو بوتانو په حالت باندې سترګې ونښتې چې ټول وهل شوي (ټکول شوي) پراته دي او یوازې یو بوت تبر په غاړه روغ رمټ دی، نو په خپلو منځو کښې یې یو تر بله لاندې سوال جواب وکړ:

الف: یوې ډلې وویلې چې: زمونږ د معبودانو سره دغه بد عمل چا انجام کړی دی؟ یقیناً چې د دې کار انجامونکی د سختو ظالمانو څخه دی، چې دغسې ناوړه کار یې زمونږ د مقدساتو سره اجراء کړی دی.

ب: ځینو نورو وویلې چې: په کوم وخت کښې چې مونږ مېلې ته روان وو هلته مونږ د یوه ځوان څخه واورېده چې زمونږ بوتان یې په بده یادول، او حتی په سوګند سره یې ورته د بدی رسولو اراده وکړه. نوموړی ځوان په مجالسو کښې د ابراهیم په نامه بلل کېږي، نور یې نو مونږ نه پېژنو چې کوم یو ځوان دی.

ج: کله چې بوت پرستانو ته د بوت شکن پته ولګېده نو سمدستي ټولو په یوه خوله نارې کړې چې: هلئ ژر شئ! ابراهیم نامی ځوان دلته حاضر کړئ او د ټولو خلکو په وړاندې یې ودروئ او د استنطاق لاندې یې ونیسئ، ترڅو د یو پلوه ټولو خلکو ته د نوموړي ورانکاري او د بوتانو سره بې ادبي څرګنده شي او ټول ورته په غُصه شي، او د بله پلوه شاید چې په خپل بد عمل باندې اعتراف وکړي او یا پرې شاهدان شاهدي ورکړي چې ذکر شوي بد عمل د همده د پلوه صورت نیولی دی، ترڅو د خپل بد عمل سزا د خلکو په وړاندې وګالي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ابراهیم ﷺ ځخه استنطاق:

۵_ کله چې ابراهیم ﷺ د خلکو اجتماع ته وروغوښتل شو او د ماتو کړی شوو بوتانو ترڅنګ ودرولی شو، نو د مشرکانو سره یې په لاندې ډول سوال جواب وکړ:

مشرکان: ای ابراهیمه! ایا دغه کار تا کړی دی؟ ایا دغه کار د کولو وه؟ ته ورته وګوره! یا په بل عبارت: ایا ته همغه سړی یې چې زمونږ د معبودانو سره دې د اهانت او سپکاوي عمل ترسره کړی دی؟

ابراهیم ﷺ: دا کار ما نه دی کړی بلکې دا کار ستاسو د بوتانو دغه مشر بوت کړی دی چې تبر یې په غاړه کښې پروت دی او غُصه یې لا نه ده سړه شوې، نو:

اول: تاسو د مشر بوت ځخه پوښتنه وکړئ او د استنطاق لاندې یې ونیسئ چې په کشرانو باندې په څه خبره په غُصه شوی دی چې ټول یې تادیبًا میده-میده کړي دي.

دوهم: او یا مات شوي بوتان وپوښتئ چې تاسو چا میده-میده کړئ؟، او یا تاسو ته مشر بوت په څه غُصه شوی وه؟.

دریم: نو ای مشرکانو! که ستاسو بوتان خبرې کولی شي نو تاسو به په اصل حقیقت باندې خبر کړي، چې دا کار ما کړی دی او که مشر بوت کړی دی؟

مشرکان: د ابراهیم ﷺ د ذکر شوي بیان په اورېدلو سره مشرکان هک پک ودرېده او د لاندې کیفیت سره مخامخ شوه:

الف: دوی په خپلو ګرېوانونو کښې سرونه ښکته کړه او خپلو ځانونو ته متوجه شوه او په خپلې غلطۍ باندې یو ځل بیا پوه شوه نو یو تر بله یې سره وویلې چې:

ب: چې یقینًا تاسو ظالمان یاست چې د یوه پلوه د داسې شیانو عبادت کوئ کوم چې اقلاً د خپلو ځانونو ځخه دفاع نه شي کولی، او د بله پلوه مو دغه خپل معبودان دلته بې پېره داره پرېښي وه او تاسو ټول د ځرمې مېلې ته وتلي وئ چې میده-میده کړی شوي دي، که نه نو د دغه خجالت سره به نه وی مخامخ شوي.

ج: بیا مشرکان بېرته سرچپه شوه او د برېښنا غونډې کومې نرۍ رڼا چې د دوی په زړونو کښې پرق وهلی وه او د هغې په سبب یې خپلو ځانونو ته د ﴿ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ لقب ورکړی وه هغه بېرته ژر مړه شوه.

خو په داسې خبره باندې یې تلفظ وکړ کومه چې د دوی په ضرر تمامېده او د ابراهیم ﷺ استدلال ته یې قوت ورکاوه هغه دا چې:

د: ای ابراهیمه! یقینًا ته خو پوهېږې چې زمونږ دغه معبودان چې ستا د نظر لاندې دي، خبرې نه شي کولی، نو زمونږ ځخه یې د استنطاق غوښتنه مه کوه، او خجالت مو مه اضافه کوه، خو د دې سره-سره مونږ خپله تګلاره نه شو بدلولی.

۵_ ای پیغمبره! په دغه وخت کښې ابراهیم ﷺ هغه مطلب ته ورسېد د کوم دپاره یې چې بوتان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



میده-میده کړي وه، نو هغوی یې مخاطب کړه چې:

الف: ای مشرکانو! ایا نو تاسو د هغو شیانو عبادت کوئ کوم چې تاسو ته د عبادت په صورت کښې گټه نه شي رسولی، او د عدم عبادت په صورت کښې مو د ضرر په رسولو باندې توان نه لري؟

ب: حال دا چې تاسو د هغه اقدس ذات عبادت د پښو لاندې کړی دی چې ستاسو گټه او تاوان یې دواړه په واک او اختیار کښې دي.

ج: تاسو او ستاسو معبودانو ته افسوس دی او زه خپله زړه تنګي د أُف په ویلو سره څرګندوم.

د: ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ ایا دغسې کار د هوښیارانو سره مناسب دی؟ نو دا دی زه یو ځل بیا تاسو سمې لارې ته رابولم چې شرکیات پرېږدئ او د خپل رب ﷻ په وحدانیت باندې عقیده وکړئ چې هیڅ شریک نه لري.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ مِن قَبْلُ ﴾ کښې د "رُشْد" کلمه د "غَي" د کلمې په مقابل کښې استعمالېږي او "غَي" هغه جهل ته ویل کېږي کوم چې د فاسد اعتقاد څخه منشأ اخستې وي[۱]، نو په دې تقدیر "رُشْد" د هغې پوهې نوم دی کومه چې په صحیح اعتقاد باندې ولاړه وي، نو د رشد په مفهوم کښې د نبوت څخه نیولې آن د دنیاوي هوښیارۍ پورې ټولې ښېګڼې او سرلوړی شاملې دي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ذکره شوې ټکړه کښې د ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ کلمه د اضافت څخه پرې کړه شوې ده خو مضاف الیه بالکل د نظره نه دی غورزولی شوی چې د همدغې کلمې پیښ وریاندې دلالت کوي. نو پوښتنه دا ده چې هغه د څه شي څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: د مضاف الیه په تعین کښې یې که څه هم مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۲]، لکه نبوت او بلوغ او داسې نور؛ خو کوم تعین چې د قرینې په بنیاد صورت نیولی دی هغه دا دی چې دلته مضاف الیه د موسی ؑ او هارون ؑ څخه عبارت دی کوم چې په وړاندې ایت کښې ذکر دي، او ظهور یې داسې کېږي چې: "مِنْ قَبْلِ مُوسى وَهَارُون" یعنې مونږ ابراهیم ته د موسی ؑ او د هارون څخه لا وړاندې داسې جامعه پوهه ورکړې وه چې د دنیا او د آخرت په امورو باندې د واقع مطابق پوهېده او د ناپوهۍ څخه موساتلی وه (په سوچه توحید باندې مو پوهه ورکړې وه) د اضافت په اعتبار سره د دې ایت نظیر دا ایت شریف دی چې: ﴿ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ﴾ [الأنعام:۸۴] یعنې مونږ هر یوه (اسحق ؑ او یعقوب ؑ) ته هدایت کړی وه او د دوی دواړو څخه مو وړاندې نوح ؑ ته هدایت کړی وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۰، ۲۰۱

(۲) البحر المحیط ج۷ ص۴۴۲؛ التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تماثيل څه معنی؟

۳_ په ﴿ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ﴾ کښې د "تَمَاثِيل" کلمه د "تِمْثَال" _لکه "تِبْيَان"_ جمعه ده، "تِمْثَال" د هغې مجسمې نوم دی کومه چې د يوه مخلوق په شکل او څېره د لرګي يا بل شي څخه جوړه کړی شي[۱].
د هغې زمانې مشرکانو خپل بوتان د سړيو په شکل او څېرو د مختلفو شيانو څخه جوړول او ابراهيم ﷺ به پېژاندل چې د مختلفو شيانو څخه جوړ دي نو په ﴿ مَا هَٰذِهِ ﴾ سره يې د هغو د تحقير په غرض بوت پرستانو ته پوښتنه راجع کړه چې: دا ستاسو څه په درد باندې خوري؟ دا څه ارزښت لري؟

## يادونه

۴_ که څه هم ځينو مفسرينو کرامو په ﴿ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ ﴾ کښې د ﴿ فَطَرَهُنَّ ﴾ بارز ضمير د "تَمَاثِيل" کلمې ته ظاهر ګڼلی دی چې درې ايتونه وړاندې ذکره ده[۲]، مګر مونږ ته بهتره برېښې چې دغه ضمير د ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ مجموعې ته راجع شي، چې ډېره نژدې ذکره ده او په "تَمَاثِيل" باندې مشتمله هم ده.
نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای بوت پرستانو! ستاسو رب هغه اقدس ذات دی چې د اسمانونو او ځمکو مجموعه يې د نشت څخه پيدا کړې ده (د دغې مجموعې په ضمن کښې ستاسو بوتان هم شامل دي) چې ونې او بوټي يې پيدا کړي دي کوم چې ستاسو د بوتانو خام مواد دي.

## کَيد څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم ﴾ کښې د ﴿ لَأَكِيدَنَّ ﴾ کلمه د "كَيْد" _لکه "كَيْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "كَيْد" دې ته وايي چې څوک چاته د حيلې په توګه ضرر ورسوي چې په ظاهر کښې پرې هغه نه پوهېږي. څرنګه چې دغه ډول عمل اجراء کول لږ څه کوښښ او زيار ته ضرورت لري نو په دې مقام کښې د مجاز په توګه د "كيد" څخه همدغه کوښښ او زيار مراد دی[۳]، يعنې زما دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زه به ستاسو د بوتانو په ماتولو او ميده ميده کولو کښې زيار وباسم.

## يادونه

۶_ که څه هم ابراهيم ﷺ د ﴿ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصۡنَٰمَكُم ﴾ کلمات د خپله ځانه سره پټ ويلي وه خو د ځينو خلکو غوږونو ته رسېدلي وه لکه چې وروسته يې ورباندې جاسوسي وکړه او ويې ويلې چې: ﴿ سَمِعۡنَا فَتًى يَذۡكُرُهُمۡ يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ ﴾ يعنې مونږ د ابراهيم نامې ځوان څخه واورېدل چې بوتان يې د غوصې په حال کښې يادول چې زه به يې داسې او هاغسې کړم.

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۵۹؛ مفردات الراغب ص۴۸۲
(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۷۳
(۳) روح المعاني ج۱۷ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ابراهیم ﷺ خپله نقشه عملي کړه

۷_ په ﴿ فَجَعَلَهُمْ جُذَٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴾ کښې دېته اشاره شوې ده چې ابراهیم ﷺ خپله نقشه عملي کړه او خپل سوګند یې رښتیا کړ چې تفصیل یې دا دی:

الف: د "جُذاذ" کلمه د "جذاذة" جمعه ده چې د "جذ" _لکه "مد"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "جذ" د یوه کلک شي ماتولو ته ویل کېږي او "جذاذة" د هغې یوې پارچې نوم دی کوم چې د ماتولو څخه وروسته صورت ونیسي[۱]. یعنې: کله چې ټول مشرکان (د خرمې) مېلې ته لاړه او بوتخانه د محافظینو او عابدینو څخه خالي پاتې شوه، نو ابراهیم ﷺ تبر په لاس ورننووت او ټول بوتان یې میده-میده کړه، مګر یو بوت یې روغ پرېښود.

ب: په ﴿ كَبِيرًا لَّهُمْ ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو بارز ضمیر بوتانو ته راجع کړی دی[۲] خو موږ ته بهتره برېښي چې دا به مشرکانو ته راجع وي، که نه نو په اضافت سره به "كَبِيرُهُمْ" نازل شوی وی لکه چې په ﴿ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا ﴾ کښې په اضافت سره نازل شوی دی.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ابراهیم ﷺ نور بوتان میده- میده کړه او یو هغه بوت یې روغ رمټ پرېښود کوم چې مشرکانو ته کبیر او لوی ښکارېده.

ج: ځینې مفسرین کرام وایي چې: په بوتخانه کښې د موجوده وو بوتانو تعداد دوه اویاوو (۷۲) ته رسېده، چې ځینې د سرو زرو، ځینې د سپینو زرو، ځینې د اوسپنې، ځینې د زېړو، ځینې د سرپو، ځینې د ګانو او بالآخره ځینې د لرګیو څخه جوړ کړی شوي وه، او کوم بوت چې مشرکانو ته لوی (کبیر) ښکارېده هغه د سرو زرو څخه جوړ وه چې په ملغلرو سره جړاو کړی شوی وه، او دوه سترګې یې د یاقوتو څخه جوړې وې چې د ورایه یې پرق واهه[۳]. په دې تقدیر به د "کَبیر" څخه د قیمت په اعتبار سره لوی مطلب شي.

خو موږ ته بهتره برېښي چې لویوالی به یې د مجسمې په اعتبار سره وي، او لوی بوت به یې هغه وه کوم چې د لرګي څخه جوړ وه او په ټولو باندې په جسم کښې غټ وه.

زموږ طرز فکر ته ځینو مفسرینو کرامو[۴] اشاره کړې ده چې په بوتخانه کښې مات کړی شوي بوتان ټول د لرګیو څخه جوړ وه، د همدې طرز فکر سره د ﴿ جُذَٰذًا ﴾ کلمه هم ښه تنا سب لري ځکه چې په تبر باندې لرګي ښه میده-میده کېږي او د نورو فلزاتو په میده کولو کښې تبر نه استعمالېږي.

هو! ځه لرې نه ده چې هغوی به فلزي بوتان هم درلوده خو په حاضر وخت کښې به په بوتخانه کښې نه وه ایښولي شوي بلکې په نورو خایونو او بوتخانو کښې به ایښودلي شوي وه، والله ﷻ أعلم.

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۴۷۹
(۲) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۷۴
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۵۵؛ زاد المسیر ج۵ ص۲۴۸؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۲۳
(۴) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د "إليه" په ضمير کښې مفسرينو کرامو متعدد احتمالونه ليکلي دي[۱] هغه دا چې:

اول: دغه ضمير "كَبِيْر" ته راجع دی يعنې ابراهيم ﷺ ځکه دا يو بوت پرېښود ترڅو د استنطاق په وخت کښې وربانديې مشرکان ملزم کړي چې د دغه غټ بوت څخه استنطاق وکړئ، او د پوښتنې په هکله همده ته رجوع وکړئ، چې: جنابه! دا کار چا وکړ؟ تا ولې منعه نه کړ؟ يا ای جنابه! ته په دغو ورو معبودانو باندې ولې په غُصه شوی وې چې ټول دې ميده-ميده کړي دي؟

ای جنابه! تاته چا تبر په غاړه کښې دراچولی دی؟ او يا يې ستا په لاس کښې تړلی دی؟

ای جنابه! ايا تاته په دې غُصه درغلې وه چې مونږ ستا سره نور معبودان په عبادت کښې شريک ګرځولي وه؟ او داسې نور.

دوهم: دغه ضمير ابراهيم ﷺ ته راجع دی، يعنې ترڅو مشرکان همده ﷺ ته رجوع وکړي او همده ﷺ ته د مباحثې او ملزم ګرځولو زمينه برابره شي.

دريم: دغه ضمير الله ﷻ ته راجع دی، يعنې شايد چې مشرکان ملزم او ملامته شي او په نتيجه کښې د الله ﷻ وحدانيت ته راجع شي او په ايمان مشرف شي.

که څه هم ذکرې شوې درېواړه احتماله سره څه منافات نه لري او د بدليت په اعتبار سره هر يو اراده کېدلی شي مګر مونږ ته پکښې لومړی احتمال بهتر برېښي چې د ﴿ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴾ سره په ډېره ښه توګه تړاو لري.

## څه چې ابراهيم ﷺ غوښتل هغه وشوه

۸ـ ابراهيم ﷺ د دې دپاره په بوتانو باندې خپله نقشه عملي کړه ترڅو مشرکانو ته عملاً قناعت ورکړي چې د بوتانو د لاسه هيڅ شی پوره نه دی او د خپلو ځانونو څخه دفاع نه شي کولی، خو زړه يې غوښتل چې په همدې ارتباط په يوه غټه اجتماع کښې د ډېرو خلکو په وړاندې هغوی تخجيل کړي.

دغه زمينه ورته پخپله مشرکانو برابره کړه چې ډېر خلک يې ورته راوبلل چې: ﴿ فَأْتُوا۟ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعْيُنِ ٱلنَّاسِ ﴾ يعنې ابراهيم ﷺ راولئ چې د ډېرو خلکو د نظر لاندې يې د استنطاق لاندې ونيسو ترڅو ټولو ته د نوموړي ورانکاري ځرګنده شي.

د مشرکانو ذکره شوې اجتماع د فرعون هغې اجتماع ته ورته وه چې د موسی ﷺ د خجالت دپاره يې خپل رعيت راغونډ کړی وه خو په نتيجه کښې د ټولو په وړاندې پخپله خجالت او شرمنده شو.

## د ابراهيم ﷺ څخه استنطاق شروع شو

۹ـ د ابراهيم ﷺ څخه د مشرکانو لومړنۍ پوښتنې دا وې چې: ای ابراهيمه! ايا دغه کار تا کړی دی؟ ايا بوتان تا ميده-ميده کړي دي؟ ايا د خندنۍ دپاره تا دغه غټ بوت ته تبر په غاړه کښې

[۱] تفسير القرطبي ج۱۱ ص۲۹۸؛ روح المعاني ج۱۷ ص۶۲؛ التفسير الكبير ج۲۲ ص۱۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اچولی دی (یا دې ورته په لاس پورې ترلی دی)؟.

ابراهیم ﷺ جواب ورکړ چې: ﴿بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ﴾ یعنې: بلکې دا کار دغه غټ بوت کړی دی، نو تاسو ترې پوښتنه وکړئ که دوی وې چې خبرې کولی شي نو په "هو" یا "نه" سره به جواب درکړي.

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وایي چې: ایا د ابراهیم ﷺ ذکر شوی جواب دروغ نه وه؟ حال دا چې دروغ ویل ګناه ده او پیغمبران د ګناهونو څخه په عصمت کښې دي.

مونږ وایو چې: ذکر شوی جواب به په هغه وخت کښې دروغ ګڼلی شوی وی چې ابراهیم ﷺ د بوتانو د میده-میده کولو څخه انکار کړی وی.

ذکر شوی جواب خو د مشرکانو په نزد او هم د ابراهیم ﷺ په نزد انکار نه وه بلکې اعتراف وه د همدې کبله:

الف: مشرکانو په ذکر شوي جواب باندې دا فیصله مرتبه کړه چې: ﴿حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ﴾ [۶۸] یعنې ابراهیم ﷺ په اور باندې وسوزئ او د خپلو معبودانو سره نصرت وکړئ.

که بالفرض دوی ذکر شوی جواب اعتراف نه وی ګڼلی نو ابراهیم ﷺ به یې صریح جواب ته مجبور کړی وی او یا به یې پرې په شهادت سره اثبات کړی وی، او بیا به یې خپله فیصله اعلانه کړې وی.

ب: همدارنګه که بالفرض ابراهیم ﷺ خپل جواب د اعتراف په نیت نه وی کړی نو ضرور به یې په فیصله باندې اعتراض کړی وی او مشرکان به یې مخاطب کړي وی چې: ایا تاسو بدون د اثبات څخه فیصلې ته اقدام وکړ؟.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱ـ که څوک وایي چې: د ابراهیم ﷺ په ذکر شوي جواب کښې خو په صراحت سره د بوتانو ماتول غټ بوت ته منسوب شوي دي، نو پوښتنه دا ده چې: په څه طریقه به د هغه څخه اعتراف فهم کړی شي؟ او یا په څه طریقه باندې به په اعتراف باندې دلالت وکړي؟.

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو نوموړی جواب په متعددو طریقو باندې تحلیل کړی دی[۱] مګر کومې طریقې چې مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه دا دي:

الف: په دې مقام کښې ابراهیم ﷺ د یوه فرضي مثال په ضمن کښې د بوتانو په میده-میده کولو باندې اعتراف کړی دی، چې حاصل یې داسې راځي:

که څه هم دغه کار ما کړی دی، خو فرض کړئ چې که دا کار دغه غټ بوت کړی وي نو ایا بوتان خبرې کولی شي چې حقیقت درته واضحه کړي؟، یا په بل عبارت: زه وایم چې دا کار دغه غټ بوت

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۶۵؛ البحر المحیط ج۷ ص۴۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


کړې دي نو اې مشرکانو! ایا تاسو زما خبره ردولی شئ؟ دا ګز او دا میدان.

د فرضي مثال لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَـٰذَا رَبِّى ﴾ [الأنعام:۷۶] یعنې ابراهیم ﷺ ستوری ولید نو مشرکان یې مخاطب کړه چې: فرض کړئ چې دا زما رب دی، کله چې ستوری ولوېد نو استدلال یې ورباندې ونیوه چې دا رب نه شي کېدلی ځکه چې د سقوط او زوال سره مخامخ شو.

دوهم: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّ هَـٰذَآ أَخِى لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِىَ نَعْجَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾ [ص:۲۳]

یعنې داود ﷺ ته دوه پرښتې د سړیو په څېره په غیر عادي توګه ورغلې او یوې بلې ته اشاره وکړه چې: اې داوده! دغه زما ورور دی چې نهه نوي (۹۹) ګډې لري او زه فقط یو ګډه لرم خو غواړي چې زما یوه ګډه هم د خپلو ګډو سره ضمیمه کړي چې سل (۱۰۰) ورته پوره شي او زما سره یوه ګډه هم پاتې نه شي، حال دا چې د ورورۍ په لحاظ باید ټوله رمه مناصفه شي چې نیمه ما پورې ارتباط ولري او نیمه د هغه پورې نو زمونږ ترمنځ حقه فیصله وکړه.

یا په بل عبارت فرض کړه چې: دا زما ورور وي او مونږ سل ګډې ولرو خو زما ورور ټولې ګډې د خپل خان ملکیت ګڼي او ماته یوه هم نه راپرېږدي نو ته څه حکم کوې؟

ب: که څه هم ابراهیم ﷺ د بوتانو میده-میده کول په صراحت سره د استهزاء په توګه غټ بوت ته نسبت کړه خو د اشارې او تعریض په توګه یې پخپله اعتراف وکړ چې دا کار ما کړی دی، ځکه چې: د بوتانو میده کولو فقط دوه احتماله درلودل، یو دا چې دا کار غټ بوت کړی وي، او بل دا چې دا کار ابراهیم ﷺ کړی وي.

نو ابراهیم ﷺ د استهزاء په توګه جواب ورکړ چې دا کار دغه غټ بوت کړی دی چې جارحه آله (تبر) یې اوس هم په غاړه کښې پروت دی او یا یې په لاس کښې نیولی دی، خو دې خبرې ته یې اشاره وکړه چې: دا کار ما کړی دی، ته به وایې چې داسې جواب یې ورکړی دی چې: دا کار که ما نه وي کړی نو بل به چا کړی وي؟ ایا بوت دا کار کولی شي.

دا طریقه په لاندې مثال کښې ډېره ښه واضحه کېږي چې:

که یوه سړي ډېر ښکلی خط لیکلی وي خو یو بې سواده سړی ترې پوښتنه وکړي چې: ایا دا خط تا لیکلی دی؟ نوموړي خطاط جواب ورکړي چې: نه، دا خط تا لیکلی دی؛ ته به وایې چې د ملنډو په توګه یې جواب ورکړی وی چې دا خط خود ما لیکلی دی، ایا ته داسې خط لیکلی شې؟

## یادونه

۱۲- که څوک غواړي چې د ذکرې شوې تعریضي طریقې ډېر مثالونه ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱] چې ډېر زیات وضاحت یې ورکړی دی.

[۱] زاد المسیر ج۵ ص۲۵۱؛ صحیح البخاري ج۲ ص۹۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۳_ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ د ابراهيم ﷺ د خولې څخه حکايت کړی دی چې: «وَإِنِّيْ قَدْ كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلاثَ كَذَبَاتٍ»[۱] يعنې د قيامت په ورځ چې کله د محشر په ميدان کښې خلک ابراهيم ﷺ ته ورټول شي او ورته ووايي چې د الله ﷻ په حضور کښې شفاعت وکړه چې ترڅو حساب کتاب شروع شي نو هغه ﷺ به خپل اعتذار وړاندې کړي چې زه د دغه شفاعت جوګه نه يم، يقيناً زه په دنيا کښې وم چې درې دروغه مې ويلي وه نو جرئت نه شم کولی چې کُبری شفاعت (لوی شفاعت) ته وړاندې شم.

همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ ﷺ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: قَوْلِهِ إِنِّي سَقِيمٌ وَلَمْ يَكُنْ سَقِيمًا، وَقَوْلِهِ لِسَارَةَ أُخْتِي، وَقَوْلِهِ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا»[۲] يعنې ابراهيم ﷺ بالکل په هيڅ شي کښې دروغ نه دي ويلي مګر په درې شيانو کښې: په خپله دې خبره کښې چې زه مريض يم، او مريض نه وه. او د بي بي سارې په اړوند په خپل دې قول کښې چې دا زما خور ده (او هغه يې ماندينه وه). او بالآخره په خپل دې قول کښې چې دا کار د بوتانو دغه مشر کړی دی او هغه يې پخپله کړی وه.

نو پوښتنه دا ده چې کله ابراهيم ﷺ په خپله خوله وايي چې ما دروغ ويلي وه او نبي کريم ﷺ هم وايي چې ابراهيم ﷺ دروغ ويلي وه، نو د دغو دواړو پيغمبرانو د خبرو په مقابل کښې د ﴿ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَـٰذَا ﴾ جملې ته په فرضي تمثيل او يا تعريض باندې تاويل ورکول څه معنی لري؟

مونږ وايو چې: نبي کريم ﷺ خو په ذکرو شوو درېواړو کارونو باندې څکه د "كَذِبَات" (دروغو) اطلاق کړی دی چې د ابراهيم ﷺ عين هغه الفاظ يې راحکايت کړي دي کوم به چې د قيامت په ورځ اداء کړي.

او ابراهيم ﷺ به څکه په خپلو درېواړو کارونو باندې د «ثَلاثَ كَذِبَاتٍ» (درېو دروغو) اطلاق وکړي چې د دغه اطلاق وخت به د قيامت ډېره هيبتناکه ورځ وي، چې د خپلو غير صريحي کلماتو څخه به هضمًا للنفس په «ثَلاثَ كَذِبَاتٍ» باندې تعبير وکړي، ترڅو خپله بندګي او خپل عجز څرګند کړي، او داسې به يې وګڼي لکه چې دروغونه يې ويلي وي او ګناهونه يې کړي وي چې د خجالته د سوال لاس نه شي پورته کولی.

### هېر مو نه شي!

۱۴_ هېله ده چې په دې مقام کښې محترم لوستونکي لاندې دوه شيان هېر نه کړي:

الف: د ابراهيم ﷺ د درېمې خبرې ﴿ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَـٰذَا ﴾ په هکله مفسرينو کرامو په

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۵

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


مختلفو کتابونو کښې د همدغه ایت لاندې بحثونه کړي دي چې سمدستي د تحقیق لاندې دی او د ﴿إِنِّي سَقِيمٌ﴾ په ارتباط د [الصافات: ۸۹] ایت لاندې بحث راروان دی.

او بالآخره د بي بي سارې رضی الله عنها په متعلق د اوږد تحقیق دپاره باید د احادیثو ځینو کتابونو ته مراجعه وکړی شي[1] خو د دې سورت د [۶۸] ایت لاندې یې هم د الله ﷻ په توفیق ـ ان شاء الله ﷻ ـ ډېر مهم او ښکلي بیان راروان دی.

ب: د ابراهیم عليه السلام کړنلاره به د نوح عليه السلام او عیسی عليه السلام کړنلارې ته ورته وي چې نبي کریم ﷺ په اوږده حدیث کښې[2] د نوح عليه السلام څخه حکایت کړی دی چې د قیامت په ورځ به د کُبری شفاعت څخه اعتذار وړاندې کړي چې زه یې جوګه نه یم، زما په ښېرا باندې ټول ساکښان (لوی) غرق شوي دي، زه فقط د خپل ځان د نجات په غم کښې یم. او عیسی عليه السلام به ترې معذرت وغواړي چې زه په دنیا کښې معبود ګرځولی شوی وم.

حال دا چې نه د نوح عليه السلام ښېرا ګناه وه چې د کفارو په هکله یې صورت نیولی وه او نه د عیسی عليه السلام معبودیت د ده دپاره ګناه وه چې کفارو ورته په ناحقه د معبود لقب ورکړی وه، خو دوی دواړه به هر یو فقط خپل خپل عجز او بندګي د الله ﷻ په حضور کښې وړاندې کړي.

## نکس څه معنی؟

۱۴ـ په ﴿ثُمَّ نُكِسُوا عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ﴾ کښې د ﴿نُكِسُوا﴾ کلمه د "نَکْس" ـ لکه "نَصْر" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د سرچپه کېدلو معنی ورکوي چې د چا پښې پورته شي او سر یې په ځمکه باندې کېښودل شي[3] په دې مقام کښې یې علماوو کرامو متعددې معناوې کړې دي[4] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: بیا مشرکان په خپلو سرونو باندې سرچپه کړی شوه او په ﴿إِنَّكُمْ أَنتُمُ الظَّالِمُونَ﴾ کښې یې چې په ظلم اعتراف کړی وه د هغه څخه بېرته واوښتل چې مونږ ظالمان نه یاستو، بلکې ای ابراهیمه! ته ظالم یې چې د بوتانو څخه نطق غواړې، ته خو پوهېږې چې دوی خبرې نه شي کولی، نو په همدې بهانه خپل ځان د اتهام څخه بچ کوي.

ب: بیا مشرکان د حجت د حیثه د سر په څړې (سرچپه) شوه، او په هغې خبرې باندې یې تلفظ وکړ کومه چې د دوی په ضرر وه او ملامتیا یې پکښې نغښتې وه، هغه دا چې: ای ابراهیمه! ته خو پوهېږې چې دا بوتان خبرې نه شي کولی. هغه جواب ورکړ چې خبرې نه شي کولی نو نفعه او ضرر هم نه شي رسولی، نو بیا یې عبادت څه په کار دی؟

ج: ذکره شوې جمله د خجالت څخه کنایي ده، یعنې بیا مشرکان دومره خجالت شوه تا به ویل چې سرونه یې د شرم څخه ځمکې ته رسولی شوي دي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۰۶
(۳) مفردات الراغب ص۵۲۷
(۴) روح المعاني ج۱۷ ص۶۶؛ تفسیر الطبري ج۱۷ ص۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ په فکر دغه درېواړه معناوې سره يو تر بله هيڅ منافات نه لري، نو څه لرې نه ده چې مشرکان د خجالت په حال کښې د فکر او حجت د حيثه سرچپه شوي وي.

## يادونه

١٥_ په ﴿أُفٍّ لَّكُمْ﴾ کښې د ﴿أُفٍّ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء: ٢٣] ايت لاندې د ضرورت په اندازه شرحه شوې ده چې بيا شرحه کولو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

﴿ قَالُوا۟ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا
عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ وَأَرَادُوا۟ بِهِۦ كَيْدًا فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى
ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا
جَعَلْنَا صَٰلِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِمْ فِعْلَ ٱلْخَيْرَٰتِ
وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا عَٰبِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَلُوطًا ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا
وَنَجَّيْنَٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَت تَّعْمَلُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ ۗ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمَ سَوْءٍ فَٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾
وَأَدْخَلْنَٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ ۖ إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾ ﴾

[۶٨] مشرکانو (د ناکامۍ او ملامتۍ څخه وروسته) وويلې چې: ابراهيم ؑ (په اور باندې) وسوزوئ او د خپلو معبودانو کومک وکړئ که چرته تاسو (د کوم مهم کار) کوونکي ياست (نو دغسې کار وکړئ).

[۶٩] مونږ (اور ته) وويلې چې: ای اوره! په ابراهيم ؑ باندې سوړ (يخ) او سلامتيا شه (نو اور پرې سمدستي همدغسې شو).

[٧٠] او مشرکانو د ابراهيم ؑ سره (په اور کښې د اچولو په حيله) د چل اراده کړې وه خو مونږ دوی ډېر زيانکاران جوړ کړه (چې د مسلک بطلان يې ښه څرګند شو او خجالت يې ښه اضافه شو).

[٧١] او مونږ ابراهيم ؑ او لوط ؑ ته (د خپلو دښمنانو څخه) هغې ځمکې ته نجات ورکړ په کومه کښې چې مونږ د عالمونو دپاره (مادي او معنوي) برکتونه اچولي دي (چې د شام ځمکه ده).

[٧٢] او مونږ ابراهيم ؑ ته اسحق ؑ (د زوی په حيث) او يعقوب ؑ (د لمسي په حيث) د فضل د کبله وروبښل، او (دغه څلور واړه پيغمبران) مو هر يو (په لوړه درجه) صالحان وګرځول.

[٧٣] او مونږ دوی (ټول د خلکو دپاره) امامان جوړ کړه چې زمونږ په امر به يې (ورته) لارښونې کولې، او مونږ دوی ته د خير (کارونو) کولو او (هم) د لمانځه ودرولو او د زکات ورکولو وحې کړې وه. او دوی (ټول) خاص مونږ ته عبادت کونکي وه (او بس).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۴] او مونږ لوط ﷺ ته حکم (حکمت) او علم ورکړی وه (ورکړی مو وه)، او (همدارنګه) مو د هغې قریې (ښار) څخه نجات وربښلی وه کومه چې وه چې پلیت کارونه یې کول (د نارینه وو سره یې فحاشي کوله)، یقیناً (د دغه ښار) خلک بد قوم (او هم) فاسقان وه (چې په فحاشۍ کښې هم د هر دوب شوي او د حد څخه تجاوز کوونکي وه).

[۷۵] او مونږ لوط ﷺ په خپل رحمت کښې داخل کړی وه، یقیناً لوط ﷺ (په لوړه درجه) د صالحانو څخه وه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د أبراهیم ﷺ د استنطاق نتیجه بیانه شوې ده او د بله پلوه پکښې د هغو نعمتونو څه نمونه اخستل شوي دي کوم چې الله ﷻ په ابراهیم ﷺ او په لوط ﷺ باندې پېرزو کړي وه. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱ـ ای پیغمبره! کله چې مشرکان د ابراهیم ﷺ په استنطاق کښې او د ده سره په سوال جواب کښې خجالت او د ناکامۍ سره مخامخ شوه نو ټولو په یوه خوله وویلې چې:

الف: یو لوی خندق او یوه لویه آتشخانه جوړه کړئ (ښه قوي اور پکښې بل کړئ) او ابراهیم پکښې وسوزوئ ترڅو ټول خلک عبرت واخلي او زمونږ د ډاره د ده دعوت ته زړه ښه نه کړي.

ب: په همدې ذریعه د خپلو معبودانو سره کومک وکړئ چې د ظالم د لاسه میده-میده او پرچه-پرچه پراته دي.

ج: که تاسو د خپلو معبودانو څه احترام کوونکي یاست نو دغه کار وکړئ تر څو ابراهیم په اور کښې داسې وسوزي لکه څنګه یې چې زمونږ زړونه په غم او غُصه کښې سوزولي دي.

۲ـ کله چې مشرکانو خپله طرحه کړې نقشه عملي کړه او د ابراهیم ﷺ د ژوندي سوزولو دپاره یې ښه قوي اور بل کړ نو مونږ اور ته وویلې او امر مو ورته وکړ چې:

الف: ای اوره یخ یخ شه، چې سوزول لا څه چې تودوالی دې هم درته پاتې نه شي.

ب: دومره یخ شه چې د ابراهیم سلامتیا په خطر کښې وانچوې، یا په بل عبارت: چې په یخوالي باندې یې ونه سوزوې.

ج: ستا یخوالی دې فقط په ابراهیم ﷺ پورې حصر وي هسې نه چې په بل چا یا په بل شي باندې یخ کرخ شي.

۳ـ نو اور زمونږ د امر په مطابق خاص په ابراهیم ﷺ باندې ګلزار شو او کومه دسیسه چې ورته مشرکانو طرحه کړې وه او د توهین پلان یې ورته سنجولی وه هغه ناکام شو.

لنډه دا چې مشرکان لکه څنګه چې د استدلال په میدان کښې د ذلت سره مخامخ شوي وه همدارنګه دوی یو ځل بیا د عمل په میدان کښې هم زیات تاوانیان شوه، دا ځکه چې کوم پلان دوی د خپلې برلاسۍ د اظهار دپاره پیاده کړ په هغه کښې د دوی ملامتیا او توهین اظهار او په ډاګه شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! هسې نه چې مونږ ابراهیم ﷺ ته یوازې د اور څخه نجات ورکړ بلکې لاندې انعامونه مو هم پرې عنایت کړه:

الف: ابراهیم ﷺ او د ده ملګري لوط ﷺ ته مو د اور څخه علاوه د مشرکانو د نورو اضرارو څخه هم نجات ورکړ او دوی ونه شو کړی چې د هجرت مخه یې بنده کړي (د هجرت لارې چارې مو ورته اسانې کړې).

ب: د دوی دواړو هجرت مو هغې ځمکې ته انجام کړ په کومه کښې چې مونږ د ټولو عالمونو دپاره برکتونه او ښېګڼې اچولي دي، او په مادي او معنوي نعمتونو باندې مو ډکه کړې ده، چې هم ترو تازه ده او هم پکښې متعدد پیغمبران تېر شوي دي.

ج: ابراهیم ﷺ ته مو د اسحق ﷺ غوندې یو زوی وروبانبه.

د: په زوی باندې علاوه مو ورته د یعقوب ﷺ غوندې لمسی هم وروبانبه که څه هم ابراهیم ﷺ د لمسي سوال نه وه کړی مګر زمونږ د پلوه ورعنایت کړی شو.

ه: مونږ په خپل فضل سره دغه پیغمبران (ابراهیم ﷺ، لوط ﷺ، اسحق ﷺ، یعقوب ﷺ) ټول او هر یو د صالحانو د ټولګي څخه وګرځول، او په لوړه صلاح باندې مو موصوف کړه.

و: دوی ټول مو د خلکو دپاره د دین امامان جوړ کړه چې په دوامداره توګه به یې ورته لارښودانې کولې.

ز: دوی ټولو ته مو وحې کړې وه چې په عمومي توګه د خیر کارونه وکړي، او خلکو ته په دنیا او آخرت کښې ګټه ورسوي.

ح: او په خاصه توګه مو ورته وحې کړې وه چې لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او زیار وباسئ چې هم بدني عبادتونه او هم مالي عبادتونه ترسره کړئ.

ي: لنډه دا چې ذکرو شوو ټولو پیغمبرانو ته مونږ توفیق ورکړی وه چې په دوامداره توګه د مرګ تر وخته پورې زمونږ دپاره مخلصان او عبادت کوونکي بندګان جوړ شي.

۵_ ای پیغمبره! مونږ خاصتاً په لوط ﷺ باندې لاندې پېرزوینې کړې وې:

الف: مونږ لوط ﷺ ته د حکم کولو توان ورکړی وه چې د خپل وخت په لانجو کښې یې د خلکو ترمنځ په حقه او په عدل سره فیصلې کولی شوې.

ب: او هم مو ورته هغه علم ورکړی وه کوم چې ورته د یو پیغمبر په حیث ضرور وه، یا په بل عبارت علم او عمل مو دواړه ورپېرزو کړي وه.

ج: لوط ﷺ ته مو د هغو خلکو څخه نجات ورکړ کومو چې په کفر باندې علاوه خبیث کارونه هم کول، نو د هغوی ښارونه مو سرچپه کړه او لوط ﷺ ته مو د هجرت کولو توفیق ورکړ، چې بېرته د خپل تره (ابراهیم ﷺ) څنګ ته ورشي او هلته سکونت اختیار کړي، ځکه چې د لوط ﷺ قوم بد خلک وه او په دوامداره توګه فسق کوونکي وه، نو که مونږ ورته نجات نه وی ورکړی د هجرت مخه به یې ورته بنده کړې وی.

Scanned by CamScanner

د بالآخره مونږ لوط ﷺ په خپل رحمت کښې داخل کړ، چې په دنيا کښې مو ورته د زياتو نېکيو توفيق ورکړ او په آخرت کښې به جنت ورپېرزو کړو، او دا ځکه چې نوموړی پيغمبر ﷺ يقيناً د صالحانو د ټولګي څخه وه، او په دين کښې يې ربړونه ګاللي وه.

## توضيحات

١ـ په ﴿ قَالُواْ حَرِّقُوهُ ﴾ کښې هغې کړنلارې ته اشاره ده په کومه باندې چې په ټولو زمانو کښې منکبران او سرکشان تلل کوي، هغه دا چې کله د استدلال او حجت په ميدان کښې ناکام شي نو بدمستۍ د زور څخه کار اخلي او د خپلو مقابلينو په وهلو او ټکولو باندې لاس پورې کړي.

شايد چې د ابراهيم ﷺ د زمانې مشرکانو به د اور تعذيب ته ځکه لاس اچولی وي چې:

الف: ترڅو په ابراهيم ﷺ باندې داسې اور بل کړي لکه څنګه چې ده ﷺ د هغوی په زړونو باندې د استنطاق په ميدان کښې بل کړی وه.

ب: که څه هم دا کار په يوه تناره باندې هم ترسره کېدلی شو خو غټ اور به يې په دې غرض بل کړی وي چې:

اول: ترڅو ترې نور خلک عبرت واخلي او د ابراهيم ﷺ پيروی ته زړه ښه نه کړي، چې د استدلال په ميدان کښې برلاسی شو.

دوهم: ترڅو ابراهيم ﷺ ته (د دوی په خيال) د توبې فرصت ورکړي چې بيا به نه په بوتانو باندې څه غرض وکړم او نه به يې په بدۍ سره ياد کړم، او دا ځکه چې د لوی اور تهيه کول په عجله سره نه شو کېدلی (څه وخت ورته په کار وه).

## د ابراهيم ﷺ د اور کميت او کيفيت

٢ـ د هغه اور د کميت او کيفيت په هکله مفسرينو کرامو[١] ډېر معلومات ليکلي دي کوم چې د ابراهيم ﷺ د سوزولو دپاره بل کړی شوی وه، چې ځينې علماء کرام ورباندې د اسرائلياتو اطلاق کوي[٢]، مګر مونږ په دې مقام کښې فقط د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو چې مونږ ته پکښې اسرائليات شامل نه برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ:

الف: که څه هم په ابتداء کښې مشرکان مختلف وه چې ابراهيم ﷺ قتل کړي او که په اور باندې يې وسوزوي؟ لکه چې الله ﷻ د همدوی د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ ﴾ [العنکبوت:٢٤] يعني د ابراهيم ﷺ د قوم جواب بل نه وه مګر همدا وه چې دوی وويلې چې: ويې وژنئ او يا يې په اور باندې وسوزوئ؛ خو په پای کښې د فارسي کُردانو د قوم څخه يوه سړي د سوزولو مشوره ورکړه چې په همدې باندې يې فيصله وکړه، بيا

(١) تفسير الخازن ج٣ ص٢٥٨؛ زاد المسير ج٥ ص٢٥٢
(٢) اضواء البيان ج٤ ص٦٤٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه سرې ورته منجنيق جوړ کړ[١] چې د همدې په ذريعه يې د لرې څخه ابراهيم ﷺ اور ته ورګوزار کړ، که نه نو څوک خو اور ته نژدې نه شو ورتلی ترڅو ابراهيم ﷺ پکښې ورواچوي.

منجنيق يوه آله وه چې په هغې زمانه کښې به پرې د ډېرو ګوزارونو صورت نيوه، لکه چې په دې زمانه کښې د هوان توپ په ذريعه يو خاى بل خاى په انفلاقي ګوليو باندې ويشتل صورت نيسي.

ب: د ابراهيم ﷺ د زمانې د مشرکانو د تعذيب شکل اصحاب الأُخدود ته ورته وه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ۝ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ﴾ [البروج: ۴، ۵] يعنې د خندق خاوندان دې وژل شوي وي، خندق د داسې اور څخه عبارت دی چې په ځمکه کښې د بلېدلو خاوند وه.

دوی به په ځمکه کښې لوی-لوی او ژور خندقونه وکنودل او اورونه به يې پکښې بل کړه بيا به يې پکښې مؤمنان معذبول لکه چې نبي کريم ﷺ يې په يوه اوږده حديث کښې ښه اوږد تفسير کړی دی[٢].

خو دومره فرق يې درلود چې د ابراهيم ﷺ دپاره يې په خندق کښې اور بل نه کړ بلکې ښه لويه احاطه يې ورته جوړه کړه. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿قَالُواْ ٱبْنُواْ لَهُۥ بُنْيَٰنًا فَأَلْقُوهُ فِى ٱلْجَحِيمِ﴾ [الصافات:٩٧] يعنې مشرکانو ووېلې چې د ابراهيم ﷺ د تعذيب او وژلو دپاره يوه بناء (قلا) جوړه کړئ او ښه قوي اور پکښې بل کړئ نو بيا ابراهيم ﷺ په دغه تېز اور کښې ورواچوئ چې خلک ترې عبرت واخلي.

ج: که څه هم ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې تر اوو ورځو[٣] يا څلوېښتو او پنځوسو ورځو پورې[۴] ابراهيم ﷺ په اور کښې ښه په ارامۍ او اسودګۍ سره پاتې شو، خو الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې څومره وخت به يې په اور کښې تېر کړی وي؟.

د: أُم شريک رضي الله عنها وايي چې: نبي کريم ﷺ د مځرک (کربوړي) په وژلو باندې امر کړی دی «وَكَانَ يَنْفُخُ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَام»[۵] يعنې کربوړی (مځرک) چې وه په خپل پوکې سره يې په ابراهيم ﷺ باندې اور تېزاوه.

هـ: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ»[۶] يعنې هغه لومړنی سړی به ابراهيم ﷺ وي کوم ته به چې د قيامت په ورځ جنتي جامې ورواغوستلې شي. شايد چې دا کار به د دې عوض وي چې ابراهيم ﷺ لومړنی سړی وه چې د الله ﷻ په لار کښې بربنډ شوی وه، او دا ځکه چې ابراهيم ﷺ بربنډ په اور کښې غورزولی شوی وه چې پښې او لاسونه يې په پړې باندې تړلي شوي وه، نو پړی ترې اور وسوزاوه او پښې او لاسونه يې ورپرانستل[٧]، خو په داخل د اور کښې هم الله ﷻ بربنډ پرېنښود او جنتي جامې يې ورواغوستې او په جنتي فرش باندې

---

(١) تفسير ابن كثير ج٣ ص١٨٣
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٧١
(٣) تفسير القرطبي ج١١ ص٣٠۴
(۴) الدر المنثور ج۵ ص۶٣٩
(۵) صحيح البخاري ج١ ص۴٧۴: سنن ابن ماجه ص٢٣٢
(۶) جامع الترمذي ج٢ ص١۵٠: صحيح البخاري ج٢ ص۶٩٣
(٧) تفسير البغوي ج٣ ص٢۵٠: عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج١۵ ص٢۴٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې کيناوه[۱]، تا به ويل چې د ګلانو په منځکښې په تخت باندې ناست دی.

و: د أبي بن کعب ﷺ څخه روايت دی چې اور ته د وراچولو په وخت کښې ابراهيم ﷺ د جبرائيل امين ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

جبرائيل ﷺ: ماته څه حاجت شته؟

ابراهيم ﷺ: تاته هيڅ اړتيا نه لرم.

جبرائيل ﷺ: نو خپل رب ﷻ ته سوال وکړه.

ابراهيم ﷺ: «حَسْبِيْ مِنْ سُؤَالِيْ عِلْمُهُ بِحَالِيْ»[۲] يعنې دا مې بس دی او د سوال څخه کفايت کوي چې زما رب زما په حال باندې علم لري، نو څه يې چې اراده وشي هغسې به وکړي.

ز: بالآخره عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې: «كَانَ آخِرَ قَوْلِ إِبْرَاهِيمَ حِينَ أُلْقِيَ فِي النَّارِ حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ»[۳] يعنې په کوم وخت کښې چې ابراهيم ﷺ په اور کښې واچولی شو نو وروستنی خبره يې دا وه چې الله ﷻ مې بس دی، او الله ﷻ د هر بنه کارساز (د کارونو اداره کوونکی) دی.

## هم انکار او هم اقرار

۳ـ په ﴿ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمْ ﴾ کښې الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه داسې کلام راحکايت کړی دی چې لومړی برخه يې په انکار باندې دلالت کوي او د دوهمې برخې څخه يې اقرار معلومېږي، ځکه چې د ﴿ وَٱنصُرُوٓاْ ﴾ په کلمه کښې د بوتانو د الوهيت څخه انکار پروت دی، چې دوی ناتوانه دي او کومک ورسره وکړئ، او د ﴿ ءَالِهَتَكُمْ ﴾ په کلمه کښې اقرار نغښتی دی، چې دوی معبودان دي، نه ورته په کار ده چې د خپلو عابدينو په درد باندې خوري.

الله ﷻ رښتيا ويلي دي چې: ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ [الفرقان:۴۴] يعنې کفار نه دي مګر د څارويو غوندې دي بلکې د څارويو څخه هم د لارې د حيثه بې لارې دي (حتی چې د خپلو خبرو په تناقض باندې هم نه پوهېږي).

## اور مکلف شو

۴ـ په ﴿ يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ کښې د الله ﷻ د پلوه اور په داسې کلام باندې مکلف کړی شو چې درې قيدونه يې درلوده، چې په لاندې ډول واضحه کيږي:

الف: يو قيد يې ﴿ بَرْدًا ﴾ دی يعنې چې ای اوره! مړ کېږه مه بلکې يخ (سوړ) شه، نو د اور د لمبو په شدت کښې څه نقصان واقع نه شو، خو فقط ګرمي ترې جدا شوه، که نه نو اور به سمدستي مړ شوی وی يو وړوکی اووچوکی به يې هم نه وی سوزولی.

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۲۵۹

(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۲۵۰

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ب: بل قید یې ﴿ سَلَٰمًا ﴾ دی چې سلامتي درلودونکی شه، هسې نه چې په یخوالي (سوړوالي) سره سوزول وکړې، لکه چې واوره سوزول کوي.

ج: بل قید یې د ﴿ عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ ﴾ دی چې ای اوره! باید ستا ذکر شوي دواړه خاصیتونه فقط د ابراهیم ﷺ په هکله دي او بس. نو اور د ابراهیم ﷺ څخه په غیر د نورو خلکو دپاره په خپل سوزوونکي خاصیت باندې باقي پاتې وه.

## ابراهیم ﷺ نجات مونده کړ

۵_ که څه هم الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ﴾ [العنکبوت:۲۴] یعنې نو مونږ ابراهیم ﷺ ته د اور څخه نجات ورکړ، مګر په دې ایت شریف: ﴿ وَنَجَّيْنَٰهُ وَلُوطًا إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ﴾ کښې د اور څخه نجات مطلب نه دی بلکې د دښمنانو څخه نجات مراد دی، او دا ځکه چې:

الف: دلته د "نَجَّيْنَاهُ" په ضمیر باندې (چې ابراهیم ﷺ ته راجع دی) د "لُوطًا" کلمه عطفه ده، یعنې مونږ ابراهیم ﷺ او لوط ﷺ دواړو ته نجات ورکړ، او پوره واضحه ده چې لوط ﷺ خو په اور کښې نه وه اچولی شوی چې بیا ترې نجات ورکړی شوی وی، بلکې دلته مطلب دا دی چې دوی دواړو ته مو د دښمنانو څخه نجات ورکړ.

ب: د ﴿ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا ﴾ کلمات هم همدا مطلب تاییدوي، یعنې مونږ هغوی دواړه د دښمنانو څخه جدا کړه او هغې ځمکې ته مو د هجرت توفیق ورکړ په کومه کښې چې مونږ معنوي او مادي نعمتونه اچولي دي، ډېر پیغمبران مو پکښې پیدا کړي دي او په هر ډول پاکیزه روزیو او میوجاتو باندې مو ډکه کړې ده چې هغه د شام ځمکه ده[۱].

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «هَاجَرَ إِبْرَاهِيمُ بِسَارَةَ فَدَخَلَ بِهَا قَرْيَةً فِيهَا مَلِكٌ مِنَ الْمُلُوكِ»[۲] یعنې ابراهیم ﷺ د بي بي ساره رضي الله عنها سره هجرت وکړ نو یوه ښار ته یې ورداخله کړه چې هلته د متکبرو پاچاهانو څخه یوه متکبر پاچا حکومت کاوه او ابراهیم ﷺ خپله مېرمن (بي بي ساره رضي الله عنها) په همدغه سفر کښې د خور په نامه بللې وه چې: "هذِهِ أُخْتِي" دغه زما خور ده[۳].

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه علماء کرام وایي چې: ذکره شوې قیصه په مصر کښې واقع شوې وه او متکبر ظالم پاچا د مصر پاچا (فرعون) وه چې د مصر د فرعونیانو څخه لومړنی فرعون وه[۴].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۸۵؛ تفسیر الطبري ج۱۷ ص۴۷
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۹۵
(۳) البحر المحیط ج۷ ص۴۵۲
(۴) عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج۱۵ ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

نو پوښتنه دا ده چې: دا به څنګه امکان ولري چې ﴿ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِي بَٰرَكْنَا فِيهَا ﴾ د شام څخه عبارت شي او ابراهیم ﷺ دې همدلته هجرت کړی وي حال دا چې د عراق څخه شام ته د غزېدلې لارې په اوږدو کښې خو مصر موقعیت نه لري بلکې په څنګ پروت دی؟

مونږ وایو چې: ابراهیم ﷺ په خپل هجرت کښې شام ته په بدله لاره باندې ورغلی وه ترڅو د مشرکانو د پلوه تعقیب نه شي، یا په بل عبارت شام ته په اوږده لاره باندې تللی وه چې د مصر د دورې څخه وروسته هلته رسېدلې وه[۱].

## درې ملګري په لاره کښې څلور شوه

۷ـ په ابراهیم ﷺ باندې خپلې مېرمنې ایمان راوړی وه چې د ده ﷺ خپله ترله وه او ساره رضي الله عنها نومېده او د هاران الاکبر لور وه، او بل پرې خپل وراره ایمان راوړی وه چې لوط ﷺ نومېږي او د هاران الاصغر زوی دی[۲]. لنډه دا چې د ابراهیم ﷺ تره هاران الاکبر نومېده چې د بي بي ساري رضي الله عنها پلار وه، او ورور یې هم هاران الاصغر نومېده چې د لوط ﷺ پلار وه.

نو دوی درېواړه (ابراهیم ﷺ، لوط ﷺ، سارة رضي الله عنها) د هجرت ملګري وه خو کله چې مصر ته ورسېده ترڅو شام ته په اوږده لاره لاړ شي، نو هلته یې د یوه ظالم متکبر پاچا (د وخت فرعون) سره یوه قیصه پېښه شوه[۳] چې څه مهم ټکي یې لاندې لوستلی شئ:

الف: د وخت فرعون بي بي ساري رضي الله عنها ته اشاره وکړه او ابراهیم ﷺ یې مخاطب کړ چې دا څوک ده چې ستا سره ملګرې ده؟

ابراهیم ﷺ جواب ورکړ چې: دا زما خور ده او زه یې ورور یم.

دا د دې دپاره چې د کافر پاچا به چې کله کومه ښځه خوښه شوه نو د هغې مېړه به یې واژه.

ب: ابراهیم ﷺ بېرته خپلې مېرمنې ته راستون شو او ورته یې وویلې چې ما کافر پاچا ته ته د خور په نامه باندې معرفي کړې یې، نو ته هم ورته ووایه چې زه یې خور یم، ځکه چې نن ورځ په دنیا کښې بله مسلمانه ښځه نشته نو ته حقیقتاً زما دیني (اسلامي) خور یې.

ج: کله چې بي بي ساره رضي الله عنها پاچا خپل ځان ته وغوښتله نو د بد لمنۍ نیت یې ورته وکړ، خو الله ﷻ په خپل کومک سره سمدستي نوموړی پاچا په داسې مرض باندې مبتلا کړ چې لاسونه او پښې یې د اختیاره ووتې، تا به ویل چې ځنکدن یې دی.

د: خو بي بي ساري رضي الله عنها الله ﷻ ته سوال وکړ چې: ای الله ﷻ! دغه کافر بېرته جوړ کړه ځکه چې که مړ شي نو ماته به ګوته ونیوله شي چې دغې ښځې وژلی دی. الله ﷻ سمدستي د وخت فرعون څخه مرض پورته کړ او عادي حال ته یې رجوع وکړه خو:

هـ: سمدستي یې بیا بي بي ساري رضي الله عنها ته لاس اوږد کړ خو بیا په ذکر شوي مرض باندې اخته

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۴۸
(۲) تاريخ الطبري ج۱ ص۱۷۱؛ تفسير الخازن ج۳ ص۲۶۰
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۴، ج۲ ص۶۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو مگر د بي بي سارې رضي الله عنها په دعاء باندې بیا جوړ شو، لنډه دا چې ذکره شوې عملیه درې کرته تکراره شوه نو:

و: بالآخره د وخت فرعون بي بي ساره رضي الله عنها رخصته کړه او د هغه رعب د کبله یې چې په نوموړې باندې پرېوتلی وه هغې ته یوه وینځه وبښله چې "هاجره" نومېده.

ز: دغه وینځه بي بي سارې رضي الله عنها ابراهیم عليه السلام ته وبښله[1] چې د وخت په تېرېدلو سره الله ﷻ د همدغې وینځې د ګېډې څخه هغه عليه السلام ته اسماعیل عليه السلام وباښه او دغه وینځه ورته أم الولد وګرځېده[2].

ح: اسماعیل عليه السلام تی رووده چې ابراهیم عليه السلام دواړه (ماشوم او مور یې) د الله ﷻ په امر په مکه معظمه کښې دېره کړه، چې نور بیان یې د سیرت په کتابونو کښې مفصل لیکلی شوی دی.

نو درې ملګري په بي بي هاجر سره په لاره کښې څلور شوه او شام ته ورسېده، نو هلته ابراهیم عليه السلام د "السبع" په نومې ځای کښې مېشت شو او خپل وراره (لوط عليه السلام) یې "المؤتفكة" ښار ته ورولېږه چې تقریبًا د یوې ورځې او یوې شپې په فاصله لرې ترې پروت وه[3].

## د نَافِلَةً معنی

۸ـ په ﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً﴾ کښې ﴿نَافِلَةً﴾ کلمه د "نفل" څخه اشتقاقه شوې ده چې د زیادت او فضل دواړو معناوو باندې استعمالېږي، په دې مقام کښې هم په لاندې دوه وو تفسیرونو باندې تفسیره شوې ده:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې ابراهیم عليه السلام د الله ﷻ څخه اولاد غوښتی وه چې: ﴿رَبِّ هَبْ لِي مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ [الصافات: ۱۰۰] ای زما ربه! ماته د صالحانو د جملې څخه اولاد راوبښې، خو الله ﷻ د ده په غوښتنه باندې زیادت وکړ او یعقوب عليه السلام (لمسی) یې هم د ده عليه السلام په ژوند کښې وروباښه[4].

ب: ځینو نورو علماوو کرامو دلته فضل او بې عوضه ورکړې ته ترجیح ورکړې ده چې اسحق عليه السلام ته هم شاملېږي، یعنې موږ ابراهیم عليه السلام ته اسحق عليه السلام (زوی) او یعقوب عليه السلام (لمسی) دواړه د خپل فضل د کبله وربښلي وه، نو دواړه په فضل کښې شامل دي[5]، والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې: د اسحق عليه السلام څخه خو اسماعیل عليه السلام مشر وه نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد په دې مقام کښې د اسماعیل عليه السلام ذکر نازل نه شو حال دا چې دی هم په وربښلو شوو اولادونو کښې شامل وه؟

---

(۱) تاریخ الطبري ج۱ ص۱۷۳
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۱۷۸
(۳) البحر المحیط ج۷ ص٤٥٢
(٤) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۳۰٥
(٥) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱٤۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو.



مونږ وايو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي، خو څرنګه چې دا مقام د هغو برکاتو ذکر دی کوم چې د هجرت په سبب ابراهيم ﷺ ته ورپېرزو کړی شوي وه، او د اسماعيل ﷺ مور (هاجر) د عراق څخه په هجرت کوونکو کښې شامله نه وه، نو د زوی ذکر يې هم نازل نه شو، والله ﷻ أعلم.

## نمروديان په څه شي هلاک شوه؟

۱۰_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۲۵۸] ايت لاندې ليکلي دي چې نمروديان په ماشو باندې هلاک کړی شوه، همدغه خبره په دې مقام کښې هم ځينو مفسرينو کرامو مفصله ليکلې ده[۱]، نو هيله ده چې يا هلته مراجعه وکړی شي چې پښتو شوې ده او يا دلته وکتله شي چې په عربي ژبه پاتې ده.

## د لوط ﷺ قوم ناپاک کارونه کول

۱۱_ په ﴿ٱلَّتِي كَانَت تَّعۡمَلُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾ کښې د "خَبَائِث" کلمه د "خبيثة" جمعه ده، چې د بد کار او بد خوی معنی ورکوي[۲].

خو په دې مقام کښې د کنايې په توګه دغه کلمه د هغه بد کار څخه عبارت ده کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ۸۰] ايت لاندې ښه شرحه کړی دی، خو دلته پرې ځينو مفسرينو کرامو څه نور سپک او پليت خويونه هم اضافه کړي دي[۳] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ذکر شوي قوم به د کفر او د نارينه وو سره د جنسي ارتباط په نيولو باندې علاوه په مجالسو کښې په علني توګه تيزونه هم خوشې کول، او خلک به يې په ګټکيو ويشتل.

ب: په مرغانو باندې به يې لوبې کولې، او نور بې شرمه او بې حيا کارونه به يې اجراء کول.

﴿وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَنَجَّيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٧٧﴾﴾

[۷۶] او (ای پيغمبره! په قرآن کريم کښې) نوح ﷺ (ياد کړه) کله يې چې (د ذکرو شوو پيغمبرانو څخه) وړاندې (مونږ ته) اواز (سوال) وکړ، نو مونږ ورته (سوال) قبول کړ.

نو نوح ﷺ او د ده (مسلماني) کورنۍ ته مو د سخت غم (غرقېدلو) څخه نجات ورکړ.

[۷۷] او د هغه قوم څخه (په هغه قوم باندې) مو ورته کومک (نصرت) ورکړ کومو چې زمونږ ايتونو (دلايلو) ته د دروغو نسبت کاوه، يقيناً (دا) قوم بد قوم وه، نو ټول مو (د ځرمې) غرق کړه (او ځمکه مو د دوی د شر څخه خالي کړه).

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۲۵۹؛ تفسير البغوي ج۲ ص۲۵۱

(۲) لسان العرب ج۲ ص۱۴۲

(۳) تفسير الطبري ج۱۷ ص۴۹؛ تفسير الخازن ج۳ ص۲۶۱؛ تفسير المظهري ج۶ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د ابراهیم ﷺ د حالاتو څه بیان نازل شوی وه چې اب الانبیاء (د ډېرو پیغمبرانو پلار) دی، او په دې ایتونو کښې د نوح ﷺ د حالاتو څه بیان ته اشاره شوې ده چې په دوهمه درجه کښې اب البشر (د بنیادمانو پلار) دی، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! اوس نو د خپل امت دپاره د نوح ﷺ څه حالات درپه یاد کړه هغه دا چې:

۱ـ د ذکرو شوو پیغمبرانو (ابراهیم ﷺ، لوط ﷺ، اسحق ﷺ، یعقوب ﷺ) څخه لا وړاندې نوح ﷺ د دعوت په سلسله کښې ډېر مشقتونه ګاللي وه چې تر نهه نیم سوه کالو پورې یې خپل دعوت ته ادامه ورکړه خو په نتیجه کښې یې د خپل قوم د ایمان راوړلو څخه تمه وشکېده، نو مونږ ته یې سوال وکړ چې ای ربه! زیاتي د کافرانو څخه یو کس هم په ځمکه باندې ژوندی پرېنږدې.

۲ـ مونږ د نوح ﷺ سوال قبول کړ او په کفارو باندې مو ډېر لوی غم ورنازل کړ چې ټول مو ځای په ځای په خپلو کورونو کښې غرق کړه او نوح ﷺ او د ده اهل کورنۍ (کور کهول) ته مو ترې په بېړۍ کښې نجات ورکړ. او دا ځکه چې:

۳ـ مونږ د نوح ﷺ سره د هغه قوم په مقابل کښې نصرت او کومک وکړ کومو چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کاوه، او مسخرې یې ورباندې کولې.

۴ـ یقینًا چې د نوح ﷺ قوم بد قوم وه، چې د نهه نیم سوه کاله دعوت سره هم دوی د خپل کفر او شرک څخه لاس وانخست، نو د ځرمې مو غرق کړه او یو کافر مو هم د دوی څخه په ځمکه باندې ژوندی پرېنښود.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې د نوح ﷺ د قیصې پوره بیان مطلب نه دی کوم چې په نورو سورتونو کښې ځای په ځای مفصل نازل شوی دی، بلکې په دې مقام کښې یې الله ﷻ د قیصې اول او آخر ته اشاره وکړه ترڅو څرګنده شي چې پیغمبرانو ته د دعوت په اوږدو کښې مشکلات ورپېښېږي مګر عاقبت په همدوی پورې اختصاص لري او کامیابي همدوی ته ورکوله کېږي.

نو په کار دي چې د دې زمانې پیغمبر ﷺ بې حوصلې نه شي او هم د دې زمانې کفار پوه شي چې هرومرو به په انجام کښې د ناکامۍ سره مخ کېږي، البته که خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړي.

۲ـ نوح ﷺ په خپل اوږده دعوت کښې خپل قوم ته ښېراوې ونه کړې، مګر په هغه وخت کښې یې د سوال لاسونه پورته کړه کله چې ورته الله ﷻ وحې وکړه چې: ﴿لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ﴾ [هود: ۳٦] هیڅکله به ستا د قوم څخه (بل څوک) ایمان رانه وړي مګر هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی.

۳ـ د نوح ﷺ د ښېراوو مثالونه الله ﷻ مونږ ته داسې حکایت کړي دي چې:

الف: ﴿فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ﴾ [القمر: ۱۰] یعنې نوح ﷺ خپل رب ته سوال وکړ چې: ای

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زما ربه! یقیناً زه د خپل قوم په مقابل کښې مغلوب یم، نو زما سره کومک وکړې.
ب: ﴿رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ دَيَّارًا﴾ [نوح:۲۶] یعنې ای زما ربه! په ځمکه باندې د کفارو څخه یو اوسېدونکی هم پرېنږدې (ټول هلاک کړه).

## کَرب څه معنی؟

۴_ په ﴿مِنَ ٱلْكَرْبِ ٱلْعَظِيمِ﴾ کښې د "کَرب" کلمه اصلاً د دې دپاره وضعه شوې ده چې څوک په ځمکه کښې حفریات وکړي (کَنْدې وکني) او په بل مخ یې واړوي، خو په شدید غم کښې د دې کبله استعمالېږي چې دروند (شدید) غم هم د سړي ژوند په بل مخ اړوي[1]، اما په دې مقام کښې د لوی غم څخه د کنایې په توګه غرقېدل مطلب دي چې په کفارو باندې یې د خوشالۍ ژوند سرچپه کړ او ټول پرې د خرمې هلاک کړی شوه.

﴿وَدَاوُۥدَ وَسُلَيْمَـٰنَ إِذْ يَحْكُمَانِ فِى ٱلْحَرْثِ إِذْ نَفَشَتْ فِيهِ غَنَمُ ٱلْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شَـٰهِدِينَ ﴿٧٨﴾ فَفَهَّمْنَـٰهَا سُلَيْمَـٰنَ ۚ وَكُلًّا ءَاتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُۥدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ ۚ وَكُنَّا فَـٰعِلِينَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنَـٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ فَهَلْ أَنتُمْ شَـٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَـٰرَكْنَا فِيهَا ۚ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عَـٰلِمِينَ ﴿٨١﴾ وَمِنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ وَكُنَّا لَهُمْ حَـٰفِظِينَ ﴿٨٢﴾﴾

[۷۸] او (ای پیغمبره! په قرآن کریم کښې) داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ (هم یاد کړه) چې کله دوی دواړو د کښت (په لانجه کښې) حکم کاوه (البته) څه وخت چې پکښې د یو قوم ګډې په خپل سر د شپې د مخې خرېدلې وې (او کښت یې د حاصل د ورکولو څخه ویستلی وه).
او مونږ د دوی حکم ته حاضر وو (مونږ ورته پکښې وحې ونه کړه ترڅو په اجتهاد باندې حکم وکړي او زیات اجرونه وګټي).
[۷۹] نو مونږ دا (قیصه) سلیمان ﷺ ته (د حکم د حیثه) ورپوهه (وزده) کړه (نو د ده حکم د داوُد ﷺ د حکم څخه د متخاصمینو دپاره بهتر وه).
او هر یوه ته مونږ د حکم کولو (استعداد) او پوهه ورکړې وه (دواړو د فیصلو توان درلود)، او (همدارنګه) مونږ داوُد ﷺ ته غرونه مسخر کړي وه چې (د ده ﷺ د تسبیحاتو په وخت کښې به یې ورسره) تسبیحات ویل او مرغان (مو هم ورته مسخر کړي وه چې تسبیحات به یې ورسره بدرګه کول).

[1] مفردات الراغب ص۴۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او مونږ (د دغسې عجیبه کارونو) کوونکي یاستو (مونږ ته اسان دي).

[۸۰] او مونږ داوُد ﷺ ته د زغرو جوړولو صنعت ستاسو دپاره وربښودلی وه ترڅو تاسو د خپلو جنګونو (د ضررونو) څخه بچ وساتي، نو ایا تاسو (د دې نعمت) شکر کوونکي یاست؟

[۸۱] او (مونږ ) سلیمان ﷺ ته په داسې حال کښې باد (مسخر کړی وه) چې تېز (او تونده) چلېدونکی وه (او) چې د ده ﷺ په امر به هغې ځمکې ته چلېد په کومه کښې چې مونږ برکتونه اچولي دي (چې د شام ځمکه ده)، او مونږ په هر شي باندې پوه یاستو (د هر چا استعداد پېژنو).

[۸۲] او (مونږ ورته) د شیطانانو (قوي پیریانو) څخه هم هغه څوک (مسخر کړی وه) چې (په دریابونو کښې) به یې ورته (د جواهرو د راویستلو دپاره) غوټې وهلې او هم به یې (ورته) کارونه کول داسې کارونه چې د دغه (کار) څخه په غیر وه، او مونږ دغو شیطانانو ته (د طغیان څخه) ساتونکي وه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د دوه وو نورو پیغمبرانو ذکر نازل شوی دی چې الله ﷻ ورسره احسانات کړي وه، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د پیغمبرانو د یادښت په لړۍ کښې اوس په خپل امت باندې د داوُد ﷺ او د ده ﷺ د زوی سلیمان ﷺ څه حالات قرائت کړه چې:

۱ـ یوه ورځې د ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو په زمانه کښې یوه شخړه پېښه شوه چې فیصلې ته یې اړتیا درلوده:

شخړه دا وه چې د یو قوم ګډې د شپې د پلوه په خپل سر کښېدلې وې او د یوه سړي کښت یې دومره خراب کړي او تاواني کړی وه چې په عین کال کښې یې د حاصل ورکولو څخه غورزولی وه.

۲ـ مونږ داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ ته په ذکره شوې شخړه کښې فیصله په وحې سره وروونه ښودله ترڅو زمونږ په حضور کښې اجتهاد وکړي او فیصله ورته مونده کړي.

نو اول پکښې داوُد ﷺ اجتهادي فیصله اعلانه کړه او بیا د همدې فیصلې په تعقیب مونږ سلیمان ﷺ ته د شخړې فیصله الهام کړه، چې ده ﷺ هم خپل اجتهادي حکم د خپل پلار په وړاندې بیان کړه.

نو څرنګه چې د سلیمان ﷺ اجتهادي حکم او فیصله د متخاصمینو په ګټه وه، سمدستي داوُد ﷺ د خپلې فیصلې څخه تېر شو او د خپل زوی فیصله یې تاییده او عملي کړه.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ د نورو پیغمبرانو غوندې داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ هر یوه ته هم د شرعي فیصلو کولو توان ورکړې وه او هم مو په پیغمبري پوهه باندې پوه کړي وه، نو په خپل امت باندې د دواړو اختصاصي فضائل قرائت کړه. هغه دا چې:

الف: مونږ داوُد ﷺ ته ډېره زیاته خوش اوازي ورکړې وه نو کله به یې چې زمونږ تسبیحات لوستل غرونو به هم ورسره بدرګه کول، یا په بل عبارت غرونه مو ورته مسخر کړي وه چې د ده ﷺ د تسبیحاتو سره به یې په خارق العاده توګه خپل تسبیحات ضمیمه کول.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه به هوايي مرغانو هم د داوُد ﷺ د تسبيحاتو ويلو سره په لوړ اواز تسبيحات ويل.

ای پیغمبره! مونږ چې هرکار ته اراده وکړو د هغه کوونکي یاستو او هیڅ شی زمونږ د ارادې مخنیوی نه شي کولی.

ج: او هم مو داوُد ﷺ ته د زغرو د جوړولو صنعت ورزده کړی وه چې د همدې صنعت ډېره یې ستاسو دپاره ایښې ده ترڅو ترې د قیامت تر ورځې پورې تاسو استفاده وکړئ او د جنګ د ضررونو څخه پرې خپل ځانونه وساتئ. نو:

ای انسانانو! ایا تاسو زمونږ د نعمتونو شکر کوونکي یاست؟ تاسو ته په کار دي چې شکریه یې وکړئ ترڅو لا ډېر نعمتونه درپېرزو کړو.

د: مونږ سلیمان ﷺ ته تونده (تېز) باد مسخر کړی وه چې د ده ﷺ په امر سره به یې د همده ﷺ تخت د ځمکې څخه پورته کاوه او هغه ځای ته به یې په فضایي مزل سره رساوه په کوم کښې چې مونږ معنوي او مادي نعمتونه اچولي دي، یا په بل عبارت ذکر شوي باد به په دومره سرعت سره حرکت کاوه چې د یوې میاشتې مزل به یې د سهار د پلوه کاوه او د یوې میاشتې مزل به یې د ببګاه د پلوه سرته رساوه.

ای پیغمبره! مونږ په هر شي باندې پوه یاستو چې هر چاته د هغه سره مناسب نعمتونه ورکوو.

ه: په دې باندې علاوه مونږ سلیمان ﷺ ته د پیریانو څخه قوي پیریان هم تابع ګرځولي وه چې ځینو به ورته په دریابونو کښې غوپې وهلې او ډول-ډول جواهر به یې ورته ترې راویستل، او ځینو به ورته د دې څخه په غیر نور شاقه (درانه) کارونه کول او تعمیرات به یې ورته جوړول او لوی-لوی دېګونه او لګنونه به یې ورته تیارول تابه ویل چې حوضونه دي.

ای پیغمبره! مونږ وو چې د دغو قوي پیریانو ساتنه مو کوله ترڅو د سلیمان ﷺ څخه بغاوت ونه کړي، که بالفرض زمونږ حفاظت نه وی نو په پیریانو باندې به یې حکومت نه وی چلولی.

## توضیحات

۱ ـ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې محترم لوستونکي لاندې نکاتو ته توجه وکړي:

الف: د عبد الله بن مسعود ﷺ روایت دی چې په ﴿ فِي ٱلۡحَرۡثِ ﴾ کښې د "حَرْث" کلمه دلته د انګورو د تاکونو څخه عبارت ده[۱]، چې د انګورو باغ ښه په ګل کښې وه او ښه ترو تازه وه.

ب: په ﴿ إِذۡ نَفَشَتۡ ﴾ کښې د ﴿ نَفَشَتۡ ﴾ کلمه د "نفش" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصلاً د تیت پرک (خوربدلو) معنی ورکوي لکه چې په دانډس باندې مالوچ یا وړی خورې ورې او تیت پرک شي خو په دې مقام کښې ترې د هغو ګډو خوربدل مطلب دي کومې چې شپونکی ونه لري او د شپې د پلوه په خپل سر په کومه ورشو کښې وڅيري[۲].

---

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۶۴۵
(۲) لسان العرب ج۶ ص۳۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په ﴿ لِحُكْمِهِمْ ﴾ كښې د "هُمْ" ضمير لاندې دوه احتماله درلودلی شي[١]:

اول: چې داوُد ﷺ، سليمان ﷺ او متخاصمينو ته راجع شي نو په جمعيت كښې به ورسره مطابقت وموومي، كه څه هم متخاصمين حكم كوونكي نه دي مگر د حكم سره خو ارتباط درلودونكي دي.

دوهم: چې يوازې داوُد ﷺ او سليمان ﷺ ته راجع وگڼل شي او په محاوراتو كښې د جمعې او مثنى ترمنځ ډېر منافات نشته يوه د بلې په مقام كښې استعمالېږي، لكه چې په ﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ [التحريم:۴] كښې د جمعي څخه مثنى مراده ده او په ﴿ فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ ﴾ [النساء:١١] كښې جمعه (إِخْوَةٌ) مثنى (أَخَوَانِ) ته هم شامله ده.

كه څه هم په ذكرو شوو دواړو صورتونو كښې په اصل مطلب باندې څه اثر نه پرېوزي مگر مونږ ته دوهم احتمال په زړه پورې برېښي، والله ﷻ أعلم.

د: په ﴿ فَفَهَّمْنَٰهَا ﴾ كښې د "هَا" ضمير همدغې موضوع ته راجع دی كومې ته چې وړاندې اشاره شوې ده، چې بايد په "قضية" يا "حادثة" باندې ترې تعبير وكړی شي ترڅو مطابقت حاصل شي.

هـ: ذكره شوې قضيه يا حادثه مفسرينو كرامو د سلفو صالحينو څخه په متعددو صورتونو كښې روايت كړې ده[٢]، كه څوك اوږده بحث ته خوشالېږي همليته دې مراجعه وكړي، مونږ يې دلته فقط د لاندې ټكو په ذكر باندې اكتفاء كوو:

اول: يوه سړي د انگورو يو باغ درلود چې ښه په گل كښې تازه ولاړ وه او د شپې د مخې د خلكو د گډو رمه په خپل سر پرته د شپونكي څخه وروكشېده، پاڼې يې ترې وخوړې او گلان يې ترې وځنډل، يا په بل عبارت په همدغه كال كښې يې د حاصل د وركولو څخه وويست.

دوهم: باغوان د گډو د خاوندانو څخه د باغ خساره وغوښتله خو دوی يې د وركړې څخه انكار وكړ آن تردې چې همدا موضوع په ذكر شوي كم او كيف سره داوُد ﷺ ته د فيصلې دپاره وړاندې كړی شوه.

درېم: داوُد ﷺ ته په موضوع كښې وحې ونه شوه نو د مجبوريت د كبله يې په اجتهاد باندې داسې فيصله وكړه چې:

ټوله رمه يې باغوان ته په تاوان كښې وركړه، البته چې د رمې قيمت به ورته د باغ د خسارې سره مساوي ځرگند شوی وي، نو د خسارې جبيره يې په رمې سره وكړه او موضوع يې فيصله كړه.

څلورم: خو الله ﷻ په عين موضوع كښې سليمان ﷺ ته د ذكر شوي اجتهاد بديل په زړه كښې ورواچاوه نو داسې فيصله يې وكړه چې:

د يو پلوه دې ټوله رمه باغوان ته وركړه شي چې د شودو او وړيو او هم د وچغنو او وريو څخه يې استفاده وكړي او د خپل باغ خساره پرې تكميله كړي، او د بله پلوه دې انگور باغ د رمې خاوندانو ته

---

(١) روح المعاني ج١٧ ص٧۴

(٢) تفسير الطبري ج١٧ ص٥٢؛ الدر المنثور ج٥ ص۶۴٥؛ تفسير ابن كثير ج٣ ص١٨۶؛ تفسير الخازن ج٣ ص٢۶٢

Scanned by CamScanner

د میرویس الیاسین لخوا سکین شو



ورتسلیم کړی شي ترڅو تر هغه وخته پورې یې خدمت وکړي چې د رمې منافع یې خساره ډکه کړي. یا په بل عبارت: تر یو کاله پورې باید باغوان او ګډوالا فقط د ذو الیدی او تصرف تبادله وکړي او د هرچا املاک دې د هر چا په خپل‌خپل ځای وي، نو په دې صورت کښې به ګډوالا د شدیدې ملکي خسارې څخه بچ شي او د باغوان خساره به جبیره شي.

پنځم: کله چې داوُد ﷺ نوموړې فیصله واورېده نو سمدستي د خپلې فیصلې څخه تېر شو او د سلیمان ﷺ فیصله یې خوښه او عملي کړه.

و: د دې دپاره چې د داوُد ﷺ په هکله د چا په ذهن کښې کسر شان ونه ګرځي نو الله ﷻ دا ټکړه ﴿وَكُلًّا ءَاتَيۡنَا حُكۡمٗا وَعِلۡمٗا﴾ نازله کړه، یعنې مونږ داوُد ﷺ او سلیمان ﷺ هر یو په حکم کولو او په لدني علم باندې سرلوړي کړي وه او دواړو ته مو عالي شان ورکړی وه چې اجتهادي خطا ورباندې څه اثر نه شو غورزولی؛ او همدارنګه یې د داوُد ﷺ ځینې اختصاصي نعمتونو ته هم اشاره وکړه لکه د غرونو تسخیر او نور.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: ایا سلیمان ﷺ ته جایزه وه چې د یوه پیغمبر (داوُد ﷺ) د فیصلې په مقابل کښې بله فیصله وکړي؟ همدارنګه ایا داوُد ﷺ ته روا وه چې د خپلې فیصلې څخه بېرته وګرځي؟

مونږ وایو چې: ذکرې شوې دواړه فیصلې اجتهادي وې او یوه مجتهد ته جایزه ده چې د بل مجتهد څخه مخالف حکم وکړي لکه چې زمونږ په شریعت کښې مجتهدینو علماوو کرامو ته اجتهادي اختلاف جایز دي.

همدارنګه یوه مجتهد ته روا ده چې خپل اجتهادي حکم پرېږدي او د بل مجتهد په اجتهادي حکم باندې عمل وکړي، او یا خپل دوهم اجتهادي حکم ته رجوع وکړي، د همدې کبله د امام الشافعي علیه الرحمة اقوال په قدیم قول او جدید قول باندې وېشلي شوي دي.

هوا مونږ د لاندې وجوهو د کبله ووېل چې ذکرې شوې دواړه فیصلې به اجتهادي وې او منصوصي به نه وې:

الف: د ﴿إِذۡ يَحۡكُمَانِ﴾ کلمه په دې دلالت کوي چې دواړه حکمونه اجتهادي وه، که بالفرض دواړه حکمونه او یا یو حکم منصوصي وی نو الله ﷻ به د ﴿وَكُلًّا ءَاتَيۡنَا حُكۡمٗا وَعِلۡمٗا﴾ تعقیب نه وی نازل کړی، چې هر یوه ته مونږ د حکم کولو توان او پوهه ورکړې وه.

ب: د ﴿فَفَهَّمۡنَٰهَا﴾ د کلمې څخه په تبادر سره د سړي ذهن ته ورځي چې الله ﷻ سلیمان ﷺ ته د شرعي اصولو او سابقه احکامو څخه الهامي حکم وربنودلی وه، نه دا چې تازه او نوې وحې یې ورته کړې وه.

## د ذکرې شوې فیصلې نظایر

۳ـ په دې باندې علاوه، په هغې زمانه کښې څه نور قضایا هم واقع شوي وه چې د ذکرې شوې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


قضيې نظاير ګڼل کېږي او داوُد ﷺ او سليمان ﷺ پکښې جدا-جدا فيصلې کړې وې، څرنګه چې هلته يو حکم هم د منصوصيت احتمال نه لري او دواړه اجتهادي حکمونه دي، نو غالبه دا ده چې په هغې قضيه کښې به هم د دواړو ترمنځ اجتهادي اختلاف واقع شوی وی کومې ته چې په ايت شريف کښې اشاره شوې ده او په تفسير کښې يې بحث روان دی. د نظايرو مثالونه يې دا دي:

الف: يوه مثال او نظير ته يې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده چې مهم ټکي يې دا دي:

اول: دوه ښځې وې چې دواړو زامن (ماشومان) درلوده.

دوهم: د دواړو ماشومانو څخه يو تن ليوه (شرمخ) وخوړ.

دريم: د دواړو ښځو ترمنځ لانجه راپورته شوه، يوې وويلې چې زما زوی ژوندی دی او ستا زوی ليوه (شرمخ) خوړلی دی، بلې ښځې هم عين خبره کوله چې زما ماشوم ليوه نه دی خوړلی، ستا ماشوم يې خوړلی دی.

څلورم: داوُد ﷺ د څه تحقيقاتو څخه وروسته فيصله وکړه او ژوندی ماشوم يې د مشرې ښځې وګڼه، او کشرې ښځې ته يې د شرمخ خوړل شوی ماشوم منسوب کړ.

پنځم: دواړو ښځو خپله قضيه (د داوُد ﷺ فيصله) سليمان ﷺ ته واوروله نو:

شپږم: سليمان ﷺ سمدستي چاړه راوغوښتله او وې ويل چې زه پرې دغه ژوندی ماشوم په دوه وو برخو باندې وېشم چې نيم به د يوې شي او نور نيم به د بلې شي.

اوم: د دې فيصلې په اورولو سره مشرې ښځې وويلې چې: سمه ده، دا ماشوم دوه برخې کړه او هر چاته خپله برخه ورکړه. او کشرې ښځې د خپلې برخې څخه ابراء وکړه او په ماشوم باندې يې زړه وسوزېد، چې ټول ماشوم هغې ته ورکړه.

اتم: «فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى»[1] نو سليمان ﷺ په ماشوم باندې د کشرې دپاره حکم وکړ چې زړه سوی يې د مشرې څخه زيات وه او همدا يې د حقيقت علامه وګڼله.

که څه هم زمونږ ورباندې نظر ونه لګېده، خو شايد چې په دغې قضيه کښې به هم داوُد ﷺ د خپل اجتهادي حکم څخه تېر شوی وي او د سليمان ﷺ اجتهادي حکم ته به يې رجوع کړې وي.

ب: يوه بله قضيه د عبد الله بن عباس (رئيس المفسرين) رضي الله عنهما څخه روايت شوې ده[2] چې مونږ يې په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

اول: په بني اسرائيلو کښې يوه ډېره ښايسته ښځه وه چې څلور کسان مشران (مخور) هر يو ورباندې مين وه، او هر يوه ترې خپله غوښتنه کوله.

دوهم: خو ښځې هر يوه ته منفي جواب ورکاوه او يوه ته يې هم غاړه نه ايښوده.

دريم: کله چې څلور واړه مايوسه (نااُميده) شوه نو ټولو اتفاق وکړ چې په ښځه باندې تهمت

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۷؛ سنن النسائي ج۲ ص۳۰۷
(۲) تفسير ابن کثير ج۳ ص۱۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس یاسین لخوا سکین شو


ولګوي او د څلورو شاهدانو په حیث ورباندې د داوُد ﷺ په وړاندې شهادت ورکړي ترڅو ووژله او اعدامه شي. تهمت دا وه چې:

څلورم: دغې ښځې په خپل ځان باندې سپی اموخته کړی دی، او په جنسي ارتباط کښې ترې د انسان (سړي) کار اخلي، مونږ پرې شهادت ورکوو.

پنځم: د څلورو شاهدانو د شهادت په بنیاد داوُد ﷺ په ښځې باندې فیصله وکړه چې رجمه شي او د کانو لاندې ووژله شي چې په ځمکه کښې فساد کوونکې ده.

شپږم: د همدې فیصلې په تعقیب د شپې د مخې سلیمان ﷺ (په خپله هم ماشوم وه) د نورو ماشومانو سره د سات تېرۍ په توګه ذکره شوې قضیه د یوې ډرامې په شکل تمثیله کړه چې:

اووم: خپل ځان یې قاضي فرض کړ او په یوه ماشوم باندې یې د ښځې نوم کېښود او بالآخره څلورو ماشومانو ته یې د شاهدانو لقب ورکړ.

اتم: شاهدانو شاهدي ورکړه چې دغې ښځې په خپل ځان باندې سپی اچولی دی، خو ښځې انکار وکړ.

نهم: قاضي څلور واړه شاهدان هر یو جدا-جدا وپوښتل چې هغه سپی په کوم رنګ وه کوم چې دغې ښځې په خپل ځان باندې اچولی دی او تاسو ورباندې شهادت ورکوئ؟

لسم: نو یوه شاهد وویلې چې نوموړي سپین سپی وه، بل وویلې چې تور وه، درېم وویلې چې زېړ وه او څلورم وویلې چې خړ سپی وه.

یوولسم: قاضي ته څرګنده شوه چې شاهدانو دروغ ویلي دي او په ځمکه کښې یې فساد اچولی دی نو په څلور واړو باندې یې د اعدام حکم او فیصله وکړه.

دولسم: په ذکره شوې تمثیلي ډرامه باندې داوُد ﷺ خبر شو نو سمدستي یې په خپله فیصله کښې په تجدید النظر باندې شروع وکړه چې:

دیارلسم: څلور واړه شاهدان یې بېرته راوغوښتل او د هر یوه څخه یې د سپې د رنګ په هکله جداجدا پوښتنه وکړه چې هر یوه په بېل-بېل رنګ باندې جواب ورکړ.

څوارلسم: نو خپله پخوانۍ اجتهادي فیصله یې (چې لا تطبیق شوې نه وه) ماته کړه او نوې فیصله یې وکړه چې د ښځې په عوض دې څلور واړه شاهدان اعدام شي، چې دوی په ځمکه کښې فساد اچوونکي دي نو همدا فیصله ورباندې تعمیل شوه او څلور واړه اعدام شوه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: که بالفرض زمونږ په زمانه کښې هغه قضیه پېښه شي کومه چې د داوُد ﷺ په زمانه کښې پېښه شوې وه چې د شپې د مخې رمه وکښېږي او د چا کښت او یا باغ د کاره وباسي او خراب یې کړي؛ نو څه حکم به ولري؟

مونږ وایو چې: د پخوانیو شریعتونو کوم یو حکم چې مونږ ته حکایت کړی شي او زمونږ په

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ مکلف یاستو چې همغه حکم په خپلو شریعت کښې د هغه حکم بدیل موجودیت ونه لري نو مونږ پرې مکلف نه یاستو.

نو که بالفرض ذکره شوې حادثه په دې زمانه کښې صورت ونیسي، په کډوال باندې هیڅ تاوان نشته خو په دې شرط چې رمه پخپله کشېدلې وي او د شپانه مداخله پکښې هیڅ تحقق ونه لري[۱]، او دا ځکه چې د پورتنۍ قضیې بدیل حکم زمونږ په شریعت کښې شته هغه دا چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَالْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ»[۲] یعنې د ځارویو زخمي کول (یا تاوان رسول) هدر (ضائع) دي، په خاوند باندې یې څه ضمان نشته.

همدا د ابو حنیفه رحمه‌الله‌علیه نظر دی البته چې نور امامان پکښې نور نظرونه لري[۳].

## یادونه

۵ـ که څوک غواړي چې د اجتهاد پورې مربوط اوږده بحثونه د نظره تېر کړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۴] چې ډېر زیات تفصیل یې ورکړی دی، چې په کومو دلایلو باندې یې تشریع اثباته شوې ده؟ او څومره ډولونه لري؟ او داسې نور، مګر مونږ فقط د یوه حدیث شریف په ذکر باندې اکتفاء کوو چې د اجتهاد په هکله روایت شوی دی هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ»[۵] یعنې کله چې یو حاکم په اجتهادي مسائلو کښې د حکم کولو نیت وکړي او اجتهاد (خپله وسه) تمامه کړي او بالآخره شرعي حکم ته ورسېږي نو ده ته دوه اجرونه دي: یو د کوښښ کولو او بل د شرعي حکم د موندلو. او که یو حاکم د حکم اراده وکړي او خپله وسه هم تمامه کړي خو د شرعي حکم په موندلو کښې خطاء شي، نو ده ته یو اجر دی چې د شرعي حکم د موندلو پسې یې تاند وهلی دی او کوښښ یې کړی دی.

## د غرونو او مرغانو تسبیحات

۶ـ په ﴿وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُدَ ٱلْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَٱلطَّيْرَ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ داود علیه‌السلام ته ډېر ښایسته اواز ورکړی وه حتی چې کله به یې د زبور په لوستلو باندې شروع وکړه (چې په تسبیحاتو او تمجیداتو باندې مشتمل وه) نو غرونه به ترې متاثر کېده او خپل اوازونه به یې ورسره ضمیمه کول، او همدارنګه مرغان به یې هم د اغېز لاندې واقع کېدل چې د ده علیه‌السلام ترڅنګ به یې په تسبیحاتو باندې پیل کاوه[۶].

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۲۳
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۷۳: صحیح البخاري ج۱۰ ص۲۰۳
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۱ ص۳۱۴
(۴) اضواء البیان ج۴ ص۶۵۱ـ ۷۳۳: التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۹۵ـ۱۹۹
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۹۲
(۶) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۸۷

Scanned by CamScanner

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الإسراء: ۴۴] ایت لاندې لیکلي دي چې هر شی د الله ﷻ تسبیحات د
قال په ژبه او هم د قال په ژبه باندې وايي، خو کومو تسبیحاتو ته چې په ایت شریف کښې اشاره
شوې ده هغه د هغو تسبیحاتو څخه عبارت دي کومو به چې په خارق العاده توګه په جهر سره
صورت نیوه چې داوُد ﷺ او نورو خلکو به اورېده.

نبي کریم ﷺ د داوُد ﷺ خوږغږی ته په یو حدیث شریف کښې اشاره کړې او ابو موسی ﷺ یې
مخاطب کړی دی چې: «لَقَدْ أُوتِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ»[۱] یعنې یقینًا تاته (اى ابو موسی!) د
داوُد ﷺ د ښایسته اوازونو د جملې څخه یو ښایسته اواز درکړی شوی دی. د همدې حدیث
شارحین وايي چې: دلته د مزمار څخه ښایسته اواز مطلب دی او د "آل" کلمه زائده ده.

## لبوس څه معنی؟

۷_ په ﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ ﴾ کښې د ﴿ لَبُوسٍ ﴾ کلمه اصلاً د هغه شي دپاره وضعه
شوې ده کوم چې اغوستل کېږي، مګر په مطلق وسله کښې او یا خاص په زغرو کښې ډېره
استعمالېږي[۲] په دې مقام کښې اکثر علماوو کرامو همدغه دوهمه معنی اخستې ده.

د داوُد ﷺ څخه پخوا هم په جنګ کښې د خپل ځان د حفاظت دپاره د اوسپنو څخه کار اخستل
کېده خو د حلقو (کړيو) په توګه نه بلکې د تختو په شکل به یې اوسپنې استعمالولې چې هم به
درنې وې او هم به یې ټول بدن په ښه توګه نه شو پټولی.

نو داوُد ﷺ اولنی سړی وه چې د اوسپنې څخه یې کړۍ جوړې کړې او د کړيو په تسلسل او
اوبدلو سره یې ترې زغرې تیارې کړې چې د جامو غوندې اغوستلې کېږي[۳].

د داود ﷺ خوراک او څښاک د همدغو زغرو څخه صورت نیوه لکه چې نبي کریم ﷺ ورته اشاره
کړې ده چې: «مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ وَإِنَّ نَبِيَّ اللهِ دَاوُدَ ﷺ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ
عَمَلِ يَدِهِ»[۴] یعنې هیڅچا هیڅکله د دې څخه بهتر خوراک ونه کړ چې د خپل لاس د عمل څخه خوراک
وکړي. او یقینًا د الله ﷻ پیغمبر (داود ﷺ) وه چې د خپل لاس د عمل څخه به یې خوراک کاوه.

الله ﷻ داوُد ﷺ ته په خارق العاده توګه په ګوتو کښې اوسپنې نرمې او پستې ګرځولې وې، دې
ته څه ارتیا نه وه چې په اور یې ګرمې کړې او یا یې په څټک باندې پلنه او نرۍ کړي. همدې موضوع
ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴾ [سبأ: ۱۰] او مونږ داوُد ﷺ ته اوسپنه نرمه کړې وه.

## سوالونه او جوابونه

۸_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۵۵
(۲) مفردات الراغب ص۴۶۷: تفسیر الطبري ج۱۷ ص۵۴
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۵۴
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۲۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿ وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً ﴾ کښې الله ﷻ هغه باد د ﴿ عَاصِفَةً ﴾ په نوم یاد کړی دی کوم چې سلیمان ؑ ته مسخر کړی شوی وه، حال دا چې همدغه باد ته یې په بل ایت شریف کښې د "رُخَاءً" لقب ورکړی دی چې: ﴿ تَجْرِي بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴾ [ص: ۳۶] یعنې مونږ سلیمان ؑ ته باد مسخر کړی وه چې د ده په امر باندې به هغه ځای ته نرم چلېده کوم ته به چې د ده اراده وه، نو پوښتنه دا ده چې: ایا دا ایت د هغه سره تضاد نه لري؟

مونږ وایو چې: لکه څنګه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [طه: ۲۰] ایت لاندې لیکلي دي چې د موسی ؑ د همسا څخه به داسې مار جوړېده چې سرعت به یې د نري مار (جان) په څېر وه او غټوالی به یې ښامار (ثعبان) ته ورته وه، همدارنګه هغه باد چې د سلیمان ؑ دپاره مسخر کړی شوی وه په چلښت کښې نرم (رُخَاء) وه او په سرعت کښې توند او تېز (عَاصِفَة) وه.

په دې باندې علاوه، دا هم څه لرې نه ده چې په ذکر شوي باد باندې به مختلف حالات ورتلل کله به تېز وه او کله به نرم وه، نو حالات به یې یا د سلیمان ؑ په اراده باندې او یا د مواقعو په اختلاف سره بدلېده.

ب: په ﴿ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِي بَٰرَكْنَا فِيهَا ﴾ کښې دېته اشاره ده چې ذکر شوی باد سلیمان ؑ ته مسخر شوی وه چې مبارکې ځمکې ته یې یوسي چې د شام څخه عبارت ده په کومه کښې چې د سلیمان ؑ پایتخت پروت وه.

نو پوښتنه دا ده چې ایا بل وطن ته د تللو دپاره ورته باد نه وه مسخر کړی شوی؟ یا په بل عبارت: په دې کښې څه حکمت دی چې په ایت شریف کښې راتللو ته اشاره شوې ده او تلل (د شام څخه وتل) په سکوت کښې پرېښودل شوي دي؟

مونږ وایو چې: تللو ته یا د شام څخه وتلو ته په [ص:۳۶] ایت کښې (چې په لومړنۍ پوښتنه کښې لیکلی شوی دی) اشاره شوې ده هغه دا چې: د ﴿ أَصَابَ ﴾ کلمه د "إِصَابَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "إرادة" معنی ورکوي[1] یعنې مونږ د باد چلښت د سلیمان ؑ په "إرادة" کښې ورکړی وه چې هر وطن ته به یې نیت وکړ نو همغې خوا ته به د باد مخ واړولی شو.

## یادونه

۹- په ﴿ وَمِنَ ٱلشَّيَٰطِينِ مَن يَغُوصُونَ لَهُۥ ﴾ کښې الله ﷻ هغه پېریان چې سلیمان ؑ ته به یې درانه کارونه اجراء کول او د دریابونو څخه به یې ورته ملغلرې راویستلې، د "شَيَاطِين" په نامه یاد کړي دي، نو ځینې مفسرین کرام[2] د دې نامه څخه دا معلوموي چې دوی به کفار وه او د هغو پېریانو څخه به نه وه کومو چې په سلیمان ؑ باندې ایمان راوړی وه، والله ﷻ اعلم.

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۵۳۶
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۷۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اپسین لخوا سکین شو



په هر تقدیر علماء کرام وايي چې: لومړی سړی سلیمان ﷺ وه چې د دریابونو څخه یې ملغلري او جواهر راویستلي دي(۱)، د ده ﷺ څخه پخوا هیچا دا کار نه وه کړی.

﴿ وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٨٣﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ ﴿٨٤﴾ ﴾

[۸۳] او ایوب ﷺ (هم په کتاب کښې یاد کړه) کله چې ده ﷺ خپل رب ته (په عاجزۍ سره) اواز وکړ چې یقیناً ماته ضرر (مشقت) رسېدلی دی او ته د مهربانانو ډېر مهربان یې (نو د خپلې مهربانۍ د مخې ماته نجات راکړه).

[۸۴] نو مونږ ورته اجابت وکړ (د ده سوال مو قبول کړ)، نو هغه شی کوم چې د ده پورې وه چې د ضرر (مشقت) څخه عبارت وه، هغه مو ترې لرې کړ، او (هم) مونږ ورته د ده (هلاک شوی) اهل ورکړ او د اهل مثل (مو هم) ورسره (ورکړ)، (البته) د خپله نزده د رحمت د کبله، او (د قیامت تر ورځې پورې) د عبادت کوونکو د پند (او عبرت) د کبله.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې د ایوب ﷺ قیصه هم په لاندې تکو کښې قرائت کړه:

۱_ ایو ب ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای زما ربه! یقیناً ماته ډېر مشقت رسېدلی دی او ته د هر چا څخه زیات مهربان یې، نو د خپلې مهربانۍ د مخې زما څخه مشقت لرې کړې او د مصیبتونو څخه مې خلاص کړې.

۲_ مونږ د ایوب ﷺ سوال قبول کړ او د کوم سوال دپاره یې چې لاسونه پورته کړي وه هغه مو ورته داسې قبول کړه چې:

الف: کوم بدني مصیبت چې ورته رسېدلی وه د هغه څخه مو روغ رمټ کړ چې بالکل پکښې مرض پاتې نه شو، او ظاهري او باطني دواړه ډوله امراض یې د بدن څخه جدا شوه.

ب: د کور کهول څه کسان یې چې په کوم تعداد کښې مړه شوي وه هغه تعداد مو ورته بېرته وربوره کړ.

ج: بلکې د تلف شوي تعداد په مثل تعداد مو نور هم ورته ورکړ. یا په بل عبارت یو په دوه مو د اولادونو پلار جوړ کړ.

د: همدارنګه دنیاوي مالونه مو هم ورته عوض کړه، حتی چې د سرو زرو باران مو وورباندې وکړ او د هر حیثه مو غني او مالدار وګرځاوه.

(۱) تفسیر الخازن ج۵ ص۵۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې زمونږ دپلوه په ایوب ﷺ باندې وربدلې کړه د خپل رحمت د کبله او د هغه سره
هـ: دا ټول مو ورسره صرف د خپل رحمت د کبله وکړ
وه. یقیناً چې ایوب ﷺ زما صبرناک بنده وه.
او بل د دې کبله چې د قیامت تر ورځې پورې بندګانو ته عبرت جوړ شي، چې په هیڅ حال کښې بې صبرې ونه کړې او په هر حال کښې مونږ ته راجع شي، او نااُمیده نه شي.

## توضیحات

۱_ کومې قیصې ته چې په ذکرو شوو ایتونو کښې د ایوب ﷺ په هکله اشاره شوې ده په هغې کښې علماوو کرامو زښت ډېر اوږده معلومات لیکلي دي[۱]، غالبه دا ده چې د اسرائیلیاتو څخه به خالي نه وي، حتی په ځینو معلوماتو باندې خو هرڅوک پوهېږي چې اسرائیلیات دي او دا ځکه چې ځینې د نبوت د منصب سره منافات لري.

د اسرائیلیاتو په ارتباط مونږ (د آخر الزمان پیغمبر امتیان) په لاندې ډولونو مکلف یاستو:

الف: کوم چې زمونږ د شریعت سره موافق وی نو باید چې هغه قبول کړو.

ب: او کوم چې زمونږ د شریعت سره تضاد او منافات ولري نو هغه باید رد کړو او باطل یې وګڼو.

ج: په کومو کښې چې نه موافقت وي او نه پکښې مخالفت وي نو په کار دي چې نه یې تصدیق کړو او نه یې تکذیب کړو، همدې ډول ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «لَا تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ وَقُولُوا ﴿آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ﴾ الآيَة»[۲] یعني تاسو مه د اهل الکتابو تصدیق کوئ او مه یې تکذیب کوئ، بلکې ووایاست چې مونږ په الله ﷻ او په هغه شي باندې ایمان راوړی دی کوم چې همده ﷻ نازل کړی دی او بس.

نو د همدې کبله مونږ د ایوب ﷺ په هکله د لاندې معلوماتو په لیکلو باندې اکتفاء کوو چې:

اول: ښه خبره دا ده چې ایوب ﷺ د بني اسرائیلو د پیغمبرانو څخه یو پیغمبر وه[۳]، او د شام او روم په شاوخوا کښې یې ژوند کړی دی[۴].

دوهم: ایوب ﷺ ته الله ﷻ ښه خواني او ښه صحت ورکړی وه او د هر ډول مالونو درلودونکی یې ګرځولی وه، برسېره پر دې د ډېرو زامنو پلار یې هم جوړ کړی وه، ایوب ﷺ د دغو نعمتونو شکریه په کامله توګه اداء کړه، او اجرونه یې وګټل.

درېیم: الله ﷻ د ایوب ﷺ څخه ذکر شوي نعمتونه ټول واخستل چې په بدن باندې یې مرض مسلط شو او مالونه یې ټول تباه شوه او زامن یې ټول مړه شوه، دا ډېر لوی امتحان وه چې ایوب ﷺ پکښې

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۶۶_۲۷۲: التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۲۰۳: تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۸۸: تفسیر البغوي ج۳ ص۲۵۶: تفسیر الطبري ج۱۷ ص۵۷، ۷۲
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۴
(۳) روح المعاني ج۱۷ ص۸۰
(۴) التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۲۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



واقع شو چې د دغسې غټ امتحان سره الله ﷻ هرڅوک نه مخامخ کوي چې دباره يې نه شي وتلی.

۱- په يوه اوږده حديث کښې يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: په خلکو کښې څوک د امتحان د حيثه سخت دی؟

نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ يُبْتَلَى الْعَبْدُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ»[1] يعنې د پيغمبرانو امتحان سخت وي بيا د هغو خلکو چې دوی ته ورنژدې وي بيا چې دغو نژدې خلکو ته ورنژدې وي، هر بنده د خپل دين په اندازه د امتحان لاندې واقع کېږي نو که په دينداری کښې سخت وي امتحان يې هم سخت وي، او چې ديندارې يې کمزورې وي نو امتحان يې هم کمزوری وي.

البته چې په امتحان کښې به د دينداری مراتب څکه په نظر کښې نيولی کېږي چې الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې ډېر زيات مهربان دی او په دې باندې ډېر ښه پوهېږي چې د امتحان څخه وتل د دينداری په سبب صورت نيولی شي او بس.

که بالفرض يو ادنی سړی د غټ امتحان سره مخامخ کړی شي نو د ناکامولو څخه په غير به بله معنی ونه لري لکه چې يو استاذ په امتحان کښې د خپلو شاګردانو سويه په نظر کښې ونه نيسي.

خلورم: ايوب ﷺ د ذکر شوي لوی امتحان څخه کامياب راووت، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ﴾ [ص: ۴۴] يعنې: يقينًا مونږ ايوب ﷺ صبر کوونکی وموند، چې ډېر ښه بنده وه ايوب ﷺ.

## سوال جواب

۲_که څوک وايي چې: ايا د ايوب ﷺ بې صبري د دې ايت شريف څخه نه معلومېږي: ﴿ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ ﴾ چې کله يې خپل رب ﷻ ته په لوړ اواز سره سوال وکړ چې: ای زما ربه! يقينًا چې ماته ضرر رسبدلی دی او ته أرحمُ الراحمين يې. يا په بل عبارت: شکايت خو بل شی نه دی بې د دې چې سړی خپل مرض يا مصيبت بل چاته اظهار کړي؟

مونږ وايو چې: خپل مرض يا مصيبت چاته څرګندول جواز نه لري او د صبر سره منافي کار دی په دې شرط چې په الله ﷻ باندې د اعتراض په توګه صورت ونيسي خو که د اعتراض په توګه نه وي نو جواز لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه د نظره تېر کړئ:

الف: لکه څنګه چې ايوب ﷺ خپل مصيبت د الله ﷻ په حضور کښې اظهار کړی وه ترڅو ترې نجات ورکړي همدارنګه د يعقوب ﷺ د خولې څخه هم مونږ ته الله ﷻ حکايت کړی دی چې: ﴿ إِنَّمَآ أَشْكُوا بَثِّي وَحُزْنِيٓ إِلَى اللَّهِ ﴾ [يوسف: ۸۶] يقينًا زه خپله پرېشان حالي او خپل غم فقط الله ﷻ ته ښکاره کوم (ترڅو ترې ماته نجات راکړي).

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۶۵؛ سنن ابن ماجه ص۲۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یوه ورځې بي بي عائشې رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ په حضور کښې خپل سردرد اظهار کړه چې: «وَارَأْسَاهْ» یعني وای سر مې خوږیږي.

ج: همدارنګه په عین حدیث کښې نبي کریم ﷺ هم خپل سردرد عائشې رضي الله عنها ته څرګند کړ او ویې ویل چې: «بَلْ أنَا وَارَأْسَاهْ»[١] یعني بلکې زه هم تاته د خپل سردرد اظهار کوم چې ستا د سر درد څخه زیات خطري دی (څه لرې نه ده چې همدا زما د مرګ سبب شي).

نو په ناجایزه شکایت کښې دا ضرور نه ده چې سړی خپل مصیبت اظهار کړي او پټ یې وند ساتي، بلکې هغه څوک هم صابر نه ګڼل کېږي چې په خپل زړه کښې (پټ) د الله ﷻ په قضاء باندې اعتراض وکړي او خپل ځان ترې مرور کړي چې ولې دې زه په دغه مصیبت باندې اخته کړی یم، دا دې بې ځایه کار کړی دی، العیاذ بالله ﷻ.

## هم نجات هم عوضونه

٣ـ الله ﷻ پوهېږي چې ایوب ﷺ به په مصیبتونو کښې څومره عمر تېر کړی وي خو چې کله یې امتحان انجام ته ورسېد او د الله ﷻ په نزد ترې کامیاب ووت نو لاندې چال چلند یې ورسره وکړ:

الف: په ﴿ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې الله ﷻ د بدني مرضونو څخه خلاص کړ او روغ رمټ یې وګرځاوه لکه څنګه چې د مصیبت د نزول څخه پخوا وه، نو الله ﷻ ورته امر وکړ چې: ﴿ ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ ﴾ [ص:٤٢] یعني ای ایوبه! په خپله پښه باندې ځمکه ووهه (نو دستي به چینه راوخوټیږي) دغه چینه ستا دپاره د غسل کولو یخ ځای دی چې په غسل سره به دې ظاهري بدن ټول روغ شي او همدارنګه دغه چینه ستا دپاره د څښلو اوبه ورکوي چې داخلي امراض به دې پرې ټول د منځه لاړ شي.

نو ایوب ﷺ ذکره شوې توصیه عملي کړه او د ټولو مرضونو څخه یې نجات ومونډ.

ب: په ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ ایوب ﷺ ته د تلف شوي اهل عوضونه هم ورکړه، چې علماء کرامو یې په لاندې دوه ډوله تفسیر کړی دی[٢]:

اول: د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې: الله ﷻ ورته د خپلخانې هغه ټول افراد راژوندي کړه کوم چې د امتحان په اثر تلف شوي وه، او هم یې ورته د هغوی په مثل نور افراد او اولادونه هم ورکړه.

دوهم: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت الله ﷻ ورته مړه شوي اولادونه راژوندي نه کړه مګر د مړو شوو اولادونو عدد یې ورته یو په دوه (غبرګ) ورووبانېه مثلاً د لسو په عوض یې شل ورکړه او داسې نور.

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٨٤٦؛ سنن ابن ماجه ص١٠٥
(٢) تفسیر الطبري ج١٧ ص٧٢؛ تفسیر الخازن ج٣ ص٢٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته همدغه دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي چې د ﴿ وَذِكْرَىٰ لِلْعَـٰبِدِينَ ﴾ د تعقیب سره ښه مونږ؛ یعني باید د قیامت تر ورځې پورې خلک د ایوب ﷺ څخه عبرت واخلي او په خوري؛ سمون صبر وکړي چې هم به اجرونه وګټي او هم به ورته الله ﷻ عوضونه ورکړي؛ هسې نه مصائبو باندې اولادونه به ورته بېرته راژوندي کړي.

چې مړه شوي ایوب ﷺ ته دنیاوي مالونه هم د پخوا څخه لا زیات او پرېمانه ورکړه حتی چې نبي ج: الله ﷻ ایوب فرمایلي دي چې: «بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْتَثِي فِي ثَوْبِهِ كريم ﷺ فَنَادَاهُ رَبُّهُ يَا أَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى قَالَ بَلَى وَعِزَّتِكَ وَلَكِنْ لَا غِنَى بِي عَنْ بَرَكَتِكَ»[1] یعني ایوب په بربنډه غسل کاوه (احتمال لري چې د روغوالي غسل به وه) نو د سرو زرو مولخان وربانديږ ورتوی شوه نو ایوب ﷺ شروع وکړه چې په خپله جامه (څادر) کښې یې راټولول، نو خپل رب ﷻ ورته غږ وکړ چې: ای ایوبه! ایا زه نه وم چې د هغه شي څخه مې بې پروا کړی یې کوم چې ته ګورې؟ ایوب ﷺ وویلې چې: ولې نه، ستا په عزت باندې سوګند دی (چې هرڅه دې ډېر راکړي دي)، مګر ستا د برکت او ستا د فضل څخه ماته بې پروایي نشته (ستا په فضل باندې زه نه مړېږم).

﴿ وَإِسْمَـٰعِيلَ وَإِدْرِيسَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾ وَأَدْخَلْنَـٰهُمْ فِى رَحْمَتِنَآ ۖ
إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَـٰضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ
فَنَادَىٰ فِى ٱلظُّلُمَـٰتِ أَن لَّآ إِلَـٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبْحَـٰنَكَ إِنِّى كُنتُ مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٨٧﴾
فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَنَجَّيْنَـٰهُ مِنَ ٱلْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ
رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِى فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ
وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَـٰرِعُونَ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ
وَكَانُوا۟ لَنَا خَـٰشِعِينَ ﴿٩٠﴾ وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنَـٰهَا
وَٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَـٰلَمِينَ ﴿٩١﴾ ﴾

[۸۵] او (ای پیغمبره!) اسماعیل ﷺ او ادریس ﷺ او (هم) ذا الکفل ﷺ یاد کړه، دوی هر یو د صابرینو د جملې څخه وه (او په دعوت کښې یې مشقتونه تېر کړي وه).

[۸۶] او دوی (ټول) مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړي دي، یقیناً چې دوی (ټول) د (کاملو صالحانو د ډلې څخه وه.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۲، ۲۸۰.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۷] او د ماهي ملگري (یونس ﷺ هم) یاد کړه، کله چې (د خپل قوم څخه بدون د اجازې) په داسې حال کښې لاړ چې (دوی ته) ډېر په غُصه (او غضب) وه. نو یونس ﷺ گومان وکړ چې مونږ به وربانديې هیڅکله تنگی وربښکته نه کړو (خو مونږ وربانديې تنگي وربښکته کړه او د ماهي په گېډه کښې مو بندي کړ).

(بیا) نو یونس ﷺ په (گېډو) تیارو کښې (مونږ ته) اواز (سوال) وکړ چې: (ای ربه!) په حقه بانديې معبود نشته مگر همدا ته یې (او بس) یقیناً چې زه (په خپل ځان بانديې) د ظلم کوونکو څخه وم (چې ستا د اجازې څخه پرته د قوم څخه لاړم).

[۸۸] نو مونږ یونس ﷺ ته (د ده سوال) قبول کړ او هم مو د غم (بنديخانې) څخه نجات ورکړ. او (ای پیغمبره!) همدغه ډول مونږ (د قیامت تر ورځې پورې) مؤمنانو ته نجات ورکوو.

[۸۹] او زکریا ﷺ (هم خپل امت ته) یاد کړه کله یې چې خپل رب ﷻ ته اواز (سوال) وکړ چې: ای زما ربه! ما یوازې (بې اولاده) پرېږدې (چې وارث ونه لرم)، او (بې شکه) ته چې یې همدا ته د ټولو وارثانو (بېرته پاتې کېدونکو) ډېر بهتر وارث (بېرته پاتې کېدونکی) یې.

[۹۰] نو مونږ ورته (سوال) قبول کړه او یحیی ﷺ مو ورته (د وارث په حیث) وباښه او (هم) مو د ده ماندینه ورته د (اولاد زېږولو دپاره) صالحه وگرځوله.

یقیناً دوی (دواړه "زکریا ﷺ او یحیی ﷺ" د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام) په شمول وه چې د خیر په کارونو کښې یې جلتي کوله او (دوی وه چې) مونږ به یې د امید او ډار په حالونو کښې بللو او (هم) دوی مونږ ته عاجزي کوونکي وه.

[۹۱] او (ای پیغمبره!) هغه زنانه (بي بي مریمه رضي الله عنها هم یاده کړه) کومې چې خپل گرېوان (د نارینه وو د مسه کولو څخه مطلقاً) پاک ساتلی وه، خو مونږ د همدې (په گېډه) کښې (د دې په زوی عیسی ﷺ کښې) خپل مشرف روح پو کړ (هلته مو ژوندی او بیا تولد کړ).
او (هم) مو ذکره شوې زنانه (بي بي مریمه رضي الله عنها) او د دې زوی (عیسی ﷺ) د عالمونو دپاره (ډېره لویه) قدرتي نښه وگرځوله (چې په زېښتو ډېرو خوارقو بانديې مشتمله وه او ده).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د پیغمبرانو د یادونې په لړ کښې څو نور پیغمبران یاد شوي دي چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل امت بانديې د څو نورو پیغمبرانو څه یادونه هم قرائت کړه چې:

۱_ د اسماعیل ﷺ او ادریس ﷺ او هم د ذاالکفل ﷺ یادونه په خپل امت بانديې وکړه چې دوی هر یو د صابرینو څخه وه، او اسماعیل ﷺ خو خپل ځان ذبحې ته تسلیم کړ او د خپل صبر بېره نمونه یې وښودله.

دوی ټول مونږ په خپل پراخه رحمت کښې داخل کړي وه چې ټول د کاملو صالحینو د جملې څخه وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ذکر هم وکړه چې ستا امت ترې عبرت واخلي هغه دا چې:

۲_ د ماهي د خاوند (یونس ﷺ) په خپل قوم څخه په دې باندې مرور شو چې ایمان یې ورباندې نه راووړ او اذیتونه

الف: کله چې د خپل قوم څخه په دې باندې مرور شو چې ایمان یې ورباندې نه راووړ او اذیتونه بې ورته رسول، نو په دوی باندې یې د عذاب د نزول سوال وکړه او پخپله د دوی د منځه بدون د اذن او اجازې څخه د غُصې او غضب په حال کښې بهر شو.

ب: د یونس ﷺ ګومان وه چې مونږ به ورباندې په دې خبره کښې څه تنګي ورنازله نه کړو چې بدون د اجازې د خپل قوم د منځه ووت.

ج: خو دغسې نه وه لکه څنګه چې یونس ﷺ خیال کاوه مونږ ورباندې په همدغه کار سره چې د نبوت د مقام سره مناسب نه وه تنګي وروستله او د ماهي په ګېډه کښې مو بندي کړ.

د: کله چې یونس ﷺ پوه شو چې غیر مناسب کار یې کړی دی او د همدې کبله ورته د ماهي ګېډه د یوې بندیخانې حیثیت لري نو:

ه: په تورو تیارو کښې په خپله کړنلاره باندې پښېمانه شو او د ماهي په ګېډه کښې یې په توره شپه کښې خپل ندامت داسې اظهار کړ او داسې سوال یې وکړ چې:

و: ای الله! زه په لوړ اواز باندې ستا تسبیحات وایم چې د عبادت لایق بل هیڅوک او هیڅ شی نشته مګر همدا ته یې او بس، همدا تاته د ټولو نقصاناتو او ټولو غیر مناسبو صفاتو څخه پاکي ده، یقیناً چې زه د ظالمانو د جملې څخه یم او په خپل ځان مې ظلم کړی دی چې ستا د اجازې څخه پرته د قوم څخه راوتلی یم، او د اذن پورې مې پکښې توقف نه دی کړی.

ز: ای الله! ماته نجات راکړې او د هغه خلاف الاولی کار کول راته وبښې د کوم چې زه مرتکب شوی یم او په خپل ځان باندې راته د تېري او ظلم سبب ګرځېدلی دی.

ح: نو مونږ یونس ﷺ ته اجابت وکړ (د ده سوال مو قبول کړ) او د بندیخانې د غم څخه مو ورته نجات ورکړ.

ای پیغمبره! مونږ همدغه ډول د قیامت تر ورځې پورې مؤمنانو ته د غمونو څخه نجات ورکوو، د نجات ورکول مو یونس ﷺ پورې انحصار نه لري.

۳_ زکریا ﷺ هم خپل امت ته یاد کړه چې:

الف: کله یې خپل رب ﷻ ته داسې سوال وکړ چې: ای زما ربه! زه اولاد نه لرم ترڅو زما د مرګ څخه وروسته په دین کښې زما خلافت وکړي، حال دا چې زه د خپلو اقاربو څخه ډارېږم چې دوی به زما څخه وروسته د بې دینۍ په رواجولو کښې تاند ووهي.

نو ای زما ربه! ما یوازې مه پرېږده او صالح اولاد راکړه چې زما وارث جوړ شي.

ای زما ربه! بې شکه چې یوازې همدا ته به همېشه باقي پاتې وې او نور ټول مخلوقات فنا کېدونکي دي.

ب: نو مونږ د زکریا ﷺ سوال ته هم اجابت وکړ او سوال مو ورته قبول کړ چې د یحیی ﷺ غوندې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صالح زوی مو ورو بانبنه حتی چې د زکریا ﷺ د اطمنان دپاره مو د ولادت څخه وړاندې د "یحیی" په نامه باندې هم ونوماوه.

ج: که څه هم د زکریا ﷺ ماندینه د دې جوګه نه وه چې اولاد وزېږوي (زړه بوډۍ وه) نو هغه مو هم د ولادت دپاره صالحه او مستعده وګرځوله.

۴ـ ای پیغمبره! یقینًا ذکر شوي پیغمبران بلکې ټول پیغمبران په لاندې خاصیتونو کښې ټول متحد او متفق وه:

الف: ټولو (هر یوه په خپله‌خپله زمانه کښې) د خیر په کارونو کښې د نورو څخه سبقت کاوه او په ښېګڼو کښې یې تاند واهه.

ب: ټولو زمونږ توحید ته د عوت چلاوه او په ترغیب او ترهیب سره یې ورته خلک رابلل، ترڅو د باطلو لارو څخه حقې لارې ته راوګرځي.

ج: ټول مونږ ته عاجزي کوونکي او تواضع کوونکي وه، چې په دائمي توګه زمونږ څخه ډارېدل.

۵ـ ای پیغمبره! خپل امت ته دې د هغې زنانه ذکر هم وکړه کومې چې خپل عفت ساتلی وه بلکې خپله لمن یې د نارینه وو د تماس څخه په جایزه او ناجایزه دواړو طریقو باندې محفوظه ساتلې وه.

خو د دې سره‌سره مونږ د هغې په ګېډه کښې عیسی ﷺ په قدرتي توګه پیدا کړ او خپل باعزته او باشرفه روح مو پکښې پوه کړ او هلته مو په خارق العاده توګه ژوندی او بیا تولد کړ.

نو په همدې لحاظ سره ذکره شوې زنانه (بي بي مریمه رضي‌الله‌عنها) مونږ د قدرت یوه لویه نښه وګرځوله او د دې زوی (عیسی ﷺ) مو د خپل قدرت بله نښه جوړه کړې وه چې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو عالمونو دپاره د عبرت درس ګرځېدلې ده.

## توضیحات

۱ـ د [مریم: ۵۴ـ ۵٦] ایتونو کښې د اسماعیل ﷺ او هم د ادریس ﷺ په هکله ـ د الله ﷻ په توفیق ـ څه معلومات لیکلی شوي دي، چې مونږ یې دلته بیا نه شو تکرارولی او د څه اضافه کولو اراده هم نه لرو، نو هیله ده چې هملته ورته مراجعه وکړی شي.

## ذا الکفل څوک وه؟

۲ـ د ذا الکفل په هکله علماوو کرامو متعدد قولونه کړي دي لاندې مثالونه یې ولولئ[۱]:

الف: ذا الکفل یو صالح سړی او یا یو عادل پاچا وه.

پاتې شوه دا خبره چې دا لقب ولې ورکړی شوی دی، نو د دې دپاره یې ډېرې اوږدې وجې لیکلي دي[۲]، که څوک غواړي چې خپل ځان ورباندې پوه کړي نو هملته دې مراجعه وکړي.

ب: دا د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر وه.

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲٦۲
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بلکې دا د الیاس ﷺ دوهم نوم دی.
ځینو وایي چې: لاندې پیغمبران د دوه وو نومونو خاوندان دي(١):
اول: احمد، چې دوهم نوم یې محمد ﷺ دی.
دوهم: الیاس، چې دوهم نوم یې ذو الکفل ﷺ دی.
درېیم: اسرائیل، چې دوهم نوم یې یعقوب ﷺ دی.
څلورم: المسیح، چې دوهم نوم یې عیسی ﷺ دی.
پنځم: یونس، چې دوهم نوم یې ذو النون یا صاحب الحوت ﷺ دی.
ځرنګه چې په ایت شریف کښې ذا الکفل د پیغمبرانو په قطار کښې ودرولی شوی دی نو د اکثرو علماوو په نزد دا یو پیغمبر دی(٢)، برابره خبره ده چې الیاس ﷺ به وي او که به بل کوم یو پیغمبر وي. مونږ ته همدا نظر بهتر برېښي.

## ذا النون یعنې یونس ﷺ

٣ـ په ﴿ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَـٰضِبًا ﴾ کښې بالاتفاق د ذا النون کلمه د یونس ﷺ څخه عبارت ده او دا لقب ځکه ورکړی شوی دی چې دغه پیغمبر د ماهي په ګېډه کښې څه وخت بندي کړی شوی وه، "نون" د ماهي معنی ورکوي لکه څنګه چې "حوت" هم ماهي ته وضعه شوی دی.
نو یونس ﷺ لکه څنګه چې د ذا النون لقب ګټلی دی همدارنګه په [القلم:۴۸] ایت کښې د صاحب الحوت" په نوم باندې هم یاد شوی دی، پاتې شوه دا خبره چې د نوموړې بندیخانې قیصه څنګه ده؟ نو هغه خو مفسرینو کرامو ډېره طولاني لیکلې ده(٣)، او په دې تفسیر کښې یې هم د ځینو ټکو بیان د [یونس:۹۸] ایت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷺ علی ذلک. خو زیات بیان یې په [الصافات: ۱۴۰] او نورو ایتونو کښې راروان دی إن شاء الله ﷺ، مونږ نه غواړو چې هغه بیان دلته رانقل کړو او کتاب پرې اوږد کړو، مونږ دلته د الله ﷺ په توفیق د هغو ټکو په شرحه او تفسیر باندې اکتفاء کوو کومو ته چې په دې مقام کښې ضرورت دی هغه دا چې:
۴ـ په ﴿ إِذ ذَّهَبَ مُغَـٰضِبًا ﴾ کښې د ﴿ مُغَـٰضِبًا ﴾ کلمه د "مُغَاضِبَة" ـلکه "مُضَارَبَة"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "مُفَاعَلَة" باب دی، په دغه باب کښې اصلاً هغه فعلونه اچولی کېږي کومو چې د یوه طرفه قصداً او د بله طرفه ضمناً صورت نیولی وي، مګر کله-کله پکښې د مبالغې دپاره هغه فعل هم اچولی کېږي کوم چې د یوه طرفه صورت نیولی وي، لکه "عَاقَبْتُ اللِّصَّ" غله مې ډېر زیات تعقیب کړي وه.
په دې مقام کښې همدغه مبالغه مطلب ده، نو حاصل یې داسې راخېژي چې: یونس ﷺ په خپل

(١) تفسیر الکشاف ج٣ ص١٣١
(٢) البحر المحیط ج٧ ص۴٦١ .
(٣) تفسیر القرطبي ج١١ ص٣٢٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قوم باندې ډېر زيات په غُصه وه چې ايمان يې ورباندې رانه وړ حتى بدون د الله ﷻ د اذن څخه د دوی د منځه لاړ او دوی يې پرېښودل چې عذاب پرې نازل شي او ټول پوښنا شي.

## قدر د تنګۍ معنى هم ورکوي

۵_ په ﴿ فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ ﴾ کښې د ﴿ نَّقْدِرَ ﴾ کلمه د "قُدْرَة" څخه نه ده اشتقاقه شوې چې غلطه معنى ورکړي بلکې د "قَدر" _لکه "شَرَف"_ څخه يې اشتقاق موندلی دی، "قَدَرٌ" ډېرې معناوې لري چې يوه معنى يې تنګي ده[1] او همدغه معنى دلته مراده ده، يعنې نو يونس ﷺ ګومان وکړ چې مونږ به ورباندې د بې اجازې تللو د کبله تنګي وروانچوو، او د ماهي په ګېډه کښې به يې د همدغه خلاف الاولى کار د کولو د امله بندي نه کړو.

د ذکر شوي مصدر څخه په همدغې معنى باندې په ﴿ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ ﴾ [الطلاق: ۷] کښې د "قُدِرَ" کلمه هم اشتقاقه شوې ده، يعنې او هغه څوک چې روزي ورباندې تنګه کړی شوې وي نو هغه دې د خپلې تنګې روزۍ په اندازه مطلقاتو ښځو ته نفقه ورکړي.

## درې تيارې

۶_ په ﴿ فَنَادَىٰ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ ﴾ کښې د "ظُلُمَات" کلمه د "ظُلْمَة"_لکه "قُدْرَة"_ جمعه ده، چې د تيارې دپاره وضعه شوې ده او په مقابل کښې يې "نُور" (رڼا) استعمالېږي[2]، پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د څه شي څخه عبارت ده؟ نو په دې کښې دوه نظره دي[3]:

الف: د "ظُلُمَات" کلمه دلته د غم د شدت څخه کنايه ده چې په يونس ﷺ باندې د ماهي په ګېډه کښې دومره شديد غم ورنازل شو تا به ويل چې يوه شپه او يوه تياره نه بلکې متعددو تيارو سره لاس يوکړی دی او د محاصرې لاندې يې نيولی دي.

ب: يونس ﷺ په درېوو حقيقي تيارو کښې د سوال لاسونه پورته کړي وه چې يوه د شپې تياره وه او بله د درياب تياره وه او بالآخره بله د ماهي د ګېډې تياره وه.

ځينې علماوو کرام لا وايي چې: هغه ماهي بل ماهي ښويه تېر کړ کوم يوه چې يونس ﷺ ښويه تېر کړی وه[4]. نو په دې تقدير به درې تيارې يوه د درياب تياره او دوه تيارې د ماهيانو د دوه وو ګېډو د تيارو څخه عبارت وي، والله ﷻ أعلم.

زمونږ په فکر که د مجاز عموم اراده کړی شي ترڅو د ټولو معناوو اراده کول صحت ومومي هم څه بده خبره نه ده، بلکې د يونس ﷺ د حال سره ښه سمون وخوري.

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۷۷
(۲) مفردات الراغب ص۳۲۵
(۳) تفسير القاسمي ج۱۱ ص۲۸۷؛ تفسير القرطبي ج۱۱ ص۳۳۲
(۴) روح المعاني ج۱۷ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادوني

۷_ هیله ده چې په دې مقام کښې محترم لوستونکي لاندې دوه یادونې د نظر لاندې ونیسي:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۸۶] ایت لاندې د نبي کریم ﷺ یو حدیث نقل کړی دی چې د یونس علیه السلام دعاء یې د قیامت تر ورځې پورې د ټولو مؤمنانو دپاره مقبوله دعاء ګڼلې ده، لکه چې همدې مطلب ته په دې مقام کښې د ﴿ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ کلمات اشاره کوي.

نو هرڅوک چې د مشکلاتو او غمونو په وخت کښې ووایي چې: ﴿ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ الله ﷻ به یې مشکلات حل کړي او د غمونو څخه به یې خلاص کړي.

ب: د زکریا علیه السلام او د یحیی علیه السلام په هکله د "مریم" سورت په اولنیو ایتونو کښې ښه کافي بحث تېر شوی دی چې بیا تکرارولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

## فرج څه معنی؟

۸_ په ﴿ وَٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا ﴾ کښې د "فَرۡج" کلمه هغه وُت ته وضعه شوې ده کوم چې د دوه وو شیانو تر منځ واقع وي[۱] چې مونږ تري په پښتو کښې په چاود باندې هم تعبیر کولی شو، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ [ق:۶] یعنې ایا مشرکان اسمان ته نه ګوري چې د دوی د پاسه مونږ څنګه ښایسته جوړ کړی دی چې هیڅ چاودونه پکښې نشته؟.

مګر ذکره شوي کلمه د غلیظ عورت او د هغه په شاوخواوو ځایونو کښې هم د کنایې په توګه استعمالېږي[۲]، برابره خبره ده چې د زنانه وو عورت وي او که د نارینه وو عورت وي.

په دې مقام کښې د دواړو معناوو اراده کول صحت لري چې دواړه په مصداق کښې متحدې دي او تفاوت پکښې نه واقع کېږي. د ښه وضاحت دپاره په لاندې کرښو کښې د دواړو حاصل ولولئ:

الف: د اولنۍ معنی په لحاظ به د "فَرۡج" کلمه د کمیس د ګرېوان څخه عبارت شي یعنې هغه ښځه یاده کړه کومې چې خپل ګرېوان د نارینه وو څخه پاک ساتلی وه چې په جائزه او ناجائزه دواړو طریقو باندې چا لاس نه وه وروړی.

ب: د دوهمې معنی په اعتبار سره به د ذکرې شوې کلمې حاصل داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! خپل امت ته دې هغه زنانه یاده کړه کومې چې خپل غلیظ عورت د نارینه وو څخه مطلقًا پاک ساتلی وه چې نه چا په شرعي نکاح باندې مسه کړی وه او نه په ناجائزه توګه چا لاس وروړی وه.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَنَفَخۡنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا ﴾ کښې د "نَفَخۡنَا" کلمه د "نَفۡخ" _لکه "ضَرۡب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پوکولو معنی ورکوي خو د کنایې په توګه د ژوندي کولو په معنی کښې

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۸
(۲) لسان العرب ج۲ ص۳۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



استعمالېږي، نو په کار دي چې د ذکر شوي عبارت مفهوم داسې راوخېژي چې: مونږ په نوموړې بنځه (بي بي مریم رضي الله عنها) کښې هغه روح پوه کړ کوم چې مونږ ته د تشریف دپاره اضافت شوی دی او هغه مو وربانديې راژوندی کړه؛ ځکه چې د ﴿ فِيهَا ﴾ ضمیر بي بي مریمې رضي الله عنها ته راجع دی، حال دا چې دا مفهوم صحیح نه دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې مفعول (عیسی) د ظهور د کبله مقدر دی چې بي بي مریمه رضي الله عنها د همغه مقدر مفعول دپاره ظرف واقع شوې ده، یعنې نو مونږ د نوموړې بي بي زوی (عیسی ﷺ) د همدې په ګېډه کښې په مقدس او مشرف روح باندې ژوندی کړ[1].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

١٠ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَجَعَلۡنَـٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةً ﴾ مفهوم دا دی چې بي بي مریمه رضي الله عنها او عیسی ﷺ دواړه د الهي قدرت یوه نښه ده حال دا چې دواړه هر یو په بې شمېرو قدرتي نښو باندې مشتمل دي؟

مونږ وایو چې:

الف: په دې مقام کښې د دواړو مجموعې ته د ولادت په اعتبار سره یوه قدرتي نښه ویل شوې ده، چې مور وربانديې په قدرتي توګه اميدواره شوه او عیسی ﷺ په قدرتي توګه تولد شو.

ب: د "آية" یوه بله کلمه دلته مقدره ده چې مذکوره د ﴿ ءَايَةً ﴾ کلمه وربانديې دلالت کوي، ته به وایې چې داسې نازل شوی وی: "وَجَعَلْنَاهَا آيَةً وَابْنَهَا آيَةً" یعنې مونږ بي بي مریمه رضي الله عنها د خپل قدرت یوه نښه وګرځوله او د دې زوی مو د قدرت بله نښه جوړه کړه ترڅو ترې د قیامت تر ورځې پورې ټول عالمونه عبرت واخلي.

ج: بالآخره: د ﴿ ءَايَةً ﴾ څخه یوه نښه (یو فرد) مطلب نه دی بلکې جنس نښه ترې مراده ده چې متعددې نښې پکښې شاملېدلی شي.

﴿ إِنَّ هَـٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[٩٢] (ای خلکو!) یقینًا دغه (د ټولو پیغمبرانو دین او شریعت) ستاسو دین (او شریعت) دی په داسې حال کښې چې فقط یو دین دی (په اصولو کښې یې تعدد نشته).

او (همدا) زه ستاسو د ټولو رب (پالونکی) یم، نو تاسو خاص زما عبادت وکړئ (او بس).

[٩٣] (خو خلکو په دغې توصیه باندې عمل ونه کړ) او په خپلو منځو کښې یې د خپل دین (عقیدې) کار جدا-جدا (او ټوټه-ټوټه) کړ، خو ټول (ټول) مونږ ته راجع کېدونکي دي (هر چاته به موافقه سزا یا جزا ورکړو).

(١) البحر المحيط ج٧ ص٤٦٣؛ تفسير الكشاف ج٣ ص١٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

١ـ ای پیغمبره! ټولو خلکو ته زمونږ د پلوه اعلان وکړه او ورته ووایه چې: ای خلکو! ستاسو کوم دین چې د الله ﷻ په نزد مقبول دی دغه واحد دین دی چې ټولو پیغمبرانو هر یوه په خپله‌خپله زمانه کښې ورته دعوت چلولی دی او ټول پرې متفق دي.

نو ستاسو ټولو دین په اصولو کښې څه اختلاف نه لري، او په دې کښې هم څه اختلاف نشته چې زه ستاسو د ټولو رب یم چې هیڅ شریک نه لرم. نو خاص زما عبادت وکړئ او شریک راسره مه دروئ.

٢ـ نو په همدې بنیاد په خلکو کښې بې اتفاقي او اختلاف د پیغمبرانو د پلوه نه دی واقع شوی بلکې دوی د اختلاف د منځه وړلو دپاره را استولي شوي دي، خو دا خلک دي چې اختلاف یې خپل کړي دی او په خپلو منځو کښې یې دین ټوټه‌ټوټه او تیت پرک کړی دی، چا یوه لاره غوره کړې ده، او څوک په بله لاره باندې روان دی.

نو د قیامت د ورځې قیام ضرر راتلونکی دی ترڅو ټول خلک مونږ ته راجع شي او هر چاته موافقه جزا یا سزا ورکړو.

## توضیحات

١ـ په ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةً ﴾ کښې د ﴿ هَٰذِهِۦ ﴾ کلمه هغه ملت او دین ته اشاره ده کوم چې د وړاندېنیو ایتونو په مضامینو کښې معنیٰ ذکر دي[1]، دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:٣٨] او [هود:٨] ایتونو لاندې د ﴿ أُمَّةً ﴾ کلمه ښه پوره شرحه کړې ده او هلته مو لیکلي دي چې د همدغې کلمې د معناوو څخه یوه معنیٰ دین او ملت دی چې دلته همدغه مراده ده.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: ای خلکو! یقیناً دغه د توحید عقیده او دغه د توحید ملت کوم چې ټولو پیغمبرانو ورته دعوت چلولی دی همدغه ستاسو مقبوله عقیده او مقبول دین دی، نو اختلاف مه کوئ او د توحید عقیدې ته په اتفاق سره راجع شئ.

٢ـ لله ﷻ الحمد والمنة ـ په دې تفسیر کښې د اتفاق او اختلاف په هکله د [البقرة:٢١٣] ایت لاندې ډېر ښه خوندور بحث تېر شوی دی، هیله ده چې محترم لوستونکي هلته یو ځل مراجعه وکړي.

٣ـ ذکر شوي ایتونه نبي کریم ﷺ په یوه حدیث شریف کښې ډېر ښه تفسیر کړي دي او فرمایلي یې دي چې: «وَالْأَنْبِيَاءُ أَوْلَادُ عَلَّاتٍ»[2] یعنې ټول پیغمبران د دین په اعتبار سره داسې دي لکه د بنو زامن چې میرګانې یې جدا‌جدا وي او پلار یې یو وي، نو د ټولو پیغمبرانو دین د عقیدې په اعتبار سره یکي یو دی او د فرعي او عملي احکامو په لحاظ سره جدا‌جدا دی.

---

(١) روح المعاني ج١٧ ص٨٩
(٢) صحیح البخاري ج١ ص٤٨٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ
كَٰتِبُونَ ﴿٩٤﴾ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَآ أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا
فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَٱقْتَرَبَ ٱلْوَعْدُ ٱلْحَقُّ
فَإِذَا هِىَ شَٰخِصَةٌ أَبْصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا
ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ أَنتُمْ لَهَا
وَٰرِدُونَ ﴿٩٨﴾ لَوْ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةً مَّا وَرَدُوهَا وَكُلٌّ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٩٩﴾ لَهُمْ فِيهَا
زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا ٱلْحُسْنَىٰٓ أُو۟لَٰٓئِكَ عَنْهَا
مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا وَهُمْ فِى مَا ٱشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَٰلِدُونَ ﴿١٠٢﴾ لَا
يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ ٱلَّذِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ
﴿١٠٣﴾ يَوْمَ نَطْوِى ٱلسَّمَآءَ كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ
وَعْدًا عَلَيْنَآ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ ﴾

[٩۴] نو هرڅوک چې د نېکو عملونو د جملې څخه په داسې حال کښې (نېک عملونه) وکړي چې ایمان درلودونکی وي نو د ده کوښښ (نیکو عملونو) ته هیڅ ناشکري نشته (چې بې اجره پرېښودلی شي) او یقینًا مونږ د ده کوښښ ته لیکونکي یاستو.

[٩۵] او په داسې ښار باندې چې مونږ (د جنایاتو د کبله) هلاک کړي وي دا خبره محاله (او نه کېدونکې) ده چې یقینًا دوی (به مونږ ته) راونه ګرځي (او په دنیاوي سزا به یې اکتفاء وکړی شي).

[٩۶] آن تردې چې کله زوزي مازوزي په داسې حال کښې راپرانستلی (راخوشې) کړی شي چې د هرې لورې (غرونو او غونډیو) څخه په څغاسته راښکته کېږي.

[٩٧] او چې کله حقه وعده (د قیامت ورځ) رانژدې (بلکې متحققه) شي نو ناڅاپه به داسې قیصه شي چې (د ټولو) هغو کسانو سترګې به (د ډېره هیبته) بېرته پاتې شي کومو چې کفر غوره کړی وي (که څه هم په دنیا کښې پرې معذب شوي وي، په دغې وخت کښې به ټول کفار وایي چې:) ای زمونږ افسوسه! (او حسرته راشه چې همدا دې وخت دی) یقینًا مونږ د دغې ورځې څخه په غفلت کښې (پراته) وو، بلکې مونږ ظلم کوونکي وو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


[۹۸] (ای کفارو!) یقینًا تاسو او هغه شیان کومو ته چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ د دوزخ خاشاک یاست، یقینًا تاسو دوزخ ته ورداخلېدونکي یاست.
[۹۹] (ای کفارو!) که چرته دغه (ستاسو باطل معبودان) حقیقي معبودان وی نو دوزخ ته به نه وی داخل شوي (اقلاً خپل ځانونه خو به یې ترې بچ کړي وی). او (تاسو) ټول به په دوزخ کښې همېشه یاست.
[۱۰۰] (ای پیغمبره!) کفارو ته به په دوزخ کښې فریاد (او زېږگي) وي او دوی به په دوزخ کښې (د خپلو زېږگیو او فریادونو د کبله) اورېدل نه شي کولی.
[۱۰۱] (بالمقابل) یقینًا هغه کسان کومو ته چې زمونږ د پلوه نېکه درجه لا پخوا ټاکلې شوې ده هغه کسان د دوزخ څخه لرې کړی شوي دي (او جنت ته به بوتللی شي).
[۱۰۲] دوی به هلته (په جنت کښې) د دوزخ (د اور) ښکالو (اواز) هم نه اوري، او دوی به په هغه شي کښې کوم چې د دوی زړونه یې غواړي همېشه اوسېدونکي وي.
[۱۰۳] دوی لره به لوی ډار هم غمژن نه کړي او پرښتې به ورسره ملاقات کوي (چې ډاډه اوسئ تاسو ته څه خطر نشته)، دا ستاسو هغه ورځ ده کومه چې تاسو وئ چې وعده یې درسره کړی شوې وه.
[۱۰۴] (دوی به) په هغې ورځ کښې (غمژن نه شي) کله چې مونږ اسمان داسې راونغاړو لکه چې د لیکلو شوو شیانو (د حفاظت) دپاره لیکلی شوی کاغذ راونغاړل شي. (بیا به مونږ پیدا کول بېرته داسې شروع کړو) لکه چې اول پیدا کول مو شروع کړي وه (دا) وعده په مونږ باندې (لازمه) ده. یقینًا مونږ (د دغه کار) کوونکي یاستو.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه په دې تمام شوي وه چې ټول خلک به الله ﷻ ته راجع کېږي او د قیامت ورځ به ضرور قائمېږي. په دې ایتونو کښې په همدغې ورځې پورې مربوط څه حالات بیان شوي دي او په څه کیفیاتو باندې یې ښه رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د قیامت د ورځې په ارتباط څه معلومات قرائت کړه چې عبرت ترې واخلي هغه دا چې:

۱ـ نو هر چا چې کوښښ کړی وي او نېک عملونه یې په داسې حال کښې ترسره کړي وي چې د ایمان خاوند وي او د کفر څخه یې خپل ځان ساتلی وي نو:

الف: د دغو خلکو د کوښښونو به زیاته قدرداني وکړی شي او دوی ته په دغې ورځې کښې هیڅ ناشکري نشته چې ایمان یا صالح عمل یې ضائع شي او اجر ورنه کړی شي.

ب: د دوی د کړو وړو به ولې قدرداني او شکریه نه کېږي چې مونږ یې په دنیا کښې په ډېره دقیقه توگه لیکونکي یاستو، که بالفرض مونږ یې شکریه نه کولی نو دومره اهتمام به مو ورته نه وی کړی.

۲ـ هو! په دنیا کښې هم د نېکو اعمالو او د بدو اعمالو څه ناڅه جزا یا سزا بندگانو ته ورکوله

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي مګر تکمیل به یې د قیامت په ورځ باندې صوررت نیسي، نو د همدې کبله په هغو خلکو باندې (کوم چې مونږ په دنیا کښې د جنایاتو په سبب پوپنا کړي دي) دا خبره حرامه ده چې دوی به مونږ ته راجع نه شي او په دنیاوي جزا باندې به یې اکتفاء وکړی شي، بلکې ضرور به ټول زمونږ حضور ته راجع کېږي او د خپل عمل (نېک وي او که بد وي) پوره جزا یا سزا به ګوري.

۳_ هو! د قیامت د ورځې د قیامه پورې به هلاک کړی شوي قومونه او مخلوقات د خاورو څخه نه راپورته کېږي او همدغسې به په ځمکه کښې منحل پراته وي لکه چې دي.

اما د قیامت د ورځې د قیام په وخت باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس، مګر د شروع څخه وړاندې به څه علامات ولري چې:

الف: د علاماتو د جملې څخه یې یوه علامه دا ده چې زوزي مازوزي به راخوشې کړی شي او هغه بند به د منځه لاړ شي کوم چې دوی یې ایسار کړي دي.

ب: کله چې زوزي مازوزي په ځمکه باندې راخواره شي نو ټوله ځمکه به دوی اشغاله کړي او د هرې لوړې څخه به د مولخانو غوندې راتوییږي نو په دغه وخت کښې به ټوله ځمکه (الا ما شاء الله) د انسانانو د ګوزارې او سکونت څخه ووځي.

۴_ ای پیغمبره! د قیامت حقه او رښتینې وعده ډېر نژدې ده او ته وروستنی پیغمبر یې چې ځمکې ته استولی شوی یې، ستا څخه وروسته بل پیغمبر نه رالېږل کېږي.

لنډه دا چې کله د علاماتو څخه وروسته قیامت قائم شي او خلک د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شي نو کفار به د لاندې حالاتو سره مخامخ شي:

الف: د کفارو سترګې به د ډېر هیبت د امله غړېدلې او خلاصې وي چې هیڅ رپ به نه ورکوي.

ب: د همدغه هیبت او دهشت په وخت کښې به دوی وایي چې: ای زمونږ افسوسه! راشه چې همدا دې وخت دی، یقیناً چې مونږ په دنیا کښې د دغې ورځې د راتګ څخه په لوی غفلت کښې پراته وو.

ج: هسې نه چې مونږ په دغې ورځې باندې نه وو خبر کړی شوي بلکې مونږ پخپله په خپلو ځانونو باندې ظالمان وو چې په خبر باندې مو غوږونه کاڼه کړي وه او خپل ځانونه مو پرې ګول اچولي وه.

۵_ نو ای پیغمبره! د خپلې زمانې کفار مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای کفارو! د قیامت په ورځ به تاسو او ستاسو باطل معبودان (بوتان) ټول د دوزخ خاشاک یاست، تاسو ټول دوزخ ته ورداخلېدونکي یاست.

ب: دا د دې دپاره چې تاسو په خپله غلطۍ باندې ښه پوه شئ او چې زمونږ ویناوې درته ښې جوتې شي چې تاسو ته مونږ رښتیا ویلي وه او دا خکه چې:

که بالفرض ستاسو دغه معبودان کوم چې تاسو د خپله ځانه جوړ کړي دي رښتیاني معبودان وی او د معبودیت لیاقت یې درلودی، نو اقلاً خپل ځانونه خو به یې د دوزخ څخه بچ کړي وی، او ستاسو غوندې به په دوزخ کښې نه وی اچولی شوي.

۶_ ای پیغمبره! ټول کفار او د دوی باطل معبودان به د همېشه دپاره په دوزخ کښې پراته وي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی به هلته د ډېر مشقت د کبله د لاندې کیفیت سره مخ شي:

الف: دوی به هلته په زبېرګیو او په کوکارو باندې اخته وي.

ب: په دوی باندې به هلته داسې حال ورشي چې د خپلو چیغو او ژړا د کبله به بل هیڅ اواز نه اوربدلی او یا به په غوږونو باندې کاڼه کړی شي.

۷ـ بالمقابل د هغو کسانو به د قیامت په ورځ ډېر ښه حالت وي کومو ته چې زمونږ د پلوه لوړې درجې تاکلې شوې دي هغه دا چې:

الف: دغه ډله کسان به د دوزخ څخه لرې کړی شوي وي او جنت ته به داخل کړی شي.

ب: دوی به د دوزخ څخه په دومره لرې مسافه کښې موقعیت لري حتی چې د دوزخ د لمبو اواز او غرهار به هم نه اوري چې فکرونه یې لږ څه ګډوډ کړي.

ج: دوی به په جنتونو کښې بلکې په هغو خوندورو او مزناکو نعمتونو کښې همېشه اوسېدونکې وي کوم چې د دوی زړونه یې غواړي او اشتهاء یې ورته کېږي.

د: دوی به په لوی ډار باندې غمژن نه شي او هیڅ اثر به وربانديې ونه کړي او دا ځکه چې دوی ته به پرښتې ورمخې ته کېږي او داډه به ورکوي چې مه خپه کېږئ او مه غمژن کېږئ بلکې تاسو په هغه شي باندې زېری قبول کړئ د کوم وعده چې تاسو ته د پیغمبرانو په ذریعه درکړی شوې وه.

۸ـ ای پیغمبره! جنتیان به په لوی ډار باندې په هغې ورځ کښې غمژن نه شي په کومه کښې به چې:

الف: مونږ دا لوړ او قوي اسمان داسې راتاو کړو لکه چې یوه پاڼه د لیکلي شوي مضمون د ساتلو دپاره راتاوه او راونغاړله شي.

ب: په دغې ورځ کښې به مونږ یو ځل بیا خپل پیدا کول د نشت څخه پیل کړو او خاورې کړی شوي ساکښان به بېرته راژوندي کړو، نو لکه څنګه چې مونږ ته لومړی ځل پیدا کولو څه اشکال نه درلود همدارنګه به د پیدا کولو بېرته را اعاده کول هم مونږ ته څه اشکال ونه لري.

ج: د دغه بیا راژوندي کولو وعده بل څوک نه کوي بلکې زه یې وعده کوم داسې وعده چې په خپل اقدس ذات باندې مو د هغې التزام کړی دی.

د: نو په همدې بنیاد مونږ هرومرو یقیناً د دغه کار کوونکي یاستو چې ضرور به یې ترسره کړو.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو د دې ایت ﴿ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴾ په تفسیر کښې متعدد احتمالات لیکلي دي[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو کوم تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښېدلی هغه په لاندې ټکو باندې ولاړ دی:

الف: د ﴿ وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرۡيَةٍ أَهۡلَكۡنَٰهَآ ﴾ کلمات خبر مقدم دي او د ﴿ أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ ﴾ کلمات مبتدأ مؤخره دي، چې جمله اسمیه خبریه ترې جوړېږي.

---

[۱] التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۲۲۰؛ زاد المسیر ج۵ ص۲۶۸؛ تفسیر القاسمي ج۱۱ ص۲۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: لکه څنګه چې د الله ﷻ په توفیق د [المائدة:٢۶] ایت لاندې مو لیکلي دي چې د یوه شي حرامېدل درې معناوې لري چې د تشریعي تحریم، تسخیري تحریم او تکویني تحریم څخه عبارت دي، نو په دې مقام کښې همدغه وروستنی ډول تحریم مطلب دی، چې مونږ ترې په دې مقام کښې په محال یا ممتنع سره تعبیر کوو.

ج: د ﴿لَا يَرۡجِعُونَ﴾ د جملې سره د "إلَيۡنَا" کلمات مقدر دي.

د: په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ﴾ الآية، کښې د ﴿حَتَّىٰٓ﴾ کلمه د ذکرې شوې اسمیه خبریه جملې په مضمون پورې تعلق نیسي او د همدې دپاره غایه ده.

ه: او د ﴿إِذَا﴾ کلمه د شرط دپاره ده چې د خپل مدخول او متعلقاتو په معیت سره شرطیه جمله جوړېږي.

و: بالآخره په راتلونکي ایت شریف کښې د ﴿فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ جمله به د همدغې شرطیې جملې دپاره جزائیه جمله واقع شي. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

کوم قومونه چې مونږ د جنایاتو او کفریاتو د کبله هلاک کړي دي په هغوی باندې دا محاله او نه کېدونکې ده چې مونږ ته د خپلو کړو وړو د سزا ګاللو دپاره راجع نه شي.

یا په بل عبارت: که څه هم ذکرو شوو کافرانو په دنیا کښې د خپلو کفریاتو څه مزه څکلې وي چې په پوره کوونکي عذاب باندې هلاک کړی شوي وي. مګر هغوی ته لا د عذاب ټاکله شوې ونډه نه ده رسېدلې نو ضرور به دوی هم د نورو په شان د قیامت په ورځ مونږ ته راجع شي او هلته به په دوزخ کښې په دائمي توګه معذب کړی شي، آن تر دې چې کله د قیامت د نژدېوالي څه علامات (لکه زوزي مازوزي) څرګند شي او په تعقیب باندې یې قیامت قائم شي نو ذکر شوي هلاک شوي کفار به د هغو کفارو په ډله کښې شامل شي د چا چې سترګې د ډېره هیبته او د ډېرې وارخطایی د کبله غړېدلې پاتې وي او بالکل رپ نه ورکوي.

## یادونه

۲_ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف:۹۴] ایت لاندې مونږ په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ يَأۡجُوجُ وَمَأۡجُوجُ﴾ کښې د یاجوج او ماجوج دواړه کلمې ښې پوره تشریح کړې دي، نو نه یې بیا تکرارولو ته اراده لرو او نه ورباندې نور څه اضافه کوو، هیله ده چې محترم لوستونکي هلمته مراجعه وکړي.

## حَدَب او نَسل څه معنی؟

۳_ په ﴿وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٖ يَنسِلُونَ﴾ کښې د ﴿حَدَبٖ﴾ کلمه اصلاً د ملا د کړوپوالي دپاره وضعه شوې ده خو د ځمکې په لوړو برخو کښې هم استعمالېږي[1] لکه غرونه او غونډۍ.

او د ﴿يَنسِلُونَ﴾ کلمه د "نَسْلٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده او د دې دپاره وضعه

(١) لسان العرب ج١ ص٣٠٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اپاسین لخوا سکین شو



شي ده چې يو شی د بل شي څخه جدا شي د همدې کبله زوزات ته "نسل" وايي چې د يوه پلار څخه جدا شوي او ډېر شوي دي، مګر د څفاستې او مندو په معنی کښې هم استعمالېږي[1] چې په دې مقام کښې په همدغې معنی باندې استعماله شوې ده، يعنې کله چې زوزي مازوزي د ذو القرنين د جوړ کړي شوي بند څخه راخوشې شي نو ټوله ځمکه به په همدوی باندې ډکه شي ـ إلا ما شاء الله ـ نو هواري ځمکې خو لا څه چې په غرونو او غونډيو باندې به هم ورخواره شي او د هرې لوړې څخه به ډېر په اسانی باندې د مولخانو په ډول په جلتی سره رابښکته کېږي او د هيڅا سره به يې د مقابلې توان نه وي.

## يو نحوي تحليل

۴ـ په ﴿ فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ کښې د ﴿ هِيَ ﴾ ضمير مبهم ضمير دی، کله چې مونث وي لکه چې دلته مونث دی نو د ضمير "القصه" په نامه يادېږي او چې په کوم ځای کښې مذکر (هُوَ) وي نو هلته د ضمير "الشان" لقب ورکول کېږي.

او د ﴿ أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ کلمات موخره مبتدأ ده، او ﴿ شَٰخِصَةٌ ﴾ کلمه يې مقدم خبر دی نو دغه اسميه جمله د ذکر شوي مبهم ضمير دپاره تفسير دی[2] چې مجموعه د وړاندېني ايت په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ ﴾ کښې د ﴿ إِذَا ﴾ دپاره جزائيه جمله ده لکه چې په اوله توضيح کښې ورته اشاره شوې ده، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

حتی چې د قيامت علامات ظهور وکړي او ښه رانژدې شي او بيا قائم شي نو په دغه وخت کښې به قيصه داسې جوړه شي چې د هغو کسانو سترګې به بېرته پاتې شي او تېغې به وخېژي کومو چې کفر غوره کړی وه، برابره خبره ده چې په دنيا کښې په ببخ ويستونکي عذاب باندې هلاک شوي وي او که نه.

## حَصَبُ څه معنی؟

۵ـ په ﴿ إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ کښې د ﴿ حَصَبُ ﴾ کلمه د کوچنيو ډبرو او کوچنيو دانو دپاره وضعه شوې ده چې د انسان په پوستکي باندې څرګندېږي، خو په دې مقام کښې ترې هغه خاشاک مطلب دي کوم چې اور ته وراچولی کېږي تر څو پرې اور ښه تازه او قوي شي[3]. يا په بل عبارت دلته د ﴿ حَصَبُ ﴾ کلمه د "حَطَب" په معنی سره ده چې د خاشاکو معنی ورکوي، همدې معنی ته د يوه تفسير په اعتبار سره په ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ ﴾ [البقرة: ۲۴] کښې اشاره شوې ده، يعنې د هغه اور څخه ځانونه وساتئ چې د هغه د سوند مواد هغه خلک دي کومو چې کفر اختيار کړی دی او هغه ډبرې دي کومې چې معبوداني ګرځولې شوې دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۱۲
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۹۳
(۳) لسان العرب ج۱ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۶_ د ﴿ أَنتُمۡ لَهَا وَٰرِدُونَ ﴾ ښه پوره تفسیر د [مریم: ۷۱] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، فقط همدومره ورباندې وراضافه کوو چې په دې مقام کښې په ﴿ أَنتُمۡ ﴾ سره کفار او د دوی باطل معبودان د تغلیب په توګه مخاطب کړی شوي دي، چې تاسو ټول دوزخ ته ورداخلېدونکي یاست.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د کفارو باطل معبودان (بوتان) به هم د دوی سره یو ځای دوزخ ته ورداخل کړی شي؟

مونږ وایو چې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي خو د بوتانو په اور کښې اچول به د لاندې مطالبو دپاره صورت نیسي:

الف: ترڅو د کفارو حسرت ښه اضافه شي چې په دغو باندې مونږ بې لارې شوي وه.

ب: ترڅو کفارو ته د خپلو معبودانو ناتواني ښه څرګنده شي لکه چې همدې مطلب ته د ﴿ لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ ءَالِهَةٗ ﴾ الآية، اشاره کوي.

## د زَفِیر معنی

۸_ په ﴿ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ ﴾ کښې د ﴿ زَفِيرٞ ﴾ کلمه د [هود: ۱۰۶] ایت لاندې تشریح شوې ده چې د خره اواز ته ویله کېږي چې په ډېر تېز اواز سره په هنګاري باندې پیل کوي او د هنګاري په اوږدو کښې یې لږ-لږ تیټوي آن چې ختم یې کړي، یعنې کفارو لره به په دوزخ کښې د خرو د هنګاري غوندې زېږګی او فریاد وي، العیاذ بالله ﷻ.

## په دوزخ کښې کفار اوربدل نه شي کولی

۹_ یوه ورځې عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دا ایت شریف ﴿ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ ﴾ قرائت کړ او په تفسیر کښې یې وفرمایل چې: «إذا بَقِيَ مَنْ يَخلُدُ فِي النَّارِ جُعِلُوْا فِيْ تَوَابِيْتَ مِنْ نَارٍ فِيْهَا مَسَامِيْرُ مِنْ نَارٍ فَلا يَرى أحَدٌ مِنْهُمْ أنَّهُ يُعَذَّبُ فِيْ النَّارِ غَيْرُهُ»[۱] یعنې کله چې د دوزخ څخه ګنهګاران راوویستلی شي او سوچه کفار پکښې پاتې شي چې په اور کښې به همېشه وي، نو دوی به د اور په صندوقونو کښې واچولی شي او د اور میخونه به ورباندې ټکوهلی شي، نو په دغه وخت کښې به هر یو کافر فقط خپل فریاد اوري او خیال به کوي چې د ده څخه په غیر بل هیڅوک په دوزخ کښې نه معذبېږي.

شاید چې دا عملیه به ورباندې د دې دپاره ترسره کړی شي چې د نورو کافرانو (دوزخیانو) په

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۹۷؛ تفسیر الطبري ج۱۷ ص۹۵؛ المعجم الکبیر للطبراني ج۹ ص۲۲۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لېدلو او د هغوی د فریاد په اورېدلو سره پرې عذاب تخفیف نه کړی شي، لکه چې وايي: "ٱلْبَلَايَا إِذَا عَمَّتْ خَفَّتْ" یعنې مشقتونه چې کله عام شي نو تخفیف کېږي.

## د مفهوم عموم ته اعتبار دی

۱۰_ د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما (رئیس المفسرین) څخه روایت دی چې یوه ورځې ابن الزبعری د نبي کریم ﷺ سره په لاندې ډول سره سوال جواب وکړ:

ابن الزبعری: ای محمده! ایا دغه حکم چې: ﴿ إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ﴾ یوازې زمونږ په معبودانو پورې اختصاص لري چې دوی به هم (ستا په خیال) زمونږ سره یو ځای په دوزخ کښې سوزي او که نه دا حکم عام دی هرڅوک چې د الله ﷻ څخه په غیر معبود وګرځولی شي هغوی ټول به د خپلو عابدینو سره دوزخ ته داخلېږي؟

نبي کریم ﷺ: دا حکم عام دی.

ابن الزبعری: ته خو یقین لرې چې پرښتې د الله ﷻ صالحین بندګان دي او همدارنګه عیسی علیه‌السلام او عُزیر علیه‌السلام هم د مخلصو بندګانو څخه دي، حال دا چې د بنو مُلیح قبیله د پرښتو عبادت کوي او نصارا عیسی علیه‌السلام ته په سجده دي او بالآخره یهودانو عُزیر علیه‌السلام بدون د الله ﷻ څخه معبود ګرځولی دی، نو پوښتنه دا ده چې: دوی ټول به (ستا په خیال) دوزخ ته داخلېږي؟

«فَأَنْزَلَ اللهُ ﷻ ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ الآيَةَ»[1] نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ چې یقینًا هغه کسان کومو ته چې زمونږ د پلوه لوړه درجه (لوی فضیلت) په ازل کښې لیکلې شوې دی دوی به د دوزخ څخه ډېر لرې ساتلی شوي وي که څه هم بدون د دوی د رضایت څخه معبودان ګرځولی شوي وي، لکه پرښتې او عیسی علیه‌السلام او عُزیر علیه‌السلام او داسې نور.

نو په ذکر شوي لحاظ سره که څه هم ایت شریف د څو خاصو کسانو په هکله نازل شوی دی مګر څرنګه چې په نصوصو کښې د مورد خصوص اعتبار نه لري، او ټول اعتبار د مفهوم عموم ته ورکولی کېږي نو په ذکر شوي ایت شریف کښې ټول مؤمنان شمولیت لري چې مفهوم یې ورته شامل دی[2].

## فَزَع څه معنی؟

۱۱_ په ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ کښې د "فَزَع" کلمه د ډار او خوف دپاره وضعه شوې ده[3] مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو همدغه د ﴿ ٱلْفَزَعُ ﴾ کلمه ـچې په ﴿ ٱلْأَكْبَرُ ﴾ سره موصوفه شوې ده_ په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[4] لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۰۶
(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۶۸
(۳) لسان العرب ج۸ ص۲۵۱
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۱۹۹؛ زاد المسیر ج۵ ص۲۷۲؛ المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شخه عبارت ده کله چې پکښې پوکی وکړی شي او
الف: ذکره شوې کلمه د وروستنۍ شپېلۍ
مړي د قبرونو څخه راپورته شي.
ب: د نوموړې کلمې څخه هغه حالت مراد دی کله چې د جنت او د دوزخ ترمنځ مرګ د یوه پسه
په شکل راوستلی شي او ذبحه کړی شي.
ج: کله چې امر وکړی شي چې: دوزخیان دوزخ ته تېل وهئ! او داسې نور.
مونږ ته دا بهتره برېښي چې ﴿ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ﴾ د قیامت د ورځې څخه عبارت شي یعنې مؤمنان
به د قیامت په ورځ د ډار څخه وساتلی شي او د کوم طرف څخه به ورته ډار متوجه نه وي چې موقع
په موقع به پرښتې ډاډینه او اطمنان ورکوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې ایتونه قرائت کړئ:
اول: ﴿وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ﴾ [النمل:۸۹] او دوی (د نیکیو خاوندان) به په دغې ورځ
کښې د امن څښتنان وي او کوم خطر به ورته متوجه نه وي.
دوهم: ﴿تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا۟ وَلَا تَحْزَنُوا۟ وَأَبْشِرُوا۟ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴾
[فصلت: ۳۰] یعنې په هغو کسانو باندې به پرښتې ورښکته کېږي چا چې ایمان راوړی وي او بیا
ورباندې کلک ولاړ وي او ورته به وایې چې تاسو مه ډارېږئ او مه غمژن کېږئ (ستاسو مخه رڼا ده)
او هم تاسو په هغه جنت باندې زېری قبول کړئ کوم چې تاسو یاست چې وعده یې درکړه شوې وه.
پاتې شوه دا خبره چې په دوی باندې د خپل ضعف او کمزورۍ د کبله څه ډار عارض شي نو هغه
د دغه ایت شریف سره منافي نه دی.

## یو تفسیري تحلیل

۱۲ـ په ﴿يَوْمَ نَطْوِى ٱلسَّمَآءَ كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ﴾ کښې
مفسرینو کرامو د تفسیر په غرض متعدد تحلیلونه کړي دي خو کوم تحلیل چې مونږ ته بهتر
برېښي هغه په لاندې ټکو ولاړ دی:
الف: د ﴿يَوْمَ﴾ کلمه په ﴿ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ﴾ پورې تعلق نیسي[۱].
ب: د "طَيِّ" کلمه مصدر دی چې خپل مفعول ته مضافه ده او د نغاړلو معنی ورکوي[۲].
ج: د ﴿ٱلسِّجِلِّ﴾ کلمه د صحیفې او کاغذ څخه عبارت ده[۳].
د: په ﴿لِلْكُتُبِ﴾ کښې د "ل" توری د تعلیل دپاره دی او په "طَيِّ" پورې متعلق دی[۴].
هـ: د "كُتُب" کلمه د کتاب جمعه ده چې د مکتوب په معنی سره ده[۵].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۹۹
(۲) اضواء البیان ج۴ ص۷۵۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۰۰
(۴) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۸۸
(۵) تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۳۷؛ مفردات الراغب ص۴۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ذکرو شوو ټکو په لحاظ کښې نیولو سره ترې داسې مطلب لاس ته راځیږي چې:
ای پیغمبره! په هغې ورځ کښې به مؤمنان لوی ډار خپه نه کړي په کومه کښې چې مونږ اسمان راونغاړو لکه چې یو کاغذ د هغو معلوماتو د ساتنې د کبله راونغاړل شي کوم چې په هغه کښې لیکل شوي وي، ته به وایې چې دوسیه تکمیله او حفظ شوه.
خو په عین حال کښې به مونږ د اجراءاتو دپاره بل کاغذ خوړ کړو او بله دوسیه به ورته واچوو، لکه څنګه چې مونږ اول پیدایښت شروع کړی وه، همدارنګه به دغه پیدایښت بیا اعاده کړو او خلک به په داسې حال باندې راژوندي کړو لکه څنګه مو چې دوی په اول پیدایښت کښې د مورګانو په ګېډو کښې پیدا کړي وه، چې ټول لوڅ برېنډ او ناسنته (بنوېګان) وه.
همدغه مضمون ته نبي کریم ﷺ یوه ورځ په خپله خطابه کښې اشاره وکړه چې: «یَا أَیُّهَا النَّاسُ إِنَّکُمْ مَحْشُورُونَ إِلَی اللهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ثُمَّ قَالَ ﴿کَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِیدُهُ﴾ الآیة»[۱] یعني ای خلکو! یقینًا ناسو الله ﷻ ته د قیامت په ورځ په داسې حال حشر کړی شوي یاست چې پښې لوڅې او برېنډ او ناسنته به یاست، بیا نبي کریم ﷺ وړاندېنۍ ایت شریف د استشهاد په توګه قرائت کړه.

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾
إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغًا لِّقَوْمٍ عَٰبِدِينَ ﴿١٠٦﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾
قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟
فَقُلْ ءَاذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَآءٍ ۖ وَإِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ أَم بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١٠٩﴾ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ
ٱلْجَهْرَ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِى لَعَلَّهُۥ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ
حِينٍ ﴿١١١﴾ قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾﴾

[۱۰۵] او یقینًا مونږ (د داوُد ؑ) په زبور کښې د پند (او نصیحت) څخه وروسته لیکلي وه چې: بې شکه ځمکه (چې ده) دا به زما صالحان بندګان په وراثت سره یوسي.
[۱۰۶] یقینًا په دې (قرآن کریم) کښې د عبادت کوونکي قوم دپاره کفایت دی (چې مطلب ته پرې ورسېږي او د الله ﷻ رضایت پرې حاصل کړي).
[۱۰۷] او (ای پیغمبره!) مونږ ته (دنیا ته) په هیڅ حال کښې نه یې استولی مګر په داسې حال کښې چې د (ټولو) عالمونو دپاره (د) رحمت (سبب) یې.
[۱۰۸] (نو) ته ووایه چې: یقینًا ماته دا خبره وحې کېږي چې بې شکه ستاسو (واقعي) معبود

---
[۱] صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۵؛ جامع الترمذي ج۲ ص۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


غاړې ایښودونکي یاست (چې د لوی رحمت څخه
یکي یو معبود دی، نو ایا تاسو (همدې خبرې ته)
استفاده وکړئ)؟ مخونه واړول نو (بیا ورته) ووایه چې: ما
[۱۰۹] نو که دوی (خلکو ستا د دعوت د قبول څخه) پوه کړئ (کوم چې ماته وحې کړی شوی دی)
(خو) تاسو د برابرتیا په حال کښې (په هغه شي باندې) وعده کړی شوې ده نژدې دی او که لرې
او زه درایت (پوهه) نه لرم چې هغه شی چې تاسو سره یې عذاب درنازل شي او که څه وخت وروسته؟).
دی؟ (په تاسو باندې به په نژدې وخت کښې یقینًا همدی ﷻ د خبرې
[۱۱۰] (په دغسې کارونو باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس چې:) (په مجالسو یا
څخه په څرګنده باندې هم پوهېږي او په هغو خبرو باندې هم پوهېږي کومې چې تاسو
په زړونو کښې) پټوئ.
[۱۱۱] او زه (د عذاب د تاخیر په وجه هم) نه پوهېږم، شاید چې دا به ستاسو دپاره امتحان وي
او (هم به تاسو ته) تر (ټاکلي) وخته پورې فائده دررسول وي (ترڅو وخت پوره شي).
[۱۱۲] (د الله ﷻ پیغمبر) وویلې چې: ای زما ربه! (زما او زما د قوم په هکله) په حقه فیصله
وکړه (لکه چې همدغه ستا شان دی)، او (هیله ده چې فیصله به وکړي ځکه چې) زمونږ رب ﷻ ډېر
مهربان دی (او) په هغه شي باندې ترې کومک غوښتی شوی دی کوم چې تاسو یې (ای کفارو!)
بیانوئ (چې د عذاب د تاخیر څخه په تکذیب تعبیر کوئ).

## ارتباط

د وړاندېنیو نژدې ایتونو مضمون دا وه چې دا دنیا به یو وخت ورانېږي او په تعقیب باندې به
یې بله دنیا شروع کېږي چې هغه به نه ورانېږي.
په دې ایتونو کښې هغه څوک تشخیص کړی شوي دي چې د همدغې ورانېدونکې دنیا څخه
د ورانیدلو څخه وړاندې اعظمي ګټه پورته کړي او د بلې دنیا دپاره ترې د خپل ځان دپاره
ځوری تهیه کړي.
بالمقابل هغو خلکو ته هم پکښې اشاره شوې ده کوم چې د همدغې فاني دنیا څخه په ډېره لنډه
تنګه استفاده باندې اکتفاء کوي او بله باقي دنیا یې هېره کړې ده نو حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو د فاني دنیا او د باقي دنیا په هکله په خپل امت باندې لاندې نکات قرائت کړه:
۱ـ مونږ د داوُد ﷺ په کتاب (زبور) کښې د پند او نصیحت څخه وروسته لیکلي وه چې د دې
دنیا څخه استفاده کول او یا پرې حکومت چلول د دې دنیا وراثت نه دی او غټه فائده ترې پورته
کول نه دي بلکې اصلي وراثت یې دا دی چې د بلې دنیا دپاره پکښې ځوري برابر کړی شي.
نو په همدې بنیاد د دې ځمکې وارثان او لویه استفاده کوونکي زما صالح بندګان دي برابره
خبره ده چې په دې ځمکه باندې حکومت چلوي او که د عادي افرادو په حیث ورباندې ژوند کوي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه د جنت د ځمکې وارثان هم بل څوک نه دي، بلکې همدوی دي، او د دغې فاني دنیا خلافت او حکومت هم په عاقبت کښې همدوی ته راجع کېدونکی دی او بس.

۲_ یقیناً په دغه مضمون کښې او یا په قرآن کریم کښې چې په همدغه مضمون باندې هم مشتمل دي، د عبادت کوونکي قوم دپاره دومره اسرار پټ دي چې د همدوی د ترغیب دپاره ورته کفایت کوي او مطلب ته پرې رسېدلی شي.

۳_ ای پیغمبره! مونږ خو ته د ټولو عالمونو دپاره د لوی رحمت په حیث استولی یې خو دا بېله خبره ده چې کفار درته د جادوګر او دروغژن په نظر ګوري او د هغه رحمت څخه اعظمي استفاده نه پورته کوي د کوم د امله چې ته دنیا ته را استولي شوي یې.

۴_ اوس نو یو ځل بیا ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: زه په تاسو باندې کوم دروند بار نه باروم چې تاسو ترې لاندې نه شئ پورته کېدلی او د تعمیل توان یې نه لرئ، زه تاسو ته فقط همدا وایم چې: یقیناً ستاسو واقعي معبود فقط یو معبود دی، چې هیڅ شریک نه لري.

ب: نو ایا تاسو همدغې خبرې ته غاړه ایښودونکي یاست؟ ایا تاسو زما دغه خبره قبلوئ؟ ترڅو تاسو هم د صالحانو په ډله کښې وشمېرل شئ او د ځمکې وارثان جوړ شئ.

۵_ نو ای پیغمبره! که خلکو ستا د ذکر شوي نصیحت څخه مخونه تاو کړه او غاړه یې ورته کېنښوده، نو بیا ورته ووایه چې:

الف: ما خو هغه خبره په کومه باندې چې تاسو د ځمکې وارثان جوړېږئ په ډاګه اعلانه کړه چې ټول خلک مې وریاندې په یو برابر سره خبر کړه، نو چې تاسو پرې عمل ونه کړ او قبوله مو نه کړه دا ستاسو خپل نقصان دی او فقط ستاسو په تاوان باندې تمامېږي، چې ضرور به ورسره مخامخ شئ.

ب: پاتې شوه دا خبره چې د عدم قبول په صورت کښې به تاسو د موعود عذاب سره څه وخت مخامخ کېږئ؟ نو په دې باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس. زه نه پوهېږم چې دغه وخت به لرې وي او که به نژدې وي؟، همدارنګه په دې باندې هم نه پوهېږم چې د قیامت د ورځې قیام به څه وخت شروع کېږي؟، چې ستاسو په خپله غلطۍ باندې سرونه خلاص شي. او دا ځکه چې:

ج: یقیناً یوازې الله ﷻ په هر شي باندې پوهېږي، او ستاسو په هغو خبرو باندې هم پوه دی کومې چې تاسو په جهر سره کوئ او په هغو باندې هم پوهېږي چې تاسو یې په خپلو زړونو کښې او یا په مجالسو کښې د اسرارو په توګه پټوئ.

د: ای خلکو! څرنګه چې تاسو د اسلام د ترقۍ مخه نیسئ او پټ او ښکاره طعن وریاندې وایاست نو زه نه پوهېږم چې په څه وجه به په تاسو باندې عذاب نه نازلېږي؟، شاید چې د عذاب د نزول تالبدل به د لاندې وجوهو د کبله صورت نیولی وي:

اول: الله ﷻ به تاسو د نور امتحان لاندې هم واقع کوي ترڅو د قیامت په ورځ اعتذار ونه شئ کړی چې زمونږ د امتحان وخت لږ وه، او ښه فکر مو ونه شو کړی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: یا به یې وجه دا وي چې ستاسو د تعذیب وخت به نه وي رارسېدلی ځکه د الله ﷻ په نزد هر شی په ټاکلي وخت سره صورت نیسي چې نه یوه ثانیه وړاندې کېږي او نه وروسته کېږي.

۶_ بالآخره ای مشرکانو! ستاسو په هکله هغه پیغمبر چې د ټولو عالمونو دپاره رحمت رالېږلی شوی دی داسې وویلې چې:

الف: ای زما ربه! زما او د دغو مشرکانو په ارتباط حقه فیصله وکړې چې ستا ټولې فیصلې په حقه دي.

ب: او مونږ ځکه خپل رب ﷻ ته سوال کوو او په مشکلاتوکښې ترې کومک غواړو، چې زمونږ رب ﷻ ډېر مهربان دی او همدی ﷻ د دې لایق دی چې په هغو پوچو خبرو باندې ترې کومک وغوښتلی شي کومې چې تاسو یې بیانوئ او په ناحقه یې په الله ﷻ او یا د ده ﷺ په پیغمبر باندې ورتپې.

## توضیحات

۱_ په ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ﴾ کښې د ﴿ٱلزَّبُورِ﴾ کلمه علماء کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[1] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دا د پخوانیو ټولو کتابو څخه عبارت ده ځکه چې دا کلمه د "زَبَرَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د کتابة (لیکلو معنی ورکوي د همدې کبله قلم ته "مِزْبَرٌ" ویل کېږي چې د لیکلو آله ده[2].

ب: ذکره شوې کلمه د هغه کتاب څخه عبارت ده کوم چې په داوُد ﷺ باندې نازل شوی وه[3] او په اذکارو او تسبیحاتو باندې مشتمل وه.

مونږ ته همدغه معنی په زړه پورې برېښي چې په تبادر سره ذهن ته راځي.

همدارنګه په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ٱلذِّكْرِ﴾ کلمه هم په متعددو معناوو باندې تفسیره شوې ده[4] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: په دې مقام کښې د ﴿ٱلذِّكْرِ﴾ کلمه د لوح محفوظ څخه عبارت ده چې د هر شي ذکر او یادونه پکښې شوې ده.

دوهم: دا کلمه د موسی ﷺ د تورات معنی ورکوي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته د ﴿ٱلذِّكْرِ﴾ څخه متبادره معنی اراده کړی شي چې د پند او نصیحت څخه عبارت ده، نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې:

یقینًا مونږ د داوُد ﷺ په کتاب کښې د پند او نصیحت څخه وروسته لیکلي وه او دا دی په قرآن

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲۷۴
(۲) لسان العرب ج۴ ص۳۱۵؛ اضواء البیان ج۴ ص۷۵۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۲۰۱
(۴) البحر المحیط ج۷ ص۴۷۳

Scanned by CamScanner

کښې يې هم نازلوو چې د ځمکې وراثت زما خالصو او سوچه بندګانو پورې اختصاص لري، نو اې د آخر الزمان پيغمبر امتيانو! تاسو د الله ﷻ سوچه او مخلص بندګان جوړ شئ چې د ځمکې وراثت وګټئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ٱلۡأَرۡضَ﴾ د کلمې څخه کومه ځمکه مراده ده يا په بل عبارت: صالحينو ته د کومې ځمکې د وراثت وعده ورکړې شوې ده؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ٱلۡأَرۡضَ﴾ کلمه په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده چې په عمده توګه په لاندې صورتونو کښې خلاصه کېږي:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې صالحو بندګانو ته د همدغې متعارفې ځمکې د خلافت وعده ورکړه شوې ده[1] لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ [النور:۵۵] يعنې الله ﷻ هغو کسانو ته وعده ورکوي کومو چې ايمان راوړی وي او صالح عملونه کوي چې هرومرو او ضرور به دوی په ځمکه کښې خليفه ګان وګرځوي.

دوی هغه وراثة د کوم څخه چې د ﴿يَرِثُهَا﴾ کلمه اشتقاقه شوې ده د خلافت په معنی اخلي.

نو که څه هم في الحال په ټوله ځمکه باندې د مسلمانانو تسلط نشته مګر يو ځل يې په ټوله ځمکه باندې د آدم ﷺ په زمانه کښې تسلط تېر شوی دی او يو ځل بيا به هم د مهدي عليه الرحمة او د عيسی ﷺ د نزول په وخت کښې صورت ونيسي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا فَيَكْسِرُ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضُ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ»[2] يعنې زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زما ځان د ده په قدرت کښې دی چې هرومرو نژدې دی چې په تاسو کښې د بي بي مريمې رضي الله عنها زوی (عيسی ﷺ) په داسې حال کښې راښکته شي چې حکم کوونکی او انصاف کوونکی به وي، نو صليب به مات کړي او خنزير به ووژني او جزيه به وضعه کړي (د منځه يوسي) او مال به دومره ډېر شي حتی چې هيڅوک به يې نه اخلي.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ زَوَى لِيَ الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا» (الحديث)[3] يعنې يقينًا الله ﷻ ماته ټوله ځمکه راغونډه کړه نو ما يې مشرقونه او مغربونه وليدل، او يقينًا زما امت چې دی ژر ده چې د ځمکې واکداري به يې تر هغو ځايونو پورې ورسېږي کوم چې ماته الله ﷻ ترې راغونډه کړه او راښکاره کړه.

ب: اکثره علماء کرام وايي چې دلته د ﴿ٱلۡأَرۡضَ﴾ څخه د جنت ځمکه مطلب ده، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿وَأَوۡرَثَنَا ٱلۡأَرۡضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ ٱلۡجَنَّةِ حَيۡثُ نَشَآءُ﴾ [الزمر:۷۴] يعنې

---

(۱) التفسير الکبير ج۲۲ ص۲۳۰

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۷

(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۹۰؛ سنن ابي داود ج۲ ص۲۲۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنتیان به ووایي چې هغه الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې مونږ ته یې خپله وعده رښتیا کړه او په وریا توګه یې ځمکه په وراثت راکړه چې مونږ په هغه خای کښې ځای نیسو چرته چې زمونږ خوښه وي.

نو دوی د ﴿ يَرِثُهَا ﴾ د مشتق منه "وراثة" څخه د وړیا او بې عوضه معنی اخلي.

ج: ځینې عصري مفسرین کرام د ځمکې څخه همدغه ځمکه اخلي په کومه کښې چې مونږ اوسېږو او د "وراثة" څخه خلافت بلکې امارت او حکومت مرادوي او بالآخره د ﴿ عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ څخه هغه خلک اراده کوي کوم چې لاندې څلور صفات ولري[1] دوی پکښې کفر او اسلام د اعتبار مدار نه ګڼي:

اول: چې قائدین او مشران یې مفکرین او سیاست مداران وي، او په رعیت باندې ظلم نه کوي.

دوهم: چې منظم عسکري قوت ولري او د خپل حریم څخه په ډېره ښه وجه دفاع کولی شي.

دریم: چې اهل کسبه (صنعتکاران) ډېر ولري چې ټول په خپلو حرفو او کسبونو باندې مشغول وي.

څلورم: چې کار پکښې اهل کار ته په منظمه توګه سپارلی شوی وي.

نو هره ټولنه چې ذکر شوي صفات ولري هغوی ته الله ﷻ د ځمکې حکومت ورکوي برابره خبره ده چې هغوی مسلمانان وي او یا کفار وي او په کفارو کښې هم که په هره یوه کفري ډله کښې شامل وي څه باک یې نشته د ﴿ عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ مصداق ګرځېدلی شي.

## تبصره

۳ـ زمونږ په فکر دریم تفسیر بالکل مردود او غیر مقبول دی، ځکه چې د یو پلوه د ﴿ عِبَادِيَ ﴾ د اضافت سره مناسب نه دی چې د مؤمنانو او مخلصانو معنی ترې سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي او کفارو ته یې شمولیت ډېر بعید او غیر مناسب برېښي، او د بله پلوه د ﴿ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ کلمه د کار په صلاح لرونکو بندګانو باندې تفسیرول، برابره خبره ده چې کافران وي او که مسلمانان وي، د قرآن کریم د عادت څخه مخالفه ده چې په هر ځای کښې د صالحو اعمالو څخه شرعي صالح اعمال مراد وي او غیر شرعي اعمال په "آمَنُوا وعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ" کښې نه شاملوي.

پاتې شوه لومړني دواړه تفسیرونه، نو که د بدلیت په اعتبار سره دواړه اراده کړی شي هم څه بده نه ده بلکې فائده یې لا زیاتېږي او خوند یې لا اضافه کېږي.

## یوه خاطره

۴ـ په دې مقام کښې مونږ ته یو تفسیر په ذهن کښې ګرځي راګرځي، خو څرنګه چې پخوانیو مفسرینو کرامو ورته اشاره نه ده کړې نو مونږ یې د تفسیر په حیث نه بلکې د یوې خاطرې په شکل لیکو، دا خاطره په لاندې ټکو باندې ولاړه ده:

الف: چې د ځمکې څخه همدغه متعارفه ځمکه ـ یعني همدغه دنیا ـ مطلب شي په کومه کښې چې مونږ ژوند کوو.

---

(۱) تفسیر المراغي ج۱۷ ص۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د ﴿ يَرِثُهَا ﴾ كلمه د هغه "وراثة" څخه اشتقاقه وګڼله شي كوم چې د استفادې معنى وركوي،
ب: چې په همدې معنى باندې په عربي محاوره كښې استعمالېږي چې وايي: "وَرِثْتُ عِلْمًا مِنْ فُلَانٍ
ركه چې استفدته منه"⁽¹⁾ د فلاني څخه مې علم په وراثت سره واخست يعنې د علم استفاده مې ترې وكړه.
او د ﴿ عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾ څخه هم قرآني متعارف مؤمنان مخلصان مراد كړی شي.
ج: او د داسې راوڅېږي چې: دا دنيا عارضي دنيا ده چې ډېر ژر به اسمانونه راونغاړل
نو حاصل به يې څمكه به هم په بل كيفيت باندې واړوله شي بلكې قيامت به قائم شي او د بلې ابدي دنيا
بنې او ابره به كېښودله شي، خو د دغې فاني ځمكې (دنيا) څخه زما مخلص بندګان ګټه استفاده كوي
د ابدي دنيا دپاره ترې څوري ترلاسه كوي.
بې اما د دوی څخه په غير (كفار) ترې لنډه تنګه استفاده كوي چې د ډېر كوچنيوالي او لږوالي په
اعتبار سره بايد داسې وګڼل شي لكه چې بالكل يې ترې استفاده نه وي كړې.
دا خاطره مونږ ته د لاندې وجوهو د كبله په زړه پورې برېښي:
اول: د وړاندېنيو ايتونو سره ډېر ښه سليښت نيسي چې د دنيا ورانېدلو او د قيامت قيام ته
پكښې اشاره شوې ده.
دوهم: په ذكره شوې مجموعه كښې د ﴿ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴾ [١١١] ايت د كلماتو څخه هم ذكر
شوی مطلب د اشارې په توګه فهمېږي، يعنې ای مشركانو! زه نه پوهېږم چې په تاسو باندې به
عذاب ولې نه نازلېږي حال دا چې ستاسو كفري شدت د عذاب د نزول غوښتونكی دی؟، شايد چې
دا تاخير به ستاسو دپاره يو امتحان (استدراج) وي او هم تاسو ته به د دې دپاره مهلت دركړی شوی
وي چې د ټاكلي وخت پورې د دنيا څخه څه لنډه او تنګه استفاده وكړئ (لويه استفاده خو ترې تاسو
نه كوئ چې ايمان راوړئ).
دريم: الله ﷻ فرمايي: ﴿ مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ ۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٍ ﴾ [النحل:٩٦] يعنې كوم شی چې
ستاسو په نزد دی هغه فاني كېږي او كوم شی چې د الله ﷻ په نزد دی هغه باقي دی، يا په بل
عبارت هغه شی چې صرف دنيا پورې ارتباط ولري او د آخرت لحاظ پكښې نه وي هغه داسې فاني
دی لكه څنګه چې توله دنيا فاني ده، او هغه شی چې د آخرت پورې تعلق لري نو هغه داسې باقي
دی لكه څنګه چې آخرت باقي دی.
څلورم: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ﴾ [الكهف:٤٦]
يعنې مالونه او ځانونه او نور دنياوي شيان د دې حقير ژوند ډول او سنګار دي خو فناكېدونكي
دي، او باقيات صالحات (نېک اقوال وي او كه نېک افعال او اعمال وي) هغه ستا د رب ﷻ په نزد
د ثواب د حيثه بهتر دي او هم د اميد د حيثه غوره دي ځكه چې دا شيان كه څه هم په فاني دنيا
كښې متحقق شوي دي مګر د الله ﷻ په نزد باقي دي.

⁽¹⁾ مفردات الراغب ص٥٥٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## بلاغ څه معنی؟

۴_ په ﴿ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغًا لِّقَوْمٍ عَٰبِدِينَ ﴾ کښې د "بَلاغ" کلمه د رسولو او يوه مطلب ته د منتهي کېدلو دپاره وضعه شوې ده مګر هغه شي ته هم د بلاغ لقب ورکول کېږي په کوم باندې چې سړی مطلب ته رسېږي او د همدې دپاره کفايت کوي[۱] په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه مفسرينو کرامو په همدغې معنی سره تفسيره کړې ده[۲].

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ هَٰذَا ﴾ کلمه قرآن کريم ته اشاره ده چې په ذکر شوي نصيحت باندې هم مشتمل دی چې د فاني دنيا څخه د باقي دنيا (آخرت) دپاره فائده اوچته کړئ، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې دغه قرآن کريم د عبادت کوونکي قوم دپاره کفايت کوي چې اصلي مطلب ته ورباندې ورسېږي او خپل ابدي کور پرې اباد کړي.

## نبي کريم ﷺ د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی

۵_ په ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې نبي کريم ﷺ د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَإِنَّمَا بَعَثَنِي رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ»[۳] او يقيناً زه الله ﷻ د ټولو عالمونو دپاره د رحمت په حيث مبعوث کړی يم.

په همدې مضمون باندې نور احاديث هم روايت کړی شوي دي[۴]، د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکو ته توجه وکړئ:

الف: نبي کريم ﷺ د مؤمنانو دپاره د دې کبله رحمت دی چې دوی د همده ﷺ د دعوت په اثر په ايمان باندې مشرف شوی دی او د الله ﷻ د رضايت لايق ګرځېدلی دی.

ب: د کفارو دپاره هم نبي کريم ﷺ رحمت دی چې که ايمان ورباندې راوړي د دوزخ د اوره به نجات مونده کړي او د الله ﷻ رضايت به يې نصيب شي، مګر دا بېله خبره ده چې هغوی د دغه لوی رحمت څخه استفاده نه کوي او په لوی لاس خپل ځانونه اور (دوزخ) ته وراچوي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه کفار د نبي کريم ﷺ په برکت سره د هغو عذابونو څخه په امان کښې دي په کومو باندې چې د پخوانيو کفارو ببخ وتلی وه لکه د نوح ﷺ قوم او د لوط ﷺ قوم او داسې نور، او دا ځکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په يوه اوږده موقوف حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ بِهِ سَلِمَ بِهِ مِمَّا لَحِقَ الأُمَمَ مِنَ الْخَسْفِ وَالْغَرَقِ»[۵] يعنې او چا چې په نبي کريم ﷺ باندې ايمان نه دی راوړی نو هغه پرې د هغو ببخ ويستونکو عذابونو څخه روغ رمټ پاتې شوه کوم

(۱) مفردات الراغب ص۵۸
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۲۷۱
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۲۸۵
(۴) صحيح المسلم ج۲ ص۳۲۳؛ مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۰۷
(۵) تفسير القرطبي ج۱۱ ص۳۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(۱۲) ... امتونو ته رسېدلي وه چې په ځمکه کښې د خسف او د غرق (او نورو) څخه عبارت دی.

... پېریانو دپاره هم نبي کریم ﷺ په هغې معنی باندې رحمت دی کومه چې په انسانانو کښې ... شوه چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

... د انسان او پیرې څخه په غیر نورو عالمونو ته هم نبي کریم ﷺ رحمت دی لکه ... ځمکه کښې ... الحیوانات او عالم الحشرات او هم عالم الطیور او داسې نور. او دا څکه چې:

... پورې چې د نبي کریم ﷺ د اجابتي امتیانو څخه یو کس په دنیا باندې ژوندی وي نو دنیا ... چې تول حشرات او حیوانات پوښنا شي، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ ... يَقُولُ اللّٰهُ اللّٰهُ»(۱) یعنې قیامت به په داسې کس باندې قائم نه شي کوم چې: الله، الله وایي ... مسلمان وي، بلکې کله چې د نبي کریم ﷺ یو مسلمان امتي هم په ځمکه باندې پاتې نه شي نو ... قیامت قائمېږي او دنیا به ورانېږي.

... باندې علاوه، شاید د عالم الحیوانات او عالم الحشرات دپاره به نبي کریم ﷺ څکه رحمت ... ﷺ په دین کښې په حیواناتو باندې ظلم منع شوی دی او خاصه پاملرنه ورته شوې ده.

... د عالم الملائکه دپاره هم نبي کریم ﷺ رحمت دی او دا څکه چې ځینو مفسرینو کرامو یې ... ته اشاره کړې ده خو یوه وجه یې دا ده، چې په نبي کریم ﷺ باندې قرآن کریم نازل کړی ... چې د علومو مجموعه ده او پرښتې هم د دغو علومو څخه بې برخې نه دي او پوره واضحه ... چې علم او پوهه لوی رحمت دی، نو که بالفرض قرآن نه وی نازل شوی نو په علومو کښې به یې ... هم برخه نه وی درلودلی(۲).

د "الأنبياء" د سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق پای ته ورسید.

الله ﷻ دې مونږ ته نور توفیق هم راکړي

او هم دې د پیغمبرانو په شفاعت کښې زمونږ نصیب او برخه وکړي.

۱۴۱۹/۸/۲۲ هـ ق - ۱۳۷۷/۹/۲۰ هـ ش - ۱۹۹۸/۱۲/۱۱ م.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۲۵
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۱۰۵

Scanned by CamScanner

# الحج (۲۲)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

له دې ښخه وړاندې چې د سورت په ترجمه او تفسیر باندې پیل وکړو د محترمو لوستونکو پام لاندې نکاتو ته را اړوو:

۱_ دا سورت د "الحج" په سورت باندې نومولی شوی دی چې د یو پلوه د همدغې کلمې "الحج" ذکر په [۲۷] ایت کښې نازل شوی دی، او د بله پلوه د حج د فرضي طواف په اداء کولو باندې د همدې سورت په [۲۹] ایت کښې امر شوی دی، او هم پکښې د قربانیو څه احکامو ته اشاره شوې ده.

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د ایتونو شمېر یې اته اویا (۷۸) دی[۱].

ب: د کلمو شمېر یې دوه زره دوه سوه یو نوي (۲۲۹۱) دی[۲].

ج: د حرفونو شمېر یې پنځه زره پنځه اویا (۵۰۷۵) دی[۳].

۳_ که څه هم مفسرین کرام د دې سورت په مکیتوب او مدنیتوب کښې مختلف دي، مګر اصحه خبره دا ده چې دا سورت مختلط دی[۴]، هم پکښې مکي ایتونه شته او هم په مدني ایتونو باندې مشتمل دی، همدارنګه دوی د ایتونو په تعین کښې هم اختلاف لري چې کوم-کوم مدني دي او کوم-کوم مکي دي[۵]. لکه چې د تفسیر په اوږدو کښې به _ان شاء الله ﷻ_ واضحه شي چې د دې سورت ځینې ایتونه په سفر کښې او د شپې نازل شوي دي او ځینې یې د ورځې په اقامت کښې نازل شوي دي، د همدې کبله دغه سورت ته د عجیبه سورت لقب هم ورکړی شوی دی[۶].

## د دې سورت محتویات

۴_ که څه هم د قرآن کریم د سورتونو په محتویاتو باندې څوک احاطه نه شي کولی او یوازې هغه اقدس ذات وربادې ډېر ښه پوهېږي چې دا قرآن کریم یې نازل کړی دی او په خپلو ځینې غیبي علومو باندې یې خپل بندګان پوه کړي دي، مګر مونږ محض د مثال په توګه د دې سورت ځینې محتویاتو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

الف: په دې سورت کښې د قیامت د ورځې په قیام باندې دلائل اقامه کړی شوی دی او ځینو کیفیاتو ته یې پکښې اشاره شوې ده.

ب: د الله ﷻ وحدانیت او د ټولو مخلوقاتو انقیاد پکښې په اثبات رسېدلی دی.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۰۹
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۴ ص۳
(۳) تفسیر الخازن ج۴ ص۲۸۶
(۴) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۷۳
(۵) روح المعاني ج۱۷ ص۱۱۰
(۶) زاد المسیر ج۵ ص۱۷۷ : عمدة القاري شرح صحیح البخاري ج۱۹ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د کفارو شبهاتو ته پکښې جواب ورکړی شوی دی او د شیطاني تشویشاتو مخه هم پکښې نیولې شوې ده.

د: د اسلام پنځم رکن (حج) ته پکښې څه شرحه ورکړه شوې ده او د مسجد حرام څه احکام پکښې بیان شوي دي او داسې نور.

## د دواړو سورتونو تناسب

۵ـ دا سورت (الحج) د وړاندې سورت (الأنبياء) سره ډېرې نژدې اړیکې لري، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هغه سورت هم د قیامت د ورځې په ذکر باندې پیل شوی وه چې: ﴿ ٱقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ ﴾ الآية، او دا سورت هم په همدغه ذکر باندې پیل کېږي چې: ﴿ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ﴾، نه به وایې چې دا سورت د هغه سورت متمم دی.

ب: هلته هم د الله ﷻ د وحدانیت دلایل نازل شوي وه او د کفارو شبهاتو ته جواب ورکړی شوی وه، او دلته هم د توحید دلایل او د مشرکانو د شبهاتو رد بیان شوی دی، او جواب ورکړی شوی دی.

ج: هغه سورت د پیغمبرانو په ځینو قیصو باندې مشتمل وه، او په دې سورت کښې هم د ځینو پیغمبرانو نومونه اخستلی شوي دي او داسې نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ۝١ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ۝٢ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ ۝٣ كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ۝٤ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱] ای خلکو! د خپل رب ﷻ (د عذاب) څخه (ځانونه) وساتئ (او ترې ووېرېږئ) او دا ځکه چې یقیناً د قیامت زلزله (جړق او غم) ډېر لوی شی دی.

[۲] په هغې ورځ چې تاسو (نوموړې) زلزله وګورئ (نو هلته به) تې ورکوونکې ښځه د هغه ماشوم څخه غافله شي کوم ته چې بالفعل تی ورکوي، او (هم) هره یوه د حمل خاونده (امیدواره) ښځه به خپل حمل (د خپلې ګېډې ماشوم او جنین) بې وخته) وغورځوي، او ته به (په دغې ورځ کښې) خلک ګورې (ای کتونکیه!) مستان (او نېشه)، حال دا چې دوی به (په حقیقت کښې) مستان

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(نېشه) نه وي مګر د الله ﷻ عذاب (په دغې ورځ کښې) ډېر سخت دی (نو دوی به له ډېره غمه بې خوده او بې هوښه وي).

[۳] او د خلکو څخه ځینې هغه کسان دي چې (د ذکرې شوې ورځې څخه نه دارېږي او) د الله ﷻ په هکله بدون د علم (او بدون له ثبوته) جګړه کوي او (د هر خير څخه) د خالي شیطان پیروي کوي.

[۴] (داسې شیطان) چې (په ازل کښې) ورباندې لیکلې شوي (او فیصله کړې شوې) ده چې یقیناً شان دا دی چې هرڅوک چې شیطان لره په دوستۍ سره ونیسي نو بې شکه هغه به یې (د جنت د لارې څخه) بې لارې کړي او د سوزوونکي (دوزخ) عذاب ته به یې لاربښوونه وکړي.

## ارتباط

د "الأنبياء" د سورت په وروستنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه چې د قیامت په ورځ به ځینې خلک د "الفزع الأكبر" د لوی ډار سره مخامخ شي، په دې ایتونو کښې د لوی ډار یوه کیفیت ته اشاره شوې ده چې د ډار لویوالی یې ډېر ښه واضح کړی دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ویلو څخه وروسته د لوی ډار یا د قیامت د ورځې په هکله به خپلو امتیانو باندې ځه وضاحت قرائت کړه چې عبرت ترې واخلې او خپل ځانونه ورته عیار کړي، نو:

۱ـ زمونږ د پلوه ورته ووایه چې: ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ د عذاب څخه وډار شئ او هغې سختې ورځې ته خپل ځانونه په ایمان او صالحو اعمالو باندې عیار کړئ په کومه کښې به چې ځمکه وجړقولې شي او د سختې زلزلې لاندې به واقع شي.

۲ـ یقیناً دغه د قیامت د ورځې زلزله د عادي زلزلو غوندې نه ده بلکې دا ډېر لوی شی دی، د لویوالي او سختوالي اندازه یې په لاندې مثالونو کښې ډېره ښه ښکاره ګند ېږي:

الف: هره یوه تی ورکوونکې ښځه به د خپل هغه ماشوم څخه غافله شي کومه چې هغه ته عملاً د تي په ورکولو باندې لګیا او بالفعل د تي په ورکولو باندې بوخته وي. اما هغې ښځې ته خو به خپل ماشوم بالکل وربه زړه نه شي کومه چې د تي رودونکي ماشوم مور وي خو بالفعل یې د تي په ورکولو باندې بوخته نه وي.

ب: د دغې زلزلې او جړق په وخت کښې به هره یوه امیدواره ښځه خپل امید ضایع کړي او د ډار د شدت د کبله به د خپلې ګېډې ماشوم (جنین) بې مودې (خام) وضعه کړي، او ترې ساقط به شي.

ج: په دغه وخت کښې به ته ـ ای لیدونکیه! ـ خلک بې خوده (بې هوښه) ګورې چې د شرابو په ځښلو باندې مست او نېشه دي، خو حقیقت به داسې نه وي حقیقت به دا وي چې د الله ﷻ عذاب ډېر سخت دی، نو دوی به د دغه سخت عذاب د ډار او هیبت د کبله بې خوده او بې هوښه (نېشه) ښکاره ګند ېږي.

۳ـ ای پیغمبره! د دې سره‌سره چې دغسې سخته ورځ راروانه ده ځینې خلک ترې بالکل غافل

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي، په عوض د دې چې خپل خانونه ورته عيار کړي او ترې وډار شي دوی لاندې کارونه کوي:
الف: د بل چا په هکله نه بلکې د الله ﷻ په هکله مجادلې او جګړې کوي چې مړي به بېرته راژوندي نه شي او قيامت به قائم نه کړی شي، حال دا چې په لاس کښې يې دليل او برهان نشته بلکې جګړه يې د جهالت او ناپوهی څخه منشا نيسي او بس.
ب: ذکر شوي خلک په عوض د دې چې د الله ﷻ د پيغمبر اتباع او پيروي وکړي د هر شيطان پيروي کوي چې د خير او ښېګنې څخه ښويه او خالي دی، نه پکښې د دنيا ګټه شته او نه به ورته په آخرت کښې په درد وخوري بلکې په ضرر به يې تمام شي، او دا ځکه چې د شيطان په هکله فيصله کړه شوې ده او دا خبره وربانديې حتمي ده چې:
اول: هرڅوک يې چې پيروي وکړي نو شيطان به يې بې لارې او ګمراه کړي او د حقې او سمې لارې څخه به يې واړوي.
دوهم: همدارنګه به ورته د آخرت په هکله بله لاره ونه ښايي بې له دې چې د سوزوونکي عذاب په لور به يې روان کړي او هملته به يې پکښې ورګوزار کړي.

## توضيحات

۱ــ په ﴿إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ﴾ کښې د ﴿زَلْزَلَةَ﴾ کلمه په عربي محاوره کښې په لاندې دوه وو معناوو باندې استعمالېږي[1]:
الف: په ښه قوي حرکت سره د يوه شي ښورولو او جړق ورکولو ته زلزله وايي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾ [الزلزال:۱] يعنې کله چې ځمکه په ښه قوي خوځولو سره وخوځولی شي خوځول خپل.
ب: د قوي ډارولو او رعب وراچولو معنی هم د مجاز او کنايې په توګه په همدې نامه باندې يادېږي، د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:
اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿هُنَالِكَ ٱبْتُلِيَ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا۟ زِلْزَالًا شَدِيدًا﴾ [الأحزاب:۱۱] يعنې په دغه ځای (د خندق په غزا) کښې مؤمنان امتحان کړی شوه او وجړقول شوه سخت جړقول (سخت ډار او رعب وربانديې ورښکته شو).
دوهم: نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې د خندق په غزا کښې کفارو ته ښېرا وکړه چې: «اللَّهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ»[2] ای الله! کفارو ته شکست ورکړه او په رعب (ډار) باندې يې وجړقوه.

## دلته زلزله په کومه معنی سره ده؟

۲ــ په دې مقام کښې د ﴿زَلْزَلَةَ﴾ د کلمې په معنی کښې علماء کرام په لاندې دوه ګروپونو وېشل شوي دي:

(۱) لسان العرب ج ص۳۰۷: مفردات الراغب ص۲۱۹
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۴۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځينې علماء کرام وايي چې: دلته د زلزلې دوهمه معنی مراده ده چې خلک به د ډېر شديد ډار او رعب سره مخامخ شي. او دا ځکه چې نبي کريم ﷺ د غازيانو (صحابه کرامو ﷺ) سره د بني مصطلق د غزا څخه مدينې منورې ته په سفر کښې وه او د شپې يې مزل کاوه چې د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ ﴾ څخه نيولې آن تر ﴿ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ﴾ پورې دوه ايتونه پرې نازل شوه، بيا نبي کريم ﷺ صحابه وو کرامو ته مخ ورواړاوه چې: ايا تاسو پوهېږئ چې دغه کومه ورځ ده؟ صحابه وو کرامو ﷺ وويلې چې: الله ﷻ او د ده پيغمبر ﷺ ډېر ښه پوهېږي چې دا به کومه ورځ وي، نو نبي کريم ﷺ وويلې چې: «ذَلِكَ يَوْمَ يَقُولُ اللهُ لِآدَمَ ابْعَثْ بَعْثَ النَّارِ فَقَالَ يَا رَبِّ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ تِسْعُ مِائَةٍ وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ إِلَى النَّارِ وَوَاحِدٌ إِلَى الْجَنَّةِ»[1] يعنې دا هغه ورځ ده چې الله ﷻ آدم ﷺ مخاطب کړي چې د خپلې اولادې څخه دې د اور تولګی پورته کړه!، نو آدم ﷺ به ووايي چې اى ربه! د اور تولګي څومره عدد دى؟ الله ﷻ به ورته ووايي چې د هرو زرو کسانو څخه نهه سوه او نهه نوي د اور تولګي دي او فقط يو نفر پکښې جنتي دى.

په يوه بل روايت کښې نبي کريم ﷺ د ذکر شوي حديث سره دا کلمات هم اضافه کړي دي چې: «فَحِينَئِذٍ تَضَعُ الْحَامِلُ حَمْلَهَا وَيَشِيبُ الْوَلِيدُ وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ»[2] يعنې نو په دغه وخت کښې به اميدواره ښځه خپل اميد (جنين) وضعه کړي او ماشوم به پکښې بوډا شي او (بالآخره) ته به خلک نېشه (مستان) ګوري خو دوى به نېشه (او مستان) نه وي مګر د الله ﷻ عذاب ډېر سخت دى.

که څه هم په دغې ورځ کښې به ډېرور ماشوم تحقق ونه لري چې د ډېره غمه سپين ږيرى وګرځي او نه به هلته بالفعل تې وركوونكې زنانه شتون ولري چې د سختيو د کبله د خپل ماشوم څخه غافله شي. مګر لکه څنګه چې په لومړي توضيح کښې ورته اشاره شوې ده په عربي محاوره کښې دغسې کلامونه د ډېر غم څخه د کنايې په توګه استعمالېږي، لکه چې وايي: "اَصَابَنَا اَمْرٌ يَشِيْبُ مِنْهُ الْوِلْدَانُ"[3] مونږ ته داسې غمژن کار راورسېد چې ماشومان ترې سپين ږيري کېږي، او داسې نور.

نو په ايت شريف کښې به يې د معنى حاصل داسې راوځېژي چې که بالفرض په هغه وخت کښې اميدواره ښځه يا تې وركوونكې ښځه موجوديت ولري نو هغه به خپل جنين (اميد) وضعه کړي او دا به د خپل ماشوم څخه غافله شي.

په همدې ارتباط ځينو مفسرينو کرامو ښه ډېر احاديث راغوند کړي دي[4].

ب: جمهور علماء کرام په ايت شريف کښې د ﴿ زَلۡزَلَةَ ﴾ کلمه په خپله حقيقي معنى سره اخلي[5].

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۰

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۹۳؛ صحيح مسلم ج۱ ص۱۱۸

(۳) شرح النووي على صحيح مسلم ج۱ ص۱۱۸؛ اضواء البيان ج۵ ص۱۴

(۴) تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۰۴

(۵) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۴۰؛ المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی وايي چې: د قیامت د علاماتو څخه يوه ډېره سخته زلزله هم ده چې په آخر وخت کښې به صورت ونیسي حتی چې تی ورکوونکې ښځه به د خپل ماشوم څخه غافله شي او اُمیدواره ښځه به خپل ماشوم بې وخته وزېږوي.

دوی په يو ضعیف او کمزوري مرفوع حدیث باندې استدلال نیسي[1] چې همدغه زلزله يې په ډېر اوږد بيان کښې شرحه کړې ده او "الطبراني" او نورو محدثینو تخریج کړی دی[2].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣ـ که څوک وايي چې عجیبه ده چې جمهور علماء کرام قوي احاديث پرېږدي او په کمزوري حديث باندې د ايت شريف تفسير کوي ايا هغوی ته صحيح احاديث نه وه معلوم، لکه چې ورانديې تېر شوه؟

مونږ وايو چې: جمهورو علماوو کرامو صحيحه احاديث غير معمول نه دي ګرځولي، بلکې دوی وايي چې د نبي کريم ﷺ په صحيحه احاديثو سره د زلزلې د وخت تعين مطلب نه دی بلکې د قيامت د هولناکې ورځې يو حالت يې پکښې بيان کړی دی، ته به وايې چې داسې يې فرمايلي دي چې د قيامت ورځ دغسې سخته ورځ ده چې په دغسې سختې زلزلې باندې به شروع شي او بيا به پکښې دغسې نور حالات هم پېښ شي چې خلک به د سخت ډار او رعب سره مخامخ شي[3].

## تبصره

٤ـ زمونږ په فکر ذکر شوي دواړه نظرونه سره څه منافات نه لري څه لرې نه ده چې په ايت شريف کښې دواړه مراد وي، همدا (د دواړو معناوو اراده) د هغه تفسير څخه هم اشارةً څرګندېږي کوم چې د رئيس المفسرين (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) څخه په يوه روايت کښې نقل شوي دي چې: «إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ قِيَامُهَا»[4] يقيناً د قيامت زلزله د قيامت د قيام څخه عبارت ده، برابره خبره ده چې د قيامت د قيام ابتداء وي، يا يې انتهاء وي او بالآخره يا يې يوه بله برخه وي.

ايت شريف د دواړو تفسيرونو تحمل کولی شي چې د ﴿ زَلْزَلَةَ ﴾ په کلمه کښې د مجاز عموم اراده کړی شي او په "ما يطلق عليه الزلزلة" باندې ترې تعبير وشي، والله ﷻ أعلم.

## ذهول څه معنی؟

٥ـ په ﴿ تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ ﴾ کښې د ﴿ تَذْهَلُ ﴾ کلمه د "ذُهُوْل" ـ لکه "قُتُوْل" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "ذُهُوْل" دې ته وايي چې سړی يو شی قصداً پرېږدي او يا ترې د يوه مشغوليت د کبله غافل شي او هېر يې کړي[5]، په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده.

---

(١) تفسير الطبري ج١٧ ص١١٠
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٢٠٤
(٣) تفسير المظهري ج٦ ص٢٥٢
(٤) روح المعاني ج١٧ ص١١٠
(٥) لسان العرب ج١١ ص٢٥٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مُّضۡغَةٍ ﴾ کلمه هغې تې ورکوونکې ښځې ته وضعه شوې ده کومې چې بالفعل خپل ماشوم تې ته اچولی وي او د تي په رودلو باندې یې مصروف کړی وي، اما هغه زنانه د "مُرۡضِع" په نامه یادېږي کومه چې د تي ورکولو دپاره مساعده وي (لنګه وي) خو بالفعل یې خپل ماشوم تي ته نه وي اچولی[1].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د نوموړې زلزلې او د غم د شدت په وخت کښې به هغه زنانه هم د خپل ماشوم څخه غافله شي کومې چې خپل ماشوم بالفعل تي ته اچولی وي، پاتې خو لا هغه کومه چې ماشوم داره (لنګه) وي خو خپل ماشوم یې بالفعل تي ته نه وي اچولی، نو دغې ته خو به خپل ماشوم بالکل ورپه یاد هم نه شي.

## یادونه

٦_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿ مَّرِيدٖ ﴾ کلمه د [النساء:١١٧] ایت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده نو هیله ده چې د ﴿ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ﴾ د شرحې دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡ وَأَنۢبَتَتۡ مِن كُلِّ زَوۡجِۭ بَهِيجٖ ۝٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ۝٦ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٞ لَّا رَيۡبَ فِيهَا وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ ۝٧ ﴾

[٥] ای خلکو! که چرته تاسو د بیا راژوندي کولو څخه په شک کښې یاست نو (خپل شک په دې باندې وباسئ چې:) یقینًا مونږ تاسو د خاورو څخه پیدا کړي یاست (او) بیا د نطفې څخه (او) بیا د پرنډ وینې څخه (او) بیا د داسې بوټی غوښې څخه چې پوره اندامونه پکښې جوړ کړی شوي وي او (یا د داسې بوټی غوښې څخه) چې پوره جوړښت نه وي ورکړی شوی (اندامونه پکښې پوره نه وي. دا) د دې دپاره چې مونږ تاسو ته (خپل کامل قدرت) واضحه (او څرګند) کړو.

---

(١) تفسیر الطبري ج١٧ ص١١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (بیا) مونږ په رحمونو کښې هغې (مضغې) ته قرار ورکوو (د سقوط څخه یې ساتو) کومې ته چې زمونږ اراده وشي (البته) تر ټاکلې نېټې پورې (چې د جنین د تولد وخت دی)، بیا (د ټاکلې نېټې د پوره کېدلو څخه وروسته) مونږ تاسو د طفولیت په حال کښې بهر وباسو (ترڅو تاسو په کراره کراره غټ شئ) بیا د دې دپاره چې تاسو خپل قوت ته ورسېږئ، او (بیا) ستاسو ځینې هغه کسان دي چې اخستل کېږي (او ارواګانې یې قبض کېږي) او ستاسو ځینې هغه کسان دي چې بېرته حقیر عمر ته ورتاو کړی شي، چې په نتیجه کښې د علم (او پوهې) څخه وروسته په هیڅ شي باندې پوه نه شي (لکه چې په طفولیت کښې ورباندې نه پوهېده).

او (ای کتونکیه!) ته ځمکه وچه کلکه ګورې (چې هیڅ بوټی او نبات پکښې موجودیت نه لري) نو کله چې مونږ ورباندې (د اسمانه) اوبه ورښکته کړو (او باران پرې وکړو) نو (د ځمکې مخ) حرکت وکړي او (د نباتاتو په تیغونو سره) راپورته شي او (بالآخره) د هرې نوعې د نبات څخه ښایسته (نبات) رازرغون کړي.

[۶] (ای پیغمبره!) دغه (د انسان او نبات د تخلیق) بیان ځکه (حقیقت دی) چې یقینًا الله ﷻ همدې (یوازې) حق (او واقعي معبود) دی (او هیڅ شریک نه لري)، او یقینًا همدی ﷻ بې روحه شیان ژوندي کوي، او همدې ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

[۷] او (هم ځکه چې) یقینًا د قیامت ورځ راتلونکې ده چې هیڅ شک (او شبه) پکښې نشته، او یقینًا الله ﷻ (په دغې ورځ کښې) هغه څوک ژوندي راپورته کوي کوم چې په قبرونو کښې (مړه پراته او خاورې شوي) وي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه چې ځینې خلک د خپلې شرکي عقیدې په هکله بلا ثبوته (کور کورانه، په پټو سترګو) د شیطان پیروي کوي او هغه صحیحه توحیدي عقیده پرېږدي د کومې په ثبوت او حقانیت باندې چې بې شمېره دلایل او براهین قائم دي. په دې ایتونو کښې د همدغو بې شمېره براهینو د جملې څخه ځینې براهین د مثال په توګه بیان شوي دي چې حاصل یې داسې کېږي:

ای پیغمبره! د دې دپاره چې خلک د قیامت د ورځې څخه وډار شي او صحیحه توحیدي عقیده خپله کړي، زمونږ د پلوه یې مخاطب کړه چې:

ای خلکو! که تاسو ياست چې د قیامت د ورځې او د بیا راژوندي کېدلو (بعث بعد الموت) څخه په شک کښې یاست نو په هغو دلایلو باندې خپله ځانونو ته قناعت ورکړئ او توحیدي عقیده خپله کړئ کوم چې ستاسو په نفسونو او ستاسو په شاوخوا (آفاقو) کښې موجودیت لري، هغه دا چې:

۱ـ د هر څه څخه وړاندې تاسو په خپلو ګرېوانونو کښې سرونه ښکته کړئ او ښه فکر وکړئ چې:

الف: مونږ تاسو د بل شي څخه نه بلکې د خاورو څخه پیدا کړي یاست، چې د یو پلوه مو ستاسو اصل (پلار آدم ؑ) د خاورو څخه پیدا کړي دي او د بله پلوه مو هغه نطفه هم د خاورو څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیدا کړي ده کومه چې ستاسو په توالد او تناسل کښې محوري حیثیت لري.

ب: یا په بل عبارت: تاسو مو په اجمالي توګه د آدم ؑ په لحاظ د خاورو څخه پیدا کړي یاست او د توالد او تناسل په لحاظ مو د نطفې څخه پیدایښت درکړی دی چې تفصیل یې دا دی:

ج: نطفه مو په رحم کښې په غوټه (پرنډه) وینې باندې بدله کړه او سور رنګ مو ورکړ.

د: بیا مو دغې سوررنګې پرنډه وینې ته د یوې ټوټې غوښې شکل ورکړ، چې د ژوولې شوې بوټۍ غوښې شکل یې اختیار کړ، چې نه پکښې هډوکی وه او نه په رنګونو او اعصابو باندې مشتمله ښکارېدله، او نه یې څېره درلوده.

هـ: بیا مو همدغې بوټۍ پستې غوښې ته په لاندې دوه وو ډولونو باندې شکل ورکړ:

اول: ټول اندامونه مو ورته پوره ورکړه او په انساني څېره کښې مو ترې څه شی ونه سپماوه.

دوهم: ځینې اندامونه مو ورکړه او ځینې مو ورنه کړه، د چا مو لاسونه او پښې ناقص کړه او د چا مو سترګې او پوزه عیبجن جوړ کړه او داسې نور.

ای انسانانو! دا ټول د دې دپاره چې تاسو ته مونږ خپل کامل قدرت واضحه کړو، ترڅو تاسو ښه فکر وکړئ او پوه شئ چې کوم اقدس ذات چې ذکر شوي کارونه کولی شي هغه ﷻ د قبرونو څخه د مړو په بیا راژوندي کولو باندې هم د کامل قدرت درلودونکی دی.

۲_ که څه هم ستاسو د عقائدو د تصحیح دپاره د ذکرو شوو مراحلو په نظر کښې نیول هم کفایت کوي خو د ښه تاکید دپاره څه نور مراحل هم ولولئ چې په تاسو باندې تېرېږي، هغه دا چې:

الف: کله چې مونږ تاسو ته پوره یا ناقصې څېرې درکړو، بیا نو مونږ هغو ته سقوط ورکوو کومو ته چې زمونږ اراده وشي او هغو ته پکښې د ټاکلې نېټې پورې قرار او ثبات ورکوو کومو ته چې زمونږ اراده وشي، البته کومه نېټه چې زمونږ په نزد متعینه او ټاکلې ده.

ب: بیا د ټاکلې شوې مودې د پوره کېدلو څخه وروسته مونږ په خپل کامل قدرت سره تاسو د رحمونو څخه بهر ته راوباسو او راوتل درته اسانوو، که بالفرض مونږ د راوتلو دپاره لاره اسانه نه کړو نو یو ماشوم او جنین به هم ژوندی تولد نه شي.

ج: لکه څنګه چې مونږ په رحمونو کښې تاسو ته وده درکوو او د یوې مرحلې څخه مو ورپورته بلې مرحلې ته اوچتوو، همدارنګه د ولادت څخه وروسته هم تاسو په متعددو مراحلو کښې د یوې څخه بلې ته خېژوو، آن تر دې چې تاسو خپل قوت ته ورسېږئ، د بدن نشا او نمو مو په ځای ودرېږي، عقل مو پوخ شي او ښه هوښیار جوړ شئ.

د: ای انسانانو! ستاسو ځینې کسان د همدغې د قوت په مرحله کښې مړه شي او د بوډاتوب د مرحلې څخه وړاندې د خمکې ګېډې ته ورتاو شي، ته به وایې چې یو ځل بیا ورباندې د رحم مرحله ورتاوه شوه او د خمکې ګېډه ورته د مور ګېډه وګرځېدله.

هـ: اما ستاسو ځینې نور کسان د قوت د مرحلې څخه ورتېرېږي او قوت یې په کراره-کراره کمېږي، آن تر دې چې بېرته د ماشومتوب مرحلې ته ورښکته شي او د بې عزتۍ د عمر خاوند شي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: د یو پلوه یې بدن کمزوری شي لکه چې په ماشومتوب کښې کمزوري او ضعیف وه او د بل پلوه د پوهې څخه وروسته بېرته ناپوهی ته ورو گرځي، نو لکه څنگه چې په هغې مرحله کښې په هیڅ شي باندې نه پوهېده په دې مرحله کښې هم په هیڅ شي باندې نه پوهېږي او زده کړي علوم ترې ټول هېر شي.

ز: بالآخره د همدې مرحلې د تېرولو څخه وروسته بیا وفات کېږي او د ځمکې په داخل کښې منحل کېږي، ته به وایې چې بالکل یې په دنیا کښې ژوند نه دی کړی.

نو ای انسانانو! ایا کوم اقدس ذات چې په تاسو باندې ذکر شوي مراحل تیروي هغه ﷻ په دې باندې قادر نه دی چې تاسو یو ځل بیا په مستقیمه توگه د آدم ؑ په شان د خاورو څخه راژوندي کړي؟

## افاقي دلایل

۳ـ ای خلکو! تاسو د خپلې عقیدې د تصحیح دپاره د افاقي دلایلو څخه هم استفاده وکړئ، هغه دا چې:

الف: ای انسانه! ته ځمکه گورې چې وچه کلکه وي او هیڅ شنیلي او بوټي پکښې زرغون نه وي، او ته خیال کوې چې دا وچه ببېدیا به هیڅکله په ونو او بوټو باندې ترو تازه نه شي خو:

ب: کله چې مونږ ورباندې له اسمانه (د خپلو غیبي خزانو څخه) د باران اوبه وربشکته کړو نو دغه وچه کلکه مړه ځمکه راوپړسېږي او د تېغ د راوتلو د کبله راپورته او ډډه شي.

ج: نو ته نوموړې ځمکې گورې چې هر ډول تازه او ښائسته بوټی رازرغون کړي او په ښایسته باغونو باندې مشتمله شي.

## د دلایلو نتائج

۴ـ ای پیغمبره! ذکر شوي قدرتي کارونه او قدرتي دلایل مو د دې دپاره درنازل کړه چې ترڅو خلک په لاندې حقائقو باندې تصدیق وکړي:

الف: یو حقیقت دا دی چې الله ﷻ واقعاً په حقه معبود دی او د ده ﷻ څخه په غیر نور معبودان باطل دي او حقیقت نه لري.

ب: بل دا چې الله ﷻ په یقیني توگه بې روحه شیان ژوندي کوي او دا کار په همده ﷻ پورې اختصاص لري، یا په بل عبارت: په بې روحه شیانو کښې همدی ﷻ روحونه اچوي او ژوندي کوي یې او بس.

ج: بل باید په دې تصدیق وکړي چې بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی او هیڅ شی د ده ﷻ د قدرت څخه نه دی وتلی.

د: په دې باندې هم باید خلک تصدیق وکړي چې د قیامت ورځ ضرور راتلونکې ده او هیڅ شک او شبه پکښې نشته، نو باور کول ورباندې د ایمان یو مهم رکن دی.

هـ: د دې خبرې تصدیق هم ضرور دی چې یقیناً الله ﷻ هغه څوک بېرته ژوندی راپاڅوي کوم چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په قبرونو کښې خاورې شوي دي.

نو خلکو ته په کار دي چې د خپل رب ﷻ څخه وډار شي، د قیامت په قیام باندې عقیده وکړي او بالآخره د شرکیاتو څخه خانونه بچ وساتي او خپل رب ﷻ واحد او لا شریک وګڼي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ﴾ کښې د "إِنْ" توری د شرط دپاره دی، نو پوښتنه دا ده چې کومه جمله ورته جزائیه جمله واقع شوې ده؟

مونږ وایو چې: جزائیه جمله یې مقدره ده چې په: "فَانْظُرُوْا إِلَى مَبْدَإِ خَلْقِكُمْ لِيَزُوْلَ رَيْبُكُمْ" باندې ترې تعبیر کولی شو.

اما د ﴿فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم﴾ الآية، یې دلیل دی چې په تقدیر باندې یې هم دلالت کوي نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای بنیادمانو! که تاسو د قیامت د ورځې څخه په شک کښې یاست چې مړي به بیا د قبرونو څخه راپورته کړی شي او که نه، نو تاسو په خپل ابتدایي پیدایښت کښې ښه فکر وکړئ ترڅو ستاسو شک لرې شي، دا څکه چې مونږ تاسو د خاورو څخه پیدا کړي یاست... تر آخره پورې.

۲_ په ﴿فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ﴾ کښې دېته اشاره ده چې لکه څنګه چې آدم ﷺ د خاورو څخه پیدا کړی شوی دی همدارنګه د ده اولاده (ټول بنیادمان) هم د خاورو څخه جوړ کړی شوي دي، البته په اعتبارونو سره چې ښه پوره شرحه یې د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۲] لاندې تېره شوې ده.

## د علقة او مضغة معناوې

۳_ په ﴿ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ﴾ کښې د لاندې لغتونو معناوې ولولئ:

الف: د ﴿عَلَقَةٍ﴾ کلمه هغې جامدې (پرنډ) وینې ته وضعه شوې ده کومه چې د نطفې (منی) څخه جوړه شوې وي او د مور په رحم کښې ترې ماشوم جوړېښت مومي[1].

په نوموړې کلمه کښې د "ة" توری په وحدت باندې دلالت کوي، یعنې یوه جامده (پرنډ) وینه، که د وحدت لحاظ پکښې مراعات نه شي نو بیا بدون د "ة" څخه استعمالېږي لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ﴾ [العلق: ۲] یعنې الله ﷻ بنیادم د جامدې (پرنډ) وینې څخه پیدا کړی دی.

ب: د ﴿مُّضْغَةٍ﴾ کلمه د هغې یوې بوټۍ خامې غوښې نوم دی کومه چې هډوکي ونه لري، او نرمه پسته وي، ته به وایې چې په خوله کښې ژوېله شوې ده[2]، یا په بل عبارت: دا د هغې نطفې نوم دی کومې چې اوله مرحله تېره کړې وي او په دوهمه مرحله کښې د بوټۍ غوښې په شکل قرار ولري.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۵

(۲) لسان العرب ج۸ ص۴۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "مُخَلَّقَة" او "غَيْر مُخَلَّقَة" معناوې

۴_ د ﴿ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ ﴾ دپاره مفسرينو كرامو ګڼ شمېر تفسيرونه كړي دي لاندې مثالونه يې ولولئ[۱]:

الف: "مُخَلَّقَة" د هغې غوښې ټوټه عبارت ده چې مكمل انسان ترې جوړ شي او "غَيْر مُخَلَّقَة" هغه غوښه ده چې د انسان د جوړښت مرحلې ته ونه رسېږي او د رحم ټوټه ولوېږي (سقوط وكړي).

ب: "مُخَلَّقَة" هغه ده چې انسان ترې جوړ شي او روح پكښې پو كړى شي (ژوندى شي) او "غَيْر مُخَلَّقَة" هغه ده چې انسان ترې جوړ شوى وي خو روح پكښې نه وي پو كړى شوى (د ژوند مرحلې ته نه وي رسېدلى).

ج: "مُخَلَّقَة" هغې ساقطې شوې غوښې ته ويل كېږي چې د انساني څېرې ټوټه وروسته سقوط وكړي او "غَيْر مُخَلَّقَة" د هغې ټوټه عبارت ده چې د انساني څېرې د قبول ټوټه وړاندې سقوط وكړي.

د: "مُخَلَّقَة" هغه جنين دى چې "تَامُ الْخَلْق" وي، اندامونه يې برابر وي، او "غَيْر مُخَلَّقَة" هغه دى چې په اندامونو كښې يې نقصان وي.

### تبصره

۵_ كه څه هم مفسرين كرام دوهم تفسير ته ترجيح وركوي[۲] چې ذكرې شوې دواړه كلمې د ﴿ مُّضْغَةٍ ﴾ دپاره صفتونه واقع شوې دي چې په دوه وو برخو باندې يې وېشلې ده:

يوه برخه هغه بوټى غوښه ده چې نور تخليق هم پكښې صورت ونيسي او په روح باندې ژوندى شي لكه چې الله ﷻ ورته په بل ايت كښې اشاره كړې ده چې: ﴿ ثُمَّ أَنشَأْنَهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ﴾ [المؤمنون:۱۴] يعنې مونږ بيا په بل پيدايښت سره انسان ته نشئت (پيدا كول) وركړه؛ بله هغه بوټى غوښه ده چې انساني مجسمه ترې جوړه شوې وي خو روح پكښې نه وي اچولى شوى او بل پيدائښت نه وى وركړى شوى.

مګر مونږ ته ذكره شوې ترجيح په زړه پورې نه برېښي او دا څكه چې دغه ايت شريف په كوم كښې چې بحث روان دى په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ﴾ سره شروع شوى دى، نو په كار دي چې په ايت شريف كښې به هغو مراحلو ته د خلكو توجه اړول مطلب وي كومې چې په دوى باندې تېرې شوې وي او يا پرې تېرېږي، او پوره واضحه ده چې د "النَّاس" په مصداقاتو كښې هغه جنين شموليت نه لري كوم چې د ژوندي كېدلو څخه وړاندې سقوط وكړي.

نو زمونږ په نزد ـوالله ﷻ أعلمـ څلورم تفسير غوره برېښي. دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ وَنُقِرُّ فِى ٱلْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ ﴾ كښې زمونږ په نزد د "ما" كلمه د هغه جنين څخه عبارت ده د كوم چې ژوندى

---

(۱) زاد المسير ج۵ ص۲۷۹؛ روح المعاني ج۱۷ ص۱۱۶؛ التفسير الكبير ج۲۳ ص۸
(۲) تفسير الطبري ج۱۷ ص۱۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي دي، برابره خبره ده چې تامُ الخلق وي (اندامونه يې پوره وي) او يا تسام الخلق نه وي (چې په ځينو اندامونو كښې يې نقصان او يا كمبود او زيادت وي).

نو په دې تقدير به يې حاصل يې داسې راوځېږي چې كله مونږ د انسان توخم (نطفه) د بوټي غوښې مرحلې ته ورسوو نو بيا پكښې د خپلې ارادې مطابق څه نور پيدا كول هم وراضافه كړو چې چاته پوره اندامونه ورکړو او ژوند ورکړو او چاته څه ناقص اندامونه ورپېرزو كړو او ژوند ورکړو، ترڅو تاسو ته د خپل كامل قدرت مثالونه وښايو، بيا نو مونږ ذكر شوي جنين ته (چې د ژوند خاوند دی او اندامونه يې پوره يا ناقص دي) د خپلې ارادې په اقتضاء يا سقوط وركوو او يا د ټاكلې شوې نېټې پورې د مور په رحم كښې قرار وركوو، ترڅو په خپل وخت كښې په نورمال حال باندې تولد شي.

## عجيبه يادونه

۶ـ په دې مقام كښې ځينو مفسرينو كرامو[۱] د هغو ناقص الاعضاء اولادونو دپاره متعدد مثالونه ښودلي دي كوم چې غبرګوني تولد شي او په ځينې اندامونو كښې دواړه متحد وي، مثلاً د دواړو دپاره يوه سينه وي او يا ورته يوه ګېډه وي او داسې نور. نو كه څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وكړي او پخپله دې ولولي، مونږ ته يې دلته رانقلول چندان ګټور ونه برېښېدل.

## سوال جواب

۷ـ كه څوک وايي چې: د ذكرو شوو مراحلو ترمنځ څومره تفاوت واقع كېږي؟ يا په بل عبارت: د يوې مرحلې څخه تر بلې مرحلې پورې څومره موده (زمانه) صورت نيسي؟

مونږ وايو چې: ذكر شوي سوال ته نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې داسې جواب ويلى دى چې: «إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَٰلِكَ عَلَقَةً مِثْلَ ذَٰلِكَ ثُمَّ يَكُونُ فِي ذَٰلِكَ مُضْغَةً مِثْلَ ذَٰلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ»[۲] يعني يقيناً ستاسو هر يو كس د مور په ګېډه كښې د نطفې په شكل تر څلوېښتو ورځو پورې مجموع پاتې كېږي، بيا هلته همدومره ورځې جامده (پرنډ) وينه جوړېږي، بيا هملته همدومره ورځې د ژويلې شوې غوښې په شكل ګرځي (چې ټولې يو سلو شل ورځې كېږي) بيا نو الله ﷻ پرښته وراستوي نو روح پكښې پو كړي او ژوندى ګرځي.

همدغه مضمون ته ورته مضمون د نبي كريم ﷺ څخه په نورو احاديثو كښې هم روايت شوى دى[۳].

## هېر مو نه شي!

۸ـ هېر مو نه شي چې په ﴿ ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ ﴾ كښې د ﴿ ثُمَّ ﴾ توری د عطف دپاره دی، نو دغه جمله په هغې مقدرې جملې باندې عطفه ده كومه چې د ﴿ ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ دپاره علت واقع

(۱) الجواهر للطنطاوي ج۱۱ ص۱۴
(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۲
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۶ ، ۴۶۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي ده نو مونږ ترې داسې تعبیر کوو چې: "لِتَكبُرُوٓا شَيئًا فَشَيئًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا أَشُدَّكُمْ"[۱] یعني بیا مونږ د رحمونو څخه تاسو په داسې حال کښې بهر راوباسو او د وتلو لاره درته اسانوو چې تاسو ماشومان یاست (البته) دا د دې دپاره چې تاسو په قراره-قراره غټ شئ بیا د دې دپاره چې تاسو خپل قوت ته ورسېږئ، چې عقل مو پوخ او بدن مو ښه قوي شي.

## رذالة څه معنی؟

۹_ په ﴿ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ ﴾ کښې د ﴿ أَرْذَلِ ﴾ کلمه صفت مشبه ده او د "رَذَالَة" _لکه "خَزَانَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د حقارة (سپکاوي) معنی ورکوي[۲]، پاتې شوه دا خبره چې سپک او بې عزته عمر د کوم عمر څخه عبارت دی؟ نو د دې جواب د عین ایت شریف په متصله ټکړه کښې ذکر دی چې: ﴿ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ﴾ یعنې ستاسو ځیني کسان بېرته د هغه عمر مرحلې ته وراړولی کېږي کومه یې چې په طفولیت کښې تېره کړې وه، چې هم یې بدن کمزوري درلوده او هم د عقلي او علمي کمزوریو درلودونکي وه، خو څرنګه چې هلته یې ثقل نه درلود نو په نقل او حرکت کښې په چا باندې بوج نه وه، مګر د بوډاتوب په حال کښې په نورو باندې بوج جوړېږي.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ»[۳] یعنې اې ربه! زه په تاباندې د دې څخه پنا غواړم چې بېرته حقیر عمر ته ورتاو کړی شم، او د طفولیت دوره راباندې بیا پیل شي.

## همود څه معنی؟

۱۰_ په ﴿ وَتَرَى ٱلْأَرْضَ هَامِدَةً ﴾ کښې د ﴿ هَامِدَةً ﴾ کلمه د "هُمُود" _لکه "قُتُول"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د سکوت او مرګ معناوې ورکوي[۴] مګر کله چې ذکره شوې کلمه د ځمکې د صفاتو څخه وشمېرله شي نو په هغې ځمکې باندې دلالت کوي کومه چې وچه کلکه وي او د خاورو څخه پغیر پکښې ونه او بوټي موجودیت ونه لري.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: اې لیدونکیه! هرڅوک چې اوسې، ته وچې کلکې بې نباته ځمکې ته وګوره چې مونږ یې په باران باندې څنګه راشنه کوو او تروتازه باغونه پکښې زرغونوو، همدارنګه مونږ کامل قدرت لرو چې د قبرونو څخه مړي بېرته راژوندي کړو، او د حساب کتاب دپاره یې د محشر په میدان کښې ودروو.

## د بهجة معنی

۱۱_ په ﴿ مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴾ کښې د ﴿ بَهِيجٍ ﴾ کلمه د "بَهْجَة" _لکه "كَثْرَة"_ څخه اشتقاقه

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۹۴
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۲۸۱
(۳) سنن النسائي ج۳ ص۳۱۷
(۴) لسان العرب ج۳ ص۴۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هر هغه ځای ته چې د نبات او سبزیو ډېر ښکلي وي ورته «بهيج» ويل کيږي⁽¹⁾. يعني وچه ځمکه چې کله په اوبو سره هر ډول ښایسته او ښکلي (دولي) نباتات را زرغونوي.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبۡعَثُ مَن فِي ٱلۡقُبُورِ﴾ مضمون ته خو يو ځل په ﴿وَأَنَّهُۥ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ﴾ کښې اشاره شوې وه، نو پوښتنه دا ده چې د همدغه مضمون په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

ځواب يې دا دی چې: د ﴿ٱلۡمَوۡتَىٰ﴾ د کلمې څخه بې روحه شيان مطلب دي لکه خاوره، نطفه او داسې نور، الله ﷻ فرمايي: ﴿كَيۡفَ تَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمۡ أَمۡوَٰتٗا﴾ [البقرة:۲۸] يعني اى بنيادمانو! تاسو په الله ﷻ سره څنګه کافر کېږئ حال دا چې تاسو بې روحه وئ او په روح سره يې ژوندي کړئ.

او د ﴿مَن فِي ٱلۡقُبُورِ﴾ څخه هغه څوک مراد دي د کومو څخه چې روح جدا شوی وي او مړه شوي وي.

نو د لومړنی جملې حاصل دا دی چې: يقيناً الله ﷻ په بې روحه شيانو کښې روح اچوي چې وړاندې وروسته يې د ژوند مرحله نه وي تېره شوې. او د دوهمې جملې مضمون دا دی چې: يقيناً الله ﷻ هغه مړي بېرته را ژوندي کوي کومو چې د ژوندون دوره يو ځل تېره کړې وي. نو په همدې بنياد په دواړو ايتونو کښې يو مضمون نه دی تکرار شوی.

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ ۝٨ ثَانِيَ عِطۡفِهِۦ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ لَهُۥ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَنُذِيقُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ۝٩ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ يَدَاكَ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ۝١٠﴾

[۸] او د خلکو د جملې څخه ځينې هغه څوک دي کوم چې د الله ﷻ په هکله بدون له ضروري علم او بدون له نظري علم او (بالآخره) بدون له روښانه کتاب څخه جګړې کوي.

[۹] (البته) په داسې حال کښې (جګړې کوي) چې خپل څنګ (اړخ) ئې اړوونکي وي (تکبر کوونکي وي)، ترڅو (نور خلک) د الله ﷻ د لارې څخه واړوي (او بې لارې يې کړي).

نوموړي جګړمار ته په دنيا کښې رسوايي (شرمندګي) ده، او مونږ به د قيامت په ورځ سوزوونکی عذاب وروڅکو (وربانديې مسلط کړو).

[۱۰] (هلته به ورته وويلی شي چې:) دغه سزا د هغه شي په سبب (درکړه شوه) کوم چې ستا دواړو لاسونو وړاندې رالېږلي وه، او يقيناً الله ﷻ په بندګانو باندې ظلم (او تېری) کوونکی نه دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د توحيدي عقيدې د حقيت براهينو او دلايلو ته اشاره شوې وه، او په

⁽¹⁾ لسان العرب ج۲ ص ۲۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


دي ایتونو کښې د شرکي باطلې عقیدې بې ثباتی ته اشاره کېږي، چې د ثبوت دپاره یې هیڅ دول دلیل موجودیت نه لري او په ابطال باندې یې غیر متناهي دلایل او براهین دلالت کوي، چې حاصل یې داسې راځي:

۱ـ ای پیغمبره! ځینې خلک د الله ﷻ په وحدانیت او د ده ﷻ په کامل قدرت کښې (چې مړي به بېرته راژوندي کړي او قیامت به قائم کړي) صرف په تخمین او اټکل سره مجادله او جګړه کوي. د دوی جګړه د هغو شیانو په بنیاد باندې ولاړه نه ده کوم چې د مجادلې او جګړې دپاره ضرور دي هغه دا چې:

الف: د دغو جګړمارانو سره په خپلو باطلو عقایدو باندې ضروري علم نشته لکه څنګه چې د اهل الحق سره په خپله توحیدي حقه عقیده باندې ضروري علم شته دی.

ب: همدارنګه دوی په خپلو اباطیلو باندې استدلالات او براهین هم نه شي قائمولی لکه څنګه چې اهل الحق په خپله مدعی باندې عقلي استدلالات قائموي.

ج: بالآخره د هغوی سره روښانه کتاب او اسماني وحې هم موجودیت نه لري لکه څنګه چې د اهل الحق عقیده په ټولو اسماني کتابونو باندې تائیده شوې ده او ټولو پیغمبرانو ورته په خپلو خپلو وختونو کښې دعوتونه چلولي دي.

۲ـ نو د دغو جګړمارانو جګړه فقط د تکبر او عناد څخه منشأ اخلي او صرف د تکبر او عناد د کبله د حق څخه خپل څټ تاووي او مخ ترې اړوي، خو دا ټولې هلې ځلې یې د دې دپاره دي چې په خپلې ګمراهی باندې علاوه نور خلک هم د حقې او سمې لارې څخه واړوي او د خپل ځان په شان یې بې لارې کړي.

۳ـ د دغسې عنادي خلکو دپاره لاندې جزاوې ټاکلې شوې دي:

الف: همدوی لره په دنیا کښې رسوایي او شرمندګي ده چې په یو وخت کښې به ورسره مخامخ شي او د اسلام د ترقی مخنیوی به ونه شي کړی.

ب: همدوی ته به مونږ د قیامت په ورځ سوزوونکی عذاب وروڅکو، او پرې اخته به یې کړو، نو دغسې عنادي کفارو ته د دنیا او د آخرت دواړو خساره او زیان متوجه دی.

۴ـ ای پیغمبره! همدوی به د قیامت په ورځ مخاطب کړی شي او ورته به وویلی شي چې: دا هغه څه دي کوم چې تاسو په خپلو لاسونو باندې خپلو ځانونو ته وړاندې را استولی وه، او اوس ورسره لاس او ګرېوان شوئ، که نه نو الله ﷻ بې شکه په خپلو بندګانو او خپلو مخلوقاتو باندې ظلم کوونکي نه دي، نو که بالفرض تاسو کفریات او شرکیات نه وی کړي نو دغه سزا به نه وی درکړې شوې او دوزخ ته به په دوامداره توګه نه وی وراچولی شوي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَـٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾ ایت ته ورته ایت شریف خو په عین سورت کښې لږ وړاندې په دریمه شمېره کښې تېر شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې په تکراري

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نزول کښې يې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د دواړو ايتونو په مضمون کښې تکرار نشته بلکې لومړنی ايت هغو جګړمارانو ته اشاره کوي کوم چې د خپل ځان د ګمراهی دپاره په جګړو پيل کوي، او دلته هغو ته اشاره شوې ده کوم چې د نورو د ګمراه کولو دپاره تاند وهي او کوښښ کوي. د همدې کبله هلته په ﴿ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَٰنٍ مَّرِيدٍ ﴾ سره ايت شريف ختم شوی دی، يعنې د هر خير او ښېګنې څخه د خالي شيطان پيروي کوي. او دلته ذکر شوي کلمات په ﴿ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ سره تعقيب شوي دي، يعنې دغه باطلې جګړې د دې دپاره کوي چې نور خلک د الله ﷻ د حقې لارې څخه واړوي

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وايي چې: په ايت شريف کښې د باطلو جګړمارانو څخه په ﴿ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴾ کښې درې شيان ﴿ عِلْمٍ ﴾، ﴿ هُدًى ﴾، ﴿ كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴾ سلب شوي دي، نو پوښتنه دا ده چې دغه درېواړه په دې مقام کښې څه فرقونه لري؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د ذکرو شوو درېواړو شيانو دپاره په دې مقام کښې لاندې فرقونه کړي دي[۱]:

الف: د ﴿ عِلْمٍ ﴾ څخه هغه علم مطلب دی کوم چې ضروري وي او استدلال ته ارتيا نه لري لکه ليدل او داسې نور، يعنې جګړمارانو ته په خپله مدعی باندې ضروري علم نشته چې مثلاً په سترګو وليدل شي.

ب: د ﴿ هُدًى ﴾ څخه استدلالي او نظري علم مراد دی، يعنې هغوی په خپلو شرکياتو باندې کوم عقلي او نظري دليل هم نه شي قائمولی او نه شته چې ګټه ورته ورسوي.

ج: د ﴿ كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴾ څخه وحې مطلب ده، يعنې هغوی د اسماني کتابونو او د پيغمبرانو د پلوه هم څه دليل نه شي موندلی چې د دوی شرکيات تائيد کړي.

## د څنګ تاوول يعنې تکبر کول

۳_ په ﴿ ثَانِيَ عِطْفِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ ثَانِيَ ﴾ کلمه د "ثناء" _لکه "بقاء"_ څخه اشتقاقه شوې ده، ثناء اصلاً دې ته وضعه شوې ده چې دوه شيان ونغښتلی او تاو کړی شي[۲]، او د عطف کلمه د انسان يوه هغه اړخ معنی ورکوي کوم چې د سر څخه پيل کېږي او په کنانې باندې ختمېږي[۳].

نو که څه هم د ذکر شوي عبارت تحت اللفظي معنی دا ده چې ځينې خلک بلا دليله د الله ﷻ په هکله په داسې حال کښې جګړې کوي چې خپل اړخ (څنګ) يې يو طرف ته کوږ نيولی وي: مګر په

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۹۶
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۱۱۵
(۳) مفردات الراغب ص۳۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



محاوراتو کښې ذکر شوی عبارت د تکبر څخه کنايي اخستلی کېږي(۱)، يعنې په داسې حال کښې جګړې کوي چې تکبر کوونکي دي.

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعۡبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرۡفٖۖ فَإِنۡ أَصَابَهُۥ خَيۡرٌ ٱطۡمَأَنَّ بِهِۦۖ وَإِنۡ أَصَابَتۡهُ فِتۡنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجۡهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةَۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١١﴾ يَدۡعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلۡبَعِيدُ ﴿١٢﴾ يَدۡعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقۡرَبُ مِن نَّفۡعِهِۦۚ لَبِئۡسَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَلَبِئۡسَ ٱلۡعَشِيرُ ﴿١٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۱] او د خلکو څخه ځينې هغه کسان دي کوم چې د الله ﷻ عبادت په يوه څنډه باندې کوي (او څه غرض او څه شرط يې په نظر کښې نيولی وي هغه دا چې:) که نوموړي ته څه خير (خوشالي) ورسېږي نو د الله ﷻ په عبادت باندې ارام نيسي (چې دا ښه دين دی)، او که کومه فتنه ورته ورسېږي (او په مصيبت سره د امتحان لاندې واقع شي) نو په خپل مخ باندې بېرته ګرځي (مرتد کېږي. په دې صورت کښې) په دنيا او آخرت (دواړو کښې) زيانمند شو، دغه چې دی همدغه څرګند زيان (او تاوان) دی.

[۱۲] نوموړی کس د الله ﷻ څخه په غير د هغه شي (بوت) عبادت کوي کوم چې ورته ضرر نه شي رسولی او د هغه شي کوم چې ورته ګټه (هم) نه شي رسولی، دغه چې ده (د حقيقت څخه) لرې ضلالت (او ګمراهي) ده.

[۱۳] نوموړی د هغه باطل معبود عبادت کوي کوم چې (د) ضرر (دپاره) يې (سبب جوړېدل) د ګټې (دپاره د سبب جوړېدلو) څخه نژدې دی (چې هغه واقعي دی او دغه توهمي او خيالي دی).

هرومرو ډېر بد کارساز (ناصر) او هرومرو ډېر بد ملګری دی (دغه باطل معبود).

[۱۴] يقيناً الله ﷻ هغه کسان کومو چې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي، داسې جنتونو ته داخلوي چې لاندې ترې (څلور) ويالې بهېږي، يقيناً الله ﷻ هغه څه کوي چې اراده يې وشي (اما بوتان نه اراده لري او نه څه کولی شي).

## ارتباط او شان نزول

په وړاندېنيو ايتونو کښې د هغو کفارو حال بيان شوی وه کوم چې په ډاګه په خپل کفر باندې کلک ولاړ وه، او په دې ايتونو کښې د هغو کفارو حال ته اشاره شوې ده کومو چې د خپل کفر په

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ځرګندولو کښې تذبذب درلود یا په بل عبارت: ځینې کسان د الله ﷻ په هکله یو بل ډول جګړه کوي، هغه دا چې د الله ﷻ حقانیت ته په دنیاوي مال او صحت پورې توقف ورکوي او دلایلو او براهینو ته نه ګوري. لکه چې په شان نزولونو کښې پرې رڼا اچولې شوې ده هغه دا چې[1]:

الف: د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: په خلکو کښې داسې خلک هم وه چې کله به مدینې منورې ته راغله او مېرمنې به یې زوی (هلک) وزېږاوه او اسپه به یې لنګه شوه نو ویل به یې چې دغه د اسلام دین صالح (او ډېر ښه دین) دی، او که خبره به بالعکس شوه چې مېرمنې به یې ماشوم ونه زېږاوه او اسپه به یې هم لنګه نه شوه نو ویل به یې چې دا ډېر بد او ناکاره دین دی[2].

ب: یوه ورځې یو اعرابي سړی مدینې منورې ته راغی او د نبي کریم ﷺ سره یې په اسلام باندې بیعت وکړ، خو نوموړي ته د تبې شدت ورسېد او مریض شو، نو نبي کریم ﷺ ته ورغی او عرض یې وکړ چې ماته خپل بیعت اقاله (فسخه) کړه، مګر نبي کریم ﷺ یې وړاندیز منظور نه کړ آن تر دې چې درې کرته یې خپل وړاندیز تکرار کړ. بالآخره نوموړی اعرابي د مدینې منورې څخه بهر شو نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَتَنْصَعُ طِيبَهَا»[3] یعنې یقیناً مدینه منوره داسې ده لکه د پخ نغری (بټۍ) چې د خپلو اوسپنونکو څخه ناپاکه نفي کوي او دباندې یې غورزوي او خپل پاکیزه اوسپدونکي لا زیات تصفیه کوي، چې د بهر تښتیدلو اراده ورسره نه پیدا کېږي.

مونږ پخوا څو کرته ـ د الله ﷻ په توفیق ـ لیکلي دي چې سلفو صالحینو به په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[4]، نو که ذکرې شوي دواړه روایتونه یې شان نزولونه وګڼو هم څه باک یې نشته ځکه چې دواړه د ایتونو د مصداقاتو څخه شمېرل کېږي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې د کافرانو د جملې څخه د یوې مذبذبې ډلې حال هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ په خلکو کښې داسې خلک هم شته چې په اخلاص سره په اسلام کښې نه داخلېږي او په یو شرط سره ورته غاړه ږدي، ته به وایې چې د اسلام په څنډه ولاړ دی او څارنه کوي که شرط یې پوره شو د څنډې څخه داخل ته وردانګي، او که پوره نه شو نو بېرته ستنېږي.

دغسې خلک اصلاً د الله ﷻ بندګي نه کوي بلکې د خپلو منافعو بندګان دي، نو د همدې کبله کله چې ورته د ایمان د راوړلو سره جوخته ګټه ورسېږي نو په ایمان باندې یې زړه ارام نیسي، چې اسلام ډېر ښه دین دی ماته پکښې فلانکۍ ګټه ورسېده، او که په عین حال کښې ورته څه تاوان ورسېږي نو سمدستي د اسلام څخه مخ اړوي او بېرته ترې په ستنه تاوېږي، او وایي چې دا

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲۸۱؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۰۷
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۴
(۳) سنن النسائي ج۲ ص۱۸۲؛ صحیح مسلم ج۱ ص۴۴۴
(۴) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

بلکه دین نه دی زه پکښې د تاوان سره مخ شوم.
نو په دغه وخت کښې نوموړی په دواړو دنیاوو کښې د خسران او تاوان سره مخ کېږي او د دواړو منافع یې د لاسه وځي، آخرت خو یې ځکه د لاسه ورکړ چې کفر ته تاو شو او مرتد شو، او په دنیا کښې یې دنیاوي منافع د لاسه وواته.
دغه په دواړو دارینو کښې تاواني کېدل ډېر واضحه او څرګند تاوان دی.

۲ـ د نوموړي مذبذب کافر دا خیال دی چې که ما د توحید کلمه نه وی ویلې نو د تاوان سره به نه وی مخ شوی او باطلو معبودانو به د تاوان څخه بچ کړی وی، حال دا چې حقیقت داسې نه دی، حقیقت دا دی چې نوموړی د داسې شیانو (بوتانو) عبادت کوي چې نه یې د ضرر او تاوان څخه بچ کولی شي او نه ورته د ګټې رسولو توان نه لري.
ای پیغمبره! د حق او حقیقت څخه لرې ګمراهي دغه ده چې نوموړي د هغه اقدس ذاتِ بلند پرېښودله چې تاوان او ګټه یې دواړه په اختیار کښې دي او د داسې ناتوانه شیانو بلنه یې پیل کړه چې هیڅ شی یې په واک کښې نشته!

۳ـ ای پیغمبره! که څه هم باطل معبودان د عدم عبادت په صورت کښې ضرر نه شي رسولی او د عبادت په صورت کښې د ګټې د رسولو توان نه لري، مګر د ضرر دپاره یې سببیت یقیني دی چې سمدستي پرې سړی کفر ته وځي چې په مقابل کښې یې جهاد کول حتمي دي، او که بالفرض ذا کار یو مسلمان وکړي نو سمدستي پرې مرتد ګرځي چې باید اعدام شي؛ اما د شفاعت کومه تمه چې ـ د کفارو په خیال ـ د قیامت په ورځ به صورت ونیسي هغه وهمي ده او په ثبوت باندې یې هیڅ دلیل نه شي اقامه کولی، نو هلته به څرګنده شي چې هغه هم څه واقعیت نه لري.
نو پوره واضحه شوه چې باطل معبود ډېر بد کارساز دی چې ضرر یې نږدې او یقیني دی او ګټه یې لرې او وهمي ده، همدارنګه باطل معبود ډېر بد ملګری دی چې د ګټې سبب نه شي جوړېدلی او د ضرر سبب سمدلاسه جوړېږي.

۴ـ دا وه د مذبذبینو خلکو حالت چې اسلام ته په اخلاص نه وردا خلېږي، نو د دوی ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی، مقبول ایمان د هغه چا دی چې اسلام ته په اخلاص سره ورداخل شي او بې قیدو شرطه په ایمان مشرف شي.
نو دغسې مخلص مؤمنان به (چې د ایمان سره یې نېک عمل هم ملګری کړی وي) الله ﷻ داسې جنتونو ته داخل کړي چې لاندې ترې څلور ډوله ویالې بهېږي چې: د اوبو به بېله ویاله وي، د شاتو، شرابو او بالآخره د شودو به پکښې بېلې-بېلې ویالې روانې وي.
او دا ځکه چې الله ﷻ هغه شی کوي کوم ته یې چې اراده وشي، که بالفرض د ده ﷻ اراده شوې وی چې دنیاوي منافع به مؤمنانو پورې خاص وګرځوي نو دا کار به یې هم کړی وی خو دغسې نه ده، دنیاوي منافع الله ﷻ مؤمنانو او کفارو دواړو ډلو ته د خپل حکمت په مقتضی ورکوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ﴾ کښې د "حرف" کلمه د طرف او څنډې دپاره وضعه شوې ده[۱] خو په دې مقام کښې ورته متصله تکره تفسیر واقع شوې ده، چې: ﴿ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ﴾ الآية. يعني په خلکو کښې څينې داسې خلک هم شته چې د ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدْخُلُواْ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً ﴾ [البقرة:۲۰۸] په مطابق په ټول اسلام او په ټول دين کښې نه ورننوځي بلکې د دين په يوه څنډه کښې توقف کوي او ګوري، نو که خير او ښېګڼه ورته.ورسېږي نو زړه يې ارام نيسي چې دا ډېر ښه دين دی چې ماته په اول خل ترې ښېګڼه راورسېدله، او که څه مصيبت ورته ورسېږي او د کوم امتحان لاندې واقع شي نو په خپل مخ باندې بېرته کفر ته ګرځي او اسلام ته شا کوي، بلکې په ډېره جلتۍ سره په کفر کښې ورداخلېږي او د اسلام توهين کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې په ﴿ يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُۥ وَمَا لَا يَنفَعُهُۥ ﴾ کښې د باطلو معبودانو څخه ضرر او نفعه دواړه منفي شوي دي او په ﴿ يَدْعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦ ﴾ کښې ورته دواړه اثبات شوي، فقط په همدومره تفاوت سره چې ضرر يې نژدې دی او ګټه يې لرې ده؛ نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه دواړه ايتونه په مفهوم کښې تناقض نه لري؟

مونږ وايو چې: د همدغه ظاهري تناقض د جوابولو دپاره علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي دي[۲] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په دواړو ايتونو کښې څکه تناقض نشته چې[۳]: په لومړني ايت کښې الله ﷻ د باطلو معبودانو حال بيان کړی دی چې د واقع سره مطابق دی او په دوهم ايت کښې الله ﷻ د بوت پرستانو هغه خبره راحکايت کړې ده کومه به چې دوی د قيامت په ورځ وايي. نو په همدې بنياد دوهم ايت داسې تحليلوي:

اول: د ﴿ يَدْعُواْ ﴾ کلمه د "يَقُوْلُ" معنی ورکوي.

دوهم: د ﴿ لَمَن ضَرُّهُۥٓ أَقْرَبُ مِن نَّفْعِهِۦ ﴾ مبتدأ ده.

دريم: د ﴿ لَبِئْسَ ٱلْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ ٱلْعَشِيرُ ﴾ کلمات د مقدر قسم دپاره جواب دی، چې د قسم جمله د خپل جواب په معيت سره د ذکرې شوې مبتدأ دپاره خبر واقع کېږي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د قيامت په ورځ چې بوت پرست کافر د يو پلوه په عذاب باندې متيقن شي او د بله پلوه د خپلو باطلو معبودانو د شفاعت څخه نااُميده شي نو وبه وايي چې ضرور هغه څوک چې ضرر يې د ګټې څخه ډېر نژدې او ډېر يقيني دی هرومرو سوګند دی چې ډېر

[۱] مفردات الراغب ص۱۱۲
[۲] التفسير الكبير ج۲۳ ص۱۴؛ روح المعاني ج۱۷ ص۱۲۵؛ تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۹
[۳] تفسير الكشاف ج۳ ص۱۴۷؛ تفسير ابي السعود ج۶ ص۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بد کارساز (ناصر) دی او ډېر بد انډيوال دی، چې د باطل معبود څخه عبارت دی.

ب: تناقض څکه نشته چې[1]: په لومړني ايت کښې الله ﷻ د هغو بوتانو او باطلو معبودانو حال بيان کړی دی کوم چې جمادات دي او مشرکانو په خپلو لاسونو جوړ کړي دي، او په دوهم ايت کښې هغو باطلو معبودانو ته اشاره ده کوم چې ژوندي دي او په خپلو خولو خلکو ته دعوت ورکوي چې د الله ﷻ د عبادت په عوض زمونږ عبادت وکړئ، لکه چې فرعون خپل خان ته د لوی رب لقب ورکړی وه او خلک به يې هڅول چې د ده د مانۍ څخه چارچاپېره طواف وکړي. د همدې کبله په دوهم ايت کښې د "من" کلمه نازله شوې ده چې په ذو العلمو کښې استعمالېږي:

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ځينې مشرکان د ژونديو بوتانو عبادت کوي چې د دوی د عبادت ضرر ډېر نژدې دی څکه چې خپل عبادت کوونکي کفر ته وباسي، اما ګټه يې معلومه نه ده چې ورته به يې ورسولی شي او که نه څکه چې هر څه د الله ﷻ په قدرت کښې دي او بس.

ج: تناقض څکه نشته چې[2]: دوهم ايت شريف عين د اولني ايت مفهوم اداء کوي خو په نورو عباراتو سره، هغه دا چې د دوهم ايت مفهوم دا دی چې د باطلو معبودانو ضرر او ګټه دواړه بعيد او لرې دي خو ګټه يې ډېره لرې ده، او په عربي کلام کښې کله-کله په معدوم شي کښې د بعيد کلمه استعمالېږي، لکه چې الله ﷻ د کفارو د خولو څخه حکايت کوي چې: ﴿ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ﴾ [ق:۳] يعنې کفار وايي چې دغه د مړو بيا راژوندي کېدل لرې بېرته راګرځېدل دي (بلکې معدوم دي او تحقق نه شي درلودلی).

د: تناقض څکه نشته چې[3]: په لومړني ايت کښې د باطلو معبودانو څخه ضرر او ګټه د خپلو نفسونو په اعتبار سره نفي شوي دي چې د دوی د لاسه هيڅ شی پوره نه دی، او په دوهم ايت کښې ورته دواړه (ضرر او ګټه) د سبب په اعتبار سره ثابت ګرځولی شوي دي، لکه چې الله ﷻ د ابراهيم ﷺ د خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ [إبراهيم:۳۶] يعنې ای زما ربه! يقيناً دغو بوتانو ډېر خلک ګمراه کړي دي (د بوتانو په سبب بې لارې شوي دي).

که څه هم په باطلو معبودانو کښې په خپل ذات او واقع کښې څه ګټه نشته مګر د مشرکانو په ګومان پکښې د شفاعت ګټه شته، چې په ثبوت باندې يې هيڅ دليل نه شي قائمولی او نه په واقع کښې کوم ثبوت لري. نو حاصل يې به يې په دې تقدير داسې راوخېژي چې: د بوتانو د لاسه هيڅ شی پوره نه دی چې پخپله يې وکړی شي، اما د ضرر دپاره يې سبب جوړېدل يقيني دي، او د ګټې دپاره يې سبب جوړېدل توهمي او خيالي دي.

الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي خو مونږ ته همدا څلورم جواب په زړه پوری برېښي.

---

(۱) البحر المحيط ج۷ ص۴۸۹
(۲) تفسير المظهري ج۶ ص۲۵۸
(۳) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ثُمَّ
لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ۝١٥ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ وَأَنَّ
ٱللَّهَ يَهْدِي مَن يُرِيدُ ۝١٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلْمَجُوسَ
وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝١٧﴾

[۱۵] هرڅوک چې ګومان کوي چې (د ده د کوښښونو د کبله) به هیڅکله الله ﷻ د خپل پیغمبر سره په دنیا او آخرت کښې نصرت (کومک) ونه کړي، نو نوموړی کس دې اسمان (د کوټې چت) ته پرې وغزوي (او) بیا دې (پرې خپل نفس) قطعه کړي (خپل ځان دې زندی کړي)، نو (د دې نقشې د تصور ځخه) وروسته دې وګوري (ښه فکر دې وکړي ترڅو پوه شي چې): ایا هرومرو د ده چل (ذکره شوې نقشه) هغه شی د منځه وړلی شي کوم چې نوموړی کس یې په غُصه کړی دی؟

[۱۶] او (ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ تاته ذکر شوی واضحه دلیل درنازل کړ) همدارنګه تاته ټول قرآن کریم په داسې حال کښې درنازلوو چې پوره واضحه دلایل دي، او (همدارنګه دا خبره هم درنازلوو چې) یقیناً الله ﷻ هغه چاته هدایت کوي (د ایمان راوړلو توفیق ورکوي) کوم ته یې چې اراده وشي.

[۱۷] یقیناً هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او هغه کسان کوم چې یهودان شوي دي او (هم) صابیان او نصارا او (بالآخره هم) مجوسیان او هغه کسان کومو چې (الله ﷻ سره په عبادت کښې) شرک غوره کړی دی، (دوی ټول چې دي) یقیناً الله ﷻ به د دوی ترمنځ د قیامت په ورځ (حقه) فیصله وکړي (چې څوک په دنیا کښې په سمه لاره باندې روان وه او چا کږه لاره غوره کړې وه).

## ارتباطونه

۱_ د سورت د پیل ځخه په دې کښې خبره راروانه ده چې ځینې خلک د الله ﷻ ځخه نه دارېږي چې یا په اسلام کښې جګړې کوي او یا یې حقانیت ته په دنیاوي منافعو پورې توقف ورکوي، دا ټول د دې موخې دپاره چې د اسلام د پرمختګ مخه ونیسي او حقانیت یې د خلکو ځخه پټ کړي.

په دې ایتونو کښې دغسې ټولو خلکو ته مایوس کوونکی جواب ورکړی شوی دی چې د اسلام د پرمختګ مخنیوی هیڅوک او په هیڅ وجه امکان نه لري.

۲_ وراندېنې ایتونه په دې مضمون تمام شوي وه چې الله ﷻ هغه څه کوي کومو ته یې چې اراده وشي، په دې ایتونو کښې عین مضمون د مثال په ضمن کښې واضحه کړی شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! هغو خلکو ته په یوه مثال کښې مایوس کوونکی جواب ورکړه کوم چې د اسلام د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترقی مخنیوی کوي ترڅو په خپلو هلو ځلو سره اسلام توهین کړي او خلک ګمراه کړي. هغه دا:

۱ـ هرڅوک چې دا خیال کوي چې په خپلو بدو تدابیرو او چلونو باندې به د اسلام د ترقی مخه ونیسي، یا په بل عبارت، چې دوی به وکړی شي چې الله ﷻ د خپل پیغمبر د کومک څخه منعه کړي چې په دنیا کښې یې په دښمنانو باندې غالب کړي او په آخرت کښې ورته لوړې درجې ورکړي؛ نو دغسې خلک دې پوره زیار وباسي او خپل ټول باطل تدابیر دې په کار واچوي او بیا دې وګوري چې د دوی تدابیرو ورته څه ګټه ورسوله او که د همدوی په ضرر تمام شوه. د مثال په توګه:

الف: یو پړی دې د خپلې کوټې په چت او یا په یوه بل لوړ ځای کښې بند کړي.

ب: همدغه پړی دې حلقه کړي او خپل سر دې پکښې ورننباسي ترڅو خپل نفس پرې کړي او خپل ځان په زندنۍ سره ووژني.

ج: ذکره شوې نقشه دې په خپل ذهن کښې په خپل ځان باندې عملي فرض کړي او بیا دې وګوري او ښه پوره فکر دې وکړي چې:

د: ایا دغه چل او دغه تدبیر به ورته څه ګټه ورسولی شي او کوم شي چې په غُصه کړی وه او ذکرې شوې نقشې ته یې هڅولی وه هغه به د منځه یوسي (په نبي کریم ﷺ باندې به د الله ﷻ نصرت قطعه کړي)؟ هیڅ کله به داسې ونه شي.

۲ـ ای پیغمبره! مونږ تاته دغسې واضحه دلایل او براهین درنازلوو چې هیچا ته شک او شبه په زړه کښې نه پرېږدي خو د دې سره- سره ځینې خلک د خپل لجاجت او عناد څخه لاس نه اخلي، نو د دې اصلي وجه دا نه ده چې دلایل لږ دي او یا په مطالبو باندې پوره رڼا نه شي اچولی بلکې اصلي وجه یې دا ده چې الله ﷻ د دغسې خلکو د هدایت اراده نه ده کړې او الله ﷻ خو هغه چا ته هدایت کوي او توفیق ورکوي کومو ته یې چې اراده وشي.

۳ـ ای پیغمبره! څرنګه چې ځینو خلکو په واضحه دلایلو باندې خپل ځانونه کاڼه اچولي دي او په خپلو باطلو لارو باندې کلک دي او د حق څخه اختلاف کوي نو ضرور به د دغسې فیصلو دپاره الله ﷻ د قیامت ورځ قائمه کړي ترڅو هر څوک دخپل خط السیر په جزا یا سزا باندې ورسېږي، نو په همدې بنیاد به ټولې ډلې فیصلې ته مبعوثې کړی شي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: هغه کسان به د قبرونو څخه راپورته کړی شي کومو چې په صحیحه توګه ایمان راوړی دی او مسلمانان دي.

ب: یهودان به هم فیصلې ته حاضر کړی شي کوم چې نن ورځ د موسی ؑ په نبوت باندې ایمان راوړي او بس.

ج: صابیان به هم په قبرونو کښې پاتې نه شي کړی کومو چې حق دین پرېښی دی نور نو په هره کنده کښې چې روان شوي دي (هر یو بل باطل دین یې چې خپل کړی دی).

د: د نصاراوو به هم همدغه حال وي څوک چې نن ورځ یوازې د عیسی ؑ په نبوت عقیده لري او بس.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸. مجوس یعني هغه خلک به هم را ژوندي کړی شي کوم چې په دوه وو معبودانو باندې قائل دي، او وايي چې د خير کارونه یو معبود کوي او د شر کارونه بل معبود ته پاتې دي.
و: بالآخره هغه کسان به هم د قیامت میدان ته حاضر کړی شي کومو چې شرک غوره کړی دی او معبودان یې د مجوسیانو په شان په دوه وو کښې حصر نه دي بلکې په غیر محصوره توګه یې په خپلو لاسونو باندې جوړوي او د اله (معبود) لقب ورکوي.
۴_ ای پیغمبره! خکه به هیڅوک او هیڅ شی د فیصلې څخه پټ پاتې نه شي چې یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې حاضر دی او په هر غیب باندې عالم دی چې هیڅ شی ترې هیڅکله نه شي غائب کېدلی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ فِي ٱلدُّنْيَا وَٱلْأَخِرَةِ ﴾ الآية، کښې چې کوم مثال ته اشاره شوې ده، په هغه کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال کړي دي او په متعددو طریقو سره یې تفسیر کړی دی(۱) چې مونږ فقط د لاندې دوه وو تفسیرونو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې مونږ ته غوره ښکاره شوي دي هغه دا:
الف: اکثرو علماوو کرامو چې ذکر شوی مثال په کوم ډول تفسیر کړی دی(۲) د هغه ډول تفسیر مهم ټکي دا دي:
اول: په ﴿ أَن لَّن يَنصُرَهُ ٱللَّهُ ﴾ کښې د "ه" ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع دی، که څه هم په وړاندېنیو ایتونو کښې په صراحت سره د "رَسُول الله" کلمه ذکره نه ده مګر حکمًا ذکره ده چې د یو پلوه وړاندې ﴿ يُجَٰدِلُ ﴾ کلمه دلالت کوي چې کفارو د همده ﷺ سره جګړې کولې، او د بله پلوه وړاندې په نژدې ایت کښې د ﴿ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ کلمات دلالت کوي، چې د ایمان د قبول دپاره خو په رسول الله ﷺ باندې تصدیق مهم رکن دی.
دوهم: په ﴿ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د "سَبَب" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف ۸۴] ایت لاندې شرحه کړې ده خو په دې مقام کښې ترې پړی یا رسی مطلب ده.
دریم: او د ﴿ ٱلسَّمَآءِ ﴾ څخه متعارف اسمان مراد نه دی چې هلته ختل د انسان د وسې څخه بهر دی او هلته څوک چل نه شي جوړولی، بلکې دلته ترې هغه شی مراد دی کوم چې د سرې د سر د پاسه وي(۳) لکه د کوټې چت او یا بل لوړ شی چې انسان پکښې تصرف کولی شي؛ په همدې مراد باندې په ﴿ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ ﴾ کښې د ﴿ كَيْدُهُۥ ﴾ کلمات دلالت کوي.
څلورم: په ﴿ ثُمَّ لْيَقْطَعْ ﴾ کښې د قطعه کولو څخه د کنایې په توګه اختناق (زندۍ کول) مطلب

---
(۱) التفسیر الکبیر ج۲۲ ص۱۵: تفسیر ابي السعود ج۶ ص۹۹: المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۸۳
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۱۲۷: تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۲۸
(۳) مفردات الراغب ص۲۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"ثُمَّ لِيَقْطَعْ نَفَسَهُ" نازل شوی دی.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي: هرڅوک چې په خپل خیال په حیلو او دسیسو سره د الله ﷻ د نصرت مخه نیولی شي نو ودې نیسي او الهي نصرت دې پرېږدي چې په پیغمبر باندې په دنیا او آخرت کښې ورنازل شي. نوموړی خیال کوونکی دې د خپل خیال د تحقق دپاره خپل ځان په ډېره تحقیر آمېزه طریقه باندې ووژني (خپل ځان دې د خپلې کوټې په چت کښې غرغره او په دار کړي، په اصطلاح ځان وژنه دې وکړي) ترڅو خپل هدف ته ورسېږي، خو د دې سره-سره به د الله ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ ونه شي ګرځېدلی. نو ضرور به الله ﷻ د خپل پیغمبر سره په دنیا کښې هم نصرت وکړي او په دښمنانو باندې به یې غالب کړي او په آخرت کښې به هم ورباندې خپل نصرت ورنازل کړي، لوړ درجات به ورته په نصیب کړي او دښمنان به یې په دائمي توګه په دوزخ کښې واچوي.

د ذکر شوي تفسیر د ښه وضاحت دپاره لاندې وضاحتونه ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ﴾ [آل عمران:۱۱۹] یعنې ای پیغمبره! څرنګه چې کفار ستا په نصرت باندې په غُصه دی نو دوی ته ووایه چې: تاسو د خپلې غُصې په سبب مړه شئ (خو زما سره خپل رب ﷻ په دنیا او آخرت کښې نصرت کوي).

دوهم: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾ [غافر:۵۱] یعنې یقینًا مونږ د خپلو پیغمبرانو او د هغو کسانو سره کومو چې ورباندې ایمان راوړی دی په نژدې ژوند کښې کومک کوو، او په هغې ورځ کښې هم چې شاهدان ودرېږي او د قیامت ورځ قائمه شي.

دریم: یوه ورځې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه چا د ذکر شوي ایت شریف د تفسیر پوښتنه وکړه نو هغه جواب ورکړ چې: «فَلْيَرْبِطْ حَبْلًا فِي سَقْفٍ ثُمَّ لِيَخْتَنِقْ بِهِ حَتَّى يَمُوتَ»[۲] یعنې تفسیر یې دا دی چې نوموړی کافر دې د کوټې د چت پورې پړی ځوړند کړي او بیا دې ورباندې خپل ځان غرغره (په دار) کړي، ترڅو چې مړ شي.

څلورم: څو ورځې وړاندې مو په رادیوګانو کښې واورېدل چې په بنګله دېش کښې یوه سړي خپل ځان ته اور واچاوه ترڅو په هغه شي باندې خپله غُصه څرګنده کړي په کوم باندې چې نوموړی حکومت ته په غُصه وه، خو حکومت ورباندې هیڅ چرت هم خراب نه کړ.

ب: ځینو نورو علماوو کرامو ذکر شوی مثال په بل ډول تفسیر کړی دی[۳] چې د اکثرو علماوو کرامو د تفسیر سره فقط په لاندې دوه وو ټکو کښې اختلاف لري:

اول: د ﴿السَّمَاءِ﴾ د کلمې څخه خپله متعارفه معنی مطلب ده.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۱۰
(۲) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۲۷
(۳) اضواء البیان ج۵ ص۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د ﴿ ثُمَّ لْيَقْطَعْ ﴾ څخه د وحې پرې کول مطلب دي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: هرڅوک چې په خپل خیال د پیغمبر سره د الهي نصرت مخه نیولی شي نو د پړي یا بلې ذریعې په سبب دې اسمان ته وخېږي او هغه وحې دې قطعه کړي کومه چې پیغمبر ﷺ ته د اسمانه رالېښکته کېږي، ترڅو د ده غُصه سړه شي، خو دا کار یې د وس پوره نه دی.

په همدې تفسیر باندې دا ایت شریف هم د اشارې په توګه دلالت کوي چې: ﴿ أَمْ لَهُم مُّلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ فَلْيَرْتَقُوا۟ فِى ٱلْأَسْبَٰبِ ﴾ [ص: ۱۰] یعنې: ایا د اسمانونو او ځمکو او د هغو شیانو واکداري د کفارو سره ده کوم چې د ځمکو او اسمانو ترمنځ دي (نو ځکه دوی د پیغمبر ﷺ په نبوت او نصرت باندې په غُصه دي)؟ نو که داسې وي نو د پړو او نورو وسائلو په ذریعه دې اسمان ته وخېږي او د الهي وحې او نصرت مخه دې ونیسي او یا دې په هغه چا باندې نازل کړي کوم چې د دوی زړه یې غواړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د لومړني تفسیر په بنیاد خو د ﴿ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُۥ مَا يَغِيظُ ﴾ د معنی حاصل داسې راځېږي چې د مرګ څخه وروسته دې وګوري چې د ده چل او کوښښ هغه شی د منځه وېووړ کوم چې نوموړی یې په غُصه کړی وه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا د مرګ څخه وروسته څوک کتل کولی شي؟

مونږ وایو چې: په ﴿ فَلْيَنظُرْ ﴾ کښې د "ف" توری د زمان تاخیر دپاره نه دی ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي بلکې دغه توری د رتبوي تاخیر دپاره دی، یعنې نوموړی کافر دې ذکره شوې نقشه په خپل ځان باندې په خپل تصور کښې تطبیق کړي، او بیا دې ښه دقیق ذهني نظر وکړي چې د نقشې تطبیق به ورته څه ګټه ورسوي(۱)؟.

## مجوس څوک دي؟

۳_ په ﴿ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلْمَجُوسَ ﴾ کښې د لومړنیو دریوو فرقو پېژاندنه د [البقرة:۶۲] ایت لاندې تېره شوې ده ـ و الحمد لله ﷻ، اما د "مَجُوس" کلمه د "مَجوسي" جمعه ده لکه چې "یهود" د "یهودي" جمعه ده، او مجوسي د هغه سړي لقب دی کوم چې مجوسیت ته منسوب وي(۲)؛ د مجوسیت تعریفونه دا دي:

الف: مجوسیت د هغه باطل دین نوم دی د کوم پیروان چې د لمر او سپوږمۍ او هم د اور عبادت کوي، او یا یوازې د اور په عبادت مشغول وي(۳).

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۷۸
(۲) لسان العرب ج۶ ص۲۱۵
(۳) روح المعاني ج۱۷ ص۱۲۹؛ المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغه دین دی چې پیروان یې د عالم د پیدا کولو دپاره په دوه وو اصلونو قائل دي چې یو "نور" دی، او بل "ظلمة" (تیاره) ده، د خیر کارونه "نور" پیدا کوي او د شر کارونه د "ظلمة" کار دی[۱].

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۩ ﴿١٨﴾﴾

[۱۸] (ای پیغمبره!) ایا ته نه ګوري (نه پوهېږې) چې یقیناً الله ﷻ چې دی همده ﷻ ته هغه څوک (هغه مخلوق) سجده کوي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه څوک (هغه مخلوق هم) کوم چې په ځمکو کښې دي او لمر او سپوږمۍ (هم) او ستوري او غرونه (هم) او ونې او ساکښان (هم) او (بالآخره) د خلکو څخه ډېر (مسلمانان هم ورته سجده کوي).

او (د خلکو څخه) زښت ډېر (کفار) چې دي په دوی باندې عذاب ثابت شوی دی (چې دوی الله ﷻ ته بالاختیار سجده نه کوي).

او هرڅوک چې الله ﷻ یې سپک (او خوار) کړي نو هغه ته هیڅ عزت ورکوونکی نشته، یقیناً الله ﷻ هغه څه کوي کومو ته یې چې اراده وشي (هیڅوک یې مخه نه شي نیولی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه په دې تمام شوي وه چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ د ټولو اختلاف کوونکو ترمنځ حقه فیصله وکړي. په دې ایت کښې هغې وجې ته اشاره شوې ده کومه چې د اتفاق غوښتنه کوي او اختلاف د منځه وړي، دا د یو پلوه، او د بل پلوه دلته د فیصلې کیفیت ته اشاره شوې ده چې ځینې خلک به پکښې اعزاز ترلاسه کړي او ځینې نور به پکښې د اهانت سره مخامخ شي نو حاصل یې داسې کېږي:

یعنې کوم اختلاف کوونکي چې د حق څخه غاړې غړوي هغوی یوازې د مسلمانانو څخه مخالفت نه کوي بلکې هغوی د ټولو مخلوقاتو په خلاف جدا دریځ غوره کړی دی، او دا ځکه چې ټول مخلوقات الله ﷻ ته سجدې کوي او په تسبیحاتو باندې یې مشغول دي خو دا بېله خبره ده چې تاسو یې نه په سجده باندې پوهېږئ او نه یې په تسبیحاتو باندې ستاسو علم رسي، نو:

۱ـ ای پیغمبره! ایا ته نه ګورې او ته نه پوهېږې چې ټول مخلوقات الله ﷻ ته تواضع کوي او تکویني اوامرو ته یې لبیک وایي او بالآخره څوک چې د اختیار او ارادې درلودونکي دي هغوی ورته اختیاري سجدې هم وړاندې کوي. لاندې مثالونه یې قرائت کړئ:

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۰۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

الف: هغه څوک د څرمې الله ﷻ ته دوامداره سجدې کوي کوم چې په اسمانونو کښې موجوديت لري، لکه پرښتې او نور شيان.
ب: څوک چې په ځمکه کښې د موجوديت خاوندان دي هغوی هم الله ﷻ ته په سجده پراته دي لکه انسانان، پيريان او نور شيان، البته چې يوازې په تسخيري سجده باندې ټول متفق دی.
ج: لمر، سپوږمۍ او ټول ستوري الله ﷻ ته په سجده دي.
د: غرونه، ونې او هم ساکښان او په ځمکه باندې حرکت کوونکي ورته ټول سجده کوونکي دي.
هـ: بالآخره ډېر انسانان په تسخيري سجدې باندې علاوه اختياري سجدې هم الله ﷻ ته وړاندې کوي، چې ډېر نور ترې خانونه په ځنګوي بلکې د حقيقي معبود په عوض باطلو معبودانو ته په سجدو پراته دي، او د ټولو مخلوقاتو څخه مخالفت کوي.

۲_ څوک چې د تسخيري سجدې سره-سره اختياري سجدې ته په الله ﷻ پورې اختصاص نه ورکوي او د غير الله ﷻ څخه عزت غواړي، نو په دغسې خلکو باندې د عذاب خبره ثابته او فيصله ده، چې ضرور به د سپکوونکي عذاب سره مخامخ شي او هيڅوک به مونده نه کړي چې د الهي اهانت څخه نجات ورکړي، او دا ځکه چې الله ﷻ هغه څه کوي کوم ته يې چې اراده وشي او هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

## توضيحات

۱_ که څه هم د ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ په کلمه باندې ځينو علماوو کرامو هر عقل لرونکی مخاطب ګرځولی دی[1]، مګر مونږ ته د شيخ المفسرين (العلامة ابن جرير الطبري) نظر غوره برېښي چې په ذکره شوې کلمه باندې نبي کريم ﷺ مخاطب دی[2].

په هر تقدير، په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د هغه روية څخه اشتقاقه شوې ده کوم ته چې د علمي روية (ليدلو) لقب ورکولی کېږي، او په زړه پورې اختصاص لري، يعني ای پيغمبره! ايا ته نه پوهېږې؟ بلکې پوهېږې.

۲_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النحل:۴۹] ايت لاندې په دې خبره کښې ښه تحقيقي بحث کړی دی چې ټول مخلوقات الله ﷻ ته په سجده دي، او هم هلته مو د سجدې ډولونو ته اشاره کړې ده، او همدارنګه مو د [الإسراء:۴۴] ايت لاندې په دې خبره کښې ښه اوږد بحث کړی دی، چې ټول مخلوقات د الله ﷻ تسبيحات وايي، نو هيله ده چې د ذکر شوي ايت په مطلب باندې د ښو پوهېدلو دپاره هلته يو ځل مراجعه وکړی شي، مونږ يې په تکراري ليکلو باندې کتاب نه اوږده وو، يوازې يو خبره بيا تکراره وو هغه دا چې په ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ﴾ الآية، کښې د ﴿يَسْجُدُ﴾ کلمه د سجود څخه اشتقاقه شوې ده، چې په لغت کښې د تذلل او عاجزۍ

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۰۰
(۲) تفسير الطبري ج۱۷ ص۱۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره وضعه شوې ده، چې لاندې دوه ډولونه لري[۱]:

الف: يو هغه تذلل او عاجزي ده کومه چې سړی يې په خپل اختيار سره څرګنده کړي، چې الله ﷻ ته خپل سر په خمکه کېږدي او يا ورته په ژبه باندې تسبيحات ووايي.

ب: بل هغه تذلل او عاجزي ده چې بلا اختياره يو شی په هغه کار کښې استعمال شي د کوم دپاره چې پيدا شوی وي، لکه د لمر او سپوږمۍ راختل او بېرته پرېوتل او داسې نور.

نو په دې مقام کښې که د هغه سجود څخه کوم چې د ﴿يَسْجُدُ﴾ د کلمې دپاره مشتق منه دی، "ما يطلق عليه السجود" مراد کړی شي ترڅو اختياري سجدې او غير اختياري (تسخيري) سجدې دواړو ته شامل شي نو ډېر به ښه وي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه که په ذکر شوي عبارت کښې د "مَنْ، مَنْ" دواړه کلمې د تغليب په بنياد ټولو مخلوقاتو ته شاملې وګڼلی شي، برابره ده چې ذو العلم وي او که نه وي، نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

الله ﷻ ته ټول اسماني شيان په عاجزۍ بندګي کوي خو ځينې په غير اختياري توګه لکه لمر، سپوږمۍ او نور، او ځينې ورته دواړه ډوله بندګي وړاندې کوي لکه پرښتې. همدارنګه ټول ځمکني مخلوقات الله ﷻ ته خپله بندګي او عبوديت وړاندې کوي خو ځينې بندګان په دواړه ډوله عبادت او سجود باندې مشغول دي لکه مسلمانان انسانان او مسلمانان پيريان، او ځينې نور يوازې په غير اختياري عبادت او بندګۍ باندې اکتفاء کوي، د اختياري بندګۍ څخه غاړې غړوي لکه کفار د هرې ډلې څخه چې وي. او بالآخره ځينې ځمکني مخلوقات په تسخيري (غير اختياري) عبادت باندې اکتفاء کوي او په هغو کارونو کښې استعمالېږي د کوم دپاره چې خلق شوي دي چې د ارادې او اختيار خاوندان نه دي.

## سوالونه او جوابونه

۳ـ په دې مقام کښې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: د ذکر شوي تفسير په بنياد په ﴿مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ کښې د ﴿مَن﴾ کلمه د تغليب په توګه لمر او سپوږمۍ او هم ستورو ته شموليت لري، نو پوښتنه دا ده چې: په دغو درېواړو باندې په صراحت کولو کښې او د ﴿وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ وَٱلنُّجُومُ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: په مشرکانو کښې ډېرو قبائلو د اسماني مخلوقاتو عبادت کاوه[۲] نو دوی په صريحه لهجه په غوږ باندې ووهل شوه چې ستاسو معبودان د الوهيت لياقت نه لري که نه نو د الله ﷻ دپاره به يې سجدې او تسخيري عبادتونه نه وی کړي، حال دا چې لمر او سپوږمۍ او هم ستوري ټول د ده ﷻ په عبادت باندې مشغول دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۲۹
(۲) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۱۸۶

Scanned by CamScanner

ب: په ﴿ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د "مَن" کلمه ټولو ځمکني مخلوقاتو ته شامله ده، نو پوښتنه دا ده چې: د غرونو او ونو او هم ساکښانو په سجده کولو باندې د څه حکمت په بنیاد صراحت وکړی شو؟

مونږ وایو چې: د مشرکانو ځمکني معبودان د ډبرو، خاورو او هم د فلزاتو او جواهرو څخه جوړ ده چې غرونه په دغو شیانو باندې اشتمال لري، او همدارنګه ځینو مشرکانو د ونو او بوټو عبادت کاوه او بالآخره ځینې ځینې د ساکښانو په عبادت باندې هم مشغول وه او غواګاني یې د الوهیت مقام ته رسولې وې؛ نو الله ﷻ د ﴿ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ ﴾ کلمات نازل کړه او مشرکان یې په صراحت سره تنبیه کړه چې ستاسو معبودان د الوهیت لیاقت نه لري بلکې پخپله عابدین دي.

ج: په ﴿ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د "مَن" کلمه ټولو انسانانو ته شامله ده حال دا چې د ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ د کلماتو څخه اشارةً څرګندېږي چې ټول انسانان د الله ﷻ عبادت نه کوي، لکه چې ټول کفار د اختیاري عبادت څخه غاړې غړوي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا په همدې بنیاد د ایت شریف په جملاتو کښې د تناقض خیال نه شي پیدا کېدلی؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی اعتراض د اعراب په تغیر باندې جواب کړی دی او د ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ کلمات یې د "يَسْجُدُ" د کلمې په تقدیر سره او یا په نورو مقدراتو سره بېله جمله ګڼلې ده[١]، مګر بهتر جواب دا دی چې تناقض به په هغه وخت کښې صورت نیولی وی چې د ﴿ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ کلماتو خپل مضمون اداء کړی وی او د ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ د کلماتو تر تلفظه پورې یې توقف نه درلودی، خو خبره داسې نه ده، او دا ځکه چې:

د کوم کلام په آخر کښې چې مضمون ته تغیر ورکوونکی ټکی موجودیت ولري (لکه شرط او استثناء) نو د همدغو ټکو تر تلفظه پورې د مضمون د اداء کولو څخه کلام متوقف ګڼلی کېږي[٢].

په دې مقام کښې د ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ کلمات د استثناء معنی ورکوي، نو ترڅو چې په دغو کلماتو باندې تلفظ نه وی شوی تر هغه به د ﴿ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ الآية، مضمون متوقف وي.

او چې کله پرې تلفظ وشي نو تناقض تحقق نه شي موندلی او حاصل یې داسې راځېږي چې: ټول ځمکني مخلوقات د غرونو او ونو او ساکښانو په شمول ما يطلق عليه السجود کوي مګر نه بنیادمان. دا ځکه چې په غیر اختیاري سجده کښې ورسره موافق دي، اما په اختیاري سجده کښې ورسره ځوک موافق دی او ځوک مخالف، دوی ته په کار دي چې مخالفت ته خاتمه ورکړي او د کفریاتو څخه لاس واخلي، ترڅو ځمکني مخلوقات هم د اسماني مخلوقاتو په شان متفق شي.

د: د ځمکني مخلوقاتو د جملې څخه لکه څنګه چې په بنیادمانو کښې کفار شته همدارنګه پیریان هم په دوه وو ډلو باندې ویشلي شوي دي چې ځوک کفار دي او ځوک مسلمانان دي، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد د ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ په عوض "وكثيرٌ من الجنّة والنّاس"

---

(١) تفسير الكشاف ج٣ ص١٤٩
(٢) نور الانوار ص١١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نازل نه کړی شو چې د پیریانو حالاتو ته هم اشاره شوې وی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د بنیادمانو ذکر د مثال په توګه دې نه د حصر په توګه، لکه چې الله ﷻ د مثال په توګه بنیادمان مخاطب کړي دي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ﴾ [النساء:۱] ای خلکو! (بنیادمانو) د خپل رب ﷻ څخه وډار شئ.

ه: د ﴿ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُ ﴾ څخه څرګندېږي چې ټول بنیادمان په دوه وو مساوي برخو باندې ویشلي شوي دي چې یوه برخه مسلمانان دي او بله برخه کفار دي، او دا ځکه چې د دواړو ډلو د حالاتو په شرحه کښې د "كَثِيرٌ، كَثِيرٌ" کلمې نازلې شوې دي؛ حال دا چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د مسلمانانو نسبت کفارو ته یو په زره ښودلی دی(۱) لکه چې د همدې سورت په اولني ایت شریف کښې یې شرحه تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

مونږ وایو چې: په ﴿ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيۡهِ ٱلۡعَذَابُ ﴾ کښې د "كَثِيرٌ" په کلمه کښې تنوین د تعظیم دپاره دی د همدې کبله دغه کلمه مبتداء ګرځولې شوې ده چې په تنوین سره یې تخصیص موندلی دی، که نه نو نکره محضه خو مبتداء نه شي واقع کېدلی، نو په همدغه لحاظ سره یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: او زښت ډېر بنیادمان چې دي په دوی باندې عذاب ثابت دی چې کفر یې غوره کړی دی (دوی به دومره ډېر وي چې مسلمانان به ورته یو په زر نسبت ولري).

## د تلاوت شپږمه سجده

۴ـ په ذکر شوي [۱۸] ایت شریف کښې د قرآن کریم د تلاوت د څوارلسو سجدو څخه شپږمه سجده ده، چې څه ضروري احکام یې د "الأعراف" سورت د آخرني ایت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ والمنة.

﴿ هَٰذَانِ خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي رَبِّهِمۡۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتۡ لَهُمۡ ثِيَابٞ مِّن نَّارٖ يُصَبُّ مِن فَوۡقِ رُءُوسِهِمُ ٱلۡحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ وَٱلۡجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا مِنۡ غَمٍّ أُعِيدُواْ فِيهَا وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُدۡخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَلُؤۡلُؤٗاۖ وَلِبَاسُهُمۡ فِيهَا حَرِيرٞ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلۡقَوۡلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ ﴾

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] دغه دواړه جګړه کوونکي ډلې (مؤمنان او کفار) د خپل رب ﷻ (په وحدانیت او دین) جګړه کوي، نو هغه کسان چې دي کومو چې کفر غوره کړی دی دوی ته به (په آخرت کښې) د اور څخه جامې وسکنودلې (جوړې) شي (اور به ترې راچاپېر شي او) د دوی د سرونو د پاسه به ګرمې (خوټېدونکې) اوبه ورواړولی شي.

[۲۰] چې د همدغو اوبو په سبب به هغه شیان ویلې (ذوب) شي کوم چې د دوی په ګېډو کښې وي او پوستکي (به یې هم وربانديې ویلې او ذوب شي).

[۲۱] او د دوی (دوزخیانو د تعذیب) دپاره به د اوسپنې څخه (جوړ کړی شوي) ګورزونه (پلکونه) وي (چې په دوامداره توګه به پرې وهلی کېږي).

[۲۲] هر کله چې دوی اراده وکړي چې د غمژن کېدلو د کبله د دوزخ څخه بهر شي نو (د ګورزونو په وهلو سره به) پکښې بېرته ورتاوولی کېږي، او (ورته به ویل کېږي چې:) تاسو د سوزوونکي (اور) عذاب وڅکئ.

[۲۳] یقیناً الله ﷻ هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، داسې جنتونو ته داخلوي د کومو لاندې چې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، دوی به په جنتونو کښې د سرو زرو څخه په جوړ کړی شوو خینو باهوګانو (وښیو او بنګړو) سره او هم په ملغلرو سره بنائسته کړی شي، او (هم) د جنتیانو جامې به دلته د (ډول-ډول) ورېښمو څخه وي.

[۲۴] جنتیانو ته به (په جنت کښې) د خبرو څخه پاکیزه (خوندورو) خبرو ته هدایت کړی شوی وي، او هم به ورته (په افعالو کښې) سپېڅلې لاره ښودلې شوې وي (نو د دوی اقوال او افعال به دواړه د خوشالیو څخه ډک وي).

## شان نزول او ارتباط

۱ـ د دې ایتونو په شان نزول کښې مفسرینو کرامو متعدد روایتونه لیکلي دي چې تقریباً څلورو ته رسېږي[۱] خو ظاهره دا ده چې دا ایتونه د مؤمنانو او کفارو په هکله نازل شوي دي، چې مؤمنان یوه ډله ده او د خپل رب ﷻ په توحید باندې زور اچوي او کفار بله ډله ده چې په کفریاتو کښې تاند وهي[۲].

۲ـ که څوک وایي چې: ابو ذر ﷺ په سوګند سره ویلي دي چې دغه ایتونه د بدر د غازیانو د لومړنۍ ډلې په هکله نازل شوي دي چې درې کسان وه: یو علي ﷺ، بل حمزه ﷺ، درېیم عبیده ﷺ وه، چې په مقابل کښې یې د کفارو درې کسېزه ډله مقابلې او مبارزې ته راووتله، چې یو عُتبه بن ربیعه نومېده، بل یې ورور (شیبه بن ربیعه) وه او درېیم یې زوی (الولید بن عُتبه) وه[۳]؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا دا روایت د عمومیت سره منافي نه دی؟

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۲۸۵
(۲) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۳۳
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۵۶۵. ۶۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: سلفو صالحینو به په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه(۱) نو ابو ذر ﷺ د ایتونو په یوه مصداق باندې سوګند کړی دی، چې د عمومیت سره هیڅ منافات نه لري.

۳ـ په لږ وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ فرمایلي وه چې: د قیامت په ورځ به د مؤمنانو او د کفارو د مختلفو ډلو ترمنځ حقه فیصله وکړی شي، نو په وړاندېني متصل ایت شریف کښې د فیصلې کیفیت ته په اجمالي توګه اشاره شوې وه چې چاته به الله ﷻ اعزاز ورکړي او څوک به توهین کړي، خو په دې ایتونو کښې د حقې فیصلې کیفیت ښه مشرح نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! دغه دواړه ډلې (چې یوه د مسلمانانو ډله ده او بله د کفارو ډله ده) په خپلو منځو کښې په جګړه باندې بوختې دي، مسلمانان (مؤمنان) وایي چې: زمونږ رب ﷻ واحد او لا شریک دی، ټول پیغمبران یې په حقه رالیږلي دي او د قیامت ورځ حقه ده چې ټول مړي به د قبرونو څخه د حساب کتاب دپاره راپورته شي.

خو بالمقابل کفار ورسره ذکر شوي واقعي عقائد نه مني او په ډول-ډول کفریاتو باندې اخته دي، د دواړو ډلو جګړه د خولې د سوال جواب څخه نیولې آن تر دې خبرې امتداد پیدا کوي چې دواړه جانبه توري ته لاس کړي، او یو د بل په وژلو پیل وکړي.

نو دغه دنیا د امتحان ډګر دی او د فیصلې ورځ راروانه ده چې هلته به هرې ډلې ته د هغې د کړو وړو مطابق جزا یا سزا ورکړی شي چې تفصیل یې دا دی:

۱ـ هغو کسانو ته به چې په کفریاتو باندې کلک دي داسې سزا ورکړی شي چې:

الف: د دوی څخه به د دوزخ اور له هر طرفه راچاپېر وي او ښه پوره به پکښې نغښتي وي، ته به وایې چې د اور جامې دي او د همدوی په قدو قامت باندې برابرې سکښودلې شوې دي.

ب: د دوزخیانو د سرونو د پاسه به تېزې ګرمې (خوټېدونکې) اوبه ور واچولی شي چې سوزول به یې د اور د سوزولو سره لاس یو کړي نو:

ج: د خېټو په داخل کښې لري، کولمې او نورې غوښې او بالآخره ټول پوستکي به یې ویلي کړي (وسوزوي) او فقط د هډوکو اسکلیټ به یې ژوندی پاتې شي، چې سمدستي به ورباندې نورې غوښې او پوستکې رازرغون شي او د بل خل ویلي کولو (سوزولو) دپاره به تیار شي.

د: په عین حال کښې هغوی لره به د ګرزونو ګوزارونه هم ورکولی کېږي چې د ډېرو درنو اوسپنو څخه به جوړ وي، چې په هر یو ګوزار باندې به هغوی تیت پیت ګرځي او سمدستي به بېرته راغونډېږي ترڅو بل ګوزار ته چمتو شي.

هـ: کفار به په دوزخ کښې او په ذکرو شوو عذابونو کښې همېشه وي، نه به ورباندې مرګ ورځي

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او نه به ترې دباندې وتلی شي، بلکې هر وخت چې د ډېره غمه او د ډېر مشقت د لاسه نیت وکړي چې ترې بهر شي نو سمدستي به پکښې بېرته ورتېل وهل کېږي او په دائمي توګه به د وتلو دپاره لاره مونده نه کړی شي.

و: او د توهین او تخجیل دپاره به ورته وویلې شي چې اوس نو د سوزوونکي عذاب مزه وڅکئ او خوند یې واخلئ چې همدا مو د خپلو ځانونو دپاره ګټلی دی.

۲ـ بالمقابل د مؤمنانو (چې د ایمان سره یې صالح اعمال هم ملګري کړي وي) د جزا د کیفیت څه شرحه دا ده چې:

الف: الله ﷻ به په خپل فضل او کرم سره دوی داسې جنتونو ته ورداخل کړي چې لاندې به ترې د ځلورو شیانو (د شودو، شرابو، شاتو او سپېڅلو اوبو) جدا-جدا ویالې بهېږي.

ب: دوی ته به د الله ﷻ په فرامینو پربنتې د سرو زرو باهوګان ورپه لاس کړي او هم به یې د ملغرو په امیلونو سره ښائسته او ګاڼه دار کړي.

ج: د جنتیانو جامې به په جنت کښې د ډول ډول ورېښمو څخه جوړې کړی شوې وي، او فرشونه به هم ورته د ورېښمو څخه خواره کړی شوي وي.

د: دوی به هلته بده خبره او بې هوده خبرې نه اوري، بلکې ټولو ته به د پاکیزه ویناوو هدایت کړی شوی وي، چې د خپل رب ﷻ حمدونه او ثناوې به وایي او هم به په خپلو منځو کښې د خوشالۍ خبرې اترې کوي.

هـ: لکه څنګه به چې هلته جنتیان پاکیزه ویناوو ته هدایت کړی شوي وي همدارنګه به دوی هلته د سپېڅلو کارونو دپاره هم هدایت کړی شوي وي او د ډېرو ښو کړو وړو او د ډېرو ښو ناستو ولاړو خاوندان به ګرځولی شوي وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ ٱلْحَمِيمُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْحَمِيمُ ﴾ کلمه نبي کریم ﷺ ډېره ښه تفسیره کړې ده چې مونږ ورته د الله ﷻ په توفیق د [إبراهیم:۱۶] ایت لاندې اشاره کړې ده او بیا لیکلو ته یې ارتیا نه ګورو. خو دومره فرق لري چې هلته د همدغو اوبو څخه په ﴿ مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴾ سره تعبیر نازل شوی دی او دلته په ﴿ ٱلْحَمِيمُ ﴾ سره، چې دواړه خوټېدونکي اوبه دي او په یو غرپ سره د ګېډې څخه هغه شیان وباسي کوم چې په ګېډه کښې قرار لري.

## صهر څه معنی؟

۲ـ په ﴿ يُصْهَرُ بِهِۦ مَا فِى بُطُونِهِمْ ﴾ کښې د ﴿ يُصْهَرُ ﴾ کلمه د "صَهر" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د وازدې ویلې کولو ته ویل کېږي[1]، او هر چې "صِهْر" ـ لکه "عِلْم" ـ دی نو دا د هغه چا

[1] مفردات الراغب ص۲۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوم دی کوم ته چې چا لور ورکړې وي چې په پښتو کښې ورته زوم ویل کېږي، همدارنګه په هغو ټولو خپلوانو باندې یې هم اطلاق کېږي کوم چې سري ته د نکاح کولو په ذریعه خپلوان ګرځېدلي وي[۱]

نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت شریف دېر ښه تفسیر کړی دی چې: «إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ فَيَسْلِتُ مَا فِي جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ وَهُوَ الصَّهْرُ ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ»[۲] یعني یقینًا د دوزخیانو په سرونو باندې به ډېرې ګرمې (خوټېدونکې) اوبه وراچولی شي نو دغه ګرمې اوبه به پکښې نفوذ وکړي او بدنونو ته به یې ورننوځي حتی چې د هر یوه ګېډې ته ورسېږي نو هغه شیان به ترې وباسي کوم یې چې د ګېډې په داخل کښې وي، آن تر دې چې د دوارو پښو څخه به یې ووځي؛ همدغه هغه "صَهْر" دی کوم ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده، بیا به بېرته پخواني حال ته تاو کړی شي ترڅو د بل کرت صهر دپاره تیار شي.

## د مقامع معنی

۳_ په ﴿ وَلَهُم مَّقَـٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴾ کښې د ﴿ مَقَـٰمِعُ ﴾ کلمه د "مِقْمَعَةٌ" جمعه ده چې د "قَمْعٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "قَمْع" د تذلیل او سپکولو معنی ورکوي، هغې متروکې ته د "مِقْمَعَةٌ" نوم وضعه شوی دی کومه چې د اوسپنې څخه جوړه شوې وي او سر یې کوږ وي[۳]، څکه چې دا د ذلت او توهین آله ده، چې په پښتو کښې ورته "ګورز" وایي، اما د دوزخ ګورز په لاندې احادیثو کښې ډېر ښه تفسیر شوی دی:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَوْ أَنَّ مِقْمَعًا مِنْ حَدِيدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ فَاجْتَمَعَ لَهُ الثَّقَلَانِ مَا أَقَلُّوهُ مِنَ الْأَرْضِ»[۴] یعني که بالفرض د دوزخ یو ګورز چې د اوسپنې څخه جوړ دی په ځمکه باندې کېښودلی شي نو ټول پېریان او بنیادمان ورته راغونډ شي چې د ځمکې څخه یې اوچت کړي نو اوچت به یې نه شي کړي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَوْ ضُرِبَ الْجَبَلُ بِقَمْعٍ مِنْ حَدِيدٍ لَتَفَتَّتَ ثُمَّ عَادَ كَمَا كَانَ وَلَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا»[۵] یعني که چرته د دوزخ په اوسپنیز ګورز باندې غر ووهلی شي نو ټیټ پرک به یې وګرځوي بیا به هغه حال ته واوړي لکه چې وه، او که چرته یوه ډولچه د هغو زوو څخه په دنیا کښې توی کړی شي کومې چې دوزخیانو ته ورڅښکولی کېږي نو د دنیا ټول اوسېدونکي به بدبویه کړي (او په بد بوی باندې به په تنګ شي).

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۴۷۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵
(۳) لسان العرب ج۸ ص۲۹۴، ۲۹۶
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۸
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۱۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۴ـ په ﴿ مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ﴾ کښې د ﴿ أَسَاوِرَ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الکهف: ۳۱] ایت لاندې ښه تحلیله شوې ده چې بیا تحلیلولو ته یې اړتیا نه ګورو، همدارنګه هلته د جنتي وړښمو په هکله هم ښه ګټور معلومات لیکلی شوي دي ـ والحمد لله والمنة علی ذلک.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَلُؤْلُؤًا ﴾ کلمه په څه شي باندې منصوبه ده؟

مونږ وایو چې: د دغې کلمې په نصب کښې مفسرینو کرامو ګڼ وجوه لیکلي دي چې مونږ فقط لاندې دوه وجهو په لیکلو باندې اکتفاء کوو:

الف: په ﴿ مِنْ أَسَاوِرَ ﴾ کښې د ﴿ مِنْ ﴾ توری د تبعیض دپاره دی، یعنې د جنتیانو ځینې بنګړي به د سرو زرو څخه جوړ وي او ځینې نور به د سپینو زرو څخه تیار کړی شوي وي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ ﴾ [الدهر: ۲۱].یعنې جنتیان به د سپینو زرو څخه په جوړو کړی شوو بنګړو ښائسته کړی شي؛ نو "لُؤْلُؤًا" د ﴿ مِنْ أَسَاوِرَ ﴾ کلمې په محل باندې عطفه ده چې محلاً منصوبه ده[۱]. نو حاصل یې داسې راځېژي چې: جنتیان به په ملغلرو باندې ګانه دار او ښائسته کړی شي.

ب: د ﴿ وَلُؤْلُؤًا ﴾ د نصب دپاره فعل مقدر دی چې په "يُؤْتَوْنَ" باندې ترې تعبیر کولی شو[۲] یعنې جنتیانو ته به ملغلرې د ګاڼو په حیث ورکړی شي.

که څه هم په ذکرو شوو دواړو صورتونو کښې په معنی باندې چندان فرق نه پرېوځي مګر مونږ ته اولنی صورت بهتر برېښي چې تقدیر ته اړتیا نه لري. نو د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: نبي کریم فرمایلي دي چې: «تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوءُ»[۳] یعنې د جنت ګانه به د مؤمن هغو ځایونو ته رسېږي چرته چې د ده د اوداسه اوبه رسېږي.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ»[۴] یعنې یقینًا د جنتیانو په سرونو باندې به تاجونه وي چې بې شکه د دغو تاجونو ادنی ملغلره به د مشرق او مغرب مابین ـ یعنې ټوله دنیا ـ رڼا کړي که بالفرض دلته راڅرګنده کړی شي.

## دوه ډوله تفسیر

۶ـ دا ایت شریف: ﴿ وَهُدُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلْقَوْلِ وَهُدُوٓاْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ مفسرینو کرامو په دوه ډولو باندې تفسیر کړی او ښه اوږده شرحه یې پکښې ورکړې ده، هغه دا چې:

الف: دغه دواړه جملې د جنتیانو هغه حال ته اشاره ده په کوم باندې چې دوی په دنیا کښې ژوند

---

(۱) البحر المحیط ج۷ ص۴۹۷
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۵۱
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۱۲۷
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړې وه او جنت ته د داخلېدلو سبب یې ګرځېدلی وه[1].

نو دوی د پاکیزه قول څخه طیبه کلمه اخلي او د ﴿ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ﴾ څخه د اسلام سپېڅلی لاره مراده وي، نو حاصل یې داسې راځېږي چې: جنتیان به څکه جنت ته داخل کړی شوي وي چې په دنیا کښې یې د توحید کلمې ته او د اسلام دین ته هدایت کړی شوي وه.

ب: دواړه جملې د جنتیانو هغه حال بیانوي کوم به چې په دوی باندې په جنت کښې تېرېږي[2].

نو په دې تقدیر د طیب قول څخه پاکیزه اقوال او خبرې اترې مطلب دي او د ﴿ صِرَٰطِ ٱلۡحَمِيدِ ﴾ څخه د پاکیزه او سپېڅلو افعالو لاره مراده ده، نو حاصل یې داسې راځیږي چې: جنتیان به په جنت کښې توبیخي خبرې نه اوري لکه چې دوزخیانو ته د توبیخ په توګه ویل کېږي چې: ﴿ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡحَرِيقِ ﴾ او وڅکئ سوزوونکی عذاب او داسې نور، او نه به د دوی د خولو څخه ستغه او سپوره خبره وځي چې بل جنتي پرې خپه شي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَا يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوٗا وَلَا تَأۡثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلٗا سَلَٰمٗا سَلَٰمٗا ﴾ [الواقعة: ۲۵، ۲۶] یعنې جنتیان به هلته چتې او د ګناه خبرې نه اوري مګر له هرې خوا به د سلام او سلام ویل اوري؛ همدارنګه به جنتیانو ته د ښو افعالو لاره هم ښودلې شوې وی او داسې کارونه به نه کوي چې یو د بل څخه غمژن او خپه شي بلکې ټوله ناسته ولاړه به یې د خوشالۍ څخه نمایندګي کوي.

که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره یو تربله څه منافات نه لري مګر مونږ ته د دوهم تفسیر په تبادر سره ذهن ته راځي، الله ﷻ دې پکښې زمونږ برخه وکړي.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ نُّذِقۡهُ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ ۝٢٥ ﴾

**[۲۵] یقینًا (مونږ به) هغو کسانو ته (دردناک عذاب وروڅکو) کومو چې کفر غوره کړی دی او (په مستمره توګه) د الله ﷻ د لارې څخه او (هم) د هغه المسجد الحرام (حرم شریف) څخه (خلک منعه کوي کوم چې مونږ د خلکو دپاره (داسې) ګرځولی دی چې دلته اوسېدونکي سړی او بېدیا څخه راتلونکی سړی پکښې یو برابر دی.**

**او هرڅوک چې په حرم شریف کښې اراده وکړي چې کوم ظلم (ګناه) ته میلان وکړي نو مونږ به ورته د دردناک عذاب څخه وروڅکوو (پرې اخته به یې کړو).**

## ارتباط او شان نزول

د وړاندېنیو ایتونو په مضمون کښې دا خبره هم شامله وه چې دوه ډلې (مسلمانان او کافران) د

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۳۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۱۳؛ روح المعاني ج۱۷ ص۱۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل رب ﷻ په هکله په مخاصمه او جګړه باندې اخته دي چې تصفیه به یې د قیامت په ورځ باندې صورت ونیسي، په دې ایت کښې د جګړې یوه مثال ته اشاره شوې ده کوم چې د هجرت په شپږم کال باندې واقع شوی وه چې نبي کریم ﷺ د صحابه وو کرامو ﷺ سره د عمرې اراده کړې وه او د حدیبیه په نوم مقام کښې ورته مشرکانو مخه ونیوه او د عمرې کولو څخه یې ایسار کړه، چې مفصله قیصه یې د احادیثو په کتابونو کښې شته ده[1].

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې د هغو کفارو یو مثال قرائت کړه کوم چې د مسلمانانو سره جګړه پیل کړه او د دوی لاره یې بنده کړه چې المسجد الحرام ته لاړ شي او هلته د خپل رب ﷻ ذکر وکړي (خپله عمره انجام کړي). هغه دا چې:

۱ـ مشرکانو هغه مسلمانان پرېنښودل کوم چې د مدینې منورې څخه د عمرې احرام تړلی وه او غوښتل یې چې مسجد حرام ته لاړ شي او هلته د کعبې شریفې څخه طواف وکړي او خپل رب ﷻ یاد کړي. حال دا چې مشرکانو هیڅ حق نه درلود چې د مسلمانانو مخه ونیسي او په کعبه شریفه باندې قبضه ولګوي او خپل ځانونه یې متولیان (واکداران) وګرځوي، دا ځکه چې:

الف: د مسجد حرام (کعبې شریفې) متولیان خو یوازې مسلمانان دي چې فقط د الله ﷻ عبادت پکښې کوي او د کفریاتو او شرکیاتو څخه پکښې خپل ځانونه بچ ساتي، د کعبې شریفې بنیاد په توحید باندې اینښودلی شوی دی نه په شرکیاتو او کفریاتو باندې.

ب: مشرکان په دې وجه هم د کعبې شریفې متولیان نه شي جوړېدلی چې دوی د مکې معظمې اصلي اوسېدونکي دي او نور خلک پکښې مسافران ګڼلی کېږي او دا ځکه چې:

مشرکانو ته هم معلومه ده چې د ابراهیم ﷺ د زمانې څخه را په دېخوا په المسجد الحرام (کعبه شریفه) کښې ټول خلک مساوي حق لري، دلته مقیم سړی په مسافر سړي باندې څه فضیلت نه لري؛ نو دوی ته په کار وه چې په حرم شریف باندې یې قبضه نه وی لګولې او د مسلمانانو مخه یې نه وی بنده کړې چې خپله عمره اداء کړي.

۲ـ نو زمونږ په فیصله باندې ټول خلک خبر کړه چې یقیناً ذکر شوو مخه نیوونکو مشرکانو ته به مونږ دردناک عذاب وروڅکو.

۳ـ په دې باندې علاوه هرڅوک چې په حرم شریف کښې الحاد کوي او ګناه یا کفریات او شرکیات پکښې انجاموي نو هغه به هم په دردناک عذاب باندې اخته کړو، او دا فیصله به د قیامت د ورځې پورې ادامه وکړي.

## توضیحات

۱ـ په یاد ولرئ چې: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ آن تر ﴿ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ﴾ پورې د "إنّ" دپاره اسم

---

[1] صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی او خبر یې مقدر دی چې په "نُذِيقُهُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ" سره ترې تعبير کولی شو[۱]، په همدغه مقدر خبر باندې د ايت شريف وروستنی برخه دلالت کوي، ته به وايې چې داسې نازل شوی دی، چې: إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا.... الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ نُذِيقُهُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ، وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ.

نو حاصل یې هاغسې راځېږي لکه څنګه چې د مطلب په خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده.

## المسجد الحرام يا حرم شريف

۲ـ په ﴿ جَعَلْنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ﴾ کښې د "جعلناه، فيه" دواړه ضميرونه "والْمَسْجِد الْحَرَام" ته راجع دي خو علماء کرام د "الْمَسْجِد الْحَرَام" په تفسير کښې په لاندې ډوله اختلاف لري:

الف: الشافعي عليه الرحمة او نور ملګري یې وايي چې دلته د ﴿ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ څخه يخپله د کعبې شريفې چارچاپېره جومات مطلب دی لکه چې صراحت ورباندې شوی دی، نو دوی یې د معنی حاصل یې داسې اخلي چې: مونږ ذکر شوی جومات د خلکو دپاره داسې ګرځولی دی چې د مکې اوسېدونکي او د اطرافو (بېديا) اوسېدونکي پکښې يو برابر دي، ټول پکښې عبادت کوي او په ټولو باندې یې تعظيم او احترام لازم دی او بالآخره ټول یې متوليان او واکداران دي.

دوی وايي چې: ايت شريف څخه د حرم شريف د ځمکې او هلته د ابادیو او عمارتونو په هکله هيڅ اشاره نشته، خپل خاوندان یې کولی شي چې يا یې وپلوري او يا یې په اجاره ورکړي. يا په بل عبارت: د حرم شريف په ځمکه باندې فردي ملکيت اجراء کېږي لکه چې په نورو ځمکو باندې جريان لري.

ب: ابو حنيفه عليه الرحمة وايي چې: د ﴿ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ﴾ څخه د جومات په شمول ټول حرم شريف مراد دی. او دا ځکه چې:

اول: د ﴿ ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ ﴾ په مقابل کښې د ﴿ وَٱلْبَادِ ﴾ کلمه نازله شوې ده او دا د هغه چا څخه عبارت ده کوم چې په بېديا کښې اوسېږي، نو په کار دي چې د ﴿ ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ ﴾ څخه هغه څوک مطلب شي کوم چې په بېديا کښې نه بلکې په حرم کښې اوسېږي، او پوره واضحه ده چې خپله مسجد حرام خو د چا د اوسېدلو ځای نه دی.

دوهم: په ﴿ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ ﴾ کښې د "فِيهِ" ضمير "الْمَسْجِد الْحَرَام" ته راجع دی خو ټول حرم ترې مراد دی، او هيڅوک پکښې خلاف نه کوي، نو په کار دي چې د ﴿ ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ ﴾ د "فِيهِ" ضمير هم هغه مسجد حرام ته راجع شي چې ټول حرم ترې مراد دی.

نو په همدې بنياد د نوموړي امام په نزد د حرم شريف په ځمکه کښې ټول مسلمانان يو برابر حقوق لري او هيچا ته شرعًا اجازه نشته چې څه برخه یې وپلوري، لکه چې نورې ځمکې پلورې، بلکې ټول مسلمانان یې متوليان او واکداران دي.

هو! که څوک د حرم شريف په ځمکه کښې ابادي وکړي او هغه په کراء او أجرت باندې ورکوي نو

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۱۳۸؛ تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څه باک یې نشته، چې ابادي یې خپل ملکیت دی مګر ځمکه یې ملکیت نه دی.

که څوک په ذکرې شوې مسئله کښې اوږد تحقیق غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## د حرم شریف خصوصیات

۳ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۱۸۰] ایت لاندې د "إلحاد" معنی ښه تشریح کړې ده چې د میلان دپاره وضعه شوې ده. دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې مقام کښې د "ظُلم" کلمه د ټولو ګناهونو څخه عبارت ده، برابره خبره ده چې لوی ظلم وي لکه کفر او شرک، او یا وړوکی ظلم وي لکه نور ګناهونه[۲].

په دې باندې علاوه که څه هم یوې ګناه ته په نیت کولو باندې سړی نه نیول کېږي ترڅو چې خپل نیت (ارادې) ته عملي جامه ور وانه غوندي، مګر د حرم شریف د خصوصیاتو څخه دا هم ده چې د عمل څخه وړاندې محض په نیت او اراده باندې هم پکښې سړی نیول کېږي، او د وعید لاندې واقع کېږي[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې راځي: چې هرڅوک په حرم شریف کښې د ګناهونو څخه یوې ګناه ته د میلان اراده وکړي. که څه هم خپله اراده یې نه وی عملي کړې، نو الله ﷻ به هغه ته دردناک عذاب ور وروڅکي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث‌شریف ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللهِ ثَلَاثَةٌ: مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ، وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ، وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِئٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهَرِيقَ دَمَهُ»[۴] یعني الله ﷻ ته د ټولو خلکو زیات مبغوض (غضب کړی شوي) درې کسان دي: یو هغه څوک دی چې په حرم شریف کښې الحاد (ګناه ته میلان) کوي، او بل هغه څوک دی چې په اسلام کښې د جاهلیت طریقه لټوي (راژوندی کوي) او بل هغه څوک دی چې په ناحقه سره د یو سړي د وینې پسې زیار وباسي چې وینه یې تویه کړي.

## د حرم شریف څومره ساحه ده؟

۴ـ د کعبې شریفې په څار چاپېر کښې د هرې لارې د راتلونکو دپاره نښې ودرولی شوې دي چې له دې ځایه داخل خواته حرم شریف شروع کېږي. د ښه وضاحت دپاره د لاندې لارو نښې د نظره تېرې کړی[۵].

الف: کومه لاره چې د مدینې منورې څخه راغزېدلې ده هلته د کعبې شریفې څخه په درې میله فاصله کښې نښه ولاړه ده، چې دغه ځای ته په دې زمانه کښې د بي بي عائشې رضي الله عنها د

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۲۸؛ تفسیر المظهري ج۶ ص۲۶۹؛ روح المعاني ج۱۷ ص۱۳۸
(۲) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۴۱
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۱۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۳۵: المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۹۲؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۲۸۳
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۱۶
(۵) الفقه الإسلامي وأدلته ج۳ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جومات لقب ورکړی شوی دی.
ب: د یمن څخه په راغږېدلي لارې باندې اوه میله بهرته نښه ولاړه ده.
ج: د عراق څخه په راغلې لارې باندې هم اوه میله بهرته (کعبې ته نارسېده) نښه ودرولې شوې ده.
د: د طائف د طرف څخه په اوه میله فاصله کښې نښه قائمه ده.
ه: بالآخره په هغې لاره باندې نهه میله بهرته نښه څرګنده بربښې کومه چې د جعراني د پلوه مکې معظمې ته ورننوتلې ده.

﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِى شَيْـًٔا وَطَهِّرْ بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ
وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ
كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾ لِّيَشْهَدُوا۟ مَنَٰفِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ
فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ۖ فَكُلُوا۟ مِنْهَا وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ
ٱلْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا۟ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾ ﴾

[۲۶] او (ای پیغمبره!) هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ ابراهیم ﷺ ته د بیت الله مکان (ځای هو بهوار) ور وښود (او ورته مو وویل) چې: زما سره (په عبادت کښې) هیڅ شی مه شریکوه، او زما (دغه) کوټه (چې په ابادولو باندې یې شروع کوئ) د طواف کوونکو دپاره (د ظاهري او باطني پلیتیو څخه) پاکه وساته او (هم په عبادت باندې) د ودرېدونکو او د رکوع کوونکو سجده کوونکو (دپاره یې هم پاکه وساته).

[۲۷] او (ای ابراهیمه!) په (ټولو) خلکو کښې په خج کولو سره اواز (اعلان) وکړه، چې خلک به تاته (دغه ځای ته) پیاده او په هرې ډنګرې اوښې (یا اسپې) باندې (سواره) راشي، (البته) دغه ډنګر څاروي به د هرې لرې ژورې لارې څخه (دلته) راتلل کوي.

[۲۸] (دا) د دې دپاره چې (دنیوي او أخروي) ګټو ته حاضر شي (ترڅو یې) د خپلو ځانونو دپاره (ترلاسه کړي)، او (هم د دې دپاره چې) د الله ﷻ نوم په (څو معلومو ورځو (ایام النحر) کښې په هغو څارویو باندې یاد کړي کوم چې مونږ ور ورزي کړي دي، چې د بې ژبو څارویو څخه عبارت دي.
نو (ای مسلمانانو!) د دغو (قربانیو) څخه یې پخپله وخورئ (تاسو ته اذن دی) او په بدحالي فقیر (سخت فقیر) باندې یې هم وخوروئ.

[۲۹] بیا دې حاجیان خپل خیرې (د خپلو تنو څخه) لرې کړي، او خپل نذرونه (مناسک) دې پوره (او بشپړ) کړي، او (بالآخره) د عتیقې (ازادې کړی شوې) کوټې څخه دې طواف وکړي (چې حج یې تکمیل شي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني ایت شریف مضمون تائید شوی دی چې د بیت الله بنیاد په توحید باندې اېښودلی شوی دی او مشرکانو حق نه درلود چې مؤمنان یې د کعبې شریفې د زیارت څخه په حدیبیه مقام کښې ایسار کړه او د دوی د عمرې د اداء کولو مخه یې بنده کړه.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! خلکو ته دا خبره ورپه زړه کړه چې د بیت الله بنیاد په توحید باندې اېښودلی شوی دی، نو هغه څوک چې کفر او شرک غوره کوي هغوی د بیت الله متولیان نه شي کېدلی، ځکه چې:

۱_ په کوم وخت کښې چې مونږ ابراهیم ﷺ مکلف کړ چې د کعبې شریفې بنیادونه راپورته کړي او بیا یې اباده کړي، نو ده ﷺ ته مو د کوټې ځای وروښود او د کوټې طول او عرض مو ورته وټاکه او په عین حال کښې مو ورته توصیه وکړه چې:

الف: دغه کوټه د توحید یو سمبول دی، نو ته زما سره هیڅ شی مه شریکوه او یوازې او یوازې همدا زما عبادت کوه او بس.

ب: په دغې کوټه کښې د هیچا ملکیت نشته، دا یوازې زما کوټه ده او زما د عبادت دپاره ټاکلې شوې ده، نو ته دا کوټه د طواف کوونکو او په عبادت باندې د درېدونکو او هم رکوع کوونکو او سجده کوونکو (لمونځ کوونکو) دپاره پاکه وساته، ترڅو په تا پسې د قیامت د ورځې پورې ټول بنیادمان اقتداء وکړي او په دې مقام کښې د شرک او کفر مرتکب نه شي.

۲_ همدارنګه مونږ ابراهیم ﷺ د کوټې د جوړولو څخه وروسته مکلف کړ چې:

الف: ټولو خلکو ته نارې کړه او ټولو ته اواز وکړه چې هلئ راشئ د دغې کوټې طواف ته په توندۍ سره خپل ځانونه را ورسوئ او د حج مناسک اداء کړئ.

ب: کله چې ته ذکر شوی عمومي اعلان وکړې نو ستا اعلان به بې اثره پاتې نه شي، مونږ به یې په قدرتي او خارق العاده توګه د ټولو خلکو غوږونو ته ورسوو او همدغه مقام ته به ستا د دعوت اجابت وکړي او د ډېرو لرو او نژدې ځایونو څخه به ډېر خلک څوک سواره او څوک پیاده خپل ځانونه راورسوي.

ج: دوی به دې مقام ته په راتللو کښې ډېر تکلیفونه او مشقتونه وګالي او ډېر لرې او ژورې لارې به تعقیب کړي، څوک به په پیاده مزلونو باندې ستړي او ستومانه وګرځي او د چا به سورلۍ د ډېرو مزلو د کبله ډنګرې شوې وي، دا ټول تکالیف به د دې دپاره ګالي چې:

د: ترڅو دوی خپلو دنیاوي او اُخروي ګټو ته خپل ځانونه حاضر کړي او په متبرکو ځایونو کښې یې تر لاسه کړي، او هم پکښې تجارتونه او د مالونو تبادله وکړي.

ه: ترڅو دوی په ټاکلو او معلومو ورځو کښې د څارویو په قرباني کولو باندې یوازې د الله ﷻ نوم یاد کړي او د بوتانو (غیر الله) د نوم د یادولو څخه پرې اجتناب وکړي. او دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یوازې الله ﷻ همدوی ته ورپېرزو کړي او: همدغه د قربانیو څاروي یوازې الله ﷻ پیدا کړي
ورته ایل کړي دي، نو په کار دي چې د قرباني کولو په وخت کښې پرې د همده ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا نوم یاد نه کړی شي او د شرک مرتکب نه شي.

۳_ ای پیغمبره! کله چې تاسو د الله ﷻ په نامه څاروي قرباني کړه نو تاسو ته اجازه ده چې د هغو د غوښو څخه استفاده وکړئ او هم یې په بدحاله فقیرانو او مسکینانو باندې وخوروئ.

۴_ کله چې تاسو د څارویو د قرباني کولو څخه فارغ شوئ بیا نو حاجیانو ته د لاندې کارونو کولو توصیه کېږي:

الف: دوی دې خپل خیرې د خانونو څخه لرې کړي، نوکان دې پرې کړي او سنت (بریت) دې واخلي بلکې د احرام د کبله چې کومو کارونو څخه منعه کړی شوه وه نو هغه ورته ټول جائز دي.

ب: همدارنګه دوی باید خپل نذرونه پوره کړي، یا په بل عبارت، کوم شیان چې دوی پخپله په خپلو ځانونو باندې واجب ګرځولي وه چې احرام یې تړلی وه هغه دې د حج د مناسکو په شمول ټول بنه پوره اداء کړي.

ج: بالآخره دوی دې د هغې کوټې څخه چارچاپېره طواف هم وکړي کومه چې ابراهیم ﷺ ډېره پخوا اباده کړې ده او کومې ته چې الله ﷻ د جبابرو او متکبرانو څخه نجات او ازادي ورکړې ده.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ ﴾ کښې د ﴿ بَوَّأۡنَا ﴾ کلمه اصلاً د "بَوَاء" _لکه "بقاء"_ څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۸۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "بَوَاء" کلمه دې ته وضعه شوې ده چې په یوه ځای کښې د یوه شي ټول اجزاء (برخې) په مساوي توګه موقعیت ولري چې ټیټ او لوړ پکښې نه وي.

نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېژي چې: ای پیغمبره! هغه وخت خپل امت ته وریه زړه کړه چې مونږ ابراهیم ﷺ ته د کعبې شریفې مکان هو بهو وروښود چې هیڅ تفاوت پکښې موجودیت نه درلود.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۲۷] ایت لاندې لیکلي دي چې کعبه شریفه څو کرته اباده شوې ده، خو دلته ورباندې اضافه کوو چې که څوک غواړي چې د کعبې شریفې د اوږدوالي، پلنوالي، لوړوالي او نورو شیانو په باره کښې معلومات ترلاسه کړي نو څینو اوږدو کتابونو[1] ته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ لمانځه ته په ارکانو سره اشاره

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۱۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس ایاسین لخوا سکین شو



رکوع او ﴿ وَٱلْقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴾ یې نازل کړل او "اَلْمُصَلِّین" یې نازل نه کړل، سره له دې چې دا د هغو څخه لنډ دی او په مصداق کښې ورسره مساوي دی؟

ځواب: والله ﷻ أعلم، چې: دا د دې دپاره چې بنیادمان په غوږ ووهلی شي چې لکه چې طواف د کعبې شریفې څخه په تاوېدلو او حرکت کولو باندې تمامېږي همدارنګه لمونځ هم په قیام او رکوع او سجده باندې تمام مونده کوي، هلته هغه ډول حرکت مشروع دی او دلته دا ټول حرکت مشروع دی. یا په بل عبارت: د نازل شوي عبارت په نزول سره مونږ پوه کړی شوو چې لمونځ دغه شي ته ویل کېږي، نو که بالفرض "المصلین" نازل شوی وی نو د لمانځه راپېژاندل به پټ پاتې شوي وی او اشاره به ورته نه وی شوې.

## د ابراهیم ﷺ اعلان

۳_ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه د ﴿ وَأَذِّن فِى ٱلنَّاسِ بِٱلْحَجِّ ﴾ په هکله متعدد تفسیرونه روایت شوي دي[۱] خلاصه یې دا ده: چې کله ابراهیم ﷺ د کعبې شریفې د جوړولو څخه فارغ شو نو:

الف: د الله ﷻ د پلوه ورته وویل شوه چې ټولو خلکو ته اعلان وکړه او ټول خبر کړه چې دلته تاته او یا هغه ځای ته راشي په کوم کښې چې ته ولاړ یې او اعلان کوې چې اې خلکو! تاسو د دغې عتیقې کوټې د حج کولو دپاره دلته راشئ.

ب: الله ﷻ دغه اواز ټولو شیانو ته ورساوه، نه ترې د ځمکو او اسمانونو ترمنځ بوټی پاتې شو او نه کاڼی او نه بل شی، بلکې ټولو ته یې ور واوراوه.

ج: حتی د قیامت د ورځې پورې ټولو بنیادمانو ذکر شوی اعلان واورېد که څه هم هغوی یا د مورګانو په رحمونو کښې قرار درلود او یا د پلرونو په شاګانو موجود وه.

د: نو هر چا چې هلته د ابراهیم ﷺ اواز په لبیک سره ومانه نو هغوی د حج په اداء کولو باندې مشرف کېږي او چا چې هلته سکوت کړی دی نو د هغه په حج کولو کښې برخه نشته.

په دې باندې علاوه چا چې ذکر شوي اواز ته خپل اجابت (مننه) په متعددو وارونو سره تکرار کړې ده نو هغوی د خپل اجابت په شمېر په متعددو حجونو باندې تشرف حاصلوي.

## ضامر څه معنی؟

۴_ په ﴿ وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ ﴾ کښې د ﴿ ضَامِرٍ ﴾ کلمه د "ضُمُر" _لکه "شُغُل"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ډنګروالي معنی ورکوي، چې ګېډه یې د پوښتیو پورې نښتې وي او چنګ وي[۲].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ عَمِيقٍ ﴾ کلمه د "عُمْق" _لکه "قُفْل"_ څخه اخستله شوې ده چې د

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۲۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۱۶
(۲) لسان العرب ج۴ ص۴۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخلي[۱] خو په دې مقام کښې د ژوروالي څخه سرچينه هغه لرېوالي معنى ورکوي کوم چې د ذکرې شوې کلمې څخه ډېره لرې او سخته لاره مطلب ده. يعنې: اى ابراهيمه! ستا د اعلان اجابت به د قيامت د ورځې پورې ډېر خلک وکړي او دغه مقام ته به د حج کولو دپاره راځي، چې څوک به ورته پياده مزلونه کوي او څوک به په داسې څارويو باندې ورته ځانونه وررسوي چې د لارې د لرېوالي او سختوالي د کبله به يې څاروي ډنګر شوي وي او ګېډې به يې په پوښتيو پورې نښتې وي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: پياده حج کول بهتر دى او که په سورلۍ سره؟ او په سورليو کښې په کومه يوه سورلۍ کښې د زيات اجر اُميد شته دى؟ يا په بل عبارت: ايا په سورليو کښې د څارويو يا د موټرو او د بحرې جهاز او يا د هوايي جهاز په ذريعه حج کول ډېر واره دار دى؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو په پياده باندې حج کول د سورلۍ څخه بهتر ګڼلى دى[۲] د همدې کبله:

الف: عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما فرمايلي دي چې: «مَا آسَى عَلَى شَيْءٍ فَاتَنِيْ إِلَّا أَنِّي لَمْ أَحُجَّ مَاشِيًا حَتَّى أَدْرَكَنِيْ الْكِبَرُ»[۳] يعنې زه په بل شي دومره خپه نه يم چې راڅخه فوت شوى دى او کړى مې نه دى مګر په دې باندې خپه يم چې په پياده باندې مې حج ونه کړ آن تر دې چې بوډاتوب راته ورسېد او اوس يې توان نه لرم.

ب: حسن بن علي رضی‌الله‌عنهما پنځه ويشت حجونه په پياده کړي دي او د مدينې منورې څخه مکې معظمې ته په پښو باندې د حج د اداء کولو دپاره تللى دى، حال دا چې د ښو جيدو اوښانو کاروان به ورسره روان وه خو ورباندې به نه سورېده[۴].

خو اکثره علماء کرام وايي چې: د سورلۍ حج بهتر دى، په پياده حج باندې نبي کريم ﷺ توان درلود چې د وداع حج يې پياده کړى وى خو پياده يې ونه کړ بلکې په سورلۍ باندې يې وکړ[۵].

## تبصره

۶_ مګر مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ أعلم_ چې په هغه حج کښې به بهتري زياته وي په کوم کښې چې مشقت ډېر وي، برابره خبره ده چې بدني مشقت وي او که مالي، او پوره واضحه ده چې په مشقت کښې خلک تفاوت لري، په چا باندې بدني مشقت دروند تمامېږي او د مالي مشقت ګالل ورته اسان وي، او ځينې بالعکس د بدني مشقت څخه په مالي مشقت باندې ډېر زورېږي چې د بحري يا هوايي او بالآخره يا د برې وسائلو کراء تاديه کړي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۶۰
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۳۲
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۳۵
(۴) زاد المسير ج۵ ص۲۹۰
(۵) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د بنه اطمنان دپاره لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ لَن تَنَالُواْ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ ﴾ [آل عمران:۹۲] يعنې تر هغه به تاسو د الله ﷻ کاملې رضامندۍ ته ونه رسېږئ ترڅو چې تاسو د هغو مالونو څخه خرڅه ونکړئ کوم چې ستاسو خوښېږي او تاسو ته ګران وي.

ب: نبي کريم ﷺ په اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ»[۱] يعنې په کوم شي باندې چې د الله ﷻ په نزد درجې لوړېږي د هغو څخه د مشقتونو سره‌سره د اوداسه پوره کول دي، چې يا اوبه ډېرې يخې وي او يا يې قيمت ډېر لوړ وي او داسې نور.

ج: نبي کريم ﷺ يوه ورځې د يو صحابي ﷺ پوښتنو ته جوابونه ورکول نو هغه ترې دا پوښتنه هم وکړه چې: اې د الله رسوله! کومه يوه صدقه بهتره ده؟ نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «جُهْدُ الْمُقِلِّ»[۲] يعنې د هغه سړي صدقه بهتره ده کوم چې په ډېر کوښښ سره څه مال حاصل کړی وي او د همغه څخه خيرات وکړي.

د: د يوه اوږده حديث مضمون دی چې نبي کريم ﷺ عبد الرحمن بن ابي بکر رضي الله عنهما د بي بي عائشې رضي الله عنها سره ولېږه ترڅو د تنعيم څخه د عمرې احرام راوتړي او عمره اداء کړي چې د نورو حجاجو سره يې سيالي برابره شي، خو ورته يې وفرمايل چې: «وَلَكِنَّهَا عَلَى قَدْرِ نَصَبِكِ أَوْ قَالَ نَفَقَتِكِ»[۳] يعنې مګر د دغې عمرې ثواب به ستا د مشقت په اندازه وي، او يا يې وويلې چې ستا د مصرف په اندازه وي. يا په بل عبارت: اې عائشې! ستا به د نورو خلکو سره د عمرې سيالي برابره شي خو د هغوی ثواب به ستا څخه زيات وي چې د مدينې منورې (لرې منطقې) څخه يې احرامونه راتړلي دي او تا د نژدې ځای څخه احرام وتاړه.

## معلومې ورځې د کومو ورځو څخه عبارت دي؟

۷ـ په ﴿ وَيَذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ کښې د ﴿ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ ﴾ په تفسير کښې مفسرينو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۴] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د ذو الحجې لس ورځې په ﴿ أَيَّامٍ مَّعْلُومَٰتٍ ﴾ سره مرادې دي.

ب: همدغه لقب د ذو الحجې نهو ورځو ته ورکول شوی دی او لسمه ورځ يې پکښې شامله نه ده.

ج: دغه د ذکرې شوې مياشتې پنځه ورځې دي چې د اتمې ورځې څخه شروع کېږي، او داسې نور. مګر د ﴿ مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې د ذکرو شوو ورځو څخه به د نحر ورځې مطلب وي، چې لسمه (د لوی اختر ورځ) ده او دوه ورځې نورې (يوولسمه او دولسمه) دي چې

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۱۲۷؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۹؛ سنن ابن ماجه ص۳۴
(۲) سنن النسائي ج۱ ص۳۴۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۲۴۰؛ صحيح مسلم ج۱ ص۳۹۰
(۴) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۱۶؛ زاد المسير ج۵ ص۲۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نحر پکښې جائز دی[۱]. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

ترڅو په دغو ورځو کښې حاجیان د بوت پرستانو دود او دستور د پښو لاندې کړي چې په خپلو قربانیو باندې به یې د خپلو بوتانو نوم یاداوه، او ترڅو دوی په خپلو هغو قربانیو باندې کومې چې الله ﷻ ورته روزي کړې دي فقط د الله ﷻ نوم یاد کړي، البته چې دا څاروي د بې ژبو چارپایانو څخه عبارت دي.

## د قرباني د غوښې خوراک جائز دی

۸ـ د مشرکانو جاهلي رواج وه چې د خپلو قربانیو څخه به یې غوښې نه خوړې په دې ګومان چې دا مونږ ته جواز نه لري[۲]، نو الله ﷻ دغه رواج رد کړ چې: ﴿ فَكُلُوا۟ مِنۡهَا ﴾ یعنې کله چې تاسو د الله ﷻ په نامه قرباني وکړې نو د هغو څخه تاسو ته جائزه ده چې پخپله باندې یې هم ترې څه وخورئ، او په فقیرانو باندې یې هم وخوروئ.

د همدې کبله کله چې نبي کریم ﷺ د خپل حج په وخت کښې متعددې قربانۍ وکړې نو امر یې وکړ چې د هرې یوې قربانۍ څخه لږ-لږ غوښه راپرې کړئ: «فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ فَأَكَلَا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا»[۳] یعنې راپرې کړی شوې غوښې په دېګ کښې واچولې شوې نو پخې کړی شوې نو نبي کریم ﷺ او علي ؓ دواړو ترې څه غوښه وخوړه او څه ښوروا یې وڅښله.

## تَفَث څه معنی؟

۹ـ په ﴿ ثُمَّ لۡيَقۡضُوا۟ تَفَثَهُمۡ ﴾ کښې د "تَفَث" کلمه هغو خیرو ته وضعه شوې ده کومې چې د انسان د بدن سره پیوستون لري خو د احرام د کبله ترې سړی منعه شوی وي[۴] چې خپل ځان ترې پاک کړي، لکه نوکان، د تخرګونو وېښتان او داسې نور. او د ﴿ لۡيَقۡضُوا۟ ﴾ کلمه د "قضاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د لرې کولو او زائل کولو معنی ورکوي[۵].

یعنې بیا دې حاجیان خپل ځانونه د خیرو څخه پاک کړي، نو نوکان دې قلم کړي او برېتونه دې برابر کړي، او هم دې د نامه څخه لاندې وېښتان وخریي او د تخرګونو وېښتان دې وباسي او داسې نور.

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د حج د مناسکو په منځکښې الله ﷻ په نذرونو باندې د وفاء کولو امر نازل کړ چې: ﴿ وَلۡيُوفُوا۟ نُذُورَهُمۡ ﴾ او حاجیان دې خپل نذرونه پوره کړي؟

مونږ وایو چې: د "نُذُور" کلمه د "نَذر" ـ لکه "ضَرب" ـ جمعه ده او د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۲۷۰]

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۳۴
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۳۸
(۳) صحیح مسلم ج۱ ص۳۹۹
(۴) مفردات الراغب ص۷۱
(۵) لسان العرب ج۲ ص۱۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ت لاندې د ښه اوږده بحث او تحقیق په ضمن کښې لیکلی شوي دي چې دغه کلمه دې ته وضعه شوې ده چې سړی په خپل ځان باندې داسې یو شی واجب وګرځوي او التزام یې وکړي کوم چې په هغه باندې واجب نه وي.

نو نظر ذکر شوي تعریف ته د حج او د عمري ټول مناسک او ارکان په سړي باندې هغه وخت هر یو واجبېږي چې کله یې څوک په احرام تړلو سره التزام وکړي، ته به وایې چې ټول یې په خپل ځان باندې نذر کړه. د همدې کبله کله-کله د اسلام ټولو احکامو ته د نذرونو لقب ورکول کېږي چې په ایمان راوړلو او مسلمانېدلو باندې یې هر مسلمان التزام کوي.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: مسلمانان (حاجیان) دې په خپلو ټولو التزاماتو باندې عموماً او د احرام په التزاماتو باندې خصوصاً پاملرنه وکړي او پوره دې کړي، که څه هم د دوی د عقل څخه پورته وي او په اسرارو باندې یې نه پوهېږي، لکه د متعددو قربانیو ذبحه کول او د حجر اسود مسه کول او داسې نور.

## درې طوافونه

۱۱ـ په حج کښې درې طوافونه صورت نیسي چې شرحه یې لاندې لوستلی شئ:

الف: طواف القدوم، دا د هغه طواف نوم دی چې د ورتګ په لومړي وخت کښې ترسره کېږي، دا طواف سنت دی او د مکې معظمې په اوسېدونکو باندې نشته.

ب: طواف الافاضه یا طواف الزیاره، دا هغه طواف دی چې د عرفات څخه وروسته د لوی اختر په ورځ باندې یې وخت شروع کېږي، دا طواف فرض دی او په ﴿ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ﴾ کښې همدغه طواف ته اشاره ده[۱].

ج: طواف الصدر یا طواف الوداع، دا هغه طواف دی کوم چې د رخصت کېدلو په وخت کښې ورباندې واجبېږي[۲]. که څوک په دریواړو طوافونو کښې بشپړ تحقیق او د هر یوه بېل-بېل احکام غواړي نو د فقهې کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۳]، همدارنګه ځینو اوږدو تفاسیرو هم د حج مناسکو ته ډېر زیات تفصیل ورکړی دی او اړونده مسائل یې پکښې زښت ډېر راغونډ کړي دي[۴] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې ولولي.

## بیت العتیق د کعبې شریفې لقب دی

۱۲ـ په ﴿ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ﴾ کښې کعبې شریفې ته د "عتیق" لقب ورکړی شوی دی چې علماوو کرامو پکښې متعددې وجې ښودلې دي[۵] لاندې مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۳۹
(۲) تفسیر المظهري ج۶ ص۳۰۹
(۳) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۲ ص۱۱۸. ۲۲۶: الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۷. ۳۴۵
(۴) اضواء البیان ج۵ ص۷۰. ۶۸۸: تفسیر المظهري ج۶ ص۲۷۹. ۳۱۶
(۵) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: عتیق د قدیم معنی ورکوي او کعبه شریفه د عبادت دپاره د ځمکې په مخ لومړنی کوټه ده، لکه چې [آل عمران: ۹۶] ایت ورته اشاره کړې ده.
ب: عتیق د حر او ازاد په معنی سره ده، دا کوټه هم د خلکو د ملکیت څخه ازاده ده.
ج: همدارنګه الله ﷻ دغه کوټه د نوح ﷺ د طوفان په دوران کښې د غرقېدلو څخه ازاده ساتلې ده.
د: که څه هم ذکرې شوې وجې سره یو تربله منافات نه لري، کیدی شي چې کعبه شریفه د متعددو وجوهو د کبله د عتیق په نامه یاده شوې وي، مګر د نوم ایښودلو ډېره بهتره وجه یې هغه ده کومې ته چې نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّمَا سُمِّيَ الْبَيْتَ الْعَتِيقَ لِأَنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ عَلَيْهِ جَبَّارٌ»[١] یقینًا (بیت الله شریف) د بیت العتیق په نامه باندې له دې کبله نومولی شوی دی چې یوه جبار (متکبر) هم ورباندې غلبه نه ده موندلې (او ورباندې نه دی برلاسی شوی).

﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ۗ وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِۦ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾ ﴾

[۳۰] (ای پیغمبره! مؤمنان دې د) دغه (ذکرو شوو احکامو حفاظت وکړي) او (په دې باندې علاوه) هغه څوک چې د شرعي احکامو (یا مناهیوو) تعظیم وکړي (په عقیده او عمل کښې یې پیاده کړي) نو دا ورته د ده د رب ﷻ په نزد (په دنیا او آخرت کښې) غوره (او بهتر) دی.
او (ای مؤمنانو!) تاسو ته څاروي حلال کړی شوي دي (په خپلو ځانونو باندې یې مه حراموئ) مګر هغه څاروي کوم چې په تاسو باندې (په قرآن کریم کښې) تلاوت کېږي (پخوا نازل شوی دی او یا به وروسته نازل شي). نو تاسو د پلیتۍ څخه اجتناب وکړئ چې د بوتانو څخه عبارت دي (شرک مه کوئ) او (همدارنګه) د دروغینې وینا څخه هم اجتناب وکړئ (مه په الله ﷻ باندې دروغ تړئ او مه په بندګانو باندې).

[۳۱] په داسې حال کښې (اجتناب وکړئ) چې (د ټولو باطلو ادیانو څخه) الله ﷻ ته راتاوېدونکي یاست او همده ﷻ ته مشرکین نه یاست (بلکې خپل ځانونه موحدین جوړ کړئ).
او (دا خکه) هرڅوک چې د الله ﷻ سره شریک ودروي نو یقینًا هغه داسې دی لکه چې د اسمانه راغورځېدلی وي نو (بیا مردارخورو) مرغانو (په خپلو منبوکو کښې) تښتولی وي او یا هغه لره (تېز

[١] جامع الترمذي ج٢ ص١٥٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لرې خای کښې ښکته ګوزار کړی وي.

[۳۲] (ای مؤمنانو! تاسو د) دغو (ذکرو شوو شیانو څخه اجتناب وکړئ) او (په دې باندې علاوه) هرڅوک چې د شعائر الله تعظیم (او قدرداني) وکړي نو یقیناً د شعائر الله تعظیم د زړونو د تقوی (دینداری) څخه سرچینه اخلي (نو هغه متقي دی).

[۳۳] (ای مؤمنانو!) تاسو ته د قربانۍ په څارویو کښې د ټاکلې نېټې پورې ګټې شته (جانزې دي چې د لبیک اواز مو ورباندې نه وی پورته کړی)، بیا (نو د اواز د پورته کولو څخه وروسته) یې ورښکته کول (صرف) قدیمي کوټې (کعبې شریفې) پورې منتهي کېږي (چې باید په حرم شریف کښې قرباني کړی شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم هغه مضمون تعقیب شوی دی کوم چې په وړاندېنیو ایتونو کښې مطرح وه نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱_ ای پیغمبره! ذکر شوی مضمون په خپل امت باندې قرائت کړه او توصیه ورته وکړه چې په عمل کښې یې پیاده کړي، او په دې باندې علاوه دا هم ورته ووایه چې:

هرڅوک چې د الله ﷻ د شرائعو تعظیم وکړي او په مطابق یې عمل وکړي (د سپکاوي څخه یې خان وساتي) نو دا کار پخپله د همدغه کس دپاره د ده د رب ﷻ په نزد بهتر دی (دا د ده خپله ګټه ده)، او که سپکاوی یې وکړي او عملي یې نه کړي نو پخپله همده ته تاوان دی، الله ﷻ د بندګانو عبادت ته نه څه احتیاج دی او نه یې ورپورې د کوم کمال توقف شته.

۲_ دا هم ورته ووایه چې تاسو ته د الله ﷻ د پلوه څاروي حلال کړی شوي دي چې غوښې یې وخورئ مګر د هغو څارویو غوښې درته حلالې نه دي کوم چې په تاسو باندې لوستل کېږي چې دا او هغه مه خورئ. لنډه دا چې تاسو ته حلال او حرام دواړه د الله ﷻ د پلوه ټاکلي شوي دي نو په همدې باندې کلک ودرېږئ او په څارویو باندې په پټو سترګو په غیر شرعي توګه نومونه مه ږدئ چې دا حلال دی او دا حرام دی، نو:

الف: د پلیتیو څخه خپل ځانونه وساتئ چې د بوتانو څخه عبارت دي، مه ورته په عبادت کښې شرکت ورکوئ او مه یې په نامه باندې څاروي خوشې کوئ چې په خپلو ځانونو باندې یې حرام وګرځوئ، بلکې د مطلقې دروغینې وینا څخه خپل ځانونه په څنګ وساتئ، مه په الله ﷻ باندې دروغ تړئ چې په شریکانو باندې ورته قائل شئ او مه په الهي تشریع کښې په دروغو باندې قول کوئ چې خینې څاروي په خپلو ځانونو باندې حرام وګرځوئ.

ب: ای خلکو! تاسو د ټولو باطلو ادیانو څخه یوازې اسلام ته مخونه راواړوئ، نور ټول ادیان د پښو لاندې کړئ.

ج: بالآخره د الله ﷻ سره په هیڅ شي کښې شریکان مه دروئ او په سوچه توحید باندې قائل شئ چې په دې کښې ستاسو د دنیا او آخرت ګټه ده او په کفر او شرک کښې مو تاوان دی، دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هرڅوک چې د الله ﷻ سره په شریک باندې معتقد شي نو هغه داسې مثال لري چې د اسمانه ځمکې ته راولوېږي (د ډېرې لوړې درجې څخه ښکته راختا شي) او بیا په همدې باندې پرهېښودل شي چې ښکته را نسکور شي بلکې د رانسکورېدلو څخه وروسته یې یا مرغان په خپلو منښوکو کښې وتښتوي او تیت پرک یې وشندي او یا ورباندې تېز باد مسلط کړی شي او په ډېرې لرې ژورې کندې کښې یې وغورزوي، یا په بل عبارت: لکه چې ژوند یې خاتمه ومومي کالبوت (لاش) یې هم د منځه لاړ شي.

نو ای خلکو! د کفر او شرک څخه خپل خانونه په ځنګ وساتئ ځو د ذکر شوي مثال مورد ونه ګرځئ.

۳ـ ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې ذکر شوي وصایا او ارشادات په یاد کښې وساتئ او دا هم هېره نه کړئ چې:

هرڅوک چې د شعائر الله (د الله ﷻ د احکامو) تعظیم وکړي، که څه هم د هغو په اسرارو باندې یې سر نه وي خلاص شوی، نو په همدغه لحاظ شعائر الله د زړونو د تقوی څخه استازیتوب کوي.

نو تاسو د کعبې شریفې څخه د دې کبله طواف وکړئ او د عرفات په مقام باندې د دې کبله ودرېږئ چې په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه امر شوی دی، نه د دې کبله چې تاسو یا کعبې ته عبادت کوئ او یا عرفات ته د عبادت په شرکت باندې قائل کېږئ.

لنډه دا چې شعائر الله ځکه د زړونو د تقوی څخه استازیتوب کوي چې تاسو یې په تعظیم باندې د الله ﷻ د پلوه برهان او حجت لرئ. اما مشرکان د بوتانو په نامه باندې د څارویو په خوشې کولو باندې هیڅ دلیل او برهان نه لري بلکې په الله ﷻ باندې دروغ وایي او بهتان ورپورې تپي نو:

تاسو ته په څارویو کښې د یوې ټاکلې نېټې پورې څه ګټې وټې شته او استفاده ترې کولی شئ، چې د همدې دپاره الله ﷻ پیدا کړي دي، هو کله چې ټاکلې نېټه راورسېده او تاسو څاروي د کعبې شریفې دپاره د هدایاوو په نامه باندې تعین کړه او د "لبیک" اواز مو ورباندې پورته کړ نو بیا ترې تاسو د ډېر أشد ضرورت څخه په غیر استفاده نه شئ کولی او ګټه ترې نه شئ اخستلی، بلکې په دغه وخت کښې ذکر شوي متعین څاروي صرف په قدیمي کوټې پورې تعلق نیسي او همله باید ورښکته کړی شي، او د هغې په مربوطاتو (حرم شریف) کښې ذبحه کړی شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ کښې او همدارنګه په ﴿ ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ ذَٰلِكَ ، ذَٰلِكَ ﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو متعددې وجې لیکلې دي[۱] مګر کومه وجه چې مونږ ته بهتره برېښي هغه دا ده چې: د اول ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ سره به د "لیحفظوا" کلمه مقدره وي چې د ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا ﴾ سره په شکل کښې نژدې شي. یعنې مؤمنان دې ذکر شوي احکام په یاد ولري چې

---

(۱) تفسیر المظهري ج ٦ ص ۳۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عندالموقع يې په عمل كښې پياده كړي، او خپل خانونه د خيرو څخه پاک كړي او په نذرونو باندې وفاء وكړي او بالآخره د كعبې شريفې فرضي طواف اداء كړي.

او د دوهم ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ سره به د "اجْتَنِبُوا" كلمه مراده وي، چې د ﴿ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ﴾ د جملې د اشاراتو څخه څرګندېږي، يعنې اى مؤمنانو! تاسو د ذكرو شوو شيانو څخه اجتناب وكړئ، د حرمات الله او شعائر الله سپكاوى مه كوئ او هم د شرک او دروغينو ويناوو څخه خپل خانونه بچ وساتئ.

## سوال جواب

٢_ كه څوک وايي چې: "حرمات الله" او "شعائر الله" كومو كومو احكامو ته ويل كېږي او په خپلو منځو كښې سره څه فرق لري؟

مونږ وايو چې: د ذكر شوي سوال دپاره د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:١٥٨] ايت لاندې جواب وركړى شوى دى خو په دې مقام كښې ورباندې لاندې وضاحت وراضافه كوو چې:

"حرمات الله" او "شعائر الله" دواړه د شرعي احكامو څخه عبارت دي او په مصداق كښې اتحاد لري. يا په بل عبارت: شرعي احكامو ته په دې اعتبار سره حرمات ويل كېږي چې بايد په سپک نظر ورته ونه كتلى شي او په عمل كښې پياده كړى شي، ځكه چې د "حُرُمَات" كلمه د "حُرْمَة" _لكه "ظُلْمَة"_ جمعه ده، د "حُرْمَة" لفظ هغه شي ته وضعه شوى دى كوم چې د پېښو لاندې كول يې جواز نه لري او حلال نه وي[١]؛ او په دې اعتبار سره ورته د "شَعَائِر" لقب وركول كېږي چې الله ﷻ ته د بندګانو د تقرب او نژدېكت نښې او علامې دي، ځكه چې "شَعَائِر" د "شَعِيرَة" جمعه ده او د "شَعِيرَة" لفظ د علامې دپاره وضعه شوى دى[٢].

نو د ذكرې شوې شرحې په نظر كښې نيولو سره كه "حُرُمَات" د مناهيوو څخه او "شَعَائِر" د اوامرو څخه عبارت واخلو هم بده نه ده ځكه چې دواړه شرعي احكام دي، خو د دواړو د تعظيم معنى دا ده چې په عقيدې باندې علاوه په عمل كښې هم پياده كړى شي، برابره خبره ده چې تشريع يې په حج يا عمرې پورې ارتباط ولري او يا په نورو عبادتونو پورې پيوسته وي.

هو! ځينو علماوو كرامو د هغو څارويو چاغول او څربول هم تعظيم ګڼلى دى كوم چې سړى قصد لري چې په حج يا عمره كښې يې د خپله خانه سره كعبې شريفې ته د هداياوو په توګه بوځي، د همدې كبله ځينو صحابه وو كرامو ؓ ويلي دي چې: «كُنَّا نُسَمِّنُ الْأُضْحِيَةَ بِالْمَدِينَةِ وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يُسَمِّنُونَ»[٣] مونږ وو چې قرباني به مو په مدينه منوره كښې څربولې بلكې (ټولو) مسلمانانو (خپلې قرباني) څربولې.

---

(١) القاموس المحيط ج ص٦٢٧
(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٣٨٤
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٨٣٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## دوه ډوله تفسیر

۳ـ د ﴿ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ کلمات په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیر کېدلی شي:
الف: د دې کلماتو څخه هغه شرعي احکام مطلب دي کوم چې د څارویو د تحریم په هکله د دغه ایت څخه وړاندې نازل شوی وه چې بحث پکښې روان دی، یعنې تاسو ته څاروي حلال کړی شوي دي مګر هغه څاروي نه کوم چې پخوا نازل شوي دي او په تاسو باندې د یوه متواتر کلام په حیث لوستلی کېږي؛ نو په دې تقدیر به د ﴿ مَا يُتْلَىٰ ﴾ کلمات د [الأنعام:۱۴۵] ایت څخه عبارت وي چې په مکه معظمه کښې نازل شوي دي او په نزول کښې وړاندې دي.
ب: هغه شرعي احکام ترې مراد دي کوم چې وروسته نازلېږي، یعنې تاسو ته څاروي حلال کړی شوي دي مګر هغه څاروي نه کوم به چې درباندې وروسته تلاوت کړی شي، نو په دې تقدیر به ذکر شوي کلمات د [المائدة:۳] ایت څخه کنایه وي چې وروسته په مدینه منوره کښې نازل شوي دي.
هو! څه لرې نه ده چې د ﴿ مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ ﴾ کلمات عام واخستلی شي برابره خبره ده چې د نزول په توګه تلاوت وي او یا د قرائت په توګه وي، نو په دې تقدیر به ذکرو شوو دواړو ایتونو ته اشاره وي، والله ﷻ أعلم.

## زُور څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَٱجْتَنِبُواْ قَوْلَ ٱلزُّورِ ﴾ کښې د "زُور" کلمه د دروغو معنی ورکوي، برابره خبره ده چې په الله ﷻ باندې دروغ وي لکه چې مشرکان ورسره شریکان درول او په تحلیل او تحریم کښې ورپورې دروغ تپي، او که په بندګانو باندې وروتړلی شي.
دغه نوم ورته ځکه اېښودلی شوی دی چې دا کلمه د "زَوَر" ـلکه "کَرَم"ـ سره په حروفو کښې متحده ده چې د میلان دپاره وضعه شوې دي[۱]، په دروغو کښې هم د حق او واقعیت څخه باطل او غیر واقعیت ته میلان صورت نیسي.
یوه ورځې نبي کریم ﷺ د یوه اوږده حدیث په ضمن کښې وفرمایل چې: «أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ» یعنې اګاه اوسئ چې د لویو ګناهونو څخه ډېره لویه ګناه د دروغو وینا هم ده؛ راوي وایي چې: «فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ»[۲] یعنې همدغه کلمه «وَشَهَادَةُ الزُّورِ» نبي کریم ﷺ دوامداره تکراروله آن تر دې چې مونږ وویلې چې کاشکې چې نبي کریم ﷺ چپ شوی وی او اضافه یې خپل مبارک ځان ته تکلیف نه وی ورکړی.
همدارنګه یوه ورځې نبي کریم ﷺ د سبا لمونځ اداء کړ او بیا په ولاړه باندې ودرېد او درې کرتې یې وفرمایل چې: «عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللهِ» یعنې د دروغو شاهدي د دې سره برابره ده چې

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۳٦
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذوک په الله ﷻ باندې شرک وروتیې، «ثُمَّ قَرَأَ ﴿ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ ﴾ الآية»[۱] بیا نو نبي کریم ﷺ ذکر شوی ایت د استدلال په توګه قرائت کړ.

## مشرک ګرځېدل یا د اسمانه رالوېدل

۵_ په ﴿ وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِى بِهِ ٱلرِّيحُ فِى مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴾ کښې د ﴿ سَحِيقٍ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د "سَحُقَ" _لکه "ضَرُبَ"_ څخه نه ده اشتقاقه شوې چې د بو شي د ډېرو میده کولو معنی ورکوي، ته به وایې چې د سترګو رانجه ترې جوړ کړی شوه؛ بلکې د "سُحُقَ" _لکه "قُفُلَ"_ څخه یې اشتقاق موندلی دی چې د لرېوالي معنی ورکوي[۲].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې تشبیه د مفسرینو کرامو د پلوه په متعددو ډولونو سره انخوره شوې ده[۳] خو کوم انځور چې مونږ ته په زړه پوری برېښي هغه په لاندې ټکو باندې ولاړ دی:

الف: دا د هغه مشرک (کافر) دپاره مثال دی کوم چې په شرک او کفر باندې مړ شوی وي، نه د هغه کافر دپاره کوم چې ژوندی وي او د ایمان راوړلو احتمال یې د منځه نه وي تللی[۴].

ب: دلته د مفرداتو تشبیه ته اړتیا نشته بلکې د کافر سړي کیفیت د یوه سړي د کیفیت سره ورته ګڼلی شوی دی کوم چې د هغه حال سره مخامخ شي چې په ایت شریف کښې ورته اشاره شوې ده.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: په کفر او شرک باندې مړ شوی سړی د هغه چا سره یو رنګ دی کوم چې د اسمانه راولوېږي او ټول بدن یې چیت پیت او دړې وړې وګرځي چې د بېرته راژوندي کېدلو چانس یې بالکل د منځه لاړ شي، بلکې په دنیا کښې یې بیا راژوندي کېدل د دې وجې څخه هم محال او نه کېدونکي حالت ته ورسېږي چې سمدستي یې مرداري خوړونکي مرغان په خپلو منښوکو کښې وتښتوي او ټول تالا ترغه کړي، او یا ورباندې تېز باد مسلط کړی شي او د بدن ټول پځرکي یې ډېر لرې ځای ته والوزوي او هلته یې وشندي.

نو لکه څنګه چې نوموړي راغورزېدلي مړ شوي سړي ته په دنیا کښې د بیا راژوندي کېدلو چانس نشته چې بېرته راژوندی شي او خپل ځان ته څه ګټه ورسوي، همدارنګه مړ شوی مشرک او کافر هم دا چانس نه لري چې بیا به دنیا ته راشي او ایمان به راوړي، او لکه څنګه چې هغه په ظاهري مرګ باندې هلاک شوی دی همدارنګه دغه هم په معنوي مرګ باندې هلاک شوی دی.

۶_ یوه ورځې نبي کریم ﷺ په یوه ډېر اوږده حدیث شریف کښې وفرمایل چې: «...فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الْأَرْضِ السُّفْلَى فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا»[۵] یعني کله چې د کافر روح قبض

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۱۵۰
(۲) لسان العرب ج۱۰ ص۱۵۳
(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۵۵؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۸۳
(۴) اضواء البیان ج۵ ص۶۹۱
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړی شي نو اسمان ته به وخېژولی شي چې دروازه خلاصه کړئ، نو دروازه به ورته بېرته نه کړی شي، نو الله ﷻ به ووايي چې: د دغه کافر ليکنه په "سِجِّين" کښې وکړئ کوم چې په لاندېنۍ ځمکه کښې موقعيت لري، نو روح به يې د اسمانه راګوزار (راوارتولی) شي راګوزارول (را ارتول).

نو بيا نبي کريم ﷺ ذکر شوی ايت شريف ولوست، په کوم کښې چې بحث روان دی، ته به وايې چې په همدغه حديث سره به يې د ايت شريف تفسير ته اشاره کړې وي.

## سوال جواب

٧ـ که څوک وايي چې: په ﴿ لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ کښې د ﴿ فِيهَا ﴾ ضمير څه شي ته راجع دی؟ يا په بل عبارت: هغه څه شی دی چې مونږ ته پکښې د ټاکلې نېټې پورې منافع شته او بيا نشته؟

مونږ وايو چې: لږ وړاندې په دوهمه توضيح کښې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ تېر شو چې د ﴿ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه د قربانيو څارويو ته هم شامله ده، نو ذکر شوی ضمير همدغو څارويو ته راجع دی کوم چې د ﴿ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ د کلمې په ضمن کښې نژدې ذکر دی. نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: ای مسلمانانو! تاسو ته د قربانيو په هغو څارويو کښې د استفادې جواز شته کوم چې تاسو د همدې مطلب دپاره ساتلي او چاغ کړي وي مګر د کعبې شريفې په لور مو نه وی روان کړي او د لبيک اواز مو وړاندې نه وي پورته کړی. نو کله مو چې وړاندې د لبيک اواز پورته کړ نو د همدې نېټې څخه وروسته تاسو ته جائزه نه ده چې استفاده ترې وکړئ، هو که استفادې کولو ته مجبور او مضطر شوئ نو هغه بېله خبره ده. بيا نو د دغې نېټې څخه وروسته د قربانيو وربښکته کول پخوانۍ کوټې (کعبې) شريفې ته انتهاء مونده کوي چې بايد حرم شريف ته ورسوله شي او هلته قرباني شي.

## هېر مو نه شي!

٨ـ ذکر شوی ايت شريف مونږ د ابو حنيفه علیه الرحمة د اجتهاد مطابق تفسير کړ چې د قربانيو څخه د ټاکنې څخه وروسته بې ضرورته استفاده جائزه نه بولي، خو ځينې نور علماء کرام علیهم الرحمة ترې بې ضرورته هم استفاده جائزه ګڼي، الله ﷻ دې اجر ورکړي په همدې موضوع کښې ځينو محدثينو کرامو ډېر ښه تحقيق کړی دی[١] چې مونږ ترې يوازې د يوه حديث په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

نبي کريم ﷺ يوه صحابي ؓ ته وفرمايل چې: «ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا»[٢] يعني په دغې قربانۍ باندې سور شه (استفاده ترې وکړه مګر) په معروفه او په شريعت کښې په پېژاندلې شوې طريقې سره، خو کله چې ورته مجبور کړی شوې او ورته دې ضرورت شو، آن تر هغه وخته پورې چې ته بله سورلۍ مونده کړې او خپل ضرورت پرې پوره کړې.

---

(١) شرح معاني الآثار ج١ ص٤٠٩
(٢) سنن ابي داود ج١ ص٢٤٥؛ سنن النسائي ج٢ ص٢٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ
فَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ
وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَالْبُدْنَ
جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ
جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ
﴿٣٦﴾ لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ كَذَٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ
لِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَاكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِينَ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۴] او مونږ د هر (مسلمان) امت دپاره په قربانۍ سره عبادت کول د دې دپاره ګرځولي (مشروع کړي) دي چې دوی په هغو شیانو باندې د الله ﷻ نوم یاد کړي کوم چې ورته الله ﷻ روزي کړي دي چې د بې ژبې څارویو څخه عبارت دي.

نو (ای انسانانو!) ستاسو په حقه معبود (فقط) یو معبود دی نو تاسو خاص همده ﷻ ته غاړې کېږدئ (د همده ﷻ په نامه قرباني وکړئ).

او (ای پیغمبره!) عاجزي کوونکو خلکو ته (د الله ﷻ په رضامندۍ سره) زېرى ورکړه.

[۳۵] (چې دوی) هغه کسان (دي) کوم چې کله (ورته) الله ﷻ یاد کړی شي نو زړونه یې دارېږي، او کوم چې په هغو (مصیبتونو) باندې صبر کوونکي وي چې دوی ته رسیدلي وي، او (هم) د لمونځونو ودرونکي وي او (بالآخره) د هغو مالونو څخه کوم چې ورته مونږ روزي کړي دي (د الله ﷻ په لاره کښې) مصرف (او انفاق) کوي.

[۳۶] او اوښان (مو ګرځولي دي) ستاسو دپاره مو اوښان د شعائر الله څخه ګرځولي دي (تشریع کړي دي) چې ستاسو دپاره پکښې (د دنیا او د آخرت) خیر نغښتی دی (او خپل رب ﷻ ته ورباندې نژدې کېږئ).

نو د الله ﷻ نوم پرې (د قربانۍ په وخت کښې) په داسې حال کښې یاد کړئ چې په (درېوو) پښو باندې یې صفونه جوړ کړي وي (ولاړ وي او یوه پښه مو ورته تړلې وي)، نو کله چې (په ځمکه باندې) اړخونه ولوېږي (سا یې وخېژي) نو پخپله باندې یې ترې وخورئ او (هم یې) په سوال کوونکي او تمه کوونکي باندې وخوروئ (تاسو ته اجازه ده).

(ای پیغمبره!) په دغه ډول سره مونږ ستاسو دپاره (قوي) اوښان تابع ګرځولي دي (چې په اسانۍ سره یې قرباني کولی شئ) شاید چې تاسو (زمونږ دپاره) شکرونه اداء کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۷] (خو په یاد ولرئ چې) هیڅکله به الله ﷻ ته (د ثواب د حیثه) نه د قربانیو غوښې ورسېږي او نه به ورته د هغو وینې ورسېږي، مګر الله ﷻ ته ستاسو د پلوه پرهېزګاري (په همدې حیث) رسېږي. (ای پیغمبره!) په دغه ډول سره مو ستاسو دپاره (د قربانۍ) څاروي مسخر کړي دي (ترڅو تاسو وربانديې الله ﷻ ته ورنږدې شئ او هم) د دې دپاره چې تاسو (وربانديې) د الله ﷻ نوم په هغې توګه یاد کړئ کومه یې چې تاسو ته ښودلې ده.

او (ای پیغمبره!) نېکوکارانو ته (په دنیوي او اُخروي خوشالیوو باندې) زیری ورکړه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د قربانیو په هکله څه زیاته رڼا اچولې شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي: ای پیغمبره! خپل امت ته د قربانیو په ارتباطِ زمونږ د پلوه څه نور معلومات هم ورکړې هغه دا چې:

۱ـ هرڅومره مسلمانان امتونه چې ستاسو څخه پخوا تېر شوي دي د هغوی هر یوه امت ته مونږ د قربانیو تشریع ورنازله کړې وه ترڅو دوی یوازې د الله ﷻ نوم په هغو څارویو باندې واخلي او ذبحه یې کړي کوم چې ورته مونږ روزي کړي دي، چې د بې ژبو څارویو څخه عبارت دي. یوه امت ته مو هم دا نه ده جائزه کړي چې د بوتانو او غیر الله په نامه قربانۍ وکړي، نو دا دی تاسو ته مو هم د قربانۍ تجویز درنازل کړ چې یوازې د الله ﷻ په نامه قربانۍ وکړئ او د شرک څخه خپل ځانونه په کلکه وساتئ، او دا ځکه چې ستاسو د ټولو امتونو معبود فقط او فقط یو معبود دی او بس، نو خاص د همده ﷻ اطاعت وکړئ او ارشاداتو ته یې غاړې کېږدئ.

۲ـ ای پیغمبره! اوس نو عاجزي کوونکو او د ارشاداتو منونکو ته زمونږ په رضامندۍ او نورو نعمتونو باندې زیری ورکړه چې دوی د لاندې صفاتو خاوندان دي:

الف: هر کله چې د الله ﷻ نوم یاد شي نو په زړونو کښې یې ډار پیدا کېږي.

ب: دوی هغه کسان دي چې په هغو مصیبتونو باندې صبر کوي کوم چې ورته ورسېږي، نو په الله ﷻ باندې اعتراض نه کوي بلکې د ده ﷻ په قضاء باندې راضي وي.

ج: دوی خپلو لمونځونو لره د ټولو حقوقو سره ودروونکي وي.

د: بالآخره عاجزي کوونکي هغه کسان دي چې د هغو مالونو څخه في سبیل الله نفقه کوي کوم چې ورته مونږ روزي کړي دي او ورته ورکړي مو دي.

۳ـ دا هم زمونږ د پلوه خپل امت ته توصیه کړه چې:

الف: مونږ ستاسو دپاره د اوښانو قربانۍ هم د شعائر الله څخه ګرځولې دي ترڅو پرې تاسو د الله ﷻ نوم یاد کړئ او د غیر الله د نامه څخه اجتناب وکړئ.

ب: په دې کښې ستاسو دپاره د دنیا او د آخرت ښېګڼې نغښتې دي، یا په بل عبارت: د اوښانو د قرباني کولو تشریع ستاسو د خیر دپاره صورت نیولی دی، نو تاسو ته په کار دي چې د تاوان په نظر ورته ونه ګورئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نو په داسې حال کښې یې قرباني کړئ او د الله ﷻ نوم وربانديې یاد کړئ چې پښې یې د مخونو غونديې وي، یا په بل عبارت: اوښان په ولاړه باندې قرباني کړئ.

د: هوا چې کله د قرباني کولو څخه وروسته په ځمکه باندې پرېوځي او اړخونه ولګوي نو تاسو ته جائزه ده چې پخپله باندې یې هم د غوښو څخه استفاده وکړئ او په فقیرانو باندې یې هم وخوروئ.

ه: تاسو ته په کار دي چې د حاضرو ټولو خلکو پکښې تر امکانه برخې وکړئ، هسې نه چې یوازې په هغو خلکو باندې اکتفاء وکړئ کوم چې سوال کوونکي وي او تمه لرونکي خلک پرېږدئ، بلکې تاسو یې په دواړو ډولو خلکو باندې وخوروئ.

و: مونږ ستاسو دپاره څاروي او اوښان دغه ډول مسخر کړي دي چې تاسو یې په قرباني کولو باندې مسلط یاست، او په دې باندې علاوه د غوښو خوراک یې درته جائز ګرځولی شوی دی، نو د دغسې تسخیر د کبله تاسو ته ښایي چې د الله ﷻ د نعمتونو شکر وکړئ او سوچه عبادت ته یې غاړې کېږدئ.

ز: ای مؤمنانو! تاسو په دې باندې پوه شئ چې محض غوښې او محض وینې تویول د الله ﷻ په نزد د قبول درجې ته نه رسېږي او الله ﷻ وربانديې نه راضي کېږي ترڅو چې ورسره د شرک او کفر څخه پرهېزګاري ملګرې شي.

لنډه دا چې د الله ﷻ په نزد غوښې او وینې (د څارویو قرباني) څه ارزښت نه لري مګر د ده ﷻ په نزد ستاسو د پلوه تقوی ارزښت لري، نو تاسو په خپلو ټولو قربانیو بلکې په ټولو کړو وړو کښې د تقوی او پرهېزګارۍ زیات مراعات او حفاظت وکړئ.

ح: ای مؤمنانو! الله ﷻ ستاسو دپاره په دغه ډول سره څاروي مسخر کړي دي چې تاسو یې قرباني کړئ او د خپل رب ﷻ رضامندي وربانديې ترلاسه کړئ، که بالفرض د الله ﷻ تسخیر نه وی نو ستاسو به پرې توان نه وی رسېدلی چې قرباني یې کړئ.

ط: دا ټول د دې دپاره چې تاسو صرف الله ﷻ په لويۍ سره یاد کړئ او په هغې لاره باندې په سیده توګه لاړ شئ کومه یې چې تاسو ته ښودلې ده او هدایت یې درته کړی دی.

۴_ بالآخره ای پیغمبره! که مؤمنان ذکر شوي ارشادات په نظر کښې ونیسي او د هدایت په مطابق وربانديې عمل وکړي نو په دغه وخت کښې به دوی د نېکوکارانو څخه وشمېرلی شي، او ته نېکوکارانو ته د الله ﷻ د پلوه په دنیاوي او اُخروي خوشالیو باندې زیری ورکړه.

## توضیحات

۱_ الله ﷻ د څارویو د قربانۍ په هکله ډېر تاکیدي ارشادات نازل کړه.شاید چې په دې کښې به لاندې حکمتونه مرموز وي:

الف: مونږ د "الأنعام" د سورت په سریزه کښې د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې د مشرکانو د شرکیاتو دپاره یوه غټه وجه څاروي هم وه، چې یا به یې د بوتانو په نامه قرباني کول او یا به یې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدوی په نامه پرېښودل چې هیڅا به ترې استفاده نه کوله؛ نو الله ﷻ مهرباني وکړه او د څارويو په هکله یې توحیدي احکام نازل کړه چې پرېښودل یې بالکل ناجائز وګرځول او هغه قربانی یې جائزې کړې کومو چې یوازې د الله ﷻ په نامه صورت نیولی وي.

ب: څرنګه چې په قربانۍ کښې د یوه پلوه د سړي د لاسه څه مال بهر وځي، څه لرې نه ده چې په خینو خلکو باندې دروند تمام شي، او د بله پلوه د قربانیو شکل په ظاهري توګه د خپل مال ضائع کولو ته ورته دی چې سړی خپل څاروی یا خپل ډېر څاروي قرباني کړي او ځای په ځای یې پرېږدي، نو څه لرې نه ده چې د چا په ذهن کښې وګرځي چې د قربانۍ څخه به دا بهتره وی چې ژوندي یې کوم فقیر ته ورکړی وی؛ نو الله ﷻ مهرباني وکړه او د ذکرو شوو او نورو احتمالاتو مخه یې په ډېر تاکید سره ونیوله او مؤمنانو ته یې ډاډ او اطمنان ورکړ چې په دغه کار کښې ستاسو ګټه ده، دغه کار ته زړه نا زړه کېږئ مه، دا ډول عبادت خو یوازې په تاسو باندې نه دی فرض شوی بلکې ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا ﴾ مونږ د هر مسلمان امت دپاره دا ډول عبادت تشریع کړی دی.

نو دا ایت هغه ایت ته ورته دی کوم چې د روژې په هکله نازل شوی دی چې: ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ [البقرة:۱۸۳] یعنې ای مؤمنانو! په تاسو باندې روژه داسې فرض کړی شوې ده لکه چې په هغو کسانو باندې فرض کړی شوې وه کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي.

## منسک څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا ﴾ کښې د "مَنْسَك" کلمه میمي مصدر ده[۱]، دا کلمه که څه هم نورې معناوې هم لري خو د ذبحې او الله ﷻ ته د نژدېکت په غرض د څاروي د وینې تویولو معنی هم ورکوي[۲]، یعنې مونږ د هر امت دپاره د څارویو د ذبحه کولو په ذریعه عبادت مشروع کړی دی او تاسو ته هم مشروع دی.

## د إخبات معنی

۳ـ په ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ ﴾ کښې د "مُخْبِتِين" کلمه د "اِخْبَاتْ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د نرمښت او تواضع معنی ورکوي[۳]، که څه هم په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[۴] مګر ډېر بهتر تفسیر یې همغه دی کوم چې په متصل ایت کښې نازل شوی دی چې: ﴿ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ الآیة، یعنې تواضع کوونکي هغه کسان دي چې ډارېږي او صبر کوي او لمونځونه دروي او خیراتونه (مالي صدقات) کوي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۶۱
(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۰۶
(۳) مفردات الراغب ص۱۴۱
(۴) روح المعاني ج۱۷ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## صرفي او نحوي تحليلونه

۴ـ په ﴿ وَٱلْبُدْنَ جَعَلْنَٰهَا لَكُم ﴾ کښې د "بُدن" کلمه د "بَدَنَةٌ" ـلکه "ثَمَرَةٌ"ـ جمعه ده، چې د هغه اوښ یا غوایه معنی ورکوي کوم چې په مکه معظمه کښې د کعبې شریفې د تعظیم په توګه قرباني کړی شي، دا نوم ورباندې ځکه اېښودلی شوی دی چې د "بَدَانَةٌ" ـلکه "شَرَافَةٌ"ـ څخه یې اشتقاق مونډلی دی چې د غوښې د ډېروالي او څوربوالي معنی ورکوي[۱]، او پوره واضحه ده چې په اوښ او غوایه کښې غوښې ډېرې وي.

هو! که اوزه یا ګډه د ذکر شوي تعظیم په لحاظ قرباني کړی شي نو هغه د "أُضْحِيَةٌ" په نامه یادېږي چې جمعه یې "ضَحَايَا" راځي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي عبارت کښې د ﴿ وَٱلْبُدْنَ ﴾ کلمه په مقدر "جَعَلْنَا" باندې منصوبه ده چې مذکور ﴿ جَعَلْنَٰهَا ﴾ ورته تفسیر واقع شوی دی، ته به وایې چې داسې نازل شوی: "وَجَعَلْنَا الْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ" یعنې او مونږ قرباني ګرځولې دي ستاسو دپاره مو د شعائر الله د جملې څخه ګرځولې دي چې تاسوورباندې خپل رب ﷻ ته تقرب او نژدېکت حاصل کړئ.

### صواف څه معنی؟

۵ـ په ﴿ فَٱذْكُرُواْ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا ﴾ کښې د ﴿ صَوَآفَّ ﴾ کلمه د "صَافَّة" جمعه ده چې د "صَفٌّ" ـلکه "مَدٌّ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "صَفٌّ" دې ته ویل کېږي چې یو شی په یو مستقیم خط باندې وګرځولی شي[۲]. په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راخېژي چې: تاسو اوښان په داسې حال باندې قرباني کړئ چې خپلې پښې یې په مستقیم خط باندې اېښې وي او ولاړ وي؛ ذکره شوې کلمه همدغه ډول د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د پلوه تفسیره شوې ده[۳].

په دې باندې علاوه یوه ورځې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما یو سړی ولید چې خپله اوښه یې چو کړې وه او قصد یې کړی وه چې قرباني یې کړي، نو نوموړي صحابي ﷺ ورته وویلې چې: «ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»[۴] یعنې دا اوښه پورته کړه په داسې حال کښې یې قرباني کړه چې ولاړه وي او یوه پښه یې تړلې شوې وي، د خپل پیغمبر ﷺ طریقه عملي کړه چې اوښان به یې همدغسې قرباني کول.

بلکې عین مضمون د ایت شریف څخه هم د اشارې په توګه څرګندېږي، ځکه چې په ﴿ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا ﴾ کښې د ﴿ وَجَبَتْ ﴾ کلمه د "وُجُوب" څخه اشتقاقه شوې ده، "وُجُوب" اصلاً د سقوط (لوېدلو)

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۴۸
(۲) مفردات الراغب ص ۲۹۰
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۳۱
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۴۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره وضعه شوی دی. واجبي حکم ته ځکه واجب وايي چې د سقوط سره ثبوت ملګری وي، ته به وايې چې په مکلف باندې رالوېدلی دی او ترې پورته کېږي نه، د همدې کبله مرګ ته هم د "وُجُوب" لقب ورکړی شوی دی چې د مړي ځخه مرګ نه پورته کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې عبد الله بن ثابت ﷺ مریض وه چې زنانه وو یې ژړل، خو یوه صحابي ﷺ دوی ژړا ته نه پرېښودلې، نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «دَعْهُنَّ فَإِذَا وَجَبَ فَلَا تَبْكِيَنَّ بَاكِيَةٌ» یعنې پرېږده چې ژاړي خو کله چې عبد الله بن ثابت ﷺ واجب شو نو بیا دې یوه ژړېدونکې زنانه هم نه ژاړي. صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې: «وَمَا الْوُجُوبُ؟ يَا رَسُولَ اللهِ!» ای د الله ﷻ پیغمبره! وجوب څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «الْمَوْتُ»[1] وجوب د مرګ څخه عبارت دی.

نو د ایت شریف حاصل داسې راځېژي چې: ای مؤمنانو! تاسو د قربانۍ په وخت کښې په خپلو اوښانو باندې په داسې حال کښې د الله ﷻ نوم یاد کړئ او "بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ" ورباندې ووایئ چې هغه په درېوو پښو باندې ولاړ وي او وړاندېنۍ یوه پښه یې تړلی شوي وي، نو کله مو چې د تکبیر سره سم د سینې سره نژدې (د غاړې په آخر کښې) په تبر یا نېزه باندې وواهه او وینه ترې جاري شوه نو لږ وخت ورته تم شئ ترڅو قرباني کړی شوی اوښ په ځمکه باندې راولوېږي او سا یې وخېژي نو بیا درته جائزه ده چې فقیران لا څه چې پخپله هم ترې غوښې وخورئ.

## قانع او معتر څه فرق لري؟

۶ـ په ﴿ وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْقَانِعَ وَٱلْمُعْتَرَّ ﴾ کښې د "قَانِع" او "مُعْتَرّ" دواړه کلمې علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیرې کړې دي[2] مګر کومې معناوې چې مونږ ته بهترې برېښېدلې دي هغه دا دي[3]:

الف: "قَانِع" هغه چاته ویل کېږي کوم چې سوال کوي او بل ته یې لاس غزولی وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "قَانِع" کلمه د لاندې دوه وو بابونو څخه اشتقاق مومي:

اول: یو د "قَنَعَ يَقْنَعُ" ـلکه "مَنَعَ يَمْنَعُ"ـ مفتوح العین باب دی چې مصدر یې "قُنُوْعًا" استعمالېږي او د سوال کولو معنی ورکوي. چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مطلب دی.

دوهم: بل د "قَنِعَ يَقْنَعُ" ـلکه "عَلِمَ يَعْلَمُ"ـ مکسور العین باب دی چې مصدر یې "قِنَاعَةٌ" استعمال شوی دی چې د "رِضَاء" معنی ورکوي او سوال کول ورسره منافي دي.

ب: "مُعْتَرّ" په دې مقام د هغه چا لقب دی کوم چې سوال نه کوي خو د قربانۍ په شاوخوا کښې وړاندې ببرته تاوېږي راتاوېږي، ته به وایې چې د غوښې په تمه ناست دی، برابره خبره ده چې فقیر

---

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۸۷؛ سنن النسائي ج۲ ص۲۶۱
(۲) زاد المسیر ج۵ ص۲۹۶
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۲۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي او که غني وي. خکه چې په عربي محاوره کښې ویل کېږي چې: "اِغْتَرَرْتَ بِكَ حَاجَتِي"(۱) یعني ناته مې خپل حاجت وړاندې کړی وه، او د پوره کولو په تمه یې ناست وم.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ﴿٤١﴾﴾

[۳۸] یقینًا الله ﷻ د هغو کسانو څخه دفاع کوي کومو چې ایمان غوره کړی دی، (او دا څکه چې:) یقینًا الله ﷻ هر یو خیانتکار (او هر یو) ناشکره نه خوښوي.

[۳۹] (نو) هغو کسانو ته (د جنګ کولو) اجازه ورکړی شوه د کومو سره چې جنګ کول کېږي (په کومو باندې چې په دوامداره توګه جنګ تحمیلیږي، البته) د دې کبله (ورته اجازه ورکړی شوه) چې یقینًا په دوی باندې ظلم (او تېری) کول کېږي، او (اګر که دوی کمزوری دی مګر) یقینًا الله ﷻ د دوی په نصرت (غالب ګرځولو) باندې قدرت درلودونکی دی (سره د کمزورۍ به غلبه ورکړي).

[۴۰] (ذکر شوي ماذونان) هغه کسان دي چې د خپلو کورونو څخه بدون د حقه (په ناحقه) سره وویستلی شوه (او هجرت کولو ته مجبور کړی شوه، د دوی بله هیڅ ګناه نه وه) مګر (په همدې خبره باندې یې دښمنان په غُصه شوه چې) دوی ویلي چې زمونږ رب (یوازې) الله ﷻ دی (او د بوتانو څخه بېزار شوه).

او (ای پیغمبره!) که چرته الله ﷻ (د تاریخ په اوږدو کښې) د خلکو مخنیوی د دوی د څینو (کفارو) په څینو (نورو مسلمانانو) سره نه وی کړی نو هرومرو به د رهبانانو د رهبانیت کوټې ړنګې کړی شوې وی او د نصاراوو د عبادت څایونه (هم) او د یهودانو کلیساګانې (هم) او (بالآخره) د مسلمانانو جوماتونه (به هم اباد نه وی پاتې شوي) چې په دغو (څایونو کښې (به عمومًا) د الله ﷻ نوم ډېر (یادیده او په جوماتونو کښې په خاصه توګه د الله ﷻ نوم ډېر) یادېږي.

او هرومرو ضرور به الله ﷻ د هغه چا سره نصرت وکړي کوم چې د ده ﷻ (د دین) سره نصرت کوي، یقینًا الله ﷻ قوتناک دی (او هم) د کلکې ارادې خاوند دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۳۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۱] (د الله ﷻ د دین سره کومک کوونکي) هغه کسان (دي) که چرته مونږ ورته په ځمکه کښې ثبات (امکانیات او حکومت) ورکړو، نو دوی لمونځ ودروي او زکات ورکوي او (هم) په ښو کارونو باندې امر کوي او د بدو (په شریعت کښې د نا اشنا کارونو) څخه (خلک) منعه کوي.

او خاص الله ﷻ ته د ټولو کارونو انجام دی (نو د دین د کومک کوونکو سره به هم په خپل وخت حساب کتاب وکړي).

## شان نزول

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۷۷] ایت لاندې لیکلي دي چې په مکه معظمه کښې به عبد الرحمن بن عوف ﷺ او څه نور صحابه کرام ﷺ د نبي کریم ﷺ حضور ته ورتلل چې د مسلح جهاد اجازه راکړه ځکه چې مونږ د مشرکانو د لاسه ډېر زیات په تنګ شوي یاستو، خو نبي کریم ﷺ به ورته په جواب کښې ارشاد کاوه چې: «إِنِّيْ أُمِرْتُ بِالْعَفْوِ فَلا تُقَاتِلُوا»(۱) یقیناً زه په عفوه باندې مامور کړې شوی یم نو تاسو مسلح جهاد مه کوئ، او همدارنګه نبي کریم ﷺ ته یوه ډله صحابه کرام ﷺ ورغله او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ ته اجازه وکړه چې ځینې مشرکان ووژنو او یا ورسره خیانت او ټګي وکړو (په چل سره یې قتل کړو او څوک راباندې پوه نه شي)؛ نو الله ﷻ دا ایت شریف نازل کړ چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ الآية(۲)، یعنې تاسو صبر وکړئ الله ﷻ به ستاسو څخه دفاع وکړي او د جهاد اجازه به درکړي، نو الله ﷻ خپله وعده پوره کړه چې:

۲ـ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي: د جهاد په هکله چې کوم لومړنی ایت نازل شوی هغه همدغه ایت دی چې: ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ﴾ الآية(۳).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېني پنځه ویشتم [۲۵] ایت کښې دا مضمون تېر شوی وه چې د مکې مشرکانو په حدیبیه مقام کښې مسلمانانان ایسار کړه او د عمرې د اداء کولو دپاره یې پرېښنبودل چې د الله ﷻ په نامه خپل څاروي قرباني کړي، بیا د حج او عمرې او هم د قربانیو په ارتباط ځینې ارشادات نازل شوه؛ په دې ایتونو کښې د کلام مخ بېرته اصلي مضمون ته ور اړولی شوی دی او د مشرکانو د زور د ماتولو دپاره اساسي چاره ښودلې شوې ده چې د جهاد تجویز دی.

۲ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دا عبارتونه ﴿وَبَشِّرِ ٱلْمُخْبِتِينَ﴾، ﴿وَبَشِّرِ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ هم نازل شوي وه، په دې ایتونو کښې د بشارت یوه مثال ته اشاره شوې ده چې الله ﷻ به د عاجزي کوونکو او نېکوکارانو سره کومک وکړي او د دوهم خل دپاره به مشرکانو ته توان ورنه کړي چې د کعبې شریفې د زیارت څخه یې ایسار کړي، نو حاصل یې داسې راخېژي:

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۵۱؛ تفسیر البغوي ج۱ ص۴۵۳
(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۰۴
(۳) سنن النسائي ج۲ ص۵۱؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د مسلح جهاد په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه
۱ـ یقیناً الله ﷻ د مؤمنانو څخه د کفارو د ضرر مخنیوی کوي چې مشرکان له زوره وغورزوي، او دا ځکه چې دوی د یو پلوه خیانتکاران دي او د بله پلوه ناشکران دي، او الله ﷻ هر یو خائن او ناشکره نه خوښوي. تر اوسه یې چې ورته څه زور ورکړی وه هغه د خوښۍ په بنیاد ولاړ نه وه بلکې د حکمت په اساس ولاړ وه.
۲ـ د همدې کبله چې الله ﷻ د مؤمنانو د غلبې او د کفارو د مغلوبیت اراده کړې ده نو:
الف: هغو کسانو ته د مسلح جهاد اجازه ورکړی شوه کوم چې د کفارو د پلوه وهل کېږي او وژل کېږي، حال دا چې د دوی د پلوه په هغوی باندې هیڅ ډول تعرض نه کېږي.
ب: ځکه دوی ته اجازه ورکړی شوه چې دوی مظلومان دي ترڅو دوی د مظلومیت څخه بچ شي.
ج: که څه هم دغه مظلومان مؤمنان اوس د خپلو دښمنانو په پرتله کمزوري دي، خو یقیناً الله ﷻ د دوی په نصرت او کومک باندې قدرت لري چې همدغو کمزورو او لږو کسانو ته په هغوی باندې غلبه ورکړي او وربادنې مسلط یې کړي. او دا ځکه چې:
د: دغه کمزوري مؤمنان هغه کسان دي چې په ناحقه سره د خپلو کورونو څخه وویستلی شوه او هجرت کولو ته مجبور کړی شوه، د دوی نوره هیڅ ګناه نه وه فقط (د کفارو په خیال) یې همدا ګناه وه چې دوی د شرکیاتو څخه ځانونه ساتل او اقرار یې کاوه چې زمونږ رب ﷻ یوازې الله ﷻ دی، همدی زمونږ کارساز او همدی زمونږ معبود دی او بس، خو دغه خبره د کفارو او مشرکانو نه خوښېده او دوی یې په ډېرې بې رحمۍ سره د ظلم لاندې نیولي وه او د خپل ټاټوبي څخه یې وویستل.
۳ـ ای پیغمبره! الله ﷻ د مؤمنانو څخه ضرور دفاع کوي، که بالفرض دا کار ونه کړي نو کفار به تر هغه خپلو ظلمونو ته ادامه ورکړي ترڅو چې د جوماتونو دروازې وتړي او هیڅوک پرینږدي چې د الله ﷻ نوم پکښې په کثرت سره یاد کړي او یا د همدې غرض دپاره کوم جومات اباد کړي.
الله ﷻ په هره زمانه کښې دغه کار کړی دی، او دا ځکه که الله ﷻ د ځینو خلکو د ظلمونو مخه په ځینو نورو باندې نه وي نیولې نو د تاریخ په اوږدو کښې به نه د راهبانو د رهبانیت ځایونه اباد پرېښودلې شوي وی، نه د نصاراوو عبادتخانې، نه د یهودانو کلیساګانې او نه د مسلمانانو جوماتونه مګر ټول به ړنګ شوي او نړولي شوي وی.
۴ـ د همدغې دفاع په لحاظ هرومرو او ضرور د قیامت د ورځې پورې الله ﷻ د هغه چا سره کومک (نصرت) کوي کوم چې د ده ﷻ د نازل کړي دین (اسلام) سره نصرت کوي. او هم په دښمنانو باندې غلبه ورکوي چې د ظلمونو مخه یې بنده کړي او دا ځکه چې:
الف: الله ﷻ قوتناک دی، د ده ﷻ په مقابل کښې ټول مخلوقات کمزوري او ناتوانه دي.
ب: الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ بالمقابل مؤمنان هغه کسان دي چې که مونږ هغوی ته په ځمکه کښې قدرت او اقتدار ورکړو او د خلافت خاوندان یې ورګرځوو نو دوی لاندې کارونه کوي:

الف: پخپله باندې هم لمونځونه ودروي او په نورو باندې یې هم د ټولو حقوقو سره اداء کوي.

ب: زکاتونه ورکوي او په مالي عبادتونو کښې قصور نه واقع کوي او نور خلک ورته هڅوي.

ج: دوی په ټولو نېکو او په شریعت کښې په معروفو کارونو باندې امر کوي.

د: او د شرعي منکراتو او ناجائزو کارونو ته لکه څنګه چې پخپله نه ورانډې کېږي نور خلک یې هم اجراء کولو ته نه پرېږدي.

نو مونږ ځکه د دوی څخه دفاع کوو او په کفارو باندې نصرت او کومک ورکوو، مګر په یاد ولرئ چې د ټولو کارونو عاقبت او انجام الله ﷻ پورې اختصاص لري. نو ذکر شوي کسان هم په عاقبت کښې د الله ﷻ د پلوه د محاسبې لاندې نیولی کېږي نو ورته په کار دي چې تر انجامه پورې خپل خط السیر ته تغیر ورنه کړي، که نه نو د الله ﷻ نصرت او کومک به ترې بېرته واخستلی شي.

## توضیحات

۱_ د ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَـٰتَلُونَ﴾ الآية، د ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ الآية، دپاره تفسیر واقع شوی دی، یا په بل عبارت: الله ﷻ خپله د دفاع وعده پوره کړه چې مؤمنانو ته یې د جهاد اجازه ورکړه او خپل نصرت او کومک یې ورسره ملګری کړ، که نه نو د جهاد د ممنوعیت په هکله تقریبًا اویا (۷۰) ایتونه نازل شوي وه چې صبر وکړئ جهاد مه شروع کوئ إذن در روان دی[۱].

۲_ د ﴿وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ﴾ الآية، په مضمون یو بل ایت ورانډې په [البقرة: ۲۵۱] کښې تېر شوی دی، هیله ده چې د هغه خلاصه مطلب یو ځل ولوستلی شي.

## څلور ډوله عبادتخونې

۳_ په ﴿لَّهُدِّمَتْ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَـٰجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا ٱسْمُ ٱللَّهِ كَثِيرًا﴾ کښې الله ﷻ څلور ډوله عبادتخونو ته اشاره کړې ده چې که د ده ﷻ دفاع نه وی نو دغه څلور واړه به یوه هم په خپل وخت کښې اباد نه وی پاتې شوې. د څلورو واړو معناوې دا دي:

الف: د ﴿صَوَٰمِع﴾ کلمه د "صَوْمَعَةٌ" جمعه ده، او د هغې کوټې دپاره وضعه شوې ده کومه چې په ځمکه باندې پلنه وي مګر څوکه یې نرۍ وي[۲] چې په پښتو کښې د "ګنبزې" په نامه یادېږي.

په دې مقام کښې د نوموړې کلمې څخه د نصرانیانو د راهبانو هغه وړې-وړې کوټې مرادې دي چې د ښارونو څخه بهر به یې د ګومبزو په شکل جوړښت درلود او راهبانو به پکښې عبادت کاوه[۳].

ب: د "بِيَعٌ" کلمه د "بِيَعَةٌ" جمعه ده، دا هم د نصاراوو د عبادت د کوټو دپاره وضعه شوې ده مګر

---

(۱) تفسیر المظهري ج۶ ص۲۳۶
(۲) لسان العرب ج۸ ص۲۰۸
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه کوټې کومې به چې په بنارونو او ابادیو کښې جوړې شوې وې او د صوامعو په نسبت به پراخې وې او عامو عیسویانو به پکښې عبادت کاوه[۱].

ج: د "صَلَوَاتٌ" کلمه د "صَلَاةٌ" جمعه ده چې په عبراني لغت کښې د یهودانو د کلیسا نوم دی[۲]، او یا د "صلوثا" جمعه ده، "صلوثا" هم په عبراني لغت کښې کلیسا ته وایي[۳] چې په عربي کلام کښې یې په جمعه کښې په متعدو ډولونو باندې تلفظ کېږي حتی چې په نوموړې کلمه (صَلَوَاتٌ) کښې خوارلس ډوله قرائت اوربدلی شوی دی[۴]؛ او دا ځکه کله چې عجمي کلمه په عربي کلام کښې استعماله شي نو په خپل حال باندې نه پاتې کېږي.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۹۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "جبرائیل" په کلمه کښې چې اصلاً اعجمي ده په لس ډوله سره قرائت شته دي.

د: د "مَسَاجِدُ" کلمه د "مَسْجِدٌ" جمعه ده چې اصلاً د هغه ځای دپاره وضعه شوې ده په کوم باندې چې سجده لګولی کېږي، خو په استعمال او عام عُرف کښې د مسلمانانو (آخر الزمان پیغمبر ﷺ د اُمتیانو) د عبادت د ځای (جومات) معنی ورکوي.

که څه هم عبادت لکه څنګه چې په سجده باندې مشتمل دی همدارنګه په قیام او رکوع باندې هم اشتمال لري مګر د سجدې په حال کښې هر یو عبادت کوونکی الله ﷻ ته ډېر ورنژدې کېږي، نو په نوم اینبودلو کښې یوازې د سجدې مراعات شوی دی او جومات د مسجد په نوم نومولی شوی دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ»[۵] یعنې هغه حالت په کوم کښې چې بنده د خپل رب ﷻ رحمت او فضل ته ډېر نژدې وي په داسې حال کښې تحقق مومي په کوم کښې چې نوموړی سجده کوونکی وي، نو تاسو (د سجدې په حال کښې) ډېر سوالونه کوئ (اُمید دی چې درته مقبول وګرځي).

## یادونه

۴ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[۶] د ﴿ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِم﴾ الآیة، او ﴿ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ الآیة، دواړو ایتونو څخه د خلفاء الراشدینو مناقب استنباط کړي دي چې وروستنی ایت د لومړني ایت دپاره بیان واقع شوی دی، نو ځوک چې د اولنی ایت مصداقونه دي همغوی د دوهم ایت دپاره هم مصداقونه دي؛ مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په عموم سره پرېښودلی شي ترڅو د قیامت د ورځې پورې ټولو مؤمنانو ته شامل شي. یا په بل عبارت: په دغه ایت کښې د اسلامي

(۱) الجواهر للطنطاوي ج۱۲ ص۴۱
(۲) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۱۷۸؛ تفسیر المظهري ج۶ ص۳۳۰
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۱۰؛ تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۷۱
(۴) البحر المحیط ج۷ ص۵۱۷
(۵) صحیح مسلم ج۱ ص۱۹۱
(۶) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حکومت مشخصاتو ته اشاره شوې ده، چې اسلامي حکومت دغه دغه صفات لري، باید چې د قیامت تر ورځې پورې یې مسلمانان مراعات کړي.

څرنګه چې همدا نن[۱] هم په افغانستان کښې جنګ جاری دی او د دواړو طرفونو خبره یوه ده چې مونږ د اسلامي حکومت د جوړولو هلې ځلې کوو، نو افغانانو او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې هغه څلور مواد ورته معیار وټاکي کومو ته چې په ایت شریف کښې اشاره شوې ده او بیا مقایسه وکړي چې کوم طرف په دغو څلورو موادو باندې کلک ولاړ دي، نو هر یو طرف یې چې ورباندې کلک مونده کړ همغه په خپله خبره کښې صادق او مقابل طرف یې دروغژن دی.

﴿ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ إِبْرَٰهِيمَ وَقَوْمُ
لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَٰبُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ لِلْكَٰفِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ
كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ
مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَآ أَوْ ءَاذَانٌ
يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى ٱلصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ ﴾

[۴۲] او (ای پیغمبره!) که مشرکان (کفار) ستا تکذیب کوي نو (ته مه بې حوصلې کېږه ځکه چې) د دوی څخه وړاندې د نوح ﷺ قوم او هم عادیانو او ثمودیانو (خپل خپل پیغمبران) تکذیب کړي وه.

[۴۳] او (همدارنګه) د ابراهیم ﷺ قوم او د لوط ﷺ قوم (هم دغه کار کړی وه).

[۴۴] او د مدین د ښار ملګري (اوسېدونکي هم پرې اخته شوي وه) او (په دې باندې علاوه) موسی ﷺ ته هم (د فرعونیانو د پلوه) د دروغژون نسبت کړی شوی وه.

نو ما کفارو ته (د څه وخته پورې) مهلت ورکړ بیا مې (په عذاب سره) ونیول نو (وګوره چې) څنګه وه زما نا اشنا عذاب (چې ټول یې پوپنا کړه)؟!

[۴۵] نو د ښارونو څخه څومره ډېر مونږ په داسې حال کښې هلاک کړي دي چې دوی به ظالمان وه نو دا ښارونه په خپلو-خپلو چتونو باندې د پاسه پراته دي (او کنډوالې ګرځولې دي).

او د بې کاره کړی شوو کوهیانو څخه (څومره ډېر مونږ د اوبو د راویستونکو څخه خالي کړي دي) او د لوړو او دنګو ماڼیو څخه (څومره ډېرې مونږ د اوسېدونکو څخه خالي کړي دي او په نورو خلکو باندې مو ابادې کړې دي).

[۴۶] ایا نو کفار په ځمکه کښې نه دي ګرځېدلي (او نه ګرځي) چې دوی لره داسې زړونه وي چې د عقل څخه پرې کار واخلي او داسې غوږونه (ولري) چې اورېدل پرې وکړي؟

---

(۱) ۱۳. ۹. ۱۴۱۹ هـ ق - ۱۰. ۱۰. ۱۳۷۷ هـ ش.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو یقیناً قیصه (خبره) دا ده چې د سر سترګې یې ړندې نه دي مګر هغه زړونه یې ړانده دي کوم چې د دوی په سینو کښې دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو ظلم او تېري ته اشاره شوې وه چې په خپل ټول توان سره هڅې کوي چې د الله ﷻ د نوم یادولو مخه ونیسي، په دې ایتونو کښې د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته ډاډ او تسلیه ورکړه شوې ده چې هر پیغمبر په خپل وخت کښې د هغو مشکلاتو سره مخامخ شوی دی د کومو سره چې ته مخامخ یې، نو ځنګه چې هغوی نه دي بې حوصلې شوي همدارنګه به ته هم خپله حوصله نه کمزورې کوې. او د بله پلوه کفار په غوږ باندې وهلی شوي دي چې ستاسو عاقبت به د هغو کفارو څخه کم نه وي کومو چې پخواني پیغمبران تکذیب کړي وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د خپل ځان د ډاډینې دپاره او د کفارو د توبیخ دپاره لاندې مضامین قرائت کړه:
۱_ که ستا د وخت کفار ستا تکذیب کوي نو ته ورباندې مه بې حوصلې کېږه ځکه چې د دوی څخه وړاندې ډېرو کفارو د خپلو خپلو پیغمبرانو تکذیب کړی دی. مثلاً: نوح ؑ د خپل قوم د پلوه تکذیب شوی دی، هود ؑ ته خپل قوم (عادیانو) د دروغژن نسبت کړی دی، صالح ؑ ته ثمودیانو د دروغژن لقب ورکړی دی، د ابراهیم ؑ او لوط ؑ سره د خپلو خپلو قومونو د پلوه همدغه وضعه شوې ده، همدارنګه د مدین د ښار اوسېدونکو او د ښار ملګرو شعیب ؑ ته دروغو نسبت کړی وه او بالآخره موسی ؑ هم د فرعونیانو د پلوه دروغژن ګڼلی شوی وه.
نو که د دې زمانې کفار ستا تکذیب کوي څه د تعجب او حیرانتیا خبره نه ده، او دا ځکه چې د ټولو کفارو خط السیر یو دی او د پیغمبرانو په مقابل کښې یوه تګلاره تعقیبوي.
۲_ ما پخواني کفار یو په یو نه دي نیولي بلکې تر ډېره وخته پورې مې ورته فرصت ورکړی وه چې د پیغمبرانو په حقانیت او صداقت کښې ښه فکر وکړي او په دلایلو او معجزاتو باندې قانع شي ترڅو خپله کفري تګلاره په حقه لاره باندې تبدیل کړي، مګر هغوی دا کار ونه کړ. نو په عاقبت کښې مې په عذاب سره ونیول او په بنیادي توګه مې محوه کړه.
نو ته وګوره چې زما د پلوه نااشنا عذاب څومره خطرناک عذاب وه؟!
۳_ ای پیغمبره! که څه هم مونږ د هلاکو شوو کفارو څخه څو معدودو ډلو ته اشاره وکړه که نه نو:
الف: څومره ډېر ښارونه مونږ په داسې حال کښې هلاک کړي دي چې دوی به د یو پلوه په خپلو ځانونو باندې ظالمان وه او کفر به یې اختیار کړی وه، او د بله پلوه به په نورو خلکو باندې ظلم کوونکي وه چې ایمان راوړلو ته به یې نه پرېښودل؛ نو په نتیجه کښې به د ښاریانو د هلاکت څخه وروسته ټول ښارونه ونړېده او چتونه به یې په ځمکه باندې پرېواته او بیا به یې دېوالونه د چتونو دپاسه ورغوځېده، او کنډوالې به یې هم ختمې شوې.
ب: مونږ څومره ډېرې بې کاره د اوبو څاګانې فارغې ګرځولې دي، چې په اوبو باندې به یې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زیاته ګټه ګوټه وه خو د هلاکت څخه وروسته به خالي پاتې شوه او یوه کس به هم د هلاکو شوو څخه موجودیت نه درلود چې اوبه ترې راوباسي.

ج: او څومره ډېرې لوړې (هسکې) او دنګې ماڼۍ مو د اوسېدونکو څخه خالي کړې دي او بیا مو په نورو اوسېدونکو باندې ډکې کړې دي.

۴_ ای پیغمبره! ایا نو ستا د زماني کفار په ځمکې کښې نه ګرځي ترڅو د ذکرو شوو ښارونو ډېر مثالونه وګوري چې ځینې ګنډوالې پراته دي او ځینې په نورو خلکو باندې اباد دي؟ یا په بل عبارت: ایا دوی په ځمکه کښې سیاحت نه کوي چې:

الف: داسې زړونه ولري چې تعقل ورباندې وکړی شي او د خپلو ځانونو په ارتباط ترې ګټه پورته کړي، که څه هم د کومه طرفه توجیه نه کړی شي؟

ب: داسې غوږونه ولري چې اورېدل ورباندې وکړی شي البته په هغه صورت کښې چې د پیغمبر ﷺ د پلوه ورته متوجه کړی شي چې هغه ښار او دغه ښار وګوری او عبرت ترې واخلئ؟

۵_ ای پیغمبره! اصلي خبره دا ده چې: د کفارو د سر سترګې ړندې نه دي، لیدل کولی شي او د عبرت اخستلو دپاره ښې مساعدې دي، او همدارنګه د سر په غوږونو کښې یې هم د اورېدلو استعداد شته دی، مګر هغه زړونه یې ړانده دي کوم چې د دوی په سینو کښې قرار لري او د عبرت اخستلو بصیرت یې ختم شوی دی، او همدغه زړونه یې کاڼه دي د دعوت کوونکي په دعوت باندې خپل د جهالت خط السیر ته تغیر نه ورکوي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې چې د کومو پیغمبرانو قیصو ته اشاره شوې ده هغه په نورو سورتونو کښې وړاندې بیرته مفصلې بیانې شوې دي نو هیله ده چې هره یوه قیصه په خپل ځای کښې ولوسته شي او عبرت ترې واخستلی شي، دلته یې محض د مثالونو په توګه نومونه اخستلی شوي دي.

## مَشِید څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَبِئۡرٖ مُّعَطَّلَةٖ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ﴾ کښې د ﴿ مَّشِيدٍ ﴾ کلمه هغې ماڼۍ ته وضعه شوې ده کومه چې په چونه او سیمټو سره جوړه شوې وي، او ځینو په لوړه ماڼۍ باندې تفسیره کړې ده[1]، زمونږ په فکر دلته دواړه معناوې مرادې دي نو په محکمې او دنګې ماڼۍ سره به معنی شي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په همدغه یوه ایت کښې د ﴿ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې په دې مقام کښې الله ﷻ هغو ښارونو ته د مثال په توګه اشاره کړې ده د کومو څخه چې کنډوالې جوړې شوې وي، او د ﴿ وَقَصۡرٖ مَّشِيدٍ ﴾ د کلماتو څخه برېښي چې کفار هلاک شوي ده

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۲۴۴؛ مفردات الراغب ص۲۷۹

Scanned by CamScanner

اړونده روغ رمټ پاتې وه؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دا تناقض نه دی؟

ځواب دا چې: دلته الله ﷻ د دوه ډوله ښارونو مثالونو ته اشاره کړې ده: يو هغه چې اهالي يې مونږ وايو چې: ښارونه ګنډوالې ګرځېدلې دي، او بله هغه چې د اهاليوو د هلاکت څخه وروسته په پوښيا شوي او ښارونه ګنډوالې ګرځېدلې دي، او بله هغه چې د اهاليوو د هلاکت څخه وروسته په نورو خلکو باندې اباد شوي وي.

لنډه دا چې دا ايت شريف الله ﷻ په بل ايت کښې تشريح کړی دی چې: ﴿ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ﴾ [هود: ۱۰۰] يعنې دغه بيان د هغو هلاکو شوو ښارونو د خبرونو څخه دی کوم چې مونږ يې په تا باندې حکايت کوو، چې ځينې اوس هم ولاړ (په نورو خلکو باندې اباد) دي لکه د مصر ښار چې د فرعونيانو څخه وروسته په نورو باندې اباد پاتې شو، او ځينې لو کړی شوې (ګنډوالې) دي لکه د ثموديانو ښارونه چې په نورو خلکو باندې نه دي اباد شوي.

## يوه پوښتنه او د هغې ځواب

۴_ که څوک وايي چې: د زړونو محل خو څرګند دی چې سينې دي، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد ورباندې صراحت نازل شو چې: ﴿ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ﴾؟

مونږ وايو _والله ﷻ أعلم_ چې: د ﴿تَعۡمَى﴾ کلمه د "عمی" څخه اشتقاقه شوې ده چې د سر په سترګو کښې ډېره استعمالېږي او دلته د زړه په سترګو کښې استعماله شوې ده، نو څه لرې نه وه چې چا ګومان کړی وی او د ﴿ٱلۡقُلُوبُ﴾ د کلمې څخه يې کومه مجازي معنی اراده کړې وی، نو د ﴿ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ﴾ په نزول سره د دغه ګومان مخه ونيوه شوه چې دلته هغه زړونه مراد دي کوم چې په سينو کښې موقعيت لري، د کومو په هکله چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ»[۱] يعنې اګاه اوسئ او يقيناً په بدن کښې يوه ټکړه غوښه ده کله چې صالحه شي نو ټول بدن ورسره صالح جوړېږي او کله چې فاسده شي نو ټول بدن ورسره فاسد ګرځي، اګاه اوسئ او هغه ټکړه غوښه د زړه څخه عبارت ده چې په ټول بدن باندې حکومت چلوي او ټول اندامونه يې په اداره کښې دي.

﴿وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلۡعَذَابِ وَلَن يُخۡلِفَ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥۚ وَإِنَّ يَوۡمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلۡفِ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ أَمۡلَيۡتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٞ ثُمَّ أَخَذۡتُهَا وَإِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوۡاْ فِيٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ﴿٥١﴾﴾

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۲.

Scanned by CamScanner

[۴۷] او (ای پیغمبره!) مشرکان په تا باندې د عذاب (په نازلولو) باندې تونديي کوي (چې هله ژر شه راباندې رانازل يې کړه)، حال دا دی چې هيڅکله به الله ﷻ (د دوی د عذاب په هکله) په خپله وعده کښې بې وفايي ونه کړئ (چې نازل يې نه کړي).
او يقيناً ستا د رب ﷻ په نزد يوه ورځ د يو زر کلونو غوندې ده (چې دا) د هغو کلونو څخه عبارت دي کوم چې تاسو يې شمېرئ (او ستاسو په نزد متعارف دی).
[۴۸] او د ښارونو څخه څومره ډېرو ته ما په داسې حال کښې مهلت ورکړی دی چې هغه به ظلم کوونکي وه (او د مهلت څخه) وروسته مو (په عذاب سره) نيولي دي.
او (په دنياوي عذاب باندې علاوه) خاص مونږ ته بېرته راتاوېدل دي (چې هلته به ورباندې اُخروي عذاب ورنازل کړو).
[۴۹] (ای پيغمبره! ته) ووايه چې: ای خلکو! يقيناً زه ستاسو دپاره ښکاره ډاروونکی يم (عذاب نازلوونکی نه يم).
[۵۰] نو هغه کسان کومو چې ايمان راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي خاص د همدوی دپاره (د الله ﷻ د پلوه) مغفرت او د کرامت څخه ډکه روزي ده.
[۵۱] او هغه کسان کوم چې زمونږ په ايتونو کښې په داسې حال کښې زيار باسي چې (دوی الله ﷻ ته په خپل خيال) عاجز ګرځوونکي جوړ شي (د ده ﷻ د ارادې مخه ونيسي، نو) دغه کسان د تېز اور ملګري دي (چې هيڅکله به يې ورسره انډيوالي ختمه نه شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ايتونه په دې تمام شوي وه چې کفارو ته په کار دي چې د پخوانيو هلاکو شوو قومونو څخه عبرت واخلي او خپلو کفرياتو ته ادامه ورنه کړي، په دې ايتونو کښې د هغوی غبرګون ته اشاره شوې ده چې د عبرت اخستلو په عوض د هغوی عناد لا قوي کېږي، چې حاصل يې داسې راځي:
۱ـ ای پيغمبره! ستا د زمانې کفار په دې عوض چې د پخوانيو هلاکو شوو کفارو څخه عبرت واخلي عناد يې ورباندې لا اضافه کېږي، حتی چې د استهزاء او تمسخر په توګه په تا باندې عجله کوي چې هله ژر شه په تونديي سره په مونږ باندې عذاب رانازل کړه، نو ته دوی ته په لاندې ټکو کښې جواب ورکړه چې:
الف: د عذاب د نزول وعده ما د خپله خانه نه ده کړې بلکې دغه وعده د الله ﷻ د پلوه نازله شوې ده، او تاسو ښه پوه شئ چې هيڅکله به الله ﷻ په خپله وعده کښې خلف (بې وفايي) ونه کړي، او هرومرو به درباندې عذاب نازل شي خو.
ب: څرنګه چې ستا د رب ﷻ په نزد يوه ورځ د هغو يو زر کلونو سره برابره ده کوم چې تاسو يې شمېرئ، نو زمونږ د پلوه کفارو ته ابلاغ کړه چې عذاب تاسو ته ډېر په عجله او تونديي سره درروان دی خو تاسو ورباندې نه پوهېږئ او دا خکه چې همغه وخت ته تاسو تالېدل وايئ: کوم چې د الله ﷻ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نزد باندې ټالبدل نه دي بلکې تونديي او عجله ده.

يا په بل عبارت: که بالفرض الله ﷻ تاسو ته پنځلس کاله مهلت درکړي نو داسې مثال به ولري چې تاسو ته يې فقط دوه ويشت (۲۲) دقيقې مهلت درکړی دی، نو ايا دوه ويشت دقيقې مهلت تاسو ټالبدل ګڼئ؟

۲ـ په دې باندې علاوه، د مهلت ورکول او د څه وخته پورې د عذاب ټالول د حکمت غوښتنه ده او د عفوې معنی نه ورکوي، ايا تاسو نه ګورئ چې څومره ډېرو ښارونو ته ما په داسې حال کښې مهلت ورکړی دی چې دوی به ظالمان وه، او د عذاب په نزول باندې به يې د استهزاء په توګه عجله کوله خو بيا به مو عند الموقع خپله وعده رښتيا کړه او عذاب به مو ورباندې ورنازل کړ.

په دې باندې علاوه خاص فقط همدا ماته د ټولو خلکو رجوع ده، چې د حساب کتاب دپاره به د قيامت په ورځ د قبرونو څخه راپورته کېږي او د خپل عمل جزا يا سزا به ګوري.

۳ـ ای پيغمبره! کفارو ته دا هم ووايه چې: ای خلکو! يقيناً زه بل څوک نه يم بلکې زه همدا ستاسو دپاره په ځرګنده توګه ډاروونکی يم، زما په لاس کښې نه د عذاب نازلول شته او نه يې مخنيوی کولی شم، نو په همدې بنياد ستاسو غوښتنه زما څخه بې ځايه ده چې هله ژر شه عذاب راباندې رانازل کړه. د همدې کبله زه تاسو ته ابلاغوم چې:

الف: هرڅوک چې په ما باندې د يوه پيغمبر په صفت ايمان راوړي او نېک عملونه هم ورسره ملګري کړي نو د دغو کسانو دپاره د الله ﷻ د پلوه مغفرت او بښنه ده، او هم د همدوی دپاره په دنيا او آخرت کښې د کرامت او عزت څخه ډکه روزي ده.

ب: بالمقابل هغه کسان کوم چې زمونږ د ايتونو په هکله زيار باسي چې تکذيب يې کړي او د ترقۍ مخه يې ونيسي البته دا په داسې حال کښې چې مونږ يې د ترقۍ اراده کړې ده، ته به وايې چې دوی زمونږ سره زور آزمايي کوي او غواړي چې اراده مو بې نتيجې کړي، نو دغه کسان د سوزوونکي اور ملګري دي چې هيڅکله به يې ورسره انډيوالي ونه شکېږي.

## توضيحات

۱ـ کفارو به د استهزاء او يا د استبعاد (لرې ګڼلو) په توګه نبي کريم ﷺ ته دا پوښتنه ډېره راجع کوله چې هله ژر شه هغه عذاب په مونږ باندې نازل کړه په کوم باندې چې ته مونږ ډاروې، نو الله ﷻ د کفارو دغه غوښتنه په متعدو وجوهو سره جوابه کړې ده چې ځينو وجوهو ته يې په [الأنعام:۵۷] ايت کښې او ځينو ته په [العنکبوت:۵۳، ۵۴] ايتونو کښې هم اشارې شوې دي.

خو په دې مقام کښې يې ورته د ﴿ وَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ ﴾ جواب ورکړی دی، يعنې تاسو ولې په عذاب سره عجله کوئ چې هله ژر شه راباندې نازل يې کړه، ايا تاسو ته د عذاب نازلول دروغ برېښي؟ دغسې نه ده، په ياد ولرئ! چې هيڅکله به الله ﷻ خپله د عذاب وعده فسخه نه کړي او ستاسو په هکله به ترې تېر نه شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ذکر شوي تقرير مطابق د کفارو جواب په ذکره شوې جمله باندې تمامېږي نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴾ جمله ورسره څه پیوند نیسي؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينو علماوو کرامو په ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ ﴾ کښې د "عَذَاب" کلمه په اُخروي عذاب باندې تفسيره کړې ده[1]، يعنې اى پيغمبره! کفار په اُخروي عذاب باندې عجله کوي حال دا چې هغه دومره سخت عذاب دى چې هلته يوه ورځ تېرول ستاسو د زرو کلونو سره برابره ده، نو دوى ته په کار دي چې په دغسې مشکل عذاب باندې عجله ونه کړي.

په دې تقدير د زرو کلونو اوږدوالى د سختۍ څخه کنايه ګرځي چې په سختيو او مشکلاتو کښې په سړي باندې وخت اوږدېږي او په خوشاليو کښې ورباندې لنډ تېرېږي.

مګر دا جواب مونږ ته خوندور نه برېښي ځکه چې وړاندېني ايتونه او وروستنی ايت په دنياوي عذاب پورې ارتباط نيسي، نو په منځکښې د اُخروي عذاب مرادول د ملغلرو د امېل شکول او دانه وانه کول دي، او دا ښه کار نه دى.

ب: ظاهره دا ده چې د "الْعَذَاب" کلمه په دنياوي عذاب باندې تفسيره شي. يعنې اى پيغمبره! مشرکان د دې کبله د عذاب وعده دروغينه ګڼي چې د هغې په تحقق کښې څه ځنډ واقع شو خو د دوى دا اټکل باطل دى؛ حقيقت دا دى چې په نسبت سره ستا د رب ﷻ حلم ته (د ده ﷻ په نزد) يوه ورځ داسې ده لکه ستاسو زر کلونه، نو کوم جنايتکار ته چې الله ﷻ د خپله نزده يو ساعت (يوه ګړۍ) مهلت ورکړي او عذاب ورباندې ورنازل نه کړي نو هغه داسې وګڼئ لکه چې هغه ته يې څه د پاسه يو څلوېښت (۴۱) کاله مهلت ورکړى وي. او چا ته چې شل کاله مهلت ورکړي نو هغه داسې وګڼئ لکه چې شل زره کاله يې ورته مهلت ورکړى وي.

نو نظر پاسنۍ مقايسې ته الله ﷻ د خپله نزده د مکې مشرکانو ته د نبي کريم ﷺ د بعثت څخه وروسته فقط دوه ويشت (۲۲) دقيقې مهلت ورکړ چې تقريبًا د پنځلسو کالو سره سمون خوري او بيا يې د هجرت په دوهم کال د بدر په غزا کښې ورباندې موعود عذاب ورنازل کړ.

همدارنګه الله ﷻ د نوح ﷺ قوم ته نهه نيم سوه (۹۵۰) کاله مهلت ورکړ خو نظر د ده ﷻ کامل حلم ته داسې ګڼلى کېږي لکه چې تقريبًا فقط درويشت ساته (ګړۍ) يې مهلت ورکړى وي او بيا يې ټول د څرمې غرق کړي وي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د الله ﷻ حلم خو غير متناهي او غير محدود (ابدي) دى او د بندګانو حلم

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۳ ص۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


متناهي او محدود (فاني) دی او پوره واضحه ده چې غیر محدود د محدود سره نه شي مقایسه کېدلی، نو په کار دي چې د "اَلْعَذَابُ" څخه اُخروي عذاب اراده کړی شي او اولنی تفسیر راجع وګڼل شي؟
مونږ وایو چې: ذکره شوې مقایسه حقیقي نه ده ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دا مقایسه تقریبي ده چې د خلکو اذهانو ته ورنژدې شي.
د ښه وضاحت دپاره په یوه حدیث کښې د ذکرې شوې مقایسې یو نظیر ولولئ هغه دا چې:
نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَاذَا تَرْجِعُ»[۱] یعنې د دنیا نعمتونه د آخرت د نعمتونو په نسبت نه دي مګر په مثل د دې دی چې ستاسو یو کس خپله ګوته په دریاب کښې ښکته کړي نو ودې ګوري چې ګوته یې څومره لوندوالی راپورته کوي.
دا مثال هم تقریبي دی که نه نو آخرت خو ابدي او غیر متناهي دی او دنیا فاني او متناهي ده، چې د دواړو ترمنځ په هیڅ صورت سره مقایسه صورت نه شي نیولی.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَفِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا۟ بِهِۦ فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴿٥٥﴾﴾

[۵۲] او (ای پیغمبره!) مونږ ستا څخه مخکښې هیڅ (ممتاز) استازی او هیڅ پیغمبر نه دی لېږلی مګر کله به یې چې (په خلکو باندې زمونږ ایتونه) قرائت کړه نو شیطان به یې په قرائت (لوستلی) شوي کښې (هغوی ته شبهات) ورواچول.
نو الله ﷻ به هغو (شبهاتو) ته زوال ورکړ کوم به چې شیطان (د خلکو په اذهانو کښې) اچولي وه (او) بیا به الله ﷻ خپل ایتونه محکم (قوي) کړه (او د شبهاتو ځای به یې پکښې پرېښنبود)، او الله ﷻ د پوهې خاوند دی (او هم) د حکمت څښتن دی.
[۵۳] (ای پیغمبره! همدغسې کار ستا سره هم الله ﷻ) د دې دپاره (کوي چې ترڅو) هغه شی فتنه (او امتحان) وګرځوي کوم چې شیطان یې (د خلکو په اذهانو کښې) اچوي. (البته) د هغو

---
(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کسانو دپاره د کومو په زړونو کښې چې (د منافقت) مرض موجود وي، او (هم) د سخت (کلک) زړو (مجاهرو) کافرانو دپاره.

او یقیناً ټول ظالمان (کفار، برابره خبره ده چې پټ کافر وي او که ښکاره کافر وي د حق څخه) په لرې مخالفت (او عناد) کښې (پراته) دي.

[۵۴] او (هم د دې دپاره الله ﷻ ستا سره ذکر شوی چال چلنداجراء کوي چې) ترڅو هغه کسان پوه شي کومو ته چې (پوخ) علم ورکړی شوی دی (البته په دې خبره باندې) چې یقیناً دا وحې (قرآن کریم) ستا د رب ﷻ د پلوه حق دی (په حقه یې نازل کړی دی) نو چې دوی ورباندې ایمان راوړي (خپل ایمان ته ورباندې ادامه ورکړي) نو د دوی زړونه ورته عاجزي وکړي (او په دوامداره توګه ورته غاړې کېږدي).

او یقیناً الله ﷻ سمې لارې ته د هغو کسانو لارښودونکی دی کوموَ چې ایمان غوره کړی دی.

[۵۵] او د دې وحې (قرآن کریم) څخه به هغه کسان همېشه په شک کښې وي کومو چې کفر اختیار کړی دی آن تر دې چې دوی ته په ناڅاپي توګه قیامت ورشي (ورباندې قائم شي) او یا ورته په دنیا کښې د شنډې ورځې عذاب ورشي (ورسېږي چې د غمونو او دردونو څخه ډکه وي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه په دې مضمون ختم شوی وه چې مشرکان زیار وباسي ترڅو د ده ﷺ د ارادې مخه بنده کړي او حق دین د ترقۍ څخه را ایسار کړي بلکې ترڅو ورباندې د بطلان کرښه کش کړي. په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته یو ځل بیا تسلي ورکړه شوې ده چې هیڅ یو پیغمبر داسې نه دی تېر شوی چې د وخت کفارو یې د دعوت په وړاندې خنډونه نه وي اچولي نو ته د خپلې زمانې د کفارو په ورانکاریو باندې مه بې حوصلې کېږه.

همدارنګه په دې ایتونو کښې د هغوی د فسادي کوښښونو یوې عمومي قاعدې ته اشاره شوې ده چې په هره زمانه کښې ترې د وخت کفارو کار اخستی دی مګر الله ﷻ په خپل فضل سره شنډه کړې ده او څه ګټه یې ورته نه ده رسولې، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د دې دپاره چې د یو پلوه د کفارو دسیسو ته متوجه شې او د بل پلوه دې حوصله غټه شي لاندې مطالب په مبارک زړه کښې وساته:

۱ـ مونږ ستا څخه وړاندې هیڅ داسې پیغمبر چې هغه به په کوم امتیازي صفت باندې شهرت درلود نه دی مبعوث کړی او نه مو بل کوم یو پیغمبر د دعوت الی الله دپاره ځمکې ته رالېږلی دی مګر کله به یې چې د خلکو د هدایت او ارشاد دپاره څه پلان وسنجاوه او یا به یې په همدې ارتباط څه ایتونه او احکام ابلاغ کړه نو سمدستي به جني شیطانانو خپل پیروان (انسي شیطانان) تحریک کړه او په سنجولي شوي پلان او یا په ابلاغ کړی شوو ایتونو او احکامو کښې به یې شبهات واچول ترڅو د خلکو د هدایت مخه بنده کړي او د چا په زړه کښې د حقاني دین محبت ځای ونه نیسي.

۲ـ خو څرنګه چې الله ﷻ د مؤمنانو څخه دفاع کوي نو سمدستي به یې داسې وضعه منځ ته کړه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې شيطاني بند به يې د منځه ويوړي او يا به يې داسې ايتونه او احکام ورنازل کړه چې موضوع به يې ښه پوره څرګنده او په ډاګه کړه او د اشتباهګانو نوغه به يې وويستله، او د الله ﷻ ايتونو به په ښه محکم او قوي مقام کښې قرار ولاره. دا ځکه چې: الله ﷻ پوه دی، د شيطانانو چلونه او دسيسې ورته ټولې معلومې دي او هم د حکمت خاوند دی چې هيڅ کار يې د حکمت څخه خالي نه دی.

۳_ نو ای پيغمبره! همدارنګه ستا د زمانې کفارو ته هم الله ﷻ موقع ورکوي چې ستا په تګلاره کښې خنډونه واچوي او يا په هغو احکامو کښې اشتباګانې ولټوي کوم چې تاته وحې کېږي. دا د دې دپاره چې الله ﷻ پرې لاندې کسان امتحان کړي:

الف: د کومو په زړونو کښې چې عقيدوي کمزوري او کاواکي وي (د منافقت څخه ډک وي).

ب: کوم چې په زړونو باندې کلک دي او مجاهر (په ډاګه) کفار دي. يقيناً چې دغه دواړه ډلې (ظالمان) د حق او حقيقت څخه ډېر لرې دي.

ج: او هم د دې دپاره ترڅو هغه کسان پوه شي چاته چې د الله ﷻ د پلوه قوي علم او پوهه ورکړه شوې ده چې يقيناً همدغه شی چې پيغمبر ته وحې کړی شوی او توصيه کړی شوی دی همدا ستا د رب ﷻ د پلوه حق دی او حقيقت لري ترڅو په همدې باندې خپل ايمان ته ادامه ورکړي او هم يې ورته زړونه عاجزي وکړي او غاړې ورته کېږدي، او دا ځکه چې يقيناً الله ﷻ د هغو کسانو دپاره مستقيمې لارې ته هدايت کوونکی دی کومو چې ايمان غوره کړی دی او په همدې باندې کلک ولاړ دي.

۴_ ای پيغمبره! داسې نه ده چې کفار به د خپلو چلونو او فريبونو څخه لاس واخلي بلکې دوی به په دوامداره توګه د الهي وحې او ارشاد څخه په شک او شبه کښې پراته وي او کوښښ به کوي چې د دعوت الی الله په مقابل کښې خنډ شي او موانع ورته پيښې کړي، آن تر دې چې يا په دوی باندې په ناڅاپي توګه قيامت قائم شي او د اخروي عذاب سره مخامخ شي او يا به ورته د شنډې ورځې عذاب متوجه شي په دنيا کښې به ورباندې داسې ورځ ورشي چې د خوشاليو څخه به بالکل خالي وي بلکې په غمونو او دردونو باندې مشتمله وي.

مګر په هغه وخت کښې به ورته ايمان راوړل او د شکونو او شبهاتو څخه لاس اخستل څه په ګټه تمام نه شي او د الله ﷻ په دربار کښې به د قبول مقام ته ونه رسېږي.

## توضيحات

۱_ د ﴿ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې د رسول او نبي ترمنځ څه فرق شته دی، خو موږ د الله ﷻ په توفيق د [مريم: ۵۴] ايت لاندې پکښې ښه تحقيقي بحث کړی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## تَمَنِّي څه معنی؟

۲_ په ﴿ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ تَمَنَّىٰٓ ﴾ کلمه د "تَمَنِّي" څخه اشتقاقه شوې ده. "تَمَنِّي" لاندې معناوې لري:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دې ته د "تَمَنِّي" نوم ایښودل شوی دی چې سړی په خپل زړه کښې یو شی فرض کړي او صورت یې پکښې متصور کړي، او پخپله صورت ته (چې په زړه کښې نیولی شوی دی) د "أُمْنِيَة" لقب ورکول کېږي[۱]:

ب: "تَمَنِّي" د قرائت معنی ورکوي[۲] څه لرې نه ده چې قرائت ته به څکه دغه نوم ایښودل شوی وي چې د بشارتي ایتونو د قرائت په وخت کښې د سړي زړه غواړي چې ورته ورکړی شي او د عذابي ایتونو د تلاوت په وخت کښې سړی آرزو کوي او په تصور کښې یې واقع کېږي چې نجات یې ترې په نصیب شي.

ج: "تَمَنِّي" د ارادې سره مرادفه ده[۳] مونږ ته دغه معنی د لومړنی معنی سره په مصداق کښې متحده برېښي او دا څکه چې کله چې څوک یو شي ته اراده وکړي نو د هغه شي صورت به یې ضرور په زړه کښې تحقق موندلی وي.

## دوه ډوله تفسیر

۳ـ نو نظر وراندېښې توضیح ته علماوو کرامو دا ایت شریف ﴿ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى ٱلشَّيْطَـٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَـٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ ﴾ په لاندې دوه ډوله سره تفسیر کړی دی:

الف: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تفسیر دا دی چې: «إِذَا حَدَّثَ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي حَدِيثِهِ فَيُبْطِلُ اللهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ وَيُحْكِمُ آيَاتِهِ»[۴] مونږ هیڅ یو پیغمبر نه دی لېږلی مګر کله به چې هغه یوه خبره وکړه نو شیطان به یې د خبرې په هکله خلکو ته اشتباهات او شکونه ورواچول نو الله ﷻ به د شیطان شبهات باطل کړه او د منځه به یې وېوړه او د خپل پیغمبر خبره به یې ښه قوي کړه او د خپلو دلایلو حقانیت او حقیقت به یې ښه پوره جوت کړ.

داسې برېښي چې ذکر شوی تفسیر په لاندې بنیادونو باندې ولاړ دی:

اول: د ﴿ تَمَنَّىٰٓ ﴾ کلمه په "حَدَّثَ" سره معنی شوې ده یعنې کله به یې چې خبرې وکړې.

دوهم: د ﴿ أَلْقَى ﴾ د کلمې مقدر مفعول په "الشُّبُهَات وَالْإِعْتِرَاضَات" سره تفسیر شوی دی.

درېیم: او بالآخره د ﴿ أُمْنِيَّتِهِۦ ﴾ کلمه په "حَدِيثِهِ" باندې تعبیره شوې ده.

ب: اکثرو مفسرینو کرامو دلته د تفسیر دپاره دوهمه معنی خوښه کړې ده[۵] یعنې مونږ هیڅ پیغمبر نه دی لېږلی مګر کله به چې هغه په خپل قوم باندې د الله ﷻ ایتونه قرائت کړه نو شیطان به پکښې هغو ته اعتراضات پیدا کړه او دا څکه چې ایتونه به د متشابهاتو څخه وه نو شیطان به

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۶
(۲) لسان العرب ج۱۵ ص۲۹۴
(۳) القاموس المحیط ج۴ ص۴۸۹
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۳
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۳۰: اضواء البیان ج۵ ص۷۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


پکښې خپلو اعتراضاتو او شبهاتو ته ځای ورکولی شو، خو الله ﷻ به د هغو په تعقیب نور محکمات ایتونه نازل کړه چې شیطاني اشتباهات به یې محوه کړه. یا په بل عبارت: متشابهات ایتونه به یې هم محکمات وګرځول او د اعتراض او اشتباه ځای به یې پکښې پرېنښود. نو په دې تفسیر سره دا ایت د [آل عمران:۷] ایت مضمون ته په ورته مضمون باندې دلالت کوي، او په لاندې اساساتو باندې ولاړ بریښي:

اول: د ﴿تَمَنَّىٰٓ﴾ کلمه د "قرأ" په معنی اخستله شوې ده.

دوهم: د ﴿أَلۡقَى﴾ د کلمې دپاره دلته هم مقدر مفعول د "الشُّبُهَات وَالْاِعْتِرَاضَات" کلمات ګڼلي شوي دي.

دریم: د ﴿فِيٓ أُمۡنِيَّتِهِۦ﴾ کلمات په "في قرائته" سره تفسیر شوي دي.

## تبصره

۴_ په ذکرو شوو دواړو تفسیرونو کښې دوهم تفسیر د ﴿ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ﴾ سره ښه مناسب بریښي خو ځرنګه چې په هره زمانه کښې کفارو په هغې دسیسه باندې صرفه نه ده کړې کومې ته چې په لومړني تفسیر کښې اشاره شوې ده نو زمونږ په فکر ذکر شوي دواړه تفسیرونه به په ایت شریف کښې مراد وي خو دوهم تفسیر په عبارة النص سره او لومړنی تفسیر په اشارة النص سره.

د عبارة النص دپاره مثال دا دی چې کله الله ﷻ وفرمایل چې: ﴿إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ [الأنبیاء:۹۸] یعنې یقینًا (ای مشرکانو!) تاسو او هغه معبودان چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ ټول د دوزخ خاشاک یاست؛ نو شیطان ځینو کفارو ته په زړه کښې اشتباه ورواچوله چې نظر همدې ایت ته باید عیسی ﷺ او عُزیر ﷺ هم د دوزخ خاشاک وګرځي ځکه چې نصارا او یهوادن یې عبادت کوي.

نو الله ﷻ دغه اشتباه پورته کړه او دا ایت یې نازل کړ[1] چې: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ أُوْلَٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُونَ﴾ [الأنبیاء:۱۰۱] یقینًا هغه کسان د کومو دپاره چې زمونږ د پلوه لا پخوا ښایسته (نېکه) درجه ټاکلې شوې ده بې شکه هغوی د دوزخ څخه لرې کړی شوي دي (هیڅکله به ورداخل نه کړی شي).

د اشارة النص دپاره مثال دا دی چې: نبي کریم ﷺ په مدینه منوره کښې خوب لیدلی وه چې دوی مکې معظمې ته داخل شوي وي او د کعبې شریفې څخه طواف کوي، نو کله چې په حدیبیه مقام کښې د دوی مخه د مشرکانو د پلوه ونیوله شوه او د صلحې د عقد څخه وروسته بېرته مدینې منورې ته ستانه شوه نو صحابه وو کرامو ﷺ ته تشویش پیدا شو حتی عمر بن الخطاب ﷺ د نبي کریم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عمر ﷺ: ای د الله رسوله! ایا تاسو مونږ ته نه وه ویلي چې مونږ به بیت الله شریف ته لاړ شو او طواف به ترې وکړو؟

نبي کریم ﷺ: «بَلى! أَفَأَخْبَرْتُكَ أَنَّكَ تَأْتِيهِ الْعَامَ؟» هو، ما درته ویلي وه، نو ایا تاته مې خبر درکړی وه چې یقیناً ته به همدا سږ کال هلته ورځې؟

عمر ﷺ: داسې خو دې راته نه وه ویلي.

نبي کریم ﷺ: «فَإِنَّكَ آتِيهِ وَمُتَطَوِّفٌ بِهِ»[1] نو یقیناً ته کعبې شریفې ته ورتلونکی یې او د هغې څخه طواف کوونکی یې.

نو د عمر ﷺ په زړه کښې (چې د راسخ علم خاوند وه) ایمان لا قوي شو او په دې باندې لا زیات باوري شو چې د پیغمبر لیدلی خوب حق دی حتی چې الله ﷻ دا ایت هم نازل کړ چې: ﴿ لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ﴾ [الفتح:۲۷] یعنې یقیناً الله ﷻ خپل پیغمبر ته په حقه سره خوب رښتیا کړ چې هرومرو به تاسو د امن په حال کښې المسجد الحرام ته داخل شئ او عمره به اداء کړئ.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې الله ﷻ د کفارو اعتراضاتو ته موقع ورکړه او متشابه ایتونه یې پیغمبرانو ته وحې کړه او په تعقیب باندې یې محکمات ایتونه نازل کړه او د اعتراضاتو مخنیوی یې ورباندې وکړ، ایا دا به بهتره نه وه چې د اول څخه یې محکمات ایتونه نازل کړي وي؟

مونږ وایو چې: همدغه سوال جواب ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ یعنې الله ﷻ ښه پوهېده چې کفار به داسې او هاغسې اعتراضات په متشابهاتو کښې راپورته کړي، خو الله ﷻ د حکمت خاوند هم دی چې په دغه ډول نزول کښې خلک د امتحان لاندې ونیسي او هرچا ته د خپل ایمان وزن معلوم شي چې په متشابهاتو باندې د اعتراضاتو جرئت کوي او که نه؟ لکه چې په همدې مضمون باندې وروستني ایتونه دلالت کوي چې: ﴿ لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾ الآية.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وایي چې: ځینو مفسرینو کرامو یو شان نزول لیکلی دی چې مهم ټکي یې لاندې لوستلی شئ:

الف: یوه ورځ په نبي کریم ﷺ باندې د "النجم" سورت په داسې حال کښې نازل شو چې د مسلمانانو او مشرکانو په یوه غټ مجلس کښې ناست وه او زړه یې غوښتل چې ګوندې مشرکان په ایمان باندې مشرف شي.

ب: نبي کریم ﷺ ذکر شوی سورت په حاضرینو باندې قرائت کړ نو کله چې: ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۹۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَالْعُزَّىٰ ﴿١٩﴾ وَمَنَوٰةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ ﴾ ته ورسېد نو شيطان ورباندې دوه جملې نورې هم وروا چولې چې نبي کريم ﷺ ورباندې تلفظ وکړ هغه دا چې: «تِلْكَ الْغَرَانِيقَةُ الْعُلَى وَإِنَّ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجَى» يعنې دغه بوتان سپينې عالي الشانه مرغۍ دي او يقيناً د دوی شفاعت کولو ته ضرور اميد کيدی شي.

ج: بيا يې سورت تر آخره پورې قرائت کړ چې د وروستني ايت په قرائت سره ټولو حاضرينو سجدې وکړې مګر يوازې الوليد بن المغيره يو موټی خاورې خپل تندي ته پورته کړې او خپل تندی يې ورباندې کېښود (چې همدا کفايت کوي).

د: مشرکان ډېر خوشاله شوه چې نبي کريم ﷺ زمونږ بوتانو ته د اول ځل دپاره په شفاعت کولو باندې قائل شو.

ه: د شپې د پلوه جبرائيل ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې د [النجم] سورت ورباندې قرائت کړي، خو کله يې چې ذکرې شوې دواړه جملې ولوستلې نو جبرائيل ﷺ ردې کړې چې دغه دواړه خو ما د الله ﷻ د پلوه په تا باندې نه دي نازلې کړې.

و: نو نبي کريم ﷺ ډېر غمژن شو نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[1] او ډاډ يې ورکړ چې ته مه غمژن کېږه دغسې کار د هر پيغمبر سره د شيطان د پلوه شوی دی چې بيا د الله ﷻ د پلوه شيطاني اقوال د منځه وړل شوي دي او سوچه د الله ﷻ کلام پاتې شوی دی.

نو پوښتنه دا ده چې په څه منظور تاسو ذکر شوی شان نزول متروک کړ؟

مونږ وايو چې: د جمهورو علماوو کرامو په نظر ذکر شوی د شان نزول حديث موضوعي دی چې هم د سند د حيثه باطل دی او هم د معنی د حيثه د قرآن کريم او احاديثو سره مناقض دی[2]، بلکې په دروغو باندې زنديقانو نبي کريم ﷺ ته منسوب کړی دی[3].

که څه هم ځينو علماوو کرامو زيار ويستلی دی چې څه د صحت او مقبوليت وجوه ورته وتراشي[4] خو بهتره دا ده چې سړی ورباندې د بطلان کرښه راکش کړي، او د تکلفي تصحيح دپاره يې زيار ونه باسي. که څوک غواړي چې د بطلان دلايل يې د نظره تېر کړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[5]، مونږ د ذکر شوي موضوعي حديث خلاصه وړاندې په شپږو موادو کښې د دې دپاره رانقله کړه چې محترمو لوستونکو ته يې بطلان او موضوعيتوب ورڅرګند کړو که نه نو مونږ د الله ﷻ په توفيق دغه کتاب په اسرائيلياتو او اکاذيبو باندې نه اوړدوو.

## يادونه

۷ـ ځينو مفسرينو کرامو[6] په ﴿ لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِى الشَّيْطَٰنُ ﴾ الآية، او هم په ﴿ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ

(۱) تفسير الطبري ج۱۷ ص۱۸۶
(۲) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۴۰: التفسير الكبير ج۲۳ ص۵۰: تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۱۳
(۳) الاسرائيليات والموضوعات في كتب التفسير ص۳۱۷: البحر المحيط ج۷ ص۵۲۶
(۴) تفسير الخازن ج۳ ص۳۱۶: احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۴۶
(۵) روح المعاني ج۱۷ ص۱۷۵: اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۱۱۷: حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۳۸۹
(۶) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾ الآية، کښې د "ل" دواړه توري په ﴿ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ ﴾ پورې مربوط ګڼلې دي، نو په دې اعتبار سره دواړه ایتونه د پخوانیو پیغمبرانو په حالاتو پورې ارتباط نیسي.

مګر مونږ ته بهتره بربښي چې ذکر شوي دواړه د "ل" توري به په مقدر فعل پورې تعلق نیسي چې مونږ ترې په "كَذٰلِكَ فَعَلَ اللهُ بِكَ" سره تعبیر کوو، په همدې تقدیر باندې د ﴿ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ ﴾ کلمات هم دلالت کوي، او په ﴿ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ الآية، کښې هم ورته اشاره نغښتې ده. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! لکه څنګه چې د پخوانیو پیغمبرانو په قرائت کښې شیطانانو خلکو ته اشتباهګانې او اعتراضات وراچول او بیا به الله ﷻ د منځه وړل (خپلو ایتونو ته به يې استحکام ورکاوه) همدارنګه چال چلند الله ﷻ تا سره هم د دې دپاره کوي چې د کفارو دپاره فتنه (امتحان) وګرځي او د مؤمنانو دپاره د ایمان د لا محکمتیا ذریعه جوړه شي.

## عقیم د کومې ورځې لقب دی؟

۸ـ په ﴿ أَوْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴾ کښې ﴿ عَقِيمٍ ﴾ کلمه د "عُقْم" ـ لکه "عُمْق" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "عُقْم" هغه وچوالي ته ویل کېږي چې د اثر د قبول مخه نیسي[۱]، د همدې کبله هغې زنانه ته د "عَقِيم" لقب ورکولی شوی دی کومه چې حمل نه اخلي او د نارینه د اوبو اثر نه قبلوي، چې په پښتو کښې ورته شنډه وايي.

په دې مقام کښې شنډه ورځ د هغې ورځې څخه عبارت ده په کومه کښې چې خوشالي نه وي او د غم ورځ وي، که څه هم ځینو مفسرینو کرامو[۲] شنډه ورځ د قیامت د ورځې څخه عبارت ګڼلې ده چې د هغې څخه وروسته بله ورځ نه راځي ته به وايې چې دغه ورځ بله ورځ نه زېږوي او شنډه ده، مګر ځینو نورو علماوو کرامو د بدر د غزا په ورځ باندې تفسیره کړې ده[۳] چې مشرکان هلته د مؤمنانو د پلوه د سخت عذاب سره مخامخ شوي وه. لنډه دا چې د عقیمې ورځې عذاب د دنیاوي عذاب څخه عبارت دی.

مونږ ته همدغه وروستنی تفسیر په زړه پورې بربښي څکه چې د قیامت ورځې ته په ﴿ ٱلسَّاعَةُ ﴾ سره اشاره شوې ده نو که د ﴿ يَوْمٍ عَقِيمٍ ﴾ څخه هم د قیامت ورځ مراده شي تاکید به فائده کړې او پوره واضحه ده چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! که څه هم په محکماتو ایتونو سره متشابهات ایتونه واضحه شي او د اشتباه کوونکو اشتباهګانې پورته شي مګر د چا په زړه کښې چې نفاق او کفر ځای نیولی وي هغه به هیڅکله د اشتباه څخه تر هغه لاس وانخلي ترڅو چې یا

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۵
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۱۷۵
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځ ورسېږي او یا په دنیا کښې د سختې ورځې د عذاب سره مخامخ شي چې د ورنه د قیامت خالي وي او په غمونو او دردونو باندې ډکه وي، لکه چې د بدر د غزا ورځ د ځخه خوشالیو مشرکانو دپاره شنډه ورځ وګرځېده.

﴿ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ۝٥٦ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٞ مُّهِينٞ ۝٥٧﴾

[۵۶] په دغې ورځ کښې واکداري یوازې الله ﷻ پورې (مختصه) ده، (نو) الله ﷻ به د (ټولو) خلکو ترمنځ حکم (او فیصله) وکړي.

نو هغه کسان به کومو چې (په دنیا کښې) ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي د نعمتونو په باغونو کښې وي (او جنت ته به داخل شي).

[۵۷] او هغه کسان کومو چې (په دنیا کښې) کفر غوره کړی وي او زمونږ ایتونو ته یې د دروغو نسبت کړی وي نو دغه کسان چې دي همدوی لره به سپکوونکی عذاب وي.

## ارتباط او توضیحات

وړاندېنی نژدې ایت شریف د قیامت د ورځې په ذکر باندې مشتمل وه، په دې ایتونو کښې د همدغې ورځې کیفیاتو ته په اجمالي توګه اشاره شوې ده نو توضیحات یې داسې راځېږي چې:

۱_ که څه هم په هر وخت کښې حقیقي واکداري الله ﷻ پورې مختصه ده خو په دنیا کښې کېدلی شي چې څوک په ظاهره توګه د واکدارۍ مدعي شي بلکې دلته ټول کفار خپلو ځانونو ته په اقتدار باندې قائل دي، مګر د قیامت په ورځ به نه څوک د ظاهري واکدارۍ دعوه ګېر شي او نه به کوم کافر د اقتدار دعوه وکړي.

۲_ په ﴿فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ﴾ کښې د "نَعِيم" کلمه د نعمت څخه اشتقاقه شوې ده خو دغه کلمه په ډېرو نعمتونو کښې استعمالېږي[1] یعني صالحان مؤمنان به د ډېرو او پراخو نعمتونو په باغونو کښې اوسېږي.

﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوۡ مَاتُواْ لَيَرۡزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ۝٥٨ لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَلِيمٌ حَلِيمٞ ۝٥٩ ذَٰلِكَۖ وَمَنۡ عَاقَبَ بِمِثۡلِ مَا عُوقِبَ بِهِۦ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيۡهِ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ۝٦٠ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ

(۱) مفردات الراغب ص ۵۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بَصِيرٌ ﴿٦١﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلْبَٰطِلُ
وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٦٢﴾ ﴾

[۵۸] او هغه کسان چې د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي (او) بیا ووژل شي (شهیدان شي) او یا مړه شي نو (په دواړو صورتونو کښې) به هرومرو ضرور الله ﷻ دوی (دواړو ډلو) ته (په قبر کښې) ښایسته روزي (او نعمتونه) ورکړي.

او یقیناً الله ﷻ خامخا همدی ﷻ د روزي ورکوونکو بهتر روزي ورکوونکی دی.

[۵۹] هرومرو ضرور به الله ﷻ دوی (شهیدان شوي او مړه شوي کسان) د داخلولو یوه داسې ځای ته ورداخل کړي چې دوی به یې خوښ کړي (او پرې راضي به شي، چې دغه ځای د جنت ځنې عبارت دي).

او یقیناً الله ﷻ پوه دی (د دوی مشکلات ګالل ورته معلوم دي او) د حلم خاوند دی (دښمنانو ته یې په عجله سره سزا نه ورکوي).

[۶۰] دغه (د آخرت بشارت دی)، او (د دنیا بشارت یې دا دی چې) هرڅوک چې (خپل دښمن) تعقیب کړي (عذاب ورکړي البته) د هغه تعقیب (عذاب) په مثل کوم چې نوموړی ورباندې تعقیب (معذب) شوي وه (او بیا) پرې (د مقابل طرف څخه) بغاوت (تجاوز) وکړی شي نو هرومرو ضرور به الله ﷻ د نوموړي سره نصرت (کومک) وکړي (او دا ځکه چې:)

یقیناً الله ﷻ (په خپلو حقوقو کښې) ډېر عفوه کوونکي (او) ډېر بښونکي دي (خو ذکره شوې واقعه په حقوق العباد پورې ارتباط نیسي نه په حقوق الله پورې).

[۶۱] دغه (نصرت به ورسره ځکه وکړی شي چې:) یقیناً الله ﷻ شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي او یقیناً الله ﷻ اورېدونکی (او) بینا دی.

[۶۲] دغه ځکه چې یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ حق دی، او یقیناً هغه شیان کوم چې مشرکان یې د ده ﷻ څخه په غیر بلنه (عبادت) کوي همدا باطل دي (واقعیت نه لري) او یقیناً الله ﷻ همدی ﷻ اوچت دی (او د شرکیاتو څخه) لوی (پاک) دی.

## ارتباط

په وړاندېنې [۵۵] ایت کښې الله ﷻ اشاره کړې وه چې کفار به خپلې عنادي کړنلارې ته ادامه ورکړي، او بیا د قیامت په ورځ باندې څه رنځ اچولې شوې وه، په دې ایتونو کښې مسلمانانو ته د جهاد او هجرت په هکله توصیه کېږي چې د کفارو د عنادي کړنلارې سره تړلې دي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د هجرت او جهاد په هکله لاندې ارشادات قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ هرڅوک چې د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړي چې مطلب يې د وطن د پرېښودلو څخه نښتېدل نه وي بلکې د جهاد په خاطر د خپل وطن څخه جدا شي، نو دغه کسان که د الله ﷻ په لاره کښې ووژلی شي (شهيدان شي) او يا په خپل مرګ باندې مړه شي په دواړو صورتونو کښې به هرومرو او ضرور الله ﷻ دوی ته په عالم البرزخ کښې ښايسته او په زړه پورې روزي ورکړي، دا ځکه چې:

يقيناً الله ﷻ خامخا همدی ﷻ د روزي ورکوونکو ډېر ښه او بهتر روزي ورکوونکي دي.

۲ـ په دې باندې علاوه هرومرو او ضرور به هغوی الله ﷻ د داخلولو داسې يو ښه ځای ته ورداخل کړي چې هغوی به يې خوښ کړي او پکښې به خوشاله شي چې هغه ځای د جنتونو څخه عبارت دی، او دا ځکه چې:

يقيناً الله ﷻ هرومرو پوه دی، هغه حالت يې ورته معلوم دي چې صرف د الله ﷻ د رضاء په خاطر يې خپل ټاټوبی پرېښی وه، او هم الله ﷻ د حلم خاوند دی هغه ټول ظلمونه ورته په ډاګه ښکاره ځرګند دي کوم چې په هغوی باندې د کفارو د پلوه اجراء کړی شوي وه که د الله ﷻ د حلم غوښتنه نه وی نو په کفارو باندې به يې عذاب نازل کړی وی او مؤمنان به هجرت کولو ته نه وی مجبور کړی شوي.

۳ـ ای پيغمبره! ذکر شوی بشارت خو په هغو شيانو باندې دی کوم به چې مهاجرينو او مجاهدينو ته په آخرت کښې ورکړی شي اما دوی ته په يو بل شي باندې هم بشارت ورکړه کوم چې په دنيا پورې ارتباط لري هغه دا چې:

هرڅوک چې خپل مقابل طرف ته هاغومره سزا او تعذيب ورکړي څومره چې د هغه د پلوه همده ته رسول شوي وي او بيا د مقابل طرف د پلوه د دوهم ځل دپاره په نوموړي کس باندې تېری او تجاوز وکړی شي نو ضرور هرومرو به الله ﷻ د هغه سره کومک، او نصرت وکړي او د دوهم ځل دپاره به ورته قدرت او توان ورکړي چې د مقابل طرف څخه خپل انتقام واخلي او د دوهم ځل دپاره هغه ته دومره ضرر ورسوي او تعذيب ورکړي څومره يې چې ده ته رسولی وي.

هو! که د قدرت سره-سره ورته عفوه وکړي او د هغه جنايت ببښنه ورته وکړي کوم چې د هغه د پلوه ورباندې اجراء شوی وه نو دا کار ورته بهتر دی ځکه چې الله ﷻ هم د قدرت سره-سره ډېر عفوه کوونکی او ډېر ببښونکی دی، نو:

که بالفرض ذکره شوې موضوع د حقوق الله څخه وی نو دلته به هم الله ﷻ عفوه او ببښنه کړې وی (البته) په هغه صورت کښې چې اراده يې شوې وی.

۴ـ الله ﷻ به د ذکر شوي مظلوم سره ځکه کومک او نصرت وکړي چې يقيناً الله ﷻ شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي، چې دا کار د هيچا د توانه پوره نه دی، او هم ځکه به ورسره نصرت او کومک وکړي چې يقيناً الله ﷻ اورېدونکی او لېدونکی دی نو کومې سپکې سپورې خبرې چې ورته د ظالم د پلوه کړی شوي دي هغه يې اورېدلي دي او کوم د ظلم اعمال يې چې ورباندې اجراء کړي دي هغه يې ټول ليدلي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ په دې باندې علاوه خکه به الله ﷻ د نوموړي مظلوم سره نصرت وکړي چې يقيناً الله ﷻ همدی حق دی او حق خوښوي او هم د حق ملګری دی، او يقيناً کوم بوتان چې مشرکان يې د الله ﷻ څخه په غير عبادت کوي هغه باطل دي او واقعيت نه لري، او برسېره په دې الله ﷻ همدی ﷻ د اوچتې مرتبې خاوند دی او د لوی قدرت څښتن دی چې هيڅوک ورسره سيالي نه شي کولی، او د شرکياتو څخه پاک او منزه دی.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: د ﴿ ثُمَّ قُتِلُوٓاْ أَوْ مَاتُواْ لَيَرْزُقَنَّهُمُ ٱللَّهُ ﴾ څخه ظاهراً څرګندېږي چې في سبيل الله شهيد د هغه چا سره په اجر کښې يو برابر دی کوم چې د الله ﷻ په لاره کښې په خپل مرګ باندې مړ شي نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه مساوات او برابري حقيقت لري او که څنګه؟

مونږ وايو چې: په دې موضوع کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو ويشلي شوي دي[۱].

الف: نوموړی شهيد او نوموړی متوفی دواړه يو برابر دي لکه چې د همدغه ايت شريف څخه په څرګنده توګه فهمېږي او همدارنګه الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَمَن يَخْرُجْ مِنۢ بَيْتِهِۦ مُهَاجِرًا إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ يُدْرِكْهُ ٱلْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ ﴾ [النساء: ۱۰۰] او هرڅوک چې د خپله کوره الله ﷻ او د ده ﷺ پيغمبر ته هجرت کوونکی ووځي بيا ورته مرګ ورسېږي نو د ده اجر په الله ﷻ باندې واقع شو (ثابت شو).

ب: دواړه سره يو برابر نه دي لکه چې يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې کوم يو جهاد بهتر دی؟ نبي کريم ﷺ په جواب کښې وفرمايل چې: «مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ»[۲] هغه څوک بهتر دی چې وينه يې (د الله ﷻ په لاره کښې) تويه شي او آس يې (پکښې) زخمي شي.

## تبصره

۲_ څرنګه چې د شريعت ظاهر په دې دلالت کوي چې د الله ﷻ په لاره کښې په خپل مرګ سره د وفات شوي کس څخه شهيد بهتر دی[۳] نو مونږ ته داسې برېښي چې په اصل ثواب کښې به دواړه يو برابر وي خو تفاوت به يې په کيفياتو کښې وي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ»[۴] يعنې په جنت کښې سل درجې دي د دوه وو درجو په منځ کښې د سلو کالو مزل دی.

همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْمَبْطُونُ شَهِيدٌ وَالْمَطْعُونُ شَهِيدٌ»[۵] يعني: څوک چې

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۳ ص۵۸
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۰۰
(۳) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۸۸
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۷۹
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۸۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ګېډې د مرض د کبله مړ شي هغه شهيد دی او څوک چې د طاعون (وباء) په مرض مړ شي هغه هم شهيد دی.

پوره واضحه ده چې دغه دواړه کسان د الله ﷻ د پلوه تفضلاً شهيدان ګڼلي شوي دي مګر حقيقي شهيد ته خو په هر اړخيزه توګه نه شي رسېدلی.

نو څوک چې د الله ﷻ په لار کښې وفات شي هغه به د شهيد سره په اصل ثواب کښې برابر وي مګر په کيفياتو کښې به فرق ولري، يا په بل عبارت: دواړو ته به ښايسته روزي ورکړی شي خو د دواړو په روزۍ کښې به تفاوت موجود وي.

## يادونه

۳_ که څه هم ځينو علماوو کرامو د ﴿ رِزۡقًا حَسَنًا ﴾ کلمات په جنتي روزۍ سره تفسير کړي دي[1] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د عالم البرزخ روزي مراده وي ځکه چې د جنت نعمتونو ته په ﴿لَيُدۡخِلَنَّهُم مُّدۡخَلٗا يَرۡضَوۡنَهُۥ﴾ کښې اشاره شوې ده او تاسيس د تاکيد څخه بهتر دی.

نو دلته به هغه روزي مطلب وي کومې ته چې الله ﷻ د شهيدانو په فضائلو کښې اشاره کړې ده چې: ﴿بَلۡ أَحۡيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمۡ يُرۡزَقُونَ﴾ [آل عمران:۱۶۹] يعنې په شهيدانو باندې د مړو ګومان مه کوئ بلکې دوی د خپل رب ﷻ په نزد ژوندي دي چې د قيامت د قيام څخه وړاندې (په عالم البرزخ کښې) هم دوی ته خاصه روزي ورکولی کېږي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ﴾ کلمات خو د علت په مقام کښې نازل شوي دي حال دا چې عفوه او مغفرت د نصرت دپاره علت نه شي جوړېدلی بلکې د عدم نصرت غوښتنه کوي، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد د ذکرو شوو کلماتو په عوض د "عَزِيزٌ ذُو انۡتِقَام" او يا داسې نور کلمات نازل نه شوه، چې د نصرت په علت باندې صراحت شوی وی؟

مونږ وايو _والله ﷻ أعلم_ چې: د ذکرو شوو کلماتو په نزول کښې هم د ﴿ لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُ ﴾ د جملې علت ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

الله ﷻ ځکه مظلوم ته په ظالم باندې نصرت ورکوي چې دلته انتقام اخستل د مظلوم حق دی، که نه نو الله ﷻ خو ډېر عفوه کوونکی او ډېر ښنونکی دی، که بالفرض حقوق الله پورې يې تعلق درلودی نو عفوه به يې ورته کړې وی البته که اراده يې ورته شوې وی. همدا موضوع نبي کريم په يو اوږده حديث کښې ډېره ښه واضحه کړې ده[2] چې مونږ يې خلاصه په لاندې تکو کښې رانقلوو:

د جناياتو دفترونه د الله ﷻ په نزد په درېوو ډولونو باندې ويشلي شوي دي:

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۱۶

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغه دفتر چې الله ﷻ يې بالکل نه بښي: دا د کفر او شرک دفتر دی څکه چې الله ﷻ په کفارو باندې جنت حرام کړی دی او دوزخ يې ورته واجب کړی دی.

ب: هغه دفتر چې د کفر څخه په غیر وي او حقوق الله پورې ارتباط لري: نو الله ﷻ دا دفتر بښي چې چاته يې اراده وشي.

ج: هغه دفتر چې حقوق العباد پورې تعلق لري چې يو بنده په بل بنده باندې ظلم او تيرى وکړي: نو دا دفتر الله ﷻ نه بښي بلکې ضرور ترې انتقام اخلي مګر هله چې پخپله بنده ورته عفوه وکړي.

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۶۳] ایا ته نه ګورې (نه پوهېږې) چې يقيناً الله ﷻ د اسمانه (دپاسه) اوبه نازلوي نو ځمکه (ورباندې) تکه شنه (او سمسوره) ګرځي؟، يقيناً الله ﷻ په ډېر دقت سره (د خلکو د احتیاجاتو) پوره کوونکی دی (او هم) په ډېرو پټو شیانو باندې خبردار دی.

[۶۴] خاص د الله ﷻ (ملکیت) دي (البته) هغه شیان چې په اسمانونو کښې دي او هغه شیان چې په ځمکو کښې دي، او يقيناً الله ﷻ هرومرو همدی ﷻ بې پروا دی (او) ستایلی شوی دی.

[۶۵] ایا ته نه ګورې (نه پوهېږې) چې يقيناً الله ﷻ ستاسو دپاره هغه شیان مسخر کړي دي کوم چې په ځمکو کښې دي (تاسو پرې حکومت کوئ)، او بېړۍ (يې هم درته مسخرې کړي دي) چې د ده ﷻ په امر (حکم) په درياب کښې چلېږي (او ډوبېږي نه). او (همدارنګه) الله ﷻ اسمان د دې څخه ساتي چې په ځمکه باندې راپرېوزي (راولوېږي) مګر د ده ﷻ په اذن سره.

يقيناً الله ﷻ په خلکو باندې ډېر نرمي کوونکی (او هم) ډېر مهربان دی.

[۶۶] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې راژوندي کړي ياست (او) بيا مو (بېرته) مړه کوي (او) بيا مو (د قيامت په ورځ بېرته) راژوندي کوي، يقيناً چې بنيادم ناشکره دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د وروستني ايت مضمون دا وه چې الله ﷻ په حقه معبود دی او د ده ﷻ څخه په غير نور ټول معبودان باطل دي او حقيقت او واقعيت نه لري، په دې ايتونو کښې په همدغې مدعی باندې متعدد دلايل نازل شوي دي چې خلاصه يې داسې راوځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! الله ﷻ په حقه معبود دی او دا ځکه چې:

۱_ ته نه ګورې چې یوازې الله ﷻ د اسمان د طرفه د باران په شکل اوبه نازلوي چې په همدغو اوبو باندې وچه کلکه ځمکه تکه شنه سمسوره ګرځوي؟، ایا د همده ﷻ څخه په غیر بل څوک د اسمان د طرفه یو څاڅکی نازلولی شي او یا د ځمکې څخه یو بوټی رازرغونولی شي؟

یقیناً چې الله ﷻ د ډېر باریکه علم خاوند دی او ډېر نرمي کوونکی دی او په هر شي باندې خبردار دی.

۲_ هر شی چې په اسمانونو کښې دي او هم هر شي چې په ځمکو کښې دي د ټولو ملکیت او خلقت الله ﷻ پورې اختصاص لري په دغو شیانو کښې هیڅوک د ملکیت او واکدارۍ دعوه نه شي کولی.

خو د دې سره-سره بې شکه الله ﷻ د دغو ټولو مخلوقاتو څخه بې پروا دی او بدون د دغو ټولو مخلوقاتو څخه په ښو صفاتو باندې ستایلی شوی دی او د ښو صفاتو خاوند دی، نه څه شي ته محتاج دی او نه یې په کوم شي پورې کوم یو صفت توقف لري.

۳_ په دې باندې علاوه، ایاته نه ګورې چې خاص الله ﷻ ستاسو دپاره ټول ځمکني شیان مسخر کړي دي چې تاسوورباندې حکومت چلوئ او د خپلې خوښې تصرف پکښې کوئ؟، که بالفرض د الله ﷻ تسخیر نه وی نو تاسو به په ځمکني مخلوقاتو باندې حکومت نه وی کړی.

۴_ الله ﷻ ستاسو دپاره بېړۍ هم مسخرې کړي دي چې د خپل ثقل او دروندوالي سره-سره د همده ﷻ په امر په نرمو دریابونو کښې چلېږي او تاسو ورباندې خپل احتیاجات پوره کوئ. که د الله ﷻ تسخیر نه وی نو یوه بېړۍ به هم په دریاب کښې نه وی چلېدلې بلکې ټولې به پکښې ډوبې شوې وی.

۵_ الله ﷻ ستاسو دپاسه شین اسمان بدون د ستنو څخه ودرولی دی او د دې څخه یې ساتي چې په ځمکه باندې راولوېږي او تاسو ټول چیت پیت کړي.

په دې کښې هیڅ شک نشته چې د اسمان نه راولېدل فقط د همده ﷻ په ارادې او اذن پورې توقف لري، که بالفرض الله ﷻ ورته د ښکته رالوېدلو اذن وکړي نو هغه به څوک وي چې د سقوط مخه یې ونیسي؟

یقیناً الله ﷻ په ټولو خلکو باندې ډېر نرمي کوونکی او ډېر مهربان دی، چې ټول احتیاجات یې ورپوره کړي دي او نه ورباندې اسمان راغورزوي او نه پرې ځمکه خسف کوي.

۶_ بالآخره الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: تاسو موجودیت نه درلود نو موجودیت یې درکړ او په اروا ګانو سره یې ژوندي کړئ.

ب: بیا چې کله یې اراده وشي تاسو بېرته مړه کوي او داسې مو په ځمکه کښې منحل کوي لکه چې د سره مو موجودیت او ژوند نه وي په برخه شوی.

ج: بیا چې کله یې اراده وشي تاسو به د دوهم ځل دپاره د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړي او د محشر په میدان کښې به مو د حساب کتاب دپاره ودروي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


لري نه ده چې د "رَءُوفٌ" په کلمې سره سلبي نعمتونو ته اشاره وي او د ﴿ رَّحِيمٌ ﴾ په کلمې سره ثبوتي نعمتونه په نظر کښې نیولي شوي وي، او یا به یوه کلمه د بلې تاکید وي، والله ﷻ اعلم.

﴿ لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ ۚ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ ﴾

[۶۷] د هر (مسلمان) امت دپاره مونږ شریعت ګرځولی (ټاکلی) وه چې دوی به وربانديې عمل کاوه (او خپل رب ﷻ ته به یې وربانديې خپلو ځانونو ته ورنژدې کول).

نو (ای پیغمبره! ستا د زماني خلک دې) تا سره په دې کار (شریعت) کښې جګړې ونه کړي، او (د جګړو په صورت کښې ورته هیڅ التفات مه کوه او) خپل رب ﷻ ته دعوت چلوه.

یقیناً (نن ورځ) همدا ته په برابره (سمه سیده) لاره باندې روان یې (او بس).

[۶۸] او که خلکو درسره (په شریعت کښې) منازعه (او جګړه) وکړه نو ته ورته ووایه چې: الله ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې تاسو یې کوئ (نو د همدې کبله:)

[۶۹] الله ﷻ به ستاسو ترمنځ د قیامت په ورځ په هغو (قضایاوو) کښې حکم (فیصله) وکړي په کوم کښې چې تاسو یاست چې اختلاف پکښې کوئ.

[۷۰] ایا ته نه پوهېږې چې یقیناً الله ﷻ په هغو شیانو باندې پوهېږي کوم چې په اسمان او ځمکه کښې (موجود) دي؟.

یقیناً دغه (ټول شیان) په کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثبت) دي. یقیناً دغه (فیصله او علمي احاطه او هم په کتاب کښې ثبتول درهواړه) په الله ﷻ باندې اسان دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د داسې شیانو ذکر ته اشاره شوې وه چې په یو لحاظ سره یې د الله ﷻ په کامل علم او کامل قدرت باندې دلالت کاوه او په بل لحاظ سره د همده ﷻ د پلوه په بندګانو باندې عظیم الشان نعمتونه ګڼل کېدل، نو دغه شیان په دواړو لحاظونو سره د عبادت د فرضیت غوښتونکي وه. په دې ایتونو کښې د عبادت طریقې ته اشاره شوې ده چې د تاریخ په اوږدو کښې یې د فروعو په اعتبار سره بدلون رابدلون موندلی دی، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د دلایلو او نعمتونو د ذکر څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د تاریخ په اوږدو کښې د هر مسلمان ټولګي دپاره مونږ خاص شریعت ټاکلی دی چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه شريعت په ذريعه هر يوه ټولګي خپل خانونه الله ﷻ ته ورنږدې کول.
په همدې بنياد ستا دپاره هم مونږ په دې زمانه کښې خاص شريعت درنازل کړی دی چې همدغه ستاسو د نږدېکت لاره ده او بس.
د همدې لارې څخه په غير بله هيڅ لاره نشته چې تاسو ورباندې خپل رب ﷻ ته ورنږدې شئ؛

۲_ نو د همدې کبله په دې زمانه کښې بايد تا سره د دې زماني کفار په هغې لاره کښې جګړه ونه کړي په کومه باندې چې تاسو خپل رب ﷻ ته ورنږدې کېدلی شئ، دوی ته په کار دي چې پخواني ټول شريعتونه پرېږدي او يوازې همدا ستا په شريعت باندې منګولې ښخې کړي.

۳_ ای پيغمبره! نو ته نن ورځ خلک دعوت کړه او د خپل رب ﷻ عبادت ته يې راوبوله چې هلئ؛ راشئ نن ورځ د نجات لاره همدا يوه ده او بس.

او دا ځکه چې نن ورځ همدا ته په سمه لاره باندې روان يې او بس. نورې ټولې لارې غلطې دي او نور ټول په غلطو لارو باندې روان دي.

۴_ ای پيغمبره! که ستا د زمانې خلکو د منازعې او جګړې څخه لاس وانخست او د شريعت په هکله يې درسره په ناندريو شروع وکړه نو ته ورسره ناندرۍ مه وهه او فقط همدومره ورته ووايه چې الله ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوهېږي کوم شی چې تاسو يې کوئ، نو موافقه سزا به درکړي. او دا ځکه چې:

۵_ الله ﷻ به ستاسو ترمنځ د قيامت په ورځ په هغې موضوع کښې فيصله وکړي په کومه کښې چې تاسو ناندرۍ وهئ او د اختلاف او شقاق څخه پکښې کار اخلئ نو:

۶_ ايا ته نه پوهېږې؟ بلکې پوهېږې چې:

الف: يقيناً الله ﷻ په هغو ټولو شيانو باندې ښه عالم دی کوم چې په اسمان او ځمکه کښې موجوديت لري چې د همدغو معلومو شيانو څخه ستاسو اعمال او ستاسو اختلافات هم دي.

ب: د الله ﷻ په کامل علم باندې علاوه دغه ذکر شوي شيان د الله ﷻ په نزد په لوح محفوظ کښې هم موجود دي.

ج: بالآخره د منازعاتو او جګړو فيصله کول او په حقه باندې حکم کول الله ﷻ ته ډېر اسان دي هيڅ مشکلات ورته نه لري.

## توضيحات

۱_ که څه هم د [الحج:۳۴] ايت لاندې د "مَنْسَك" د کلمې ځينو معناوو ته اشاره شوې ده مګر په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د شريعت په معنی باندې تفسيره کړې ده[۱]، نو د ﴿ لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ ﴾ د معنی حاصل داسې راځبرې چې: مونږ د هر مسلمان امت دپاره په عملي احکامو کښې بېل‌بېل شريعت ګرځولی دی چې هر يو په خپلو خپلو زمانو پورې اختصاص درلود

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۱۹۵؛ تفسير القاسمي ج۱۲ ص۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او بندګانو به وربانديې خپل خانونه الله ﷻ ته ورنژدې کول او په هغې زمانه کښې به د نژدېکت بله لاره نه وه.

اما په عقیدوي احکامو کښې ټول امتونه متحد دي او په یوه زمانه کښې هم پکښې بدلون نه دی نازل شوی، او دا ځکه چې عقیدوي احکام اخبارات دي او په اخباراتو کښې نسخه رابدلون مثلاً د آدم ﷺ په زمانه کښې جنت او دوزخ حق وه او نن هم حق دی او سبا به هم حق نه واقع کېږي.

اما عملي احکام انشاءات دي (چې دا کوئ او دا مه کوئ) نو د آخر الزمان پیغمبر د مبعوثیت وې پکښې وخت په وخت نسخې تحقق موندلی دی. خو د ده ﷺ په شریعت کښې نسخه نه واقع کېږي ځکه چې بل پیغمبر نه مبعوث کېږي.

ذکر شوي مضمون الله ﷻ په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ [المائدة:۴۸] یعنې مونږ (ای بنیادمانو!) ستاسو څخه د هر مسلمان ټولګي دپاره په خپله‌خپله زمانه کښې بېل-بېل شریعت او د تکلیفي امورو دپاره بېله-بېله لاره ګرځولې او نازله کړې ده.

۲_د ﴿فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي ٱلْأَمْرِ﴾ معنی دا ده چې خلکو ته په کار دي چې په دې زمانه کښې تا سره منازعه او جګړه ونه کړي لکه درته ووایي چې ته ولې د موسی ﷺ په شریعت باندې عمل نه کوې؟ او یا د عیسی ﷺ شریعت دې ولې پرېښود؟ او داسې نور.

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ يَسْطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ ٱلنَّارُ وَعَدَهَا ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾﴾

[۷۱] او مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر د هغو (بوتانو) عبادت کوي د کومو (په ثبوت) باندې چې الله ﷻ څه دلیل (حجت) نه دی نازل کړی. او (یا په بل عبارت) د هغو شیانو (بوتانو عبادت کوي) په کومو باندې چې مشرکانو ته علم (عقلي دلیل هم) نشته.

او (ای پیغمبره!) ظالمانو ته هیڅ نصرت کوونکی نشته (چې د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ورکړي).

[۷۲] او کله چې په مشرکانو باندې زمونږ واضحه دلایل تلاوت کړی شي (او حقاني معبود ورته په اثبات ورسولی شي) نو ته د هغو کسانو په مخونو کښې ناخوښي پېژنې (ګورې) کومو چې کفر اختیار کړی دی (چې تندي یې تروه شي او څیرې یې بدلې شي).

دوی نژدې وي چې په هغو کسانو باندې لاسي حمله وکړي (لاس ورواچوي) کوم چې په هغوی باندې زمونږ (واضحه) ایتونه (او دلایل) تلاوت کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (ته ورته) ووایه چې: ایا نو زه تاسو ته د دغه (دعوت الی الله) څخه (واقعًا) په زیات ناکاره شي خبر درکړم (چې تاسو ورسره د قیامت په ورځ مخامخ کېدونکي یاست)؟
(دغه حقیقتاً ناکاره شی) اور دی چې الله ﷻ د هغو کسانو دپاره وعده کړې دی کومو چې کفر غوره کړی دی، او (دغه اور) د ېېرته ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه په دې مطلب باندې هم مشتمل وه چې د هر امت دپاره د الله ﷻ د پلوه په هره زمانه کښې بېل-بېل شریعت ټاکلی شوی وه نو کفارو ته په کار دي چې په دې زمانه کښې د دې امت په شریعت کښې جګړې ونه کړي او په اخلاص سره ورته غاړې کېږدي، په دې ایتونو کښې د ذکر شوي مطلب په ارتباط د کفارو عکس العمل ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د شریعت په هکله په خپل امت باندې د کفارو د عکس العمل بیان په لاندې ډګو کښې قرائت کړه:

۱ـ د دې زمانې کفار د هغه شریعت پیروي نه قبلوي کوم چې د دې زمانې دپاره نازل شوی دی، چې د یو پلوه شرعًا په قرآن کریم سره ثابت دی او د بله پلوه یې صاف عقلونه هم تائید کوي، بالمقابل نوموړو کفارو داسې خط السیر خوښ کړی دی او د الله ﷻ څخه په غیر د داسې معبودانو عبادت کوي چې:

الف: الله ﷻ یې په ثبوت باندې هیڅ دلیل نه دی نازل کړی ترڅو ترې دوی د نقلي دلیل په حیث استفاده وکړي.

ب: همدارنګه دوی د خپلو باطلو معبودانو په ثبوت باندې کوم علم او عقلي دلیل هم په لاس کښې نه لري.

خو د دې سره- سره چې نه ورسره نقلي دلیل شته او نه عقلي دلیل په لاس کښې لري په خپل خط السیر باندې کلک دي او په خپلو ځانونو باندې د کفر په غوره کولو سره ظلم او تېری کوي، خو ظالمانو ته هیڅ کومک کوونکی نشته چې د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ورکړي.

۲ـ په دې باندې علاوه چې کفار د دې زمانې دپاره نازل شوی شریعت نه قبلوي د دعوت په وخت کښې په غُصه کېږي هم حتی چې:

الف. کله په دوی باندې زمونږ واضحه ایتونه او دلایل تلاوت کړی شي نو ای پیغمبره! ته د هغو کسانو په مخونو کښې د ورایه ناخوښي ګورې او پېژنې کومو چې کفر او شرک غوره کړی دی.

ب: بلکې د ډېرې ناخوښۍ او د ډېرې غُصې د کبله دوی نژدې وي چې په هغو کسانو باندې حمله وکړي کوم چې په دوی باندې زمونږ واضحه دلایل قرائت کوي او الهي شریعت ته یې وربولي.

۳ـ ای پیغمبره! د کفارو د غُصې په مقابل کښې دوی مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای کفارو! کله چې تاسو په دعوت الی الله باندې په غُصه کېږئ، نو ایا زه تاسو ته په ډېر

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بدبر او ناکاره شي باندې خبر درکړم کوم چې په حقیقت کښې تاسو ته د دعوت الی الله څخه زیات
غصه کوونکی شی دی؟.
دغه غُصه کوونکی او خپه کوونکی شی د دوزخ د اور څخه عبارت دی چې الله ﷻ یې هغه
کسانو ته وعده ورکړې ده کومو چې کفر غوره کړی دی.
یا په بل عبارت: ای کفارو! زه تاسو هغه شي ته دعوتوم په کوم باندې چې تاسو د دوزخ د اوره
نجات مونده کوئ نو تاسو ته په کار دي چې د غُصې په عوض خوشالي څرګنده کړئ دا ځکه چې:
ب: یقینًا دوزخ د بېرته ورګرځېدلو ډېر بد او ډېر ناکاره ځای دی البته چې تاسو به ورباندې په
هغه وخت کښې پوه شئ کله چې تاسو ورداخل شئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَـٰنًا ﴾ کښې د "سُلْطَان" کلمه د "سَلِيط" ـلکه "شَرِيف"ـ څخه اشتقاقه
شوې ده، "سَلِيط" د هغه شي دپاره وضعه شوی دی په کوم باندې چې سرې ته رڼا حاصلېږي لکه چې
ډېوه په تېلو سره رڼا کړی شي[۱]، په دې مقام کښې بلکې د قرآن کریم په اکثرو ایتونو کښې د
حجت او برهان په معنی استعمالېږي او دا ځکه چې په حجت او برهان باندې معنوي رڼا حاصلېږي.
نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: الله ﷻ د باطلو معبودانو په ثبوت باندې کوم حجت او
برهان نه دی نازل کړی چې د نقلي دلیل کار ترې واخستلی شي.
په دې تقدیر به د ﴿ وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ جمله د عقلي دلیل د عدم موجودیت معنی ورکړي،
نو بوت پرستان نه نقلي دلیل لري او نه عقلي.

## سَطْوَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ يَكَادُونَ يَسْطُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَسْطُونَ ﴾ کلمه د "سَطْوَة" ـلکه "رَحْمَة"ـ څخه
اشتقاقه شوې ده، "سَطْوَة" دې ته وایي چې سړی یو شي ته لاس ورواچوي[۲] او حمله ورباندې وکړي
یعني مشرکان د قرآن کریم په اورېدلو باندې دومره په غُصه کېږي چې په قاري باندې حملې ته خپل
ځان جوړوي. لکه چې په ډېرو ځایونو کښې یې حمله عملي کړې هم ده، او زمونږ د نظر لاندې یې
هم مثالونه تېر شوي دي.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَٱسْتَمِعُوا۟ لَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن
يَخْلُقُوا۟ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُوا۟ لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ
ٱلطَّالِبُ وَٱلْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٧٤﴾ ٱللَّهُ

[۱] لسان العرب ج۷ ص۳۲۱
[۲] مفردات الراغب ص۲۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَصْطَفِى مِنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ ٱلنَّاسِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾ يَعْلَمُ مَا
بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴿٧٦﴾

[۷۳] ای خلکو! (تاسو ته) یو مثال وهل کېږي (بیانېږي) نو اورېدل ورته وکړئ (د زړه په غوږونو باندې یې واورئ هغه دا چې:)

یقینًا هغه کسان (بوتان) چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه کوئ (او په عبادت ورته سرونه ټیټوئ) هغوی به هیڅکله یو مچ هم پیدا نه کړی شي اګر که دوی ورته ټول راغونډ شي (او په پیدا کولو کښې یې یو د بل ملاتړ او کومک وکړي).

او (همدارنګه) که د دوی (ستاسو د معبودانو) څخه یو مچ څه شی وتښتوي نو (ټول) به یې ترې راخلاص نه کړی شي (که څه هم په خلاصون کښې یې ټول اتفاق وکړي).

(نو) ستاسو (هر یو) معبود هم کمزوری دی (چې د خلاصون مطالبه کوي) او مچ هم کمزوری (بې وسې) دی (چې د تښتولي شي د بېرته اخستلو مطالبه ترې صورت نیسي خو په بې وسی کښې د بوت څخه مچ بهتر دی چې اقلاً تښتول خو کولی شي).

[۷۴] (نو په همدې بنیاد) مشرکانو د الله ﷻ تعظیم ونه کړ (البته) د ده ﷻ حق تعظیم (چې څومره په دوی باندې د بشري توان په اندازه واجب وه).

یقینًا الله ﷻ قوتناک دی (د هر شي وسه لري او هم) د کلکې ارادې خاوند دی (خو مشرکانو په خپل خیال د بې وسې بوتانو سره برابر کړی دی).

[۷۵] الله ﷻ د پرښتو څخه هم ځینې د رسولانو (لېږلو شوو) په حیث غوره کوي چې ځمکې ته وحې راښکته کړي، او د خلکو څخه هم (ځینې د پیغمبرانو په حیث غوره کوي چې دعوت الی الله وکړي).

یقینًا الله ﷻ اورېدونکی (او) لیدونکی دی (د خپلو رسولانو خبرې اوري او کړه وړه یې ګوري).

[۷۶] (او همدارنګه) د دوی په هغو حالاتو باندې پوهېږي کوم چې د دوی وړاندې دي (کړي یې دي) او په هغو باندې هم چې د دوی وروسته دي (وبه یې کړي).

او خاص الله ﷻ ته ټول کارونه ورګرځولی کېږي (ټول د همده ﷻ په اختیار کښې دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې وه چې مشرکان د حماقت څخه کار اخلي او د دې سره-سره چې د خپلو باطلو معبودانو په ثبوت باندې کوم نقلي او عقلي دلیل نه شي اقامه کولی د توحید په اورېدلو او توحید ته په دعوت باندې په غُصه کېږي هم، په دې ایتونو کښې د هغوی حماقت د مثال په ضمن کښې ښه پوره واضحه شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه ټول خلک مخاطب کړه او ورته ووایه چې تاسو ته یو مثال بیانېږي چې په دې مثال کښې ستاسو حماقت او بې عقلي بالکل په ډاګه شوې ده نو ښه په دقت سره ورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوږ کېږدئ او ښه ورته متوجه شئ، هغه دا چې:

۱_ یقیناً هغه بوتان (چې تاسو ته متصرفین برېښي او د الله ﷻ څخه په غیر یې عبادت او بلنه کوئ، تر څو تاسو ته په سخته ورځ کښې په درد باندې دوا شي) دوی به هیڅکله یو مچ هم پیدا نه کړی شي او هیڅکله به پکښې روح پو نه کړی شي، که څه هم دوی ټول د یو مچ د ژوندي کولو دپاره سره راټول شي او د همدې مطلب د پوره کولو دپاره سره لاسونه یو کړي.

نو پوره واضحه ده چې د بوتانو څخه د خپلو ارزوګانو غوښتونکي (طالبان) د عقل څخه کمزوري او سادګان دي او بوتان چې د دوی په نزد مطلوبان دي د توان د حیثه کمزوري او عاجزان دي.

۲_ دا یو پلوه او د بله پلوه که د دغو بوتانو څخه یو مچ د غذایي شیانو څخه څه شی وتښتوي نو که دوی ټول سره اتفاق وکړي چې تښتولی شوی شی ترې خلاص کړي نو دغه کار به هم ونه کړی شي، پوره واضحه ده چې په دغه صورت کښې د خلاصون طالبان (بوتان) کمزوري او بې وسې دي چې د خپلو ځانونو څخه مچان نه شي شړلی او د خولې څخه یې څه شي ته نجات نه شي ورکولی، او هغه شی هم بې وسې او ناتوانه دی کوم چې د بوتانو څخه په خپلو خولو کښې څه شی تښتولی دی، چې د مچ څخه عبارت دی.

بلکې که په دقت سره ورته وکتلی شي طالبان (بوتان) د مطلوبانو (مچانو) په پرتله ډېر زیات کمزوري او بې وسې دي ځکه چې مطلوبان حرکت کولی شي او طالبان حرکت نه شي کولی او په رنځو سترګو اوده دي.

۳_ حقیقت دا دی چې مشرکانو د الله ﷻ سره د مناسب تعظیم اندازه نه ده لګولې او څومره عالي شان چې لري هغه یې نه دی پېژندلی. او دا ځکه چې:

یقیناً الله ﷻ قوتناک او توانا دی هر شی پیدا کولی شي او هر شی یې پیدا کړی دی، او هم د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی، خو د دې سره‌سره د ده ﷻ په عبادت کښې مشرکانو ناتوانه بوتان شریکان ګرځولي دي حال دا چې نه څه شی پیدا کولی شي او نه د خپلې مخې څخه خنډ لرې کولی شي.

۴_ ای پیغمبره! که بالفرض مشرکان خپلو معبودانو ته په تقدس باندې قائل وي چې دوی د الله ﷻ غوره مخلوقات دي، نو دغه خبره یې باطله ده، ځکه چې په بوتانو کښې نه تقدس شته او نه د الله ﷻ په نزد څه غوره والی لري بلکې:

الف: الله ﷻ د پرښتو څخه ځینې د رسالت دپاره غوره کوي خو د عبادت دپاره یې نه دي غوره کړي چې د دوی عبادت دې وکړی شي.

ب: همدارنګه الله ﷻ د خلکو څخه هم ځینې کسان د رسالت دپاره غوره کوي مګر د دې دپاره یې هیڅوک نه دی غوره کړی چې د ده عبادت دې وکړی شي.

یقیناً الله ﷻ اورېدونکی دی د پرښتو او پیغمبرانو اقوال اوري او هم وړباندې بینا دی ټول کړه وړه یې ورته ښکاره دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دغه غوره مخلوقات نه چاته دعوت ورکوي چې عبادت یې وکړي او نه د دې دپاره استولي شوي دي چې خپل عبادت ته دعوت وچلوي.

ج: بلکې الله ﷻ د دوی په ټولو حالاتو باندې پوهېږي او وړاندېني او وروستني حالات یې ورته ټول معلوم دي، چې نه یې پخوا څوک خپل عبادت ته دعوت کړي دي او نه به یې ورته وروسته دعوت کړي.

د: بالآخره خاص الله ﷻ ته د ټولو کارونو بېرته ورتاوېدل دي، که بالفرض المحال دوی خپل عبادت ته دعوت وچلوي نو هرومرو به د سخت عذاب سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: بوتان خو د هر شي د پیدا کولو څخه عاجز دي، نو د څه حکمت په بنیاد په ﴿ لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا ﴾ کښې د "ذُبَاب" (مچ) عدم پیدا کولو ته تخصیص ورکړی شو؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_ چې: په دې مقام کښې د بوتانو بې وسي په دوه وو مثالونو کښې واضحه شوې ده چې یوه بې وسي یې د پیدا کولو په لحاظ سره ده او بله بې وسي یې د خپلو ځانونو څخه د عدم دفاع په لحاظ سره ده. او په مچ کښې دواړه مثالونه په ډېره ښه توګه تحقق مونډلی شي چې مچ ډېر حقیر مخلوق دی او بوتان د دغه حقیر مخلوق په مقابل کښې ناتوانه او عاجز دي چې نه یې د هغه په پیدا کولو باندې وسه رسېږي او نه د هغه د ضرر څخه خپل ځانونه بچ کولی شي.

ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه قدسي حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «فَلْيَخْلُقُوا مِثْلَ خَلْقِي ذَرَّةً أَوْ ذُبَابَةً أَوْ حَبَّةً»[1] یعنې د هغه چا څخه سخت ظالم بل څوک دی چې په خپل خیال زما د پیدا کولو په شان پیدا کول کوي (د ژوندیو شیانو تصویرونه وباسي) نو که دوی واقعًا دغه کار کولی شي نو زما د پیدا کولو په شان دې یوه ذره پیدا کړي او یا دې یو مچ او یا دې یوه دانه پیدا کړي.

## د طالب او مطلوب مصداقات

۲_ د ﴿ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴾ په مصداقاتو کښې مفسرین کرام لاندې تفسیرونه کوي:

الف: "طالب" د بوت پرست څخه او "مطلوب" پخپله د بوت څخه عبارت دی[2] یعنې بوت پرست ناتوانه دی چې د بل ناتوانه (بوت) څخه د خپلو احتیاجاتو پوره کول غواړي.

ب: "طالب" د مچ څخه او "مطلوب" د بوت څخه عبارت دی[3]، یعنې مچ د غذایي شیانو څخه د یوه شي تښتول طلبوي کوم چې په بوت پورې نښلولی شوی وي او یا یې په وړاندې ایښودل شوی وي ترڅو برکتي وګرځي، او بوت مطلوب دی چې د هغه څخه یې تښتوي.

او دا ځکه چې د کفارو عادت وه چې په بوتانو پورې به یې زعفران او نور عطریات موښل او په

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۴۵؛ صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۲۸
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۲۰۲
(۳) زاد المسیر ج۵ ص۲۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ملغلرو او یاقوتو باندې به یې ډولې کول، او هم به یې د دوی په وړاندې طعامونه او غذایي شیان ایښودل چې خیر او ګټه یې زیاته شي[۱].

ج: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: "طالب" په دې مقام کښې د بوت معنى ورکوي، او "مطلوب" یې مچ دی[۲]، یعنې کوم شی چې مچ د بوتانو د مخې څخه تبنتولی وي د هغه د راخلاصولو دپاره که (بالفرض) بوتان تالاش وکړي هم کامیاب به نه شي او "مَطلوب مِنه" (مچ) به قابو نه کړي چې د هغه د خولې څخه یې واخلي.

## تبصره

۳_ مونږ ته داسې بهتر برېښي _والله ﷻ أعلم_ چې د ﴿ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ﴾ جمله به د هر یوه مثال سره جدا_جدا پیوستون لري، نو د اول مثال په لحاظ سره به ترې اولنی تفسیر مطلب وي چې یو ناتوانه (بوت پرست) د بل ناتوانه (بوت) څخه خپل احتیاجات غواړي.

او په دوهم مثال کښې به دریم تفسیر مراد وي چې یو ناتوانه (بوت) بالفرض که هڅه کوي چې د بل ناتوانه (مچ) د خولې څخه تبنتولی شوی شی راخلاص کړي او یا یې پرېنږدي چې هغه یې ترې په خوله کښې وتښتوي، نو دغه یو کار به هم ونه کړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْۤ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ
تُفۡلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾ وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ هُوَ ٱجۡتَبَىٰكُمۡ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي
ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ مِن قَبۡلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ
ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيۡكُمۡ وَتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِۚ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ
وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ فَنِعۡمَ ٱلۡمَوۡلَىٰ وَنِعۡمَ ٱلنَّصِيرُ ﴿٧٨﴾ ﴾

**[۷۷] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! رکوع او سجدې (لمونځونه) وکړئ او خپل رب ﷻ ته بندګي (عبادت) وکړئ، او (هم) خیریه کارونه وکړئ شاید چې تاسو فلاح (کامیابي) مونده کړئ.**

**[۷۸] او (همدارنګه) د الله ﷻ په (لاره) کښې جهاد وکړئ د ده ﷻ حق جهاد (چې په اخلاص کښې مو څه قصور واقع نه شي).**

**الله ﷻ تاسو (د ایمان دپاره او بیا د جهاد دپاره) غوره کړي یاست، او په تاسو باندې یې د دین په هکله هیڅ تنګي نه ده ګرځولې (اچولې چې ستاسو د توان څخه پورته وي، نو) د خپل پلار ابراهیم عليه السلام (د) دین (ملت پیروي وکړئ چې په اصولو کښې ستاسو د دین سره متحد دی).**

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۹۸
(۲) تفسیر الطبري ج۱۷ ص۲۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ تاسو د غاړې اېښودونکو په نامه سره نومولي ياست، (البته) پخوا (د دې قرآن کريم
څخه (په پخوانيو کتابونو کښې) او په دغه (قرآن کريم) کښې يې (هم دربانديې د مسلمانانو نوم
اېښی دی)، (دا) د دې دپاره چې پيغمبر ﷺ (د قيامت په ورځ) په تاسو باندې شاهدي اداء کړي (چې
دوی ته ما د الله ﷻ احکام رسولي دي او دوی رښتيا وايي).
او (هم د دې دپاره چې) تاسو په خلکو باندې شاهدان وګرځئ (جوړ شئ چې يقيناً دوی ته خپلو
خپلو پيغمبرانو الهي احکام ابلاغ کړي دي).
نو (په پای کښې يو ځل بيا واورئ چې) لمونځونه ودروئ او زکاتونه ورکړئ او د الله ﷻ (په قرآن
کريم) باندې منګولې ولګوئ، چې همدا (الله) ﷻ ستاسو کارساز دی، نو (همدی ﷻ) ډېر ښه
کارساز او ډېر ښه کومک (نصرت) کوونکی دی.

## ارتباطات

۱ـ په دې سورت کښې له پيل څخه د کفرياتو او شرکياتو رد بيان شوی دی او د کفارو اشتباهګانې
جوابې شوې دي، نو دا دی د سورت په پای کښې مؤمنانو ته په ايمان باندې د کلکوالي او محکموالي
وصايا شوي دي ترڅو د هغوی د اشتباهګانو په دام کښې ونه نښلي.

۲ـ په وړاندېنيو نژدې ايتونو کښې د هغو کسانو ذکر وه کوم چې په نبوت سره غوره کړی شوي وه
او دلته د مؤمنانو افتخار ذکر شوی دی چې د قيامت په ورځ به دوی د شاهدانو په حيث سرلوړي شي.

۳ـ بالآخره هلته د کفارو حماقت ته د مثالونو په ضمن کښې شرحه ورکړی شوې وه او دلته
مؤمنان پوه کړی شوي دي چې د هغوی د حماقت مخه په ايمان او صالحو اعمالو او هم په جهاد
باندې ونيسي، نو حاصل يې داسې راخېژي چې:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! کله چې تاسو په لوستلو شوو ايتونو کښې د کفارو حماقتونه او د هغوی په
اشتباهګانو ردونه په خپلو اذهانو کښې کښېنول نو اوس هغو وصاياوو او ارشاداتو ته متوجه شئ
کوم چې تاسو پورې تعلق لري هغه دا چې:

۱ـ تاسو لاندې ارشادات عملي کړئ:

الف: تاسو رکوع او سجدې وکړئ او په لمونځونو سره خپل رب ﷻ ته ځانونه ورنژدې کړئ.

ب: همدارنګه تاسو په نورو انواعو سره هم د خپل رب ﷻ عبادتونه وکړئ او په اخلاص سره يې
اداء کړئ لکه روژې او نور.

ج: تاسو د خير کارونه وکړئ او بندګانو ته ښېګڼې ورسوئ، کومکونه ورسره وکړئ او د الله ﷻ
دين ته يې دعوت کړئ.

که تاسو ذکر شوي ارشادات عملي کړه نو شايد چې تاسو فلاح او کاميابي مونده کړئ او د
مشکلاتو څخه مو خلاصون په نصيب شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


۲_ ای مؤمنانو! تاسو ته توصیه کیږي چې برسېره پر نورو عبادتونو باندې د الله ﷻ په لاره حق جهاد وکړئ چې اخلاص مو پکښې کامل وي او خپله بندګي وسه مو پکښې تمامه کړې کېږي او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ تاسو د کفري حماقتونو څخه بچ ساتلي یاست او په ایمان سره یې غوره کړي یاست، نو د دغه لوی نعمت د شکر دپاره په جهاد کښې سستي مه کوئ.

ب: الله ﷻ د دین او انقیاد په ارتباط په تاسو باندې دومره تنګي نه ده فرض کړې چې ستاسو د وسې او توان څخه پورته وي، چې په سفر کښې یې درته د لمانځه قصر تشریع کړی دی او د قضایي راوړلو په شرط یې درته په دین کښې د روژې خوراک جائز کړی دی او داسې نور.

لنډه دا چې الله ﷻ د دین په تشریع کښې ستاسو کمزوري او ضعف د نظره نه دی غورزولی او د هغه پوره مراعات یې کړی دی.

۳_ په کوم دین باندې چې الله ﷻ تاسو مکلف کړي یاست هغه د اصولو او اساساتو (عقائدو) په اعتبار سره ستاسو د پلار دین دی، یا په بل عبارت: په کوم دین باندې چې تاسو مکلف یاست په همغه دین باندې ستاسو پلار هم مکلف وه چې ابراهیم ؑ دی، نو ایا دا به مناسبه وي چې تاسو د خپل پلار دین پرېږدئ لکه چې کفارو پرېښې دی او په کندو باندې سر شئ؟، نو تاسو ته خپل رب ﷻ امر کوي چې د خپل پلار (ابراهیم ؑ) د دین پیروي وکړئ.

۴_ الله ﷻ تاسو په پخوانیو کتابونو کښې د مسلمانانو په نوم باندې یاد کړي یاست او په دغه قرآن کریم کښې یې هم تاسو ته د مسلمانانو (غاړې اېښودونکو) لقب درکړی دی.

نو ایا دا به مناسبه وي چې دغه لقب ته شا کړئ او د خپل رب ﷻ د اطاعت څخه غاړې وغړوئ؟

۵_ ای مؤمنانو! تاسو په اسلام او غاړه ایښودلو باندې ځکه کلک ودرېږئ ترڅو تاسو د ایمان په افتخار باندې علاوه په یوه بل افتخار باندې هم سرلوړي شئ هغه دا چې:

د قیامت په ورځ باندې به تاسو د الله ﷻ په حضور کښې په هغو خلکو شهادت اداء کوئ کومو چې انکار غوره کړی دی چې مونږ ته خپلو-خپلو پیغمبرانو دین نه دی رسولی، نو تاسو به د دوی انکار رد کړئ چې دوی دروغ وایي، هر یوه پیغمبر په خپل وخت کښې خپله دنده په کامله توګه اجراء کړې ده.

په دې باندې علاوه ستاسو به د نبي کریم ﷺ د پلوه تزکیه هم په برخه شي چې دوی په حقه شاهدي اداء کړه او شهادت یې د قبول وړ دی، که بالفرض تاسو د اسلام دین ته غاړه کېښږدئ نو نه به د شهادت د اداء کولو جوګه شئ او نه به مو د نبي کریم ﷺ د پلوه تزکیه په نصیب او برخه شي.

۶_ ای مؤمنانو! په پای کښې یو ځل بیا تاسو ته توصیه کېږي چې لاندې ارشادات عملي کړئ او غاړې ورته کېږدئ:

الف: د ټولو حقوقو سره خپل لمونځونه ودروئ چې تاسو د بدو او غیر شرعي کارونو څخه منعه کړي او د شریعت په تطبیق کښې درسره کومک وکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: زکاتونه ورکړئ او مالي عبادتونه ټول اجراء کړئ چې حرص مو مات شي او اخلاص مو ډېر شي.

ج: په هر کار او په هر شي کښې د الله ﷻ په دین باندې منګولې ولګوئ او اختلاف او شقاق مه کوئ او ټول په اتفاق سره په الله ﷻ توکل او اعتماد وکړئ او دا ځکه چې:

همدغه الله ﷻ ستاسو د ټولو کارساز او نصرت کوونکې دی، یقینا چې الله ﷻ همدی ډېر ښه کارساز او ډېر ښه نصرت کوونکی دی.

## توضیحات

۱_ د ﴿ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ﴾ په تفسیر کښې علماء کرام په لاندې دوو ګروپونو باندې وېشلي شوي دي:

الف: ځینې سلف صالحین د الشافعي علیهم الرحمة په شمول وایي چې: د ﴿ٱرۡكَعُواْ﴾ کلمه د "صلوا" څخه کنایي ده او د ﴿وَٱسۡجُدُواْ﴾ په کلمه کښې د تلاوت سجدې ته اشاره ده نو حاصل به یې داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو! خپل لمونځونه وکړئ او د تلاوت سجده وکړئ.

نو په دې تقدیر به په همدې سورت کښې چې بحث پکښې روان دی د تلاوت دوهمه سجده وي، چې لومړنی د تلاوت سجده په [۱۸] ایت کښې تېره شوې ده چې د ټولو علماوو کرامو ورباندې اتفاق دی[1]، او دوهمه سجده به په همدې ایت کښې وي په کوم کښې بحث روان دی.

ب: ځینې نور سلف صالحین د ابو حنیفه علیهم الرحمة په شمول وایي چې: د ﴿ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْ﴾ دواړه کلمې د لمانځه څخه کنایي دي لکه چې د همدې سورت په [۲۶] ایت کښې د لمونځ کوونکو څخه په ﴿وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ﴾ سره تعبیر شوی دی او په [آل عمران:۴۳] ایت کښې د ﴿وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ﴾ کلمات هم د "صَلِّي مَعَ الْمُصَلِّيْن" څخه د کنایي په توګه نازل شوي دي یعنې ای بي بي مریمې! د لمونځ کوونکو سره لمونځ کوه.

په دې تقدیر په دې سورت کښې د تلاوت دوهمه سجده ثبوت نه شي موندلی.

که څوک غواړي چې د دې سورت د دوهمې سجدې په هکله د دواړو جانبو دلایل ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو[2] ته دې مراجعه وکړي چې دا لنډ کتاب یې دلته د رانقلولو حوصله نه لري.

## حق جهاد د کوم جهاد نوم دی؟

۲_ په ﴿وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦ﴾ کښې د "جَاهِدُوا" کلمه د "جِهَاد" یا "مُجَاهَدَة" څخه اشتقاق شوې ده، "جِهَاد" یا "مُجَاهِدَة" دې ته ویل کېږي چې څوک د دښمن په مقابل کښې د هغوی د مخنیوي دپاره خپله وسه تمامه کړي برابره خبره ده چې په هر ډول باندې صورت ونیسي[3]. نو په دې

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۲۷
(۲) اعلاء السنن ج۷ ص۲۱۲؛ شرح معاني الآثار ج۱ ص۲۴۸؛ بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۱۹۳
(۳) مفردات الراغب ص۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


تعریف باندې لاندې ټولو ډولونو ته د جهاد کلمه شامله ګڼله کېږي:
الف: چې د دښمن د مخنیوي دپاره د مال انفاق وکړي.
ب: چې په همدې غرض توري ته لاس کړي.
ج: چې د دښمن په مقابل کښې د تبلیغاتو څخه کار واخلي او خپله ژبه او خپل قلم په د .
حتی نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»[۱] یعـ
واچوي، بهتر جهاد هغه د عدل (انصاف) خبره ده کومه چې د ظالم پاچا په وړاندې وویله شي.
د: لنډه دا چې په هر ډول باندې چې د دښمن د اضرارو مخنیوی وکړی شي هغه ټول د جهاد څخه
شمېرل کېږي، او په ایت شریف کښې شمولیت لري.
همدارنګه هغه دښمن عام دی د کوم په جهاد باندې چې په ایت شریف کښې امر شوی دی چې
لاندې ټولو صورتونو ته شاملېږي[۲]:
اول: چې څوک د خپل نفس سره جهاد وکړي او د نفس اماره بالسوء مخنیوی وکړي.
دوهم: چې د شیطان د اضرارو او اطاعت څخه خپل ځان بچ وساتي.
دریم: چې د کفارو د اضرارو مدافعه وکړي ترڅو دعوت الی الله ﷻ ته مخه خلاصه شي.
څلورم: چې د کفر څخه رالاندې د نورو ظالمانو لاسونه د ظلم څخه لنډ کړي، او داسې نور.
خو په ذکرو شووو ټولو صورتونو او ډولونو کښې حق جهاد د اکثرو علماوو کرامو په نزد هغه
دی کوم چې په اخلاص باندې ولاړ وي[۳]، دنیاوي غرض او د غنیمت مال پکښې په نظر کښې نه
وي نیولی شوی، نو د دغسې جهاد کوونکي مجاهده في الله ګڼله کېږي که څه هم په وسلوال جهاد
کښې یې برخه نه وي اخستې، د همدې کبله الحسن بن علي رضی الله عنهما وایي چې: «إِنَّ الرَّجُلَ لَيُجَاهِدُ
فِي اللهِ حَقَّ جِهَادِهِ وَمَا ضَرَبَ بِسَيْفٍ»[۴] یقیناً یو سړی وي چې هرومرو د الله ﷻ په لار کښې حق جهاد
کوي حال دا چې په توري سره یې وهل نه وي کړي.

## په دین کښې حَرَج نشته

۳_ په ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ کښې د ﴿ حَرَجٍ ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱۲۵] ایت لاندې ښه پوره تشریح کړې ده چې د تنګی معنی ورکوي، او همدارنګه مو د الله ﷻ په فضل د [البقرة:۱۸۵] ایت لاندې دا موضوع د مثالونو په ضمن کښې ښه پوره څېړلې ده چې په دین کښې تنګي او د وسې څخه وتلی حکم نشته، نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي دلته رانقلول یې د اوږدوالي څخه په غیر بله ګټه نه لري.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۸۹
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۲۰۹
(۳) تفسیر المظهري ج۶ ص۳۵۲
(۴) الدر المنثور ج۶ ص۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو نحوي تحلیل

۴ـ په ﴿ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ إِبۡرَٰهِيمَۚ ﴾ کښې د ﴿ مِّلَّةَ ﴾ د کلمې په نصب کښې مفسرینو کرامو متعدد وجوه لیکلي دي[۱] خو کومه وجه چې مونږ ته بهتره برېښي هغه دا ده چې دلته ورسره د "اتَّبِعُوا" کلمه مقدره کړی شي ترڅو وړاندېنیو اوامرو ﴿ ٱرۡكَعُواْ ، ٱسۡجُدُواْ ، ٱعۡبُدُواْ ، ٱفۡعَلُواْ ، جَٰهِدُواْ ﴾ سره توافق ومومي یعنې: ای مؤمنانو! تاسو د خپل پلار (ابراهیم ﷺ) د ملة او دین پیروي وکړئ نو سره ترې په اصولو (عقائدو) کښې مخالفت کوئ او مه د فروعو په کلیاتو کښې ترې جدا کېږئ او دا ځکه چې نوموړي د رئیس الموحدین لقب ګټلی دی او په دې باندې علاوه ستاسو پلار هم دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ مِّلَّةَ أَبِيكُمۡ ﴾ کښې خو هغه کسان مخاطب ګرځولي شوي دي کومو ته چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې خطاب شوی دی، نو پوښتنه دا ده چې ابراهیم ﷺ خو د ټولو مؤمنانو پلار نه دی نو په کوم ملحوظ د ټولو د پلار لقب ورکړی شو؟

مونږ وایو چې: د دې سوال دپاره علماوو کرامو لاندې دوه جوابونه کړي دي[۲] چې دواړه په ځای دي:

الف: ابراهیم ﷺ د تغلیب په قاعده د ټولو مؤمنانو پلار ګڼلی شوی دی او بني اسماعیلو ته په نورو مؤمنانو باندې په اطلاق کښې غلبه ورکړه شوې ده لکه چې څوک لمر او سپوږمۍ دواړه د قمرینو په نامه یاد کړي حال دا چې د تغلیبي اطلاق څخه په غیر په لمر باندې د قمر اطلاق نه کېږي.

ب: په دې مقام کښې د "أب" څخه نسبي پلار نه دی مراد، بلکې معنوي پلار ترې مطلب دی، او پوره واضحه ده چې ابراهیم ﷺ د ټولو مؤمنانو دپاره معنوي پلار ګڼلی کېږي چې د "رئیس الموحدین" لقب یې ګټلی دی. د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ»[۳] یعنې یقینًا زه ستاسو دپاره د والد (پلار) غوندې یم حتی چې تاسو ته د اودس د ماتولو طریقه هم درزده کوم چې مه قبلې ته شا اړوئ او مه ورته مخامخ کینئ او داسې نور.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په ﴿ هُوَ سَمَّىٰكُمُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴾ کښې د ﴿ هُوَ ﴾ ضمیر چاته راجع دی؟ یا په بل عبارت: دغه آخر الزمان امت ته د چا د پلوه د ﴿ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴾ لقب ورکړی شوی دی؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی ضمیر ابراهیم ﷺ ته راجع ګڼلی دی چې نژدې ذکر دی[۴]، یعنې ابراهیم ﷺ د قرآن کریم څخه لا وړاندې تاسو د مسلمان امت په نامه باندې یاد

---

(۱) روح المعاني ج۱۷ ص۲۱۰

(۲) تفسیر البیضاوي في هذا المقام.

(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۳

(۴) البحر المحیط ج۷ ص۵۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وئ چې: ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً ﴾ [البقرة:۱۲۸] يعني ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپلې اولادې څخه داسې ټولګی راوبښې چې تاته غاړې اېښودونکي وي.

مګر بهتره دا ده چې ذکر شوی ضمیر الله ﷻ ته راجع وګڼل شي(۱) او دا ځکه چې:

الف: په وړاندېنيو افعالو ﴿ ٱجْتَبَىٰكُمْ ﴾، ﴿ وَمَا جَعَلَ ﴾ کښې الله ﷻ ته ضمائر راجع دي نو په کار دي چې ذکر شوی ضمیر هم الله ﷻ ته راجع شي ترڅو بې ضرورته د ضمائرو انتشار لازم نه شي.

ب: ظاهره دا ده چې په ﴿ هَـٰذَا ﴾ کښې قرآن کریم ته اشاره ده او په ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ کښې پخوانې کتابونه (لکه تورات او انجیل) مطلب دي، او پوره واضحه ده چې دغه کتابونه خو الله ﷻ نازل کړي وه بلکې دغه کتابونه خو د ابراهیم ﷺ څخه وروسته نازل شوي دي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای مؤمنانو! الله ﷻ په پخوانیو کتابونو کښې او هم په دغه قرآن کریم کښې تاسو ته د غاړو اېښودونکو لقب درکړی دی، نو تاسو ته په کار دی چې دغه لقب ته په خپلو ځانونو باندې تحقق ورکړئ، هسې نه چې په عصیان او نافرمانۍ سره ستاسو څخه دغه لقب واخستل شي.

## یادونه

۷_ د ﴿ لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ ﴾ غوندې عبارتونه د کلماتو په تقدیم او تاخیر سره په [البقرة:۱۴۳] ایت کښې هم تېر شوي دي چې مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق ځه معلومات لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو په دې مقام کښې هم پکښې ځینو مفسرينو کرامو(۲) ښه ګټور بحث کړی دی که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

د الحج د سورت په اختتام سره د الله ﷻ په توفیق او کومک اولسمه سپاره هم د پښتو ترجمې او تفسیر په لحاظ ختمه شوه.

د الله ﷻ څخه لا زیات توفیق غواړو چې د "النَّاس" د سورت په اختتام سره د دېرشمې سپارې پښتو ترجمه او پښتو تفسیر هم ختم شي، هُوَ مَوْلَايَ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ.

د اختتام نېټه: ۱۰/۱۰/۱۴۱۹ هـ ق = ۱۳۷۷/۱۱/۷ هـ ش = ۱۹۹۹/۱/۲۷ م.

---

(۱) اضواء البیان ج۵ ص۷۵۰
(۲) روح المعاني ج۱۷ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

# المؤمنون (٢٣)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ دا سورت د "المؤمنون" په نامه باندې نوموړی شوی دی او دا نوم ورته د لومړني ایت څخه اخستل شوی دی چې د ﴿ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴾ کلمه پکښې نازله شوې ده.

څرنګه چې د دې سورت په لومړنیو ایتونو کښې د کاملو مؤمنانو د صفاتو بیان شوی دی نو د نوموړي نامه مناسبت ورسره ډېر ښه بریښي.

۲_ دا سورت مکي دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1].

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د ایتونو شمېر یې یو سلو اتلس (۱۱۸) دی[2].

ب: د کلمو شمېر یې یو زرو دوه سوه څلوېښت (۱۲۴۰) دی[3].

ج: د حرفونو شمېر یې څلور زره اته سوه دوه (۴۸۰۲) دی[4].

۴_ په دې سورت کښې هم د نورو مکي سورتونو غوندې عقیدوي احکامو ته زیاته توجه شوې ده، او د الله ﷻ توحید او د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کېدل او داسې نور د اسلام مهم اساسات پکښې نازل شوي دي.

۵_ د الحج د سورت سره یې مناسبت پوره واضحه دی چې د هغه په لومړنیو ایتونو کښې د قیامت د ورځې قیام او د انسان په پیدایښت کښې د الله ﷻ کامل قدرت ته اشاره شوې ده او هم پکښې د حج مناسک او د جهاد اذن نازل شوی وه، دلته په لومړنیو ایتونو کښې د کاملو مؤمنانو صفات بیان شوي دي چې د قیامت د ورځې قیام ته وړاندې سړی خپل ځان عیار کړي، او بیا د انسان په ایجاد کښې د الله ﷻ د کامل قدرت ته اشاره شوې ده او هم پکښې د جهاد څو مثالونه ښودل شوي دي او د څو مجاهدینو (پیغمبرانو) د قیصو تذکر پکښې شوی دی او داسې نور.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ
مُعۡرِضُونَ ۝٣ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ۝٤ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ ۝٥ إِلَّا عَلَىٰٓ
أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ ۝٦ فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۰۱
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۸۲
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۴ ص۱۶۲
(۴) تفسیر الخازن ج۴ ص۲۳۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هُمُ ٱلۡعَادُونَ ۝٧ وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ ۝٨ وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمۡ
يُحَافِظُونَ ۝٩ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ۝١٠ ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡفِرۡدَوۡسَ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝١١ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱] یقینًا مؤمنان په کامیابۍ کښې داخل شوه.

[۲] هغه مؤمنان چې دوی په خپلو لمونځونو کښې عاجزي کوونکي دي.

[۳] او هغه مؤمنان چې دوی د عبثو (کارونو او خبرو) څخه مخ اړوونکي دي.

[۴] او هغه مؤمنان چې دوی د زکات (د ورکړې) دپاره کوونکي دي.

[۵] او هغه مؤمنان چې دوی خپلو عورتونو ته (د حرامو څخه) ساتونکي دي.

[۶] مګر (دوی) په خپلو مېرمنو باندې او هم په هغو وینځو باندې (د خپلو عورتونو) ایساروونکي نه دي د کومو چې د دوی ښي لاسونه مالکان دي.

نو یقینًا دوی (نارینه مؤمنان د دغو دواړو ډولونو زنانه وو په هکله) غیر ملامت کړی شوي دي (دوی ته څه د ملامتۍ لقب نه ورکول کېږي).

[۷] نو هرڅوک چې د مذکورو (زنانه وو) څخه هاخوا (د خپلو عورتونو دپاره) مطالبه وکړي نو دغه کسان همدوی (د شریعت د چوکاټ څخه) تېرېدونکي دي.

[۸] او هغه مؤمنان چې دوی خپلو امانتونو ته او (هم) خپلو عهدونو ته رعایت کوونکي دي (چې خیانت پکښې نه کوي).

[۹] او هغه مؤمنان چې دوی د خپلو لمونځونو (په اداء کولو) باندې حفاظت کوي.

[۱۰] دغه کسان (چې وړاندې ذکر شوه) همدوی وارثان دي (وړیا موندونکي دي).

[۱۱] (البته) هغه (وړیا موندونکي) چې په وړیا توګه فردوس (جنت) مونده کوي، دوی به پکښې همېشه وي.

## ارتباطونه

۱ــ د الحج سورت په وروستنیو ایتونو کښې مؤمنان مخاطب کړی شوي وه چې: ﴿ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴾ [۷۷] شاید چې تاسو فلاح (کامیابي) مونده کړئ، او دا سورت د هغو شیانو د نومونو په ذکر باندې پیل شوی دی د کومو په عملي کولو باندې چې فلاح مونده کېږي.

۲ــ هلته اشاره شوې وه چې الله ﷻ په مؤمنانو باندې په دین کښې حرج نه دی فرض کړی چې د بنیادمانو د وسې څخه اوچت احکام یې فرض کړي وي ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلدِّينِ مِنۡ حَرَجٖ ﴾ [۷۸]، په دې ایتونو کښې د دین د ځینو مهمو احکامو نومونه نازل شوي دي چې د فلاح موجب دي خو د بنیادمانو د وسې څخه وتلي نه دي. نو حاصل یې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

اې پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې هغه احکام قرائت کړه د کومو په سبب باندې چې دوی د کامیابۍ مقام ته رسیږي او جنتونه ورباندې ګټلی شي حال دا چې د دوی د توان څخه اوچت نه دي، هغه دا چې:

۱_ هغه مؤمنان د کامیابۍ خاوندان دي کوم چې په خپلو لمونځونو کښې عاجزي کوونکي او خپل رب ﷻ ته تواضع څرګندونکي وي.

۲_ هغو مؤمنانو هم فلاح او کامیابي مونده کړې ده کوم چې د عبثیاتو او چټي شیانو څخه مخ اړوونکي دي، چې نه ورباندې پخپله اخته وي او نه بل چاته موقع ورکوي چې دوی ته یې ور واوروي او یا یې د دوی په وړاندې اجراء کړي.

۳_ هغه مؤمنان هم په کامیابه ډله کښې شامل دي کوم چې د تصفیه کولو د عمل اجراء کوونکي وي، چې هم یې خپل اخلاق تزکیه کړي وي او هم د خپلو مالونو په تزکیه او تصفیه باندې مشغول وي، یا په بل عبارت: چې نه د اخلاقو د حیثه او نه د مالونو د حیثه خچن پاتې وي.

۴_ هغه مؤمنان هم کامیابان دي چې دوی د خپلو غلیظو عورتونو حفاظت کوي او د هر ډول استعمال څخه یې محفوظ ساتي مګر د لاندې دوه وو خایونو څخه:

الف: یو ځای د هغو زنانه وو څخه عبارت دی کومې چې د دوی په نکاح کښې شاملې وي چې عدد یې د یوې څخه نیولی تر څلورو پورې رسیږي.

ب: بل ځای د هغو وینځو څخه عبارت دی چې د دوی په ملکیت کښې شاملې وي او دوی کولی شي چې هغه وپلوري او یا یې چاته هبه کړي، البته چې دغه وینځې په کوم خاص عدد کښې انحصار نه لري.

کله چې مؤمنانو ته ذکرې شوې دوه ډوله زنانه حلالې ګرځولې شوې دي نو په دوی باندې هیڅ ملامته نشته که خپل غلیظ عورتونه ترې ونه ساتي. هو! هرڅوک چې د ذکرو شوو دواړو ډولو زنانه وو څخه په غیر د بل ځای څخه خپل عورتونه ونه ساتي او خپله غوښتنه پکښې پوره کړي نو همدغه کسان د شریعت د چوکاټ څخه تجاوز کوونکي دي، همدوی ته ملامتیا متوجه ده او د کامیابانو د ډلې څخه وتلي دي.

۵_ هغه مؤمنان هم کامیابان دي کوم چې د خپلو امانتونو او د خپلو عهدونو رعایت کوونکي دي، نه په امانتونو کښې خیانت کوي او نه په وعدو او عهدو کښې خیانت او بې وفایي کوي.

۶_ بالآخره هغه مؤمنان فلاح موندونکي دي کوم چې په خپلو لمونځونو باندې حفاظت کوي او په دوامداره توګه یې د حقوقو سره- سره ودروي او د قضا کولو څخه یې ځانونه ساتي.

اې پیغمبره! دغه وړاندې ښودلي شوي مؤمنان همدوی د درجاتو په تفاوت سره فلاح موندونکي دي او همدوی په وړیا توګه د الهي نعمتونو ګټونکي دي.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: همدوی هغه کسان دي کومو چې په وړیا توګه جنت الفردوس وګټه حال دا چې دوی به هلته همېشه وي، نه به پکښې مړه کېږي او نه به ترې راویستلی کېږي.

## توضیحات

۱ـ نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ» یعنې په ما باندې لس ایتونه نازل شوه هرڅوک چې دغه لس ایتونه ودروي (په عملي میدان کښې یې پیاده کړي) نو جنت ته به داخل شي. بیا نبي کریم ﷺ د ﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ په قرائت باندې پیل وکړ آن تردې چې لس ایتونه یې ختم کړه[۱].

۲ـ په ﴿ قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ کښې د ﴿ أَفْلَحَ ﴾ کلمه اصلاً د "فَلاح" ـلکه "شَرَاب"ـ څخه او بیا د "اِفلاح" څخه اشتقاقه شوې ده، "فَلاح" په مطلب باندې د کامیابۍ او بریالیتوب څخه عبارت ده او "اِفلاح" په کامیابۍ او بریالیتوب کښې د داخلېدلو معنی ورکوي[۲]؛ یعنې یقینًا هغه مؤمنان چې د راتلونکو صفاتو خاوندان وي په کامیابۍ او بریالیتوب کښې داخل شوي دي او مطلب ته رسېدلي دي، چې د جنت الفردوس وارثان دي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په ایتونو کښې خو الله ﷻ د کامیابانو دپاره شپږ صفات نازل کړي دي، نو پوښتنه دا ده چې: ایا هغه مؤمنان کامیاب ګڼلی کېږي کوم چې په شپږو واړو صفاتو باندې موصوف نه وي بلکې ځینې پکښې موجودیت ونه لري؟

مونږ وایو چې: اُخروي کامیابي په ذکرو شوو شپږو صفاتو پورې ارتباط لري، نو په چا کښې چې شپږ واړه په کامله توګه تحقق ولري د هغه کامیابي هم کامله ده او په چا کښې چې په ناقصه توګه موجود وي نو د هغه کامیابي هم د صفاتو د نقصان په اندازه ناقصه ده، حتی چې هغه ګنهګار مؤمن هم په یوه لحاظ کامیاب دی کوم چې د ګناه د کبله د دوزخ دوره تېره کړي او بیا جنت ته داخل شي.

## خشوع څه معنی؟

۴ـ په ﴿ فِي صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ﴾ کښې د ﴿ خَٰشِعُونَ ﴾ کلمه د "خُشوع" ـلکه "قُنُوت"ـ څخه اشتقاقه شوې ده. د "خُشوع" په مفهوم کښې دوه شیان شامل دي[۳]: یو د زړه خوف او ډار او بل د اندامونو سکون او ارامي. د همدې کبله عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿ خَٰشِعُونَ ﴾ کلمه په "خَائِفُونَ سَاكِنُونَ"[۴] باندې تفسیره کړې ده.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۰
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۲
(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۹۷
(۴) الدر المنثور ج۶ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې کامیابان هغه مؤمنان دي کوم چې په لمونځونو کښې د الله ﷻ څخه ډارېدونکي وي او د خپلو اندامونو ارام نیوونکي وي، چې په خپل ځان باندې جامې نه راغونډوي او بې ضرورته په خپل ځان باندې لاس ښکته پورته نه موښې.

د دې دپاره چې د ﴿ خَـٰشِعُونَ ﴾ کلمه ښه واضحه شي، هیله ده چې لاندې وضاحتونه ولولې:

الف: د خشوع څخه د هغو کارونو نه کول مطلب دي کوم چې د لمانځه سره مناسبت نه لري خو د دې سره-سره لمونځ ورباندې نه فاسدېږي، یوازې خشوع ورباندې زیانمنه ګرځي.

ب: د ایت شریف د نزول څخه وړاندې به نبي کریم ﷺ په لمانځه کښې اخوا دېخوا کتل مګر شاته به یې نه کتل ځکه چې لمونځ ورباندې فاسدېده، لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْتَفِتُ فِي صَلَاتِهِ يَمِينًا وَشِمَالًا وَلَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ»[١]
یعنې نبي کریم ﷺ وه چې په خپل لمانځه کښې به یې هاخوا دېخوا کتل او خپله غاړه به یې خپلې شاته نه تاووله (شاته به یې نه کتل چې مبارکه سینه یې د قبلې څخه تاوه شي).

ج: چې کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ د هاخوا دېخوا د کتلو څخه صرف نظر شو، لکه چې د عکرمه ﷺ د ملګرو څخه یو سړی وایي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْحَظُ فِي صَلَاتِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَلْوِيَ عُنُقَهُ»[٢] یعنې وه نبي کریم ﷺ چې په خپل لمانځه کښې به یې د سترګو په کنجونو باندې کتل بدون د دې چې خپل مبارکه غاړه هاخوا دېخوا تاوه کړي.

د: همدارنګه د ایت شریف د نزول څخه وړاندې به صحابه وو کرامو ﷺ «يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي الصَّلَاةِ»[٣] خپلې سترګې به یې په لمانځه کښې اسمان طرف ته پورته کولې. خو کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو هغوی خپلې سترګې د سجدې ځای ته راښکته کړې، چې نه به یې هاخوا دېخوا کتل او نه به یې اسمان ته سترګې پورته کولې.

ه: نو هغه لمونځ کوونکی چې خپل نظر ته د سجدې د ځای څخه تجاوز ورکړي او وړاندې یا هاخوا دېخوا وګوري نو خپله خشوع یې زیانمنه کړه[٤].

و: یوه ورځې بي بي عایشې (أم المؤمنین رضي الله عنها) په لمانځه کښې د هاخوا دېخوا کتلو په هکله پوښتنه وکړه چې د دې حکم څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ أَحَدِكُمْ»[٥] یعنې دا تښتول دي چې شیطان پرې ستاسو د یو لمونځ کوونکي د لمانځه څخه کمال تښتوي.

ز: که څوک غواړي چې د هغو افعالو ډېر مثالونه ولولي په کومو باندې چې د لمانځه خشوع

---

(١) سنن النسائي ج١ ص١٧٨
(٢) مسند احمد بن حنبل ج١ ص٥٩٠
(٣) تفسير ابن كثير ج٣ ص٢٣٨
(٤) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص٢٥٢
(٥) صحيح البخاري ج١ ص٤٦٥؛ سنن ابي داوُد ج١ ص١٣١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خرابېږي او فقهاء کرام یې د مکروهاتو په نامه یادوي نو ځینو اوږدو فقهي کتابونو[1] ته دې مراجعه وکړي چې ښه پوره شرحه یې ورکړې ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې د خشوع په مفهوم کښې دا شامل دی چې په لمانځه کښې باید سړی د الله ﷻ څخه ډارېدونکی وي، او پوره واضحه ده چې بدون د حضور څخه په زړه کښې ډار نه پاتې کېږي. په دې باندې علاوه، په لمانځه کښې بالاتفاق نیت شرط دی او د زړه د حضور څخه په غیر نیت تحقق نه شي موندلی او دا ځکه چې نیت خو د ارادې څخه عبارت دی او د ارادې سره د زړه حضور تړلی دی؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا د زړه حضور په لمانځه کښې شرط دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینې علماء کرام یې په شرطیت باندې حکم کوي چې د زړه د حضور څخه په غیر لمونځ هیڅ ارزښت نه لري او د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی[2] لکه چې یوه پښتون شاعر همدا مضمون په خپل یوه شعر کښې داسې ځای کړی دی[3]:

چې د زړه حضور یې نه وي په لمانځه کښې :: په کار نه دی مقتدي وي که امام

مګر صحیحه خبره دا ده چې په لمانځه کښې د زړه حضور په شروع او ختم کښې ضرور دی او په مابین کښې که څه هم حضور ونه لري داسې ګڼل کېږي لکه چې حضور لري، خو په دې شرط چې د لمونځ کوونکي څخه داسې عمل صادر نه شي چې د زړه د عدم حضور څخه نمایندګي وکړي[4] لکه خوراک او څښاک او یا د خلکو سره سوال جواب او داسې نور.

په مابین کښې ځکه د زړه حقیقي حضور ضرور نه دی او په حکمي حضور باندې اکتفاء کېږي چې دا کار د بنیادمانو د وسې څخه بهر دی او الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا ﴾ [البقرة:۲۸۶] یعنې الله ﷻ هیڅ نفس (هیڅوک) نه مکلف کوي مګر د هغه د وسې په اندازه.

## لغو څه معنی؟

۶_ په ﴿ هُمۡ عَنِ ٱللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ﴾ کښې د "لَغۡو" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۲۲۵] ایت لاندې معنی کړې ده چې د هغې خبرې څخه عبارت ده کومه چې څه ارزښت ونه لري او په ګټه او فائده باندې مشتمله نه وي (لکه چې یوه مرغۍ چنېږي) برابره خبره ده چې په ضرر باندې اشتمال ولري او که نه، په دې مقام کښې ورباندې لاندې حدیث وراضافه کوو:

نبي کریم فرمایلي دي چې: «مِنۡ حُسۡنِ إِسۡلَامِ الۡمَرۡءِ تَرۡكُهُ مَا لَا يَعۡنِيهِ»[5] یعنې د سړي د اسلام د حسن

(۱) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۱ ص۲۱۵
(۲) التفسیر الکبیر ج ص۷۷
(۳) د عبد الرحمن مومند دیوان
(۴) الفقه الاسلامي وادلته ج۱ ص۶۱۲؛ کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج۱ ص۲۱۳
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ښایست ځخه دا هم ده چې هغه شی پرېږدي کوم چې ورته مقصدي شی نه وي او د عبثیاتو ځخه شمېرل کېږي او د وخت د ضیاع ځخه په غیر نوره ګټه پکښې متصوره نه وي.

## دوه ډوله تفسیر

۷_ په ﴿ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَـٰعِلُونَ ﴾ کښې د "زکوة" کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو باندې تفسیره کړې ده[۱]:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: دلته د "زَكَوة" د کلمې ځخه تزکیه او د خپل ځان پاکول مطلب دي لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ [الشمس:۹] یعنې یقینًا هغه څوک په کامیابۍ کښې داخل شو چا چې خپل نفس د شرکیاتو او ګناهونو ځخه تزکیه او پاک کړ.

دوی وایي چې دلته زکات په خپله متعارفه معنی سره نه شي اراده کېدلی ځکه چې دا سورت مکي دی او په مکه معظمه کښې خو زکات نه دی فرض شوی بلکې په مدینه منوره کښې فرض شوی دی.

ب: اکثره علماء کرام وایي چې: د "زَكَوة" کلمه دلته په خپله متعارفه معنی سره ده چې د مالونو زکات دی او عبارت د مضاف په تقدیر سره دی چې په "لِأَدَاءِ الزَّكَوةِ فَاعِلُونَ"[۲] سره ترې تعبیر کولی شو، یعنې هغه مؤمنان کامیابان دي کوم چې د زکاتونو د اداء کولو (ورکولو) دپاره کوونکی وي.

دوی وایي چې که څه هم د زکات مقادیر او نصابونه په مدینه منوره کښې شرحه شوي دي مګر اصل فرضیت یې په مکه معظمه کښې تشریع شوی وه، د همدې کبله الله ﷻ د الأنعام په سورت کښې د عُشر فرضیت نازل کړی دی چې ﴿ وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ يَوْمَ حَصَادِهِۦ ﴾ [الأنعام:۱۴۱] یعنې او تاسو د ځمکې د حاصلاتو حق د رېبلو (لوکولو) په وخت کښې ورکړئ؛ حال دا چې دا سورت بالاتفاق مکي سورت دی.

## تبصره

۸_ مونږ ته لومړی معنی په دې مقام کښې بهتره برېښي خو په دې شرط چې تزکیه عامه واخستله شي ترڅو مالي تزکیې ته هم شامله شي، نو د یو پلوه به د مضاف د تقدیر ځخه ایت شریف بچ پاتې شي چې خلاف الاصل دی او د بله پلوه به پکښې دوهمه معنی هم شامله شي؛ یعنې هغه مؤمنان مفلحان دي چې هغوی خپل ځانونه د شرکیاتو ځخه په ایمان او د ګناهونو ځخه په توبې او بالآخره د حرص ځخه د مالونو په صدقاتو سره تزکیه کوونکي دي او د تزکیې د عمل اجراء کوونکی دي.

## فُرُوج څه معنی؟

۹_ په ﴿ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَـٰفِظُونَ ﴾ کښې د "فُرُوج" کلمه د "فَرْج" _لکه "ضَرْب"_ جمعه ده، "فَرْج"

---

(۱) اضواء البیان ج ص۷۵۸

(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۵: تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اصلاً د دوه شیانو ترمنځ چاود او درز ته وضعه شوی دی(۱) لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ [ق: ۶] یعنې مونږ اسمان پیدا کړی دی چې بې ستنو ولاړ دی او هیڅ چاودونه (درزونه) نه لري. د انسان (نارینه وي او که ښځینه وي) غلیظ عورت ته ځکه دغه نوم (فرج) ایښودل شوی دی چې هغه د دوه وو ورنونو ترمنځ موقعیت لري ته به وایې چې په یوه چاود کښې واقع دی، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ»(۲) یعنې هرڅوک چې ماته د هغه شي د ساتنې ضمانت وکړي کوم چې د ده د دواړو جاملو ترمنځ واقع دی چې د ژبې څخه عبارت دی، او هم راته د هغه شي د ساتنې ضمانت وکړي کوم چې د ده د دواړو پښو (ورنونو) ترمنځ موقعیت لري چې د غلیظ عورت څخه عبارت دي، نو زه به هغه ته د جنت ضمانت وکړم چې ورداخل به شي.

## سوال جواب

۱۰ ـ که څوک وایي چې پوره واضحه ده چې د تغلیب په توګه په ﴿ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴾ کښې زنانه مؤمنانې هم شاملې دي لکه چې د قرآن کریم په نورو ایتونو کښې شاملې ګڼلې کېږي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ﴿ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ ﴾ په بنیاد زنانه وو مؤمنانو ته جائزه ده چې د خپلو غلامانو مملوکانو څخه جنسي استفاده وکړي لکه څنګه چې نارینه وو مؤمنانو ته جواز لري چې د خپلو وینځو سره جنسي ارتباط ونیسي؟

مونږ وایو چې: د ﴿ عَلَىٰ ﴾ د توري څخه ښکاره کېږي چې د استثناء په مضمون کښې زنانه شاملې نه دي بلکې دغه مضمون یوازې په نارینه وو مؤمنانو پورې اختصاص لري، او دا ځکه چې نوموړی توری په هغه امساک پورې تعلق نیسي کوم ته چې د ﴿ حَافِظُونَ ﴾ کلمه متضمنه ده(۳)، او امساک د نارینه وو صفت دی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ ﴾ [البقرة: ۲۳۱] یعني کله چې تاسو خپلې منکوحې په رجعي طلاق سره طلاقې کړې او بیا هغوی دعدت نېټې ته ورنژدې شوې نو یا یې په نېکه طریقه سره را ایسارې کړئ (رجوع ورته وکړئ) او یا یې په نېکه طریقه سره خوشې کړئ (چې عدت یې تېر شي او ستاسو د نکاح څخه خارجې شي).

لنډه دا چې د کلام اول عام دی، زنانه وو او نارینه وو دواړو ته شامل دی، او د کلام آخر (استثناء) یوازې په نارینه وو پورې مختصه ده.

د ذکر شوي کلام نظیر وړاندې تېر شوی دی چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا فَلَمَّا تَغَشَّاهَا حَمَلَتْ ﴾ [الأعراف: ۱۸۹] یعني الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د یوه نفس څخه پیدا کړي یاست او د همدغه یوه نفس څخه یې د ده جوړه هم

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۹
(۳) البحر المحیط ج۷ ص۵۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې دپاره پیدا کړې ده چې میلان ورته وکړي او ورسره ارام شي، نو کله چې تاسو یوه کس (نارینه) خپله جوړه پټه کړه (جنسي ارتباط یې ورسره ونیوه) نو هغه په خفیف بار سره بارداره شوه.

نو دلته د کلام اوله برخه ټولو انسانانو ته شامله ده او دوهمه برخه یې یوازې په مېړه او ماندینې پورې اختصاص لري، لکه چې شرحه یې هملته تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېژي چې: مؤمنان نارینه او زنانه هغه کسان دي چې خپل عورتونه د محارمو څخه ساتي، مګر نارینه مؤمنان خپل عورتونه په خپلو منکوحاتو باندې او په خپلو مملوکاتو باندې نه ایساره وي بلکې د دغو دواړو ډولونو څخه په غیر په نورو ټولو باندې یې ایساره وي او د خپل کنټرول لاندې یې واقع کوي.

نو د ذکر شوي تشریح په لحاظ سره د ایت شریف څخه دغه لاندې حکمونه راوځي:

الف: هیڅ زنانه ته جائزه نه ده چې د خپل مملوک غلام څخه جنسي استفاده وکړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې قیصه ولولئ:

یو ځل د عمر الفاروق ﷺ په خلافت کښې یوې ښځې په خپل ځان باندې خپل غلام قادر کړی وه چې دا ډول استفاده زنانه وو ته هم جائزه ده لکه څنګه چې نارینه وو ته جائزه ده.

نو خلیفه ﷺ د صحابه وو کرامو ﷺ سره په دغې هکله مشوره وکړه، نو دوی ټولو مشوره ورکړه چې نوموړې ښځې قرآن کریم غلط تفسیر کړی دی، یا په بل عبارت: دوی اجماع وکړه چې زنانه وو ته دا ډول استفاده جائزه نه ده. نو خلیفه دغه ښځه مخاطبه کړه چې: «لا جَرَمَ وَاللهِ لَا أُحِلُّكِ لِحُرٍّ بَعْدَهُ أَبَدًا»[۱]

یعنې په الله ﷻ سوګند دی چې ضرور ستا سزا دا ده چې د همېشه دپاره به د دې څخه وروسته تا یوه اصیل سړي ته پرېنږدم چې ته ورسره نکاح وکړې.

اما حد یې ورباندې جاري نه کړ ځکه چې ایت شریف ته یې غلط تاویل ورکړی وه او د خپل ځان دپاره یې شبه په لاس کښې درلوده، او حدود خو په شبهاتو باندې بندېږي.

ب: په ﴿ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ ﴾ کښې د "مَا" توری د وینځو څخه عبارت دی او غلامانو ته شامل نه دی، د همدې کبله علماوو کرامو اجماع کړې ده چې هیڅ بادار ته جائزه نه ده چې د خپل غلام سره د لوط ﷺ د قوم شنیع عمل اجراء کړي[۲] او هرڅوک چې ورسره دا ډول عمل جائز وګڼي هغه کافر دی[۳].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه خو د زنانه وو مذکور محدود مقدار ته اشاره ده چې څلور منکوحې دي او غیر محصورې وینځې دي، نو پوښتنه دا ده چې په همدغه عبارت کښې د ﴿ وَرَآءَ ﴾ کلمه د څه شي څخه کنایي ده چې سړی ورباندې ملامت کړی

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۱۰۷
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۶
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوی او د شرعي چوکاټ څخه وتلی ګڼلی کېږي؟

مونږ وايو چې: علماوو کړامو د ﴿ وَرَآءَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د لاندې کارونو څخه کنايه اخستې ده(۱):

الف: متعه کول، چې تعریف او د رد وجوه يې د [النساء:۲۴] ايت لاندې تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ مونږ ورباندې نور بيان نه اضافه کوو، فقط همدومره ليکو چې په دې مقام کښې هم ورباندې ځينو مفسرينو کرامو پوره څېړنه کړې ده(۲) که څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

ب: د غير منکوحې او غير مملوکې زنانه سره جنسي ارتباط نيول.

ج: د نارينه وو سره او يا د زنانه وو سره هغه عمل اجراء کول په کوم باندې چې د لوط ؑ قوم عادت وه او هم يې ورباندې شهرت درلود.

د: د څارويو سره همدغه شنيع عمل اجراء کول.

هـ: بالآخره په خپل لاس باندې خپل ځان انزالول، او داسې نور.

## يادونه

۱۲ـ په ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَـٰنَـٰتِهِمْ ﴾ کښې مونږ د الله ﷻ په توفيق د "أَمَانَات" کلمه د [النساء:۵۸] ايت لاندې شرحه کړې ده چې ټولو حقوق الله او ټولو حقوق العباد ته شامله ده، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي، خو په دې مقام کښې ورباندې يوازې يو حديث وراضافه کوو چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ»(۳)

يعنې د منافق علامې درې دي (هغه دا) چې کله خبرې کوي نو دروغ وايي او چې کله وعده وکړي نو په هغې باندې وفاء نه کوي (بلکې خپله وعده ماتوي) او چې کله په کوم شي کښې امين وګرځولی شي نو خيانت کوي.

## سوال جواب

۱۳ـ که څوک وايي چې الله ﷻ د کاميابانو مؤمنانو په صفاتو کښې د لمانځه ذکر يو ځل په دوهم ايت کښې نازل کړی وه نو پوښتنه دا ده د چې: د څه حکمت په بنياد يې په ﴿ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾ کښې د لمانځه ذکر تکراراً نازل کړه؟

مونږ وايو چې: دلته تکرار نشته؛ په دوهم ايت کښې په لمانځه کښې خشوع ته اشاره شوې وه چې حفاظت ورباندې وکړی شي او دلته د خپله لمانځه حفاظت مطلب دی چې دوام ورباندې وکړی شي او د فوتولو څخه بچ وساتلی شي.

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۹
(۲) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۲۲؛ تفسير المظهري ج۶ ص۳۶۵
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې په لمانځه باندې دوام کول د کامیابانو یو صفت دی او خشوع کول یې پکښې بل صفت دی، چې جنت ته پرې سرې ورنژدې کېږي او د بدوکارونو مخه وربانديې نیوه کېږي.

عبد الله بن مسعود ؓ پوښتنه وکړه چې: ای د الله ﷻ پیغمبره! «أيُّ الأَعْمَالِ أقْرَبُ إلَى الْجَنَّةِ» د عملونو کوم یو جنت ته ډېر نژدې دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «الصَّلَاةُ عَلَى مَوَاقِيتِهَا»[1] یعنې په خپلو وختونو باندې برابر لمونځ ورته ډېرنژدې دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۴_ که څوک وايي چې: په څه وجه کامیابان مؤمنان د جنت وارثان وګرځولی شوه حال دا چې میراث خو دې ته وايي چې څوک مړ شي او خپلوانو ته یې څه پاتګه او مال پاتې شي؟

مونږ وایو چې: جنتیانو ته د وارثانو لقب د لاندې دوه وو وجو د کبله ورکړی شوی دی:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا مِنْكُمْ مِنْ أحَدٍ إلَّا لَهُ مَنْزِلَانِ مَنْزِلٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْزِلٌ فِي النَّارِ فَإِذَا مَاتَ فَدَخَلَ النَّارَ وَرِثَ أهْلُ الْجَنَّةِ مَنْزِلَهُ فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى ﴿ أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ﴾»[2] یعنې ستاسو یو نفر هم نه دی مګر هغه ته دوه کورونه دي چې یو کور یې په جنت کښې دی او بل کور یې په دوزخ کښې دی، نو کله چې مړ شي او دوزخ ته داخل شي نو جنتیان یې د جنت کور په میراث سره اخلي (همدوی ته ورکولی کېږي) همدغه مضمون ته په [المؤمنون: ۱۰] ایت شریف کښې اشاره شوې ده چې دغه ډله همدوی د جنت وارثان دي.

ب: په ﴿ هُمُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴾ کښې "وَارِثُونَ" کلمه د "إِرْث" یا "وِرَاثَة" څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [مریم: ۶] ایت لاندې لیکلي دي چې "إِرْث" یا "وِرَاثَة" هغه مال ته ویل کېږي چې سړي ته پرته د کوم عقد څخه په وړیا توګه لاس ته ورشي، او پوره واضحه ده چې هر جنتي د الله ﷻ د رحمت د کبله په وړیا توګه جنت ته داخلېږي لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «...وَلَا أنَا إلَّا أنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَةٍ»[3] یعنې هیچا ته به د هغه عمل د دوزخ څخه نجات ورنه کړي او نه به پرې جنت ته داخل شي او حتی زه به هم جنت ته د خپل عمل په عوض ورداخل نه شم مګر هله چې الله ﷻ مې په خپل رحمت سره پټ کړي.

## یادونه

۱۵_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الکهف: ۱۰۷] ایت لاندې د "فِرْدَوْس" کلمه ښه تحلیله کړې ده چې رومي کلمه ده، او هم مو د جنت الفردوس په باب ځینې احادیث رانقل کړي دي او بالآخره هلته مو په همدې اړه یوه سوال ته جواب هم ورکړی دی، نو هیله ده چې په هغه مقام باندې یو نظر واچولی شي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۶۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۲۳
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن سُلَـٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَـٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ
خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَـٰمًا فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَـٰمَ
لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَـٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَـٰلِقِينَ ﴿١٤﴾ ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ
لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۲] او یقینًا مونږ (د اصل په اعتبار سره) انسان (د خمکې) د خُلاصې د ختې څخه پیدا کړی دی
[۱۳] بیا مو (د فروعو په لحاظ سره) په محکم قرار ځای (رحم) کښې نطفه وګرځاوه.
[۱۴] بیا مو نطفه (همدلته) پرند وینه وګرځوله نو پرنډ وینه مو (همدلته) بوټۍ غوښه وګرځوله (جوړه کړه) نو (بیا) مو بوټۍ غوښه هډوکي وګرځوله (هډوکي مو پکښې پیدا کړه) نو هډوکي مو په غوښه باندې پټ کړه، بیا مو انسان په بل ډول پیدا ینبت سره پیدا (جوړ) کړ (چې روح مو پکښې پو کړ او سا مو پکښې واچوله چې ورباندې ژوندی شو).
نو الله ﷻ برکتناک دی چې د جوړوونکو بهتر جوړوونکی دی.
[۱۵] بیا (ای انسانانو!) یقینًا تاسو د ذکرو شوو مراحلو څخه وروسته (په دنیا کښې) هرومرو مړه کېدونکي یاست (چې ببرته به ټول فنا شئ).
[۱۶] بیا به یقینًا تاسو د قیامت په ورځ (د قبرونو څخه) راپورته کړی شئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو څخه د اشارې په توګه څرګندېده چې د مرګ څخه وروسته بیا راژوندي کېدل حق دي چې کامیابان به په جنت کښې همېشه وي او ناکامان به په دوزخ کښې همېشه وي؛ په دې ایتونو کښې د همدغه مطلب د اثبات دپاره دلایل نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! په خپل امت باندې د حشر او بعث بعد الموت د اثبات دپاره لاندې دلایل قرائت کړه:
۱ـ مونږ په یقیني توګه انسان د اصل (آدم ﷺ) په لحاظ سره د خمکې د خُلاصې څخه پیدا کړی دی چې د هر ډول خاورې برخه پکښې وه. یا په بل عبارت: مونږ د ټولې خمکې څخه لږ-لږ خاوره راغونډه کړه چې په سپینه، توره، زېړه، سره او هم پسته او کلکه باندې مشتمله وه، بیا مو همدغه خلاصه کړی شوې خاوره ختېه کړه او د آدم ﷺ کالبوت مو ترې جوړ کړ او په روح سره مو ژوندی کړ.
۲ـ همدارنګه مونږ انسان د زوزات او فروعو په لحاظ سره (چې د قیامت د ورځې پورې به جاري وي) د لاندې مراحلو په تېرولو سره پیدا کړی دی او پیدا کوو یې:
الف: مونږ د غذاء (خوراک او څښاک) په سلسله د خمکې خلاصه د انسان په بدن کښې په نطفه باندې بدلوو، بیا همدغې نطفې ته د زنانه وو په رحم کښې تقرر ورکوو، که نه نو زمونږ څخه پرته به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رحم کښې څوک نطفې ته ثبات او تقرر ورکولی شي؟
ب: بیا همدغه نطفه په پرنډ وینې باندې تبدیلوو، او خړمتی رنګ یې په سور رنګ باندې اړوو.
ج: د څه وخت په تېرېدلو سره همدغه پرنډ وینه یوې بوټی غوښې ته ور اړوو چې سوچه پسته غوښه یې ګرځوو چې هیڅ هډوکی پکښې موجودیت نه لري.
د: نو په همدغې بوټی غوښه کښې هډوکي پیدا کوو، د انسان اسکلټ پکښې خای په خای کوو او په غوښه باندې یې پټوو (پوستکی ورباندې ورخوروو).
ه: بیا پکښې روح پو کوو او ژوند ورکوو، برسېره په دې انساني صفتونه پکښې پیدا کوو او د نورو حیواناتو څخه یې ممتاز ګرځوو.

نو کله چې الله ﷻ د سپېرو خاورو څخه د ذکرو شوو مراحلو په تېرولو سره انسان جوړوي چې اشرف المخلوقات دی، نو الله ﷻ ډېر برکتناک دی او د هغو ټولو شرکیاتو څخه پاک او منزه دی په کومو باندې چې مشرکان معتقد دي.

۳ـ ای انسانانو! لکه څنګه چې وړاندې واضحه شوه چې الله ﷻ تاسو د خاورو څخه پیدا کړي یاست همدارنګه تاسو بېرته په همدغې ځمکه کښې منحل کېدونکي یاست، په تاسو کښې یو نفر هم داسې نشته چې په ځمکه کښې همېشه پاتې شي بلکې تاسو ټول مړکېدونکي یاست.

۴ـ خو په یقیني توګه به تاسو د قیامت په ورځ د همدغې ځمکې څخه یو ځل بیا راپورته کړی شئ، مګر د هغو مراحلو په تېرولو سره نه په کومو باندې چې په دنیا کښې پیدا کړی شوي وئ بلکې بدون د مراحلو څخه به په یو ځل، په یوه اواز، په اجتماعي توګه د قبرونو څخه راپورته کړی شئ او د الله ﷻ په حضور کښې به د حساب کتاب دپاره ودرولی شئ.

۵ـ نو ای انسانانو! تاسو ته یوه پوښتنه راجع کېږئ نو په کار دي چې په دقت سره ورته جواب ورکړئ هغه دا چې: ایا هغه اقدس ذات (چې یو ځل یې د خاورو څخه ټول انسانان پیدا کړه) د دوهم ځل دپاره قدرت نه لري چې بیا یې د ځمکې څخه راپورته کړي؟!

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن سُلَـٰلَةٍ ﴾ کښې د ﴿ سُلَـٰلَةٍ ﴾ کلمه د "سل" ـلکه "مد"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "سل" دېته ویل کېږي چې یو شی د بل شي څخه په نرمۍ سره راوویستلی شي[۱] لکه چې څوک د تېکي څخه توره راوباسي، مګر دغه وزن (فعالة) د هغه لږ شي څخه استازیتوب کوي کوم چې د بل شي څخه واخستلی شي، برابره خبره ده چې اخستلی شوی شی مقصودي وي لکه چې څوک ماسته مندانو کړي او کوچ (مسکه) ترې وباسي، او یا غیر مقصودي وي لکه څوک چې نوکان واخلي[۲].

په دې مقام کښې د ﴿ سُلَـٰلَةٍ ﴾ د کلمې څخه لومړی ډول اخستل مطلب دی چې تفصیل یې دا دی:

(۱) مفردات الراغب ص۲۴۳؛ القاموس المحیط ج۲ ص۱۶۰۱
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الْأَرْضِ فَجَاءَ مِنْهُمُ الْأَحْمَرُ وَالْأَبْيَضُ وَالْأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ وَالْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ»[1] يعنې يقيناً الله ﷻ آدم ﷺ د يو موټي خاورې څخه پيدا کړی دی چې د ټولې ځمکې څخه يې اخستې وه، نو د همدې کبله د آدم ﷺ زوزات د ځمکې د صفاتو په اندازه پيدا کېږي (د ټولې ځمکې خواص پکښې ځلېږي) نو ځينې يې سره، سپين او تور دي او ځينې په همدې منځکښې دي چې خړ، زېړ او نور رنګونه لري، همدارنګه ځينې بنيادمان نرم، ځينې خېره ځينې خبيث او ځينې پاکيزه دي؛ ځکه چې ځمکه هم مختلف رنګونه لري او هم پکښې پسته او کلکه او هم ښورچنه او حاصلناکه خاورې شته دي.

ب: د آدم ﷺ اولاده (زوزات) د نطفې څخه پيدا کېږي او نطفه د هغو خوراکونو او څښاکونو څخه د انسان په بدن کښې جوړېښت مومي کوم چې د ځمکې څخه اخستل کېږي.

يا په بل عبارت: د انسان ټول خوراک او څښاک (آن د حلالو غوښو په شمول) د ځمکې څخه نشئت کوي نو په حقيقت کښې نطفه د ځمکې خلاصه ده چې د انسان د پيدايښت دپاره د تخم مثال لري.

## د قرار او مکين معناوې

۲ـ په ﴿فِي قَرَارٍ مَكِينٍ﴾ کښې رحم په دوه وو صفتونو باندې موصوف شوی دی چې دواړه د الله ﷻ د کامل قدرت څخه نمايندګي کوي هغه دا چې:

الف: يو صفت ﴿قَرَارٍ﴾ دی چې د مستقر معنی ورکوي[2] يعنې الله ﷻ نطفې ته په رحم کښې استقرار ورکوي ترڅو ورباندې مختلفې مرحلې تېرې شي او انسان ترې جوړ شي.

ب: بل صفت ﴿مَكِينٍ﴾ دی چې د محکم او قوي معنی ورکوي[3] يعنې رحم داسې محکم او قوي ځای دی چې د نطفې د ساتنې توان لري، نه خوله ببرته کوي چې نطفه ضائع شي او نه د هغې د ثقيل ګرځېدلو په سبب کمزوری کېږي چې جنين تحمل نه کړی شي او بې وخته سقوط ورکړي چې خوله بيرته کړي، إلا ما شاء الله.

## يادونه

۳ـ په ﴿فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً﴾ کښې د "عَلَقَة" او "مُضْغَة" دواړه کلمې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الحج:۵] ايت لاندې پوره شرحه کړي دي چې بيا شرحه کولو ته يې اړتيا نه ګورو.

## د انسان د هډوکو ټوله شمېره

۴ـ په ﴿فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا﴾ کښې د "عِظَام" کلمه د "عَظْمْ" ـلکه "قَدْرْ"ـ جمعه ده چې د هډوکي معنی ورکوي، يا په بل عبارت: "عِظَام" د يوه حيوان د جسم هغو کلکو برخو ته ويل کېږي کومې چې

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۵
(۲) لسـان العرب ج۵ ص۸۵
(۳) البحر المحيط ج۷ ص۵۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غوښنه باندې پټې وي او په رحم کښې ترې اسکلېټ تشکيلېږي[۱].

ځينې مفسرين کرام ليکي چې: د انسان د هډوکو مجموعه په دوه سوه او اته څلوېښت (۲۴۸) هډوکو باندې مشتمله ده[۲] او عجيبه لا دا ده چې په همدغې شمېره باندې د "رحم" کلمه د اشارې په توګه دلالت کوي، څکه چې د ابجد په حساب کښې "ر" توری د دوه وو سوو او د "ح" توری د اتو او بالآخره د "م" توری د څلوېښتو دپاره وضعه شوی دی چې مجموعه يې (۲۴۸) کېږي.

## د "خلقا آخر" معنی

۵ـ په ﴿ ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَ ﴾ کښې د ﴿ خَلۡقًا ءَاخَرَ ﴾ کلمات مفسرينو کرامو په ډېرو ډولونو تفسير کړي دي[۳]. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: دا کلمات د روح پوکولو او ژوندي ګرځولو څخه عبارت دي، چې د دې څخه وړاندې محض يوه مجسمه جوړه شوې وه خو د روح په پوکولو باندې ترې انسان جوړ شو چې پنځه حواس ورکړی شو او د عقل خاوند (هوښيار) جوړ کړی شو.

ب: ذکر شوی کلمات هغو حالاتو ته اشاره ده کوم چې په انسان باندې د ولادت څخه نيولې آن د هرم (بوډاتوب) پورې تېرېږي، او د يوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته ورداخلېږي.

که څه هم ځينو مفسرينو کرامو لومړني تفسير ته ترجيح ورکړې ده[۴] مګر مونږ ته ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافي نه بريښي، نو بهتره ده چې د ذکر شوو کلماتو څخه "ما يطلق عليه خلق آخر" مراد کړی شي او دواړو ته شامل وګڼلی شي، نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: بيا مونږ انسان د ذکر شوي حالت څخه وباسو او روح پکښې اچوو او د مور د ګېډې څخه يې د يوه ماشوم په ډول راوباسو او د نورو مختلفو مراحلو سره يې مخامخ کوو.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې په ﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ﴾ کښې د ﴿ أَحۡسَنُ ﴾ کلمه د ﴿ ٱلۡخَٰلِقِينَ ﴾ کلمې ته مضافه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې: ايا د الله ﷻ څخه په غير بل څوک خلق کولی شي؟ ترڅو په الله ﷻ باندې د ﴿ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ﴾ اطلاق صحت مونده کړي، لکه څنګه چې رحم کول په الله ﷻ پورې اختصاص نه لري نو په الله ﷻ باندې د "أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ" اطلاق صحت موندلی دی؟

مونږ وايو چې: د "خَلۡق" کلمه لاندې دوه معناوې لري[۵]:

الف: د نشت څخه د يو شي شته کول او د عدم څخه موجوديت ورکول؛ دا په الله ﷻ پورې اختصاص لري او هيڅوک نه شي کولی چې يو شي ته وجود ورکړي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۲ ص۴۱۰
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۱۴
(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۳۰۴؛ التفسير الکبير ج۲۳ ص۸۵؛ تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۰۹
(۴) تفسير الطبري ج۱۸ ص۱۱
(۵) مفردات الراغب ص۱۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د يوه شي څخه بل شی جوړول، لکه چې د لرګيو څخه کټ جوړ شي او يا د شودو څخه ماستهٔ تيار کړی شي؛ په دې معنی سره انتساب يې په الله ﷻ پورې اختصاص نه لري بلکې په همدې لحاظ سره يې بندګانو ته هم نسبت کېدلی شي لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ بِإِذْنِى ﴾ [المائدة: ۱۱۰] يعنې: او ای عيسی! هغه درېه ياد کړه چې تا به زما په اجازه د خټو څخه د مرغۍ جوڅه جوړوله.

په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده[۱] او دا ځکه چې خبره په دې کښې راروانه ده چې د نطفې څخه انسان جوړېږي، يعنې الله ﷻ د جوړولو د حيثه د ټولو جوړوونکو څخه بهتر جوړوونکي دي چې د نطفې څخه په څو مراحلو کښې انسان جوړوي، حال دا چې دغه کار د ده ﷻ څخه په غير د هيچا د لاسه پوره نه دی.

## يادونه

۷_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۹۳] ايت لاندې ښه اوږده قيصه ليکلې ده چې د ﴿ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحْسَنُ ٱلْخَـٰلِقِينَ ﴾ د جملې نزول د عبدالله بن سعد بن أبي السرح د ارتداد سبب ګرځېدلی وه، چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې سوالونه او جوابونه وراضافه کوو:

الف: که څوک وايي چې: عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما په يوه اوږده حديث کښې وايي چې: «فَأَزَلَّهُ الشَّيْطَانُ فَلَحِقَ بِالْكُفَّارِ»[۲] يعنې شيطان نوموړی ابن ابي السرح وښوياوه نو په کفارو (مشرکانو) پورې پيوسته شو، يا په بل عبارت: د مسلمانانو د ټولګي څخه وتښتېد او د کفارو په ټولګي کښې شامل شو. حال دا چې وړاندې په سريزه کښې واضحه شوې ده چې دا سورت د هجرت د څخه مخکښې نازل شوی دی چې د مسلمانانو ټولګي د کفارو د ټولګي څخه په هجرت سره نه وه جدا شوي او ټول سره خلط ملط په مکه معظمه کښې اوسېدل.

مونږ وايو چې[۳]:

اول: کومه ليکنه چې د نوموړي د ارتداد سبب ګرځېدلي وه هغه د نزول د وخت ليکنه نه وه چې اعتراض وارد شي، بلکې دا تکراري ليکنه وه چې په مدينه منوره کښې يې صورت نيولی وه، چې د دې څخه وړاندې ورباندې نوموړی خبر نه وه.

دوهم: که څه هم سورت مکي دی مګر همدغه يو ايت پکښې مدني دی چې په مدينه منوره کښې نازل شوی دی.

ب: که څوک وايي چې: الله ﷻ د قرآن کريم په اعجاز کښې فرمايي چې: ﴿ فَلْيَأْتُوا۟ بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۲۶
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۴۳
(۳) روح المعاني ج۱۸ ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿إِن كَانُوا صَادِقِينَ﴾ [الطور:۳۴] يعني كه مشركان رښتيا ويونكي وي چې قرآن كريم دروغجن
كتاب دى نو دوى دې د همدې قرآن كريم د خبرو غوندې يوه خبره راوړي (جوړه كړي)؛ نو پوښتنه دا
ده چې د ذكرې شوې قيصې د واقعيت په صورت كښې خو نوموړى ابن ابي السرح وتوانېد چې د
قرآن كريم د جملاتو غوندې يوه جمله يې جوړه كړي؟

په دې باندې علاوه په ځينو رواياتو كښې شته چې عمر (امير المؤمنين ﷺ) او معاذ بن جبل ﷺ
هم د نزول څخه وړاندې په "فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ" باندې تلفظ كړى وه چې بيا وروسته
همدغسې نازل شو او د دواړو كلام د الله ﷻ د كلام سره موافق وګرځېد[1].

مونږ وايو چې: د ذكر شوي سوال دپاره مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۲۳] ايت لاندې يو
جواب ليكلى دى چې د قرآن كريم غوندې په يوه خبره باندې هم څوک قدرت نه لري خو محض د
تلفظ په لحاظ نه بلكې د ټولو كيفياتو په ملحوظ. او پوره واضحه ده چې د ټولو كيفياتو په ملحوظ
ورسره پكښې هيڅوک سيالي نه شي كولى.

په همدې جواب باندې په دې مقام كښې د ﴿فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ د "ف" تورى دلالت
كوي او دا ځكه چې دغه تورى دلته د تفريع دپاره دى چې د انسان د پيدايښت ذكر شوي ټول مراحل
پكښې ملحوظ دي، او پوره څرګنده ده چې د مراحلو په لحاظ سره وړاندې د الله ﷻ څخه په غير
هېچا تلفظ نه شو كولى او نه به يې وړاندې وكړى شي او دا ځكه چې په دغو مراحلو باندې نه
څوک دقيق علم لري او نه پكښې څوک د تصرف او لاس وهنې توان لري. د همدې كبله ذكرو شوو
صحابه وو كرامو هم وړاندې په هغه وخت كښې تلفظ وكړ كله چې الله ﷻ مراحلو ته اشاره وكړه.

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلْخَلْقِ غَٰفِلِينَ ﴿١٧﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّٰهُ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴿١٨﴾ فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِۦ
جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ لَّكُمْ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ
سَيْنَآءَ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْءَاكِلِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى
بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى ٱلْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾﴾

[۱۷] او بې شكه مونږ ستاسو دپاسه اوه لاندې باندې (اسمانونه) پيدا كړي دي، او مونږ د
(خپلو) مخلوقاتو څخه ناخبره نه ياستو (كه نه نو په دومره دوامداره توګه به ولاړ نه وى پاتې شوي).
[۱۸] او مونږ (ستاسو دپاره) د اسمانه (دپاسه) په (ټاكلې) اندازې سره اوبه نازلوو، نو (دغو) اوبو

[1] الدر المنثور ج۶ ص۹۴؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ته په ځمکه کښې ځای ورکوو (او د زخېرې په توګه یې پکښې ساتو). او یقینًا مونږ (د اوبو د زخېره کولو څخه وروسته هم) د هغو په بېولو (د منځه په وړلو) باندې قدرت درلودونکي یاستو.

[۱۹] نو مونږ په (دغو) اوبو سره ستاسو دپاره (د ځمکې څخه) باغونو ته نشئت ورکوو، چې (ځینې باغونه) د کجورو او انګورو (د باغونو) څخه عبارت دي. په (دغو) باغونو کښې ستاسو دپاره (علاوه په کجورو او انګورو باندې) ډېرې (نورې) میوې شته دي، او د (همدغو) باغونو څخه تاسو خوراک کوئ (او هم ترې د میوجاتو په خرڅلاو سره خپلې اړتیاوې پوره کوئ).

[۲۰] او (همدارنګه مونږ په دغو اوبو سره) داسې ونې ته هم (نشئت ورکوو) چې د سیناء د غره څخه راوځي (یا په بل عبارت: چې) د غوړو او د خوړونکو دپاره د لنګولې (کتنغ) سره (ترې) راټوکېږي (زرغونېږي).

[۲۱] او یقینًا ستاسو دپاره په څارویو کښې (هم لوی د) عبرت (درس) دی، چې مونږ تاسو د هغو (شودو) څخه څښوو کوم چې د هغو په ګېډو (داخل) کښې دي او ستاسو دپاره په څارویو کښې زښتې ډېرې ګټې (پرتې) دي، او د همدغو (څارویو) څخه (لا) تاسو ځینې خورئ (غوښې یې درته حلالې ګرځولې شوې دي).

[۲۲] او (په دې باندې علاوه) تاسو په (ځینو) څارویو باندې (په وچه کښې)، او هم په بېړیو باندې (په دریابونو کښې) سورول کېږئ (ستاسو د سورلۍ دپاره ښه مساعد پیدا کړې شوي دي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کېښې د انسان د خلقت (پیدایښت) د مراحلو بیان نازل شوی وه او په دې ایتونو کښې یې په دنیا کښې د بقاء (ژوند) وجوهو ته اشاره شوې ده.

۲ـ هلته الله ﷻ د خپل کامل قدرت ځمکني مثالونه ښودلي وه او دلته یې اسماني مثالونو ته اشاره کړې (

۳ـ هلته د الله ﷻ د توحید دپاره د انفسي دلایلو ذکر وه او دلته یې افاقي دلایل ذکر دي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو د انسان د ژوند په وجوهو باندې لږ څه رڼا واچوه او په خپل امت باندې د توحید قدرتي افاقي دلایل قرائت کړه چې:

۱ـ ای انسانانو! لکه څنګه چې مونږ تاسو په خپل کامل قدرت سره پیدا کړي یاست همدارنګه مو ستاسو د ژوند او بقاء وسائل هم پیدا کړي دي هغه دا:

الف: مونږ ستاسو د سرونو د پاسه اوه اسمانونه پیدا کړي دي او په لمر او سپوږمۍ باندې علاوه بې شمېره ستوري مو پکښې ځای په ځای کړي دي چې هر یوه ته مو خط السیر (مدار) ټاکلی دی. یا په بل عبارت: اسمانونه ټول لارې لارې دي او د هر یوه ستوري لاره پکښې متعینه ده، که نه نو په ټکرونو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره به ټول را دوړېدلي وي، چې دغه ټول اسماني مخلوقات ستاسو د ژوند او بقاء وسائل دي.

ب: همدارنګه مونږ د ځمکې د طرفه نه بلکې د اسمان د طرفه ستاسو د سرونو دپاسه د ځاځکو په شکل اوبه نازلوو، که بالفرض مونږ ذکرې شوې اوبه د ناوې او نهر په ډول نازلې کړې وی نو ستاسو د ژوند ټول نظام به یې ګډوډ کړی وی.

ج: ذکرې شوې اوبه په مقدار او یوې ټاکلې اندازې سره په تاسو باندې وروو، نه دومره زیاتې چې تاسو ترې متضرر شئ او نه دومره لږې چې ستاسو احتیاجات پوره نه کړي.

د: دغه اوبه (باران) برسېره په دې چې مستقیماً ستاسو په درد خوري چې للمي ځمکېورباندې خړوبېږي او بیدیاوې او اورشوګانې ورباندې شنې کېږي، تاسو ته یې د ځمکې په ګېډه کنبې د زخېرې په حیث باندې ساتو هم چې د ضرورت په وخت کنبې ترې تاسو د کارېزونو، ټیوبلونو او بالآخره د ډنډونو او چینو په شکل کنبې استفاده کوئ.

ه: حتی ځینې باراني اوبه مونږ ستاسو دپاره د پوډرو (واورې) په څېره کنبې د غرونو په سرونو باندې زخېره کوو چې د ګرم موسم په وخت کنبې ورو-ورو راویلي شي او تاسو ته ترې رودي اوبه په وچو خوړونو کنبې دروبهېږي.

مونږ ستاسو د ژوند او بقاء دپاره دا ټول کارونه کوو، که نه نو مونږ په دې قدرت لرو چې باراني اوبه د ورېدلو څخه وروسته د منځه یوسو چې نه یې په ځمکه کنبې زخیره کړو او نه یې درته د غرونو په سرونو باندې وساتو؛ او همدارنګه مونږ د اوبو زخیرې هم د منځه وړلی شو.

۲ـ په دغو اسماني اوبو (باران) سره مونږ ستاسو دپاره لاندې نعمتونه در روزي کوو:

الف: په همدغو اوبو باندې ستاسو دپاره د کجورو او انګورو باغونه زرغونوو چې تاسو ته پکنبې غذائیت او تلذذ دواړه شته دی.

ب: په دغو اوبو باندې ستاسو دپاره داسې باغونه هم رازرغونوو چې د ډېرو میوجاتو څخه یې تاسو د غذائیت په توګه نه بلکې د تلذذ او مزه اخستلو په توګه استفاده کوئ.

ج: او همدارنګه تاسو د هغو ځینو شیانو څخه خورئ او خپل ژوند ته ورباندې ادامه ورکوئ کوم چې په همدغو اوبو باندې رازرغونېږي.

د: بالآخره په ذکرو شوو اسماني اوبو باندې مونږ ستاسو دپاره د بنون ونه هم رازرغونوو چې په هره یوه ځمکه (خاوره) کنبې زرغونېدلی شي مګر د طور سیناء په غره کنبې په کثرت سره موندله کېږي او هلته زرغونېږي. په دغې ونه کنبې ستاسو دپاره زښتې ډېرې ګټې نغښتې دي د مثال په توګه:

دغه (د بنون ونه) ستاسو دپاره د خپله ځانه سره تیل (غوړ) راوباسي چې تاسو ترې د تداوی استفاده کوئ، او هم د همدغو تېلو څخه د لنګولي کار اخلئ چې ډوډۍ خوړونکي خلک ورسره وچه ډوډۍ خوري او بنه په مزه باندې یې ورسره تېروي.

۳ـ برسېره په دې ستاسو د بقاء او ژوند دپاره مونږ څاروي پیدا کړي دي چې د ځینو څخه یوازې د سورلۍ کار اخلئ او په ځینو باندې هم سورېږئ او هم یې شوده خورئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


لنډه دا چې ستاسو دپاره په څارویو کښې د عبرت دپاره زښت ډېر درسونه نغښتي دي لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د همدغو څارويو د ګېډو (خېټو) څخه تاسو ته مونږ ښه صاف او خوندور شوده درڅښکوو، حال دا چې د څارويو په داخل کښې هم وينه شته او هم پکښې متيازې او خوشايي قرار لري، خو په شودو کښې نه د وينې نښانې څرګندېږي او نه پکښې د متيازو او خوشايو اثار ليدلی کېږي.

ب: په دغو څارويو کښې ستاسو دپاره زښتې ډېرې نورې ګټې مرموزې دي چې د وړيو او وچغنو څخه يې ډول ډول فرشونه او لباسونه جوړوئ او هم يې پوستکي په مختلفو ډولونو سره د استفادې لاندې نيسئ.

ج: بلکې د دغو څارويو څخه لا ځينې هغه څاروي او ساکښان دي چې تاسو يې غوښې هم خورئ.

د: د دغو څارويو څخه ځينې هغه دي چې تاسو وربانديې د الله ﷻ د پلوه سوړول کېږئ. يا په بل عبارت: الله ﷻ ځينې څاروي داسې پيدا کړي دي چې هم پکښې ستاسو د سورلۍ او ستاسو د بارونو د انتقال توان شته او هم يې ساختمان داسې جوړ کړی شوی دی چې تاسو ترې د سورلۍ يا بارولو کار واخستلی شئ.

۴ـ بالآخره د الله ﷻ د پلوه لکه چې تاسو په څارويو باندې سوَرول کېږئ همدارنګه ستاسو د بقاء او ژوند دپاره يې اوبه داسې پيدا کړي دي چې د بېړيو د چلښت استعداد پکښې شته، ترڅو تاسو د يوې قارې (وچې) څخه د ځمکې بلې قارې (وچې) ته تګ راتګ وکړی شئ؛ که په اوبو او دريابونو کښې الله ﷻ دغه استعداد نه وی ايښی نو هيڅکله به پکښې بېړۍ نه وی چلېدلې بلکې د خپل ثقل په سبب به پکښې ډوبې شوې وی.

## توضيحات

۱ـ په دې کښې ټول مفسرين کرام متفق دي چې په ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴾ کښې د ﴿ سَبْعَ طَرَآئِقَ ﴾ څخه اوه اسمانونه مطلب دي لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې ﴿ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ ﴾ [البقرة:۲۹] يعنې بيا الله ﷻ د اسمان پيدا کولو ته قصد وکړه نو اوه اسمانونه يې برابر (پيدا) کړه.

خو په دې مقام کښې د اسمانونو څخه د ﴿ طَرَآئِقَ ﴾ په کلمه باندې د لاندې وجوهو د کبله تعبير شوی دی:

الف: د ﴿ طَرَآئِقَ ﴾ کلمه د "طريقة" جمعه ده چې د ډېرو معناوو په ضمن کښې يې يوه معنی هغه خط (کرښه) ده کوم چې په يوه شي کښې غزولی (راکش) شوی وی[۱]. نو حاصل يې داسې راځېږي چې: مونږ ستاسو دپاسه داسې اوه اسمانونه پيدا کړي دي چې خطونه پکښې کش کړی شوي دي (لارې پکښې جوړې کړی شوي وي) چې پربنتې پکښې ګرځي راګرځي او ستوري هم پکښې په

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۲۲۱؛ روح المعاني ج۱۸ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلو مدارونو باندې څرخېږي او یو د بل سره نه ټکر کېږي.

ب: د ﴿ طَرَآئِقَ ﴾ کلمه د "طبقات" معنی ورکوي(۱) یعنې مونږ ستاسو دپاسه اوه اسمانونه پیدا کړي دي چې ځینې په ځینو نورو باندې منطبق دي او اوه طبقې یې تشکیلې کړې دي. په بل ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَلَمْ تَرَوْاْ كَيْفَ خَلَقَ ٱللَّهُ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ﴾ [نوح:۱۵] یعنې ایا تاسو نه ګورئ چې الله ﷻ اوه اسمانونه څنګه لاندې باندې پیدا کړي.

## طُورِ سَيْنَاء څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَآءَ ﴾ کښې په اتفاق سره د "شَجَرَةً" څخه د زیتون ونه مطلب ده(۲)، او د "طُورِ" کلمه د غره معنی ورکوي(۳) اما د ﴿ سَيْنَآءَ ﴾ د کلمې دپاره چې په [التين:۲] ایت کښې ﴿ سِينِينَ ﴾ نازله شوې ده، علماء کرامو متعددې معناوې کړې دي(۴) لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ذکره شوې کلمه د مبارک او حسن (ښایسته) معنی ورکوي.

ب: دا د هغه غره دپاره وضعه شوې ده کوم چې په میوه لرونکو ونو باندې مشتمل وي.

ج: دا د یوه خاص ځای نوم دی، کوم چې په شام کښې واقع دی.

مونږ ته په دې مقام کښې درېمه معنی په زړه پورې برېښي چې د ﴿ طُورِ سَيْنَآءَ ﴾ د اضافې ترکیب سره ډېر ښه پیوند اخلي، نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې مونږ ستاسو دپاره هغه ونه هم پیدا کړې ده کومه چې د زیتون میوه (دانې) نیسي او د سیناء په غره کښې راټوکېږي، په کوم کښې چې موسی ﵇ د خپل رب ﷻ سره مناجات کړی وه(۵).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې ذکره شوې ونه خو د دنیا په ډېرو برخو کښې په کثرت سره موندله کېږي نو پوښتنه دا ده چې په څه ملحوظ ورته د سیناء په غره پورې اختصاص ورکړی شو؟

مونږ وایو چې د ځینو علماوو کرامو په نزد(۶) د زیتون ونه اولنۍ ونه ده چې په همدغه غره کښې راټوکېدلې ده، او همدارنګه دا اولنۍ ونه ده چې د نوح ﵇ د طوفان څخه وروسته د ځمکې په مخ باندې رازرغونه شوې ده او بیا د دنیا په هر ګوټ کښې خوره شوې ده، والله ﷻ أعلم.

په هر تقدیر، د زیتون ونه ډېر عمري ونه ده حتی چې تر درې زره (۳۰۰۰) کلونو پورې دوام کولی شي(۷).

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۳؛ تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۲
(۲) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۵
(۳) لسان العرب ج۴ ص۵۰۸
(۴) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۰۶
(۵) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۴
(۶) تفسیر المظهري ج۶ ص۳۷۵
(۷) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ماثور تفسیر

۴_نبي کریم ﷺ دغه ایت شریف ﴿ تَنۢبُتُ بِٱلدُّهۡنِ وَصِبۡغٖ لِّلۡأٓكِلِينَ ﴾ ته اشاره کړې ده او فرمايلي دي چې: «كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ»[۱] يعنې د زيتونو تېل خورئ (د لنګوټي کار ترې اخلئ) او هم وربانديې ويښتان او نورو اندامونه غوړوئ ځکه چې يقيناً دا تيل د برکتناکې ونې څخه دي؛ ته به وايې چې د ﴿ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ ﴾ [النور:۳۵] ايت ته يې اشاره کړې ده.

### يادونه

۵_ د ﴿ وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗ ﴾ الآية، پورې اړونده ځينې ګټور بحثونه د الله ﷻ په توفيق د [النحل:۶۶] ايت لاندې ليکلي شوي دي چې بيا ليکل يې د اوږدوالي څخه په غير بل اثر نه لري.

﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ ٱلۡمَلَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيۡكُمۡ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ مَّا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلُۢ بِهِۦ جِنَّةٞ فَتَرَبَّصُواْ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ أَنِ ٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسۡلُكۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡۖ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا ٱسۡتَوَيۡتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلۡفُلۡكِ فَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُل رَّبِّ أَنزِلۡنِي مُنزَلٗا مُّبَارَكٗا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡمُنزِلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ وَإِن كُنَّا لَمُبۡتَلِينَ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۳] او يقيناً مونږ نوح ﷺ خپل قوم ته (د پيغمبر په صفت) استولی وه، نو ده ﷺ ووېلي چې: ای زما قومه! تاسو (صرف او يوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ (او دا ځکه چې) تاسو ته د همده ﷻ څخه په غير (بل په حقه) معبود نشته. ايا نو تاسو (د الله ﷻ د عذاب څخه خپل ځانونه) نه ساتئ (او د همده ﷻ څخه نه ډارېږئ).

[۲۴] نو (د نوح ﷺ په جواب کښې) د ده ﷺ د قوم څخه هغو مشرانو ووېلي کومو چې کفر غوره

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته وه چې: دغه نوح ﷺ نه دی مګر ستاسو غوندې یو بنیادم دی (او) غواړي چې په تاسو باندې خپل) ځان ته بهتري ورکړي (او خپل ریاست دربانديې قائم کړي)، او (دا ځکه) که (بالفرض) الله ﷻ اراده کړې وی (چې مونږ ته د خپله جانبه څه پیغام راولېږي) نو هرومرو به یې پرښتې رانازلې کړې وی، (په دې باندې علاوه) مونږ دغه خبره (چې بنیادم دې پیغمبر شي) په خپلو پخوانیو پلرونو کښې نه ده اوریدلې (نو ځکه ورباندې باور نشو کولی).

[۲۵] (نو) نوح ﷺ نه دی مګر یو سړی دی چې لیونتوب ورپورې (تعلق نیولی) دی، نو تاسو ورته تر څه وخته پورې انتظار وباسئ (یا به په سد شي، یا به د منځه لاړ شي او بالآخره یا به یې د منځه یوسو).

[۲۶] نوح ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! زما سره نصرت وکړې په سبب د دې چې دوی (زما قوم) زه دروغژن وګڼلم.

[۲۷] نو مونږ نوح ﷺ ته وحې وکړه چې (د دغه قوم د هلاکت په منظور) زمونږ په حفاظتونو او زمونږ په وحې سره بیړۍ جوړه کړه (او هدایت ته منتظر اوسه).

نو کله چې زمونږ امر راشي او (د اوبو د حیثه) تنور راوخوټېږي، نو ته پکښې د هرې نوعې (حیواناتو) څخه یوه جوړه دوه فرده (نر او ښځه) ورداخل کړه او (هم پکښې) خپل اهل (خپل مسلمانان امتیان ورننباسه)، مګر هغه څوک (پکښې مه داخله وه) په کوم باندې چې د دوی د جملې څخه (د عذاب) خبره وړاندې (فیصله) شوې ده (چې هغه به غرقېږي).

او (همدارنګه) زما سره د هغو کسانو په هکله مخاطبه (خبرې) مه کوه کومو چې (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کړی دی (او کفر یې اختیار کړی دی)، ځکه چې) یقیناً همدوی غرق کړی شوي دي.

[۲۸] نو کله چې ته په بېړۍ باندې برابر شوې (یا په بل عبارت: کله چې) ته او هغه څوک (بېړۍ ته وختلي) کوم چې ستا سره (ملګري) دي، نو ووایه چې: هغه الله ﷻ ته ستاینه ده چې مونږ ته یې د ظالم قوم څخه نجات راکړ.

[۲۹] او (هم) ووایه چې: ای زما ربه! ما (د خپلو ملګرو سره) په برکتناک منزل (مینه) کښې ښکته کړه او ته د ښکته کوونکو (او کوزوونکو) بهتر ښکته کوونکی (او کوزوونکی) یې.

[۳۰] (ای پیغمبره!) یقیناً په دغه (مذکور بیان) کښې (د قدرت) ډېر دلایل دي او یقیناً چې مونږ (په دنیا کښې) امتحان کوونکي یاستو.

## ارتباطات

۱- وړاندېني ایتونه د بېړۍ په ذکر باندې انجام شوي وه او دا ایتونه د هغه پیغمبر (نوح ﷺ) په ذکر باندې پیل کېږي کوم چې د لومړي ځل دپاره یې بېړۍ جوړه کړې وه.

۲- هلته د باران د نزول په هکله د "قدر" کلمه نازله شوې وه او دلته همدغه کلمه د یوې قیصې په ضمن کښې ښه پوره شرحه شوې ده.

۳- بالآخره هلته د توحید دلایلو ته اشاره شوې وه او دلته د هغو خلکو عاقبت ته اشاره کېږي کومو چې د الهي توحید څخه اعراض کړی وه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د توحید د دلایلو څخه وروسته اوس د خپلې زمانې کفارو ته د هغو خلکو حالات بیان کړه کومو چې د نوح ﷺ په زمانه کښې د توحید څخه اعراض کړی وه، ترڅو د قیامت د ورځې پورې د تېرو اعراض کوونکو دپاره د عبرت درس وګرځي. هغه دا چې:

۱ـ مونږ نوح ﷺ د خپل قوم دپاره د پیغمبر په صفت ورلېږلی وه ترڅو د هغوی د شرکیاتو مخه ونیسي او توحید ته یې راواړوي، نو خکه یې مخاطب کړه چې:

الف: ای زما قومیانو! تاسو د شرکیاتو څخه لاس واخلئ او صرف یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او هیڅ ډول شریک ورسره مه دروئ او دا خکه چې:

ب: تاسو ته د همده ﷻ څخه په غیر هیڅ په حقه معبود نشته، یا په بل عبارت: د همده ﷻ د عبادت څخه په غیر نور ټول عبادتونه باطل او ضائع دي.

ج: ایا نو تاسو د دغو دلایلو د اورېدلو سره-سره د شرکیاتو څخه اجتناب او پرهېزګاري نه کوئ؟ او د خپل حق معبود (الله ﷻ) څخه نه ډارېږئ؟

۲ـ نو د نوح ﷺ د دعوت په مقابل کښې د وخت کفارو او مشرکانو په لاندې ډول غبرګون وښود:

الف: هغو کفارو ذکر شوی دعوت رد کړ کوم چې د قوم مشران او مخور کسان وه او کومو چې د ټول قوم په استازیتوب خبرې کولې او بالآخره کومو چې په خپل قوم کښې اعتبار درلود او په دراندہ نظر ورته کتل کېده، داسې چې:

ب: ای قومیانو! پام کوئ چې د دغه سړي (نوح ﷺ) دعوت قبول نه کړئ، دغه په دروغو باندې خپل ځان د پیغمبر په صفت تراشلی دی او غواړي چې تاسو هم د خپل ځان غوندې په باطله لاره روان کړي، او دا خکه چې:

ج: نوموړی خو بل څوک نه دی بلکې ستاسو غوندې یو انسان دی نو دا څه معنی لري چې نوموړی دې پیغمبر وي او تاسو دې پیغمبران نه یاست.

د: د نوموړي مطلب دا دی چې خپل ځان ته په تاسو باندې فضل او بهتري درکړي او په تاسو باندې خپله مشري قبوله کړي.

ه: که بالفرض الله ﷻ زمونږ په بوتانو (معبودانو) باندې راضي نه وی او غوښتلي یې وی چې مونږ د دغو د عبادت څخه منعه کړي نو ضرور به یې مونږ ته یوه پرښته نه بلکې ډېرې پرښتې را استولې وی چې دا کار مه کوئ، د الله ﷻ په نزد خو پرښتې څه کمې نه دي.

و: په دې باندې علاوه کومې خبرې ته چې نوموړی دعوت چلوي هغه خبره مونږ په پخوانیو پلرونو کښې نه ده اورېدلې، یا په بل عبارت: زمونږ نیکونه او غورنیکونه ټول بوت پرستان تېر شوي دي، ایا مونږ د هغوی پیروي ونه کړو او په عبادت کښې په توحید باندې معتقد او قائل شو؟!

ز: د ذکر شوو دلایلو په بنیاد نوموړی سړی (نوح ﷺ) نه دی مګر یو سړی دی چې د لیونتوب د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اثر لاندې واقع شوی دی، او هرڅوک چې په دغسې خطري مرض باندې اخته وي د هغه څخه خان ساتنه په کار ده او دعوت ته يې غوږ اېښودل په ضرر او ګمراهۍ تماميږي.

ج: نو ای قومیانو! تاسو نوموړي لیوني ته تر څه وخته پورې انتظار وباسئ او خپلې حوصلې ورته مضبوطې کړئ، ترڅو چې نوموړی لیونی یا په خود شي او د دعوت څخه لاس واخلي، یا مړ شي او بالکل يې د دعوت سلسله ختمه شي او یا به يې مونږ د منځه یوسو.

۳_ د نهه نیم سوه کاله دعوت څخه وروسته مونږ نوح ﷺ ته وحې وکړه چې په راتلونکي کښې ستا د قوم څخه هیڅوک په ایمان باندې نه مشرف کېږي او د ټولو په زړونو باندې مهر لګېدلی دی، ته مه غمژن کېږه او ایمان راوړلو ته يې مه په تمه کېږه؛ نو څکه نوح ﷺ مونږ ته داسې سوال وکړ چې:

ای زما ربه! زما سره په دغه کافر او مشرک قوم باندې نصرت وکړه، څکه چې ډېره اوږده زمانه مې دوی ته دعوت ورکړ، نه مې د شپې په دعوت کښې سستي کړې ده او نه په ورځ کښې، نه مې د دوی په خرګند دعوت باندې صرفه کړې ده او نه يې په پټ دعوت کښې غلی پاتې شوی یم، خو دغه مشرک قوم لکه څنګه چې زما تکذیب په لومړي سر کړی وه همدارنګه نن ورځ هم په همدغه تکذیب کښې اخته دي، نو که بالفرض دوی ژوندي پاتې شي په راتلونکي کښې به هم همدغه کار ته ادامه ورکړي.

۴_ نو مونږ د نوح ﷺ سوال قبول کړ او د ذکر شوي مشرک قوم د پوپنا کولو اراده مو وکړه او داسې وحې مو ورنازله کړه چې:

الف: ای نوحه! زمونږ تر حفاظتونو لاندې بېړۍ جوړه کړه چې کفار به هیڅکله ستا د کار په مقابل کښې خنډ واقع نه کړی شي او نه به يې د جوړولو مخه ونیولی شي، دوی به یوازې په تا باندې ملنډې وهي او خندنی به درباندې کوي او بس، خو ته ورته مه زړه تنګی کېږه.

ب: که څه هم تر اوسه پورې تا بېړۍ نه ده جوړه کړې او معلومات نه لرې چې په څه ډول يې جوړه کړې، مګر زمونږ د پلوه به تاته موقع په موقع وحې کېږي او د جوړښت طریقه به يې درښودله کېږي، نوهیڅ تشویش مه کوه زمونږ په کومک سره ته د بېړۍ د جوړولو له باره وتلی شې.

ج: نو کله چې تا د چلښت دپاره بېړۍ تیاره کړه نو په هغه وخت کښې زمونږ امر ته منتظر اوسه چې تاته به در ورسېږي، چې لومړۍ نښه به يې دا وي چې په تناره کښې به اوبه زمونږ دپلوه فواره او نبغه داره ووهي، بیا به د څمکې ټول مخ د فوارو په شکل خپلې داخلې اوبه راوخوټوي او اسمان به هم د باران په توګه په ډېرې تېزۍ سره اوبه راوشوړوي.

د: کله چې تا د طوفان اولنۍ نښه او علامه ولیده نو سمدستي لاندې ارشادات عملي کړه:

اول: په بېړۍ کښې د هري نوعې ساکښانو څخه یوه-یوه جوړه ورداخله کړه چې یو فرد يې نر وي او بل فرد يې ښځه وي، ترڅو په راتلونکي کښې د همدغې یوې جوړې څخه ذکره شوې نوعه د ډېرو افرادو درلودونکې وګرځي.

دوهم: د خپل کور کهول ټول کسان هم د خپله ځانه سره په بېړۍ کښې وخېژوه او د غرق څخه نجات ورکړه مګر د همدغو د جملې څخه هغه څوک پکښې مه پورته کوه په کومو باندې چې د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غرقېدلو خبره لا د پخوا څخه فیصله شوې ده چې نجات نه شي موندلی او په کفر باندې کلک دي.

دریم: همدارنګه تا پورې مربوط نور مسلمانان هم بېړۍ ته وخېژه وه چې په تا باندې یې ایمان راوړی وي او ستا د نبوت تصدیق یې کړی وي.

څلورم: مګر د کفارو په هکله زما سره خبرې مه کوه چې دغه یا هغه ته نجات ورکړه، او دا ځکه چې دوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی او په یقیني توګه دوی غرق کړی شوي دي، چې نجات یې نه په برخه کېږي.

هـ: نو ای نوحه! کله چې تا ذکر شوي ارشادات عملي کړه او د خپلو ملګرو سره د ډېر امنیت په حال کښې تاسو په بېړۍ کښې پورته شوئ او د غرق څخه مو نجات وموند، نو بیا لاندې ارشادات مه هېروه او ووایه:

اول: چې هغه الله ﷻ ته حمد او ستاینه ده چې مونږ ته یې د ظالم قوم څخه نجات راکړ او هغوی ټول یې زمونږ تر نظر لاندې پوپنا کړه چې زمونږ زړونه ورباندې یخ شوه او غُصې مو ورباندې سړې شوې.

دوهم: چې ای زما ربه! لکه چې نن ورځ دې ماته او زما ملګرو ته په معجزانه توګه نجات راکړ او په بېړۍ کښې دې اوچت کړو همدارنګه زما سوال دی چې په برکتناک ځای کښې مې د خپلو سورو ملګرو سره ښکته کړې، چې هم مو نسل زیات شي او هم مو احتیاجات او اړتیاوې پوره کړی شي.

ای زما ربه! یوازې همدا ته په کوزوونکو کښې ډېر بهتر کوزوونکی یې، لکه چې یوازې همدا ته په اوچتوونکو کښې بهتر اوچتوونکی یې.

یا په بل عبارت: که څه هم ستا څخه پرته په بل چا باندې هم د راکوزوونکي او اوچتوونکي اطلاق کېدلی شي مګر ستا سره په راکوزوولو او اوچتولو کښې هیڅوک سیالي نه شي کولی.

۵ـ ای پیغمبره! یقیناً د نوح ؑ په دغې قیصه کښې (چې وړاندې ورته اشاره وشوه) ډېر نکات مرموز دي، دغه څو مثالونه یې قرائت کړه:

الف: یوه دا چې زمونږ د قدرت ډېر لوی دلایل پکښې نغښتي دي او د عبرت ډېر لوی درسونه پکښې پټ دي.

ب: بله دا چې یقیناً مونږ امتحان کوونکي یاستو چې کله خلک په مشقتونو باندې امتحانوو او کله د نعمتونو په پراخۍ او ډېروالي باندې، نو ټولو انسانانو ته په کار دي چې په مشکلاتو کښې ناأُمیده نه شي او په خوشالیو کښې ناشکره نه شي چې خپل حقیقي انعام کوونکی هېر کړي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ کښې د "هَذَا" کلمه څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوې کلمې د مشار الیه په باب علماء کرام دوه نظره لري:

الف: دا په ﴿مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ﴾ کښې د "بَشَر" لفظ ته اشاره ده، یعنې مونږ د بشر (بنیادم)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د نبوت خبره په خپلو پخوانیو پلرونو کښې نه ده اورېدلې، نو مونږ نه شو کولي چې باور ورباندې وکړو او قبوله يې کړو.

ب: دا د توحید هغه کلام ته اشاره ده کوم چې د نوح ﷺ په دعوت کښې ذکر دی چې: ﴿ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ﴾ ای زما قومه! تاسو خاص د الله ﷻ عبادت وکړئ چې تاسو (په واقع کښې) د همده ﷻ څخه په غیر بل معبود نه لرئ.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې: مونږ د توحید خبره په خپلو پخوانیو پلرونو کښې نه ده اورېدلې، که دغې خبرې څه د واقعیت احتمال درلودی نو څه سابقه به يې هم درلودی.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲_ که څوک وایي چې: د بشر د نبوت خبره او همدارنګه د توحید خبره خو د نوح ﷺ څخه پخوا هم اورېدلې شوې وه چې د ده ﷺ څخه وړاندې بنیادمان پیغمبران تېر شوي وه او ټولو د توحید کلمې ته دعوتونه چلول، نو پوښتنه دا ده چې د نوح ﷺ قوم ورباندې څنګه تپ منکران شوه؟

مونږ وایو چې: د دوی انکار په واقعیت او صدق باندې بناء نه وه چې په پخوانیو کښې يې نه د بشر نبوت اورېدلی وه او نه يې پکښې د توحید کلمه غوږو ته رسېدلې وه، بلکې د دوی دغه انکار په عناد او تکبر باندې ولاړ وه[1]، د همدې کبله يې په نوح ﷺ باندې د لیوني نوم کېښود چې: ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ ﴾ یعنې دا (نوح ﷺ) نه دی مګر داسې سړی دی چې لیونتوب ورپورې نښتی دی، که نه نو دوی ښه پوهېده چې نوح ﷺ لیونی نه دی بلکې په کامله توګه د عقل خاوند دی.

## عجیبه بې انصافي

۳_ د نوح ﷺ قوم او همدارنګه ټول بوت پرستان په عجیبه بې انصافۍ باندې اخته دي چې ډبرو ته په الوهیت باندې قائل دي او د بوتانو عبادت کوي مګر بشر ته په نبوت باندې معتقد نه دي او وایي چې: ولې پرښته په همدغه صفت باندې راوانستوله شوه؟!

## یادونې

۴_ د نوح ﷺ د قیصې پورې اړوند ځینې بحثونه په وړاندېنیو سورتونو کښې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ چې بیا لیکل يې چندان ګټور نه برېښي، هیله ده چې محترم لوستونکي همله مراجعه وکړي د هغو بحثونو مثالونه دا دي:

الف: د ﴿ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ ﴾ کلمات د [هود:۳۸] ایت لاندې شرحه شوي دي چې بېړۍ په څه کیفیت باندې جوړه شوه او د سورلیو شمېر يې څو تنو ته رسېده.

ب: د ﴿ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا ﴾ کلمات د [هود:۳۷] ایت لاندې تېر شوي دي چې "أَعْيُن" څه معنی لري او په وحي سره مطلب څه شی دی.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۸۳؛ البحر المحیط ج۷ ص۵۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د ﴿ وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ﴾ کلمات د [هود: ۴۰] ایت لاندې تفسیر شوي دي چې د "فَارَ" کلمه د څه شي څخه اشتقاقه شوې ده او په تنور سره څه شی مراد دی.

د: د ﴿ مِن كُلٍّ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ کلمات د [هود: ۴۰] ایت لاندې واضحه شوي دي چې ﴿ زَوۡجَيۡنِ ﴾ څه معنی لري او په ﴿ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ باندې د څه مطلب دپاره تاکید شوی دی.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: د نوح ﷺ په بېړۍ (کښتۍ) کښې دوه وو ډلو نجات موندلی وه، چې یوه ډله د نوح ﷺ خپلوان وه چې دلته ورته په ﴿ وَأَهۡلَكَ ﴾ سره اشاره شوې ده او بله ډله عام مسلمانان وه چې په دې سورت کښې ورته اشاره نه ده شوې؛ نو د عدم اشارې حکمت څه شی دی؟

مونږ وايو چې: دلته دوهمې ډلې ته هم په لاندې ډول اشاره شوې ده:

الف: په ﴿ وَأَهۡلَكَ ﴾ کښې د "أَهۡل" کلمه دلته د هغو ټولو کسانو څخه عبارت ده کوم چې د نوح ﷺ اجابت کړی وه او ایمان یې ورباندې راوړی وه، لکه چې وايي: "أَهۡلُ كُلِّ نَبِيٍّ أَهۡلُ دِينِهِ"[1] د هر پیغمبر اهل د هغه د دین د خاوندانو څخه عبارت دی.

د همدې کبله الله ﷻ نوح ﷺ مخاطب کړ چې: ﴿ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَ ﴾ [هود:۴۶] یعني ای نوحه! ستا دغه کافر زوی ستا د اهل څخه نه دی چې په تا باندې یې ایمان نه دی راوړی.

ب: د عامو مسلمانانو نجات ته په ضمني توګه په ﴿ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴾ کښې اشاره شوې ده، یعني: ای نوحه! زما سره د ظالمانو (کافرانو) په باره کښې خبره مه کوه ځکه چې یقیناً یوازې همدوی غرق کړی شوي دي او ټول مسلمانان نجات موندونکي دي.

﴿ ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ۝٣١ فَأَرۡسَلۡنَا فِيهِمۡ رَسُولًا مِّنۡهُمۡ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم
مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ۝٣٢ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ
وَأَتۡرَفۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يَأۡكُلُ مِمَّا تَأۡكُلُونَ مِنۡهُ وَيَشۡرَبُ مِمَّا
تَشۡرَبُونَ ۝٣٣ وَلَئِنۡ أَطَعۡتُم بَشَرٗا مِّثۡلَكُمۡ إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ۝٣٤ أَيَعِدُكُمۡ أَنَّكُمۡ إِذَا مِتُّمۡ وَكُنتُمۡ
تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخۡرَجُونَ ۝٣٥ ۞هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ۝٣٦ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا
ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ۝٣٧ إِنۡ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا
وَمَا نَحۡنُ لَهُۥ بِمُؤۡمِنِينَ ۝٣٨ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ۝٣٩ قَالَ عَمَّا قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۲۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نادِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ بِٱلْحَقِّ فَجَعَلْنَٰهُمْ غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾

[۳۱] بیا مونږ د دوی (د نوح ﷺ د قوم) څخه وروسته د یوې زمانې اهل نور (بله پېړۍ خلک) پیدا کړه.

[۳۲] نو په هغوی کښې مو د هغوی د جنس څخه پیغمبر ولېږه چې: (ای خلکو!) تاسو (یوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ چې (په واقع او حقیقت کښې) تاسو ته د همده ﷻ څخه په غیر بل معبود نشته، ایا نو تاسو (د الله ﷻ د عذابه خپل ځانونه) نه ساتئ (او د ده ﷻ څخه نه ډارېږئ)؟!

[۳۳] او د پیغمبر د قوم څخه هغو مشرانو (په جواب کښې) وویلې: کومو چې کفر غوره کړی وه او د آخرت ملاقات (بعث بعد الموت) ته یې د دروغو نسبت کاوه او (بالآخره) کومو ته چې مونږ په نړدې ژوند کښې اسودګي (او نعمتونه) ورکړي وه چې:
دغه پیغمبر نه دی مګر ستاسو غوندې یو بنیادم دی، چې د هغه شي څخه خوراک کوي د کوم څخه چې تاسو خوراک کوئ، او د هغه (څښاک) څخه څښکي د کوم څخه چې تاسو څښاک کوئ (نو د نبوت دعوه یې دروغه ده).

[۳۴] او که تاسو ضرور د داسې بنیادم اطاعت وکړئ (د نبوت په حیث یې قبول کړئ) کوم چې (په خوراک او څښاک کښې) ستاسو غوندې دي نو یقینًا تاسو به په دغه وخت کښې هرومرو زیانکاران یاست.

[۳۵] ایا (نوموړی بنیادم) تاسو ته وعده درکوي چې: یقینًا تاسو چې کله مړه شئ او خاورې او هډوکي شئ (نو) یقینًا تاسو به (د قبرونو څخه ژوندي) راویستلی شوي یاست؟!

[۳۶] (یو شي ته) لرېوالی دی لرېوالی دی (کوم شي ته؟) هغه شي ته کوم چې تاسو ته یې وعده درکوله کېږي.

[۳۷] ژوند نه دی مګر زمونږ نړدې ژوند دی (او بس) چې مونږ مړه کېږو او (نوي) راژوندي کېږو، او مونږ نه یاستو (د قبرونو څخه) راپاځولی شوي.

[۳۸] دا بنیادم (چې د نبوت دعوه ګیر دی) نه دي مګر یو سړی دی چې په الله ﷻ باندې یې دروغ تړلي دي، او مونږ ورته یقین کوونکي نه یاستو (مونږ وربانديې ایمان نه راوړو).

[۳۹] پیغمبر (د کفارو د عکس العمل د کبله) وویلې چې: ای زما ربه! ماته (په کفارو باندې) په دې سبب نصرت راکړه چې ماته یې د دروغو نسبت وکړ (او د دروغژن نوم یې راباندې کېښود).

[۴۰] الله ﷻ (ورته) وویلې چې: (ستا سوال قبول دی او) د ډېر لږ وخت څخه (هغې خوا) به هرومرو (او) خامخا کفار پښېمانه وګرځي.

[۴۱] نو کفارو لره په حقه سره (د وعدې مطابق) عذاب ونیول نو مونږ د سیلاب د خځګ غوندې د منځه یووړل (او پوپنا مو کړه).
نو ظالم قوم ته (د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی دی) لرېوالی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د پخوانیو هلاکو شوو کفارو د جملې څخه د یوې هلاکې شوې کافرې ډلې قیصې ته اشاره شوې ده، ترڅو ترې د دې زمانې کفار عبرت واخلي او د خپلې باطلې عقیدې څخه منصرف شي نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د نوح ﷺ د قوم د هلاکت څخه وروسته بیا مونږ یوه بله پېړۍ پیدا کړه او ځمکه مو وربانديې ابادة کړه او د عقیدې د سمون دپاره مو په همدوی کښې د همدوی د جملې څخه پیغمبر ور ولېږه چې د قیصې ځینې مهم ټکي یې دا دي:

۱ـ نوموړي پیغمبر خپل قوم همغې عقیدې ته دعوت کړ کومې ته چې نوح ﷺ خپل قوم دعوت کړی وه چې: ای زما قومه! تاسو یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او دا ځکه چې تاسو ته په واقع کښې د همده ﷻ څخه په غیر بل په حقه معبود نشته، ایا نو تاسو د الله ﷻ د عذاب څخه خپل ځانونه نه ساتئ؟ چې د شرک او بوت پرستۍ څخه واوړئ او خپلې عقیدې سمې کړئ.

۲ـ د پیغمبر دعوت اولاً عامو خلکو او غریبو خلکو رد نه کړ بلکې هغو کسانو رد کړ کومو چې لاندې صفات درلوده:

الف: کوم چې د قوم مشران وه او عوامو یې په قول او عمل کښې پیروي کوله او په سترګو کښې یې درانه ښکارېده.

ب: کومو چې کفر غوره کړی وه او په همدې باطله عقیده باندې کلک ولاړ وه او هم یې همدغې باطلې عقیدې ته دعوت چلاوه.

ج: کومو چې د آخرت څخه انکار کاوه او د مرګ څخه وروسته بیا راژوندي کېدل یې تکذیبول.

د: او بالآخره کوم چې په دنیاوي عیش او عشرت کښې غرق وه او هغه نعمتونه یې خپل نهایي هدف ګڼلي وه چې مونږ ورته په همدغه حقیر او نژدې ژوند کښې ورکړي وه.

۳ـ د نوموړو قومي مشرانو رد په لاندې ټکو باندې مشتمل وه:

الف: دغه کس ـچې د نبوت دعوه کويـ بل څوک نه دی (ای عوامو!) بلکې ستاسو غوندې یو بشر دی او د بنیادمانو څخه یو بنیادم دی، نو ایا دا خبره د منلو وړ ده چې هغه دې پیغمبر شي اوتاسو دې پیغمبران نه شئ؟

ب: نوموړی د نبوت مدعي هغه څه خوري کوم چې تاسو یې خورئ، او هغه څه څښکي کوم چې تاسو یې څښکئ، همدارنګه ستاسو غوندې لباس اغوندي او په بازارونو کښې ګرځي راګرځي.

ج: که بالفرض الله ﷻ مونږ ته پیغمبر رالېږلی نو هرومرو به یې د دغه منصب دپاره پرښتې ټاکلې وی چې خوراک او څښاک یې نه کولی او ستاسو غوندې نه په بازارونو کښې د کار او کسب دپاره ګرځېدلی او نه یې ستاسو غوندې لباس او پوښاک ته اړتیا درلودی.

د: ای عوامو! که تاسو زمونږ نصائح قبول نه کړئ او د داسې بنیادم پیروي وکړئ چې ستاسو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوندې عادتونه او خاصیتونه لري، نو یقیناً تاسو به په دغه وخت کښې زیانکاران او تاوانیان یاست، چې په لوی لاس به د دنیا عیش او عشرت په خپلو خانونو باندې ګډوډ کړئ چې دا حرام دي او دا حلال دی.

ه: که تاسو نوموړي ته په نبوت باندې قائل شئ نو هرومرو به د مرګ څخه وروسته په بیا راژوندي کېدلو باندې عقیده کوئ او دوهم ژوند ته به تیاری نیسئ حال دا چې دا عقیده بالکل باطله او محاله ده، که نه نو تاسو لاندې پوښتنو ته جواب ورکړئ چې:

و: ایا کله چې تاسو مړه شئ او کالبوتونه مو خاورې او وراسته هډوکي وګرځي نو ایا تاسو به بېرته د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړی شئ؟ ایا دا وعده د منلو وړ ده؟ ایا د عقل خاوند به پرې عقیده وکړي؟

ز: د دغو ټولو سوالونو جواب منفي دی او عقیده او تصدیق ورباندې صحت نه لري بلکې دغه ډول عقیده او تصدیق د صحت څخه په مراحلو کښې لرې دی او لرې دی.

یا په بل عبارت: د نوموړي سړي د پلوه چې کومه وعده تاسو ته درکوله کېږي هغې وعدې ته د هر حیثه لرېوالی او عدم صحت ثابت دی.

ح: حقیقت دا دی چې مونږ دوهم ژوند نه لرو بلکې زمونږ ژوند فقط همدغه نژدې ژوند دی چې په مستمره توګه روان دی، مړه کېږو او ژوندي کېږو چې څوک مري او څوک نوی تولد کېږي. لنډه دا چې د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کېدل نشته او مونږ نه یاستو چې د قبرونو څخه به راپورته کړی شو او د حساب کتاب سره به مخامخ شو.

ط: نوموړی سړی چې تاسو ته د بیا ژوندي کېدلو وعده درکوي، دا نه ده مګر په الله ﷻ باندې دروغ تړل دي، نوموړی غواړي چې په همدې پلمې سره په تاسو باندې خپله مشري قائمه کړي او خپل خان درته پیغمبر وتراشي.

ي: ای عوامو! زمونږ آخرنی پرېکړه دا ده چې مونږ نوموړی شخص د پیغمبر په صفت نه پېژنو او د بشریت څخه په ورپورته حیثیت ورته نه شو قائل کېدلی، نو تاسو ته هم په کار دي چې زمونږ د پرېکړي څخه مخالفت ونه کړئ او په همدې فیصلې باندې کلک ودرېږئ.

۴ـ کله چې وراستولي شوي پیغمبر د خپل قوم ذکره شوې نهایي فیصله واورېده نو خپل رب ﷻ ته یې د سوال لاسونه اوچت کړه او دا غوښتنه یې وکړه چې: ای زما ربه! ماته په دغه ظالم قوم باندې نصرت راکړې او هم د دوی د شر څخه نجات راپېرزو کړې او دا ځکه چې ماته یې د دروغو نسبت وکړ او د دروغژن لقب یې راباندې کېښود، په راتلونکي کښې دوی ته زما تمه نشته چې ایمان به راوړي او خپله تګلاره به بدله کړي.

۵ـ الله ﷻ د خپل پیغمبر سوال قبول کړ او داډ یې ورکړ چې: ای پیغمبره! ستا سوال قبول دی د لږ وخت څخه وروسته به تاته او ستا مسلمانانو ملګرو ته نجات درکړم او په کافر قوم باندې به خپل عذاب ورنازل کړم، چې په نتیجه کښې به په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه وګرځي او ستا په نبوت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به باور وکړي خو وخت به تري تېر وي او بې وخته باور به يې هيڅ په درد ونه خوري.

۶_ نو ای پیغمبره! مونږ د خپلې وعدې سره سم په ذکر شوي قوم باندې په حقه سره عذاب ورنازل کړ چې دوی ټول يوې چيغې ونيوه او په يوه سخت اواز سره ټول پوپنا شوه او داسې مړ متفرق او متشتت کړه لکه چې د سيلاب يا د کټوې ځګ چې تيت پرک شي.

د نوموړي قوم عذاب په همدې دنيا باندې نه ختمېږي بلکې دغه ظالم قوم ته د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی دی چې روزمره ترې لرې کېږي، او د قيامت په ورځ به په دوامداره توګه د سخت عذاب سره مخامخ شي.

## توضيحات

۱_ په دې خبره کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو ويشلي شوي چې په ﴿ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴾ کښې د ﴿ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴾ (د بل قرن او بلې پېړی) څخه څوک مراد دي؟

الف: ځيني وايي چې: بله پېړی د ثموديانو څخه عبارت ده چې صالح ؈ ورته د پيغمبر په حيث ورلېږلی شوی وه[1]. دا ځکه چې دغه قوم په تېز اواز سره هلاک شوی دی چې: ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ بِٱلْحَقِّ ﴾ [المؤمنون: ۴۱] يعنې دوی لره د وعدې مطابق تېز او سخت اواز ونيوه او هلاک شوه؛ او پوره واضحه ده چې په تېز اواز سره خو ثموديان هلاک شوي دي لکه چې الله ﷻ ورباندې صراحت کړی دی چې: ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَٰحِدَةً ﴾ [القمر: ۳۱] يعنې يقيناً مونږ په ثموديانو باندې يو تېز او سخت اواز ورمسلط کړ چې ټول يې پوپنا کړه.

ب: اکثره علماء کرام وايي چې: په دې مقام کښې بله پېړی د عاديانو څخه عبارت ده چې هود ؈ د پيغمبر په حيث ورلېږلی شوی وه[2]. او دا ځکه چې:

اول: الله ﷻ د هود ؈ د مبارکې خولې څخه حکايت کړی دی چې عاديان يې مخاطب کړه او ورته يې وويلې چې: ﴿ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ ﴾ [الأعراف: ۶۹] او تاسو هغه وخت ډېر په زړه کړئ چې الله ﷻ د نوح ؈ د قوم څخه وروسته تاسو (د هغوی) خليفه ګان وګرځولئ (او ځمکه يې په تاسو باندې اباده کړه)؛ نو معلومه شوه چې د بلې پېړی څخه همدوی مطلب دي چې د هغوی په ځای باندې کېنولي شوي وه.

دوهم: د قرآن کريم په متعددو سورتونو (لکه الاعراف، الفجر او نورو) کښې د نوح ؈ د قيصې څخه وروسته د هود ؈ قيصه نازله شوې ده، نو ظاهره دا ده چې دلته به د "قرن آخرين" څخه عاديان مطلب وي چې د هود ؈ قوم دی ترڅو دا سورت د نورو سورتونو سره تطابق ومومي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: عاديان خو په تېز باد باندې هلاک شوي دي چې متعددې ورځې او شپې

(۱) البحر المحيط ج۷ ص۵۵۸
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۲۸؛ تفسير القاسمي ج۱۲ ص۸۲

Scanned by CamScanner

د اللح (۱۸) ورباندې وځلېد [الحاقة: ۶]، حال دا چې نوموړې پېښې خو په تېز او سخت اواز باندې هلاکه شوې دي لکه چې د دغې مجموعې په [۴۱] ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی؟

ده مونږ وایو چې: د "صَیْحَة" کلمه چې تېز او سخت اواز ته وضعه شوې ده همدارنګه د مطلق عذاب په معنی باندې هم استعماله شوې ده[1] او په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی او پوره خرګنده ده چې تېز باد هم د عذابونو څخه یو عذاب دی، أعاذنا الله منه.

زمونږ په نزد که په ایتونو کښې د ثمودیانو او عادیانو دواړو ته د بدلیت په لحاظ اشاره وې هم څه بده نه ده، بلکې که په همدې لحاظ ډېرو هلاکو شوو پېړیو ته اشاره وې هم څه منافات نه لري بلکې لا زیات تعمیم فائده کوي.

## یو نحوي تحلیل

۳_ د ﴿ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴾ په نحوي تحلیل کښې مفسرینو کرامو ښه اوږد بحث کړی دی[2] مګر مونږ ته چې کوم تحلیل مختصر او په زړه پورې برېښېدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو[3]:

الف: دغه هره یوه کلمه اسم فعل ده چې د "بَعُدَ" معلومې ماضي معنی ورکوي، او تکرير یې د تاکید دپاره دی.

ب: مبهم ضمير پکښې مستتر دی چې د هرې یوې کلمې دپاره فاعل ګڼل کېږي.

ج: د ﴿ لِمَا تُوعَدُونَ ﴾ کلمات د متعلق په اعتبار سره د مقدرې مبتدأ دپاره خبر واقع شوي دي چې تقدیر یې داسې کېږي چې: "الْبُعْدُ كَائِنٌ لِمَا تُوعَدُونَ".

د: دغه اسمیه جمله د مقدر سوال دپاره جواب واقع شوې ده چې په: "هَذَا الْبُعْدُ لِأَيِّ شَيْءٍ" سره تري تعبير کولی شو.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېژي چې: یو شی لرې دی لرې دی (د واقعیت څخه ورته لرېوالی ثابت دی)، لرېوالی څه شي ته ثابت دی (کوم شی په لرېوالي باندې موصوف دی)؟ لرېوالی هغه شي ته ثابت او کائن دی د کوم شي وعده چې تاسو ته درکوله کېږي چې د مرګ څخه وروسته به بېرته راژوندي کړی شئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې د "هِيَ" ضمير د "حَيَات" کلمې ته راجع دی[4] کومه چې وروسته ذکره ده، نو پوښتنه دا ده چې دلته خو اضمار قبل الذکر لازمېږي چې

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۲۱
(۲) البحر المحیط ج۷ ص۵۶۱
(۳) تفسیر البیضاوي في هذا المقام
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۱۲۴؛ تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د عربیت د قواعدو څخه مخالف دی، حال دا چې قرآن کریم ذکر شوي قواعد له نظره نه غورزوي؟
مونږ وایو چې: د ﴿ هِیَ ﴾ ضمیر مبتدا ده چې د کلام غوره برخه ده او د عربیت د علماوو په نزد د کلام په غوره برخه کښې إضمار قبل الذکر جائز دی خو په دې شرط چې د کلام په وروستنی برخه کښې یې تفسیر شوی وي او ابهام یې پورته شوی وي[1].
په دې مقام کښې ذکر شوی شرط متحقق دی چې په ﴿ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ کښې د "حَيَاة" کلمه ذکره ده او د ضمیر (هِيَ) ابهام پورته شوی او تفسیر شوی دی، نو مضمون یې داسې راځېږي چې ژوند نه دی مګر همدا نژدې (او حقیر) ژوند دی چې مړه کېږو او ژوندي کېږو.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ د کلامونو څخه د سړي ذهن ته ورځي چې مشرکان د مرګ څخه وروسته په بیا ژوندون باندې معتقد وه، چې د ﴿ نَمُوتُ ﴾ کلمه یې د "نَحْيَا" په کلمه باندې تعقیبه کړې ده، حال دا چې دا خو د واقع څخه مخالفه خبره ده؟
مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[2] لاندې مثالونه یې ولولئ:
الف: په ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ کښې د "و" توری په مطلق اجتماع باندې دلالت کوي، یعنې په مونږ باندې دوه حالونه راتلونکي دي چې یو مرګ دی او بل ژوند دی؛ او په ترتیب باندې دلالت نه کوي ترڅو ذکر شوی سوال وارد شي چې مونږ د مرګ څخه وروسته بیا ژوندي کېږو.
ب: دلته د ﴿ نَمُوتُ ﴾ څخه هغه مرګ مطلب نه دی کوم چې د ژوند څخه وروسته تحقق مومي بلکې دلته ترې عدم موجودیت مطلب دی، یعنې مونږ هیڅ موجود نه یاستو او بیا د موجودیت خاوندان کېږو.
ج: د ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ دواړه کلمې د ځینو-ځینو افرادو په لحاظ سره دي، یعنې مونږ ځینې کسان د مرګ سره مخامخ کېږو او ځینې نور تازه پیدا کېږو او د ژوند خاوندان ګرځو، دغه لړۍ په مونږ کښې د نباتاتو غوندې روانه ده، چې زمونږ ځینې کسان بالکل د موجودیت د میدان څخه وځي او زمونږ نور پکښې قدم ږدي، خو ټولې کسان بېرته نه راګرځي.

## تبصره

۶_ زمونږ په فکر ذکر شوی سوال به په هغه وخت کښې په ځای وی او جواب ته به یې اړتیا درلودې چې فقط ﴿ نَمُوتُ وَنَحْيَا ﴾ کلمات نازل شوي وی او وړاندې بېرته کلامونه ورسره نه وی نازل شوي، او دا خکه چې د وړاندېني کلام ﴿ إِنْ هِیَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا ﴾ او هم د وروستني کلام ﴿ وَمَا نَحْنُ

---

(۱) شرح ملا جامي في النحو ص۷۵
(۲) زاد المسیر ج۵ ص۳۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَنبَغُوثِينَ ﴾ څخه مطلب په هر اړخيزه توګه په ډاګه شوی دی او په هيڅ ډول خفاء پکښې نشته چې جوابولو ته احتياج واقع شي.

## دلته د "ما" توری زائد نه دی

۷ـ په ﴿ عَمَّا قَلِيلٍ ﴾ کښې د ﴿ عَمَّا ﴾ کلمه په اصل کښې "عَن ما" وه چې د "ن" توری د "ما" په نوري کښې د مخرج د نژدېوالي د کبله مدغم شوی دی.

ځينې علماء کرام وايي چې د "ما" توری دلته زائد دی او څه معنی نه ورکوي[۱]، ته به وايي چې "عَن قَلِيلٍ" نازل شوی دی. خو بهتره دا ده چې نوموړی د "ما" توری بې مطلبه زائد نه دی بلکې د هغې معنی دپاره تاکيد دی په کومې باندې چې د ﴿ قَلِيلٍ ﴾ کلمه دلالت کوي.

هو! د تاکيد معنی ترې په لاندې دوه وو طريقو باندې لاس ته راتلای شي[۲]:

الف: چې د "ما" توری د استفهام معنی ورکړي؛ نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې کفار به د څومره لږ وخت (ډېر لږ وخت) څخه وروسته پښېمانه وګرځي؟

ب: چې د "ما" توری د هغه لږ وخت څخه عبارت شي په کوم باندې چې د ﴿ قَلِيلٍ ﴾ کلمه دلالت کوي؛ يعنې د ډېر لږ وخت څخه وروسته به کفار په خپلو کړو وړو باندې هرومرو پښېمانه جوړ شي.

## غُثَاء څه معنی؟

۸ـ په ﴿ فَجَعَلْنَٰهُمْ غُثَآءً ﴾ کښې د ﴿ غُثَآءً ﴾ کلمه د هغه خګ دپاره وضعه شوې ده کوم چې د سيلاب په سر روان وي او د خيرو او ورستو پاڼو څخه تشکيل شوی وي[۳]، چې څه بنياد نه لري او په سات ګړی کښې د منځه ځي او هيڅ ګټه او فائده پکښې نغښتې نه وي[۴].

نو په دې مقام کښې يې حاصل داسې راخېژي چې: مونږ په ذکرو شوو کفارو باندې د خپلې وعدې مطابق عذاب ورنازل کړ چې د هغوی بنياد يې وويست او د سيلاب د خګ غوندې يې په سات ګړی کښې پوپنا کړه.

﴿ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قُرُونًا ءَاخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ ۚ فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۲] بيا مونږ د هلاکو شوو قومونو څخه وروسته د ډېرو زمانو نور اهالي (خلک) پيدا کړه.

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۴۷۳؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۴۰۳
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۳۰۹
(۳) لسان العرب ج۱۵ ص۱۱۶
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۶۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۳] چې یوه ډله هم د خپلې (ټاکلې شوې) نېټې څخه نه وړاندې کېدله او نه (ترې) وروسته کېدله (بلکې هره یوه ډله مو په خپل-خپل وخت کښې هلاکه کړه).

[۴۴] بیا مونږ (هغوی ته) خپل پیغمبران (جوړه-جوړه نه بلکې) طاق-طاق وروليږل (چې د بعثت ترمنځ یې د فترت وختونه درلودل).

(خو) هرکله به چې یوې ډلې ته خپل پیغمبر ورغی نو (سمدستي) به یې تکذیب کړ (چې ته دروغژن یې)، نو مونږ د دوی خینې د خینو نورو (په هلاکت کښې) پیرو جوړ کړه او دوی (ټول) مو (محض) خبرې (او قیصې) وګرځول (چې هیڅ شی یې باقي پاتې نه شو).

نو داسې قوم ته دې چې ایمان نه راوړي (لرېوالی وي) لرېوالی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غوندې د پخوانیو متعددو پېړیو کفارو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱_ کله چې مونږ عادیان پوپنا کړه او د سیلاب د څګ په شان مو د هغوی بنیاد وویست نو په څمکه کښې مو د هغوی په عوض وار په وار د نورو زمانو اهل او نورو پېړیو خلک پیدا کړه او وار په وار مو هغوی د کفریاتو د کبله هلاک کړه، چې یوه ډله هم د خپل ټاکلي میعاد څخه نه وړاندې شوه او نه بېرته، بلکې هر یوه ډله د خپل وخت په مطابق د هلاکت سره مخامخ شوه، لکه د شعیب ﷺ قوم، د لوط ﷺ قوم او داسې نور.

۲_ لکه چې مونږ د پخوانیو کفارو په عوض د نورو پېړیو خلک پیدا کړه همدارنګه مو د پخوانیو پیغمبرانو په عوض نور پیغمبران ورواستول چې یو به مو د بل په تعقیب وراستاوه او هر یوه به دعوت الی الله ته ادامه ورکوله، ترڅو د قیامت په ورځ کفار اعتذار وړاندې نه شي کړی چې: ای ربه! مونږ ته به دې رسولان را استولي وی چې مونږ پرې ایمان راوړی وی او د شرکیاتو څخه مو لاس اخستی وی.

۳_ مګر هلاکو شوو قومونو یوه هم په خپل-خپل پیغمبر باندې ایمان رانه ووړ بلکې هرکله به چې یوې ډلې ته خپل پیغمبر ورغی نو هغې به یې تکذیب وکړ او د دروغژن نوم به یېورباندې کېښود.

۴_ نو د همدې کبله مونږ یوه ډله د بلې په تعقیب هلاکه کړه او په هلاکت کښې مو یوه د بلې پېروه وګرځوله آن تردې چې د ټولو بېخ مو وویست او پرته د قیصو څخه یې نور هیڅ شی پاتې نه شو.

۵_ نو ای پیغمبره! د داسې قوم دپاره چې په خپل پیغمبر باندې ایمان نه راوړي د الهي رحمت څخه لرېوالی دی چې دنیا او آخرت یې دواړه د خسران سره مخامخ شوه.

## توضیحات

۱_ په ﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا﴾ کښې د ﴿تَتْرَا﴾ په کلمه کښې علماوو کرامو بنه اوږد تحلیل کړی

Scanned by CamScanner

دي (۱) چې مونږ یې په لاندې ټکو کښې هغه مطالب راخلاصه کوو کوم چې مونږ ته بهتر برېښېدلي دي:

الف: ﴿ تَتْرَا ﴾ د "وِتر" ـ لکه "عِلم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د انفراد معنی ورکوي او په مقابل کښې یې شفعه (جوړه) استعمالېږي.

ب: نو ذکره شوې کلمه په اصل کښې "وِترَی" وه چې د "و" توری یې په "ت" باندې مبدل شوی دی، لکه د "تُرَاث" کلمه چې په اصل کښې "وِرَاث" وه نو "و" یې په "ت" تبدیل شو "تُرَاث" ترې جوړ شو.

ج: دغه کلمه اسم جمعه ده، د همدې کبله په یوه شخص کښې نه استعمالېږي چې ووایي: "جاءَنِي فُلَانٌ تَتْرَی"، بلکې په جمعه کښې استعمال مومي چې: "جَاءَنِي الْقَوْمُ تَتْرَی" ماته قوم په داسې حال کښې راغلی وه چې منفردین وه (مجتمعین نه وه).

د: د ایت شریف په ذکره شوې ټکړه کښې هم د ﴿ تَتْرَا ﴾ کلمه د ﴿ رُسُلَنَا ﴾ څخه حال واقع شوې ده، یعنې مونږ د هلاکو شوو قومونو څخه وروسته نورې د هرې پېړۍ پیدا کړې او بیا مو وخت په وخت هغوی ته پیغمبران ورولېږل.

یا په بل عبارت: مونږ به یوه پېړۍ خلک پیدا کړه او پیغمبر به مو ورواستاوه، چې دا پېړۍ به مو د تکذیب د کبله هلاکه کړه بیا به مو بله پېړۍ پیدا کړه او پیغمبر به مو ورولېږه او داسې نور، نو مونږ یوه پېړۍ خلک هم د پیغمبر د ورلېږلو څخه په غیر نه دي هلاک کړي.

## یادونه

۲ـ په ﴿ رُسُلَنَا ﴾ کښې الله ﷻ د پیغمبرانو اضافت خپل اقدس ذات ته کړی دی چې د همده ﷻ د پلوه رالېږلی شوي دي، او په ﴿ رَّسُولُهَا ﴾ کښې هر اُمت ته خپل ـ خپل پیغمبر اضافت موندلی دی چې دعوت به یې په همدې ډلې پورې اختصاص درلود.

## د "احادیث" د کلمې تحلیل

۳ـ په ﴿ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَحَادِيثَ ﴾ کښې د ﴿ أَحَادِيثَ ﴾ کلمه د [یوسف:6] ایت لاندې لږ څه شرحه شوې ده چې د شذوذ په توګه د حدیث جمعه ده، خو په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي (۲) چې مفرد د یې د "أُحْدُوثَة" کلمه ده لکه چې د "أَعَاجِيب" دپاره "أُعْجُوبَة" مفرد دی، "أُعْجُوبَة" هغه شي ته ویل کېږي د کوم څخه چې سړی په تعجب کښې واقع کېږي.

نو په همدې بنیاد "أَحَادِيث" د هغه خبرو څخه عبارت ګڼل کېږي د کومو په حکایت باندې چې خلک ساتېري کوي، یعنې د هلاکو شوو قومونو یوازې قیصې پاتې شوې او نور یې هیڅ شی پاتې نه شو. لکه چې الله ﷻ همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴾ [مریم:۹۸] یعنې ایا ته د پخوانیو هلاکوشوو قومونو څخه یو نفر چرته

(۱) لسان العرب ج۵ ص۲۷۶؛ روح المعاني ج۱۸ ص۳۴؛ تفسیر الطبري ج۱۸ ص۲۳؛ المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۳۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۵؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوري چې ژوندی پاتې دی، او یا هغوی لره د ځمکې په کومه څنډه کښې څه اواز او ښکالو اوري؟

﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾﴾

[۴۵] بیا مونږ موسی عليه السلام او د ده ورور هارون عليه السلام د خپلو معجزاتو او څرګند دلیل سره ولیږل.

[۴۶] (البته) فرعون او د ده (اعتمادي) ډلې ته، نو دوی (پرې د ایمان د راوړلو څخه) لویې (سرکشي) وکړه او (دا ځکه چې) دوی تکبر کوونکي (خپل خانونه لوړ ګڼونکي) خلک وه.

[۴۷] نو فرعونیانو (د موسی عليه السلام او د ده د ورور په هکله) وویلې چې: ایا مونږ په داسې دوه ور بنیادمانو باندې ایمان راوړو چې زمونږ غوندې دي حال دا چې د دواړو قوم زمونږ اطاعت کوونکي (خدمت کوونکي او غلامان) دي؟.

[۴۸] نو فرعونیانو دواړو ته د دروغژنانو نسبت وکړ، نو (په نتیجه کښې) همدوی د هلاکو کړي شوو (غرق کړي شوو) څخه وګرځېدل.

[۴۹] او یقینًا (د دوی د هلاک څخه وروسته) مونږ موسی عليه السلام ته کتاب (تورات) ورکړ شاید چې دوی (بني اسرائیل) ورباندې (حقه) لاره مونده کړي.

[۵۰] او (هم) مونږ د مریمې زوی (عیسی عليه السلام) او د ده مور (د خپل کامل قدرت دپاره هر یو) یوه نښه وګرځول، او دواړو ته مو (د ظالم پاچا څخه) داسې یوه اُوچت ځای (ښار) ته پنا ورکړه چې (اُوسېدونکي یې) د ارام (قرار) خاوندان وه او (هم دغه ځای) د بهېدونکو اوبو درلودونکی وه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د تېرو شوو ایتونو مضامین تعقیب شوي دي او د هلاکو شوو کفارو د جملې څخه د فرعونیانو پوښنا کولو ته هم پکښې اشاره شوې ده، ترڅو د دې زمانې کفار ترې عبرت واخلي او په کفر باندې کلک ونه درېږي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د عبرت دپاره لاندې مهم نکات هم په خپل امت باندې قرائت کړه چې:

۱ـ موسی عليه السلام او د ده ورور هارون عليه السلام هم زمونږ د پیغمبرانو د جملې څخه وه چې څه مختصر حالات یې دا دي:

الف: دوی دواړو پیغمبرانو ته مونږ نهه معجزات او قدرتي نښې ورکړې وې چې د همسا غوندې عظیم الشانه قدرتي نښه پکښې شامله وه.

ب: مونږ دوی دواړه فرعون او د ده هغې ډلې ته لیږلي وه کومو ته چې په مصر کښې په درانه نظر

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کنل کېده او خلکو یې د "هو" سره "هو" او د "نه" سره "نه" ویل. یا په بل عبارت: دواړه مو فرعون او مغې دلې ته لېږلي وه که بالفرض هغوی ایمان راوړی وی نو ټول خلک به په ایمان مشرف شوي وی.

ج: نو د دعوت په نتیجه کښې فرعونیانو سرکشي وکړه او دعوت الی الله یې قبول نه کړ، ځکه چې:

د: دوی په هغه وخت کښې د اقتدار خاوندان وه چې په مصر باندې د همدوی حکم چلېده او د موسی ﷺ د قومیانو (بني اسرائیلو) څخه یې د غلامانو او مریانو کار اخست.

ه: نو د همدې کبله فرعونیانو د عدم قبول دپاره په تعجب سره وویلې چې: ایا مونږ د داسې دوه بنیادمانو (موسی ﷺ، هارون ﷺ) اطاعت وکړو او ایمان وربانديې راوړو چې:

اول: دوی دواړه زمونږ غوندې انسانان دي هرکله چې مونږ پیغمبران نه یاستو نو دوی دواړو ته به پیغمبرې له کومه شي.

دوهم: په دې باندې علاوه د دغو دواړو کسانو ټول قوم زمونږ غلامان او مریان دي، چې شپه او ورځ زمونږ په خدمت کښې چاپېر دي، که څه هم دوی دواړه زمونږ غلامان نه دي مګر د قوم په اعتبار سره داسې ګڼل کېږي لکه چې دوی دواړه هم زمونږ په غلامانو کښې شامل وي، نو ایا مونږ په خپلو غلامانو باندې ایمان راوړو؟!

و: فرعونیانو موسی ﷺ اوهارون ﷺ دواړه دروغژنان وګڼل او د مفتریانو نوم یې وربانديې کېښود، نو په نتیجه کښې ټول هلاک شوه او د قلزم په بحېره کښې پوپنا او غرق شوه.

۲_ د فرعونیانو د هلاکت څخه وروسته مونږ موسی ﷺ ته تورات ورکړ ترڅو پرې خپل هغه قوم ته لاربښودانه وکړي کوم چې د فرعونیانو په نزد باندې ډېر حقیر او سپک برېښېده او د غلامانو په نظر یې ورته کتل. یا په بل عبارت: مونږ فرعونیان د اقتدار څخه وغورزول او د دنیا واګې مو د بني اسرائیلو په لاس کښې ورکړې او د امتحان سره مو مخامخ کړه.

۳_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ موسی ﷺ ته د فرعون څخه نجات ورکړ همدارنګه مونږ عیسی ﷺ او د ده ﷺ مور بي بي مریمه رضي الله عنها هم هر یو د خپل کامل قدرت ننبه وګرځاوه او دواړو ته مو د ظالمانو څخه په داسې یوه اُوچت ځای کښې پنا ورکړه چې د یو پلوه پکښې د اُوسېدونکو ټولې اړتیاوې پوره وې او څوک نه مجبور کېده چې هلته خپله اوسېدانه ختمه کړي او بل ځای ترې انتقال وکړي، او د بله پلوه پکښې هلته ښې خوړې اوبه بهېدلې او چینې پکښې په قدرتي توګه جاري وې.

## توضیحات

۱_ دغه ﴿ بِـَٔايَـٰتِنَا وَسُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ ډول عبارت په [هود:۹۶] ایت شریف کښې هم نازل شوی دی، هلته مونږ د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې د ﴿ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ څخه نهه معجزې مرادې دي چې موسی ﷺ ته د فرعون په مقابل کښې ورکړی شوی وې، او د ﴿ وَسُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ څخه یا خاصه معجزه مطلب ده چې د همسا څخه اژدها جوړه شوه چې په نهو معجزو کښې شامله ده او یا ترې نورې معناوې مرادې دي، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥٓ ءَايَةً ﴾ څخه څرګندېږي چې عيسی عليه السلام او بي بي مريمه رضي الله عنها دواړه د قدرت يوه نښه ګڼل شوي دي حال دا چې دوی دواړه خو د متعددو قدرتي نښو لرونکي وه؟

مونږ وايو چې: د الله ﷻ په توفيق مونږ ذکر شوي سوال ته د [الأنبياء:٩١] ايت لاندې دري جوابونه ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## د څو لغاتو معناوې

۳_ په ﴿ وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾ کښې د لاندې لغاتو معناوې په ذهن کښې ونيسئ:

الف: د ﴿ رَبْوَةٍ ﴾ کلمه هغې لوړې هوارې ځمکې ته وضعه شوې ده چې نه په ژوره کښې واقع وي او نه د غره په څېر لوړه وي(١)، دغه ډول ځمکې ته په پښتو کښې "دښته" وايي.

ب: ﴿ ذَاتِ قَرَارٍ ﴾ يعنې هغه ځمکه چې اوسېدونکي يې پکښې په ارام سره اوسېدانه کوي(٢) او د اب هوا د ښه والي د کبله ترې بلې ځمکې ته د انتقال اراده نه لري.

ج: د ﴿ مَعِينٍ ﴾ د کلمې په اصلي تورو کښې اختلاف دی چې د "مَعْن" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده او د "م" توری پکښې اصلي دی(٣) چې "مَعْن" د اوبو بهېدلو ته ويل کېږي، او يا پکښې د "م" توری زائد دی او په وزن کښې "مَبِيع" ته ورته ده ته به وايې چې د "عَين" څخه به اشتقاقه شوې وي(٤). مګر نومړې کلمه هغو جارې اوبو ته وضعه شوې ده کومې چې د ځمکې په مخ باندې په څرګنده توګه بهېږي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: مونږ عيسی عليه السلام ته او د ده مور (مريمې رضي الله عنها) ته په داسې ځای کښې پنا ورکړه او هلته مو پکښې استوګنه ورپېرزو کړه کوم چې ډېره ښه آبُ هوا درلوده او د اوسېدونکو دپاره پکښې ټولې اړتياوې پوره وې، او په دې ټولو باندې علاوه جاري اوبه هم پکښې بهېدلې چې هر ډول ميوجاتو ورباندې وده کوله.

۴_ پاتې شوه دا خبره چې هغه کومه ځمکه وه چې په ايت شريف کښې ورته اشاره شوې ده؟ نو د دې جواب دا دی چې:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې په دې ايت کښې هغه مضمون منعکس شوی دی کوم ته چې په [مريم:٢٤] ايت کښې اشاره شوې ده ځکه چې هلته د ﴿ سَرِيًّا ﴾ کلمه نازله شوې ده چې يوه

---

(١) روح المعاني ج١٨ ص٣٨
(٢) زاد السير ج٥ ص٣٢۴
(٣) تفسير الکشاف ج٣ ص١٩٠
(۴) لسان العرب ج١٣ ص٢٠۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی یې "چینه" ده، چې دلته ترې په "مَعِین" سره تعبیر شوی دی چې د جاري (بهېدونکو) اوبو معنی ورکوي[۱].

په دې تفسیر سره په کار دي چې د ﴿ رَبْوَةٍ ﴾ کلمه د هغه ځای ځخه عبارت واخستله شي د کوم ځخه چې په [مریم: ۲۲] ایت کښې په ﴿ مَكَانًا قَصِيًّا ﴾ سره تعبیر شوی دی. دغه ځای ته بي بي مریمه رضی الله عنها په هغه وخت کښې ورغلې وه چې کله د عیسی ﷺ د زېږېدو وخت نژدې شوی وه.

ب: د اکثرو علماوو کرامو په نزد د دې ایت مصداق د هغه ایت د مصداق ځخه بالکل جدا دی، او دلته د ﴿ رَبْوَةٍ ﴾ د کلمې ځخه دمشق، یا فلسطین، یا مصر او یا بل وطن مراد دی چې په میوجاتو باندې ډک وه او سپېڅلې اوبه پکښې بهېدلې[۲].

دوی وایي چې کله عیسی ﷺ د دولس کلنۍ عمر ته ورسېد نو د وخت ظالم پاچا یې د ترورولو (وژلو) نقشه جوړه کړه، خو بي بي مریمې رضی الله عنها د خپل زوی د نجات دپاره د ذکرو شوو ښارونو ځخه یوه ښار ته پنا وړوړه او هلته یې سفر وکړ، ترځو د ظالم د منګولو ځخه نجات ومومي.

هو! کله چې ذکر شوی د وخت ظالم پاچا مړ شو نو دوی دواړه بېرته بیت المقدس ته راستانه شوه.

## تبصره

۵ـ مونږ ته د مقام په اعتبار سره همدغه دوهم تفسیر په زړه پوری برېښي، ځکه چې: د وړاندې ځخه په دې کښې بحث راروان دی چې الله ﷻ ظالمان هلاکوي او خپلو دوستانو ته ترې نجات ورکوي، او پوره واضحه ده چې د همدې مضمون سره دوهم تفسیر ډېر ښه پیوند نیسي، والله ﷻ أعلم.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُوا۟ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ۝٥١ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ
أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ۝٥٢ فَتَقَطَّعُوٓا۟ أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا
لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ۝٥٣ فَذَرْهُمْ فِى غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ۝٥٤ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن
مَّالٍ وَبَنِينَ ۝٥٥ نُسَارِعُ لَهُمْ فِى ٱلْخَيْرَٰتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ۝٥٦ ﴾

[۵۱] ای پیغمبرانو! د پاکېزه (او حلالو طعامونو) ځخه خورئ او نېک عمل کوئ، یقیناً زه په هغو عملونو باندې ښه پوه یم چې تاسو یې کوئ (او یا یې ستاسو امتیان کوي).

[۵۲] او یقیناً دغه شریعت (او دین) ستاسو (ټولو) شریعت (او دین) دی په داسې حال کښې چې

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۴۶
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۱۰؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۸۹؛ الدر المنثور ج۶ ص۱۰۱؛ البحر المحیط ج۷ ص۵۶۵؛ روح المعاني ج۱۸ ص۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


(فقط) يو شريعت (او يو دين) دی، او زه ستاسو (ټولو) رب (تربيه کوونکی) يم نو (خاص) زما څخه وډار شئ (او زما د عذاب څخه خانونه وساتئ، همدغه خاصيت ته ادامه ورکړئ).

[۵۳] نو د پيغمبرانو امتيانو خپل (د دين) کار په خپلو منځو کښې په ډېرو ټوټو سره پرې کړ (چې په همدې هکله ډلې- ډلې شوه او) هره ډله په هغه دين باندې خوشالي کوونکې وه کوم به چې ورسره وه (هر چاته خپل خان په حقه برېښېده).

[۵۴] نو (ای پيغمبره!) ته دوی (د خپل وخت منحرفين) تر څه وخته پورې په خپل جهالت کښې پرېږده (چې د هلاکت وخت يې لا نه دی را رسېدلی).

[۵۵] ايا دوی (د وخت کفار) ګومان کوي چې يقيناً هغه شيان چې مونږ ورسره پرې امداد کوو چې د مال او زامنو څخه عبارت دي.

[۵۶] (داسې ګومان چې) مونږ ورته (د هغو په ورکړې سره) د خير په رسولو کښې جلتي کوو؟ (دا به د دوی په ګټه باندې تمام شي؟).

(دغسې نه ده) بلکې دوی (پرې) شعور نه لري (دوی نه پوهېږي چې دا استدراج دی او په ضرر به يې تمام شي).

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د نوح ﷺ څخه نيولې آن د عيسی ﷺ پورې د ټولو پيغمبرانو حالاتو ته په اجمالي توګه اشاره شوې وه او په دې ايتونو کښې په همدغو حالاتو باندې يوې تبصرې ته اشاره کېږي چې خلاصه يې په لاندې ډول لاس ته راځي:

۱_ که څه هم د پيغمبرانو تعداد يو لک څلېريشت زره (۱۲۴۰۰۰) تنو _شاوخوا_ ته رسېږي مګر دوی ټول په عقايدو او په عقيدوي بنيادونو کښې او هم د فروعو په کلياتو کښې متفق او متحد وه، د همدې کبله مونږ هر يوه ته په خپل وخت کښې دا ارشادات کړي وه چې:

الف: ای پيغمبرانو! تاسو ټول پاکيزه څېزونه خورئ او د حرامو څخه خپل ځانونه بچ ساتئ، او همدارنګه د لذيذو او سپېڅلو شيانو څخه استفاده کوئ، او په خپلو ځانونو باندې يې مه حراموئ چې رهبانيت غوره کړئ.

ب: تاسو ټول صالح عملونه کوئ او په شرعي چوکاټ کښې فرعي احکام پياده کړئ، يا په بل عبارت لکه چې تاسو ټول په عقيدوي احکامو کښې متفق ياست همدارنګه د صالحو اعمالو په اجراء کښې هم متفق اوسئ، خو دا بېله خبره ده چې د زمانو په تفاوت سره صالح اعمال تفاوت کوي.

ج: او دا ځکه چې يقيناً زه په هغو ټولو اعمالو باندې چې تاسو او ستاسو امتيان يې اجراء کوي پوه يم چې هيڅ يو عمل راڅخه پټ نه دی.

د: ای پيغمبرانو! دغه دين _چې وړاندې ورته اشاره وشوه_ همدغه ستاسو د ټولو دين دی چې په اساساتو کښې هيڅ اختلاف او تباين نه لري. نو تاسو خپلو-خپلو امتيانو ته توصيه وکړئ او ورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابلاغ کړئ چې د عقیدوي اختلافاتو څخه ځانونه بچ وساتي او په خپلو منځو کښې اسلامي اخوت (ورورولي) خرابه نه کړي.

۵: همدارنګه تاسو هغوی ته زما د پلوه ابلاغ کړئ چې یوازې همدا زه ستاسو د ټولو رب یم نو یوازې زما د عذاب څخه وډار شئ او په هیڅ شي کښې راسره شریک او شریکان مه دروئ.

۲_ ټولو پیغمبرانو الهي ارشاد په عمل کښې پیاده کړ، لکه څنګه چې په عقیدوي احکامو کښې متحد او متفق وه همدارنګه یې په عملي احکامو کښې هم بالکل اختلاف ونه کړ، مګر د هغو امتیانو د خپلو پیغمبرانو د ارشاداتو څخه غاړې وغړولې او د خپل الهي دین کار یې په خپلو منځو کښې په ډېرو ټوټو سره جدا-جدا کړ؛ یوه ډله په یوه عقیدوي لاره باندې روانه شوه او بلې ډلې خپل ځان ته بله عقیدوي لاره خوښه کړه، بلکې هرې ډلې خیال کاوه چې فقط د همدوی اختراعي لاره حقه لاره ده او نورې ټولې باطلې لارې دي، یا په بل عبارت: یوازې همدوی حق ته رسېدلي دي او نورې ټولې ډلې د حق څخه منحرفې دي او د دې وړ دي چې جنګ او جګړه ورسره پیل شي.

۳_ ای پیغمبره! ستا د زمانې کفار هم د همدغو ډلو څخه (کومو چې د پیغمبرانو د خط السیر څخه انحراف کړی دی) یوه ډله ده چې خپلو ځانونو ته یې عقیدوي مزخرفات او اباطیل راغونډ کړي دي چې دا زمونږ پلرنی حق دین دی، او په همدې باندې خوشاله دي.

نو زمونږ د پلوه تاته توصیه ده چې دوی په دغه جهالت کښې د ابلاغ او دعوت څخه وروسته پرېږده ترڅو چې دوی د خپل هلاکت هغه وخت ته ورسېږي کوم چې ورته زمونږ په علم کښې ټاکلی شوی دی، نو دوی به هم همغسې د الهي غضب لاندې واقع شي لکه څنګه چې پخوانۍ باطلې ډلې ترې لاندې واقع شوې وې.

۴_ ای پیغمبره! ایا ستا د زمانې باطلې ډلې خیال کوي چې د کومو مالونو او زامنو امداد چې مونږ ورسره کوو او د کفر سره-سره مو ورته ښه پرېمانه ورکړي دي، دا کار مونږ د دوی په ګټه کوو، او دوی په مونږ باندې قدر او عزت لري چې هیڅکله به یې په خپل غضب باندې اخته نه کړو؟ دغسې نه ده بلکې دوی شعور نه لري، دوی نه پوهېږي چې مونږ ورسره دا کار استدراجًا کوو ترڅو د دوی د جنایاتو پېټی ښه غټ شي، همدارنګه دوی نه پوهېږي چې مالونه او اولادونه دنیاوي شیان دي چې زمونږ په نزد چندان ارزښت نه لري، او مونږ یې دوستانو او دښمنانو دواړو ډلو ته ورکوو، بلکې زمونږ ورکړه په دنیا کښې دیوې ډلې څخه هم ممنوعه نه ده.

## توضیحات

۱_ یوه ورځې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وفرمایل چې: «أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ»[۱] یعنې ای خلکو! یقینًا الله ﷻ پاک (منزه) دی نو د خپلو بندګانو د اعمالو څخه نه قبلوي مګر پاکیزه، او همدارنګه الله ﷻ مؤمنانو ته په هغه شي

[۱] صحیح مسلم ج۲ ص۳۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې امر کړی دی په کوم باندې یې چې پیغمبرانو ته امر کړی دی. بیا نو نبي کریم ﷺ د استشهاد دپاره لاندې دوه ایتونه قرائت کړه:

الف: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًا ﴾ یعنې ای پیغمبرانو! پاکیزه او حلال شیان خورئ او صالح عملونه کوئ.

ب: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ ﴾ [البقرة:١٧٢] یعنې ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو د هغو پاکېزه (او حلالو) شیانو څخه خورئ کوم چې مونږ تاسو ته روزي کړي دي.

## أمة څه معنی؟

٢_ په ﴿ وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ کښې د ﴿ أُمَّةً ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود:٨] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې په قرآن کریم کښې په څلورو معناوو باندې استعمال شوې ده او یوه معنی یې دین او شریعت دی.

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبرانو! یقیناً ستاسو دغه دین د الله ﷻ په نزد مقبول دین دی چې په عقائدو کښې عموماً او په فروعو کښې د کلیاتو په اعتبار سره یکې یو دین دی، او یوازې زه ستاسو رب یم نو خاص زما څخه وډار شئ.

په یاد ولرئ چې که څه هم په ذکر شوي ایت کښې خطاب پیغمبرانو ته متوجه دی خو په حقیقت کښې خلک (د دوی اُمتیان) په غوږ وهل شوي دي، د همدې کبله د متصل ایت په ﴿ فَتَقَطَّعُوٓاْ ﴾ کښې همدوی ته ضمیر راجع دی، که څه هم دوی وړاندې په صراحت سره ذکر نه دي مگر د معنی او مقام په اعتبار سره ذکر دي چې د پیغمبرانو سره اُمتیان لازم وي.

## هېر مو نه شي!

٣_ هېر مو نه شي چې په عین مضمون باندې الله ﷻ په بل ایت کښې صراحت کړی دی چې: ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ [الأنبياء:٩٢] یعنې ای خلکو! یقیناً دغه دین ستاسو دین دی چې د الله ﷻ په نزد مقبول دی او په اصولو کښې او هم د فروعو په کلیاتو کښې متحد دی، او همدا زه ستاسو تولو رب یم نو خاص همدا زما عبادت وکړئ او بس.

## زُبُرَةٌ څه معنی؟

٤_ په ﴿ فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ زُبُرٗا ﴾ کښې د "زُبُر" کلمه د "زُبْرَةٌ" _لکه "غُرْفَةٌ"_ جمعه ده، "زُبْرَةٌ" کله په "زُبُر" سره جمعه کېږي چې د "ب" توری یې هم پېښ لري لکه چې په همدې ایت کښې د "ب" توری پېښ لري؛ او کله په "زُبَر" سره جمعه کېږي چې د "ب" توری پکښې زوَر لري لکه چې د [الکهف:٩٦] ایت کښې ورباندې جمعه شوې ده.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر تقدير د "زُبْرَة" كلمه د يوه شي كلكې ټوټې ته وضعه شوې ده[۱]، نو په دې مقام كښې يې د "زُبُرًا" معنی حاصل داسې راځي چې: كه څه هم الهي دين يو دين دی چې ټولو پیغمبرانو خپلو- خپلو امتونو ته ابلاغ كړی دی، مګر خلكو پكښې اختلاف كړی دی او په متعددو ټوټو باندې يې وېشلی دی، او هرڅه د يوې خاصې ټوټې په دې لحاظ پيروي كړې ده چې همدوی په حقه لاره روان دي، همدوی حق دين موندلی دی او نورو لاره غلطه كړې ده.

ذكر شوی اختلاف ځينو خلكو د پيغمبرانو په تعدد باندې متعدد ګرځولی دی چې د موسى ﷺ د دين پيروان د عيسى ﷺ د دين پيروي نه كوي، او د عيسى ﷺ پيروان د موسى ﷺ پيروی ته غاړه نه ږدي او داسې نور، او ځينو نورو خلكو د يوه پيغمبر په پيروی كښې متعددې لارې اختراع كړي دي او حقيقي حقه لاره يې پكښې وركه كړې ده، همدغو خلكو ته په لاندې حديث كښې اشاره شوې ده:

نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «افْتَرَقَتِ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، فَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ، وَافْتَرَقَتِ النَّصَارَى عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، فَإِحْدَى وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَتَفْتَرِقَنَّ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً فَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ» يعنې يهود په يو اويا (۷۱) ډلو باندې وېشلي شوي وه چې فقط يوه يې په جنت كښې ده (په حقه لاره باندې روانه وه) او اويا ډلې يې په اور كښې دي چې په باطلو لارو باندې روانې وې، همدارنګه نصارا په دوه اويا (۷۲) ډلو باندې وېشلی شوي وه چې يو اويا ډلې يې په اور كښې دي او فقط يوه ډله يې په جنت كښې ده. او زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي د چا په لاس كښې چې د محمد (زما) نفس دی، چې ضرور هرومرو زما امت به په درې اويا (۷۳) وو ډلو باندې جدا-جدا شي چې يوه به يې په جنت كښې وي او دوه اويا ډلې به يې په اور كښې وي چې په باطلو لارو به روان وي.

چا پوښتنه وكړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! مَنْ هُمْ؟» ای د الله رسوله! دغه جنتي ډله څوک دي؟ نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «الْجَمَاعَةُ»[۲] يعنې دا د أهل السنة والجماعة ډله ده، كومه چې په هغې لاره باندې روانه ده چې زه او زما صحابه كرام ﷺ ورباندې روان ياستو.

## د غمرة معنی

۴ـ په ﴿ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ ﴾ كښې د "غَمْرَة" كلمه اصلاً د هغو ژورو اوبو د پاره وضعه شوې ده چې سړی پكښې ډوبېږي او په سر باندې يې اوړي[۳]، مګر په دې مقام كښې مفسرينو كرامو[۴] په جهل او معنوي ړندوالي باندې تفسيره كړې ده، ته به وايې چې كفار د جهل او معنوي ړندوالی په درياب كښې د سر څخه تر پښو پورې ډوب دي او د ماهيانو په شان پكښې لامبو وهي.

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۱٦؛ القاموس المحيط ج۲ ص۴۳۰

(۲) سنن ابن ماجه ص۲۸۷

(۳) لسان العرب ج۵ ص۲۹

(۴) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۳۸؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۱۹۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! تا خو خپله دنده ترسره کړه او دین دې ورته ابلاغ کړ، نور یې پرېږده، وربانديې غمژن کېږه مه، ترڅو د دوی دپاره تاکلی وخت ور ورسېږي او د خپل خط السیر سزا وګوري.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ۝٥٧ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ۝٥٨
وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ۝٥٩ وَٱلَّذِينَ يُؤْتُونَ مَآ ءَاتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ
رَٰجِعُونَ ۝٦٠ أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَهُمْ لَهَا سَٰبِقُونَ ۝٦١ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا
وُسْعَهَا ۖ وَلَدَيْنَا كِتَٰبٌ يَنطِقُ بِٱلْحَقِّ ۚ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝٦٢ ﴾

[۵۷] یقینًا هغه کسان چې دوی د خپل رب ﷻ د ډار (او هیبت) څخه (په خپلو ځانونو باندې) ډارېدونکي دي (چې چرته راته په غضب نه شي).

[۵۸] او هغه کسان چې دوی د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې (په مستمره توګه) ایمان راوړي (او خپل ایمان ته وربانديې ادامه ورکوي).

[۵۹] او هغه کسان چې دوی د خپل رب ﷻ سره (هیڅ شی او هیڅوک) نه شریکوي.

[٦۰] او هغه کسان چې دوی (د الله ﷻ په لاره کښې) هغه څه په داسې حال کښې ورکوي کوم چې ورکوي، چې زړونه یې د دې خبرې څخه ډارېدونکي وي چې یقینًا دوی خپل رب ﷻ ته (د قیامت په ورځ) راجع کېدونکي دي (نو دغه نفقات به یې مقبول وګرځي او که نه).

[٦۱] (یقینًا) دغه (څلور واړه ډلې) په خیریه کارونو کښې تاند وهي (او د پیغمبرانو په متحد حق دین باندې کلک دي) او (همدارنګه) دوی خیریه (او نېکو) کارونو ته (د نورو څخه) سبقت کوونکي دي (دوی پسې هیڅوک نه شي رسېدلی).

[٦۲] او مونږ هیڅ نفس (هیچا) ته مکلفیت نه متوجه کوو مګر د هغه د توان په اندازه.

او (په دې باندې علاوه) زمونږ په نزد (د هر مکلف انسان دپاره) کتاب دی (چې روزمره کړه وړه یې پکښې لیکلی کېږي او د قیامت په ورځ به) په حقه خبرې وکړي (د واقع په مطابق به بیان وکړي)، حال دا چې په دوی (مکلفانو) باندې به (هیڅ) ظلم (تېری) ونه کړی شي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو په مضمون کښې دا خبره هم شامله وه چې د ټولو پیغمبرانو متحد الهي دین خلکو په زښتنو ډېرو ټوټو باندې ووېشه، چې حقیقي مقبول دین یې پکښې ورک کړ او هرې ډلې یوازې خپل ځان په حقه وګڼه. په دې ایتونو کښې د هغې ډلې مشخصات ښودلي شوي دي کومه چې رښتیا په حقیقي دین باندې پاتې ده. یا په بل عبارت: په دې ایتونو کښې بو خل بیا د پیغمبرانو د متحد دین څه امتیازاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١_ ای پیغمبره! یو ځل بیا د ټولو پیغمبرانو د متحد دین ځینې مشخصات خلکو ته په لاندې ټکو کښې خلاصه کړه چې:

الف: یقیناً د الهي حق دین پیروان هغه کسان دي چې دوی په هر کار کښې د خپل رب ﷻ له هیبته او د خپلې کمزورۍ د کبله په خپلو ځانونو باندې ډارېږي چې په عذاب باندې مو مبتلا نه کړي او په خپل غضب باندې مو اخته نه کړي.

ب: دوی هغه کسان دي کوم چې د خپل رب ﷻ په قدرتي دلائلو باندې په دوامداره توګه باور کوي او د معجزاتو فرمایش نه ورکوي، چې فلانکۍ او بستانکۍ معجزه راوړه نو بیا به ایمان راوړو.

ج: دوی په هیڅ وجې سره د خپل رب ﷻ سره شریک او یا شریکان نه دروي، او په عبادت او هم په ټولو کارونو کښې یې واحد او لا شریک ګڼي.

د: په حقه لاره او د پیغمبرانو په متحده لاره باندې هغه کسان روان دي کوم چې د خپل رب ﷻ د رضا حاصلولو دپاره خپل مالونه په داسې حال کښې فقیرانو او مستحقینو ته ورکوي چې زړونه یې په ډار کښې وي چې: دغه ده د قیامت ورځ راروانه ده او مونږ د خپل رب ﷻ په حضور کښې ودرېدونکي یاستو، نو زمونږ دغه صدقات به د الله ﷻ په نزد کښې مقبول ګرځېدلي وي چې هلته مو د نجات سبب شي او که به مقبول نه وي ګرځېدلي؟

یا په بل عبارت: مؤمنان او په حقه لاره باندې روان هغه کسان دي چې ایمان یې د خوف او رجاء ترمنځ قرار لري، نو د خپل رب ﷻ په عین اطاعت کښې ترې ډارېږي هم.

نو دغه کسان –چې وړاندې یې ځینې مشخصاتو ته اشاره وشوه– هغه کسان دي چې په حقیقي معناوو کښې د خیر په کارونو اوښېګڼو کښې تاند وهي او په صدق سره د پیغمبرانو په لاره باندې روان دي، او د هرچا څخه دغې حقې لارې ته سبقت کوونکي دي او د هر چا څخه پکښې وړاندې دي.

٢_ ای پیغمبره! مونږ د ټولو پیغمبرانو متحد دین داسې نه دی ګرځولی چې د خلکو د وسې او توان څخه لوړ وي، او دا ځکه چې مونږ هیڅوک نه مکلف کوو مګر د هغه د توان او وسې په اندازه.

هو! که څوک د مکلفیاتو څخه علاوه د خپل ځان دپاره فضائل حاصلوي، نو د هغوی دپاره مخه خلاصه ده، هر څومره مشقتونه چې په دین کښې وګالي په هماغې اندازه به ثوابونه او اجرونه ترلاسه کړي او په اعمالنامو کښې به یې ولیکل شي. نو د قیامت په ورځ به همدغه د اعمالو کتابونه په حقه سره خپل محتویات بیان کړي او په هیچا باندې به تېری او ظلم ونه کړی شي چې د ثوابونو او اجرونو څخه یې څه کمبود صورت ونیسي.

## توضیحات

١_ په ﴿ مِّنۡ خَشۡيَةِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ ﴾ کښې د ﴿ مُّشۡفِقُونَ ﴾ کلمه اصلاً د "شَفَقَة" څخه اشتقاق شوې ده چې د الله ﷻ په توفیق مونږ د [الأنبياء:٢٨] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده، بیا تحلیلولو ته یې ارتیا نه ګورو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ماثور تفسير

۲ـ يوه ورځې بي بي عائشې (أم المؤمنين رضي الله عنها) د نبي كريم سره د ﴿ وَٱلَّذِينَ يُؤْتُونَ مَآ ءَاتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَٰجِعُونَ ﴾ د تفسير په هکله سوال جواب وکړ[۱] چې مونږ يې په لاندې تکو کښې خلاصه ليکو:

الف: أُم المؤمنين وويلې چې: اى د الله رسوله! ايا په ذكر شوي ايت شريف كښې جنايتكاران مطلب دي چې شراب خوري خو زړونه يې په ډار كښې وي، او يا غلا كوي خو د قيامت د ورځې ډار يې په زړو كښې وي او يا داسې نور؟

ب: نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: دغسې نه ده بلكې په دغه ايت كښې نيكو كاران مطلب دي چې لمونځونه كوي او روژې نيسي او بالآخره خيراتونه وركوي خو د دې سره- سره زړونه يې د قيامت د ورځې څخه په ډار كښې وي چې: ايا مونږ به دغه نېک اعمال په هغه شان سره اداء کړي وي په کوم باندې چې پرې الله ﷻ راضي كېږي؟ ايا زمونږ دغه نېک اعمال به د الله ﷻ په حضور كښې مقبول ګرځېدلي وي او كه څنګه؟

د ذكر شوي حديث مضمون د ابن مليكة عليه الرحمة په روايت كښې هم منعكس شوى دى چې وايي: «أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلَى نَفْسِهِ»[۲] يعنې ما د نبي كريم ﷺ د صحابه وو كرامو ﷺ څخه دېرش تنه موندلي دي (او ملاقات مې ورسره شوى دى چې) هر يو په خپل ځان باندې د نفاق څخه ډارېده.

﴿ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِى غَمْرَةٍ مِّنْ هَـٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَـٰلٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَـٰمِلُونَ (٦٣) حَتَّىٰٓ إِذَآ
أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِٱلْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْـَٔرُونَ (٦٤) لَا تَجْـَٔرُوا۟ ٱلْيَوْمَ ۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ
(٦٥) قَدْ كَانَتْ ءَايَـٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَـٰبِكُمْ تَنكِصُونَ (٦٦) مُسْتَكْبِرِينَ بِهِۦ
سَـٰمِرًا تَهْجُرُونَ (٦٧) أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا۟ ٱلْقَوْلَ أَمْ جَآءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ ءَابَآءَهُمُ ٱلْأَوَّلِينَ (٦٨)
أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا۟ رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ (٦٩) أَمْ يَقُولُونَ بِهِۦ جِنَّةٌۢ ۚ بَلْ جَآءَهُم
بِٱلْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَـٰرِهُونَ (٧٠) وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلْحَقُّ أَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ
وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ بَلْ أَتَيْنَـٰهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ (٧١)

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۱؛ مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۱۹

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ
صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ ﴿٧٤﴾

[۶۳] (داسې نه ده چې د دین تعمیل سخت دی) بلکې د کفارو زړونه د دغه دین (قران کریم) څخه په ژور جهالت کښې (واقع) دي، حال دا چې دوی لره د دغه (جهالت) څخه په غیر (نور کفري) اعمال هم دي چې دوی یې په دوامداره توګه اجراء کوونکي دي.

[۶۴] (چې) تر هغه (به وربانديې اخته وي) ترڅو چې مونږ د دوی اسوده حال کسان په عذاب سره ونیسو نو ناڅاپه به دوی فریادونه (او واویلا) کوي.

[۶۵] (نو په دغه وخت کښې به ورته وویل شي چې:) نن ورځ فریاد (واویلا) مه کوئ (او دا څکه چې) یقینًا تاسو زمونږ د پلوه نصرت (مدد) کړی شوي نه یاست (ستاسو فریاد نه قبلېږي).

[۶۶] (او دا څکه چې) یقینًا زما ایتونه په تاسو باندې لوستل کېدل (چې تاسو وربانديې ایمان راوړئ) خو تاسو وئ چې په خپلو پوندو باندې مخ بېرته (مخ پشا) تللئ.

[۶۷] (البته) په داسې حال کښې چې (په اسلامي دین باندې) لويې (تکبر) کوونکي وئ، په داسې حال کښې (د شپې د پلوه) د سپوږمۍ رڼا ته وربانديې د مجلسونو جوړونکي وئ، په داسې حال کښې چې (په دغه مجالسو کښې) به مو (د قرآن کریم) د مهجوریت خبرې کولې (چې دا جادو دی او محمد جادوګر دی او داسې نور).

[۶۸] ایا نو کفار په خبره (قرآني دعوت) کښې فکر (سوچ) نه کوي (چې حقانیت یې ورڅرګند شي) او یا دوی ته هغه شی ورغلی دی کوم چې د دوی اولنیو (پخوانیو) پلرونو ته نه وه ورغلی؟

[۶۹] ایا کفار خپل پیغمبر (محمد ﷺ) نه پېژني نو دوی ورسره نااشنا دي؟ (نو څکه پرې ایمان نه راوړي)؟!

[۷۰] ایا دوی وایي چې د دوی په پیغمبر (محمد) پوري لیونتوب دی؟!

(دغسې نه ده) بلکې دوی ته محمد ﷺ په حقه (د پیغمبر په حیث) ورغلی دی او د دوی اکثریت حق لره نه خوښوونکي دي.

[۷۱] او که چرته (بالفرض) حق د کفارو د خواهشاتو تابع وګرځي (څه چې دوی وایي هغه حقیقت مونده کړي) نو اسمانونه به فاسد (رنګ) شي او ځمکې هم او هغه څوک به هم (د منځه لاړ شي) چې په دغو (اسمانونو او ځمکو) کښې (مېشت) دي.

(خو واقعیت دغسې نه دی) بلکې (واقعیت دا دی چې) مونږ ورته (د پیغمبر په ذریعه) پند (او شرف) ورورې دی خو دوی د خپل پند (او شرف) څخه اعراض کوونکي دي.

[۷۲] ایا ته (ای پیغمبره!) د کفارو څخه څه خرڅه (مال) غواړې (چې فقط د یو ځل دپاره یې د درکولو التزام وکړي)؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (ستا دپاره) ستا د رب ﷻ دوامداره التزامي ورکړه (اجرونه او ثوابونه) ډېر بهتر دي، او دا ځکه چې) ستا رب ﷻ د روزي ورکوونکو بهتر (روزي ورکوونکی) دی.

[۷۳] او یقینًا ته چې یې (ای پیغمبره!) ضرور دوی (کفار) برابرې لارې ته دربولې (خو دوی یې نه قبلوي).

[۷۴] او یقینًا هغه کسان کوم چې په وروستنی (ورځ) باندې ایمان نه راوړي د (سمې لارې) څخه ځنګ کوونکي دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې باندې هم شامل وه چې د ټولو پیغمبرانو متحد دین دین دی چې هر مکلف یې له باره په اساني سره وتلی شي او د هر چا سر وړباندې خلاصېږي. په دې ایتونو کښې د یو پلوه هغې وجې ته اشاره شوې ده کومه چې د کفارو دپاره د ایمان د نه راوړلو اصلي باعثه ده او د بله پلوه د دوی هغه فاسد استدلالات رد شوي دي د کومو څخه به چې دوی د ایمان نه راوړلو دپاره د بهانو انو په حیث کار اخست، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپلې زمانې د کفارو په هکله (چې په کفر باندې کلک دي او ایمان نه راوړي لاندې نکات قرائت کړه:

۱ـ د کفارو د ایمان د نه راوړلو وجه دا نه ده چې د ټولو پیغمبرانو متحد دین (چې دوی وړبلل کېږي) سخت دی او دوی یې د اجراء کولو توان نه لري بلکې اصلي وجه یې دا ده چې:

الف: کفار د دین او د قرآن څخه په ډېر غټ غفلت کښې پراته دي چې د سر څخه نیولې آن تر پښو پورې پکښې ډوب دي، نو د لږ تفکر او سوچ څخه هم کار نه اخلي ترڅو حقیقت ته څه توجه وکړي.

ب: دوی د جهالت او غفلت څخه علاوه نور داسې اعمال اجراء کوي چې د ایمان راوړلو مخه یې نیسي او روزمره یې د واقعیت څخه لرې کوي، هغه دا چې دوی د الله ﷻ کتاب (قرآن کریم) د جادو او شعر په نامه یادوي او د الله ﷻ په رښتیاني پیغمبر باندې د کوډګر او دروغژن نومونه ږدي او داسې نور.

۲ـ له دې کبله چې د وخت کفار د حقیقت موندلو لارې ته بالکل ورنژدې کېږي هم نه، نو:

الف: دوی به تر هغه پورې په همدې غفلت او جهالت کښې پراته وي ترڅو چې مونږ د دوی په هغو اسوده حالو کسانو باندې خپل عذاب ورنازل کړو کوم چې نه پخپله ایمان راوړي او نه موقع ورکوي چې پیروان یې په ایمان باندې مشرف شي.

ب: هو! چې کله ورباندې مونږ خپل عذاب ورنازل کړو نو دوی به په هغه وخت کښې د غفلت له خوبه راپېدار شي او فریادونه به کوي او په چیغو چیغو به وایي چې: مونږ ایمان راوړی دی او په خپلو کړو وړو باندې پښېمان یاستو.

ج: په دغه وخت کښې به نه د کفارو چیغې او فریادونه واورېدلی شي او نه به یې ایمان راوړل د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قبول درجې ته ورسېږي بلکې په دغه وخت کښې به ورته وويلی شي چې: نن ورځ ستاسو سره په هيڅ وجه نصرت او کومک نه کېږي، نه مو ايمان قبلېږي او نه ستاسو څخه د عذاب مخه اړوله کېږي، او دا ځکه چې:

د: ستاسو څخه وخت د لاسه وتلی دی، تاسو خو هغه وخت درېه زړه کړئ چې زما ايتونه به په تاسو باندې په مستمره توګه لوستل کېده ترڅو تاسو د جهالت له خوبه راوينښ شئ او ايمان راوړئ، مګر تاسو به په دوامداره توګه په خپل کفر باندې کلک وئ او د هر خل دعوت په وړاندې به بېرته په خپلو پوندو باندې خپلې کړنلارې ته ورتاوېدلئ.

ه: تاسو به په قرآن کريم (زموږ په ايتونو) او په پيغمبر ﷺ باندې خپل ځانونه لوی ګڼل او ايمان راوړل به درته پرې حقارت او سپکاوی برېښېده.

و: بلکې تاسو به په داسې حال کښې ترې هجران او جدايي غوره کوله چې په خپلو شپېنيو مجالسو کښې به مو ورپورې ملنډې وهلې او په ډول-ډول بدو نومونو به مو يادول.

۳_ لنډه دا چې کفارو ته د فکر او سوچ کولو دپاره ښه کافي وخت ورکړی شوی وه چې حقيقت درک کړي او د راتلونکي د پښيمانۍ څخه خپل ځانونه بچ کړي، مګر دوی دغه کافي وخت په چټياتو اوپروپاګند باندې ضائع کړ او خپل کفر يې پرې لا پياوړی کړ.

اوس نو کفارو ته د تخجيل دپاره لاندې پوښتنې متوجه کېږي چې:

الف: ايا نو دوی په کافي وخت کښې د پيغمبر ﷺ په خبره او الهي دعوت کښې سوچ او فکر ونه کړ؟ که دا کار يې کړی وی نو نن به د پښيمانۍ سره مخامخ نه وی.

ب: ايا دوی ته هغه څوک د پيغمبر په حيث ورغلی وه کوم چې د هغه غوندې انسان د دوی پخوانيو پلرونو ته نه وه ورغلی؟

که بالفرض الله ﷻ پخوانيو قومونو ته پرښتې د پيغمبرانو په حيث ورلېږلې وی اود دوی دپاره يې دغه طريقه بدله کړې وی او انسان ته يې نبوت ورکړی وی، نو بيا به هم د دوی د ايمان نه راوړلو او عدم تدبر دپاره يوه وجه موندله شوې وه، خوحقيقت دا دی چې د ټولو پيغمبرانو لړۍ د انسانانو څخه تشکيله شوې ده او هيڅ قوم ته د پيغمبر په حيث پرښته نه ده ورلېږلې شوې.

ج: ايا دوی خپل پيغمبر نه پېژانده چې په همدوی کښې يې څلوېښت کاله عمر په ډېر عفت او صداقت سره تېر کړی وه، چې په هيڅ انسان پورې يې دروغ او بهتان نه وه تړلی؟

نو ايا هغه څوک چې په ځوانۍ کښې يې په چا پورې دروغ نه وي تړلي، هغه به د بوډاتوب په حال کښې دغه کار ته لاس واچوي؟ ايا هغه څوک چې په انسان باندې دروغ تړل جائز نه بولي هغه به په الله ﷻ پورې دروغ تړل جائز وګڼي چې زه يې د پيغمبر په حيث را استولی يم؟.

که بالفرض کفارو خپل پيغمبر نه پېژاندلی نو بيا به هم د حق تدبر او فکر په نه کولو کښې د څه ناڅه دليل درلودونکي شوي وی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: ایا کفار وایي چې دغه شخص چې د نبوت دعوه ګیر دی په لیونتوب باندې اخته دی؟ او د لیوني په خبرو کښې څه فکر او تدبر په کار نه دی.

خو واقعیت دا دی چې د وخت کفار زمونږ پیغمبر ښه پېژني چې لیونتوب ورپورې نښته او ښه هوښیار سړی دی، چې نه یې کړه وړه لیونیانو ته ورته دي او نه د هغوی غوندې بې هوده خبرې اترې کوي.

بلکې حقیقت دا دی چې زمونږ پیغمبر هغوی ته په حقه سره وراستولی شوی دی خو د کفارو اکثریت عنادیان دي او د عناد د کبله د پوهې سره-سره په حقیقت باندې پښې ږدي، او عام خلک یې روند تقلید کوي، بلکې دوی ټول حق نه خوښوي او غواړي چې حقائق د خپلو خواهشاتو او بې هوده غوښتنو تابع وګرځوي. او که بالفرض المحال حقائق خپل ماهیت بدل کړي او د دوی د خواهشاتو پیرو جوړ شي او همغه شی موجودیت مونده کړي کوم چې دوی یې غواړي او همدوی ورباندې معتقد دي، نو هرومرو او ضرور به دنیا ورانه شي، اسمانونه به راولوېږي او غرونه به دړې وړې شي بلکې هیڅ ساکښ به ژوندی پاتې نه شي، او دا څکه چې د کفارو ډېر مهم خواهش شرک دی حال دا چې دنیا په توحید باندې ودانه ده.

نو پورتنۍ وجې ته په کتلو سره دا جوتیږي چې کفار په لوی لاس د خپلو ځانونو دپاره قبر کني او خپل هلاک غواړي چې حق د خپلو خواهشاتو تابع جوړوي.

بلکې مونږ ټولو انسانانو ته د کفارو په شمول هغه شی ورلېږلی دی په کوم کښې چې د دوی ژوند او د دوی عزت او شرف نغښتی دی. مګر دوی خپل ژوند او خپل عزت او بالآخره خپل پند او عبرت نه غواړي، نو د همدې کبله د قرآن کریم څخه مخونه اړونکي دي او په دوامداره توګه ورباندې کفر غوره کوي.

ای پیغمبره! ایا ته د کفارو څخه په دعوت باندې څه خرڅه او څه مزدوري غواړې، چې دوی یې له توانه نه شي وتلی او نه غواړي چې په همدې هکله څه انفاق وکړي نو د همدې کبله ستا د دعوت په مقابل کښې لیت او لعل کوي او په ډول-ډول بهانو انو باندې اخته دي؟!. که بالفرض تا دا کار کولی نو په دې صورت کښې به هم هغوی ته چندان د ملامتۍ ګوته نه وی نیولې شوې، خو حقیقت داسې نه دی.

حقیقت دا دی چې ته د کفارو څخه هیڅ مادي ګټه نه غواړې او نه ترې تمه کوې، بلکې کوم اجر او مزدوري چې تاته خپل رب ﷻ په خپل دربار کښې ټاکلې ده هغه ستا دپاره د هر ډول مادیاتو څخه غوره او بهتره ده. په دې باندې علاوه، د مطلقې روزۍ ورکړه ستا د رب ﷻ په واک او اختیار کښې ده او بس او همدی ﷻ بهتر روزي ورکوونکی دی، نو د همدې کبله ته د کفارو څخه نه د څه شي تمه کوې او نه د هغوی په وسه کښې څه شته دي چې تاته یې درکړي.

۴_ ای پیغمبره! رښتیا خبره دا ده چې ته یقینًا صرف او صرف لله في الله خلک توحید ته دعوتوې او ټول اجر او ثواب د الله ﷻ څخه غواړې او بس؛ خو کفار دا خبره نه مني او ستا دعوت په مادي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بانديې حملوي، نو د دوی د دغه کار اصلي وجه دا ده چې دوی د آخرت او د مرګ څخه وروسته غرض بياژوندون څخه انکار کوي ترڅو ـ په خپل خيال ـ د سوال جواب سره مخامخ نه شي، نو د همدې کبله دوی هغې سمې لارې ته شا کوي او مخونه ترې اړوي د کومې دپاره چې ته هغوی ته دعوت ورکوې چې: ای خلکو! کفري لاره پرېږدئ او په حقې سمې اسلامي لارې باندې تلل غوره کړئ.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴾ په تفسير کښې علماوو کرامو ښه اوږده بحثونه کړي دي[1] خو کوم تفسير چې مونږ ته غوره ښکاره شوی دی هغه په لاندې ټکو ولاړ دی:

الف: په ﴿ فِي غَمْرَةٍ ﴾ کښې د ﴿ غَمْرَةٍ ﴾ کلمه د همدې سورت د [۵۴] ايت لاندې شرحه شوې ده چې د معنوي ړوندوالي او ژور جهالت څخه عبارت ده.

ب: په ﴿ مِّنْ هَٰذَا ﴾ کښې ﴿ هَٰذَا ﴾ کلمه د ټولو پيغمبرانو متحد دين ته اشاره ده چې په دې زمانه کښې يې قرآن کريم تمثيلوي.

ج: په ﴿ وَلَهُمْ أَعْمَالٌ ﴾ کښې د ﴿ أَعْمَالٌ ﴾ کلمه د کفارو د هغه کفري عملونو معنی ورکوي کومو ته چې د همدې مجموعې په راتلونکو ايتونو کښې اشاره شوې ده هغه دا چې په نبي کريم ﷺ باندې د ليوني نوم ږدي، يا قرآن کريم ته دروغينی کلام او جادو وايي او داسې نور. همدارنګه په همدې کلمه کښې د هغوی فحاشي هم شامله ده.

د: په ﴿ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه هغه مضمون ته اشاره ګڼله کېږي په کوم باندې چې د ﴿ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا ﴾ کلام دلالت کوي.

هـ: د ﴿ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴾ کښې د "لَهَا" ضمير انحرافي اعمالو ته راجع دی او دغه جمله په استمرار باندې دلالت کوي چې په راتلونکي متصل ايت کښې ورته د ﴿ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ ﴾ جمله غايه واقع شوې ده.

نو د معنی حاصل يې داسې راخېژي چې: الهي دين سخت نه دی چې کفار يې د اجراء کولو توان نه لري نو د قبول څخه يې غاړې غړوي، بلکې دوی د همدغه الهي دين څخه په ډېر غټ غفلت او جهالت کښې پراته دي چې د هره طرفه يې احاطه کړي دي او د ماهيانو غوندې پکښې لامبو وهي. په دې باندې علاوه دوی نور کفري کارونه او کفري خبري هم کوي کوم چې د يو پلوه د دوی د عقيدوي انحراف څخه استازيتوب کوي او د بله پلوه په عقيدوي انحراف باندې علاوه د عذاب د نزول غوښتونکي دي. نو کفار به خپلې منحرفي عقيدې او خپلو انحرافي اعمالو ته تر هغه وخته پورې ادامه ورکړي ترڅو چې د الهي عذاب سره مخامخ شي.

---

[1] المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۴۱ : تفسير البغوي ج۳ ص۳۱۲ : تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جؤار څه معنی؟

۲_ په ﴿ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ۝ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ ﴾ كښې د ﴿ يَجْأَرُونَ ﴾، ﴿ لَا تَجْأَرُوا ﴾ كلمات د "جُؤار" _لكه "صُرَاخ" _ څخه اشتقاق شوي دي چې لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: "جُؤار" يعني په سوال سره الله ﷻ ته د عاجزۍ په حال كښې اواز اوچتول[1]، لكه چې نبي كريم ﷺ د موسى ﷺ د حالاتو په بيان كښې د يوه اوږده حديث شريف په ضمن كښې فرمايلي دي چې: «كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى هَابِطًا مِنَ الثَّنِيَّةِ وَلَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللهِ بِالتَّلْبِيَةِ»[2] يعنې لكه چې زه اوس هم موسى ﷺ ته ګورم چې د كنډو څخه په داسې حال كښې راښكته كېږي چې الله ﷻ ته په تلبيه باندې اواز اوچتوي.

ب: جُؤار" د "خُوَار" سره مرادف دی چې د غوايه رنباړې ته ويل كېږي[3].

په دې مقام كښې يې مونږ ته دوهمه معنی په زړه پورې برېښي نو حاصل به يې داسې شي چې: كفار خو خپلې انحرافي عقيدې او انحرافي اعمالو ته د عذاب د نزول تر وخته پورې ادامه وركوي خو د عذاب د نزول په ورځ به بيا د غوايانو په څېر رنباړې وهي او د نجات سوالونه به كوي.

## سوال جواب

۳_ كه څوک واي چې: په ﴿ لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ ﴾ كښې د ﴿ الْيَوْمَ ﴾ څخه كوم وخت مراد دی چې په كفارو باندې به عذاب نازل شي او دوی ته به تهديداً وويل شي چې د غوايانو په څېر رنباړې مه وهئ؟

مونږ وايو چې: په دې مقام كښې د ﴿ الْيَوْمَ ﴾ كلمه صلاحيت لري چې په لاندې وختونو باندې تفسيره شي:

الف: چې د ﴿ الْيَوْمَ ﴾ څخه د قيامت ورځ او د "العَذَاب" څخه أُخروي عذاب مراد كړی شي، په دغې ورځ كښې به ټول كفار په چيغو او فريادونو باندې اخته شي او د توبيخ دپاره به ورته وويلی شي چې شور او غوغا مه كوئ. لكه چې د همدې سورت په [۱۰۸] ايت كښې يې وضاحت راروان دی.

ب: چې د ﴿ الْيَوْمَ ﴾ څخه د دنيا وروستنی وخت مطلب شي، چې كافر د ځنكدن حال ته ورسېږي نو په دغه وخت كښې به په خپله كړنلاره باندې پښېمانه شي خو څه ګټه به ورته ونه رسوي. لكه چې نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا حُضِرَ بُشِّرَ بِعَذَابِ اللهِ وَعُقُوبَتِهِ»[4] او يقينًا كافر انسان چې كله (مرګ ته) حاضر كړی شي (د ځنكدن وخت ورباندې ورشي) نو د الله ﷻ په عذاب او د ده ﷻ په عقوبت به خبر وركړی شي (چې د نن څخه وروسته ستا همدغه عذاب په برخه دی او هيڅكله به ترې نجات مونده نه كړې كه څه هم ته ډېر فريادونه وكړې).

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۱۱۲
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۹۴
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۹۶
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ: چې د ﴿ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ څخه د دنیاوي عذاب وخت مراد شي او په ﴿ لَا تَجۡـَٔرُواْ ﴾ باندې هغه کسان مخاطب وګڼل شي کوم چې د کفارو د جملې څخه ژوندي پاتې وي. لکه چې ځينو علماوو کرامو د کفارو په هکله ليکلي دي چې کله په هغوی باندې د بدر په غزا کښې مصيبت ورنازل شو نو پښې مياشتې پورې به وربانديږ د مکې ژوندي پاتې مشرکانو وير کاوه، حتی چې زنانه وو به د خپلو سرونو ويښتان ويستل او خپل ځانونه به يې وهل، خو بيا يې دغه د وير کارونه پټ کړه چې د دوی دښمنان به وربانديږ خوشاله شي[1].

## تبصره

۴_ الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې د هر بنه پوهېږي خو مونږ ته لومړني دواړه تفسيرونه په زړه پورې برېښي او څه منافات نه لري چې په ايت شريف کښې دواړو ته اشاره وي، لکه چې څه ناڅه تائيد يې د [الأنبياء: ۱۳، ۱۴] ايتونو څخه هم لاس ته راځي. اما درېيم تفسير راته په دې مقام کښې په زړه پورې نه برېښي او دا ځکه چې د ايتونو د ظاهر څخه ښکاره کېږي چې په ﴿ لَا تَجۡـَٔرُواْ ٱلۡيَوۡمَ ﴾ سره هغه کفار مخاطب ګرځولي شوي دي په کومو باندې چې عذاب ورنازل شوی وي، حال دا چې په درېيم تفسير کښې معذبين او فرياد کوونکي بېل-بېل ښودلي شوي دي.

## نکوص څه معنی؟

۵_ په ﴿ فَكُنتُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ تَنكِصُونَ ﴾ کښې د ﴿ تَنكِصُونَ ﴾ کلمه د "نُکُوص" _لکه "ظُهُور"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "نُکُوص" دې ته وضعه شوی دی چې سړی د يوه ځای څخه د نفرت د کبله مخ په شا لاړ شي[2]، يعنې کله به چې په تاسو باندې ايتونه ولوستل شوه نو تاسو ته به خطرناک برېښېده او په زړغږده به ترې بېرته مخ په شا تللئ.

## يو صرفي او نحوي تحليل

۶_ په ﴿ مُسۡتَكۡبِرِينَ بِهِۦ سَٰمِرٗا تَهۡجُرُونَ ﴾ کښې علماوو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي[3]، مګر مونږ هغه تحليل په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو کوم چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی:

الف: د ﴿ مُسۡتَكۡبِرِينَ ﴾ کلمه د ﴿ تَنكِصُونَ ﴾ د ضمير څخه حال واقع شوې ده، يعنې: ای کفارو! تاسو د ايمان راوړلو څخه په داسې حال کښې وروسته کېدئ چې ځانونه درته لوی ښکارېده او اسلام ته مو په سپک نظر کتل.

الله ﷻ همدا مضمون په بل ايت کښې داسې نازل کړې دي چې: ﴿ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ﴾ [النحل: ۲۲] يعنې نو هغه کسان کوم چې په آخرت باندې ايمان نه

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۴۸؛ سيرت ابن هشام ج۱ ص۲۹۱
(۲) تفسير المراغي ج۱۸ ص۳۹
(۳) التفسير الکبير ج۲۳ ص۱۱۱؛ تفسير الکشاف ج۳ ص۱۹۴؛ روح المعاني ج۱۸ ص۴۹؛ تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راوړي زړونه يې (د اسلام د حقانيت څخه) په داسې حال کښې انکار کوونکي دي چې دوی تکبر کوونکي دي.

ب: په ﴿ بِهِۦ ﴾ کښې د "ب" توری په ﴿ سَـٰمِرًا ﴾ پورې تعلق نيسي او ضمير پکښې د پيغمبرانو هغه متحد دين ته راجع دی په کوم کښې چې د وړاندې څخه بحث راروان دی، چې په دې زمانه کښې يې قرآن کريم ممثل دی.

ج: د ﴿ سَـٰمِرًا ﴾ په کلمه کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

اول: دغه کلمه د "سَمَر" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "سَمَر" اصلاً د سپوږمۍ سيوري ته وضعه شوی دی[1]. يا په بل عبارت: هغې رڼا ته "سَمَر" وايي کوم چې په شپه کښې د سپوږمۍ د پلوه په دنيا باندې خوره شوې وي.

دوهم: خو هغو خبرو اترو ته هم د "سَمَر" نوم ايښودل شوی دی کومې چې د شپې د مخې د سپوږمۍ رڼا ته په مجالسو کښې صورت نيسي[2]، په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

درېم: په همدې بنياد د ﴿ سَـٰمِرًا ﴾ کلمه که څه هم مفرده ده مګر په معنی کښې جمعه ده[3] او د "سَامِرِيْن" معنی ورکوي، لکه څنګه چې په [النور: ۳۱] ايت شريف کښې د ﴿ ٱلطِّفْلِ ﴾ کلمه مفرده ده او د "الأَطْفَال" معنی ترې اخستله کېږي.

څلورم: دغه کلمه هم د هغه ﴿ تَنكِصُونَ ﴾ د ضمير څخه حال واقع شوې ده په کوم باندې چې وړاندېنی ايت شريف تمام شوی دی.

د: د ﴿ تَهْجُرُونَ ﴾ په کلمه کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

اول: دغه کلمه د "هِجْرَان" ـ لکه "تِهْرَان" ـ څخه اشتقاقه شوې ده[4] چې د پرېښودلو معنی ورکوي، او ضمير ورسره مقدر دی چې قرآن کريم ته راجع دی.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَـٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُواْ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴾ [الفرقان: ۳۰] يعنې او د الله ﷻ پيغمبر (محمد ﷺ) ووېلې چې: ای زما ربه! زما قوم دغه قرآن کريم متروک (پرېښودلی شوی) ګرځولی دی.

دوهم: دغه کلمه د هغه ضمير څخه حال واقع شوې ده کوم چې په ﴿ سَـٰمِرًا ﴾ کښې مستتر دی او کفارو ته راجع دی.

درېم: د قرآن کريم په مهجوريت کښې ډېرې معناوې شاملې دي[5] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۳۶
(۲) تفسير المظهري ج۶ ص۳۹۱
(۳) لسان العرب ج۴ ص۳۷۷
(۴) لسان العرب ج۵ ص۲۵۲
(۵) تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ایمان ورباندې نه راوړل، قرانت ته يې غوږ نه نیول، د قرانت په وخت کښې يې شور او غوغا اچول، په معانیوو کښې يې تدبر نه کول، ارشادات يې د پښو لاندې کول، دروغين القاب ورباندې اېښودل (چې يا ورباندې د جادو او شعر نومونه کېښودل شي او يا د اساطير الاولين په نامه ياد کړى شي) او داسې نور هر يو بيل-بيل مهجوريت دى.

نو د ذکرو شوو ټولو ټکو په پام کښې نيولو سره يې د معنی حاصل داسې راځېژي چې:

اى کفارو! تاسو اوس د عذاب د نزول په وخت کښې چيغې مه وهئ او فريادونه مه کوئ ځکه چې په تاسو باندې زمونږ ايتونه لوستل کېدل نو تاسو به ترې په داسې حال کښې بېرته کېدلئ او اعراض به مو ترې کاوه چې ايمان راوړل به درته سپکاوى برېښېده او کفر به درته عزت ښکارېده. او په داسې حال کښې به مو د قرآن کريم په ذکر سره د کعبې شريفې په شاوخوا کښې ځرګندېده خپل شپېنې مجالس ژوندي ساتل چې مهجوريت به يې ورسره کلک تړاو درلود، چې د جادو يا پخوانيو قيصو او په داسې نورو نومونو باندې مو ياداوه.

نو که تاسو په هغه وخت کښې دغه وضعه نه وى غوره کړې نو نن ورځ به د دغه بد حال (د عذاب د نزول) سره نه وى مخامخ شوي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كَٰرِهُونَ ﴾ څخه ځرګندېږي چې ځيني کفار د حق سره ناخوښي نه لري، حال دا چې کفر د همدې څخه عبارت دی چې حق خوښ نه کړی شي او انکار ترې وکړی شي، نو په کار دي چې په ټولو کفارو باندې د ﴿ كَٰرِهُونَ ﴾ اطلاق وکړی شي؟

مونږ وايو چې: په کفارو کښې ځيني داسې خلک وه چې د ايمان نه راوړل يې د ناخوښۍ د کبله نه وه بلکې د دې کبله وه چې خلک به ورته پېغور ورکړي چې پلارنی دين يې پرېښود[۱] او ځيني لا هغه خلک وه چې په خوښه او ناخوښه باندې نه پوهېده بلکې صرف د مشرانو په ړانده تقليد سره يې کفر غوره کړی وه.

## يادونه

۸ـ د الله ﷻ په توفيق د [مريم: ۹۰] ايت لاندې د ﴿ وَلَوِ ٱتَّبَعَ ٱلْحَقُّ أَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ﴾ تفسير په هکله د سوال جواب په ضمن کښې بنه وضاحت تېر شوی دی چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو، هيله ده چې همهلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې دا هم څه لرې نه ده چې په دې ايت کښې د [الأنبياء:۲۲] ايت مضمون منعکس شوی وي، نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې: که بالفرض المحال حق او واقعيت د کفارو د خواهشاتو پېرو جوړ شوی وی (د دوی د عقيدې په مطابق الله ﷻ

[۱] البحر المحيط ج۷ ص۵۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شریک درلودلی وی) او په ځمکو او اسمانونو کښې نورو واقعي معبودانو تحقق
ضرور به د دنیا نظام خراب او ګډوډ شوی وی. نو معلومه شوه چې د کفارو د خواهشاتو
الله ﷻ څخه په غیر د بل واقعي معبود موجودیت محال او نا ممکن شی دی.

## خرج او خراج څه فرق لري؟

۹_ په ﴿ أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ﴾ کښې الله ﷻ دوه کلمې "خَرْج، خَرَاج" نازلې کړې دي. که څه هم د دغو دواړو کلمو ترمنځ په لغت کښې فرق نشته[۱] مګر په استعمال کښې
علماوو کرامو[۲] متعدد فرقونه کړي دي، خو کوم شی چې مونږ ته د دې مقام سره بهتر
دی هغه دا دی چې:

د "خَرَاج" کلمه په هغې ورکړه کښې استعمالیږي چې ورکوونکي یې التزام کړی وي چې
به یې ورکوي، او هم پکښې استمرار وي چې همېشه به یې ورکوي. او د "خَرْج" کلمه هغې ورکړې
ته وایي چې نه پکښې التزام وي او نه پکښې استمرار وي، بلکې که د ورکوونکي خوښه وشي نو په
یو ځل ورکړې باندې اختتام مونده کوي.

نو د معنی حاصل یې دلته داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! ایا ته د کفارو څخه څه مال متاع غواړې چې که خوښه یې ورته وشي نو فقط
ځل نه، په متعددو ځلونو سره به یې تاته درکړي حال دا چې دا کار ورباندې دروند تمامیږي نو
ځکه ستا دعوت ته غاړې نه ږدي؟ خبره دغسې نه ده، ته د کفارو څخه هیڅ شی نه غواړې او دا
ځکه کوم اجرونه او ثوابونه (عوضونه) چې تاته الله ﷻ د دوام په توګه درکوي او هم یې د خپلې
مهربانۍ او خپل فضل د مخې د درکولو التزام کړی دی، هغه ستا دپاره ډېر بهتر دي، او نه څه
ارتیا نه لرې چې د هغوی څخه د څه شي غوښتنه وکړې.

## نَکب څه معنی؟

۱۰_ په ﴿ عَنِ ٱلصِّرَٰطِ لَنَٰكِبُونَ ﴾ کښې د "نَاکِبُون" کلمه د "نَکْب" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق
شوې ده، "نَکْب" دې ته ویل کېږي چې سړی د یوه شي څخه یوه طرف ته میلان وکړي او ځان ترې په
څنګ کړي[۳]. د همدې کبله د انسان دوه وو اوږو ته "مَنکِبین" وایي چې یوه اوږه یې یو طرف ته واقع
ده او بله یې بل طرف ته.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: یقیناً کوم کسان چې په آخرت باندې عقیده نه لري
نو هغوی بلا دلیله د حقې لارې څخه په دوامداره توګه یو طرف ته کېدونکي دي او خپل ځانونه
ترې په څنګوي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۴۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۱۴۱؛ تفسیر الکشاف ج۴ ص۱۹۶

(۳) مفردات الراغب ص۵۲۶

Scanned by CamScanner

﴿ وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّواْ فِي طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ أَخَذْنَٰهُم بِٱلْعَذَابِ فَمَا ٱسْتَكَانُواْ لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾ ﴾

[۷۵] او که چرته مونږ په دوی (عنادي کفارو) باندې رحم وکړو او هغه شی ترې لرې کړو چې دوی پورې پیوسته شوی وي چې د مشقت (او آفت) څخه عبارت دي، نو هرومرو به دوی په خپله سرکشۍ کښې په داسې حال کښې ورکلک شي چې په (خپل طغیان) کښې به سرګردانه ګرځي راګرځي (او د حق څخه به څنګ کوي).

[۷۶] او یقیناً مونږ (یوه ډله) عنادي کفار په عذاب (قحطۍ) سره نیولي وه (خو چې کله مو ترې هغه لرې کړه) نو دوی خپل رب ﷻ ته خپل حال بدل نه کړ (چې د شرک څخه توحید ته ور اووښتي وي)، او (په دې باندې علاوه) دوی (دغه ډله کفار په راتلونکي کښې هم خپل رب ﷻ ته) عاجزي (او زارۍ) نه کوي (چې د کفر څخه توبه تائب شي).

[۷۷] (البته دا حال به) تر هغه (ادامه وکړي) چې مونږ وربانډې د سخت عذاب دروازه ورخلاصه کړو (او قیامت قائم کړو) نو ناڅاپه به دوی پکښې (د هر خیر څخه) نااُمیده وي.

## ارتباط او مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه په دې مضمون باندې ختم شوي وه چې کفار په دوامداره توګه په خپل کفر باندې کلکېږي او د سمې لارې څخه څنګ کوي. په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی او د هغوی د کلکوالي کیفیت شرحه شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په کفري عقیده باندې د عنادي کفارو کلکوالی په لاندې ټکو کښې قرائت کړه چې:

۱_ عنادي کفار په خپلو کفریاتو باندې د ډېر کلکوالي د کبله د نعمتونو د اثر لاندې نه واقع کېږي چې لاس ترې واخلي او د خپل رب ﷻ شکر ګذاري وکړي، بلکې دوی ګومان کوي چې د نعمتونو په ډېروالي او د مالونو په پراخوالي او بالآخره د اولادونو په زیادت سره مونږ هغوی ته خیر رسوو او دوی زمونږ په نزد ډېر قدر او عزت لري.

همدارنګه عنادي کفار زمونږ احسان په هغه وخت کښې هم نه مني چې مونږ وربانډې مهرباني وکړو او هغه مشقتونه او سختۍ ترې لرې کړو په کومو باندې چې مونږ د دې دپاره اخته کړي وي چې د غفلت له خوبه رابېدار شي، دوی په دغه وخت کښې هم په خپلو سرکشیو کښې لا کلکېږي او د حق څخه پکښې اخوا دېخوا اوړي را اوړي.

۲_ د همدې کبله عنادي کفارو په هغې قحطۍ سره نه خپل رب ﷻ ته عنادي حال بدل کړ او نه یې ورته زارۍ وکړې کومه چې وربانډې مونږ د دې دپاره ورنازله کړې وه ترڅو خپل رب ﷻ ته په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایمان سره راجع شي او عاجزي (زاری) ورته وکړي، بلکې په آینده کښې به هم ورته زاری ونه کړي.

۳_ ذکر شوي عنادي کفار به خپلو کفریاتو ته تر هغه ادامه ورکړي ترڅو چې مونږ ورباندې د سخت عذاب دروازه ورپرانیزو او د قیامت ورځ قائمه کړو؛ نو په دغه وخت کښې به د دوی عقل سر ته ورشي او خپل رب ﷻ ته به رجوع وکړي مګر هیڅ ګټه به ورته ونه رسېږي، او د نجات د هرې لارې څخه به نااُمیده شي بلکې د همدغې نااُمیدۍ په حال کښې به په دائمي توګه د دوزخ په عذاب کښې پاتې شي، چې هیڅکله به ترې د عذاب دروازه بنده نه شي کړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ ﴾ کښې د ﴿ ضُرٍّ ﴾ د کلمې په تفسیر کښې دلته علماوو کرامو متعدد قولونه کړي دي[۱]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې علماء کرام[۲] وایي چې: د ﴿ ضُرٍّ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د هغې قحطۍ (وچکالۍ) څخه عبارت ده کومه چې د مکې معظمې په مشرکانو باندې د نبي کریم ﷺ په ښېرا سره ورنازله شوې وه چې: «اللَّهُمَّ سَبْعًا كَسَبْعِ يُوسُفَ» (الحدیث)[۳] یعنې: ای الله! په مشرکانو باندې داسې اوه سخت کلونه ورولېږه لکه د یوسف ﷺ د زمانې اوه سخت کلونه؛ نو په دغه وخت کښې هغوی د سختو مشکلاتو سره مخامخ شوه حتی چې د مردارو او پلیتیو په خوراک باندې یې هم صرفه ونه کړه. خو بیا الله ﷻ دغه سخت کلونه د نبي کریم ﷺ په دعاء سره په پراخه کلونو باندې تبدیل کړه[۴] خو کفارو د خپل طغیان او سرکشۍ څخه لاس وانخست.

مګر مونږ ته دغه تفسیر د مقام سره مناسب نه برېښي ځکه چې په ایت شریف کښې د "لَوْ" توری نازل شوی دی، د دې توري مفهوم دا دی چې الله ﷻ د کفارو څخه هغه عذاب نه دی پورته کړی کوم ته چې په ﴿ مِّن ضُرٍّ ﴾ کښې اشاره شوې ده، او په ذکر شوي تفسیر کښې د عذاب پورته کول روایت شوي دي.

ب: ځینو علماوو کرامو ذکر شوي ایت شریف ته د تېر شوي [۶۴] ایت شریف سره تړاو ورکړی دی[۵]، نو د ﴿ ضُرٍّ ﴾ د کلمې څخه یې د ځنکدن یا د قیامت د ورځې عذاب مراد اخستی دی، یعنې که بالفرض مونږ د کفارو څخه د ځنکدن یا د آخرت عذاب لرې کړو او بېرته یې دنیا ته راستانه کړو نو دوی به بیا په خپل طغیان او سرکشۍ کښې ډوب شي او خپل پخواني کفري حالت ته به ورتاو شي.

ج: ځینې لا د نوموړي کلمې څخه د بدر حادثه مرادوي[۶]، یعنې که بالفرض مونږ په بدر کښې

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۵۴
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۱۴
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۱۴
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۵۱
(۶) تفسیر المظهري ج۶ ص۳۹۴

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



وژلی شوي مشرکان بېرته راژوندي کړو نو دوی به بيا په خپلو پخوانيو شرکياتو شروع وکړي.
مګر مونږ ته دغه دواړه تفسيرونه په زړه پورې نه ښکارېږي، ځکه چې دا تفسيرونه په ايت شريف کښې د ﴿ لَّلَجُّوا ﴾ د کلمې سره سمون نه خوري؛ دغه کلمه د "لَجَاج" ـ لکه "شَرَاب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "لَجَاج" دې ته ويل کېږي چې سړی په يو کار کښې خپلو کړو وړو ته ادامه ورکړي او بالکل دېته غاړه کښېنږدي چې لاس ترې واخلي[1]. نو که دلته ذکر شوي تفسيرونه مراد وی نو الله ﷻ به د ﴿ لَّلَجُّوا ﴾ په عوض "لَعَادُوا" کلمه نازله کړې وی لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ ﴾ [الأنعام:۲۸] يعنې که کفار بالفرض د قيامت په ورځ بېرته دنيا ته تاو کړی شي نو هرومرو به دوی هغه شي ته وروګرځي د کوم څخه چې دوی منعه کړی شوي وه، او د دوهم ځل دپاره به په کفرياتو او شرکياتو لاس پورې کړي.

۲ـ مونږ ته چې کوم تفسير بهتر برېښي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: په دې مقام کښې د ﴿ ضُرٍّ ﴾ د کلمې څخه کوم خاص عذاب مطلب نه دی چې په کفارو باندې ورنازل شوی وي، بلکې دلته فقط د کفارو کفري کلکوالی تمثيل شوی دی چې که مونږ ترې عذاب لرې کړو هر يو عذاب چې وي، هم دوی شکريه نه کوي او د کفرياتو څخه لاس نه اخلي.
همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَىٰ ضُرٍّ مَّسَّهُۥ ﴾ [يونس:۱۲] يعنې نو کله چې مونږ د يوه کافر انسان څخه د ده مشقت لرې کړو (او مشکلات يې ورحل کړو) نو داسې تېرېږي (داسې ګرځي راګرځي) لکه چې مونږ يې هيڅکله داسې مشقت او عذاب ته نه ياستو وربللي کوم چې هغه ته ور رسېدلی وي (او د هرې خوا څخه يې راچاپېر کړی وي).

ب: په ﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنَـٰهُم بِٱلْعَذَابِ ﴾ کښې د "الْعَذَاب" څخه همغه قحطي او اوچکالي مطلب ده کومې ته چې د لومړي توضيح په "الف" ماده کښې اشاره شوې ده او په حديث شريف کښې شرحه شوې ده.

ج: په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴾ کښې د ﴿ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴾ څخه د قيامت په ورځ د جهنم عذاب مراد دی، چې د سخت عذاب دروازه هلته په کفارو باندې داسې وربېرته کېږي چې ابد الآباد به بېرته وي، أعاذنا الله منها.
همدې مضمون ته الله ﷻ په لاندې ايتونو کښې اشاره کړې ده چې:
اول: ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ [الروم:۱۲] يعنې او کومه ورځ چې د قيامت ورځ قائمه شي نو مجرمان (کفار) به (د هر خير څخه) نا اُميده (زړه ماتي) شي.
دوهم: ﴿ لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴾ [الزخرف:۷۵] يعنې د دوزخ عذاب به د مجرمانو (کفارو) څخه نه سپکېږي او دوی به پکښې (د هر خير څخه) نااُميده (نا هيلي) وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۶۸؛ لسان العرب ج۲ ص۳۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو صرفي تحلیل

۳_ په ﴿ فَمَا ٱسۡتَكَانُواْ لِرَبِّهِمۡ ﴾ کښې د ﴿ ٱسۡتَكَانُوا ﴾ کلمه علماوو کرامو په لاندې دوه ډوله تحلیله کړې ده:

الف: ذکره شوې کلمه په اصل کښې "اسْتَكَنُوا" _لکه "اكْتَسَبُوا"_ وه او د مجردو مصدر يې سکون دی خو په دې مقام کښې د عاجزۍ او ذلیلتوب معنی ورکوي، بیا د کاف د توري فتحه (زور) اشباعي (ډبل) ګرځولی شوی دی او ﴿ ٱسۡتَكَانُوا ﴾ ترې جوړ شوی دی[1]. یعنې مونږ په عنادي مکي مشرکانو باندې عذاب ورنازل کړ مګر هغوی خپل رب ﷻ ته عاجزي او ذلیلتوب ونه کړ، او د خپل تکبر څخه راښکته نه شوه.

ب: دغه کلمه په اصل کښې "اسْتَكْوَنُوا" _لکه "اسْتَخْرَجُوا"_ وه چې د مجردو مصدر يې "كَون" _لکه "قَوْل"_ دی او دلته د "اسْتِفْعَال" باب د تحول دپاره دی. نو د "و" توری په "الف" باندې بدل شوی دی او ﴿ ٱسۡتَكَانُوا ﴾ ترې جوړ شوی دی[2]. یعنې په هغوی باندې مونږ عذاب ورنازل کړ مګر هغوی د خپل رب ﷻ د رضاء دپاره اسلامي حالت ته ورونه ګرځېدل او په خپل کفري حالت باندې کلک پاتې شوه.

### تبصره

۴_ که څه هم په دواړو تحلیلونو کښې په اصلي مطلب باندې چندان اثر نه پرېوځي مګر ځینو علماوو کرامو[3] لیکلي دي چې: لومړی تحلیل کمزوری دی چې د یو پلوه د حرکت اشباع په اشعارو پورې خاصه ده، او د بله پلوه که بالفرض ذکر شوی "الف" اشباعي وی نو د باب په نورو صیغو کښې به يې تحقق نه درلودی؛ حال دا چې ذکر شوی "الف" په نورو صیغو کښې هم شته دی لکه "اسْتَكَانَ، يَسْتَكِينُ، مُسْتَكِينٌ، مُسْتَكَانٌ، اسْتَكَانَة" او داسې نور. نو معلومه شوه چې اشباعي نه دی بلکې د "و" څخه بدل دی.

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي
ذَرَأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي يُحۡيِۦ وَيُمِيتُ وَلَهُ ٱخۡتِلَٰفُ ٱلَّيۡلِ
وَٱلنَّهَارِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٨٠﴾ بَلۡ قَالُواْ مِثۡلَ مَا قَالَ ٱلۡأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوٓاْ أَءِذَا مِتۡنَا
وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴿٨٢﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا هَٰذَا مِن قَبۡلُ إِنۡ
هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾ ﴾

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۱۹۸
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۴۰۹
(۳) البحر المحیط ج۷ ص۵۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۸] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې غوږونه (د سامعې قوت) او سترګې (د لیدلو قوت) او (هم) زړونه پیدا کړي دي (خو) تاسو شکر وباسئ لږ شکر ویستل (په تاسو کښې شکر ګزاران ډېر لږ دي).

[۷۹] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو (بنیادمان) یې په ځمکه کښې ډېر کړي (خواره واره کړي) یاست، او (بیا به د قبرونو څخه) همده ﷻ ته ورټول (ورغونډ) کړی شئ.

[۸۰] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ژوندي کول کوي او (هم) مړه کول کوي، او خاص همده ﷻ ته د شپې او ورځې بدلون (رابدلون) دی (د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دی او بس) ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ (چې بیا ژوندي کول هغه ﷻ ته هیڅ مشکل کار نه دی).

[۸۱] (ای پیغمبره! کفار د عقل څخه کار نه اخلي) بلکې دوی داسې وینا کوي لکه څنګه چې وړاندېنیو (کفارو) وینا کوله (هغه دا):

[۸۲] دوی وایي: ایا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو ایا (په دغه صورت کښې به) مونږ یقینًا هرومرو راپاڅولی شوي یاستو؟ (بیا به راژوندي کړی شو؟).

[۸۳] یقینًا (دغه خبره) زمونږ سره وعده کړې شوې ده او زمونږ د پلرونو سره لا پخوا دغه خبره (وعده کړی شوې وه چې تر اوسه پورې یې تحقق مونده نه کړ).

(نو) دغه (خبره) نه ده مګر د پخوانیو (باطلو) قیصو څخه (یوه باطله قیصه) ده (چې مونږ وړاندې هیڅکله باور او یقین نه شو کولی).

## ارتباط د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د عنادي کفارو په کفریاتو باندې کلکوالي ته اشاره شوې وه، او په دې ایتونو کښې د ټولو انسانانو په ضمن کښې هغوی متوجه کړی شوي دي چې د پوهې څخه کار واخلي او په ایمان باندې خپل ځانونه ښایسته کړي نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د ټولو خلکو په ضمن کښې د الله ﷻ د پلوه عنادي کفار هم لاندې ټکو ته متوجه کړه ترڅو په خپل کفر باندې کلکوالي ته ادامه ورنه کړي:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې غوږونه او د اورېدلو قوه پیدا کړې ده ترڅو تاسو د پیغمبر ﷺ د پلوه سمعي دلایل او قرآن کریم واورئ او حق ته غاړې کېږدئ.

همدارنګه یې ستاسو دپاره ستاسو په بدنونو کښې سترګې او هم د لیدلو قوه خلق کړې ده ترڅو په ټوله دنیا کښې سترګې وغړوئ او اسمان او ځمکې ته وګورئ چې ټول مخلوقات د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالت کوي، ترڅو تاسو د شرک او شرکیاتو څخه خپل ځانونه خلاص کړئ.

بالآخره الله ﷻ تاسو ته زړونه هم درکړي دي چې خپل سرونه په خپلو ګرېوانو کښې ښکته کړئ او د خپلو عقلونو څخه کار واخلئ او په نتیجه کښې حق ته راجع شي.

ای انسانانو! که تاسو په ذکرو شوو ارشاداتو باندې عمل وکړئ نو ډېر ژر به ستاسو په زړونو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شکر گذاران بندګان به درخته جوړ شي خو ستاسو په حال باندې افسوس دی چې ستاسو ډېر لږ کسان د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه کوي، او په ایمان باندې مشرف کېږي.

۲ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د پیدا کولو څخه علاوه په ځمکه کښې خواره واره کړي یاست او ټوله ځمکه یې درباندې اباده کړې ده حال دا چې تاسو ټول د یوه پلار (آدم ﷺ) اولاد یاست.

همدغه اقدس ذات به یو ځل تاسو په همدغې ځمکه کښې د مرګ څخه وروسته منحل کړي، خو کله چې د بیا ژوندي کولو مقرر وخت راورسېږي نو تاسو ټول به د خواره واره او شیت پیت کېدلو څخه وروسته راټول کړی شئ او د همده ﷻ په حضور کښې به د حساب کتاب دپاره ودرولی شئ.

۳ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو په خپل کامل قدرت سره د نشت څخه شته کوي او په ارواګانو سره مو ژوندي کوي، او بیا مو د روحونو په قبض کولو سره مړه کوي، بلکې د ده ﷻ دغه کړنلاره په ټولو ساکینانو کښې عمومیت لري.

په دې باندې علاوه خاص الله ﷻ لره د شپې او ورځې بدلون رابدلون دی چې د ځمکې په مخ باندې یې اړوي او را اړوي، همدارنګه د همده ﷻ په واک اختیار کښې د شپې او ورځې اختلاف هم دی چې کله د شپې په ځینو برخو باندې ورځ اوږده کړي او کله بالعکس د ورځې د څه برخو څخه رانا واخلي او د تیاره شپې سره یې ضمیمه کړي.

نو ای بنیادمانو! ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؟ ترڅو په لاندې مطالبو باندې پوه شئ:

الف: کوم اقدس ذات ﷻ چې په لومړي ځل یې حیواناتو ته ژوند ورکړی دی هغه ﷻ په دې باندې هم قادر دی چې د دوهم ځل دپاره یې هم ورکړي، او د مرګ څخه وروسته یې ژوندی کړي.

ب: کوم اقدس ذات ﷻ چې د تیاره شپې ځینې اجزاء د رڼا ورځې اجزاء ګرځولی شي هغه ﷻ په دې باندې هم قادر دی چې د مړي بې روحه اجزاء په روح سره روښانه او ژوندي کړي.

۴ـ خو ای پیغمبره! د ذکرو شوو ارشاداتو سره‌سره عنادي کفار حقائقو ته نه متوجهٔ کېږي بلکې خپلو شرکیاتو او کفریاتو ته په لاندې بې هوده او پوچو دلایلو سره ادامه ورکوي چې:

الف: دوی په خپلو کفریاتو باندې د کلک پاتې کېدلو دپاره هغه خبرې کوي کومې به چې پخوانیو کفارو کولې، هغه دا:

ب: ایا کله چې مونږ مړه شو او خاورې او هډوکي شو ایا مونږ به بیا د دوهم ځل دپاره د قبرونو څخه راپاڅولي شوي یاستو؟.

دوی په دغه وخت کښې خپل لومړنی پیدا ایښت هیروي چې نه یې هډوکي درلوده او نه د غوښې درلودونکي وه، خو د دې سره‌سره ترې ژوندي انسانان جوړ کړی شوه.

که بالفرض کفار خپل اولنی پیدا ایښت په زړه کړي نو د دوهم پیدا ایښت څخه به تعجب ونه کړي.

ج: کفار وایي چې دغه د بیا راژوندي کېدلو وعده لکه څنګه چې مونږ ته راکړه شوې ده زمونږ پلرونو ته هم ورکړه شوې وه خو تر اوسه پورې یو هم بېرته راژوندی نه شو، نو معلومه شوه چې د بیا

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راژوندي کېدلو خبرې محض قيصې دي او څه واقعيت نه لري.
خو دوی دې ته نه ګوري چې بيا را ژوندي کېدل يو ټاکلی وخت لري چې تر اوسه پورې لا هغه وخت نه دی رارسېدلی نو ځکه د دوی پلرونه د هديرو څخه کفن په سر نه دي راستانه شوي.
نو کله چې د بيا ژوندي کېدلو ټاکلې نېټه راشي وړاندېني او ببرتني به په يو ځل د قبرونو څخه راپورته شي او د ډېر لږ وخت دپاره به هم نه ټال شي او نه به يې ټالېدل په توان کښې وي.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: د ﴿ قَلِيلاً مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ د جملې څخه ښرګندېږي چې کفار هم څه ناڅه شکر ګزاري کوي حال دا چې کفار لوی ناشکران دي چې د خپل رب ﷻ څخه انکار کوي؟
مونږ وايو چې:
الف: دلته قلت د نفي په معنی سره دی[1] يعنې ای کفارو! تاسو هيڅ شکر ګزاري نه کوئ.
که څه هم قلت کله-کله په عربي کلام کښې د نفي په معنی باندې استعمالېږي خو مونږ ته په دې مقام کښې لاندې جواب بهتر برېښي چې:
ب: په ذکره شوې جمله کښې ټول انسانان مخاطب کړی شوي دي لکه چې د همدې ايت د لومړۍ جملې ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ لَكُمُ ﴾ څخه ښرګندېږي، او پوره واضحه ده چې په ټولو انسانانو کښې شکر ګزاران لږ دي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴾ [سبا:۱۳] يعنې او زمونږ د بندګانو څخه شکر کوونکي لږ دي.
او که بالفرض په ذکره شوې جمله کښې يوازې کفار مخاطب وګرځولی شي نو بيا به يې معنی داسې راوخېژي چې: ای کفارو! ستاسو لږ کسان ذکرو شوو وصاياوو ته توجه کوي او په ايمان باندې مشرف ګرځي او اکثريت مو خپل جهالت ته ادامه ورکوي.

## ذرأ څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د "ذَرَأَ" کلمه د "ذَرْء" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "ذَرْء" د تکثير (ډېرولو) معنی ورکوي[2]، همدغه معنی د ﴿ تُحْشَرُونَ ﴾ سره ښه پيوستون مومي چې د "حَشْر" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده او د غونډولو معنی ورکوي[3]، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ټول انسانان يې په ځمکه کښې ښه ډېر او خواره واره کړئ، بيا چې کله د قيامت ورځ قائمه شي نو خاص همده ﷻ ته به ورټول (ورغونډ) کړی شئ، نو ايا هغه څوک چې د خوررولو وسه لري هغه د غونډولو وسه نه لري؟!

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۹۶
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۲۵۱
(۳) لسان العرب ج۴ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قُلْ لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا
تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ
لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ
إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾ بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِٱلْحَقِّ
وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾ مَا ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ
إِلَٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ
وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾ ﴾

[۸۴] (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: ځمکه او هغه څوک (او هغه شی) چې په ځمکه کښې دي چالره دي؟ که تاسو یاست چې پوهېږئ (جواب راکړئ).

[۸۵] ژر دی چې کفار (به جواب درکړي او) وبه وایي چې (دا) الله ﷻ لره دي.

(نو) ته (ورته) ووایه چې: ایا نو تاسو پند (او عبرت) نه اخلئ!؟ (چې د بوتانو عبادت کوئ).

[۸۶] (بیا ورته) ووایه چې: د اوو اسمانونو رب او د عرش عظیم رب څوک دی؟ (د دغو ربوبیت چا لره دی؟).

[۸۷] ژر دی چې کفار (به جواب درکړي او) وبه وایي چې: (د دغو ربوبیت) الله ﷻ لره دی (او بس. نو بیا ته) ووایه چې: ایا نو تاسو (د الهي عذاب څخه خپل ځانونه) نه ساتئ (د ده ﷻ څخه نه دارېږئ)؟.

[۸۸] (بیا ورته) ووایه چې: هغه څوک دی چې په لاس باندې یې د هر شي واکداري ده او شان دا دی چې (د هر شي څخه) پنا ورکولی شي او په ده باندې پناه نه ورکوله کېږي؟ (د ده د عذابه هیڅوک چاته نجات نه شي ورکولی)، که تاسو یاست چې پوهېږئ (نو جواب راکړئ).

[۸۹] ژر دی چې (د دې پوښتنې په جواب کښې به هم درته) ووایي (چې د هر شي واکداري الله ﷻ لره ده (او بس).

(نو) ته (ورته) ووایه چې: نو تاسو څنګه غولولی کېږئ؟ (چې د خپلو باطلو معبودانو څخه د نجات تمه کوئ).

[۹۰] (نو قرآن کریم أساطیر الأولین نه دی) بلکې مونږ دوی ته (د خپل پیغمبر په ذریعه) حق درورې دی، او یقینا دوی دروغژنان دي (چې قرآن کریم په نوموړي نوم باندې یادوي).

[۹۱] (نو دا واقعیت دی چې) الله ﷻ هیڅ ولدیت نه دی نیولی (لکه چې کفار خیال کوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او نه د ده ﷻ سره څه (حق) معبود شته (که بالفرض المحال ده ﷻ سره بل حق معبود وی نو) په دغه وخت کښې به هر یوه معبود هغه شی بیولی (جدا کړی) وی کوم یې چې پیدا کړی وي.
او (هم) به هرومرو خینې په خینو نورو باندې (د جنګ او کش مکش په ضمن کښې) اوچت شوي وی (او د دنیا نظام به ړنګ شوی وی).
(نو) الله ﷻ لره د هغه شي څخه پاکي ده چې کفار (مشرکان) یې بیانوي.
[۹۲] (داسې الله ﷻ) چې (هغه) په پټو او ښکاره شیانو پوه دی.
نو همده ﷻ ته د هغو شیانو څخه پاکي ده کوم چې مشرکان یې ورسره (په عبادت کښې) شریکوي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې الله ﷻ ټولو انسانانو ته غوږونه او سترګې او هم زړونه ورکړي دي خو کفار ترې کار نه اخلي او د پخوانیو په ړانده تقلید باندې اخته دي او په قرآن کریم باندې د "أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ" نوم ږدي.
په دې ایتونو کښې دوی د پوښتنو په ضمن کښې هغو ټکو ته متوجه کړی شوي دي د کومو په جوابولو سره چې دوی د غفلت د خوبه رابیداریدلی شي نو حاصل یې داسې راځي:
ای پیغمبره! د دې دپاره چې کفار د غفلت د خوبه راویښ شي او د خپلو پلرونو د ړانده تقلید څخه لاس واخلي دوی لاندې پوښتنو ته متوجه کړه:
۱ـ ای د ړانده تقلید خاوندانو! تاسو جواب راکړئ چې دا ځمکه د چا ده؟ چا پیدا کړې ده او روزمره د چا د تصرف لاندې ده؟.
همدارنګه هغه کسان او هغه شیان د چا دي کوم چې په ځمکه کښې موجودیت لري؟ چا پیدا کړي دي او د چا په قبضه کښې دي؟.
که تاسو یاست چې پوهیږئ او څه علم او پوهه لرئ نو په صحیحو معناوو کښې جواب راکړئ.
نو ډېر ژر دی چې کفار به په جواب کښې ووایي چې: دا ټول (ځمکه او څه چې پکښې دي) په الله ﷻ پورې اختصاص لري چې فقط همه ﷻ پیدا کړي دي، او فقط همدی ﷻ پکښې تصرف کوي او بس.
نو ای پیغمبره! کله چې هغوی ذکر شوی جواب درکړ نو ته ورته ووایه چې: ایا تاسو د همدغه خپل جواب څخه پند نه اخلئ او دومره تذکر هم نه کوئ چې ایا هغه څوک په عبادت کښې څه برخه درلودلی شي کوم چې په ځمکه کښې د یوه ډېر کوچني څیز د پیداکولو نه وسه لري او نه پکښې تصرف کولی شي؟!.
۲ـ بیا ترې پوښتنه وکړه چې: د اوو اسمانونو رب څوک دی؟ او هم د عرش عظیم پروردګار څوک دی؟ دا د چا ملکیت دی او د چا دپاره پکښې تصرف کول اختصاص لري؟.
نو ډېر ژر دی چې دوی به جواب درکړي چې: دا ټول الله ﷻ پورې اختصاص لري، نه پکښې د ده ﷻ څخه په غیر څوک ربوبیت کولی شي او نه پکښې بل څوک د تصرف کولو توان لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د دغه جواب څخه وروسته ورته ووايه چې: ايا تاسو د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ چې په عبادت کښې ورسره داسې شيان شريکان ګرځوئ چې نه په اوو اسمانونو کښې څه ربوبيت لري او نه پکښې د څه تصرف حق درلودلی شي؟.

۳_ دريمه پوښتنه نوموړو کفارو ته داسې متوجه کړه چې:

الف: هغه څوک دی چې د هر شي واکداري يې په لاس کښې ده چې هيڅ شی يې نه د واکدارۍ څخه اوزي او نه ترې وتلی شي؟.

ب: هغه څوک دی چې مخلوقاتو ته د بل چا د ضرر څخه پنا او نجات ورکوي خو د ده د تعذيب مخه هيڅوک نه شي نيولی؟. يا په بل عبارت: هغه څوک دی چې هر چاته د تعذيب اراده وکړي نو هيڅوک پنا او نجات نه شي ورکولی خو دی د هرچا د تعذيب مخنيوی کولی شي؟.

که تاسو ياست چې څه پوهه لرئ نو د ذکرو شوو پوښتنو جواب راکړئ.

نو ډېر ژر دی چې دلته به هم همغه جواب تکرار کړي کوم يې چې پخوانيو پوښتنو ته ورکړی وه، او دا ځکه چې د همغه جواب څخه په غير بل جواب نشته هغه دا چې:

د هر شي واکداري الله ﷻ پورې اختصاص لري، همدی ﷻ هر چاته د هر چا څخه پنا او نجات ورکولی شي خو هغه څوک چې د ده ﷻ د غضب لاندې واقع شوی وي هغه ته هيڅوک د ده څخه پناه او نجات نه شي ورکولی.

نو بيا ورته ووايه چې: ای کفارو! نو تاسو د دغسې دلايلو د موجوديت سره-سره څنګه غولولی کېږئ چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې په شرکت باندې قائل ياست!؟، حال دا چې د ده ﷻ د غضب او عذاب څخه هيڅ بوت (باطل معبود) نجات او پنا نه شي درکولی.

ايا تاسو دومره نه پوهېږئ چې څوک د نجات توان نه لري هغه د عبادت لياقت هم نه شي درلودلی!؟

۴_ ای پيغمبره! حقيقت دا دی چې مونږ ستا په ذريعه کفارو ته حق وروری دی چې قرآن کريم په رښتيانې توګه زمونږ د طرفه نازل شوی دی او د "أَسَاطِيرُ الأَوَّلِينَ" نوم ايښودل ورباندې ډېره لويه بې انصافي ده.

خو کفار دروغژنان دي او دروغ ويل يې عادت دی چې د يو پلوه په لا شعوري توګه د خپلو باطلو معبودانو په عجز او ناتوانی باندې اعتراف کوي او د بله پلوه يې په عبادت باندې کلک دي او په متناقضو خبرو او متناقضو کارونو باندې لګيا او مشغول دي.

## د ذکر شوي سوال جواب نتائج:

۵_ ای پيغمبره! د وړاندېني سوال جواب څخه لاندې نتائج په اثبات رسېږي:

الف: الله ﷻ د خپلو مخلوقاتو څخه هيڅوک په ولديت سره نه دی نيولی او دا ځکه چې دا ټول په مخلوقيت او مملوکيت کښې يو برابر دي، نو ځينو ته په ځينو نورو باندې په ولديت سره ترجيح

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ور کول بلا دلیله خبره ده، او په دې باندې علاوه ولدیت نیول د احتیاج علامه ده او الله ﷻ د هر احتیاج څخه پاک او منزه دی.

ب: د الله ﷻ سره په حقاني معبودیت کښې هیڅوک او هیڅ شی شریک نه دی او دا ځکه چې په ملکیت او هم په خالقیت او ربوبیت کښې ورسره هیڅوک اشتراک نه لري نو په راکدارۍ او معبودیت کښې به اشتراک د کومه کړي؟.

ج: په دې باندې علاوه که بالفرض المحال په خالقیت کښې ورسره کوم یو باطل معبود شرکت ولرلودی، نو ضرور او هرومرو به هر معبود خپل خپل مخلوقات یو تربله جدا جدا کړي وی، او هر یو به بېله بېله جبهه تشکیله کړې وی، او خبره به جنګ او جګړې ته رسېدلې وی. نو په نتیجه کښې به خینې په خینو نورو باندې برلاسي شوي وی او د مخلوقاتو نظام به جړ پړ شوی وی. یا په بل عبارت: په دغه صورت کښې به اسمانونه د جنګ او جګړې د کبله رالوېدلي وی او ځمکه به سرچپه شوې وی.

د: ذکر شوی سوال جواب دا هم اثباتوي چې الله ﷻ ته د ولدیت په شمول د هر هغه شي څخه پاکي ده کوم چې کفار او مشرکان یې بیانوي، او بلا دلیله ورباندې خولې ښورروي.

هـ: دا هم ثابته شوه چې الله ﷻ په پټو او ښکاره وو، غائبو او حاضرو ټولو باندې پوهېدونکی دی.

و: بالآخره دا هم په اثبات ورسېده چې الله ﷻ د هغو باطلو معبودانو څخه ډېر اوچت او پورته دی کوم چې مشرکان او کفار یې ورسره په عبادت کښې شریکوي او په معبودیت کښې یې برخوال ګڼي.

## توضیحات

١ـ د سوال او جواب په هکله قاعده دا ده چې کوم شی چې په سوال کښې مذکور وي هغه په جواب کښې مقدر وي، نو د همدې قاعدې په بنیاد لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: د ﴿لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ﴾ جواب په ﴿سَيَقُولُونَ لِلَّهِ﴾ کښې د ﴿لِلَّهِ﴾ کلمه جواب واقع شوې ده چې تقدیر یې داسې کېږي: "الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا لِلَّهِ" ځمکه او څه چې په ځمکه کښې دي هغه الله ﷻ لره دي او بس.

ب: د ﴿مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ معنی دا ده چې: "لِمَنْ رُبُوبِيَّةُ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرُبُوبِيَّةُ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ". د همدې معنی په لحاظ په ﴿سَيَقُولُونَ لِلَّهِ﴾ کښې یې د ﴿لِلَّهِ﴾ کلمه جواب واقع شوې ده، نو تقدیر یې داسې راخېژي چې: "رُبُوبِيَّةُ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرُبُوبِيَّةُ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لله" یعنې د اوو اسمانونو ربوبیت او هم د عرش عظیم ربوبیت الله ﷻ لره دی او بس.

ج: د ﴿مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ﴾ معنی دا ده چې: "لِمَنْ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ". د همدې معنی په ملحوظ په ﴿سَيَقُولُونَ لِلَّهِ﴾ کښې د ﴿لِلَّهِ﴾ کلمه لاندې د کفارو د خولو څخه جواب حکایت شوی دی، نو تقدیر یې داسې راوخي چې: "مَلَكُوتُ كُلِّ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شيء بِلّهِ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ ﴾ يعني: د هر شي واكداري په داسې شان سره الله ﷻ لره ده چې په هر چا باندې پنا ورکولی شي او په ده ﷻ باندې هيڅ پنا نه شي ورکوله کېدی.

## د سحر يوه معنی

۲_ په ﴿ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴾ کښې د ﴿ تُسْحَرُونَ ﴾ کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو د هغه "سِحْرٌ" _لکه "عِلْمٌ"_ څخه اشتقاقه ګڼلې ده کوم چې د غولولو او تَخَيُّل معنی ورکوي[۱]، يعنې کله چې د هر شي واکداري الله ﷻ پورې اختصاص لري نو ای کفارو! تاسو په څه کيفيت سره غولولی کېږئ او په تَخَيُّل کښې وراچول کېږي چې د بوتانو عبادت به تاسو ته د الهي عذاب څخه نجات درکړي؟، په اصطلاح په تاسو باندې څه جادو وکړی شو چې ښکاره لاره مو خطا کړه؟.

## يادونه

۳_ دا ايت شريف ﴿ وَمَا كَانَ مَعَهُۥ مِنْ إِلَٰهٍ ﴾ الآية، د الله ﷻ په توفيق د [الأنبياء:۲۲] ايت لاندې د برهان التمانع په ضمن کښې ښه شرحه شوی دی چې په بيا شرحه کولو باندې يې کتاب اوږدېږي، هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

﴿ قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾ وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٩٧﴾ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّيٓ أَعْمَلُ صَٰلِحًا فِيمَا تَرَكْتُ ۚ كَلَّآ ۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ۖ وَمِن وَرَآئِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٠٠﴾ ﴾

[۹۳] (ای پيغمبره!) ووايه چې: ای زما ربه! که چرته ته ماته هغه عذاب راښيې د کوم وعده چې د کفارو سره کړی شوې ده (چې زما په ژوند کښې يېورباندې ورنازلوې).

[۹۴] (نو) ای زما ربه! نو ته ما د ظالم قوم د جملې څخه مه ګرځوه (د دوی د منځ څخه مې بهر وباسه).

[۹۵] او (ای پيغمبره! خکه دغسې سوال کوه چې) يقينًا مونږ هرومرو په دې باندې د قدرت خاوندان ياستو چې تاته هغه عذاب دروليد کړو د کوم وعده چې مونږ د کفارو سره کوو (ستا په ژوند کښې يې ورباندې ورنازل کړو).

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۶] (ای پیغمبره!) ته په هغه خصلت سره (د کفارو) د بد خصلت مخنیوی کوه کوم چې ډېر ښه خصلت دی (او تا سره ډېر ښه مناسبت لري).

(یا په بل عبارت: ته مه په غُصه کېږه) مونږ په هغه خبرو باندې ډېر ښه پوهېږو کومې چې کفار یې بیانوي (خو استقامت په ځای ولره).

[۹۷] او (دا هم) ووایه چې: ای زما ربه! زه په تا سره د شیطانانو د چوخولو (وسوسو) څخه پنا غواړم.

[۹۸] او هم په تا سره ای زما ربه! د دې خبرې څخه پنا اخلم (غواړم) چې شیطانان ماته حاضر شي (او وسوسې اچولو ته تیاری ونیسي).

[۹۹] (ته خپله حوصله مه خرابوه ځکه چې عنادي کفار به) تر هغه وخته پورې (خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړي) چې د دوی یو کس ته مرګ ورشي (او په ځنکدن باندې اخته شي، نو په دغه وخت کښې) به ووایي چې: ای زما ربه! تاسو ما بېرته (دنیا ته) تاو کړئ (او مرګ مې ټال کړئ).

[۱۰۰] ماته ښایي چې (په دغه صورت کښې به) زه (د عقیدې د سمولو سره-سره) په هغه شي کښې صالح عمل (هم) وکړم کوم چې زما څخه ترک شوی (پاتې شوی دی).

دغسې نه ده (چې هغه به بېرته تاو کړی شي)، یقیناً (په دغه وخت کښې نوموړې) خبره نه ده مګر یوه (داسې) خبره ده چې هغه یې (فقط) ویونکی دی (او هیڅکله تحقق نه شي موندلی).

او (په دې باندې علاوه) د دوی په وړاندې پرده ده (منځنی ژوند دی چې) تر هغې ورځې پورې (به ادامه وکړي) په کومه کښې چې دوی (د قبرونو څخه) راپورته کړی شي (او قیامت قائم شي، نو هلته به دنیا ته د بېرته ستنولو هیله بیا-بیا تکراره کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو شرکیات او کفریات په غاښ ماتوونکو دلایلو سره رد شوي وه، په دې ایتونو کښې د یو پلوه هغوی په غوږ باندې وهلی شوی دی چې تاسو د عذاب د نزول جوګه یاست، د خپل رب ﷻ څخه وډار شئ، او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته د حوصلې د غټولو په منظور او د امت د اتباع په موخه څه وصایا او ارشادات نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د دلایلو د اقامه کولو څخه وروسته اوس څه ارشاداتو ته متوجه شه ترڅو وړباندې ستا حوصله غټه شي او هم په تا پسې خپل امت اقتداء وکړي هغه دا چې:

۱ـ څرنګه چې عنادي کفار د دلایلو د اثر لاندې واقع نه شوه نو د دې لیاقت لري چې په دنیا کښې وړباندې ستا رب ﷻ عذاب ورنازل کړي، نو ته داسې سوال کوه چې:

ای زما ربه! که ستا اراده شوې وي چې زما په ژوند کښې په کفارو باندې عذاب ورنازل کړې، او د هغوی په تعذیب باندې زما سترګې یخې کړې، نو زما سوال دا دی چې: ای ربه! ما د دغه ظالم قوم د جملې څخه وباسه ترڅو د هغوی د عذاب څه اثرات ماته را ونه رسېږي.

او دا ځکه چې مونږ په دې باندې د قدرت درلودونکي یاستو چې د کفارو موعود عذاب تا ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درولید کړو او ستا په ژوند کښې یې په غضب اخته کړو.

او دا قدرت هم لرو چې د هغوی تعذیب په دنیا کښې د څه وخته پورې وروسته کړو، البته کله چې حکمت د وروسته کولو غوښتونکی وي.

اما هر چې اُخروي عذاب دی نو هغه خو ټولو کفارو ته متوجه دی او هیڅوک یې ترې بچ نه شي پاتې کېدلی.

۲ـ ای پیغمبره! ته د خپلو عالي اخلاقو څخه په دوامداره توګه کار اخله او د همېشه دپاره د کفارو بدو خبرو او بد خاصیت ته په ښکو خبرو او ښک خاصیت باندې جواب ورکوه. یا په بل عبارت: د هغوی بدې خبرې په بدو خبرو سره مه جوابوه او د هغوی دعوت ته د غُصې د کبله مه شا کوه. ځکه چې:

مونږ د کفارو په ټولو پوچو او بېهوده بیاناتو باندې په ډېره ښه وجه پوه یاستو چې ته پرې ډېر زوروېږې او حوصله دې ورته تنګېږي، خو خپل استقامت مه خرابوه او همېشه د بدو خبرو جواب په بدو خبرو باندې مه ورکوه، حتی په هغه وخت کښې هم د خپلې ژبې عفت وساته کله چې تاته د مسلح جهاد هدایت درکړی شي.

۳ـ ای پیغمبره! شیطان غواړي چې تا په غُصه کړي او د ژبې عفت دې خراب کړي، نو د همدې کبله تاته توصیه ده چې د خپل رب ﷻ څخه داسې سوالونه هم وکړه چې:

الف: ای زما ربه! زه په تا باندې د شیطان د چوخولو څخه پنا غواړم چې ما په غُصه کړي او د ژبې عفت مې خراب کړي، چې په نتیجه کښې د کفارو سره د دعوت په عوض په ناندریو باندې اخته شم.

ب: ای زما ربه! زه په تا باندې حتی د دې څخه هم پنا غواړم چې شیطانان ماته رانژدې قدري شي او زما په مجالسو کښې د وسوسې اچولو ته خپل ځانونه چمتو کړي.

۴ـ ای پیغمبره! ته ځکه خپله حوصله مه خرابوه چې عنادي کفار په هیڅ صورت سره دلایلو ته غوږ نه ږدي. هو! په دوی باندې برابره ده چې ته دعوت ورکړې او که دعوت ورنه کړې، مګر تاته برابره نه ده تاته په ناندریو باندې د اخته کېدلو څخه دعوت ډېر بهتر دی چې اجرونه دې پرې اضافه کېږي او مراتب دې پرې لوړېږي.

نو د دې دپاره چې ته ښه متسلي شې په لاندې معلوماتو باندې تاته اطلاع درکوو:

الف: عنادي کفار به تر هغه وخت پورې خپلې کفرې کړنلارې ته ادامه ورکړي ترڅو چې د دوی یوه کس ته د مرګ وخت وررسېږي او په ځنکدن باندې اخته شي.

ب: په دغه وخت کښې به یې عقل سر ته ورشي او خپل رب ﷻ ته به په ډېر تعظیم سره داسې عرض وړاندې کړي چې:

ای زما ربه! ما د دغه حال څخه (چې د آخرت په دروازه کښې ودرولی شوی یم) بېرته دنیا ته ستون کړئ، او مرګ مې تر څه وخته پورې وروسته کړئ.

ج: ای زما ربه! زه ځکه دغه عرض وړاندې کوم چې زه اوس د زړه د کومې پوه شوم چې ستا د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبر دعوت په حقه وه او دلایلو یې واقعیت درلود زما ورباندې اوس سر خلاص شو.
نو که تاسو لطف وکړئ او ما بېرته ستون کړئ نو شاید چې زه د ایمان په شمول نېک اعمال وکړم او خپل هغه نواقص جبران کړم په کومو باندې چې زه اخته وم او هغه محاسن عملي کړم کوم چې ما ترک کړي وه او د کومو وخت چې زما څخه فوت شوی دی.

۵- ای پیغمبره! د ځنکدن په حال کښې د هر یوه کافر ذکر شوی سوال او ذکر شوی وړاندیز محض یوه خبره ده چې نوموړی به یې فقط پخپله باندې ویونکی وي چې هیڅکله تحقق ونه شي مرندلی که څه هم نوموړی یې په ډېرې عاجزۍ او د ډېرې پرېشانۍ په حال کښې وړاندې کوي، او دا ځکه چې دنیا ته بېرته راستنېدل نشته.

۶- د کفارو نوموړی حسرت به په برزخي (منځني) ژوند کښې آن د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري، خو چې کله قیامت قائم شي او ټول مړي د قبرونو څخه را اوچت کړی شي نو حسرت به یې لا اضافه شي او د همېشه دپاره به ورسره مخامخ شي، بلکې د حسرت څخه به ورته یو لوی روحي عذاب جوړ شي.

## توضیحات

۱- په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴾ سره اشارهٔ کفار په غوږ باندې وهلی شوي دي چې د دنیاوي عذاب نزول ورباندې حتمي او لازم دی.

ب: په ﴿ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته د سوال مضمون وربښودلی دی چې ماته په دغه ډول سوال وکړه.

او پوره واضحه ده چې د سوال تلقین او تعلیم په حقیقت کښې د سوال د اجابت وعده ورکول دي.

ج: نبي کریم ﷺ تلقین شوی مضمون د یوه اوږده حدیث په ضمن کښې داسې وړاندې کړی دی چې: «وَإِذَا أَرَدْتَ فِي النَّاسِ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ»[۱] یعنې ای زما ربه! کله چې ته په خلکو کښې یوه امتحان (عذاب) ته اراده وکړې نو ما خپل اقدس ذات ته په داسې حال کښې درقبض کړه چې په فتنه کښې نه یم اچولی شوی او په معذبینو کښې شامل نه یم (او یا مې ترې په ژوند کښې جدا کړه).

د: ذکر شوی ښودلی شوی سوال الله ﷻ قبول کړی هم دی چې فرمایلي یې دي چې: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ﴾ [الأنفال: ۳۳] یعنې او الله ﷻ نه دی چې کفار په داسې حال کښې معذب کړي چې ته پکښې موجودیت لرې.

نو الله ﷻ د مکې په مشرکانو باندې په هغه وخت کښې دنیاوي عذاب ورنازل کړ او د بدر په مقام کښې یې ورباندې مجاهدین مسلط کړه چې کله ترې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته په هجرت سره جدا شو.

---

(۱) موطا الإمام مالک ص۱۳۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ خینې علماء کرامو(۱) د ﴿ ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ ٱلسَّيِّئَةَ ﴾ تفسير داسې کړی دی چې: ای پيغمبره! د خپل ښه خوی او نېک خصلت په سبب سره د کفارو د اذيتونو او ضررونو تحمل وکړه او پرې صابر شه.

نو په دې تفسير سره ذکر شوی ايت شريف د جهاد په فرضيت باندې منسوخ ګرځي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ايت شريف منسوخ ونه ګڼل شي او د معنی حاصل يې داسې واخستل شي چې: ای پيغمبره! په خپل ښه خوی سره د کفارو سره ناندری، مه وهه او د خپلې خولې عفت وساته، هسې نه چې په غُصه شې او د کفارو د بدو خبرو جواب په بدو او پوچو ويناوو سره ورکړې، بلکې په خپل همدغه خوی باندې کلک اوسه که څه هم په تا باندې مسلح جهاد فرض کړی شي.

مونږ څکه دا ډول تفسير خوښ کړه چې د نژدې متصل ايت شريف سره په ډېره ښه وجه پيوند نيسي، چې د شيطاني وسوسو څخه پنا غواړه.

## هَمز څه معنی؟

۳_ په ﴿ مِنۡ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ کښې د ﴿ هَمَزَٰتِ ﴾ کلمه د "هَمْز" _لکه "غَضْر"_ جمعه ده، "هَمْز" په ډېرو معناوو باندې استعمال شوی دی چې ټېل وهل او چوخول هم پکښې شامل دي(۲) په دې مقام کښې همدغه دواړه معناوې مرادې دي چې د وسوسې څخه کنايه دي او جمعيت يې يا د شيطانانو د جمعيت په اعتبار سره دی چې ﴿ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴾ هم د شيطانانو جمعه ده، او يا د کرتونو او ډولونو په لحاظ اخستلی شوی دی، يعنې د هر يوه شيطان د وسوسې څخه او يا د شيطان د هر ځل وسوسې او هر ډول وسوسې څخه په خپل رب ﷻ باندې پناه وغواړه.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ ﴾ کښې د څه حکمت په بنياد د ﴿ ٱرۡجِعُونِ ﴾ په عوض د "ارْجِعْنِي" کلمه نازله نه شوه چې د ﴿ رَبِّ ﴾ د کلمې سره په إفراد کښې مناسبه ده؟

مونږ وايو چې: که څه هم مفسرينو کرامو د دغه سوال دپاره متعدد جوابونه کړي دي(۳) مګر کوم جواب چې مونږ ته بهتر او بې تکلفه برېښي هغه دا دی چې د مفرد دپاره کله-کله د تعظيم په غرض د جمعيت ضمير استعمالېږي. لکه چې يوه شاعر ويلي دي چې(۴):

أَلَا فَارْحَمُوْنِي يَا إِلٰهَ مُحَمَّدٍ :: فَإِنْ لَمْ أَكُنْ أَهْلًا فَأَنْتَ لَهُ أَهْلُ

يعنې خبر اوسه ای د محمد ﷺ معبوده! نو تاسو په ما باندې رحم وکړئ، که زه د رحم لياقت نه لرم

---

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۳۱۶
(۲) القاموس المحيط ج۴ ص۵۳۲
(۳) اضواء البيان ج۵ ص۸۲۱
(۴) تفسير الكشاف ج۳ ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو به خو د رحم کولو دپاره لايق يې (نو په خپل فضل سره راباندې رحم وکړې).
په همدې استعمال په بنیاد به د قيامت په ورځ هر يو کافر خپل رب ﷻ د تعظیم په غرض د مفرد د خطاب په عوض د جمعيت خطاب وکړي او دنيا ته به ستنېدل وغواړي.

## د برزخ معنی

۵. په ﴿ وَمِن وَرَآئِهِم بَرۡزَخٌ ﴾ کښې د ﴿ بَرۡزَخٌ ﴾ کلمه هغې پردې او حائل ته ويل کېږي چې د دوه شیانو په منځکښې يې صورت نیولی وي[1]، ته به وايې چې دغه کلمه په اصل کښې "پرده" وه نو کله چې په عربيت کښې استعماله شوه نو د "پ" توری په "ب" او د "ه" توري په "خ" باندې تبديل کړی شوه او دا ځکه چې په عربي کلام کښې په اعجمي کلماتو باندې دغسې ډېر تغيرات صورت نیسي نو د "برزخ" کلمه ترې جوړه شوه.

خو په دې مقام کښې د ﴿ بَرۡزَخٌ ﴾ د کلمې څخه هغه موده مطلب ده چې سړی مړ شي او د ژونديو په شان خوراک او څښاک ترې پاتې شي، او د قيامت ورځ لا نه وي قائمه شوې چې د خپلو کړو وړو د کاملې جزا يا سزا سره ملاقي شي[2].

يعنې دا لا د برزخ ژوند دی چې د قيامت تر ورځې پورې به ادامه ولري او د کافر انسان چيغې پکښې پورته شوې، نو د ده به څه حال وي کله چې قيامت قائم شي او د خپلو کفرياتو د پوره سزا سره لاس او ګرېوان شي!؟، په هغه وخت کښې به کفار خپله ذکره شوې هيله بيا-بيا تکراره کړي.

په همدې مضمون باندې راتلونکی [۱۰۷] ايت دلالت کوي چې ای زمونږ ربه! مونږ د دوزخ څخه وباسه او يو ځل مو بيا دنيا ته بوځه نو که مونږ خپلو کفرياتو ته ورتاو شو نو مونږ به يقيناً ظالمان ياستو، او د اعتذار د قبول لياقت به نه لرو.

﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ١٠١ فَمَن ثَقُلَتۡ
مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٢ وَمَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فِي جَهَنَّمَ خَٰلِدُونَ ١٠٣ تَلۡفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمۡ فِيهَا كَٰلِحُونَ ١٠٤
أَلَمۡ تَكُنۡ ءَايَٰتِي تُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ١٠٥ قَالُواْ رَبَّنَا غَلَبَتۡ عَلَيۡنَا شِقۡوَتُنَا
وَكُنَّا قَوۡمٗا ضَآلِّينَ ١٠٦ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡهَا فَإِنۡ عُدۡنَا فَإِنَّا ظَٰلِمُونَ ١٠٧ قَالَ
ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ١٠٨ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ

---

(۱) لسان العرب ج۳ ص۸؛ مفردات الراغب ص۴۱
(۲) تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّخَذۡتُمُوهُمۡ سِخۡرِيًّا حَتَّىٰٓ أَنسَوۡكُمۡ ذِكۡرِي وَكُنتُم
مِّنۡهُمۡ تَضۡحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّي جَزَيۡتُهُمُ ٱلۡيَوۡمَ بِمَا صَبَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ﴿١١١﴾

[۱۰۱] نو کله چې په شپېلۍ کښې (دوهم خل) پوکې وکړې شي نو په دغې ورځ کښې به د دوی ترمنځ هیڅ خپلوي نه وي (ترحم او تعاطف به د منخه لاړ شي)، او نه به دوی یو تربله (د مهربانۍ) پوښتنې کوي (چې ستا څه حال دی او د هغه څه حال دی؟).

[۱۰۲] نو د هر چا چې تلې درنې شي نو همدغه (ډله) همدوی کامیابان (بریالي) دي.

[۱۰۳] او د هر چا چې تلې سپکې شي نو دغه (ډله) همغه کسان دي چې خپل ځانونه یې په تاوان کښې اچولي دي چې په دوزخ کښې به همېشه وي.

[۱۰۴] د دوی مخونه به د دوزخ اور وسوزوي او دوی به په دوزخ کښې غابن بربنډ وي (چې پاسنۍ شونډه به یې ککرۍ ته پورته شوې وي او لاندېنۍ شونډه به یې په نامه باندې پرته وي).

[۱۰۵] (دوی ته به وویلی شي چې:) ایا زما ایتونه په تاسو باندې (په دنیا کښې) نه لوستل کېده؟ (بلکې لوستل کېدل) نو تاسو وئ چې نسبت د دروغو به مو ورته کاوه.

[۱۰۶] کفار به (په جواب کښې) ووایي چې: ای زمونږ ربه! (هلته) په مونږ باندې خپلې بدبختۍ غلبه کړې وه او مونږ یو گمراه قوم وو (چې وغولېدلو).

[۱۰۷] ای زمونږ ربه! مونږ د دې (دوزخ) څخه وباسه (او دنیا ته مو بوځه) نو که مونږ بېرته (خپلو کفریاتو ته) ورتاو شوو نو یقیناً مونږ به ظالمان یاستو.

[۱۰۸] (د دوی) رب ﷻ به ورته ووایي چې: په دوزخ کښې چغې شئ (د سپیو غونډې مه کوږنجېږئ) او زما سره خبرې مه کوئ.

[۱۰۹] (ځکه چې) یقیناً شان دا دی چې زما د بندگانو څخه یوه ډله وه چې دوی به ویلې چې: ای زمونږ ربه! مونږ (په تا او ستا په پیغمبر باندې) ایمان راوړی دی، نو مونږ ته مغفرت وکړې او (په مونږ باندې) رحم (مهرباني) وکړې؛ او همدا ته د ټولو رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی یې.

[۱۱۰] نو هغوی (دغه ډله) به تاسو په ملنډو سره نیول آن تر دې چې هغوی ستاسو څخه زما ذکر هېر کړ (تاسو د هغوی په مسخرو باندې مشغول شوئ).

او تاسو (هلته) وئ چې هغوی پورې مو خندل (ایمان درته خندنی برېښېده).

[۱۱۱] یقیناً ما نن ورځ هغوی ته د هغوی د صبر (او استقامت) د کبله (نېکه) جزا ورکړه، (هغه دا چې:) یقیناً دوی چې دي همدوی مراد ته رسېدونکي دي (او بس).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه په دې باندې تمام شوي وه چې برزخي عمر به تر هغه وخته پورې ادامه وکړي چې ترڅو مړي د قبرونو څخه راپورته کړی شي او قیامت قائم شي، په دې ایتونو کښې د قیامت د ورځې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته کیفیات او په دغې ورځ کښې د کفارو څه حالات نازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې د قیامت د ورځې څه کیفیات بیان کړه هغه دا چې:

۱_ کله چې په دوهم ځل په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي نو ټول مړي به د قبرونو څخه را اوچت کړی شي او سمدستي به د سختې وارخطایۍ سره مخامخ شي حتی چې:

الف: هرڅوک به فقط د خپل ځان په غم کښې ډوب وي او د خپلو ټولو خپلوانو او اقاربو د غم څخه به غافل وي، یا په بل عبارت: زوی به د پلار څخه تښتي چې څه نیکي راڅخه ونه غواړي او پلار به د زوی څخه د همدغې مطالبې د وېرې تښتېدونکی وي او داسې نور، نه به وایې چې د دوی ترمنځه بالکل د نسب اړیکه موجودیت نه لري.

ب: د محشر ټول وګړي به په دغې ورځ کښې یو تر بله پوښتنه قدرې هم نه کوي چې ستا څه حال دی؟ او څنګه یې؟.

۲_ په دغې ورځ کښې به د حساباتو د تصفیه کولو دپاره تلې ودرولې شي چې نتیجه به یې په لاندې ډول بروز وکړي:

الف: د چا چې د نیکیو تلې درنې شي که څه هم په ډېر لږ مقدار سره وي نو همدغه کسان د فلاح او نجات خاوندان دي، همدوی کامیابان دي او جنت ته داخلېدونکي دي.

ب: بالمقابل د هر چا چې د نېکیو پله سپکه شوه چې هیڅ ایمان یې نه درلود نو همدغو کسانو خپل خانونه په دایمي تاوان کښې واچول چې په دوزخ کښې به د همېشه دپاره پراته وي.

## په دوزخ کښې د کفارو حالات:

۳_ کفار به په دوزخ کښې د لاندې کیفیاتو سره مخامخ وي:

الف: مخونه به یې د دوزخ په اور باندې سوي وي او تک تور به اووښتي وي، نه به وایې چې توري تبې دي.

ب: دوی به په دوزخ کښې په اور باندې پرسېدلي وي، حتی چې پاسنۍ شونډې به یې ککریو ته وربورته شوې وي، او لاندېنۍ شونډې به یې په نامه باندې ښکته وربرېوتلي وي لنډه دا چې د دوزخ داور د کبله به یې څېرې ډېرې بدموره ګرځېدلي وي.

ج: دوزخیانو ته به د تخجیل او روحي تعذیب دپاره د الله ﷻ د پلوه وویل شي چې: ای کفارو! ایا په تاسو باندې زما ایتونه روزمره نه لوستل کېدل چې تاسوورباندې ایمان راوړی وی او نن ورځ د دغه کړاوونو سره نه وی مخامخ شوي؟!.

هو! په تاسو باندې په دوامداره توګه لوستل کېدل خو تاسو وئ چې د دروغو نسبت مو ورته کاوه او ایمان مو ورباندې رانه ووړ، نن ورځ څکه په دغسې سختو عذابونو کښې لتاړ یاست.

د: نو کفار به تصدیق وکړي چې "هو". په مونږ باندې ایتونه لوستل کېدل او د همدغو عذابونو څخه د نجات دپاره دعوت راکول کېده خو په مونږ باندې خپلې بدبختۍ غلبه کړې وه او سترګې یې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


راباندې پېښې کړې وې او غوړونه یې راته کانه ګرخولي وه.

لنډه دا چې مونږ په دنیا کښې یو ګمراه او بې لارې قوم وه نو همدغه سزا زمونږ دپاره ډېره په ځای او ډېره مناسبه ده خو:

ه: ای زمونږ ربه! تاته زمونږ سوال دا دی چې یو ځل په خپل لطف سره مونږ د دغه دوزخ څخه وباسه او دنیا ته مو بېرته بوځه ته به وګورې چې مونږ څنګه اطاعت کوو او ستا ارشاداتو ته څنګه غاړې ږدو؟. که بالفرض مونږ هلته بیا خپلو کفریاتوته ورتاو شو نو په دغه وخت کښې به یقیناً مونږ ظالمان یاستو او په همدغه اور کښې به دایمي سوزو، او د دې حق به ونه لرو چې بیا ستا په حضور کښې د خپل نجات سوال وړاندې کړو.

و: الله ﷻ به د کفارو د سوال په مقابل کښې ورته ووایي چې اوس بېرته دنیا ته ستنېدل نشته، تاسو د سپیو په شان مه کوږنجېږئ او ماته سوالونه مه کوئ، تاسو به هیڅکله د دې دوزخ څخه بهر نه کړی شئ او دا څکه چې:

ز: په دنیا کښې تاسو بې دعوته نه یاست پاتې شوي، حتی په همدغه حال باندې هم تاسو خبر کړی شوي وئ چې تاسو به په دوزخ کښې د بېرته ستنېدلو سوالونه وکړئ خو قبول به نه کړی شي.

ح: هلته زما د بندګانو څخه یوه ډله خلک وه چې زما د پیغمبرانو دعوت ته یې لبیک ویلی وه او په سر او سترګو یې منلی وه، دوی به زما په وړاندې د سوال لاسونه پورته کړي وه او د نالیدلي عذاب څخه به یې بالغیب پنا غوښتله چې:

ای زمونږ ربه! مونږ په تا باندې او ستا په پیغمبرانو باندې ایمان راوړی دی نو مونږ ته ګناهونه وبښې او په مونږ باندې رحم او مهرباني وکړې چې همدا ته د ټولو رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی یې، او هم د دوزخ د اوره نجات راپېرزو کړې.

ط: مګر تاسو په دې باندې علاوه چې بالغیب ایمان مو رانه وړ او د دوزخ څخه مو بالغیب نجات ونه غوښت، په ذکر شوي ټولګي باندې به مو ملنډې وهلې او خندنې به مو ورپورې کولې چې دغه سادګان دومره نه پوهېږي چې نه بېرته راژوندي کېدل شته او نه دوزخ تحقق موندلی شي، بلکې دغه سادګان د وهمیاتو او تخیلاتو د اثر لاندې واقع شوي دي.

ي: حتی چې په نتیجه کښې دغو خندنیو او مسخرو ستاسو څخه زما یادونه هېره کړه چې نه مو زما پیغمبران ومنل او نه مو زما په وحدانیت باندې یقین او باور وکړ.

بلکې تاسو به په دې عوض چې هغوی پسې اقتداء وکړئ، په دوامداره توګه مو ورپورې خندل، خو هغوی زما د ډاره ژړل، دا دی چې نن ورځ هغوی خاندي او تاسو ژاړئ.

یا: نو دغه دی چې نن ورځ ما هغوی ته د ایمان نېکه جزا ورعنایت کړه او هم مو ورته ستاسو د خندنیو اجرونه ورکړه چې هغوی به پرې صبر کاوه، یقیناً همدوی نن ورځ کامیابان دي، او همدا تاسو ناکامان او تاوانیان یاست، هغوی ته په کار دي چې په تاسو باندې وخاندي او خپل انتقام درڅخه واخلي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ ﴾ کښې د شپېلۍ څخه هغه شپېلۍ مطلب ده په کومه باندې چې د قبرونو څخه مړي راپورته کېږي[1].

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿ فَلَآ أَنسَابَ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ﴾ څخه څرګندېږي چې د قيامت په ورځ به نسبونه په هيڅ ډول سره چاته په ګټه نه تماميږي حال دا چې تاسو د [الرعد:۲۳] ايت لاندې ليکلي دي چې نسب د دوزخ څخه په نجات کښې او جنت ته په داخلېدلو کښې څه ګټه نه لري مګر په داخل د جنت کښې د درجاتو په لوړتيا کښې بې اثره نه دی؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې دا موضوع مطرحه نه ده چې نسبونه موثريت لري او که نه؟ بلکې په دې مقام کښې د قيامت د ورځې سختوالي تمثيل شوی دی چې هغه به دومره سخته ورځ وي چې د نسبونو تعاطف او تراحم به د منځه لاړ شي او د هر چا سره به فقط د خپل ځان غم وي چې نجات به مونده کړي او که نه؟. همدا مضمون په لاندې نصوصو کښې منعکس شوی دی:

الف: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ لِكُلِّ ٱمۡرِيٖٕ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ﴾ [عبس:۳۷] يعنې په دغې ورځ کښې به سړي د خپل ورور او هم د مور او پلار او هم د خپلې مېرمنې او خپلو زامنو څخه تښتي چې څه کومک راڅخه ونه غواړي، او دا ځکه چې په دغې ورځ کښې به هر چا لره داسې حال وي چې د نورو څخه به يې بې پروا کړی وي، او فقط په خپل ځان به مشغول وي.

ب: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ﴾ [المعارج:۱۱] يعنې مجرم به خوښوي چې د دغې ورځې د عذاب څخه د خپلو زامنو په فديه کولو سره خپل ځان ته نجات ورکړي او هم په خپلې ماندينې او ورور سره او هم په خپل ټول قوم او هغو ټولو خلکو سره چې په ځمکه کښې موجوديت لري، خو فقط چې خپل ځان يې د دوزخ څخه خلاص شي.

## په ايتونو کښې تناقض نشته

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴾ څخه څرګندېږي چې د قيامت په ورځ به يو کس د بل څخه پوښتنه نه کوي حال دا چې په بل ايت کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ [الصافات: ۵۰] يعنې نو ځينې جنتيان به ځينو نورو ته په داسې حال مخ وروړوي چې يو تر بله به سره پوښتنې کوي. همدارنګه د جنتيانو او دوزخيانو سوال جواب د [الأعراف:۴۴ـ۵۱] ايتونو کښې نازل شوی دی، او په کفارو کښې د مشرانو او کشرانو ترمنځ جګړه په [سبأ:۳۱] ايت کښې راحکايت شوې ده.

---

[1] تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ﴿ وَلَا يَتَسَآءَلُونَ ﴾ د جملې سره دغه نور ایتونه تناقض نه لري؟

مونږ وایو چې:

الف: لکه چې د وړاندېنۍ دوهمې توضیح څخه څرګندېږي په دې مقام کښې فقط او فقط د تعاطف او تراحم پوښتنې نفي شوي دي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴾ [المعارج: ۱۰] یعنې د قیامت په ورځ به یو دوست د بل دوست څخه د دوستۍ او زړه سوي په حیث پوښتنه نه کوي چې ستا څه حال دی؟.

ب: په دې باندې علاوه لکه چې د [یونس:۴۵] ایت لاندې ورته د الله ﷻ په توفیق څه اشاره شوې ده د قیامت په ورځ به مختلف حالات وي په ځینو حالاتو کښې به څوک د ډاره خبرې قدرې هم نه شي کولی او په ځینو حالاتو کښې به سوال جواب کولی شي، نو د ایتونو ترمنځ تناقض نشته.

## یادونه

۴ـ مونږ ـ لله ﷻ الحمد ـ د [الأعراف:۸] ایت لاندې د قیامت په ورځ د اعمالو د تول په هکله ښه مستند بحث کړی دی او هر اړخیز تحقیق مو پکښې لیکلی دی هیله ده چې د دې مقام د ښه وضاحت په غرض هلته یو ځل مراجعه وکړی شي امید دی چې د چا کوم بحث زړه غواړي هلته به یې بیامومي.

## د لَفح او کُلُوح معناوې

۵ـ په ﴿ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَٰلِحُونَ ﴾ کښې لاندې شرحې ته متوجه شئ:

الف: د ﴿ تَلْفَحُ ﴾ کلمه د "لَفحٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په اور باندې د سوزېدلو دپاره وضعه شوې ده[۱].

ب: د ﴿ كَٰلِحُونَ ﴾ کلمې د "كُلُوح" ـ لکه "لُحُوق" ـ څخه اشتقاق موندلی دی، "كُلُوح" دې ته وایي چې د چا شونډې پورته شي او غاښونه یې څرګند شي[۲].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: د کفارو مخونه به د دوزخ په اور باندې وسوزي او شونډې به یې پرې وریتې شي حتی چې غاښونه به یې بربنډ شي او ډېره ناکاره قواره به تشکیله کړي.

همدا مضمون نبي کریم ﷺ د ﴿ كَٰلِحُونَ ﴾ په تفسیر کښې داسې بیان کړی دی چې: «تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ»[۳] یعنې هر یو کافر به د دوزخ په اور باندې وریت او پوخ شي نو پاسنۍ شونډه به یې وړېسېږي او آن ککرۍ ته به وررپورته شي او لاندېنۍ شونډه به یې ښکته زوړنده شي حتی چې په نامه باندې به یې پرېوځي او د دواړو شونډو څخه به یې غاښونه بربنډ شي.

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۷۹
(۲) لسان العرب ج۲ ص۵۷۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## خسأ څه معنی؟

۶_ په ﴿ ٱخۡسَـُٔواْ فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴾ کښې د ﴿ ٱخۡسَـُٔوا ﴾ کلمه د "خسأ، خُسوء" _لکه "ضربًا، خشوعًا"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د سپي د رټلو او شړلو معنی ورکوي[۱].

نو کفارو ته به د توهين په توګه هغه کلمه استعماله کړی شي کومه چې د سپيو د شړلو او غلي کولو دپاره په دنيا کښې د خلکو د پلوه استعمالېږي، يعنې ای کفارو! چيغې شئ او د سپيو په شان مه کوړنجېږئ او زما سره خبرې مه کوئ.

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: د ذکر شوې کلمې د وراورولو څخه وروسته به کفار د هر خير څخه نا اميده شي: «وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ»[۲] او په دغه وخت کښې به دوی د خرو غوندې په هنګېدلو او په حسرت او افسوس باندې شروع وکړي.

## يادونه

۷_ که څه هم د ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٌ مِّنۡ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَا ﴾ څخه په ظاهر کښې څرګندېږي چې دغه بندګان د عامو مسلمانانو څخه عبارت دي، مګر د دې سورت د وروستني ايت څخه واضحه کېږي چې په دوی کښې پيغمبران هم شامل دي او دا څکه چې:

د يو پلوه د کفارو مسخرې او خندنې په عامو مسلمانانو پورې منحصرې نه وې بلکې دوی به په پيغمبرانو باندې هم ملنډې وهلې. او د بله پلوه الله ﷻ خپل پيغمبر ته امر کړی دی چې: ﴿ وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ ﴾ [المؤمنون: ۱۱۸] يعنې او ای پيغمبره! ته يو ځل بيا د خپلې زمانې د کفارو په مقابل کښې خپل رب ته سوال وکړه چې: ای زما ربه! ماته مغفرت وکړه او په ما باندې رحم وکړه. يا په بل عبارت: يو ځل بيا خپل ځان د ذکر شوي ايت مصداق وګرځوه.

﴿ قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٍ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ﴿١١٣﴾ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١١٤﴾ أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ ﴿١١٦﴾ وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١١٧﴾ وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١١٨﴾ ﴾

[۱۱۲] الله ﷻ به (د قيامت په ورځ کفار مخاطب کړي او ورته به) ووايي چې تاسو په ځمکه (دنيا)

---

(۱) القاموس المحيط ج۲ ص۵۴

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې څومره (وخت) درنګ کړی دی (البته) د کلونو په شمار سره؟

[۱۱۳] دوی به ووايي چې: مونږ (په دنيا کښې زمونږ په خپل خيال) يوه ورځ يا د ورځې څه برخه درنګ کړی دی، (زمونږ حساب دقيق نه دی) نو د حساب کوونکو څخه پوښتنه وکړه (چې مونږ به هلته څومره وخت تېر کړی وي؟).

[۱۱۴] الله ﷻ به (ورته) ووايي چې: تاسو (هلته) درنګ نه دی کړی مګر لږ.

که چرته يقيناً تاسو (په دنيا کښې) وئ چې پوهيدلئ (نو په لږ عمر باندې به مو دايمي عمر نه وی خراب کړی).

[۱۱۵] ايا نو تاسو ګومان کاوه چې: يقيناً مونږ به تاسو عبث (بې حکمته) پيدا کړي ياست او يقيناً تاسو به مونږ ته راجع نه کړی شئ؟ (ستاسو دا خيال غلط وه).

[۱۱۶] نو الله ﷻ (د عبثياتو څخه) اوچت دی چې په حقه سره واکدار دی (او په حقه) بل معبود نشته مګر همدې ﷻ دی (او بس) چې د قدرمند عرش رب (او خاوند) دی.

[۱۱۷] او هر څوک چې د الله ﷻ سره بل داسې معبود وبلي (عبادت يې وکړي) چې ده لره يې په (ثبوت) باندې هيڅ برهان موجوديت ونه لري نو بې شکه د ده حساب (د بل چا په نزد نه دی بلکې) د ده د رب ﷻ په نزد دی (نو دقيق حساب به ورسره وکړي).

يقيناً شان دا دی چې کفار (په محاسبه کښې) نه شي بريالی کېدلی (ضرور د ناکامی سره مخامخ کېدونکي دي).

[۱۱۸] او (ای پيغمبره!) ووايه چې: ای زما ربه! (ماته) مغفرت وکړې او (په ما باندې) مهرباني وکړې، او همدا ته ﷻ د (ټولو) رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی يې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هم د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی او د کفارو د اُخروي حالاتو څخه څه نور بيان هم نازل شوي دي چې حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! په خپل امت باندې د کفارو څه حالات قرائت کړه چې ترې عبرت واخلي او اُخروي ژوند ته تياري ونيسي هغه دا چې:

۱ـ د کفارو څخه به د حشر په ميدان کښې او يا د دوزخ په داخل کښې الله ﷻ د توبيخ او توهين دپاره پوښتنه وکړي چې:

الف: ای کفارو! نن ورځ تاسو د دايمي عذاب سره مخامخ ياست البته دا د دې کبله چې تاسو دغه ورځ په دنيا کښې د نظره غورزولې وه او په لذائذو او مزو چړچو باندې اخته وئ، نو پوښتنه دا ده چې تاسو په دنيا کښې د کلونو په شمار سره څومره عمر تېر کړی دی چې خپل اُخروي عمر مو ورباندې تريخ کړی دی؟

ب: کفار به جواب ورکړي چې مونږ ته دقيق حساب معلوم نه دی دا به حساب کوونکو ته معلوم

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي د هغوی څخه دې پوښتنه وکړی شي. خو مونږ یوازې همدومره ویلی شو چې هلته مونږ فقط یوه ورځ خوشالي تېره کړې ده او یا د ورځې څه برخه هلته په مزو او چړچو کښې اخته وو.

افسوس! چې په یوه ورځ یا په نیمه ورځ زمونږ دایمي عمر د مشکلاتو څخه ډک شو.

ج: الله ﷻ به کفار مخاطب کړي چې که بالفرض حساب کوونکي ستاسو دنیاوي عمر ښه په دقت سره محاسبه کړي هم تاسو هلته نه یاست پاتې شوي مگر ډېر لږ وخت، که بالفرض تاسو په دنیا کښې وی چې گټور علم او پوهه مو درلودی نو دایمي عمر به مو په لږ عمر باندې نه وی خراب کړی، خو تاسو هلته گمراه او جهال قوم وئ او خپله گټه او تاوان مو ونه شو سنجولی. او دا څکه چې:

د: ایا نو ستاسو دا گومان وه چې مونږ به تاسو یقیناً عبث پیدا کړي یاست او تاسو به په یقین سره مونږ ته راجع نه کړی شي؟

نو تاسو همدغه گومان وغولولئ او د گمراهۍ په دایمي کندې کښې یې واچولئ چې هیڅکله به ترې بهر ونه شئ وتلی.

هـ: نو هغه الله ﷻ د عبثو او بې حکمته کارونو څخه اوچت او لوړ دی کوم چې په حقه سره د هر شي واکدار دی، مړه کول او ژوندي کول د همده ﷻ په اختیار کښې دي او بس، همدی ﷻ د هغه عرش العظیم رب او مالک دی کوم چې په ټولو مخلوقاتو باندې احاطه کړې ده او هم په کرامت او شرف سره مالا مال ډک دی.

و: کله چې د الله ﷻ سره هیڅوک په اختیار او واکدارۍ کښې اشتراک نه لري نو هرڅوک چې د ده ﷻ سره بل معبود په عبادت کښې شریک وگڼي، حال دا چې د بل معبود په اشتراک باندې هیڅ دلیل هم نه لري نو یقیناً د هغه کس محاسبه د خپل رب ﷻ په نزد ده، او د محاسبې نتیجه یې دا ده چې:

بې شکه شان دا دی چې کفار څه فلاح او خلاصون نه شي موندلی او نوموړی کس د کفارو د ډلې څخه دی نو هیڅکله به د کامیابۍ خاوند ونه گرځي.

۲ـ او ای پیغمبره! په پای کښې یو ځل بیا د خپل رب ﷻ په دربار کښې د سوال لاسونه پورته کړه او په تواضع سره ووایه چې:

ای زما ربه! که بالفرض زما څخه په دعوت کښې څه قصور واقع شوی وي نو ماته مغفرت وکړې، او همدارنگه په ما باندې رحم او مهرباني وکړې او د استحقاق څخه اضافه اجرونه راکړې او دا څکه چې یوازې همدا ته د ټولو رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی یې او بس.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس: ۴۵] او [طه: ۱۰۴] ایتونو په تفاسیرو کښې د ﴿ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ﴾ په ارتباط ښه خوندور بحث او تحقیق لیکلی دی چې بیا لیکل یې اوږدوالی فائده کوي، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي، خو په دې مقام کښې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورباندې همدومره اضافه کوو چې:

الف: کفارو ته د قیامت په ورځ دا سوال (چې تاسو په دنیا کښې څومره عمر تېر کړی دی؟) صرف د هغوی د تخجیل دپاره او د حسرت د اضافه کولو په منظور راجع کېږي که نه نو الله ﷻ ته خو هر شی څرګند او معلوم دی.

ب: ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ٱلۡعَآدِّينَ﴾ د کلمې څخه هغه پرښتې مرادې کړې دي کومې چې د هر انسان د کړو وړو په لیکلو باندې مقررې دي[۱]، مګر شیخ المفسرین (العلامه الطبري علیه الرحمة[۲]) دغه کلمه په عموم باندې پرېښې ده یعني مونږ په دقیق حساب باندې نه پوهېږو، او په دې باندې علاوه په ډېر پرېشانه حالت کښې قرار لرو، نو زمونږ د دنیاوي عمر پوښتنه دې د حساب کوونکو څخه وشي برابره خبره ده چې پرښتې وي او که بل څوک.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ د ﴿لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ﴾ جملې په اعراب کښې لاندې دوه تحلیلونه جائز دي او دواړه صحیح دي[۳]:

الف: دا جمله محلاً منصوبه ده او د ﴿إِلَٰهًا﴾ دپاره دوهم صفت دی چې د واقع د بیان دپاره نازل شوی دی نه د احتراز په توګه، چې باطل معبودان په واقع کښې هیڅ برهان او دلیل نه لري.

ب: دا جمله د شرط او جزا په منځکښې معترضه جمله ده چې د اعراب په محل کښې نه ده واقع شوې، خو د شرطیه جملې مضمون تائیدوي، یعني هرڅوک چې د الله ﷻ سره بل معبود په عبادت کښې شریک کړي نو یقیناً د هغه سره به بل څوک محاسبه ونه کړي بلکې خپل رب ﷻ به ورسره محاسبه وکړي؛ او ولې به ورسره محاسبه نه کوي چې نوموړی په بل معبود باندې هیڅ دلیل او برهان نه لري ترڅو معذور وګڼل شي؟.

## یادونه

۳ـ ځینو مفسرینو کرامو[۴] د دې سورت د وروستنیو ایتونو د فضائلو په هکله ځینې احادیث راغونډ کړي دي ـ الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي ـ که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

د الله ﷻ په توفیق او کومک د "المؤمنون" سورت پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو، د الله ﷻ څخه لا زیات توفیق او کومک غواړو.

۱۴۲۰/۲/۲۰ هـ ق - ۱۳۷۸/۳/۱۵ هـ ش - ۱۹۹۹/۶/۵ م.

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۱۲۲
(۲) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۶۳
(۳) البحر المحیط ج۷ ص۵۸۹
(۴) روح المعاني ج۱۸ ص۷۲

Scanned by CamScanner

# النور(٢٤)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# سریزه

وړاندې له دې چې مونږ د "النور" د سورت په ترجمه او تفسیر باندې پیل وکړو لازمه ګڼو چې محترم لوستونکي ورسره د ځینو ټکو په ذکر سره اشنا کړو، هغه دا چې:

۱ـ د دې سورت نوم (النور) د [۳۵] ایت څخه اخستلی شوی دی.

الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي خو زمونږ په فکر دا نوم به د دې سورت دپاره ځکه اینبودلی شوی وي چې په دې سورت کښې داسې آداب او اخلاق نازل شوي دي چې د تعمیل په صورت کښې ورباندې د سړي دنیاوي ژوند او اُخروي ژوند دواړه ښه کېږي او د خوشالیو رڼاوو ته پرې داخلېږي.

۲ـ دا سورت په اتفاق سره مدني سورت دی[۱].

۳ـ د دې سورت د ایتونو په شمېر کښې څه اختلاف شته چې ځینو علماوو کرامو دوه شپېته (۶۲) او ځینو څلور شپېته (۶۴) ښودلي دي[۲]، مګر کوم مصحف چې زمونږ په وړاندې ایښی دی په هغه کښې یې شمېر څلور شپېته (۶۴) ښودلی شوی دی، نو مونږ د ایتونو شمېره د همدغه نظر په مطابق تعقیبوو، إن شاء الله ﷻ.

۴ـ د دې سورت د کلمو شمېره یو زرو درې سوه شپاړس (۱۳۱۶) ده، او د حرفونو شمېره یې پنځه زره شپږ سوه اتیاوو (۵۶۸۰) ته رسیږي[۳].

۵ـ دا سورت د هجرت په شپږم کال کښې نازل شوی دی، ځکه چې د دې سورت په لومړي برخه کښې د افک واقعه نازله شوې ده او دغه واقعه خو د هجرت په شپږم کال د بني المصطلق په غزا کښې پېښه شوې وه[۴].

## د دې سورت محتویات

۶ـ په دې سورت کښې برسېره د توحید په دلایلو په معاشرتي او اخلاقي ادابو باندې هم ډېره رڼا اچولې شوې ده لکه:

الف: باید د زنا څخه ځانونه وساتي؛

ب: که څوک په زنا مبتلاء شي هغه باید په حد کړی شي.

ج: باید یو کس بل ته د زنا نسبت ونه کړي، لکه چې د افک په واقعه کښې همدغه نسبت بي بي عائشې رضي الله عنها ته کړی شوی وه.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۱۵۸
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۲۰؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۳۶۳
(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۴ ص۲۷۴
(۴) سیرت ابن هشام ج۳ ص۳۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د: په پاکلمنو ښځو باندې باید تهمت ونه لګولی شي.
ه: کوم شی چې د زنا یا په زنا باندې د تهمت لګولو موجبه جوړېږي د هغه څخه باید ځان وساتلی شي، نو هرڅوک باید د خپلو سترګو اداره وکړي، او هم دې زنانه خپل زینت بېګانه خلکو ته نه څرګندوي.
و: د بل چا کور ته د ورننوتلو دپاره اجازه اخستل ضروري دي او داسې نور.

## د دواړو سورتونو ترمنځ ارتباط

۷_ د وړاندېنې سورت (المؤمنون) او د دې سورت (النور) ترمنځ ښه قوي ارتباط شته. لاندې وضاحت يې ولولئ:
الف: په هغه سورت کښې پخوانيو هلاکو شوو قومونو ته اشاره شوې وه چې د پيغمبرانو بې اطاعتي يې د هلاکت باعث ګرځېدلې وه، په دې سورت کښې د پيغمبر په اطاعت باندې زور اچولی شوی دی چې د دې امت د هلاکت باعث ونه ګرځي.
ب: هلته د کفارو څخه حکايت شوې وه چې: ﴿ وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ ﴾ [المؤمنون:۶۳] يعني کفارو لره د دغه جهالت څخه پرته نو کفري اعمال هم شته؛ دلته د هغوی د بدو اعمالو څه مثالونه ښودلي شوي دي چې پخپله فحاشان دي او په وينځو باندې فحاشي کوي.
ج: هلته په اولنيو ايتونو کښې د فلاح موندلو په وجوهو کښې د خپل عورت ساتنه هم ښودلې شوې وه، په دې سورت کښې هغه اسباب ښه پوره شرحه شوي دي په کومو باندې چې د عورت ساتنه کېږي او يا پرې سړی د اتهاماتو څخه ژغورل کېږي. او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۱﴾ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي
فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ
بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲﴾ الزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً
أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ﴿۳﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.
[۱] (دغه راتلونکی یو) سورت دی چې مونږ نازل کړی دی او (احکام يې) مونږ (په تاسو باندې) فرض کړي دي، او مونږ پکښې (په خپل توحيد باندې) واضحه دلايل نازل کړي دي، شايد چې تاسو (ترې) پند واخلئ (او عمل پرې وکړئ).
[۲] زناکاره ښځه او زناکار سړی نو د دوی دواړو هر یو په دُرو باندې ووهئ سل دُرې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او تاسو لره دې په دوی دواړو باندې د الله ﷻ د دین په هکله زړه سوی ونه نیسي (چې زړه پرې وسوزوئ او دُرې کمې کړئ او یا یې په کمبود یا سقوط کښې شفاعت وکړئ، ای مؤمنانو!) که تاسو یاست چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځې باندې مو ایمان راوړی وي (نو د زړه سوي څخه پرې اجتناب وکړئ).

او (په دې باندې علاوه) د دواړو عذاب (تجلید) ته دې د مؤمنانو څخه یوه ډله حاضره شي (چې په خپلو سترګو د حدودو اجراءات وګوري).

[۳] (د زنا بد اثر دا هم دی چې) زناکار سړی (په پوره رغبت سره) په نکاح نه اخلي مګر (د خپل ځان په شان) زناکاره ښځه، او یا (لا د دې څخه هم وربدتره) مشرکه ښځه.

او (همدارنګه) زناکاره ښځه چې ده دې لره په نکاح نه قبلوي مګر زناکار سړی او یا (د دې څخه هم بدتر) مشرک سړی (بل ځاته مرغوبه نه واقع کېږي).

او (دا ځکه چې) دغه نکاح په مؤمنانو باندې (په تسخیري توګه) حرامه کړی شوې ده (د دغسې نکاح د رغبت څخه دوی پاک ګرځول شوي دي).

## ارتباطونه

۱ـ د وړاندېني سورت وروستني ایتونه په دې باندې هم مشتمل وه چې تاسو مونږ عبث نه یاست پیدا کړي: ﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا﴾ ایا نو تاسو ګومان کوئ چې یقیناً مونږ تاسو عبث (بې حکمته) پیدا کړي یاست.

دا سورت د ځینو احکامو په نزول سره شروع شوی دی چې که بالفرض د انسان پیدایښت عبث وی نو د احکامو نزول ته به څه اړتیا نه وی، او د امتحان لمن به ټوله شوې وی.

۲ـ د هغه سورت په وروستني ایت کښې مؤمنان په غوږ وهلی شوي وه چې په خپلو منځو کښې هم یو تربله د مغفرت (عفوې) او ترحم څخه کار واخلي. د دې سورت په لومړنیو ایتونو کښې هغوی ته هغه موارد ښودلی شوي دي په کومو کښې چې باید دوی د عفوې او ترحم څخه کار وانخلي او شریعت د پښنو لاندې نه کړي چې: ﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾ یعنې او د الله ﷻ په دین کښې دې تاسو په زناکارانو باندې شفقت او ترحم ونه نیسي چې د شفقت او ترحم د وجې وریاندې حدود جاري نه کړئ او شریعت د پښنو لاندې کړئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې زمونږ د پلوه لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ دا سورت بل چا نه دی نازل کړی بلکې مونږ د خپلو بندګانو دپاره د یوه ډېر لوی عظیم الشان نعمت په توګه په تا باندې درنازل کړی دی، ترڅو د همدې سورت په رڼا کښې دوی د دنیا او آخرت دواړو د سعادت درلودونکي جوړ شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ په دې سورت کښې مونږ د يو پلوه تاسو په ډېرو مهمو احکامو باندې مکلف ګرځولي ياست ترڅو ستاسو دنياوي نظام ګډوډ نه شي او په خوشالۍ سره ژوند وکړئ، او د بله پلوه مو ستاسو د عقايدو د تصحيح دپاره د خپل وحدانيت ډېر واضحه دلايل درنازل کړي دي ترڅو تاسو په آخرت کښې د الهي عذاب څخه بچ پاتې شئ، نو تاسو ته مناسب دي چې هم د احکامو څخه او هم د دلايلو څخه اعظمي ګټه پورته کړئ او په تعميل سره يې په ياد وساتئ.

۳_ د احکامو څخه يو حکم دا دی چې:

الف: تاسو زناکاره ښځه او زناکار سړی دواړه (هر يو) په سل-سل دُرو باندې ووهئ، ترڅو د دوهم خل دپاره دغه کرغېړن عمل ته اقدام ونه کړي.

ب: تاسو دې په دغو دواړو باندې زړه سوی او ترحم ونه نيسي چې د الله ﷻ شريعت د پښو لاندې کړئ او شرعي حد ورباندې جاري نه کړئ او يا د شرعي حد په اکمال کښې قصور وکړئ چې وهل يې سل-سل دُرو ته ونه رسوئ.

ج: ای مؤمنانو! که تاسو ياست چې په الله ﷻ او هم په وروستنۍ ورځ باندې مو ايمان راوړی وي او عقيده لرئ چې هلته به د سوال جواب سره مخامخ شئ، نو د شرعي حدودو په اجراء کولو کښې د نرمښت او زړه سوي څخه کار مه اخلئ.

د: په دې باندې علاوه ذکرو شوو دواړو مجرمانو ته په پټه جزا مه ورکوئ چې پرته له دې چې خلک يې وګوري حدود ورباندې جاري کړئ، بلکې د دواړو تعذيب (د حدودو اجراء کولو) ته دې د مؤمنانو څخه يوه ډله حاضره شي ترڅو لاندې مطالب ترلاسه شي:

اول: چې مجرمان د ښه زيات خجالت سره مخامخ شي او بيا دغه فاحش عمل ته زړه ښه نه کړي.

دوهم: چې نور خلک ترې عبرت واخلي او د دغه فاحش عمل څخه خپل ځانونه وساتي.

درېم: چې په ټوله دنيا کښې ستاسو پاکيزه ژوند شهرت مونده کړي او کفري ټولنې دا تمه ونه کړي چې په تاسو کښې فحاشۍ او کچنيتوب ته وده ورکړي.

۴_ ای پيغمبره! برسېره په دې چې د زنا کرغېړن عمل يوه نتيجه دا ده چې بايد زناکاران د مؤمنانو په وړاندې په حد کړی شي او د ښې لويې شرمندګۍ سره مخامخ شي، بله نتيجه يې دا ده چې د بنيادم په اخلاقو باندې ډېر بد اثر غورزوي هغه دا چې: زناکار سړی د زناکارۍ په سبب په چټلۍ باندې روږدی کېږي حتی چې د مسلمانې کچنۍ او يا مشرکې کچنۍ څخه په غير د عفيفې پاک لمنې په نکاح کښې پوره رغبت او مينه نه کوي، همدارنګه کچنۍ ښځه بل چاته مرغوبه نه واقع کېږي چې په نکاح باندې يې واخلي مګر زناکار سړي ته او يا لا مشرک سړي ته.

لنډه دا چې د کچنۍ نکاح په سوچه مؤمنانو باندې په تسخيري توګه حرامه ګرځول شوې ده او دوی ترې پاک ساتل شوي دي، نو مسلمانانو ته په کار دي چې د زناکارۍ څخه خپل ځانونه ډېر کلک په حفاظت کښې ولري چې د محدوديت د رسوايۍ څخه علاوه په زناکارۍ باندې روږدی نه شي، حتی چې د عفيفې زنانه د نکاح کولو څخه به يې هم زړه تور شي او نفرت به ترې کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ څرنګه چې په دې سورت کښې د يو پلوه څه احکام بيان شوي دي او د بله پلوه پکښې د توحيد دلايلو ته اشاره شوې ده، نو په ﴿ وَفَرَضْنَـٰهَا ﴾ کښې ورته د احکامو په لحاظ ضمير راجع کړی شوی دی او په ﴿ وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ءَايَـٰتٍۭ بَيِّنَـٰتٍ ﴾ کښې د توحيد په دلايلو باندې پکښې صراحت شوی دی.

۲_ که څه هم په ﴿ سُورَةٌ أَنزَلْنَـٰهَا وَفَرَضْنَـٰهَا وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ءَايَـٰتٍۭ بَيِّنَـٰتٍ ﴾ کښې ځينو علماوو کرامو د ﴿ سُورَةٌ ﴾ کلمې په اعراب کښې متعددې وجې ليکلي دي[۱] مګر کومه وجه چې مونږ ته په تبادر سره ذهن ته راځي هغه دا ده چې ذکره شوې کلمه به د خپلو درېواړو صفاتو سره د مقدرې مبتدا خبر وي چې په "هَـٰذِهِۦ" سره ترې تعبير کولی شو، يعنې دغه راتلونکی سورت داسې سورت دی چې دغه-دغه صفات لري. نو مقدره جمله د خبر سره جمله اسميه خبريه جوړېږي.

### سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې خبريه جمله خو د لاندې دوه وو مطلبونو څخه د يوه مطلب دپاره وي:

الف: ترڅو مخاطب د جملې په مضمون باندې پوه شي او پرې خبر شي.

ب: ترڅو هغه پوه کړی شي چې متکلم هم په دغه مضمون باندې خبر دی.

په دې مقام کښې يو مطلب هم صحت نه لري، ځکه چې مونږ د جملې په مضمون باندې پوه ياستو چې دا سورت د الله ﷻ د پلوه په دغه صفاتو سره نازل شوی دی او هم مونږ پوه ياستو چې الله ﷻ زمونږ په پوهه باندې پوه دی؟

مونږ وايو چې: د خبريه جملې مطالب په ذکرو شوو دوه وو مطلبونو کښې حصر نه دی بلکې کله-کله پکښې نور مطالب هم په نظر کښې نيولی کېږي[۲] لکه په دې ايت: ﴿ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ ﴾ [آل عمران:۳۶] کښې د تحسر او افسوس اظهار مطلب دی. يعنې د بي بي مريمې مور وويلې چې: ای زما ربه! ما خو (ما في البطن نفس) ښځينه وزېږاوه چې زه ورباندې تحسر او افسوس کوم.

نو په دې مقام کښې په خبريه جمله کښې د نعمتونو اظهار او څرګندونه مطلب ده او بس.

### يادونه

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [المائدة:۴۸] ايت لاندې هغه وجه ليکلې ده د کومې د کبله چې (زمونږ په خيال) په ﴿ ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى ﴾ کښې د زنانه ذکر د نارينه په ذکر باندې مخکښې نازل شوی دی، نو هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

### د حدودو ډولونه

۵_ "حدود" د "حد" جمعه ده، حد په لغت کښې هغې پردې ته ويل کېږي چې دوه شيان سره جدا

(۱) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۵۸
(۲) مختصر المعاني في البلاغه ص۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


کوي، نو د یوه کور حدود د هغو شیانو څخه عبارت دي په کومو باندې چې د نورو کورونو څخه جدا کېږي[۱]. او په شریعت کښې د هغه عقوبت څخه عبارت دی چې په حقوق الله کښې د جنایت د کبله اندازه کړی شوی وي[۲].

حدود لاندې څلور ډولونه لري:

الف: د لویې غلا (لوټماری) حد، چې په [المائدة:۳۳] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، او د وړې غلا حد چې په [المائدة:۳۸] ایت کښې په اِثبات رسېدلی دی.

ب: د قذف حد، چې بیان یې په [النور:۴] ایت کښې راروان دی.

ج: د شرابو حد، چې په احادیثو کښې شرحه شوی دی.

د: د زنا حد، چې په همدې ایت کښې ورته اشاره شوې ده په کوم کښې چې بحث جاري دی.

## د "جَلد" معنی

۶_ په ﴿ فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا ﴾ کښې د ﴿ فَٱجۡلِدُوا ﴾ کلمه د "جَلْد" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "جَلْد" خو اصلاً د بدن پوستکي ته ویل کېږي مګر کله چې ترې فعل اشتقاق کړی شي _لکه چې په ایت شریف کښې ترې ﴿ فَٱجۡلِدُوا ﴾ اشتقاق شوی دی_ نو بیا د پوستکي په وهلو باندې معنی کېږي[۳]. نو په دې مقام کښې د نوموړې کلمې څخه لاندې معناوې اشارةً څرګندېږي:

الف: په کار دي چې د حد په اجراء کولو کښې یوازې د پوستکي په وهلو (دردولو) باندې اکتفاء وکړی شي، هسې نه چې هډوکي یې مات کړی شي او یا یې غابښ وویستلی شي او داسې نور.

ب: باید په هغو ځایونو باندې ونه وهلی شي په کومو کښې چې د عیبجن کېدلو او مُثله (بدڅېره) کېدلو خطره وي[۴].

نو په کار دي چې په غلیظ عورت او په مخ باندې ونه وهلی شي؛ نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ»[۵] یعنې کله چې ستاسو یو کس وهل کوي (او یا حد اجراء کوي) نو د مخ د وهلو څخه دې خپل ځان وساتي.

ج: کومه آله چې د حد په اجراء کولو کښې کارول کېږي باید چې هغه متوسطه قمچینه (متروکه) وي. د ښه وضاحت دپاره د یوه اورد حدیث لنډ مضمون ولولئ:

اول: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یوه سړي په خپل ځان باندې په زناکولو سره اقرار وکړ.

دوهم: نو نبي کریم ﷺ ورته د حد اجراء کولو دپاره هغه آله راوغوښتله کومې ته چې په عربي

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۰۸
(۲) الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۱۲
(۳) مفردات الراغب ص۹۳؛ لسان العرب ج۳ ص۱۲۵
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۱
(۵) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې سوط وايي او په پښتو کښې ترې مونږ په قمچينه يا متروکه باندې تعبير کوو.

دريم: نو يوه ماته قمچينه ورته راوړله شوه چې ډېره کمزورې وه.

څلورم: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د دې څخه لږ څه د پاسه بله قمچينه راوړئ.

پنځم: نو داسې قمچينه ورته راوړله شوه چې نوې جوړه کړې شوې وه چې لا کارول شوې نه وه، زيګوالي يې درلود.

شپږم: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د دې څخه کمزورې سوط (قمچينه) راوړئ.

اوم: نو دا خل ورته داسې متروکه حاضره کړې شوه چې د لومړنۍ په شان کمزورې نه وه او د دوهمې په شان زيګوالي يې نه درلود.

اتم: «فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ»[1] نو نبي کريم ﷺ پرې امر وکړ او نومورې اقرار کوونکی په حد کړې شو (او په دُرو باندې ووهلی شو).

## د "رأفة" کلمې معنی

۷_ په ﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ﴾ کښې د ﴿رَأْفَةٌ﴾ کلمه د "رَحْمَة" او نرمې کولو معنی ورکوي[2]، يعنې تاسو لره دې په زانيه او زاني باندې د حد په اجراء کولو کښې رحمت او نرمي ونه نيسي چې د لاندې کارونو څخه کوم يو کار وکړئ:

الف: چې په ډېره کمزورې دُره باندې حد اجراء کړئ.

ب: چې تعداد يې سلو ته ونه رسوئ.

ج: چې د حد په سقوط کښې او يا د سلو دُرو څخه په کمولو کښې شفاعت وکړئ.

په همدې هکله مونږ د [المائدة:۳۸] ايت لاندې يو حديث شريف رانقل کړی دی، نو په کار دي چې هلته يو خل مراجعه وکړې شي، خو په دې مقام کښې ورباندې يو بل حديث هم اضافه کوو چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ فَقَدْ ضَادَّ اللهَ»[3] يعنې هرڅوک چې شفاعت يې د الله ﷻ د حدودو څخه د يوه حد په مقابل کښې حائل شي (په حدودو کښې شفاعت وکړي) نو يقيناً هغه د الله ﷻ په ضد (جنګ) کښې واقع شو.

## طائفه څومره خلکو ته ويل کېږي؟

۸_ په ﴿وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿طَائِفَةٌ﴾ کلمه په دې مقام کښې په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده[4]، مګر بهتره دا ده چې دلته د نومورې کلمې څخه يو ټاکلی عدد خلک مطلب نه شي بلکې دومره عدد ترې مطلب شي چې د زناکار محدوديت

---

(۱) موطا الإمام مالک ص۵۳۷
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۶
(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۱۵۰
(۴) زاد المسير ج۵ ص۳۴۲؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

پټ پاتې نه شي او خلک ورباندې خبر شي[1] چې فلانکی نفر په حد کړی شو.
د ښه وضاحت دپاره لاندې واقعه ولولئ:
د عمر (الخليفه) ﷺ یوه زوی -چې عبد الرحمن نومېده- په مصر کښې شراب څښلي وه، نو د مصر والي (عمرو بن العاص ﷺ) ورباندې په پټه کښې حد جاري کړی وه، خو دا ډول حد د خلیفه ﷺ خوښ نه شو او مدینې منورې ته یې راوغوښت او په ډاګه یې ورباندې په دوهم ځل حد اجراء کړ چې ټولو خلکو ولید او یا پرې خبر شوه[2].

## ایا په حد کښې تغریب شامل دی؟

۹_ د دې دپاره چې ذکره شوې موضوع ښه پوره واضحه شي د محترمو لوستونکو پام لاندې ټکو ته واړوو:

الف: په [النساء:۱۵] ایت کښې په صراحت سره دا خبره نازله شوې ده چې د زناکارو زنانه وو په هکله په موقته توګه جزا دا ده چې د زنا د ثبوت څخه وروسته یې تر هغه پورې په کورونو کښې بندیانې کړئ ترڅو چې مړې شي او یا ترڅو الله ﷻ بل دائمي حکم درنازل کړي، نو په دې باندې ټول علماء کرام متفق دي چې دا حکم ابتدایي حکم وه[3].

ب: بیا د څه وخت څخه وروسته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وفرمایل چې: «خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَنَفْيُ سَنَةٍ»[4] یعنې د کومې لارې د ښودلو وعده چې الله ﷻ کړې وه هغه یې ماته راوښودله نو زما څخه یې واخلئ! زما څخه یې واخلئ! (زده کړئ) چې یقینًا د زناکارو ښځو دپاره یې داسې لاره تشریع کړه چې بې واده زنانه د بې واده نارینه سره په زنا کولو باندې سل-سل دُرې ووهئ او یو کال یې د خپل وطن څخه بل وطن ته وشړئ.

ج: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ وَغَرَّبَ وَأَنَّ أَبَا بَكْرٍ ضَرَبَ وَغَرَّبَ وَأَنَّ عُمَرَ ضَرَبَ وَغَرَّبَ»[5] یعنې یقینًا نبي کریم ﷺ زانیان په دُرو وهلي وه او هم یې د یو کال دپاره له خپله وطنه شړلي وه، همدغه ډول کار ورباندې یقینًا ابو بکر الصدیق ﷺ او هم عمر الفاروق ﷺ هر یوه په خپلو-خپلو زمانو کښې اجراء کړی وه یا په بل عبارت: ذکر شوی حدیث په خیر القرون کښې عملي شوی دی.

د: د امام الشافعي علیه الرحمة په شمول ځینې علماء کرام وايي چې: نظر پاسنیو احادیثو ته تغریب په حد کښې شامل دی او یا پکښې شرط دی[6] نو کوم مجرد زاني ته چې د دُرو جزا ورکړی شي او له

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۱۱۲
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۵۵
(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۶۵
(۵) جامع الترمذي ج۱ ص۲۶۶
(۶) تفسیر المظهري ج۶ ص۴۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وطنه ونه شړلی شي نو په هغه باندې حد نه دی اجراء شوی.

ه: امام ابو حنیفه رحمة الله علیه او ځینې نور علماء کرام وايي چې: تغریب (له وطنه شړل) په حد کښې شامل نه دي او نه ورته شرط دي بلکې تغریب صرف د مصلحت او سیاست دپاره تجویز شوی دی او همدارنګه د همدې مطلب دپاره په خیر القرون کښې عملي شوی دی. او دا ځکه چې:

اول: نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَبِيعُوهَا وَلَوْ بِضَفِيرٍ»[۱] یعنې که ستاسو یوې مجردې وینځې زنا وکړه نو تر درې یا څلور واره وربانديې د دُرو د وهلو حد اجراء کړئ، نو که بیا یې هم په څلورم یا پنځم وار زنا وکړه نو بیا یې خرڅه کړئ که څه هم د یوه پړي په قیمت سره وي.

که بالفرض په حد کښې تغریب شامل وی نو نبي کریم ﷺ به د خرڅولو ارشاد نه وی کړی او دا ځکه چې په دغه صورت کښې تسلیم او تسلم د تغریب د دورې د پوره کولو څخه وړاندې تحقق نه شو موندلی[۲] چې بیه وربانديې تمامه شي.

دوهم: یو ځل ربیعه بن اُمیه بن خلف په شرابو څښکلو کښې محدود او بیا د عمر الفاروق رضي الله عنه د پلوه خیبر ته وشړل شو، خو نوموړی هرقل (د روم پاچا) ته ورغی او هلته مرتد شو (نصرانیت یې قبول کړ) نو عمر الفاروق رضي الله عنه وویلې چې: «لا أُغَرِّبُ بَعْدَهُ مُسْلِمًا»[۳] یعنې د ده څخه وروسته به زه هیڅ مسلمان له وطنه ونه شړم.

نو که بالفرض تغریب د زنا په حد کښې شامل وی نو د یو پلوه به یې په شراب خور باندې نه وی تعمیل کړی چې هلته خو بالاتفاق شامل نه دی، او د بله پلوه به یې ویلي وی چې: "بِغَيْرِ الْمُسْلِمِ الَّذِيْ صَارَ مَحْدُوْدًا فِي الزِّنَى" یعنې زه به د ده څخه وروسته په زنا کښې د محدود څخه په غیر بل هیڅ مسلمان له وطنه ونه شړم او دا ځکه چې عمر الفاروق رضي الله عنه شرعًا حق نه درلود چې شرعي حد ته تغیر ورکړي او څه نقصان پکښې واقع کړي، نو څرګنده شوه چې تغریب تعزیري شی دی چې اسلامي حاکم پکښې د تغیر حق لري.

دریم: علي رضي الله عنه فرمایلي دي چې: «كَفَى بِالنَّفْيِ فِتْنَةً»[۴] یعنې همدا فتنه بس ده چې د زنا په محدودانو باندې د وطن څخه نفي کول (تغریب) اجراء شي، چې په پردي وطن کښې نا اشنا وي حیا یې کمېږي او د بله پلوه احتیاج یې زیاتېږي، څه لرې نه ده چې خپل بد فعل د ځان دپاره د مال د موندلو حرفه (کسب) جوړه کړي.

څلورم: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِيمَنْ زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ بِنَفْيِ عَامٍ وَإِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ»[۵] یعنې یقینًا رسول الله ﷺ د هغه چا په هکله فیصله وکړه کوم

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۵۸
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۵۶
(۳) إعلاء السنن ج۱۱ ص۶۰۲
(۴) بدائع الصنائع ج۷ ص۳۹
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې زنا کړې وه او د واده والا نه وه، البته داسې فیصله چې د یوه کاله پورې دې د وطن څخه نفي (فرار) کړی شي او حد دې هم ورباندې جاري کړی شي چې سل دُرې ووهل شي.

نو که بالفرض تغریب په حد کښې شامل وی نو په «بِنَفْيِ عَامٍ» باندې به يې «وَإِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ» نه وی عطف کړی، چې عطف د مغایرت غوښتونکی دی[1].

پنځم: په کومو احادیثو باندې چې تغریب ثابت شوی دی هغه احاد دي، نو که تغریب په حد کښې شامل شي په احادو باندې به په ایت شریف کښې زیادت لازم شي ځکه چې په ایت شریف کښې فقط سل دُرې نازلې شوې دي او په ذکرو شوو احادیثو کښېورباندې تغریب زیاتېږي، حال دا چې زیادت خو د نسخې معنی ورکوي او پوره واضحه ده چې په احادو باندې ایت شریف نه شي نسخه کېدلې.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې دا خو عجیبه خبره ده چې د شوافعو علیهم الرحمة په قول په کتاب الله باندې زیادت لازمېږي او د احنافو علیهم الرحمة په قولورباندې زیادت نه لازمېږي، حال دا چې دوی دواړه ډلې په تغریب باندې قائلې دي؛ نو پوښتنه دا ده چې: د دواړو ډلو زیادت څه فرق لري؟

مونږ وايو چې: ایت شریف د تغریب څخه ساکت دی او فقط په سلو دُرو باندې د حد په توګه ناطق دی. نو شوافع علیهم الرحمة په سلو دُرو باندې تغریب اضافه کوي او احادو احادیثو ته ګوري، نو د ایت شریف په مضمون کښې تغیر واقع کېږي چې تغریب د حد دپاره رکن یا شرط ګرځي. اما احناف علیهم الرحمة د ایت شریف په مدلول (مضمون) کښې څه تغیر نه واقع کوي، په احادیثو سره د تغریب حکم ابتداءً ثابتوي البته کله چې د اسلامي حکومت حاکم هغه مناسب وګڼي. نو د دوی په نزد تغریب د حد په توګه نه دی واجب شوی بلکې د تعزیر په توګه يې وجوب موندلی دی چې د حاکم د نظر پورې توقف لري چې اجراء کول يې ورته مصلحت ښکاره شي.

نو د دوی په نزد د حد په مسئله کښې د تغریب ثبوت د عدت په مسئله کښې د احداد ثبوت ته ورته دی، چې په [البقرة:۲۳۴] ایت کښې د کونډې زنانه عدت څلور میاشتې او لس ورځې ښودلی شوی دی خو د احادیثو په رڼا کښې په همدغې ښځې باندې احداد (تَرْكُ الزِّينَةِ) هم لازم شوی دی چې په عدت باندې علاوه دی (نه د عدت دپاره رکن دی او نه ورته شرط دی).

## ایا د حد سره د تغریب ثبوت نظایر لري؟

۱۱_ که څوک وايي چې: ایا په خیر القرون کښې داسې واقعات پېښ شوي دي چې هلته د تعزیر په توګه تغریب (جلا وطنی) هم تحقق موندلی وي؟

مونږ وايو چې: د تغریب دپاره په غیر د حد څخه نور نظایر هم په خیر القرون کښې تېر شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) تفسیر المظهري ج۶ ص۴۲۱

الف: الحکم بن ابي العاص د مکې معظمې د فتحې په ورځ ایمان راوړی وه او په مدینه منوره کښې اوسېده خو نبي کریم ﷺ د ځینو مصالحو د کبله طائف ته جلا وطن (تغریب) کړ(۱).

ب: نصر بن حجاج علیه الرحمة یو ښائسته تابعي وه خو عمر الفاروق ﷺ د ځینو ملحوظاتو په بنیاد بصرې ته فرار کړ(۲).

ج: همدارنګه دریم خلیفه (عثمان ﷺ) ابو ذر الغفاري ﷺ د مدینې منورې د ښار څخه د مکې معظمې په درې میله فاصله کښې یوې قریې ته تغریب (جلا وطن) کړ چې "رَبَذَة" نومېږي(۳)، چې زیات تفصیل یې د الله ﷻ په توفیق د [التوبة:۳۴] ایت لاندې تېر شوی دی.

## رجم هم په ایت شریف باندې زیادت دی

۱۲ـ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې خو مطلق زانیانو دپاره سل دُرې د حد په توګه ټاکلې شوې دي چې ټول زانیان پکښې شامل دي، حال دا چې په احادیثو کښې د هغو زانیانو دپاره رجم ټاکلی شوی دی کوم چې محصنات (د واده والا) وي. نو پوښتنه دا ده چې په دې مسئله کښې احناف علیهم الرحمة څنګه په رجم قائل شوي دي او په احادیثو سره یې د دوی په نزد په ایت شریف باندې زیادت منلی دی؟

مونږ وایو چې: د لاندې وجوهو د کبله دوی د رجم او تغریب په ثبوت کښې فرق کوي:

الف: په تورات کښې د زانیانو دپاره د رجم حد نازل شوی وه خو یهودانو هغه ته تغیر ورکړی وه او محض د مخونو په تورولو باندې به یې اکتفاء کوله. خو دغه شرعي حکم نبي کریم ﷺ په خپل شریعت کښې باقي پرېښود او هم یې د همدغو (یهودانو) ترمنځ عملي کړ(۴)، لکه چې بشپړ بیان یې د [المائدة:۴۳] ایت په شان نزول کښې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

ب: نبي کریم ﷺ د رجم حکم په خپلو امعیانو باندې اجراء کړی دی چې ثبوت یې د شهرت څخه ورتېر شوی دی او تقریباً د تواتر درجې ته رسېدلی دی چې د ایت شریف اطلاق ورباندې مقید ګرځولی کېږي(۵). د ښه وضاحت دپاره لاندې واقعات درېه زره کړئ:

اول: نبي کریم ﷺ ماعز بن مالک ﷺ رجم کړ البته کله چې هغه په خپله زناکارۍ باندې څلور کرته اقرار وکړ(۶).

دوهم: د نبي کریم ﷺ حضور ته یوه ښځه ورغله او اقرار یې وکړ چې د زنا څخه امیدواره ده، نو نبي کریم ﷺ ورته فرصت ورکړ، ترڅو یې چې بچی وزېږاوه او د تي رودلو د ضرورت څخه هم بې غمه شو

---

(۱) الإصابة في تميز الصحابه ج۱ ص۳۴۳
(۲) اعلاء السنن ج۱۱ ص۶۰۹
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۹؛ تفسير الطبري ج۱۰ ص۱۲۲
(۴) سنن ابي داؤد ج۲ ص۲۵۵؛ صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۰۷؛ سنن ابن ماجه ص۱۸۴
(۵) اعلاء السنن ج۱۱ ص۵۴۴
(۶) صحيح مسلم ج۲ ص۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې دودې يې خوړلي شوه نو بيا يې ورته امر وکړ چې خپل ماشوم چاته ورکړه چې حضانت (ساتنه) يې وکړي، نو کله چې هغې دا کار هم وکړ «فَأَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ»[1] نو امر يې ورباندې وکړ نو رجم کړی شوه.

دريم: په يوه اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ امر وکړ چې: «وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ عَلَى امْرَأَةِ هَذَا فَإِنْ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا»[2] يعنې اى أُنيسه! د دغه سړي ښځې ته ورشه او پوښتنه ترې وکړه نو که په زنا باندې يې اعتراف وکړ نو رجم يې کړه؛ أُنيس ﷺ ورغی او ښځې پرې اعتراف وکړ او بيا يې رجم کړه.

څلورم: همدارنګه د احاديثو په ځينو کتابونو کښې[3] د دوه وو نورو ښځو هم رجم کول روايت شوي دي البته کله چې دواړو د نبي کريم ﷺ په حضور کښې په زنا باندې اعتراف وکړه چې يوه د غامد قبيلې ته منسوبه وه او په "الغامدية" سره بلله کېده او بله د "جهينة" د قبيلې ښځه وه.

پنځم: يوه ورځې عمر الفاروق ﷺ په ممبر باندې کيناست، د خپلې اوږدې وينا په ضمن کښې يې وفرمايل چې: «فَكَانَ مِمَّا أَنْزَلَ اللهُ آيَةُ الرَّجْمِ»[4] يعنې زه دارېږم چې په راتلونکي کښې به ځينې خلک د زنا کارانو په هکله د رجم ځخه انکار وکړي چې په قرآن کريم کښې نه دی نازل شوی، زه تاسو ټولو ته اعلان کوم چې مونږ دغسې يو ايت په قرآن کريم کښې لوست چې د رجم حکم پکښې نازل شوی وه.

نو د رجم ايت هغه ايت دی چې تِلاوت يې منسوخ شوی دی او حکم يې باقي دی، البته چې دا ډول شرعي حکم د الله ﷻ د پلوه په خلکو باندې يو امتحان او ازموينه ده.

په بل روايت کښې د عمر الفاروق ﷺ د خولې ځخه د منسوخ التلاوة کلمات داسې روايت شوي دي چې: «الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا»[5] يعنې د واده والا سړی او د واده والا ښځه کله چې دواړه زنا وکړي نو دواړه رجم کړئ.

حتی عمر الفاروق ﷺ دا هم ويلي دي چې: «لَوْلَا أَنْ يَقُولَ زَادَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَى لَكَتَبْتُهَا: "الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ فَارْجُمُوهُمَا أَلْبَتَّةَ" فَإِنَّا قَدْ قَرَأْنَاهَا»[6] يعنې که دا وېره نه وی چې يو قائل به ووايي چې عمر بن الخطاب د الله ﷻ په کتاب کښې زيادت وکړ نو ما به ذکر شوی عبارت په قرآن کريم کښې ليکلی وی.

## هېر مو نه شي!

۱۳ـ هېر مو نه شي چې ذکر شوی منسوخ التلاوة ايت (چې تلاوت يې هېر کړی شوی دی او حکم يې باقي دی) د تلاوت په وخت کښې د "الأحزاب" د سورت يو ايت وه[7]. دا د يو پلوه، او د بله

(۱) موطأ الإمام مالک ص۵۳۴
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۶۴
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۶۸
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۰۹
(۵) سنن ابن ماجه ص۱۸۳
(۶) موطأ الإمام مالک ص۵۳۶
(۷) الدر المنثور ج۶ ص۵۵۸؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۱۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلوه باید دا هم هېره نه کړی شي چې په دې مقام کښې د "منسوخ التلاوة" څخه اصطلاحي منسوخ مطلب نه دی ترڅو ناسخ ته ضرورت پېښ شي، بلکې په دې مقام کښې په هېر شوي باندې د مجاز په توګه د منسوخ اطلاق شوی دی.

## عجیبه قیصه

۱۴_ د رجم په مشروعیت باندې ټول اهل القبله متفق دي، یوازې خوارج یې د مشروعیت څخه خوارج دي، د دوی د یوې قیصې مهم ټکي ولولئ[۱]:

الف: یوه ورځې د همدوی د جملې څخه یو ټولګی خلک عمر بن عبد العزیز علیه الرحمة ته ورغله او اعتراض یې ورباندې وکړ چې: په کتاب الله کښې رجم نشته او تاسو د زناکارانو دپاره د حد په توګه منلی دی، همدارنګه تاسو په حائضه ښځه باندې د روژې قضاء راوړل لازم ګڼئ او د لمانځه قضاء راوړل ورباندې لازم نه بولئ، حال دا چې د روژې څخه خو لمونځ په فرضیت کښې ښه مؤکد دی.

ب: نو عمر بن عبد العزیز علیه الرحمة د خوارجو څخه پوښتنه وکړه چې: ایا تاسو په قرآن کریم کښې د فرضي لمونځونو عدد او د ارکانو او وختونو شمېره موندلی شئ؟ همدارنګه تاسو په کتاب الله کښې د زکاتونو مقادیر او نصابونه چرته قرائت کړي دي؟

ج: خوارجو د جواب ورکولو دپاره وخت وغوښت چې مونږ به بیا جواب درکړو.

د: یوه ورځ وروسته دوی د پنځم خلیفه په حضور کښې اعتراف وکړ چې مونږ د ذکرو شوو سوالونو جوابونه په قرآن کریم کښې مونده نه کړه.

ه: نو خلیفه دوی ویوښتل چې کله تاسو د قرآن کریم څخه پرته په بل شي باندې عمل نه کوئ نو د ذکرو شوو مسائلو جوابونه تاسو د کوم ځای څخه اخستي دي؟

و: هغوی وویلې چې دا ټول په احادیثو باندې اثبات شوي دي.

ز: نو خلیفه دوی مخاطب کړه چې: نبي کریم ﷺ د رجم حکم اجراء کړی دی او راشده خلفاوو بلکې ټولو مسلمانانو عملي کړی دی، نو ځکه یې مونږ عملي کوو. همدارنګه نبي کریم ﷺ حائضې ښځې ته د روژې په قضاء راوړلو باندې امر کړی دی او د لمانځه په قضاء راوړلو باندې یې نه ده ماموره کړې؛ او په همدې باندې اُمهات المؤمنین او صحابیاتو رضوان الله علیهن هم عمل کړی دی نو مونږ هم ورباندې عمل کوو.

## د رجم سره په دُرو وهل نه جمعه کېږي

۱۵_ که څوک وایي چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا الثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَرَمْيٌ بِالْحِجَارَةِ»[۲] یعنې د کومې لارې د ښودلو وعده چې الله ﷻ په [النساء:۱۵] ایت کښې کړې وه هغه یې پوره کړه او ماته یې راوښودله نو

---

(۱) اعلاء السنن ج۱۱ ص۵۴۵
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زما څخه یې واخلئ (زده کړئ) هغه دا چې متاهل زناکار د متاهلې زناکارې سره په زناکولو باندې یو سل دُرې وهل کېږي او هم په کاڼو باندې وېشتل کېږي (او رجم کېږي).

نو پوښتنه دا ده چې: رجم شرعي حکم ګڼل شوی دی او څلور واړه مذاهب په دُرو باندې وهل په اتفاق سره شرعي حکم نه ګڼي او وايي چې جلد د رجم سره نه جمعه کېږي[1]، حال دا چې دا دواړه په یوه حدیث کښې روایت شوي دي؟

مونږ وایو چې: لږ وړاندې ـ په دولسمه توضیح کښېـ تېر شوه چې رجم څکه شرعي حکم ګڼل شوی دی چې په خیر القرون کښې ورباندې په شهرت یا تواتر سره عمل شوی دی، نو په دغه ډول حدیث سره په ایت شریف باندې زیادت تحقق موندلی شي، اما د رجم سره په دُرو باندې وهل په دغې درجه کښې نه دي او عمل ورباندې تواتر ته لا څه چې شهرت ته هم نه دی رسېدلی، نو څکه د متاهل زناکار په حد کښې شامل نه کړی شو او یوازې په رجم باندې ختم شوی وګڼل شو.

## په رجم کښې احصان ضرور دی

۱۶ـ که څوک وایي چې: په ذکر شوي حدیث کښې د احصان ذکر نشته حال دا چې علماوو کرامو د رجم د وجوب دپاره احصان ضرور ګڼلی دی؟

مونږ وایو چې: د رجم دپاره د احصان موجودیت د لاندې وجوهو د کبله ضروري دی:

الف: په خیر القرون کښې چې څومره زناکاران رجم شوي دي هغوی ټول د احصان درلودونکي وه، یا په بل عبارت: لکه چې رجم په مشهوره یا متواتره احادیثو باندې ثابت دی همدارنګه د احصان ضرورت هم ورباندې ثبوت ته رسېدلی دی.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ رَجُلٌ زَنَى بَعْدَ إِحْصَانٍ فَإِنَّهُ يُرْجَمُ»[2] یعنې د هیڅ مسلمان وژل جائز نه دي مګر هله چې د درېوو خاصیتونو څخه پکښې یو خاصیت موجودیت ولري، چې یو سړی وي چې د احصان څخه وروسته زنا وکړي نو دغه سړی دې یقیناً رجم کړی شي. او داسې نور.

۱۷ـ پاتې شوه دا خبره چې احصان څه شی دی؟

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء: ۲۴] ایت لاندې لیکلي دي چې: احصان په لغت کښې دې ته ویل کېږي چې څوک په یوه حصن (قوي قلعه) کښې داخل شي او د دښمنانو څخه مامون وګرځي.

خو احصان په شریعت کښې په دوه ډوله دی: یو د قذف د حد احصان دی چې ـإن شاء الله ﷻـ د نزدې ایتونو لاندې به ورباندې رڼا واچوله شي. بل د رجم د حد احصان دی چې علماوو کرامو پکښې بنه اوږده بحثونه کړي دي او دا لنډ کتاب یې دلته د را انتقالولو حوصله نه لري، هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي، نو د همدې کبله یې مونږ محض په اجمال باندې اکتفاء کوو چې:

---

(۱) الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۴۰

(۲) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د رجم د حد دپاره احصان ضروري دی چې د لاندې صفاتو د موجوديت څخه عبارت دی[۱]:
۱_ عقل، ۲_ بلوغ، ۳_ حريت، ۴_ اسلام، ۵_ صحيحه نكاح، ۶_ چې نارينه او زنانه دواړه د ذكرو شوو صفاتو درلودونكي وي.

## مشكل المراد ايت

۱۸_ دا ايت شريف چې: ﴿ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ﴾ د هغو ايتونو د جملې څخه دی چې په مراد باندې په پوهېدلو كښې يې علماء كرام د مشكل سره مخامخ دي، ځكه چې د ﴿لَا يَنكِحُ﴾، ﴿لَا يَنكِحُهَآ﴾ دواړه كلمې د "نِكَاح" څخه اشتقاقي شوې دي، "نِكَاح" په دوه وو معناوو كښې استعمالېږي چې يوه جماع ده او بله د نكاح عقد كول دي[۲].

په دې مقام كښې كه نكاح د عقد په معنى واخستله شي نو د يو پلوه حصر د واقع سره مطابقت نه مومي او دا ځكه چې زناكار سړی خو عفيفه ښځه هم په نكاح باندې اخلي هسې نه چې د ده نكاح به همېشه د غير عفيفې سره متحققه كېږي. او د بله پلوه دا معنى هم ترې فهمېږي چې مسلمان زاني به كله-كله مشركه كچنۍ هم په نكاح اخلي حال دا چې د مسلمان او مشركې په منځكښې نكاح شرعًا تحقق نه شي موندلی.

او كه نكاح د جماع او وطې په معنى واخستله شي، او د معنى حاصل يې داسې راوځېږي چې: مسلمان زاني سړی به يا د خپل ځان غوندې كچنۍ ښځې سره زنا كوي او يا به لا د دې څخه هم د بدترې كچنۍ ښځې سره په جماع باندې اخته كېږي چې مشركه او كافره وي. په دې تقدير هغو ټول روايتونه له نظره غورزولی كېږي كوم چې د ايت شريف په شان نزول كښې راحكايت شوي دي. هغه دا چې:

الف: د يوه اوږده حديث مضمون دی چې يوه ورځې مرثد بن ابي مرثد ﷺ د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې: ايا هغه كچنۍ په نكاح باندې واخلي كومه چې عناق نومېږي؟ (نوموړې د زنا د تحريم څخه وړاندې د هغې سره يارانه درلوده). نو نبي كريم ﷺ نوموړي صحابي ﷺ ته جواب ورنه كړ او چپ شو ترڅو چې ذكر شوی ايت شريف نازل شو، نو بيا يې ورباندې تازه نازل شوی ايت شريف قرائت كړ او مخاطب يې كړ چې: «فَلَا تَنْكِحْهَا»[۳] يعنې (ای مرثده!) عناق نامې كچنۍ په نكاح باندې مه اخله.

ب: د نبي كريم ﷺ څخه يوه مسلمان سړي اجازه وغوښتله چې: ايا هغه زناكاره (كچنۍ) په نكاح واخلي كومه چې أُم مهزول نومېږي، حال دا چې همدغه كچنۍ په خپل ځان باندې د شرط په توګه منې چې نوموړي ته به نفقه او خرڅه وركوي؟

---

(۱) بدائع الصنائع ج۷ ص۳۷؛ اعلاء السنن ج۱۱ ص۵۴۴؛ الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۴۱
(۲) لسان العرب ج۲ ص۶۲۶؛ مفردات الراغب ص۵۲۶
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۱؛ سنن النسائي ج۲ ص۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو نبي کريم ﷺ په نوموړي باندې ذکر شوی ایت شریف قرائت کړ(۱)، ته به وایې چې هغه ته یې ارشاد کړی وي چې أم مهزول په نکاح باندې مه اخله.

ج: مفسرین کرام وایي چې کله مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ نو دوی په ډېره فقیرۍ کښې واقع شوه حال دا چې هلته ځینې کچنۍ ښځې وې چې په فحاشۍ باندې به یې پیسې اخستې او د ښه ډېر مال خاوندانې وې.

نو د مهاجرینو ځخه ځینو فقیرانو مسلمانانو خوښه کړه چې د هغوی سره نکاح وکړي ترڅو د هغوی د مالونو ځخه تر هغه وخته پورې استفاده وکړي ترڅو چې الله ﷻ دوی په خپلو مالونو باندې غنیان کړي. نو دوی نبي کريم ﷺ ته ورغله او د کچنیانو ښځو په نکاح اخستلو کښې یې ترې اجازه وغوښتله «فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ»(۲) نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو او اجازه یې ورنه کړه چې په نکاح باندې یې واخلي.

## د اشکال ځخه د وتلو لارې

۱۹_ مفسرینو کرامو په ایت شریف کښې د اشکال د پورته کولو دپاره متعددې لارې غوره کړې دي(۳) چې مونږ یې په لاندې مثالونو باندې اکتفاء کوو:

الف: ځینو علماوو کرامو د اشکال ځخه د وتلو دپاره په دواړو معناوو باندې قول کړی دی نو د نکاح کلمه یې نظر ایت شریف ته د جماع په معنی او نظر شان نزول ته د عقد په معنی اخستې ده(۴) او هغه متل یې په ځان باندې صادق کړی دی چې: "د باران ځخه وتښتېد او د ناوې لاندې یې شپه شوه"، ځکه چې د ځینو خاصو کسانو ځخه په غیر نور اکثریت دغه ډول استعمال جائز نه بولي چې یو لفظ په دوه وو معناوو کښې په یوه وخت کښې استعمال شي(۵).

ب: ځینې نور وایي چې: نکاح د وطې (جماع) په معنی سره ده(۶)، یعنې زاني سړی یا د هغې مسلمانې ښځې سره زنا کوي چې شریعت یې عملاً د پښو لاندې کړی وي او یا د هغې کافرې ښځې سره په زنا باندې اخته کېږي کومه چې په شریعت او د زنا په تحریم باندې هیڅ عقیده نه لري، نو مسلمان نارینه ته په کار دي چې نه مسلمانې گنهگارې ته او نه مشرکې کافرې ته په ذکر شوې حیثیت ورنژدې شي.

گومان کوو چې دغه ډله علماء کرام به د شان نزول روایتونه په إشارة النص سره د ایت شریف د مفهوم ځخه لاندې کوي چې: کله د عاصیه مسلمانې ښځې او کافرې زناکارې ښځې جماع د زناکار

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۵۱
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۱۱
(۳) تفسير القرطبي ج۱۱ ص۱۶۷
(۴) اضواء البيان ج۶ ص۸۱
(۵) نور الانوار في الاصول ص۸۴
(۶) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۶؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۶۲؛ الدر المنثور ج۶ ص۱۲۷؛ تفسير الطبري ج۱۸ ص۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او عاصي مسلمان او يا د مشرک سره تناسب لري نو په کار دي چې د دغو دواړو زنانه وو د نکاح ځخه هم مؤمنان خپل ځانونه وساتي، چې د کافرې ښځې نکاح خو ورته بالکل صحت نه لري او د مسلمانې کچنۍ نکاح خو ورته جواز لري مگر په ديوثانو کښې شمېرل کېږي او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «ثَلَاثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ»[۱] يعنې درې کسان دي چې الله ﷻ ورباندې جنت حرام کړی دی، يو هغه ځوک دی چې په شراب ځښلو باندې همېشه والی کوي، بل هغه ځوک چې د مور او پلار بې اطاعتي کوي او صلة الرحم يې د پښو لاندې کړی وي، او درېم هغه ديوث سړی دی چې په خپل کوروالا کښې بدکار ته استقرار ورکوي، ورباندې خبر وي او پرې راضي وي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ»[۲] يعنې ښځه د ځلورو شيانو د کبله په نکاح سره اخستله کېږي، د مال د کبله او د پلارني نسب د کبله او هم د ښائست د کبله او د ديندارۍ د کبله، نو ته په ديندارۍ سره کاميابي حاصله کړه، لاسونه دې خاورې شه (د کچنۍ او فاسقې ځخه خپل ځان وساته).

ج: ځينې علماء کرام وايي چې: نکاح د عقد په معنی سره ده خو ايت شريف په هغه کچنيانو پورې مختص دی کومې چې د شان نزول په روايتونو کښې ذکرې شوې دي[۳].

دغه حل لاره هم خوندوره نه ده ځکه چې په شرعي احکامو کښې خو د مفاهيمو عموم ته کتل کېږي او د شان نزول خصوص يا د مورد خصوص ځه اعتبار نه لري.

د: ځينو علماوو کرامو د إشکال د حل کولو دپاره نورې لارې سنجولې دي[۴] مگر کومه حل لاره چې مونږ ته بهتره برېښي او د وړاندېنيو ايتونو سره په ډېره ښه وجه پيوند اخلي هغه دا ده چې: زناکاري لکه ځنگه چې بنيادم شرعًا محدود گرځوي او د غټې رسوايۍ سره يې مخامخ کوي همدارنگه په اخلاقو او خاصيتونو باندې هم ډېر بد او ناکاره اثر اچوي چې: زناکار سړی په کامل رغبت سره په نکاح نه اخلي مگر د خپل ځان غوندې زناکاره او يا د دې ځخه هم بده کافره ښځه په نکاح اخلي، بلکې د مسلمانې کچنۍ د نکاح ځخه د کافرې نکاح ته ډېر خوشالېږي خو دا بېله خبره ده چې د مشرکې ښځې د نکاح کولو اجازه ورته شريعت نه ورکوي، که بالفرض اجازه يې ورکړې وی نو نکاح ته به يې ډېر خوشاله شوی وی.

همدغه مضمون په يو تفسير سره په راتلونکي ايت کښې منعکس شوی دی چې: ﴿ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ﴾ [26] يعنې ناپاکې (چټلې) ښځې د ناپاکو (چټلو) نارينه وو دپاره دي، او ناپاک نارينه د ناپاکو ښځو دپاره دي (يو تر بله سره

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۳۵۱
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۶۲
(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۳۲۲
(۴) تفسير البحر المحيط ج۸ ص۱۱؛ تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي ج۹ ص۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مناسبت او رغبت لري)، او پاکيزه (سپېڅلې) ښځې د پاکيزه او سپېڅلو نارينه وو دپاره دي او پاکيزه نارينه د پاکيزه زنانه وو دپاره دي (يو تر بله سره تمايل او تراغب لري).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲۰_ که څوک وايي چې: د ﴿ ٱلزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً ﴾ جمله خو د ﴿ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ﴾ مضمون اداء کړی دی نو پوښتنه دا ده چې د دوهمې جملې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د لومړۍ جملې څخه د راغبيت حصر مطلب دی او د دوهمې جملې څخه د مرغوبيت حصر مراد دی، يعنې لکه څنګه چې زناکار سړی د زناکارې يا مشرکې په نکاح کښې رغبت کوونکی وي همدارنګه زناکاره ښځه هم بل چاته مرغوبه نه وي، يا زناکار مسلمان ته مرغوبه وي او يا مشرک ته. لنډه دا چې په ايت شريف کښې د راغبيت او مرغوبيت (دواړو) په حصر باندې صراحت کړی شوی دی.

نو که بالفرض دوهمه جمله نه وی نازله شوې دوهم مطلب او صراحت به ورباندې نه وی نازل شوی.

## سوال جواب

۲۱_ که څوک وايي چې په ﴿ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ په کلمې سره څه شي ته اشاره ده؟ يا په بل عبارت: هغه څه شی دی چې په دې مقام کښې په مؤمنانو باندې تحريم شوی دی؟

مونږ وايو: ځينو علماوو کرامو په ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ سره هغې زنا ته اشاره ګڼلې ده په کومې باندې چې د ﴿ ٱلزَّانِى ، زَانٍ ﴾ کلمات دلالت کوي[1]، يعنې دغه زنا چې ذکر يې وړاندې تېر شو په مؤمنانو باندې حرامه کړی شوې ده، چې د رسوايۍ څخه علاوه بې همتۍ ته هم کشول کوي.

مګر بهتره دا ده چې په ذکرې شوې کلمې سره به نکاح ته اشاره وي.

که څه هم مونږ د الله ﷻ په توفيق د [المائدة:۲۶] ايت لاندې د تحريم معناوې ښې پوره شرحه کړې دي مګر په دې مقام کښې د تحريم څخه تسخيري تحريم مطلب دي، لکه چې الله ﷻ د موسی ﷺ په هکله فرمايلي دي چې: ﴿ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ ﴾ [القصص:۱۲] يعنې مونږ په موسی ﷺ باندې د خپلې مور څخه وړاندې نورې ټولې تي ورکوونکې زنانه حرامې کړې وې، چې د يوې تی يې هم ونه روده.

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: د زناکارو او کچنيو او يا د مشرکو کچنيو نکاح کول په کاملو مؤمنانو باندې حرام ګرځول شوي دي چې پوره رغبت يې ورته نه کېږي او د الله ﷻ په فضل سره ترې نفرت خپلوي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تعزیر څه معنی؟

۲۲_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [المائدة: ۱۲] ایت لاندې لیکلي دي چې د "تعزیر" کلمه اصلاً د تعظیم او نصرت دپاره وضعه شوې ده، هغه عقوبت ته په شریعت کښې تعزیر وایي د کوم اندازه چې د شارع د پلوه نه وي ټاکله شوې _لکه حدود_ بلکې د اسلامي حکومت د حاکم یا قاضي فکر ته ازاده پرېښودلې شوې وي.

دا نوم ورته څکه خوښ کړ شوی دی چې په دې سره د جنایتکار سره نصرت کول کېږي چې د ظلم او جنایت مخه یې ورباندې بندېږي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا»[۱] یعنې دخپل ورور سره نصرت وکړه، که ظالم وي د ظلم مخه یې ونیسه او که مظلوم وي نو د مظلومیت څخه یې خلاص کړه او دفاع ترې وکړه.

نو په کومو جنایتونو کښې چې د شارع د پلوه د عقوبت اندازه او نوعیت نه وي ټاکلی شوی هلته اسلامي حاکم حق لري چې په لاندې عقوباتو کښې ورته کوم یو انتخاب کړي[۲]:

الف: چې په دُرو باندې یې ووهي خو باید چې دُرې د حد اندازې ته ونه رسولی شي.

ب: چې بندي یې کړي هر څومره وخت چې ورته مناسب څرګند شي.

ج: چې په غیر د دُرو څخه په بل شي باندې یې ووهي.

د: چې کنځل ورته وکړي او په سپورو خبرو باندې یې مخاطب کړي.

ه: چې له وطنه یې وشړي او بې وطنه یې کړي.

و: چې څه مالي غرامت ورباندې واچوي چې دومره اندازه بیت المال ته تحویل کړه.

ز: بالآخره دا هم په تعزیر کښې شامله ده چې سیاستاً ووژل شي. لاندې مثالونه ولولئ:

## د محارمو سره نکاح

۲۳_ که څوک په خپله ابدي محرمه ښځه (لکه مور یا خور) باندې په دې خیال نکاح وتړي چې دا به ورته جائزه وي، حال دا چې نوموړی واده والا (متاهل) نه وي، نو باید چې په حد نه کړی شي[۳] چې فقط سل دُرې ووهلی شي او بس، بلکې باید تعزیراً ووژلی شي[۴]. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

البراء بن عازب ﷛ وایي چې: ما خپل تره ولید چې بېرغ ورسره وه (او د یوه ټولګي صحابه وو کرامو ﷡ سره چرته روان وه) ما ترې پوښتنه وکړه چې تاسو چرته اراده کړې ده، هغه جواب راکړ چې: «بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةَ أَبِيهِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ وَآخُذَ مَالَهُ»[۵]

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۰
(۲) الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۲۰۰ او ج۴ ص۲۸۷
(۳) اعلاء السنن ج۱۱ ص۵۵۵
(۴) تفسیر المظهري ج۶ ص۴۳۲
(۵) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې زه د الله ﷻ پيغمبر يوه داسي سړي ته لېږلی يم چې د خپل پلار ښځه (مياره) يې په نکاح کړې ده، نو ماته يې امر کړی دی چې غاړه يې ووهم (سر يې پرې کړم) او مال يې واخلم

## لوطي هم بايد تعزير شي

۲۴_ همدارنګه د احناف علیهم الرحمة په نزد په لوطي باندې حد نشته ځکه چې په لواط باندې په لغت کښې د زنا اطلاق نه کېږي[۱] مګر تعزير ورباندې شته، چې د اسلامي حاکم فکر ته مفوض دی. هو! دا بېله خبره ده چې د اسلامي حکومت حاکم پکښې د علماوو څخه مشوره واخلي، لکه چې يوه ورځې عمر الفاروق ﷺ (أمير المؤمنين) کبار صحابه کرام ﷺ راغونډ کړه او د لوطي په هکله يې ورسره مشوره وکړه چې په څه ډول عقوبت باندې يې معذب کړي «فَأَفْتَوْا بِإِعْدَامِهِ حَرْقًا»[۲] نو ټولو په اعدام سره فتوی (مشوره) ورکړه چې په اور باندې دې وسوزولی شي.
شايد چې صحابه کرامو ﷺ به د نبي کريم ﷺ دا حديث په نظر کښې نيولی وي چې فرمايلي يې دي: «مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ»[۳] يعنې تاسو چې څوک مونده کړ چې د لوط ﷺ د قوم عمل يې کاوه نو فاعل او مفعول به (لاندې باندې) دواړه قتل کړئ.

## سوال جواب

۲۵_ که څوک وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يُجْلَدُ أَحَدٌ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلَّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ»[۴] يعنې هيڅوک دې د لسو دُرو څخه اضافه ونه وهلی شي مګر د الله ﷻ د حدودو څخه په يوه حد کښې؛ نو پوښتنه دا ده چې: د دغه حديث شريف سره د تعزير په توګه وژل منافات نه لري؟ ايا قتل د لسو دُرو څخه اضافه نه دی؟
مونږ وايو چې: دا حديث د تعزيري قتل سره منافات نه لري ځکه چې په حديث کښې مطلب دا دی چې کله تاسو چاته په دُرو باندې تعزير ورکاوه نو د لسو دُرو څخه يې مه اضافه کوئ. هسې نه چې تعزير يې په همدغو لسو دُرو کښې محصور کړی دی، لکه چې لږ وړاندې تېر شوه چې صحابه کرامو ﷺ د لوطي په باره کښې په قتل باندې فتوی او مشوره ورکړه.

## څوک چې څاروی ته ورشي

۲۶_ همدارنګه هر څوک چې د څاروی سره بد عمل اجراء کړي نو د ده دپاره شرعًا حد نشته ځکه چې په دغه عمل باندې هم د زنا اطلاق نه کېږي. هو! دغسې کارکوونکی بايد د اسلامي حکومت د حاکم د پلوه په تعزير کړی شي نو هر يو عقوبت يې چې ورته وتاکه همغه يې سزا ده[۵].

---

(۱) الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۶۶؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۲
(۲) کتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج۵ ص۴۰۴
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۷۰
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۱۲؛ صحيح مسلم ج۲ ص۷۲؛ سنن ابن ماجه ص۱۸۶
(۵) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۳

Scanned by CamScanner

﴿ وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٤ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٥ ﴾

[۴] او هغه کسان کوم چې عفيفې (پاکلمنې ښځې) کنځي (او د زنا نسبت ورته کوي) بيا دوی څلور کسه نارينه شاهدان هم رانه وړلي (حاضر نه کړي) نو (ای حاکمانو!) تاسو دوی لره اتيا دُرې ووهئ او (همدارنگه) دوی لره د همېشه دپاره (په هيڅ معامله کښې) شهادت مه قبلوئ، او دغه کسان چې دي همدوی فاسقان دي (د الله ﷻ د اطاعت څخه وتلي دي).

[۵] مگر هغه کسان (فاسقان نه دي) کوم چې د دغه (اتهام) څخه وروسته توبه تائب شي او (خپل خانونه) اصلاح کړي، نو يقيناً الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د زنا د بد فعل د مخنيوي طريقه نازله شوې وه او په دې ايتونو کښې په زنا سره د اتهام لگولو مخنيوی کېږي، يا په بل عبارت: اسلامي جامعه داسې جامعه ده چې بايد نه پکښې د زنا کرغېړن فعل موجوديت ولري او نه پکښې څوک په دغه نامه باندې په چا باندې اتهام ولگولی شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د دې دپاره چې د اسلامي ټولنې څخه په زنا سره د اتهام لگولو مخه ونيوه شي، په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ هر څوک چې په پاکلمنو زنانه وو او يا په پاکلمنو نارينه وو باندې د زنا تهمت ولگوي چې د زنا مرتکب شوي دي، نو دوی ته په کار دي چې د خپلې وينا د اثبات دپاره څلور شاهدان ودروي او خپله وينا پرې رښتيا وگرځوي چې هغې يا هغه زنا کړې ده.

۲ـکه څلور تنه شاهدان يې د خپلې وينا د تصديق دپاره ونه درولی شوه نو څرگنده به شي چې نوموړي بنيادم دروغ تړلي دي او په پاکلمنو مسلمانانو باندې يې تهمت لگولی دی.

۳ـ نو د همدې کبله تاسو د دغه بهتان تړونکي سره لاندې چال چلند وکړئ:

الف: اتيا دُرې يې د يوې اجتماع په وړاندې ووهئ ترڅو د دوهم ځل دپاره دغسې بهتان ته زړه ښه نه کړي او ترڅو ترې نور مسلمانان عبرت واخلي.

ب: په دې باندې علاوه تاسو د نوموړو بهتان تړونکو شهادت هم په دنيا کښې د همېشه دپاره مه قبلوئ ځکه چې دوی خپلې خولې بې اعتباره کړې.

ای پيغمبره! نوموړی اتهام تړونکي په دنياوي ذکرې شوې سزا باندې علاوه همدوی په آخرت کښې فاسقان دي چې هلته به د خپل فسق د سزا سره ضرور مخامخ شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ هو! د اُخروي فسق او اُخروي سزا څخه به د هغوی هغه کسان نجات مونده کړي چې لاندې صفات ولري:

الف: چې د اتهام لګولو څخه وروسته توبه تائب شي.

ب: او بيا خپل ځانونه اصلاح کړي چې د دوهم ځل دپاره خپل ځانونه د فاسقانو په ډله کښې ورواننچوي:

نو که په دغو دوه وو صفاتو باندې خپل ځانونه توصيف کړي نو الله ﷻ به يې د نوموړې ډلې څخه راوباسي او ښينه به ورته وکړي، او دا ځکه چې يقيناً الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی، د نورو نېکيو توفيق به هم ورپېرزو کړي.

## توضيحات

۱_په ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ يَرۡمُونَ ﴾ کلمه د "رَمْيٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "رَمْيٌ" د "قَذْفٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ سره مرادفه ده چې د ويشتلو معنی ورکوي. خو کله په اعيانو کښې استعمالېږي لکه په غشي يا په ډبره ويشتل، او کله په کنځلو کښې استعمال مومي[۱] په دې مقام کښې همدغه دوهم استعمال مراد دی، او د کنځلو څخه هم خاصې کنځلې مطلب دي چې پاکلمنو ښځو ته د زنا نسبت وکړي. او دا ځکه چې:

ب: وړاندې ايتونه او هم راتلونکي ايتونه د زنا په هکله نازل شوي دي، نو معلومه شوه چې په دې ايت کښې هم په ډبرو ويشتل مطلب نه دي بلکې د زنا کنځل مطلب دي. که بالفرض په دې مقام کښې د زنا کنځل مطلب نه وی نو د ﴿ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ﴾ په عوض به "يَرْمُونَ النِّسَاءِ" نازل شوی وی، نو معلومه شوه چې دلته هغه ډول ويشتل مراد دي کوم چې پاکلمنی سره منافي وي.

ج: شايد چې د دغه ډول کنځلو څخه به ځکه په "رَمْيٌ" يعني ويشتلو سره تعبير کړی شوی وي ترڅو مونږ په غوږ ووهلی شو چې د زنا کنځلې د غشو او ډبرو د ويشتلو څخه کمې نه دي. لکه چې علي ﷺ فرمايلي دي:

جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِيَامُ :: وَلَا يُلْتَامُ مَا جَرَحَ اللِّسَانُ

يعني د تېرې نېزې زخمونو ته رغېدل شته، او کوم زخمونه چې ژبې کړي وي هغه نه رغېږي.

د: د ﴿ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ﴾ کلمه د احصان څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام (حد القذف) کښې احصان د پنځو[۲] صفاتو څخه عبارت دی:

اول: کومې ښځې ته چې د زنا کنځلې وشي هغه بايد عاقله وي، په ليونۍ کښې حد نشته.

دوهم: هغه بايد بالغه وي، د ماشومې قذف حد نه واجبوي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۰۹، ۴۱۲

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: باید اصیله وي، د وینځې قذف د حد موجب نه دی.

څلورم: باید مسلمانه وي، د کافرې قذف د حد واجبوونکی نه دی.

پنځم: باید عفیفه وي، د قذف ځخه وړاندې په زنا باندې متهمه نه وي[۱] او نه پرې شهرت ولري لکه د بازار کچنیانې.

ه: په ایت شریف کښې فقط په یوه صورت باندې صراحت شوی دی هغه دا چې نارینه زنانه وو ته د زنا نسبت وکړي، مګر لاندې درې صورتونه هم پکښې شامل دي او حصر مطلب نه دی:

اول: چې نارینه پاکلمنو نارینه وو ته د زنا نسبت وکړي.

دوهم: چې د زنانه وو د پلوه پاکلمنو نارینه وو ته دغه نسبت صورت ونیسي.

دریم: چې زنانه ځه نورو زنانه وو ته په دغه نسبت قائلې شي.

و: د "أَرْبَعَة" د کلمې ځخه ځرګندېږي چې دلته (په حدودو) کښې د نارینه وو شهادت مراد دی او د زنانه وو شهادت ځه اعتبار نه لري، ځکه چې ذکره شوې کلمه د عدد اقل د جملې ځخه ده او عدد اقل کښې قاعده دا ده چې د مذکر دپاره مؤنث استعمالېږي او د مؤنث دپاره مذکر استعمال مومي[۲]، او دلته مؤنث (أَرْبَعَة) استعمال شوی دی، نو په نارینه وو پورې اختصاص مونده کوي.

په دې باندې علاوه، حدود په شبهاتو باندې ساقطېږي او د زنانه وو په شهادتونو کښې شبهه ده چې عقلونه یې د نارینه وو ځخه کمزوري دي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې زنانه وو ته د «نَاقِصَاتِ عَقْلٍ»[۳] لقب ورکړی دی.

هو! په څلورو شاهدانو کښې هغه ځوک هم شاملېدلی شي کوم چې اصلي قاذف (د زنا نسبت کوونکی) وي، ترڅو د څلورو شاهدانو عدد بشپړ شي[۴].

## په قذف باندې سړی فاسق ګرځي

۲ـ په ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې بدون د ثبوت ځخه سړی د زنا په نسبت باندې فاسق ګرځي. د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «...وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ»[۵] یعنې د اوو مهلکو ګناهونو ځخه دا ګناه هم شمېرله کېږي چې ځوک عفیفې مؤمنې ښځې ته د زناکارې نسبت وکړي حال دا چې هغه ترې ناخبره او پاکه وي.

## سوال جواب

۳ـ که ځوک وایي چې: قذف کوونکی خو د فاسق لقب په هغه وخت کښې ګټي چې نه د زنا تحقق واقعیت ولري او نه ورباندې شاهدان تېر کړی شي، ځکه چې په عفیفه ښځه باندې یې په ناحقه تهمت

(۱) تفسیر المظهري ج۶ ص۴۴۵؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۶۷
(۲) الکافیه في النحو في بحث اسماء العدد
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۴
(۴) روح المعاني ج۱۸ ص۹۲
(۵) صحیح البخاري ج۱ ص۳۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما که زنا واقعیت ولري خو نوموړی د شاهدانو په درولو کښې پاتې راشي او څلور شاهدان لګولی دي. پوره نه کړی شي نو پوښتنه دا ده چې په دغه صورت کښې يې د فاسق ګرځېدلو وجه څه شی ده؟ مونږ وايو چې: په دغه صورت کښې ځکه فاسق جوړېږي چې ګناه ته يې شهرت ورکړ او د خلکو ژبات کړ، حال دا چې د حاکمانو په وړاندې يې اثبات ونه شو کړی چې حد يې وربانديجرنت يې اقامه کړی وی او خلکو ته يې د عبرت سبق ورکړی وی.

لنډه دا چې ګناه ته شهرت ورکول هم يوه ګناه ده لکه چې د [المائدة:۱۴۸] ايت لاندې يې څه بحث تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## ايا د محدود في القذف شهادت دائمي مردود دی؟

۴ـ په دې ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ ﴾ استثناء کښې علماء کرام په لاندې دوه ډوله نظر اختلاف لري:

الف: الامام الشافعي او څه نور علماء کرام عليهم الرحمة وايي: چې کله محدود في القذف توبه تائب شي نو د يو پلوه يې شهادت قبلېږي او د بله پلوه ترې د فاسق لقب لرې کېږي.

ب: الامام ابو حنيفه او څه نور علماء کرام عليهم الرحمة وايي چې: د محدود في القذف څخه په توبې سره يوازې د فاسق لقب د منځه ځي اما شهادت يې تر آخرنۍ سلګۍ پورې مقبول نه دی.

که څه هم ځينو علماوو کرامو د دواړو جانبو دلايل ښه مشرح بيان کړي دي[1] مګر مونږ د موضوع د تحقيق په موخه خپل بيان په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

اول: د متعددو جملو څخه وروسته چې استثناء صورت ونيسي نو لومړی ډله علماء کرام ورته د ټولو جملو سره ارتباط ورکوي او دوهمه ډله علماء کرام يې يوازې د وروستنۍ جملې پورې نښلوي او بس[2].

دوهم: په دې مقام کښې د ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ ﴾ الآية، استثناء د دريوو جملو څخه وروسته صورت نيولی دی چې د ﴿ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةً وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدًاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ څخه عبارت دی.

دريم: په اتفاق سره په دې مقام کښې استثناء په اوله جمله باندې اثر نه غورزوي، د ثبوت څخه وروسته که څوک د قذف څخه توبه تائب شي او حتی خپل ځان مفتري او دروغژن معرفي کړي هم د حد د اجراء کولو څخه نجات نه شي موندلی[3].

څلورم: او په دريمه جمله کښې بالاتفاق اثر کوي چې د قاذف څخه د فاسق لقب په توبه باندې لرې کېږي.

پنځم: په دوهمه جمله کښې اختلاف دی: لومړی ډله وايي چې په دې کښې هم استثناء موثره ده

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۳ ص۱۶۰؛ روح المعاني ج۱۸ ص۹۸؛ تفسير المظهري ج۶ ص۴۴۷
(۲) نور الانوار ص۲۰۶
(۳) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۱۷۹؛ البحر المحيط ج۸ ص۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نو په توبې سره د قاذف شهادت قبلیږي او عدم قبول يې خاتمه مونده کوي، او دوهمه ډله وايي چې شهادت يې د همېشه دپاره مردود دی بلکې د شهادت عدم قبول د قذف په حد کښې شامل دی.

## تبصره

۵ـ مونږ ته د منصفانه قضاوت په لحاظ په دې مقام کښې د ابو حنیفه علیه الرحمه نظر ترجيح لري او دا ځکه چې:

الف: که بالفرض د شهادت عدم قبول په حد کښې شامل نه وی نو ﴿ وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ﴾ جمله به د لومړنۍ جملې په شان فعليه جمله نه وی نازله شوې، بلکې د دریمې جملې غوندې به اسمیه جمله نازله شوې وی چې: "أُولَئِكَ شَهَادَتُهُمْ غَيْرُ مَقْبُولَةٍ" يعنې د دغو کسانو شهادت د همېشه دپاره غیر مقبول دی او دغه کسان همدوی فاسقان دي.

ب: که بالفرض د الشافعي علیه الرحمه نظر مراد وی نو دوهمه جمله به په ﴿ أَبَدًا ﴾ سره نه وی تاکیده شوې، ځکه چې د ابدیت سره د توبې په حال کښې د شهادت قبلېدل چندان مناسب نه برېښي.

## یادونه

۶ـ د حد القذف په باب علماوو کرامو ډېر اوږده بحثونه کړي دي[۱] مونږ دلته په هغې اندازه شرحې باندې اکتفاء وکړه په کومې پورې چې د ایتونو تفسیر کلک تړاو درلود، نو هیله ده چې د زیات بیان دپاره محترم لوستونکي همدلته مراجعه وکړي.

﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ۝٦ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۝٧ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ۝٨ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ ۝٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ۝١٠ ﴾

[۶] او هغه کسان کوم چې خپلې مېرمنې (په زنا سره) وکنځي حال دا چې دوی لره شاهدان نه وي مګر د دوی خپل ځانونه، نو د دغو کسانو (د جملې څخه) د یوه کس شهادت په بالله سره څلور شهادتونه دي چې یقیناً همدا (شهادت ورکونکی) هرومرو د صادقانو څخه دی (په رښتیا سره يې مېرمن په زنا اخته شوې ده).

[۷] او د پنځمې بالله شاهدۍ سره (يې دا خبره ضمیمه ده چې) یقیناً په نوموړي باندې دې د الله ﷻ

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۷۱؛ الفقه الاسلامي وادلته ج۶ ص۷۷؛ بدائع الصنائع ج۷ ص۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لعنت وي که چرته نوموړی د دروغژنانو څخه وي (او په خپله ښځه یې بهتان تړلی وي).

[۸] او د زنانه څخه عذاب (حبس یا رجم) دا خبره دفعه کوي (مخه یې نیسي) چې هغه (ښځه) په بالله سره څلور کرته شاهدي ورکړي چې یقیناً د دې خاوند د دروغژنانو څخه دی (او بهتان یې وړپورې تړلی دی).

[۹] او د پنځمې بالله شاهدۍ سره (دا خبره ضمیمه کړي چې) یقیناً په نوموړې (ښځې) باندې دې د الله ﷻ غضب وي که (بالفرض) د دې مېړه د صادقانو څخه وي.

[۱۰] او که (ای مؤمنانو!) په تاسو باندې د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت نه وی او (هم دا خبره نه وی) چې یقیناً الله ﷻ ډېر توبه قبلوونکی (او) د حکمت څښتن دی (نو وړاندېني ایتونه به یې نه وی نازل کړي).

## ارتباط او د شان نزول روایتونه

په دې ایتونو کښې هغه پوښتنې جوابې شوې دي کومې چې د وړاندېنیو ایتونو څخه ځینو صحابه کرامو ﷺ ته په اذهانو کښې ورلوېدلې وې، او هم پکښې د قذف د هغه خاص صورت حکم نازل شوی دی کوم چې د وړاندېنیو ایتونو څخه د استثناء حیثیت لري. نو د ښه وضاحت دپاره لاندې ټکو ته پام وکړئ:

۱_ د حد القذف د ایتونو د نزول څخه وروسته یو سړی نبي کریم ﷺ ته ورغی او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! که څوک د خپلې ښځې سره سړی وګوري (چې فحاشي ورسره کوي) نو که خبره وکړي او تاسو ته حال بیان کړي نو تاسو به یې د حد القذف په دُرو باندې ووهئ، او که قتل یې کړي نو تاسو به یې ورباندې قصاصاً قتل کړئ، او که چپ پاتې کېږي نو په ډېره کلکه غُصه باندې به چپ پاتې شي (چې دا کار به د چا د لاسه پوره نه شي)؟.

نبي کریم ﷺ وویلې چې: «اللَّهُمَّ افْتَحْ» وَجَعَلَ يَدْعُو فَنَزَلَتْ آيَةُ اللِّعَانِ[۱] یعنې ای الله! مونږ ته په دغې مسئله کښې فیصله راکړې. او شروع یې وکړه چې الله ﷻ ته یې سوالونه کول نو د لعان ایت نازل شو.

ځینې مفسرین کرام وایې چې ذکره شوې پوښتنه عاصم بن عدي الانصاري ﷺ کړې وه[۲].

۲_ د حد القذف د نزول څخه وروسته هلال بن اُمیه د نبي کریم ﷺ په حضور کښې خپلې ښځې ته د زنا نسبت وکړ چې د "شریک" نومې سړي سره توره شوه، نو د نبي کریم ﷺ سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کریم ﷺ: «الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ» یعنې یا شاهدان ودروه چې ستا تصدیق وکړي او یا به د قذف حد ستا په شا باندې اجراء شي.

هلال ﷺ: ای د الله ﷻ پیغمبره! کله چې څوک په خپله ښځه باندې سړی وګوري نو بیا به ګرځي

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۴۹۰
(۲) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او شاهدان به لټوي چې راشئ سیل یې وکړئ؟
نبي کریم ﷺ خپل وړاندې جواب بیا تکرار کړ.
هلال ؓ: ای پیغمبره! په هغه اقدس ذات مې دې سوګند وي چې ته یې په حقه رالېږلی یې، زه په خپله خبره کښې صادق یم، نو هرومرو او ضرور به الله ﷻ داسې حکم نازل کړي چې پرې د حد څخه خلاصه شي.

«فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ ﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ ﴾»[1] نو جبرائیل ؑ رابښکته شو او په نبي کریم ﷺ باندې یې د لعان ایتونه نازل کړه.

۳ـ د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې عُوَیمر بن أشقر د نبي کریم ﷺ په حضور کښې په خپله ښځه باندې د زنا تور ولګاوه نو نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ قُرْآنٌ»[2] یعنې ستا او ستا د ملګرې (مېرمنې) په هکله قرآن کریم ﷺ نازل کړی شوی دی، نو لاړ شه او مېرمنه دې راوله چې شرعي حکم درباندې تطبیق کړی شي. نو نوموړی لاړ او ښځه یې راوستله او د لعان ایت ورباندې تطبیق کړی شو.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: په ذکرو شوو دریواړو روایتونو کښې د هر یوه څخه څرګندېږي چې ایتونه خاص په همدغه کښې نازل شوي دي، نو پوښتنه دا ده چې ایا دا د روایتونو ترمنځ تناقض نه دی؟ مونږ وایو چې: سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[3]، نو څرنګه چې دریواړه روایتونه د لعان د ایتونو مصداقات دي نو د شان نزول اطلاق هم ورسره څه منافات نه لري او هر یو ته یې د شان نزول لقب ورکول کېږي.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! (د دې دپاره چې د صحابه کرامو ؓ هغه تشویش پورته شي کوم چې ورته د وړاندېنیو ایتونو څخه په اذهانو کښې ورلوېدلی دی) لاندې ارشادات پرې قرائت کړه:

۱ـ هغه کسان چې په خپلو مېرمنو باندې د زنا کولو تهمت ولګوي حال دا چې دوی د خپلو ځانونو څخه په غیر نور شاهدان هم ونه لري ترڅو د هغوی خبره تصدیقه کړي چې رښتیا د هغو مېرمنو زنا کړې ده، نو د دغسې کسانو په هکله هغه ارشاد باید تطبیق نه کړی شي کوم ته چې په تېر شوي ایت کښې اشاره شوې وه، نو د دوی دپاره ارشاد دا دی:

الف: هرڅوک چې ذکر شوی اتهام په خپلو ښځو باندې ولګوي نو د څلورو شاهدانو په عوض دې څلور کرته شهادت ورکړي او خپل هر یو شهادت دې په سوګند سره تاکید کړي چې: د الله ﷻ

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۹۵
(۲) سنن ابي داوُد ج۱ ص۳۰۵
(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷. تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نامه په سوگند سره خپل شهادت ورکوم چې یقینًا دغه سړی (زه) هرومرو د صادقانو څخه دی. او پنځمه شاهدي به یې دا وي چې: یقینًا په همدغه سړي باندې دې د الله ﷻ لعنت وي که بالفرض نوموړی د دروغژنانو څخه وي.

ب: بالمقابل ذکره شوې تورنه شوې زنانه به د دوه وو حالاتو څخه خالي نه وي: یا به د خپل خاوند خبره تصدیقه کړي چې رښتیا همدغه کار واقع شوی دی، نو په دې تقدیر به د رجم د عذاب سره مخامخه شي. او یا به د خپله ځانه د رجم د عذاب مخنیوی وکړي او د خپل خاوند خبره به تکذیب کړي چې په دې باندې یې اتهام او تهمت لګولی دی، نو په دې تقدیر به خپل شهادتونه د الله په سوګندونو باندې تاکید کړي او په سوګند سره به شاهدي ورکړي چې د نوموړي خاوند یقینًا هرومرو د دروغژنانو څخه دی، او په دې باندې یې په دروغو د زنا اتهام لګولی دی.

او د خپل پنځم کرت شهادت او سوګند سره دې دا کلمات هم ملګري کړي چې: په دې باندې دې د الله ﷻ غضب وي که بالفرض د دې خاوند په اتهام لګولو کښې د رښتیا ویونکو څخه وي.

۲_ ای مؤمنانو! که بالفرض د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې نه وی او هم دا خبره نه وی چې یقینًا الله ﷻ ښه توبه قبلوونکی دی او هم د حکمت څښتن دی، نو ضرور به تاسو په دنیا او آخرت کښې د ستونزو سره مخامخ شوی وی او ذکر شوي ایتونه به نه وی نازل شوي.

نو د الله ﷻ د فضل او رحمت څخه د حدودو نزول او د لعان د احکامو نزول هم دی، نو تاسو ته په کار دي چې شکر ګذاري یې وکړئ او د خپل رب ﷻ حمد او ثنا وواياست.

## توضیحات

۱_ کوم صورت حال ته چې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده هغه په شریعت کښې د لعان په نامه یادېږي چې فقهاوو کرامو[۱] ښه مشرح بیان کړی دی، نو دلته رانقلول یې د اوږدوالي څخه په غیر بل څه اثر نه لري، د همدې کبله مونږ دلته فقط د هغو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې د ایتونو سره ډېر نږدې تړاو لري هغه دا چې:

الف: د ﴿ وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ ﴾ څخه څرګندېږي چې لعان د خپلې مېرمنې پورې اختصاص لري، چې د همدې څخه په غیر د بلې زنانه په هکله صورت نه شي نیولی.

ب: د ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ ﴾ څخه لاندې مطالب معلومېږي:

اول: که څوک د خپلې مېرمنې په زنا باندې څلور کسه شاهدان قائم کړي نو بیا لعان صورت نه شي نیولی بلکې په زنانه باندې د رجم حد اجراء کېږي[۲].

دوهم: باید لعان کوونکي اهل الشهادت وي، په حد کښې محدود نه وي، حریت ولري (غلام او وینځه نه وي) او بلوغ ته رسېدلي وي (ماشومان نه وي)، ځکه چې دوی د اهل الشهادت څخه نه دي.

---

(۱) بدائع الصنائع ج۳ ص۲۳۷؛ الفقه الاسلامي وادلته ج۷ ص۵۵۶

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دريم: بايد د دوی اقرارونه په "أَشْهَدُ" باندې پيل شي لکه چې په شهادت کښې همدا قانون دی.

څلورم: بايد لعان د قاضي (اسلامي حاکم) په وړاندې صورت ونيسي چې د شاهدانو شهادت د همده پورې اختصاص لري، نو د ده څخه په غير هيڅوک لعان نه شي اجراء کولی.

ج: د ﴿ أَرْبَعُ شَهَٰدَٰتٍ بِٱللَّهِ ﴾ څخه واضحه کېږي چې د لعان د شهادت سره په الله ﷻ باندې سوګند کول هم ضميمه دي، چې شهادت ورباندې قوت مونده کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې په ﴿ وَيَدْرَؤُاْ عَنْهَا ٱلْعَذَابَ ﴾ کښې د عذاب څخه څه شی مراد دی؟ يا په بل عبارت: که زنانه د لعان د شهادتونو څخه امتناع وکړي نو په هغې باندې څه شی لازمېږي (چې په شهادتونو باندې يې مخه نيوه کېږي)؟

مونږ وايو چې: د الشافعي علیه الرحمة په نزد په شهادتونو سره د حد مخه نيوه کېږي، نو که زنانه د شهادتونو څخه امتناع وکړه نو بايد چې په حد کړی شي، نو په ايت شريف کښې د ﴿ ٱلْعَذَابَ ﴾ څخه حد مراد دی[۱]. اما ابو حنيفه علیه الرحمة وايي چې د ﴿ ٱلْعَذَابَ ﴾ څخه په دې مقام کښې حبس (بنديکول) مطلب دي[۲]؛ دا ځکه چې په نکول (عدم اقرار) سره حد نه ثابتېږي ترڅو چې څلور ځله په صراحت سره په زناکارۍ باندې اقرار ونه کړي، کله چې څلور کرته شرعي اقرار او اعتراف وکړي نو په هغې باندې حد (رجم) لازمېږي او د لعان صورت حال نه اجراء کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته دوه تنه سړي ورغله چې د يوه زوی د بل د مېرمنې سره په زنا باندې اخته شوی وه، او د فيصلې غوښتنه يې ترې وکړه. نبي کريم ﷺ د خپلې فيصلې په بيان کښې دا هم وفرمايل چې: «وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ عَلَى امْرَأَةِ هَذَا فَإِنْ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا»[۳] يعنې ای أنيسه! د دغه سړي مېرمنې ته ورشه نو که په زنا باندې يې (شرعي) اقرار او اعتراف وکړ نو د رجم حد ورباندې اجراء کړه. نو أنيس ﷺ هغې ته ورغی او پوښتنه يې ورڅخه وکړه، هغې شرعي اعتراف وکړ نو رجمه يې کړه.

نو په همدې بنياد[۴] بايد د امتناع په صورت کښې نارينه تر هغه وخته پورې بندي کړی شي ترڅو لعان وکړي او خبره فيصله شي او يا خپل ځان ته د دروغژن نسبت وکړي: چې ما ورباندې تهمت لګولی وه ترڅو ورباندې د قذف حد اجراء شي.

او بايد زنانه تر هغه وخته پورې بندي کړی شي ترڅو د لعان شهادات اداء کړي او خپل ځان ته د بنديخانې څخه نجات ورکړي.

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۳ ص۱۶۶
(۲) تفسير المظهري ج۶ ص۴۶۱
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۶۴
(۴) روح المعاني ج۱۸ ص۱۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د لعنت او غضب څه فرق دی؟

۳ـ په ﴿وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ﴾ کښې د "لَعۡنَة" کلمه په دې مقام کښې د الله ﷻ د رحمت (د هر خیر) څخه د شړلو دپاره وضعه شوې ده[۱]، او په ﴿وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ﴾ کښې د ﴿غَضَبَ﴾ کلمه د الله ﷻ د عدم رضایت څخه نمایندګي کوي[۲]، نو په حقیقت کښې دواړه کلمې په مصداق کښې متحدې دي ځکه الله ﷻ چې هر څوک د خپل رحمت څخه وشړي نو ضرور به د هغه څخه ناراض هم وي.

شاید چې په ایت شریف کښې به د زنانه وو په جانب کښې د ﴿غَضَبَ﴾ کلمه ځکه نازله شوې وي چې دوی د لعنت سره روږدې دي او ډېر یې استعمالوي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې زنانه وو ته خطاب کړی وه چې: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ»[۳] یعنې ځکه زیاتې زنانه دوزخیانې دي چې دوی لعنت ډېر وایي او د خپل مېړه (خاوند) ناشکري کوي. اما د غضب د کلمې سره روږدې نه دي نو شاید چې اثر پرې وکړي او دروغو ته لاس وانچوي بلکې رښتیا ووایي.

## د لعان نتیجه

۴ـ که څه هم ځینې علماء کرام وایي چې کله د دواړو جانبو څخه لعان تمام شي نو مېرمن د مېړه څخه په ابدي توګه جدا کېږي[۴] مګر ابو حنیفه علیه الرحمة وایي چې فقط د لعان تمامیت تفریق نه دی بلکې دوی دواړه د قاضي په تفریق باندې جدا کېږي او بائن طلاق واقع کېږي، ته به وایې چې د مېړه د پلوه قاضي نیابت وکړ او مېرمن یې ورطلاقه کړه.

د قاضي په نیابت باندې ډېر دلایل شته[۵] خو لاندې مثال یې ولولئ:

کله چې عُوَیمر د خپلې مېرمنې سره د لعان څخه فارغ شو نو ویې ویلې چې: «كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللهِ! إِنْ أَمْسَكْتُهَا» فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۶] یعنې: ای پیغمبره! که بالفرض دغه مېرمن زه د خپله خانه سره ټینګه کړم او طلاق ورنه کړم نو ما به ورباندې دروغ تړلي وي. نو د دې څخه وړاندې چې نبي کریم ﷺ ورته امر وکړي پخپله یې په درېوو طلاقونو باندې طلاقه کړه.

نو که بالفرض په نفس لعان سره تفریق واقع شوی وی نو د طلاق ورکولو به څه معنی نه درلوده.

همدارنګه د «قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللهِ» د کلماتو څخه اشارةً معلومېږي چې که عُوَیمر طلاق نه وی ورکړی نو نبي کریم ﷺ به ورته په طلاق کولو امر کړی وی او یا به یې پخپله د نیابت په توګه ترې جدا کړې وی.

---

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۳۸۷
(۲) لسان العرب ج۱ ص۶۴۸
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۴۴
(۴) التفسیر الکبیر ج۲۳ ص۱۶۹
(۵) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۲۹۸، تفسیر المظهري ج۶ ص۴۶۳؛ تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۵۹
(۶) صحیح البخاري ج۲ ص۸۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## نحوي تحليلونه

په ذکرو شوو ایتونو کښې باید لاندې نحوي تحلیلونه په نظر کښې ونیولی شي:

۵_ په ﴿ وَٱلْخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ کښې د "الْخَامِسَةُ" کلمه مرفوعه ده، چې په ﴿ أَرْبَعُ
الف: په ﴿ وَٱلْخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ کښې د "الْخَامِسَةُ" کلمه مرفوعه ده، چې په ﴿ أَرْبَعُ شَهَٰدَٰتٍ بِٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ أَرْبَعُ ﴾ په کلمه باندې عطفه ده، کومه چې د خبریت په بنیاد مرفوعه ده.

ب: په ﴿ وَٱلْخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيْهَآ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْخَٰمِسَةَ ﴾ کلمه منصوبه ده، چې په ﴿ أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَٰدَٰتٍ بِٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ أَرْبَعَ ﴾ په کلمه باندې معطوفه ده، کومه چې د ﴿ أَن تَشْهَدَ ﴾ دپاره د مفعول مطلق په حیث منصوبه ده.

خو په دواړو ځایونو کښې د "الْخَامِسَةُ" دپاره موصوف مقدر دی چې په "وَالشَّهَادَةُ الْخَامِسَةُ" سره ترې تعبیر کوو.

ج: د ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ ﴾ ټول ایت شریف شرط واقع شوی چې جزا یې د تعمیم دپاره مقدره ده، چې ځینو مفسرینو کرامو ترې په "لَعَاجَلَكُمْ بِالْعُقُوبَةِ" سره تعبیر کړی دی[۱]، یعني که د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې نه وی او هم دا خبره نه وی چې الله ﷻ ډیر توبه قبلوونکی دی او د حکمت ښتن دی نو تاسو به یې په تونډۍ سره په عقوبت او عذاب باندې مبتلا کړي وی.

مګر مونږ ته بهتره برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې مقدره جزائیه جمله به "لَمَا أَنْزَلَ الْحُدُوْدَ وَاللِّعَانَ" وي، نو حاصل به یې په لاندې دوه وو برخو باندې تقسیم شي:

اول: که د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې نه وی نو اسلامي حکومت به یې په پښو باندې نه وی ودرولی او د دې توان به یې نه وی ورکړی چې په خپل قلمرو کښې حدود جاري کړي او اسلامي جامعه د فحاشۍ او بد اخلاقۍ څخه پاکه او سوچه کړي.

رښتیا چې د حدودو اجراء کول د اسلامي حکومت ډېره لویه خاصه ده چې د کفري جامعې څخه ورباندې په زغرده سره جدا کېږي. د همدې کبله کفري حکومتونه بل هیڅ شي ته په دومره بد نظر نه ګوري لکه څومره چې د حدودو اجراء کولو ته په بد نظر باندې ګوري، او بل هیڅ شي ته دومره نه خوشالېږي لکه څومره چې د فحاشۍ ترویج ته خوشالېږي. ځکه چې کفري دولتونه پوهېږي چې اسلامي دولت تر هغه وخته پورې استقلال نه شي موندلی او په پښو باندې نه شي ودرېدلی ترڅو چې حدود اجراء کړي او د فحاشۍ مخه ونیسي.

نن ورځ[۲] د دنیا کفري دولتونه او هغه اسلامي دولتونه کوم چې د کفري دولتونو د اثر څخه خلاص نه دي، د افغانستان اسلامي حکومت په رسمیت نه پېژني او د یوه حکومت په حیث یې نه مني حال دا چې دا حکومت د افغانستان په نوي فیصده (۹۰٪) خاوره باندې یې کنترول لري او امنیت یې پکښې قائم کړی دی. د دې اصلي وجه دا ده چې ـ الحمد لله ﷻ ـ په افغانستان کښې حدود جاري دي؛

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۲۸
(۲) ۱۷ /۳ /۱۴۲۰ هـ ق - ۱۰ /۴ /۱۳۷۸ هـ ش

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لو لاسونه پرې کېږي، زانیان په درو وهل کېږي او یا رجم کېږي او هم پکښې د قصاص حکم په ږمې چوکاټ کښې جریان لري، نو د اسلام ټول دښمنان په ډېره خطره کښې واقع دي او داریږي چې هډه دی لکه چې اسلامي دولت په پښو پاندې ودرېږي او د کفري دولتونو د زوال وخت رانژدې شو.

همدا مضمون په لاندې حدیث کښې ډېر ښه منعکس شوی دی.

یو ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «حَدٌّ يُعْمَلُ فِي الْأَرْضِ خَيْرٌ لِأَهْلِ الْأَرْضِ مِنْ أَنْ يُمْطَرُوا ثَلَاثِينَ صَبَاحًا»(۱) یعنې یو حد چې په ځمکه کښې عملي او اجراء شي دا د ځمکې د اوسېدونکو دپاره د دې څخه زیات بهتر دی چې دېرش ورځې ورپاندې بارانونه وشي. د هغه ګټه د دې څخه ډېره ده. دا لکه چې د حد په اجراء پاندې خلک د ګناهونو څخه لاس اخلي او د الله ﷻ اطاعت ته رجوع کوي، چې همدا د پراخۍ او ابادۍ (بارانونو) لوی عامل دی.

درېم: که دا خبره نه وی چې: یقیناً الله ﷻ ډېر توبه قبلوونکی دی او د حکمت څښتن دی، نو د لعان اېتونه به یې نه وی نازل کړي او لاندې کارونو به صورت نیولی وی.

یو: که خاوند د خپلې مېرمنې په زناکارۍ پاندې سترګې پټولې نو په دېوثانو کښې به شمېرل کېده.

دوه: او که بدون د شاهدانو څخه یې قتل کولې نو د قصاص سره به مخامخ کېده.

درې: او که د شاهدانو پلټنه یې کولې خو خپل ځان د قصاص څخه خلاص کړي، نو شاهدان به ورته په هغه تنګ وخت کښې نه میسر کېده.

نو په لعان سره د یو پلوه خاوند د قذف د حد څخه او مېرمن یې د رجم د حد څخه خلاصه شوه او د بله پلوه په دواړو کښې صادق او کاذب پټ شو او یوه ته هم د پیغور مخه په مستقیمه توګه متوجهه نه شوه، والحمد لله ﷻ علی ذلک.

﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُو بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۚ لِكُلِّ
امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَوْلَا
إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُبِينٌ ﴿١٢﴾ لَوْلَا
جَاءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَٰئِكَ عِنْدَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿١٣﴾
وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ
عَظِيمٌ ﴿١٤﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ

(۱) سنن النسائي ج ۲ ص ۲۵۶؛ سنن ابن ماجه ص ۱۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾ وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا
سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ
﴿١٧﴾ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ
ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا
تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٠﴾ ﴾

[۱۱] یقینًا هغه کسان کومو چې لوی دروغ راوړي دي (په عائشې رضي الله عنها باندې یې تور لګولی دی) ستاسو څخه یو ټولګی دی، دا (دروغ) د خپلو ځانونو دپاره شر مه ګڼئ بلکې دا ستاسو دپاره خیر دی.

د دروغ تړونکو د جملې څخه د هر کس دپاره هغه شی دی کوم چې یې د ګناه څخه کسب کړی دی، او هغه څوک چې د دوی د جملې څخه د دروغو د لوی والي متولي (خاوند) دی (نو) د هغه دپاره (د الله ﷻ په نزد) لوی عذاب دی.

[۱۲] ولې (داسې ونه شوه) کله چې تاسو دغه دروغ واورېده، چې نارینه مؤمنانو او ښځینه مؤمنو په خپلو ځانونو باندې د خیر ګومان کړی وی، او ویلي یې وی چې دغه (دروغ) ښکاره ټړل شوي (دروغ) دي.

[۱۳] ولې پرې دروغ تړونکو (په خپلو دروغو باندې) څلور تنه شاهدان رانه وستل (ونه درول)، نو کله چې دوی شاهدان رانه وستل (ونه درول) نو دغه (دروغ تړونکي) د الهي شریعت په نزد همدوی دروغژنان دي.

[۱۴] او که د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت په دنیا او آخرت کښې په تاسو باندې نه وی نو هرومرو به تاسو ته په هغه شي کښې لوی عذاب در رسېدلی وی په کوم کښې چې تاسو (داوبو په شان په اسانۍ سره) ورتوی شوئ (پکښې مشغول شوئ).

[۱۵] (البته) په هغه وخت کښې چې تاسو په خپلو ژبو سره دروغ اخستل (او بیا مو خورول) او (هم) په خپلو خولو سره مو هغه شی ویل کوم چې تاسو ته پرې علم (یقین) نه وه، او (هم) تاسو اسان (وړوکی) ګاڼه حال دا چې هغه د الله ﷻ په نزد ډېر لوی وه.

[۱۶] او ولې (داسې ونه شوه) چې کله تاسو (ذکر شوي) دروغ اورېدلي وی نو ویلي مو وی چې مونږ ته مناسب نه دي چې په دغو دروغو کښې خبره وکړو، ای الله! تاته پاکي ده (له دې څخه چې ستا د پیغمبر مېرمن بدکاره وي)، دغه (دروغ) لوی بهتان دی.

[۱۷] (ای مؤمنانو!) الله ﷻ تاسو ته د انذار (ډارولو) څخه ډک نصیحت درکوي چې د دې دروغو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مثل ته بېرته د همېشه دپاره ورتاو شئ (بیا د دغسې ګومان مرتکبین شئ) که تاسو مؤمنان یاست
(نو د دوهم خل دپاره ترې ځانونه وساتئ).
[۱۸] او الله ﷻ تاسو ته خپل ایتونه (احکام) بیانوي، او الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.
[۱۹] یقیناً هغه کسان کوم چې دا خبره خوښوي چې په هغو کسانو کښې بدکاري خوره (مشهوره) شي کومو چې ایمان راوړی دی، نو هغوی لره په دنیا او آخرت کښې دردناک عذاب دی.
او الله ﷻ پوهېږي (چې څوک یې خوښوي او څوک یې نه خوښوي) او تاسو نه پوهېږئ.
[۲۰] او که د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت په تاسو باندې نه وی او (هم دا خبره نه وی) چې یقیناً الله ﷻ نرمي کوونکی او مهربان دی (نو تاسو ته به لوی عذاب در رسېدلی وي).

## ارتباط او شان نزول

د سورت د پیل څخه د زنا او قذف د حدونو په باره کښې بحث را روان دی، په دې ایتونو کښې د هغه خاص قذف ذکر ته اشاره شوې ده کوم چې د منافقانو د پلوه په اُم المؤمنین (عائشې رضي الله عنها) باندې لګېدلی وه.

که څه هم ټولو مفسرینوکرامو[۱] ذکر شوي لس ایتونه په اجماع سره په همدغې واقعه کښې نازل شوي ګڼلي دي مګر مونږ ته د سورت د مضامینو څخه داسې برېښي چې د ټول سورت د نزول سبب به همدغه پېښه وي، او دا ځکه چې په دې سورت کښې هغه ټول وتونه او چاودونه بندي کړی شوي دي د کومو د پلوه چې منافقان خپلو منافقانه افواهاتو ته په مؤمنانو کښې اشاعت ورکوي.

## د افک واقعه

علماوو کرامو په اُم المؤمنین (عائشې رضي الله عنها) باندې د تهمت تړلو واقعه ډېره مفصله لیکلې ده[۲]، مګر مونږ یې د ایتونو د تفسیر په غرض په څه لنډیز باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې:

۱ـ بي بي عائشه رضي الله عنها وایي چې: مونږ به د نبي کریم ﷺ سره د سفر کولو دپاره د قرعه کشۍ په سبب انتخابېدو، نو په همدې طریقه د بني المصطلق د غزا دپاره زه انتخابه شوم (دغې غزا د هجرت په شپږم کال صورت نیولی دی[۳]).

۲ـ دغې غزا ته مونږ په داسې وخت کښې لاړو چې حجاب نازل شوی وه، نو زما عادت دا وه چې په خپله ډولۍ (کوجاوه) کښې به کېناستم او پردې به مې راخورې کړې، نو د کوچ او بار په وخت کښې به پټه (مستوره) په اوښ باندې بارول کېدم، او په همدغه حال به بېرته راکوزوله کېدم.

۳ـ کله چې د غزا څخه غازیان فارغ او بېرته راستانه شوه او مدینې منورې ته رانژدې په یوه ځای کښې کاروان اړولي وه نو په شپه کښې د کوچ او بار اعلان وشو.

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۳۴۷
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۶۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۶۸؛ تفسیر الطبري ج۱۸ ص۸۹؛ صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۴؛ ج۲ ص۵۹۳. ۶۹۶
(۳) سیرت ابن هشام ج۳ ص۳۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین اخوا سکین شو



کله چې د خپل حاجت څخه فارغه شوم او بېرته خپلې مېنې ته راستنه شوم نو گورم چې زما د غاړې هار شکېدلی دی او مری دانه وانه شوي دي.

۴_ زه له خوبه راپورته شوم او د قضاء حاجت دپاره په توره تیاره کښې د لښکر څخه بهر لاړم،

۵_ زه دستي بېرته ستنه شوم او د خپل امېل (د غاړې هار) په راغونډولو بوخته شوم.

۶_ همدغې پلټنې څه زیات وخت ونیوه، او زما دې ته فکر نه شو چې کاروان به راڅخه لاړ شي او زه به په مېنه پاتې شم.

۷_ کله چې زه بېرته مېنې ته راستنه شوم، کاروان بار شوی وه او په مېنه باندې زما څخه په غیر هیڅوک پاتې نه وه.

۸_ څرنگه چې زما په ډولۍ (کوجاوه) باندې پردې را خورې وې او کاروانیانو خیال کړی وه چې زه پکښې ناسته یم نو خالي ډولۍ یې په اوښ باندې باره کړې وه، دوی څکه ملامته نه وه چې د یو پلوه د هغې زمانې زنانه ډېرې غوښنې نه وې چې ښه خوراکونه یې نه خواړه او د بلې خوا زه کم عمرې وم او دومره زیات وزن مې نه درلود.

په دې باندې علاوه د کوچ او بار وخت هم د منډې وخت وي نو د هیچا نه وه فکر شوی چې ډولۍ خو خالي ده.

۹_ نو زما دپاره دوه لارې وې چې یوه پکښې خوښه کړم، هغه دا:

الف: چې کاروان پسې پیاده روانه شم او خپل ځان ور ورسوم.

ب: چې په مېنه باندې تمه شم، چې کله زه معلومه شم چې په مېنه باندې پاتې شوې یم او ډولۍ مې په اوښ باندې خالي باره کړی شوې ده، نو بیرته به راپسې راشي او ما به مونده کړي.

۱۰_ ما د خپل ځان دپاره دوهمه لاره غوره کړه، او دا راته گټوره او بهتره وبرېښېدله، څکه چې په لومړنۍ لاره کښې برسېره په دې چې کاروان ته ځان رسول سخت وه دا احتمال هم وه چې د کاروان د تگ لار غلطه کړم او بالکل تری تم وگرځم.

۱۱_ نو په توره تیاره کښې یوازې تنها فکرجنه په مېنه کېناستم، چې په عین حال کښې راباندې خوب غلبه کړې وه او ویده شوې وم.

۱۲_ صفوان بن المعطل ﷛ د کاروان څخه وروسته پاتې وه، چې کله په لاره تېرېده او زما برابری ته راورسېده نو په ما باندې یې سترگې ولگېدې چې دلته خو لکه چې څوک بنیادم ملاست دی.

۱۳_ چې رانژدې شو نو زه یې وپېژاندم چې عائشه (أم المؤمنین) یم، او دا څکه چې د حجاب څخه وړاندې نوموړي زه لیدلې وم، په دغه وخت کښې که څه هم لمر نه وه راختلی خو څه ناڅه رڼا وه او بنیادم پېژانده کېده.

۱۴_ څرنگه چې نوموړي زه وپېژاندم نو سمدستي یې په لوړ اواز وویل چې: إنا لله وإنا إليه راجعون.

۱۵_ زه په همدغه اواز باندې راوېښه شوم او خپل تکری مې په خپل ځان باندې راخور کړ او په خپله پرده (حجاب) کښې مې خپل ځان راتاو کړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱۶_ زه په سوګند سره وایم چې نوموړي صفوان ﷺ زما سره یوه خبره هم ونه کړه او د "إنا لله وإنا إليه راجعون" څخه پرته مې ترې هیڅ نه دي اورېدلي.

۱۷_ نوموړي سمدستي خپله راحله (بارګیره اوښه) چو کړه او زه پرې سوره شوم، او د کاروان په لاره باندې یې کش کړه.

۱۸_ آن تر دې چې کاروان تازه اړولي وه او په تکنده غرمه کښې مونږ دواړه ور ورسېدو.

۱۹_ د همدغه کیفیت د لیدلو څخه د عبدالله بن أبي (رئیس المنافقین) په لمسون په ما باندې تهمت وتړل شو، خو زه وړباندې خبره نه وم.

۲۰_ کله چې مونږ مدینې منورې ته ورسېدو هلته زه مریضه شوم او تر یوې میاشتې پورې په بستر کښې پرته وم، بیا هم په تهمت باندې خبره نه شوم.

۲۱_ لږ څه چې د مریضتیا څخه روغه شوم نو د أم مسطح رضي الله عنها د پلوه راته تولـه قیصه هو بهو بیانه کړی شوه.

۲۲_ نو د قیصې په اورېدلو سره بېرته مریضه شوم بلکې په مرض باندې مې ژړا او غمونه هم وراضافه شوه، نو د همدې کبله مې د نبي کریم ﷺ څخه اجازه وغوښتله چې د مور او پلار زیارت وکړم، مطلب مې دا وه چې هلته پوښتنه وکړم چې ایا رښتیا په ما باندې تهمت لګولی شوی دی؟

۲۳_ مور مې د تهمت لګولو تصدیق وکړ چې دا اوازه په خلکو کښې خوره ده، او ډېر داډ یې راکړ، مګر زما ژړا لا اضافه شوه او خوب مې وتښتېد.

۲۴_ آن تر دې چې یوه ورځ او دوه شپې مې نه اوښکې ودرېدلې او نه ویده شوم، او مور او پلار مې خیال کاوه چې په ژړا به یې زړه پړق وچوي.

۲۵_ زه په همدې حال وم چې نبي کریم ﷺ هلته راغی او په داسې حال کښې یې زما سره څه خبرې وکړې چې زما مور او پلار هم دواړه ناست وه.

۲۶_ ما هر یوه (مور او پلار) ته وویلې چې تاسو نبي کریم ﷺ ته زما د پلوه څه جواب ورکړئ، خو هغوی هر یوه خپل اعتذار وړاندې کړ چې مونږ څه ووایو؟

۲۷_ بیا ما پخپله په داسې ډول جواب عرض کړ چې:

تاسو خو تهمت اورېدلی دی او ستاسو په زړونو کښې یې ځای نیولی دی، نو که زه ووایم چې دا بهتان او دروغ دي (او الله ﷻ پوهېږي چې دا بهتان او دروغ دي) نو تاسو به راباندې باور ونه کړئ، او که ووایم چې دا رښتیا دي (او الله ﷻ پوهېږي چې دا رښتیا نه دي) نو تاسو به پرې سمدستي باور وکړئ. نو زه په الله ﷻ باندې په سوګند سره وایم چې زما جواب هغه دی کوم چې د یعقوب ﷺ څخه الله ﷻ حکایت کړی دی چې: ﴿ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴾ [یوسف:۱۸] یعنې نو زما کار نېک صبر دی او الله ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې تاسو یې بیانوئ.

۲۸_ ما دغه خبره وکړه او لاړم په بستر باندې مې ډډه ووهله، زما یقین وه چې الله ﷻ به زما په برائت کښې خپل پیغمبر ته وحې وکړي او یا به یې په خوب کښې ورڅرګند کړي، خو په خپل ځان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


باندې مې دومره باور نه وه چې زما په برائت کښې به قرآن نازل شي، چې د قیامت د ورځې پورې به یې مسلمانان قرائت کوي (ماته خپل خان د دغه شان څخه حقیر ښکارېده).

۲۹_ د دغه مجلس څخه لا څوک وتلي نه وه چې په نبي کریم ﷺ باندې د وحې د نزول حالت څرګند شو، نو کله چې وحې تمامه شوه نو لومړنۍ خبره چې نبي کریم ﷺ وکړه هغه دا وه چې: «يَا عَائِشَةُ! أَمَّا اللهُ فَقَدْ بَرَّأَكِ»[1] ای عائشې! هر چې الله ﷻ دی نو تا ته یې (د تهمت څخه) برائت درکړ، او د ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ ﴾ څخه نیولې آن تر ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ﴾ پورې لس ایتونه یې په مجلس باندې قرائت کړه.

۳۰_ ماته خپلې مور وویلې چې نبي کریم ﷺ ته ورپورته شه، ودرېږه او شکریه یې وکړه، ما ورته وویلې چې: نه ورپورته کېږم زه د بل هیچا ستاینه نه کوم فقط د الله ﷻ حمد او ثنا وایم چې د تهمت کوونکو د خبرو څخه یې خلاصه کړم.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱_ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلۡإِفۡكِ عُصۡبَةٞ مِّنكُمۡ ﴾ کښې د دوه وو لغتونو شرحه ولولئ:

الف: د "إِفْك" کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې یو شی د خپل مخ څخه واړولی شي او سرچپه کړی شي[2]، دروغو او بهتان ته ځکه دغه لقب ورکړی شوی دی چې دلته حقیقت سرچپه کېږي او په خپله اصلي څېره باندې نه څرګندېږي.

مګر په دې مقام کښې د نوموړې کلمې څخه هغه خاص تهمت مطلب دی کوم چې په أم المؤمنین (عائشې رضي الله عنها) باندې لګولی شوی وه.

ب: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۱۴] ایت لاندې د "عصبة" د کلمې ښه پوره شرحه لیکلې ده چې دا د یوې ډلګۍ نوم دی، خو په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو دغه ډلګۍ د پنځو نفرو څخه عبارت اخستې ده[3] هغه دا دي: ۱_ عبد الله بن أبي المنافق، ۲_ حمنة بنت جحش (د أم المؤمنین زینب رضي الله عنها خور)، ۳_ د طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه مېرمن رضي الله عنها، ۴_ مسطح بن أثاثه رضي الله عنه، ۵_ حسان بن ثابت رضي الله عنه.

زمونږ په فکر ډلګۍ به د ټولو منافقانو څخه عبارت وي چې مشر یې نوموړی عبد الله وه، او ځینو مؤمنانو به په اشاعت (خورونه) کښې په لا شعوري توګه برخه اخستې وي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مؤمنانو! د "إِفْك" په واقعه باندې تاسو ډېر مه غمژن کېږئ، دا ځکه چې تاسو ټولو خو په تهمت لګولو کښې اشتراک نه درلود بلکې ستاسو یوې ډلګۍ پکښې ګډون کړی وه، په دې باندې علاوه په دغې ډلګۍ کښې هغه سړي د تهمت لګولو مشري په غاړه درلوده کوم چې حقیقتاً ستاسو څخه نه دی بلکې منافق دی او په زړه کښې ایمان نه لري.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۶۹۸
(۲) مفردات الراغب ص۱۵
(۳) روح المعاني ج۱۸ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دا تهمت لګول ستاسو دپاره په خیر تمام شو

۲_ په ﴿لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې:

الف: الله ﷻ پوهېده چې د "إفك" واقعه به پېښېږي نو د مقدمې په توګه یې د زنا او هم د قذف حدونه نازل کړه او اسلامي ټولنې ته یې خیر ورساوه.

ب: د "إفك" په قیصه کښې مسلمانان پوه کړی شوه چې د دین دښمنان په دوی باندې په هیڅ شي باندې ډیل نه دی حتی چې د دوی په پاکلمنو زنانه وو باندې په تور (تهمت) لګولو سره هم صرفه نه کوي، نو د دوی بیدارول بل خیر شو.

ج: ساده لوحه مسلمان په غوږ ووهل شو چې په راتلونکي وخت کښې د منافقانو خبرې په لا شعوري توګه ونه مني، که نه نو په خپلو منځو کښې به په جګړه اخته شي.

د: د همدې واقعې په نسبت لس ایتونه نازل شوه چې د قیامت د ورځې پورې به یې مسلمانان په لمونځونو او بدون د لمونځونو څخه تلاوت کوي او اجرونه به ګټي.

ه: په دغې غمژنې پېښې باندې تر یوې میاشتې پورې د نبي کریم ﷺ په شمول مسلمانانو صبر وکړ، او په صبر باندې خو الله ﷻ بې حسابه اجرونه ورکوي.

و: د نبي کریم ﷺ عالي شان او د اُمهات المؤمنین عفت په دَغې پېښه کښې ډېر ښه په ډاګه شو چې د قیامت تر ورځې پورې پکښې د دښمنانو دپاره د عبرت درس او د دوستانو دپاره د سترګو یخوالی منعکس شوی دی.

دا وه د ذکرې شوې پېښې د خیریت څو مثالونه چې ولیکل شوه، څه لرې نه ده چې محترمو لوستونکو ته پکښې نورې ښېګڼې هم اذهانو ته ورشي.

## د عائشي رضي الله عنها فضائل

۳_ ځینو علماوو کرامو[۱] د عائشي رضي الله عنها (أم المؤمنين) امتیازات او فضائل پخپله د همدې (ابې) د خولې څخه بیان کړي دي چې لسو امتیازاتو ته رسېږي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړ.

## ګناهونه د عمل په اندازه

۴_ په ﴿لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ﴾ کښې اشاره ده چې د بي بي عائشي رضي الله عنها د تهمت په واقعه کښې د ګناه په لحاظ سره ګډون کوونکي مختلف، وه. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ځینو ګډون کوونکو زړونو غوښتل چې خبره خوره ور، شي که څه هم پخپله یې د خوررولو په هکله کوم عملي اقدام نه وه کړی.

ب: د ځینو ګډون دا وه چې په اورېدلو سره یې رده نه کړه او ساکت پاتې شوه.

---

(۱) تفسیر کشاف ج۳ ص۲۲۵: التفسیر الکبیر ج۲۳ ص۱۹۲

Scanned by CamScanner

او څه خبره به يې نه کوله.
ج: ځينو به يې په اورېدلو باندې خندل او څه خبره به يې بل ته رسوله، او داسې نور.
د: ځينو به پکښې خبرې کولې او د يوه څخه به يې بل ته رسولې او داسې نور. نو د معنى حاصل يې داسې راځېژي چې: په بهتان کښې د هر يوه ګډون کوونکي دپاره د الله ﷻ په نزد د خپل کسب په اندازه ګناه ثابته ده.

## د بهتان مؤسس څوک وه؟

٥_ په ﴿ وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ کښې هغه چاته اشاره شوې ده کوم چې په بهتان کښې د ټولو ګډون کوونکو څخه لويه ونډه اخستې وه، او کوم چې پکښې د الله ﷻ په نزد ډېر لوى ګناهګار وه، چې هغه د عبد الله بن أبي بن سلول (رئيس المنافقين) څخه عبارت دى[1]. يعنې او د ګډون کوونکو د جملې څخه چې څوک د غټې برخې متولي او خاوند دى د هغه دپاره د الله ﷻ په نزد لوى عذاب دى.

## په دې بهتان کښې څوک په حد کړى شو؟

٦_ په بهتان کښې ګډون کوونکو مختلفې مرتبې درلودې، چې ځينې په دنيا کښې د حد د اقامه کولو د معيار لاندې راتله او حد ورباندې اجراء شو او ځينې په دنيا کښې په دغه شرعي معيار باندې برابر نه وه نو حد ورباندې جاري نه کړى شو که څه هم ګناه يې د ټولو څخه لوړه وه. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: په رواياتو کښې ثابته ده[2] چې په دغه بهتان کښې درې کسان په حد کښې کړى شوه او هر يو اتيا دُرې ووهل شو: ١_ حسان بن ثابت ﷺ، ٢_ مسطح بن أثاثه ﷺ، ٣_ حمنة بنت جحش اخت زينب أم المؤمنين رضي الله عنها.

ب: که څه هم رئيس المنافقين د دغه بهتان مؤسس وه خو په څرګنده توګه يې د مؤمنانو په وړاندې داسې خبره نه وه کړې چې د حد د اجراء لاندې واقع شي، نو حد پرې جاري نه کړى شو[3]. يا په بل عبارت: نوموړى منافق د بهتان دبره اينبودونکى وه مګر په قذف کښې يې په زنا باندې صراحت ونه کړ او د حد دپاره صراحت ضرور دى. د نوموړي لومړنۍ تاسيسي خبره دا وه چې کله صفوان بن المعطل ﷺ بي بي عائشه رضي الله عنها په اوښ باندې سوره وروستله نو ويې ويلې چې: "اِمْرَأَةُ نَبِيِّكُمْ بَاتَتْ مَعَ رَجُلٍ حَتَّى أَصْبَحَتْ، ثُمَّ جَاءَ يَقُوْدُهَا"[4] يعنې ستاسو د پيغمبر مېرمنې د يو سړي سره ان د سبا پورې شپه تېره کړه بيا يې دغه ده په ټکنده غرمه کښې په اوښ باندې سوره راوستله چې د جلبه يې راکاږي.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٩٦
(٢) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢٥٨
(٣) في ظلال القرآن ج٤ ص٢٥٠٠؛ تفسير القاسمي ج١٢ ص١٥٥
(٤) تفسير الطبري ج١٨ ص٨٩

Scanned by CamScanner

## تاسو ولې د بهتان رد ونه کړ؟

۷ـ په ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُواْ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴾ کښې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې خطور کوي:

الف: د ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ﴾ سره په دې مقام کښې مناسبه وه چې "ظَنَنتُمْ" نازل شوی وی، نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟

د دې پوښتنې جواب دا دی چې: په ایت شریف کښې الله ﷻ مسلمانانو ته توصیه کړې ده چې تاسو ولې بدګوماني کوئ حال دا چې د ایماندار سره (نارینه وي او که ښځینه وي) بدګوماني کول مناسبت نه لري او دا ځکه چې ایمان د بدګومانۍ مخالف دی. نو که بالفرض "ظَنَنتُمْ" نازل شوی وی نو دغه نکته به پټه پاتې شوې وی.

ب: که څوک وایي چې: په ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ﴾ کښې ټول مؤمنان مخاطب کړی شوي دي چې د تهمت د اورېدلو په وخت کښې یې ولې نېک ګومان ونه کړ. حال دا چې دغه کار خو د ټولو څخه صورت نه وه نیولی لکه چې په راتلونکي اتمه (۸مه) توضیح کښې وربانديې د ابو ایوب الانصاري ﷺ قیصه دلالت کوي؟

د دې جواب دا دی چې: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۷۲] ایت لاندې لیکلي دي چې په محاوراتو کښې کله-کله د ځینو اشخاصو عمل ټولو ته منسوبول کېږي، نو په دې مقام کښې همدغه طریقه په کار اچولې شوې ده، والله ﷻ أعلم.

ج: په کار وه چې د ﴿ بِأَنفُسِهِمْ ﴾ په عوض "بِأَنفُسِهِمَا" نازل شوی وی، ځکه چې بدګومان خو په دوه وو کسانو باندې صورت نیولی وه چې یو صفوان بن المعطل ﷺ وه او بل بي بي عائشه أم المؤمنين رضي الله عنها وه، یعني ای مؤمنانو! داسې ولې ونه شوه چې کله تاسو د بهتان قیصه اورېدلې وی نو سمدستي به مو د ایمان په قوت په دغو دواړو باندې نېک ګومان کړی وی چې دا ډېر لوی ښکاره دروغ دي.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد دغسې نازل نه کړی شوه؟

د دې پوښتنې جواب مفسرینو کرامو داسې ورکړی دی[1] چې ټول مؤمنان (نارینه وي او ښځینه) د یوه جسد او یوه تن مثال لري نو په صفوان ﷺ او عائشې رضي الله عنها باندې بد ګومان کول داسې ګڼل شوي دي لکه چې مؤمنانو په خپلو ځانونو باندې بد ګومان کړی وي.

همدې مضمون ته ورته مضمون په لاندې ایتونو کښې هم منعکس شوی دی چې:

اول: ﴿ وَلَا تَلْمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ [الحجرات:۱۱] تاسو د خپلو ځانونو یعني د نورو مسلمانانو عیب مه وایاست.

---

(۱) البحر المحیط ج۸ ص۲۱؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۳۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


دوهم: ﴿ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ ﴾ [النساء:۲۹] او تاسو خپل ځانونه یعنې نور مسلمانان مه وژنئ.

دریم: ﴿ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ ﴾ [البقرة:۸۴] او تاسو خپل ځانونه یعنې نور مسلمانان د خپلو کورونو څخه مه وباسئ.

څلورم: ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ [النور:۶۱] نو کله چې تاسو کورونو ته داخلېږئ نو په خپلو ځانونو یعنې په نورو مسلمانانو باندې سلام واچوئ.

## تبصره

۸ـ مونږ ته په دې مقام کښې بهتره برېښي چې د ﴿ بِأَنفُسِهِمْ ﴾ کلمه په خپله متبادره معنی باندې پاتې شي، ځکه چې د "إفك" په ذکره شوې قیصه کښې خو بل هیڅ شی نه وه شوی چې د تهمت موجب ګرځېدلی وي بې له دې څخه چې:

الف: صفوان ﷺ د نبي کریم ﷺ د پلوه په دې باندې مقرر کړی شوی وه چې دکاروان وروسته لاره تعقیب کړي، هسې نه چې د چا څخه څه پاتې شوي وي او یا ترې په لاره باندې څه شی لوېدلی وي نو هغه به په خپل خاوند باندې وسپاري، او هسې نه چې د چا اوښ ستومانه شوی وي او یا پخپله د ناروغۍ د کبله په نیمایي لاره کښې پاتې وي نو هغه به کاروان ته ورسوي[۱].

ب: همدارنګه عائشه أُم المؤمنین رضی الله عنها هم په یوه معقول عذر سره په مېنه باندې پاتې شوې وه چې د غاړې هار یې شکېدلی وه (مرۍ یې تیت پرک شوې وې) او په راغونډولو باندې مشغوله شوې وه. دوی دواړو خو کومه سابقه وعده نه درلوده چې په فلانکي ځای کښې به دواړه سره یو ځای کېږو. ایا دا د تهمت موجبه ده چې صفوان ﷺ د خپلې دندې په مطابق خپله مور (عائشه رضی الله عنها) کاروان ته ورسوله؟

په دوی دواړو باندې د تهمت ګومان دا معنی لري چې: هیڅ مسلمان سړی د هیڅ مسلمانې زنانه سره په خلوت کښې نه ملاقي کېږي مګر ضرور به په فحاشۍ باندې اخته کېږي، دا چې ډېر نارینه او ډېرې زنانه د فحاشۍ څخه بچ پاتې دي بله موجبه نه لري فقط موجبه یې همدا ده چې خلوت ورته نه دی میسر شوی.

دا ډول خیال کول دا معنی ورکوي چې ایمان د فحاشۍ مخه نه شي نیولی بلکې مخه یې فقط همدا نیسي چې د چا لاس ورباندې بر نه شي او توان یې ورته ونه رسېږي.

نو الله ﷻ ټول مؤمنان (نارینه وي او که زنانه) متوجه کړه چې تاسو ولې په خپلو ځانونو باندې بدګوماني کوئ حال دا چې تاسو د ایمان خاوندان یاست، ستاسو د تهمت لګولو معنی دا ده چې که بالفرض تاسو ته خلوت لاس ته درشي او یا په خلوت باندې بریالي شئ نو ضرور به په فحاشۍ باندې اخته کېږئ، ایا دا په خپلو ځانونو باندې بدګوماني نه ده؟!

---

(۱) عمدة القاري علي البخاري ج۱۳ ص۲۲۹: تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۱۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


همدا مضمون په لاندې حدیث کښې یوه ورځې د ابو ایوب الانصاري ؓ او د ده د مېرمنې (اُم ایوب رضي الله عنها) ترمنځ په سوال جواب کښې په ډېر ښه ډول انځور شو[1] چې:

اُم ایوب رضي الله عنها: ایا ته هغه خبرې نه اورې کومې چې د عائشې رضي الله عنها په هکله په خلکو کښې اوازه ده؟

ابو ایوب ؓ: دا اوازه بالکل دروغ ده (که بالفرض ته د بي بي عائشې رضي الله عنها په ځای وی) نو تا به دغسې کار کړی وی؟

اُم ایوب رضي الله عنها: په سوګند سره وایم چې ما به دغسې کار نه وی کړی که بالفرض زه د هغې په ځای وی.

ابو ایوب ؓ: نو عائشه رضي الله عنها خو ستا څخه بهتره ده، نو هغې به څنګه دا کار کړی وي؛ نو څرګنده شوه چې دا څرګند بهتان او څرګند دروغ دي.

## دروغژنان څوک دي؟

۹_ په ﴿ لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَـٰذِبُونَ ﴾ کښې الله ﷻ مونږ ته د دروغژنانو دروغ په دلیل سره اثبات کړي دي، هغه دا چې که بهتان تړونکي خپل خانونه رښتیني ګڼي نو ولې په خپله خبره څلور تنه شاهدان نه شي درولی، کله چې دوی د دغه کار څخه عاجزان دي نو همدوی د الله ﷻ په نزد دروغژنان دي، او په راتلونکي کښې هم دغه ډول خلک د دروغژنانو د ډلې څخه شمېرلی کېږي.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: د عائشې رضي الله عنها د تهمت واقعه خو بالکل افترا وه، چې نه چا شاهدان درلوده او نه د شاهدانو د درلودلو امکان وه، خو څرنګه چې په نصوصو کښې عمومي مفاهیمو ته کتلی کېږي نو که څوک په واقعي توګه نارینه او زنانه په خپلو سترګو باندې وګوري خو د شاهدانو د اقامه کولو څخه عاجز شي، نو دغه لیدونکی خو د خلکو په نزد دروغژن دی اما پوښتنه دا ده چې ایا د الله ﷻ په نزد هم دروغژن ګڼلی کېږي حال دا چې الله ﷻ ته خو واقعیت معلوم دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د ﴿ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ څخه د الله ﷻ علم مطلب نه دی څو ذکر شوی سوال وارد شي بلکې دلته د الله ﷻ شریعت مطلب دی، او پوره واضحه ده چې شریعت خو ظاهر ته ګوري او باطن الله ﷻ ته سپاري. د ښه وضاحت دپاره د عمر الفاروق ؓ وینا دربه زړه کړئ هغه دا چې یوه ورځې یې په خپله خطابه کښې وویلې چې: «وَإِنَّمَا نَأْخُذُكُمْ الْآنَ بِمَا ظَهَرَ لَنَا مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَمَنْ أَظْهَرَ لَنَا خَيْرًا أَمِنَّاهُ وَقَرَّبْنَاهُ وَلَيْسَ إِلَيْنَا مِنْ سَرِيرَتِهِ شَيْءٌ، اللهُ يُحَاسِبُهُ فِي سَرِيرَتِهِ»[2] یعنې وحې قطعه شوې ده او یقیناً مونږ نن ورځ تاسو په خپلو هغو اعمالو باندې نیسو کوم چې مونږ ته څرګند شي، نو هر

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۱۵۹. تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۷۳
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څوک چې مونږ ته خیر ښکاره کړي (نېک اعمال وکړي) مونږ هغه امین ګڼو او خپل خان ته یې نژدې کوو (اعتماد وربانديې کوو) اما د ده د باطن څخه مونږ ته هیڅ شی نشته (په باطن کښې یې مونږ هیڅ کار نه لرو) په باطن کښې به یې ورسره الله ﷻ حساب کوونکی شي. او هرڅوک چې مونږ ته بدي څرګنده کړي نو هغه مونږ امین نه ګڼو او مونږ یې د خبرې تصدیق نه کوو اګر که وایي چې د ده باطن ډېر ښه دی (او په شریعت باندې برابر دی).

## اِفَاضَة څه معنی؟

۱۱ـ په ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِى مَآ أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ أَفَضْتُمْ ﴾ کلمه د "اِفَاضَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې په اصل کښې "اِفْوَاض" ـلکه "اِكْرَام"ـ وه، "اِفَاضَة" خو اصلاً د اوبو تویېدلو او خورېدلو ته وایي خو په دې مقام کښې د "اِفك" په قیصه کښې په اسانۍ سره د ورشرېکېدلو څخه کنایه ده[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: که د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې په دنیا او آخرت کښې نه وی نو د هغه شي د کبله به تاسو ته لوی عذاب در رسېدلی وی په کوم کښې چې تاسو د اوبو په شان په اسانۍ سره ورتوی شوئ او برخه مو پکښې واخستله. همدا مضمون په راتلونکي متصل ایت کښې منعکس شوی دی.

## درې ګناهونه

۱۲ـ دا ایت شریف ﴿ إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ ﴾ الآية، درېوو ګناهونو ته اشاره کوي هغه دا چې:

الف: یعنې تاسو ته څکه لوی عذاب متوجه وه ـخو د الله ﷻ په فضل سره یې درڅخه مخه واړوله شوهـ چې تاسو د "إفك" قیصه (په أم المؤمنين باندې بهتان) په خپلو ژبو سره شائع کړ چې یوه به د بل د ژبې څخه اخسته او د درېم کس په ژبه کښې به یې ورکاوه ﴿ إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ ﴾.

ب: تاسو په خپلو خولو باندې هغه څه ویل په کوم باندې چې تاسو علم نه درلود. یا په بل عبارت: ستاسو خولو د زړونو څخه نمایندګي نه کوله حال دا چې باید سړی په خوله باندې هغه خبره وکړي په کومې باندې چې په زړه کښې باوري وي ﴿ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ ﴾.

ج: بالآخره بله ګناه دا وه چې تاسو د پیغمبر د مېرمنې او د ټولو مؤمنانو د مور پورې تهمت تړل اسان ګڼل حال دا چې دا د الله ﷻ په نزد ډېر لوی عصیان وه ﴿ وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴾.

## تاسو ته څه په کار وه

۱۳ـ په ﴿ وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم ﴾ الآية، کښې الله ﷻ مؤمنانو ته ادب توصیه کړی دی چې باید تاسو د ذکرو شوو درېګونو ګناهونو په عوض دغه ادب خپل کړی وی چې:

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۱۱۸؛ تفسیر المظهري ج۶ ص۴۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: باید تاسو د تهمت د اورېدلو سره سم ویلي وی چې مونږ ته هیڅ مناسب نه دي چې په تهمت خبره وکړو او اقلاً خوله ورباندې وښوروو. ﴿ مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا ﴾. نو تاسو دغسې ولې ونه ویلې؟ او په دغه ادب باندې مو ولې عمل ونه کړ؟

ب: باید تاسو د تهمت د اورېدلو څخه په تعجب کښې لوېدلي وی او په ډېره حیرانتیا سره مو ویلي وی چې: ای الله! تاته د دې څخه پاکي ده چې ستا د پیغمبر مېرمن په دغسې بدکار باندې اخته شي، ای الله! مونږ اعتراف کوو چې دا ډېر لوی بهتان دی چې د دین دښمنانو طرحه کړي دي ﴿ سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴾.

## سوال جواب

۱۴ـ که څوک وایي چې: څه وجه وه چې نبي کریم ﷺ د ذکر شوي ایت د نزول څخه وړاندې د تهمت خبره رد نه کړه او ټولو خلکو ته یې اعلانه نه کړه چې: ﴿ مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴾؟ مونږ وایو چې:

الف: که بالفرض نبي کریم ﷺ ذکر شوی تهمت د اورېدلو سره سم رد کړی وی نو منافقانو ته به د پروپاګند لا زیاته موقع لاس ته ورتله چې د خپلې مېرمنې په بدنامۍ باندې خبر شو حال دا چې په موضوع کښې یې هیڅ پلټنه ونه کړه او بې پلټنې یې سمدستي رد کړه.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ اُسامه ﷺ، بریره رضي الله عنها، زینب (أم المؤمنین) رضي الله عنها، او علي ﷺ په همدې هکله وپوښتل[۱].

ب: په دې باندې علاوه که نبي کریم ﷺ ذکر شوی تهمت سمدستي رد کړی هم وی، اوازه ورباندې نه غلې کېده بلکې اوازه د نورو مسلمانانو په رد باندې غلې کېدلې شوه او بس. سرې ته داسې ذهن ته ورځي چې په ﴿ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ﴾ کښې به د نبي کریم ﷺ څخه په غیر نور مؤمنان مخاطب کړی شوي وي.

ج: د څه پوښتنو او ګویګنو څخه وروسته نبي کریم ﷺ د ممبر په سر باندې وویلې چې: «فَوَاللهِ مَا عَلِمْتُ مِنْ أَهْلِي إِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا»[۲] یعني نو په الله ﷻ سوګند دی چې زه په خپل اهل باندې د خیر څخه پرته په بل شي باندې علم نه لرم او یقیناً دوی په همدې ارتباط داسې یو سړی (صفوان ﷺ) یادوي چې زه په هغه باندې هم د خیر څخه پرته په بل شي باندې علم نه لرم.

د: بالآخره که نبي کریم ﷺ ـ د دې څخه علاوه ـ په رد باندې زور اچولی وی نو څه لرې نه وه چې دوه قومونه (اوس او خزرج) سره په جنګ شوي وی لکه چې په هغه وخت کښې هم دواړه قومونه سره ډېر خکه شوه «حَتَّى هَمُّوا أَنْ يَقْتَتِلُوا»[۳] آن تردې چې دوی قصد وکړ چې یو د بل سره په مقاتله او

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۵۷۱؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۶۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۴
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنګ باندې پیل وکړي، په کوم وخت کښې چې نبي کریم ﷺ د ممبر د پاسه د تهمت خبره ردوله. او دا څکه چې د تهمت مؤسس عبد الله بن أبي وه چې د خزرج د قبیلې څخه وه، او د دې خطر وه چې د دواړه قبیلو ترمنځ پخوانی زوړ عداوت بیا د شیطان د پلوه راتازه شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه صفوان بن المعطل ﷺ په حسان بن ثابت ﷺ باندې د توري حمله وکړه چې په سر یې وواهه او نژدې وه چې وژلی یې وی چې تا ولې په مونږ باندې تهمت لګولی دی[1].

لنډه دا چې که نبي کریم ﷺ د بي بي عائشې رضي الله عنها او د صفوان ﷺ په تزکیه باندې نور زیات زور اچولی وی نو فتنه به ترې جوړه شوې وی.

## خو بیا داسې ونه کړئ!

۱۵ ـ په راتلونکو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانو ته ارشاد کړی دی چې:

الف: الله ﷻ تاسو د دې څخه ډاروي چې د ذکرې شوې بې ادبۍ غوندې بلې بې ادبۍ ته ورتاو شئ او د دوهم ځل دپاره بدون د علمه د یوه بد کار په خورولو کښې اخته شئ، نو تاسو د انذار څخه ډک نصیحت قبول کړئ. دا د یو پلوه، او د بله پلوه که تاسو ربښتیاني مؤمنان یاست نو د همېشه دپاره د دغسې کار څخه اجتناب وکړئ ﴿ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُواْ لِمِثۡلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾.

ب: تاسو د الله ﷻ شکریه وکړئ او ناشکري یې ونه کړئ چې په هر ځای کښې درته ضروري ارشادات او ګټور احکام درنازلوي ﴿ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۚ ﴾.

ج: الله ﷻ ته ستاسو ټول حالات معلوم دي او د ده ﷻ هر یو کار د حکمت څخه ډک دی، نو د "إفك" په پېښه کښې یې تاسو په خپلو ډېرو خامیو باندې پوه کړئ او ارشادات یې درنازل کړه چې ستاسو عقلونو هیڅ نه وه درک کړي ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾.

## د ګناه اشاعت خوښول هم ګناه ده

۱۶ ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ ﴾ الآیة، کښې لاندې مطالبو ته اشاره ده:

الف: لکه څنګه چې په مؤمنانو کښې د تهمت او بدنامۍ خورول ګناه ده همدارنګه د دغه ډول خورولو سره مینه او محبت درلودل هم ګناه ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ»[2] یعنې تر هغه به ستاسو یو نفر کامل مؤمن نه شي ترڅو چې د خپل ورور دپاره هغه څه خوښ کړي کوم چې د خپل ځان دپاره خوښوي.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا (وَقَالَ مَرَّةً أَنْكَرَهَا) كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا»[3]

---

(۱) سیرت ابن هشام ج۲ ص۳۵۲

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۶.

(۳) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲٤۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې کله چې د ځمکې په مخ کوم بد کار وکړی شي نو هغه څوک چې ورسره حاضر وي او بد يې وګڼي د هغه چا غوندې دی چې ترې غائب وي، او هرڅوک چې ترې غائب وي نو پرې خوښ شي د هغه چا غوندې دی چې ورسره حاضر وي.

نو حاصل يې داسې راخيژي چې: يقيناً څوک چې په مؤمنانو کښې د بدنامۍ خورېدل خوښوي او وربانديې راضي وي نو هغوی ته په دنيا او آخرت کښې دردناک عذاب دی.

ب: د ﴿ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې:

اول: په نېکانو کښې د فحاشۍ خورېدل د ټولنې دپاره ډېر خطرناک دي چې په خطراتو باندې يې تاسو نه پوهېږئ يوازې الله ﷻ وربانديې پوهېږي.

دوهم: څرنګه چې د فحاشۍ د خورېدلو خوښونه د زړه شی دی نو يوازې الله ﷻ وربانديې پوهېږي، ځکه لرې نه ده چې بندګان يو بل وغولوي مګر الله ﷻ هيڅوک نه شي غولولی چې هرڅه ورته معلوم دي.

## يادونه

۱۷ـ څرنګه چې د ﴿ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ ﴾ غوندې شرطيه جمله وړاندې په [۱۴] ايت کښې تېره شوې ده خو هلته يې جزائيه جمله ذکره وه چې: ﴿ لَمَسَّكُمۡ فِي مَآ أَفَضۡتُمۡ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ نو معلومه شوه چې دلته به همدغه جزائيه جمله مقدره وي نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

ای مؤمنانو! که د الله ﷻ فضل او رحمت په تاسو باندې نه وی او هم دا خبره نه وی چې يقيناً الله ﷻ ډېر نرمي کوونکي او مهربان دی نو تاسو ته به لوی عذاب رسېدلی وی.

## سوال جواب

۱۸ـ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د الله ﷻ د فضل او د ده ﷻ د رحمت څخه کوم کوم شيان مراد دي؟

مونږ وايو چې: دلته د فضل څخه نعمتونه مطلب دي چې د همدې نعمتونو جملې څخه د توبې توفيق هم دی، او د رحمت څخه عفوه او د ګناهونو مغفرت مراد دی[۱]، والله ﷻ أعلم.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿٢١﴾ ﴾

[۲۱] ای هغو کسانو کومو چې ايمان راوړی دی! تاسو د شيطان (انسي وي او که جني) د قدمونو پيروي مه کوئ. او هر څوک چې د شيطان د قدمونو پيروي وکړي نو (هغه به هيڅکله د خير

---

(۱) تفسير الکشاف ج۳ ص۲۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


خاوند نه شي او دا) ځکه چې یقینًا شیطان په بې شرمه او (په شریعت کښې) په ناآشنا کار باندې امر کوي (او د نېکو کارونو څخه منعه کول کوي).

او که د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت په تاسو باندې نه وی نو ستاسو د جملې څخه به یو کس هم (د ګناه څخه) په ابدي توګه نه وی پاک شوی مګر الله ﷻ هغه څوک (دګناه څخه په توبه باندې) پاکوي کوم ته یې چې اراده وشي، او الله ﷻ (ستاسو د ټولو اقوالو) اورېدونکی دی (او هم ستاسو په ټولو حالاتو باندې) پوه دی.

## ارتباط او د او د مطلب خلاصه

وړاندېني ایتونه د "إفك" د پېښې په هکله نازل شوي وه او په دې ایت کښې هغې وجې ته اشاره شوې ده د کومې د کبله چې ذکرې شوې پېښې صورت نیولی وه، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای مؤمنانو! د "إفك" په کومه واقعه کښې چې د منافقانو په لمسون ستاسو ځینو افرادو ګډون کړی وه د هغې اصلي وجه دا وه چې تاسو د شیطان د قدمونو پیروي کړې وه، او شیطان تاسو ته د همېشه دپاره په قابو کښې دی چې په ګناهونو باندې مو اخته کړي، شیطان په همدغې یوه تېرویستنه باندې اکتفاء نه کوي چې نور به یې ستاسو د غولونې څخه لاس اخستی وي او غلی به ناست وي.

الله ﷻ تاسو ته ارشاد کوي چې تاسو نه د انسي شیطان پیروي وکړئ او نه د جني شیطان په قدمونو باندې خپل قدمونه کېږدئ چې خپل الهي شرعي لاره پرېږدئ او باطله لاره تعقیبه کړئ، نو:

۱ـ هرڅوک چې د شیطانانو د قدمونو پیروي وکړي نو هغه به هیڅکله په سمه لاره باندې لاړ نه شي او د همېشه دپاره به په باطلو لارو باندې سر وي. او دا ځکه چې شیطانان هیڅکله په نېکو او شرعي معروفو کارونو باندې امر نه کوي بلکې مدام په بې شرمه کارونو او په شریعت کښې په ناآشنا کارونو باندې امر کوي، او غواړي چې خپل پیروان د الله ﷻ د رحمت او فضل څخه په څنګ کړي او د ده ﷻ په غضب او عذاب باندې یې اخته کړي.

۲ـ نو ای مؤمنانو! که په تاسو باندې د الله ﷻ فضل او د ده ﷻ رحمت نه وی نو ستاسو د جملې څخه به هیڅکله یو کس هم د ګناه څخه نه وی پاک شوی، نه به ذکر شوي ایتونه نازل شوي وی او نه به چا د توبې توفیق موندلی وی. مګر الله ﷻ په خپل فضل او رحمت سره د ګناه څخه هغه څوک تزکیه کوي کوم ته یې چې اراده وشي، نو تاسو ته یې د تزکیه کولو اراده وشوه چې هم یې د توبې توفیق درکړ، هم یې د عائشې رضي الله عنها د عفت په هکله متعدد ایتونه نازل کړه او بالآخره هم یې ستاسو د دنیاوي سوکالۍ او په امن کښې د اوسېدلو دپاره حدود تشریع کړه. او دا ځکه چې:

۳ـ الله ﷻ ستاسو د ټولو اقوالو اورېدونکی دی او ستاسو په ټولو حالاتو باندې پوه دی.

## توضیحات

۱ـ څرنګه چې وحې قطعه کېدونکې وه او هم نبي کریم ﷺ وفاتېدونکی وه نو الله ﷻ به په ځینو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مهم موضوعګانو کښې د وحې نزول ځنډاوه، ترڅو پکښې مؤمنان تمرين شي او د خپلو عقلونو څخه پکښې کار واخلي. نو کله به چې دوی خپل عقلونه په کار واچول او په موضوع کښې به يې خپل کردار ترسره کړ نو بيا به الله ﷻ ايتونه نازل کړه او دوی ته به يې خپلې خامی او د فکر کمزورۍ ورونښودلې چې دا مو خطا کار وکړ او دا وينا مو صحيحه نه وه، تاسو ته په کار وه چې داغسې او هاغسې مو کړي وی.

په همدې بنياد د "إفك" په واقعه کښې هم تر يوې مياشتې پورې د وحې نزول ټال شو او بيا د خپلو ځخه زيات تهديد آميزه ايتونه رانازل شوه چې:

الف: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ [النور: ۱۴].

ب: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ [النور: ۲۰].

ج: ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ ﴾ [النور: ۲۱].

يعنې اې مؤمنانو! که په تاسو باندې د الله ﷻ فضل او رحمت نه وی نو په تاسو باندې به يې د ايتونو په عوض عذاب درنازل کړی وی او هم به يې د توبې توفيق نه وی درکړی چې په آخرت کښې به هم د عذاب سره مخامخ شوي وی. تاسو ته په کار وو چې د عقلونو څخه مو کار اخستی وی او خپل دښمن (شيطان) مو پېژاندلی وی، برابره خبره ده چې هغه انسي وي او که جني.

بايد پس د دې څخه فکر وکړئ او د شيطان د قدمونو پيروي ونه کړئ، ترڅو به په تاسو کښې نبي کريم ﷺ حيات وي او د وحې په ذريعه به تاسو ته په خپلو فکري کمزوريو او خاميو باندې اطلاع درکوي؟ او ترڅو به الله ﷻ په خپل فضل او رحمت سره ستاسو څخه د دنياوي او أخروي عذاب مخنيوی کوي؟ الله ﷻ خو د هغه چا څخه د عذاب مخه نيسي کوم ته يې چې اراده وشي، دا خل خو يې اراده وشوه نو تاسو څه خبر ياست چې بيا به يې درته اراده وشي او که نه (ستاسو څخه به د عذاب مخنيوی وکړي او که عذاب به درباندې درنازل کړي).

## د دې ايتونو يو نظير

۲- لکه څنګه چې الله ﷻ د "إفک" په پېښه کښې تر څه زخته پورې وحي ټال کړې وی او د مؤمنانو د فکر کمزورۍ يې راڅرګندې کړې، همدارنګه يې د بدر د غزا په اسيرانو کښې هم تر څه زخته پورې وحي ځنډولې وه او مؤمنان يې پکښې تمرين کړي وه.

نو کله چې دوی نبي کريم ﷺ ته د فديو اخستلو مشوره ورکړه او همدا فيصله عملي شوه نو الله ﷻ په عتاب آميزه توګه ايتونه نازل کړه چې: ﴿ لَّوْلَا كِتَٰبٌ مِّنَ ٱللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَآ أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ [الأنفال: ۶۸] يعنې که چرته د الله ﷻ د پلوه تېر شوی کتاب (فيصله) نه وی -چې د بدر غازيانو ته به په معجزانه توګه فتحه ورکوي- نو هرومرو به تاسو ته په هغه شي کښې لوی عذاب رسېدلی وی کوم چې تاسو واخست چې د غنيمت او فديو څخه عبارت دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤْتُوٓا۟ أُو۟لِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا۟ وَلْيَصْفَحُوٓا۟ ۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٢﴾﴾

[۲۲] او (ای مؤمنانو!) ستاسو د جملې څخه دې (په دینداری کښې) د فضل خاوندان او (په مالداری کښې) د پراخی (خاوندان د دې څخه) سوګند نه کوي چې د قرابت والاوو ته او مسکینانو ته او (هم) في سبیل الله مهاجرینو ته (خیرات) ورکړي. او دوی دې (د هغوی څخه د خپګان په صورت کښې) عفوه وکړي او (د انتقام څخه دې) مخونه واړوي.

ایا نو تاسو (ای د بهترۍ او پراخۍ خاوندانو!) دا نه خوښوئ چې الله ﷻ تاسو ته مغفرت وکړي؟ او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط او شان نزول

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او په همدې ارتباط یوې خاصې موضوع ته اشاره شوې ده، هغه دا چې:

کله چې د بي بي عائشې (أم المؤمنين رضي الله عنها) د عفت او پاکلمنۍ ایتونه نازل شوه او قاذفین په حد کړی شوه نو په دوی کښې مسطح بن اثاثه ﷺ هم شامل وه، دا هغه سړی وه کوم چې د ابو بکر الصدیق ﷺ د خور زوی او یا د ترور (خاله) زوی وه[۱] او د فقیرۍ د کبله به یې ورسره کومک کاوه (څه خیرات به یې ورکاوه). نو ابو بکر الصدیق ﷺ په سوګند سره په نوموړي مسطح ﷺ باندې خپل خیرات بند کړ چې د عائشې رضي الله عنها په تهمت کښې یې برخه اخستې ده[۲].

که څه هم نوموړي خپل اعتذار وړاندې کړ او په تهمت کښې د اشتراک څخه منکر شو چې ما پکښې ګډون نه دی کړی فقط د حسان بن ثابت ﷺ په مجالسو کښې ناست شوی یم چرته به چې د تهمت په هکله خبرې کېدلې، مګر ابو بکر ﷺ په خپل سوګند کلک وه چې که بالفرض نور دې هیڅ نه وي کړي دا خو دې کړي دي چې: «لَقَدْ ضَحِكْتَ وَشَارَكْتَ فِيمَا قِيلَ»[۳] یعنې یقینًا تا خو خندلي دي او په خندلو سره دې په ترل شوي تهمت کښې اشتراک کړی دی. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ، چې حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه هغو بندګانو ته خبر ورکړه کوم چې د یو پلوه په دین کښې په نورو باندې فضیلت لري او د بلې خوا په دنیاوي مالونو کښې هم د پراخۍ خاوندان دي چې:

۱ـ دوی دې له دې خبرې څخه سوګند نه کوي چې د خپل پخواني عادت په مطابق خپلوانو، مسکینانو او في سبیل الله مهاجرینو ته کومک او امداد ورکړي، البته په هغه صورت کښې چې د

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۱۲۵

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۸

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۰۷؛ التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۱۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


څه خطاکاری د کبله ترې خپه شوي وي، لکه څنګه چې ابو بکر الصدیق ﷛ د مسطح بن أثاثه څخه د إفک په واقعه کښې خپه شوی دی.

۲_ دغه د فضیلت او پراخۍ خاوندان په دې عوض چې د خطاکارانو مهاجرینو څخه په اقتصادي بندیز سره انتقام واخلي او خپل زړونه پرې یخ کړي باید هغوی ته عفوه وکړي او د خطاکارۍ څخه یې مخونه تاو کړي، ته به وایې چې هیڅ خطاکاري یې ترې نه ده لیدلې.

۳_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه دوی ته ووایه چې: ایا تاسو دا خبره نه خوښوئ چې الله ﷻ تاسو ته مغفرت په نصیب کړي؟ نو که تاسو د خپل رب ﷻ د پلوه مغفرت خوښوئ نو په کار دي چې تاسو هم هغوی ته مغفرت او بښنه وکړئ او د انتقام څخه ورتېر شئ. او دا ځکه چې:

۴_ الله ﷻ بښونکی او مهربان دی، نو باید تاسو هم د بښنې او مهربانۍ څخه کار واخلئ.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَا يَأْتَلِ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ مِنكُمْ ﴾ کښې د ﴿ وَلَا يَأْتَلِ ﴾ د کلمې په اصلیت کښې لاندې دوه نظره موجودیت لري:

الف: دا کلمه په اصل کښې د "أَلْوٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د قصور او نقصان معنی ورکوي[۱] یعنې ستاسو د جملې څخه دې د فضل او پراخۍ خاوندان د خپلوانو مسکینانو مهاجرو ته د خیرات په ورکړه کښې قصور او نقصان نه واقع کوي چې خپل عادت ته تغیر ورکړي او خیرات ورباندې بند کړي.

ب: دا کلمه د "أَلِيَّةٌ" _لکه "رَخِيَّةٌ"_ څخه اصلاً اخستلې شوې ده چې د سوګند معنی ورکوي[۲] یعنې د فضل او پراخۍ خاوندان دې د ذکر شوي خیرات ورکولو څخه سوګند نه کوي، او چې سوګند یې کړی وي د هغه کفاره دې وکړي او خپل خیرات دې جاري وساتي.

که څه هم دواړه تفسیرونه په مصداق کښې سره نږدې دي _څه منافات سره نه لري_ مګر د ذکر شوي شان نزول سره دوهم تفسیر ډېر ښه سلښښت نیسي، چې ابو بکر الصدیق ﷛ د خیرات د نه ورکولو څخه سوګند یاد کړی وه.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: دوهم تفسیر خو د شان نزول سره ښه مطابقت نه لري ځکه چې د شان نزول خبرو یوازې د ابو بکر الصدیق ﷛ او مسطح ﷛ ترمنځ صورت نیولی وه حال دا چې په ایت کښې په دواړو جانبو کښې د جمعې کلمات ﴿ أُوْلُواْ ٱلْفَضْلِ ﴾، ﴿ أُوْلِي ٱلْقُرْبَىٰ ﴾ نازل شوي دي؟

مونږ وایو چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د ابو بکر الصدیق ﷛ غوندې

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۳۹
(۲) القاموس المحیط ج۱ ص۱۷۳

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



سوګندونه څه نورو صحابه وو کړامو ﷺ هم کړي وه[۱] نو په شان نزول کښې حصر مطلب نه دی.
دا د يو پلوه، او د بله پلوه که څه هم په مسطح ﷺ باندې دربواړه صفتونه صادقېده چې هم د ابو بکر الصديق ﷺ د خپلوانو څخه وه او هم مسکين او في سبيل الله مهاجر وه، مګر د خيرات د جاري ساتلو دپاره د دربواړو صفتونه موجوديت شرط نه دی.
نو د ايت شريف د ارشاد حاصل داسې راخېژي چې: الله ﷻ په خپلو دښمنانو (کفارو) باندې په کفر سره روزي نه بندوي تاسو هم په خپلو جيره خورو باندې د خفګان د کبله ارتزاقي بنديز مه لګوئ.

## د ابو بکر الصديق ﷺ اجابت

۳ـ کله چې ذکر شوی ايت شريف ابو بکر الصديق ﷺ واورېد نو خپل اجابت يې داسې څرګند کړ چې: «بَلَى وَاللهِ يَا رَبَّنَا إِنَّا لَنُحِبُّ أَنْ تَغْفِرَ لَنَا»[۲] يعني: ولې نه! په الله ﷻ مې دې سوګند وي اې زمونږ ربه! چې يقيناً مونږ دا خوښوو چې مونږ ته مغفرت وکړې. دا يې وويلې او خپل د خيرات بنديز يې مات کړ او جاري يې وساته.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴿٢٣﴾ يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٢٤﴾ يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ ﴿٢٥﴾ ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ﴿٢٦﴾﴾

[۲۳] يقيناً هغه کسان کوم چې پاکلمنې ناخبره مؤمنې زنانه (د زنا په کړغېړن عمل سره) کنځي نو دوی په دنيا او آخرت (دواړو) کښې لعنت کړی شوي دي، او هم ورته لوی عذاب دی.
[۲۴] (البته) په داسې ورځ کښې چې په دوی باندې خپلې ژبې او خپل لاسونه او (هم) خپلې پښې په هغو کارونو باندې شاهدي ورکړي کوم چې دوی وه چې په (دنيا کښې به يې) کول.
[۲۵] په دغې ورځ کښې به الله ﷻ دوی ته خپله حقه (انصافي) جزا پوره ورکړي، او (هم) دوی به پوه شي چې يقيناً الله ﷻ همدی ښکاره حق دی (رښتيا د هر شي واک او اختيار يې په قدرت کښې دی).
[۲۶] پليتې ښځې (يا پليتې ښځې) پليتو نارينه وو لره دي (د همدوی سره تناسب لري)، او پليت نارينه پليتو خبرو (يا پليتو ښځو) لره دي (د همدوی سره مناسب دي). او پاکيزه خبرې (يا

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۸۵
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاکیزه زنانه) پاکیزه نارینه وو لره دي (د همدوی لیاقت لري) او پاکیزه سړي پاکیزه خبرو (یا پاکیزه زنانه وو) لره دي (د همدوی سره تناسب لري او بس).

دغه پاکیزه کسان (نارینه وي او که زنانه) د هغو اقوالو (خبرو) څخه بېزار (او پاک) دي په کومو چې دوی (پلیت کسان نارینه وي او که زنانه) قول کوي (او افتراء وربوري کوي). همدوی باندې (پاکیزه کسانو) ته (د الله ﷻ په نزد) مغفرت او د کرامت والا رزق دی (چې د جنت څخه عبارت دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د افک د واقعې او د هغې د ځینو اړونده مسائلو د بیان څخه وروسته الله ﷻ په دې ایتونو کښې ډېر سخت وعید نازل کړی دی ترڅو د قیامت د ورځې پورې د تهمتونو او بهتانونو مخه ونیوله شي او په اسلامي جامعه کښې بیا-بیا تکرار نه شي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې څه مطالب قرائت کړه ترڅو دوی د تهمتونو او قذفونو څخه خپل خانونه وساتي او اسلامي جامعه تخریب نه کړي هغه دا چې:

۱ـ یقیناً هغه کسان چې داسې پاکلمنو ښځو پورې تهمت تړي او د زنا بهتان ورباندې لګوي کومې چې د زیات عفت د کبله د دغه کرغېړن عمل څخه بالکل ناخبرې وي او په زړه کښې یې هم نه وي تېرې شوې او په دې باندې علاوه د ایمان په ټولو اقتضاګانو باندې معتقدې وي؛ یا په بل عبارت: په ټول اسلام کښې داخلې وي، نو د دغو کسانو دپاره لاندې سزاوې ټاکلې شوې دي:

الف: په نوموړو کسانو باندې په دنیا او آخرت کښې ټول لعنت کوونکي لعنت وايي او الله ﷻ ته سوال کوي چې: ای ربه! دغه خلک د خپل رحمت څخه لرې وساته چې د ارامۍ مخ ونه ګوري، او دا ځکه چې همدوی د اسلامي جامعې ارامي په خطر کښې اچولې ده او اچولې وه.

ب: د همدغو کسانو دپاره د الله ﷻ په نزد ډېر لوی عذاب ټاکلی شوی دی البته په هغې ورځ کښې په کومه کښې چې ورباندې همغه ژبه شاهدي اداء کړي په کومې سره چې هغوی د تهمت او بهتان لګولو مرتکب شوي وه، او هم به په هغوی باندې لاسونه او پښې هم د څلورو شاهدانو په حیث شاهدي ورکړي او هغه بد عمل به یې په اثبات ورسوي کوم چې دوی په دنیا کښې کړي وه او په عفیفو زنانه باندې یې تور لګولی وه.

ج: ذکرو شوو بهتان تړونکو ته به د قیامت په ورځ الله ﷻ د خپلو کړو وړو پوره حقه جزا ورکړي او په همغه وخت کښې به هغوی پوه شي چې یقیناً الله ﷻ همدی په حقه سره د ښکاره قدرت او واک خاوند دی، چې هیڅوک به د خپلو ځانونو دپاره مونده نه کړي چې د الهي عذابه نجات ورکړي.

۲ـ د ذکر شوو قذف کوونکو خلکو د قیامت د ورځې عذاب ځکه دروند ټاکلی شوی دی چې دوی پلیت خلک دي نو ځکه په پلیتو خبرو کښې اخته دي، او پوره واضحه ده چې پلیتې خبرې د پلیتو خلکو څخه صورت نیسي او پلیت خلک په پلیتو خبرو کښې اخته کېږي؛ یا په بل عبارت: د دواړو تر منځ تلازم او عدم بېلتون دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالمقابل پاکیزه او سپېځلې خبرې پاکانو او سپېځلو کسانو پورې اختصاص لري او همدارنګه پاکیزه کسان د پاکیزه خبرو اترو پورې مختص دي؛ یا په بل عبارت: دواړه جانبه سره تلازم لري. نو دغه پاکیزه کسان د هغو پلیتو خبرو څخه سوچه کړی شوي دي کومې چې د عفیفو ښځو قذف کوونکي یې وایي او پکښې اخته دي، نو د همدې کبله د دغو پاکیزه خبرو خاوندانو ته د الله ﷻ په نزد د ګناهونو مغفرت او هم باکرامته روزي ټاکلې شوې ده چې په جنتونو کښې به ورباندې سرلوړي او فائز شي.

نو په همدې بنیاد د ناپاکو (پلیتو) ښځو او ناپاکو (پلیتو) نارینه وو ترمنځ هم تلازم دی، او پاکیزه زنانه او پاکیزه نارینه هم یو تر بله اختصاص لري چې زړونه یې یو تر بله میلان لري او د دواړو جانبو څخه د تناسب اومناسبت درلودونکي دي.

د همدې کبله پاکیزه زنانه وو او پاکیزه نارینه وو ته د هغو چټې او پلیتو خبرو څخه برائت او بېزاري ده کومې چې د قاذفینو د پلوه اختراع کېږي او دوی پورې تپلې کېږي. نو د همدغې زوروونې د کبله دوی ته په جنت کښې مغفرت او د کرامت څخه ډکه روزي ټاکلې شوې ده، د دغې زوروونې عوضونه او اجرونه به هملته ورکړی شي.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو په دې کښې اختلاف کړی دی چې په ﴿ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ﴾ څخه په دې مقام کښې کومې زنانه مرادې دي، د اختلاف لاندې مثالونه ولولئ[۱]:

الف: ځینې وایي چې: دلته ټولې اُمهات المؤمنین (د مؤمنانو معنوي مورګانې) مرادې دي، ځکه چې په دې مقام کښې د قاذفینو دپاره داسې غټه جزا ټاکلې شوې ده کومه چې د کفارو سره مناسبه ده.

د مثال په توګه: په دغې جزا کښې د ﴿لُعِنُوا۟ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ﴾ کلمات نازل شوي دي، د ﴿لُعِنُوا﴾ کلمه د لعنت څخه اشتقاقه شوې ده او لعنت خو په دنیا کښې د الله ﷻ د رحمت او د ده ﷻ د توفیق څخه بې برخې کېدل دي او په آخرت کښې د عذاب څخه عبارت دي[۲]، چې په دواړو دارینو کښې د کفارو سره ډېر ښه تناسب لري، او پوره واضحه ده چې (د إفک د واقعې د بیان څخه وروسته چې په قرآن کریم سره یې پاکي په اثبات ورسېدله) هغوی ته د زنا نسبت کول کفر دی او هر څوک چې دا کار وکړي که څه هم د هغوی د وفات څخه وروسته صورت ونیسي هغه پرې کافر کېږي[۳].

ب: ځینې نور علماء کرام وایي چې: نظر د کلماتو عموم ته باید د اُمهات المؤمنین په شمول ټولې مسلمانې عفیفې زنانه مرادې کړی شي[۴]، چې د ایتونو د نزول څخه وروسته خو اُمهات المؤمنین

---

(۱) زاد المسیر ج۵ ص۳۵۱؛ روح المعاني ج۱۸ ص۱۲۶
(۲) مفردات الراغب ص۴۷۱
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۷۶
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه د زنا قذف کول د کفر خبره ده او د دوی څخه په غیر نورو عفیفو زنانه وو ته هم د کفر خبره ده په دې شرط چې قذف ورته حلال وګڼل شي.

او په دې باندې علاوه دا هم څه لرې نه ده چې الله ﷻ د دغې ګناه دپاره درنده جزا ټاکلې وی، لکه څنګه یې چې د ناحقه قتل دپاره ډېره سنګینه جزا ټاکلې ده چې په [النساء:۹۳] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

د همدې کبله نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې عفیفو زنانه وو ته قذف کول د هغو ګناهونو په قطار کښې درولی دی په کومو کښې چې شرک بالله هم شمېرلی شوی دی هغه دا چې: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ» یعنې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: د اوو مهلکو ګناهونو څخه اجتناب وکړئ. چا ترې پوښتنه وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا هُنَّ» ای د الله رسوله! اوه مهلکې ګناهونه کومې-کومې دي؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «الشِّرْكُ بِاللهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَكْلُ الرِّبَا وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ»[1] یعنې هغه دا دي: ١ــ د الله ﷻ سره شریک درول. ٢ــ جادو او کوډې کول. ٣ــ هغه څوک په ناحقه وژل کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی. ۴ــ سود خوړل. ۵ــ د یتیم د مال خوړل. ۶ــ د کفارو سره د جنګ په ورځ د میدان څخه تېښتېدل. ٧ــ عفیفو مؤمنو ناخبرو زنانه وو ته د زنا نسبت کول.

پاتې شوه د لعنت خبره، نو لعنت یوازې هغه معنی نه لري کومه چې د "الف" ګروپ علماوو کرامو وړاندې ذکره کړې ده بلکې لعنت کله په دې باندې هم دلالت کوي چې څوک د ابرارو د ډلې څخه ولوېږي، او کله محض د حقارت او توهین څرګندولو دپاره هم استعمال مومي چې دغه دواړه معناوې د ګنهګار مؤمن سره څه غیر مناسبې نه برېښي[2].

مونږ ته دوهم تفسیر غوره برېښي چې ایت شریف عام دی او د قیامت د ورځې پورې تولې عفیفې مسلمانې زنانه پکښې شاملې دي، همدا تفسیر شیخ المفسرین (العلامه الطبري علیه الرحمة) هم صواب ګڼلی دی[3].

## هېر مو نه شي!

٢ــ په کار دي چې په دې مقام کښې لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: مونږ د [النور:۴] ایت لاندې ــ د الله ﷻ په توفیق ــ لیکلي دي چې پاکیزه نارینه وو ته د زنا نسبت کول هم هغه حکم لري کوم چې پاکیزه زنانه وو ته یې لري، نو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ کلمات تغلیباً په نارینه وو باندې هم دلالت کوي[4].

(١) صحیح البخاري ج١ ص٣٨٨
(٢) روح المعاني ج١٨ ص١٣٣
(٣) تفسیر الطبري ج١٨ ص١٠٥
(۴) البحر المحیط ج٨ ص٢٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هلته د "الْغَافِلَاتِ" کلمه نه وه نازله شوې نو ایت شریف هغې زنانه ته هم شامل وه کومه چې واقعًا په زنا باندې اخته شوې وي، مګر قاذف یې د څلورو شاهدانو د اقامه کولو څخه عاجز شي. او دلته ذکره شوې کلمه نازله شوې ده نو معلومه شوه چې په دې ایت شریف کښې یوازې هغه عفیفې زنانه مرادې دي کومې چې واقعًا هم د زنا څخه پاکې او بېزاره وي او هم یې قاذف د دروغو شاهدان تېر نه شي کړی. نو ځکه دلته عذاب ډېر غلیظ ښودلی شوی دی او هلته د اُخروي عذاب په لحاظ فقط د ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴾ د کلماتو په نزول باندې اکتفاء شوې ده.

ج: هلته ذکر شوي کلمات په ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ ﴾ الآیة باندې تعقیب شوي وه، په دې ایتونو کښې که څه هم دغه تعقیب نه دی نازل شوی خو علماء کرام وایي چې: نورو عموماتو ته په کتلو سره دغه تعقیب دلته هم مراد دی[۱] او د قاذف توبه قبلېږي، والله ﷻ أعلم.

## د یوې ژبې انکار او شهادت

۳_ که څوک وایي چې: الله ﷻ فرمایلي دي چې ﴿ ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴾ [یس:۶۵] یعنې په دغې ورځ به مونږ د دوی په خولو باندې مهر ولګوو او زمونږ سره به د دوی لاسونه خبرې وکړي او پښې به یې په هغه شي شهادت ورکړي کوم چې دوی په دنیا کښې وه چې کسب به یې کاوه.

همدا مضمون د نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې منعکس شوی دی چې: «فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ انْطِقِي»[۲] یعنې په خولو باندې به یې مهر ولګولی شي او اندامونو ته به یې وویل شي چې وګرېږئ (خبرې وکړئ). نو پوښتنه دا ده چې ایا د ختم سره د ﴿ يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ ﴾ کلمات څه منافات نه لري، چې ژبې به هم په هغو جنایاتو باندې شهادت ورکړي کوم چې په خولو (ژبو) پورې اړه لري لکه قذف، دروغ او داسې نور؟

مونږ وایو چې: د قیامت په ورځ به ژبه لاندې دوه حیثتونه ولري:

الف: ژبه له دې حیثه چې دا ژبه ده او د خبرې کوونکي په اختیار کښې ده، نو په دې حیث به ورباندې مهر ولګول شي او د خاوند له اختیاره به ووځي.

ب: ژبه له دې حیثه چې دا یو اندام دی او د خاوند له اختیاره وتلې ده، نو په دې حیث به په خپلو جنایاتو باندې شهادت ورکړي. په دې مقام کښې همدغه حیثیت مراد دی.

نو د قیامت په ورځ به هر یو اندام په خپل کردار باندې داسې شهادت ورکړي او په خبرو به پیل وکړي لکه څنګه چې په دنیا کښې د یوې ګډې اندام خبرې کړې وي، هغه دا چې:

د یوه اوږده حدیث د څه برخې مضمون دی چې یوه ورځې یوې یهودۍ ښځې د ګډې یو لاس

(۱) روح المعاني ج۱۸ص۱۲۶؛ تفسیر المظهري ج۶ ص۴۸۲
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وریت کړی وه او زهریات یې پکښې اچولي وه، بیا یې نبي کریم ﷺ ته د سوغات په شکل ورکړ، نو څه غوښه ترې نبي کریم ﷺ او څه غوښه ترې نورو صحابه کرامو ﷺ وخوړه، بیا نبي کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې غوښه ترې مه خورئ، او یهودي ښځه یې راوغوښتله او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

نبي کریم ﷺ: ایا تا په دې وریته غوښه کښې زهریات اچولي دي؟

ښځه: ته چا خبر کړې؟

نبي کریم ﷺ: «أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي الذِّرَاعُ»[۱] یعنې زه دغې غوښې خبر کړم چې زما په لاس کښې ده (او د ګډې) د لاس څخه عبارت ده.

ښځه: هو ما پکښې زهریات اچولي وه او ستا نبوت مې امتحاناوه.

## متعدد تفسیرونه

۴ـ علماوو کرامو دا ایت شریف ﴿ٱلْخَبِيثَٰتُ لِلْخَبِيثِينَ﴾ الآیة، په متعددو معناوو باندې تفسیر کړی دی[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: پلیت اقوال د پلیتو نارینه وو او پلیتو زنانه وو پورې د لیاقت په لحاظ اختصاص لري، او همدارنګه پلیت نارینه او پلیتې زنانه د پلیتو اقوالو (خبرو) سره لیاقت لري، یو تربله پکښې تناسب موجود دی؛ همدارنګه پاکیزه اقوال د پاکیزه زنانه وو او پاکیزه نارینه وو پورې نښلي او بس.

نو په همدې بنیاد د عائشې (أم المؤمنین) رضي الله عنها او صفوان ﷺ پورې د تور لګولو هیڅ مناسبت نشته، بلکې دوی دواړو پورې پاکیزه خبرې نښلې او بس.

ب: پلیت اقوال د پلیتو نارینه وو او د پلیتو زنانه وو څخه صادرېږي لکه عبد الله بن أُبي (رئیس المنافقین) او د ده امثال، اما د نېکانو نارینه وو او زنانه وو څخه پاکیزه اقوال صادرېږي او بس.

ج: ناپاکه زنانه د ناپاکانو نارینه وو سره تړاو لري او پاکیزه زنانه د پاکیزه نارینه وو سره تړاو لري لکه أُمهات المؤمنین د پیغمبر ﷺ دپاره، د ده ﷺ سره د فاحشې زنانه هیڅ تناسب نشته، نو د همدې کبله د یو لک څلورشت زره ـ زیات یا کموـ پیغمبرانو په مېرمنو کښې کافرې مېرمنې تېرې شوې دي مګر بدنامې او بدلمنې مېرمنې پکښې نه دي تېرې شوې[۳].

نو همدارنګه پاکان نارینه فقط د پاکیزه ښځو سره مناسب دي چې خاوندان یې جوړ شي.

## تبصره

۵ـ که څه هم شیخ المفسرین (العلامه ابن جریر الطبري علیه الرحمة) اول تفسیر غوره کړی دی[۴] مګر

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۶۴
(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۸۸
(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۲۲۰
(۴) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته دړهواړه تفسیرونه یو تربله منافي نه برېښي، نو که د بدلیت په لحاظ دړهواړه مراد کړی شي هم ښه خبره ده.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ
أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝٢٧ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا
حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ
عَلِيمٞ ۝٢٨ لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ
مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ۝٢٩ ﴾

[۲۷] ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! تاسو د خپلو-خپلو کورونو څخه په غیر نورو کورونو ته تر هغه مه ورداخلېږئ ترڅو چې په مینه سره اجازه حاصله کړئ او په اوسېدونکو باندې یې (په شرعي توګه) سلام واچوئ. دغه کار ستاسو دپاره بهتر دی، شاید چې تاسو (ترې) پند واخلئ (او په عمل کښې یې پیاده کړئ).

[۲۸] نو که تاسو پکښې څوک مونده نه کړئ (چې صلاحیت ولري او اجازه درکړي) نو تر هغه وخته پورې مه ورننوځئ ترڅو چې (صلاحیت لرونکی مونده شي او) اجازه درکړي. او که تاسو ته (د صلاحیت لرونکي د پلوه) وویل شو چې بېرته ستانه شئ (ستاسو د اجازې وړاندیز یې رد کړ) نو تاسو (په خوشالۍ سره) بېرته ستانه شئ؛ دا (کار) ستاسو دپاره زیات پاکیزه (او سپېڅلی) دی (د دې څخه چې په اجازه اخستلو زور واچوئ).

او الله ﷻ په هغه څه باندې پوه دی کوم چې تاسو یې کوئ (او یا یې په زړه کښې تېروئ).

[۲۹] په تاسو باندې په دې کښې څه ګناه نشته چې داسې کورونو ته (بدون د اجازې) ورداخل شئ کوم چې (د خاصو کسانو دپاره) د اوسېدانې ځایونه نه وي (تاکلي شوي) حال دا چې ستاسو دپاره هلته استفاده (او ګټه پورته کول) ثبوت ولري (تاسو ورننوتلو ته اړ یاست).

او الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي کوم چې تاسو یې څرګندوئ او کوم چې تاسو یې (په زړونو کښې) پټوئ.

## ارتباط او شان نزول

د سورت د اول سر څخه تر دې ځایه پورې په دې کښې بحث او ارشادات راروان وه چې په اسلامي جامعه کښې د فحاشۍ او هم د قذف (په فحاشۍ سره د کنځلو) مخه ونیوله شي. د دې ایتونو څخه نیولې آن تر څلور دېرشم [۳۴] ایته پورې اوه ایتونه د هغو وتونو او درزونو د بندولو په باب نازل شوي دي د کومو د کبله چې د دې خطره وه چې یا فحاشي متحققه شي او یا په فحاشۍ باندې د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تهمت لګولو زمینه برابره شي. د بندولو طریقې یې دا دي:
۱ـ تاسو پردیو کورونو ته بې اجازې مه ورننوځئ.
۲ـ نارینه او زنانه دواړه باید د خپلو سترګو حفاظت وکړي، او خانونه ګنهګار نه کړي.
۳ـ زنانه باید د غیر محرمو خلکو څخه پرده وکړي.
۴ـ مجرد نارینه او مجرده زنانه باید په نکاح ورکړئ.
۵ـ حتی خپلې خاصې وینځې او خاص مریان هم بې نکاح مه پرېږدئ.
۶ـ باید مجردان (نارینه وي او که زنانه) د نکاح تر موندلو پورې خپل خانونه په خپل قابو کښې وساتي او خپل عفت دې نه خرابوي.
۷ـ تاسو خپلې وینځې مه مجبورئ چې فحاشي وکړي او تاسو ته پیسې موندې کړي.
اما د ایتونو شان نزول دا دی چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یوه ښځه ورغله او عرض یې وکړ چې: ای د الله رسوله! زه په کور کښې کله په داسې حال یم چې نه د پلار او نه د اولاد لبدنه خوښوم، خو د دې سره-سره زما د خپلوانو څخه راباندې بې اجازې یو څوک داخلېږي او په ذکر شوي حال باندې مې ګوري چې زه ورباندې ناراضه یم «فَكَيْفَ أَصْنَعُ فَنَزَلَتْ»[۱] نو زه څه وکړم؟ نو ذکر شوي ایتونه نازل شوه چې حاصل یې دا دی:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! د دې دپاره چې ستاسو اجتماعي ژوند ښه مزه ناک شي او هم ستاسو څخه د اتهاماتو او بدو ګومانونو مخنیوی وکړی شي نو لاندې آداب مراعات کړئ:
۱ـ د خپلو کورونو څخه په غیر د نورو مؤمنانو کورونو ته تر هغې مه ورداخلېږئ ترڅو چې په اذن غوښتلو سره د هغوی وحشت لرې کړئ او د مینې محبت فضا مساعده کړئ.
۲ـ د همدغو کورونو په اوسېدونکو باندې مسنونه سلام واچوئ چې: "السَّلامُ عَلَيْكُمْ"، که د "وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ" کلمات ورسره اضافه کړئ هم بده نه ده.
دغه په اجازه او سلام سره داخلېدل ستاسو دپاره ګټور دي، شاید چې تاسو پند قبول کړئ او ذکر شوي ارشادات په عمل کښې پیاده کړئ.
۳ـ که په هغو کورونو کښې څوک اوسېدونکي موجودیت ونه لري کومو ته چې تاسو ورننوتل غواړئ چې تاسو ته د "هو" یا "نه" جواب درکړي، نو دغسې کورونو ته مه ورداخلېږئ ترڅو چې په هغو کښې څوک مونده شي او تاسو ته د داخلېدلو اجازه درکړي.
۴ـ که ستاسو د اجازې غوښتلو څخه وروسته تاسو ته د کور والاوو د پلوه وویلی شي چې تاسو بېرته وګرځئ اجازه نشته چې تاسو داخل ته راننوځئ، نو تاسو په ډېره خوښۍ سره د هغوی امریه قبوله کړئ او بېرته وګرځئ، بل وخت ورته مراجعه وکړئ.

(۱) لسباب النزول للواحدي ص۲۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېرته ګرځېدل ستاسو دپاره د پاکيزه ګرځولو دپاره ګټور دي او هم د دې څخه بهتر دی چې يا په اجازه غوښتلو باندې زور واچوئ او يا ورته د دروازې ترڅنګ دېره واچوئ چې له دې خايه خوځېدونکی نه يم!

او الله ﷺ په هغو ټولو کارونو باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو يې عملي کوئ نو ستاسو په ټولو کړو وړو باندې ښه پوره علم لري چې دا درته بهتر دی او دا درته بهتر نه دی، مګر تاسو په خپل خير او شر باندې نه پوهېږئ.

۵ـ هو! که چرته داسې کور وي کوم چې اصلاً د خاصو کسانو دپاره نه وي اباد شوي بلکې هر څوک کولی شي چې استفاده ترې وکړي، لکه تعليمي کورونه (مدرسې) يا عبادتي کورونه (جوماتونه) او يا په لويو لارو باندې د عمومي مسافرينو دپاره سرايونه او تعميرات او داسې نور، نو دغسې کورونو او تعميراتو ته بدون د اجازې غوښتلو ورننوتل څه باک نه لري او په تاسو باندې کوم حرج نشته چې هلته ورداخل شئ او هغسې استفاده ترې وکړئ لکه چې نور خلک يې ترې کوي.

۶ـ هو! که په ذکرو شوو تعميراتو کښې د ورداخلېدلو په هکله ستاسو نيت فاسد وي او غواړئ چې هلته کيسه بري يا نور غير شرعي کارونه وکړئ نو بيا مه ورداخلېږئ.

که تاسو خپل فاسد نيت د بندګانو څخه پټ کړئ نو د الله ﷺ څخه خو يې نه شئ پټولی، او دا څکه چې الله ﷺ په هغو اعمالو باندې هم پوهېږي کوم چې تاسو يې ښکاره کوئ او په هغو باندې هم پوهېږي کوم چې تاسو يې په خپلو زړونو کښې پټوئ (چې دغه او هغه به کوو).

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: دلته په صراحت سره نارينه وو ته خطاب متوجه دی چې بدون د اجازې دې د بل چا کور ته نه ورداخلېږي، خو دا خطاب د [النور:۴] ايت غوندې لاندې متعددو صورتونو ته هم شامل دی:

اول: چې نارينه دې د نارينه وو څخه اجازه اخلي او بيا دې ورننوځي.

دوهم: چې نارينه دې د زنانه وو کور ته بدون د اجازې ورداخل نه شي.

درېم: چې زنانه دې د نارينه وو کور ته اجازه وغواړي.

څلورم: چې زنانه دې د زنانه وو کور ته اجازه واخلي. د ښه وضاحت دپاره د يوه حديث مضمون ولولئ:

يوه ورځې څلور ښځې عائشې (أم المؤمنين) رضي الله عنها ته ورغلې او لاندې سوال جواب يې ورسره وکړ:

څلور ښځې: ايا مونږ درننوځو؟

عائشه رضي الله عنها: تاسو مه راننوځئ بلکې يوې ملګرې ته وواياست چې شرعي اجازه واخلي.

د څلورو ښځو يوې نمايندې ووېلې چې: «السَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ أَنَدۡخُلُ؟» په تاسو دې سلام وي، ايا مونږ درننوځو؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عائشې رضي الله عنها ورته وویلې چې: هو! راننوځئ! او بیا یې د استشهاد په توګه ذکر شوی ایت شریف قرائت کړ[۱].

ب: په ﴿ غَيْرَ بُيُوتِكُمْ ﴾ کښې د ﴿ غَيْرَ ﴾ کلمه خپلو محارمو ته هم شامله ده چې باید سړی بدون د اجازې ورباندې ورداخل نه شي، لکه چې د همدې ایتونو شان نزول ورباندې دلالت کوي، خو د ښه وضاحت دپاره په لاندې سوال جواب کښې د یوه حدیث مضمون ولولئ چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یو سړی ورغی او دغه سوال جواب یې ورسره وکړ چې:

سړي: ای د الله رسوله! ایا زه خپلې مور ته هم د ورننوتلو دپاره اجازه واخلم؟

نبي کریم ﷺ: هو! (مور ته هم اجازه اخستل ضرور دي).

سړي: زه خو د هغې سره په یوه کور کښې اوسېږم.

نبي کریم ﷺ: اجازه ترې واخله! (که څه هم په کور کښې ورسره اوسېږې).

سړي: ای د الله رسوله! زه خو د هغې خدمتګار یم.

نبي کریم ﷺ: «أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً» ایا ته خوښوې چې لوڅه (بربنډه) یې وګورې؟

سړي: نه! (دا نه خوښوم).

نبي کریم ﷺ: «فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا»[۲] نو اجازه ورباندې واخله (بې اجازې مه ورداخلېږه).

ج: په ﴿ غَيْرَ بُيُوتِكُمْ ﴾ کښې د "بُيُوت" اضافت د ملکیت دپاره نه دی بلکې د سکونت په غرض دی، نو په همدې بنیاد د کور مالک ته شرعًا اجازه نشته چې هغو کورونو ته بدون د اجازې ورننوځي کوم یې چې په اجاره یا اعاره باندې ورکړي وي[۳].

## د "استیناس" کلمې معنی

۲_ په ﴿ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا ﴾ کښې د ﴿ تَسْتَأْنِسُوا ﴾ کلمه د "استیناس" څخه اشتقاقه شوې ده چې علماوو کرامو پکښې د اصلیت په لحاظ لاندې تحلیلونه کړي دي[۴]:

الف: دا کلمه اصلاً د "أُنس" _لکه "رُشد"_ څخه اخستله شوې ده چې د لیدلو او په څرګنده توګه د علم معنی ورکوي. د همدې مادې څخه په: ﴿ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾ [طه: ۱۰] کښې د ﴿ ءَانَسْتُ ﴾ کلمه هم اخستله شوې ده[۵] یعني موسی علیه السلام خپل اهل ته وویلې چې: یقینًا زه اور ګورم (په څرګنده توګه مې ورباندې علم راغی نو تاسو زما د بېرته راستنېدلو پورې دلته تم شئ).

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: تاسو د پردیو کورونو ته تر هغه مه

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۲۸۰ بحوالة ابن ابي حاتم
(۲) موطأ إمام مالک ص۵۹۷
(۳) تفسیر البیضاوي في هذا المقام
(۴) البحر المحیط ج۸ ص۳۱: تفسیر الکشاف ج۳ ص۲۲۵
(۵) لسان العرب ج۶ ص۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ننوځئ: ترڅو چې تاسو وګورئ او خپل خانونه پوه کړئ چې کوروالا د ورننوتلو اجازه درکوي چې اجازه واخلئ او ورننوځئ، او که نه؟

ب: دا کلمه اصلاً د ذکر شوي "أنس" ـلکه "رُشد"ـ څخه اشتقاقه شوې ده خو د محبت او میلان په معنی سره ده چې د وحشت او نفرت په ضد کښې استعمالیږي[۱]، یعنې ترڅو چې تاسو په اجازه غوښتلو سره خپل خانونه د غیر د وحشت څخه خلاص کړئ چې اجازه به راکړي او که څنګه؟ او همدارنګه د کور والا سره پرې څه تالف حاصل کړئ چې په اجازه درکولو کښې فکر وکړي. هغسې نه چې بدون د اجازې وربانډې ورداخل شئ او په وحشت او نفرت کښې یې واچوئ (چې د کور په داخل کښې ورته بلا اجازه ننغ ودربیږئ چې دغه دی زه راغلم).

ج: دا کلمه اصلاً د "إنس" ـلکه "عِلم"ـ څخه مشتقه شوې ده چې د انسان معنی ورکوي[۲]، یعنې ترڅو چې تاسو هلته د انسان پلټنه وکړئ چې د اجازې درکولو دپاره په کور کښې څوک شته؟ چې اجازه ترې واخلئ او بیا ورداخل شئ.

## تبصره

۳ـ که څه هم ذکر شوي دریواړه تحلیلونه په مصداق کښې متحد دي چې پردیو کورونو ته بې له اذنه مه ورداخلیږئ، د همدې کبله ځینو مفسرینو کرامو ذکره شوې کلمه د معنی په حاصل "حَتَّىٰ تَسْتَأْذِنُوا" سره تفسیره کړې ده[۳] یعنې ترڅو چې د اجازې غوښتنه وکړئ. مګر مونږ ته دوهم تحلیل په زړه پورې برېښي چې د اجازې غوښتلو څه حکمتونو ته هم پکښې څه اشاره شته دی.

## اول کلام دی که سلام؟

۴ـ علماء کرام په لاندې ډول اختلاف لري چې اجازه اخستل مخکښې دي که سلام اچول:

الف: ځینې وایي چې اجازه اخستل په سلام اچولو باندې باید مخکښې وي؛ ځکه چې په ﴿ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ ﴾ کښې سلام اچول د اجازې غوښتلو څخه وروسته دي نو حاصل یې داسې راځي چې: تر هغه پردي کور ته مه داخلیږئ ترڅو چې اجازه واخلئ او سلام واچوئ.

ب: اکثره علماء کرام وایي چې په اجازه غوښتلو باندې سلام اچول مخکښې دي[۴] نو باید اجازه غوښتونکی داسې اجازه وغواړي چې: "السَّلامُ عَلَيْكُمْ أأدْخُلْ؟" یعنې په تاسو دې زما د طرفه سلام وي، ایا زه درننوځم؟. او په ﴿ وَتُسَلِّمُوا ﴾ کښې د "و" توری یوازې په اجتماع باندې دلالت کوي، او ترتیب یې په مدلول کښې شامل نه دی چې لومړني قول ته ترجیح ورکړي.

همدا نظر په لاندې احادیثو کښې ښه شرحه شوی دی:

---

(۱) لسان العرب ج۶ ص۱۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۱۸۵
(۳) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۱۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۱۳
(۴) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۳۶؛ تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «السَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ»[۱] يعنې د خبرو کولو (اجازه غوښتلو) څخه د سلام اچول وړاندې دي.
دوهم: يوه ورځې يو سړی د نبي کريم ﷺ.کور ته ورغی او د ورننوتلو اجازه يې وغوښتله چې: «أَأَلِجُ» ايا زه درننوځم؟ نبي کريم ﷺ خپل خدمتګار ته وويلې چې: دغه سړي ته ورووځه او د اجازه اخستلو طريقه ورزده کړه چې ووايي: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَأَدْخُلُ»[۲] په تاسو دې سلام وي ايا زه درداخل شم؟. نو دغه کلمات اجازه غوښتونکي پخپله واورېده نو په همدغو کلماتو باندې يې د خادم د تعليم څخه وړاندې اجازه وغوښتله نو نبي کريم ﷺ ورته اجازه وکړه او ورداخل شو.

## تبصره

۵ـ ځينو علماوو کرامو د ذکر شوو دواړو نظرونو تطبيق داسې کړی دی چې: که د اجازه غوښتونکي د کور والاوو څخه په چا باندې سترګې ولګېدې نو سلام دې اول واچوي، او که نه نو په اجازه غوښتلو دې اول شروع وکړي[۳].
مګر مونږ ته په تطبيق کښې بهتره برېښي چې سلام اچول به په هغه صورت کښې لومړی وي چې کله اجازه غوښتونکی په اجازه غوښتلو باندې شروع وکړي، لکه چې په وړاندې احاديثو کښې مسنونه طريقهٔ توصيه شوې ده.
او که د کوروالا په خبرو شروع وکړي چې دغه څوک دی چې په دروازه کښې ولاړ دی، نو په دې صورت کښې به د سلام اچول وروسته وي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث ولولئ:
جابر بن عبد الله ﷺ وايي چې: زه يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته په دې هکله ورغلم چې زما پلار څه پوروړی وه (نو ما غوښتل چې په دې باره کښې ورسره خبرې وکړم)، «فَدَقَقْتُ الْبَابَ» نو دروازه مې ټپلوهله (وټکوله او بيا مې ورسره لاندې سوال جواب وکړ):
نبي کريم ﷺ: «مَنْ ذَا» دغه څوک دی چې دروازه ټکوي؟
جابر ﷺ: «أَنَا» دا زه يم.
نبي کريم ﷺ: «أَنَا أَنَا» زه يم-زه يم. «كَأَنَّهُ كَرِهَهَا»[۴] لکه چې نبي کريم ﷺ دغه جواب خوښ نه کړ چې خپل ځان يې معرفي نه کړ، بايد ويلي يې وی چې زه جابر بن عبد الله يم او اجازه غواړم.

## ايا د دروازې ټکول إذن غوښتل دي؟

۶ـ که څوک وايي چې: ايا د دروازې ټکول او يا په نني عصر کښې د برقي زنګ وهنه اجازه غوښتل دي؟

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۹۹
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۴۷
(۳) تفسير المظهري ج۶ ص۴۸۸
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۹۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره وايو چې داسې ښکاره چې ور ته ... په ... تصريح نه كيږي ... اجازه غوښتل واجب دي او سلام اچول ... په ... ضرورت ... د ... او سلام ... د اجازې غوښتلو ... نه شي ... د ... كار ... شي چې ... په ... دي او د ... غوښتنه وکړي.

د ... د سلام اچولو ... نه شي ... او ... د «السلام عليكم» په كلماتو ... وكړي او د ... بيا ... وكړي.

هغه امر چې رسول الله ﷺ په ... د النساء ۱۱۶ آيت ... شوې ده.

## اجازه غوښتل تر څو؟

كله چې اجازه غوښتونكي ته تر درې ځلو پورې شريعت حق وركړى دى چې د «څوك» يا «ته» جواب وانه خلي، او كه په دريو ځلو پورې د كور خاوند چپ پاتې شي نو واجبه ده چې بېرته وګرځي او ... سكوت د ته جواب ونه شي. څنګه چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: «إِذَا اسْتَأْذَنَ أَحَدُكُمْ ثَلَاثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهُ فَلْيَرْجِعْ»[1] يعنې كله چې ستاسو يو كس تر درې ځلو پورې اذن وغواړي خو اذن ورته نه شي نو بېرته دې وګرځي او په اجازه غوښتلو پاتې دې ... زور نه اچوي.

خو كه اجازه غوښتونكي خيال وكړي چې د كور خاوند زما اجازه غوښتل نه دي اورېدلي ... پاتې شو ... د «څوك» يا «ته» جواب ... نو ځينو علماوو كرامو ... حديث ... او د «فَلْيَرْجِعْ» ... استنباط كړى دى چې د دريو ځلو ... د اجازې غوښتلو حق لري[2] يا په بل عبارت د اجازې غوښتلو ... د ... په ... كې چې د كور خاوند په اجازه غوښتلو پاتې پوه شي. د مثال په توګه چې ... وكړي او ... تازه كړي چې ما ستا اجازه غوښتل اورېدلي دي خو اجازه نه دركوم.

په همدې مضمون پاتې ... حديث شريف هم ... دلالت كوي:

علي رضي الله عنه وايي چې: «كَانَتْ لِي مَنْزِلَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ تَكُنْ لِأَحَدٍ مِنَ الْخَلَائِقِ فَكُنْتُ آتِيهِ كُلَّ سَحَرٍ فَأَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ فَإِنْ تَنَحْنَحَ انْصَرَفْتُ إِلَى أَهْلِي وَإِلَّا دَخَلْتُ عَلَيْهِ»[3]

يعنې ما د نبي كريم ﷺ په وړاندې ... درجه درلوده چې بل چا نه درلوده نو زه به هر سهار ورتلم ... په هم ضرورت ... نو ما به ويل چې په تا دې سلام وي اې د الله ﷺ پيغمبره! ... تازه كړه نو زه بېرته ... نه ... نو زه به ور ... د اجازې د ... .

---

(۱) صحيح البخاري ج ۲ ص ۹۲۲، صحيح مسلم ج ۲ ص ۲۱۰
(۲) شرح النووي على مسلم ... المقام.
(۳) سنن النسائي ج ۱ ص ۱۷۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## اجازه غوښتونکی باید څنګه ودرېږي؟

۸_ اجازه غوښتونکی سړی باید دروازې ته مخامخ ونه درېږي، بلکې یو طرف ته دې ودرېږي او اجازه دې وغواړي، هسې نه چې د اجازې څخه وړاندې یې د کور په داخل کښې په چا باندې نظر ونښلي او یا د دروازې د پرانستلو په وخت کښې د کور داخل وګوري.

د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا دَخَلَ الْبَصَرُ فَلَا إِذْنَ»[۱] یعنې کله چې د چا نظر کور ته داخل شي نو بیا اجازه نشته (اجازه اخستل څه فائده نه کوي).

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د خپل کور په داخل کښې د ګومنځې غوندې په یوه شي باندې خپل سر ګراوه (ویښتان یې ورباندې برابرول) او یوه سړي ورته د کور په یوه سوري کښې ورروکتل، نو کله چې ورباندې د نبي کریم ﷺ نظر ولګېده نو ویې ویلې چې: «لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ تَنْظُرُ لَطَعَنْتُ بِهَا فِي عَيْنِكَ إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ»[۲] یعنې که زه وړاندې پوه شوی وی چې یقیناً ته ماته ګورې نو ما به په دغې آلې باندې (چې ویښتان یې ورباندې برابرول) په سترګه کښې وهلی وی، بې شکه اجازه غوښتل د کتلو د کبله مشروع ګرځولي شوي دي (بل څه مطلب خو پکښې نشته).

پاتې شوه دا خبره چې که بالفرض د ذکر شوي حدیث مضمون څوک عملي کړي او د بي اجازې کتونکي سترګه وباسي نو دیت یې ورباندې لازمېږي او که د سترګې ویستل هدر (ضائع) دي؟ نو د دې تحقیق دپاره باید څینو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړی شي چې دا مسئله د مذاهبو د اختلاف څخه خالي نه ده[۳].

### هېر مو نه شي!

۹_ هېر مو نه شي چې په ذکر شوي حدیث کښې د «مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ» کلمات دا معنی نه ورکوي چې ړندو خلکو ته جواز لرې چې بې اجازې ورداخل شي[۴]، بلکې د مقتضى الحال په لحاظ دغسې روایت شوی دی چې مخاطب د سترګو غل وه او په سوري کښې بې کتلي وه، که بالفرض نوموړي مخاطب د اورېدلو غلا هم کړې وی نو ضرور به نبي کریم ﷺ مخاطب کړی وی چې "إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ وَالسَّمْعِ" اجازه غوښتل د دې دپاره دي چې سړی بدون د إذنه نه څه وګوري او نه څه واوري، د کور والا لکه څنګه چې د څینو حالاتو په لیدلو باندې خپه کېږي همدارنګه د څینواوازونو اورېدل هم د هر چا دپاره نه خوښوي.

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۴۷
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۰
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۳؛ تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۱۲
(۴) المفصل في احکام المراة والبيت المسلم ج۳ ص۴۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: ايا سړي ته جائزه ده چې خپلې محرمنې ته بدون د اجازې ورداخل شي؟
مونږ وايو چې: په دغه صورت کښې اجازه غوښتل واجب نه دي مگر بهتر دي[۱] چې بايد سړی په ناڅاپي توگه په خپل کور باندې هم ورداخل نه شي بلکې يا سلام واچوي، يا د کوم ماشوم په توگه اطلاع ورکړي، يا غاړه تازه کړي، يا وټوخېږي او يا خپلو پښو ته حرکت ورکړي چې څپلی يې اواز وکړي او د کوروالا پوه شي او داسې نور. دا د دې دپاره چې ترڅو:
اول: زنانه خپل هغه حالت بدل کړي چې نه خوښوي چې خپل محرم يې هم وگوري.
دوهم: په ناڅاپي ورداخلېدلو سره په هغې باندې څه وارخطايي تېره نه شي او ونه زورېږي.
دريم: که هلته پردۍ زنانه ميلمنې موجوديت ولري چې هغوی خپله پرده وکړي.
د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:
الف: أنس ﷺ وايي چې: ماته نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ تَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ»[۲] ای زوی گوتيه! کله چې ته په خپل اهل (محرمن) باندې ورداخلېږې (خپل کور ته ورځې) نو سلام اچوه چې په تا باندې هم برکت شي او ستا په کوروالاوو باندې هم (برکت شي).
ب: د عبد الله بن مسعود ﷺ محرمن وايي چې کله به نوموړی صحابي ﷺ دروازې ته راورسېده «تَنَحْنَحَ وَبَزَقَ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَهْجُمَ مِنَّا عَلَى شَيْءٍ يَكْرَهُهُ»[۳] يعنې غاړه به يې تازه کړه او يا به يې لاړې توف کړې، د دې وجې څخه چې هغه دا بده گڼله چې په ناڅاپي توگه زمونږ د پلوه په داسې شي باندې ودرېږي کوم چې نه خوښوي او بد يې ايسي.

## غير مسکونه کورونه

۱۱_ په ﴿أَن تَدْخُلُواْ بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ﴾ کښې مفسرينو کرامو د ﴿بُيُوتًا غَيْرَ مَسْكُونَةٍ﴾ کلمات په متعددو معناوو باندې تفسير کړي دي[۴] لاندې مثالونه يې ولولئ:
الف: دا هغه کورونه او تعميرات دي کوم چې د مريضانو د علاج په خاطر جوړ کړی شوي وي چې مريضان پکښې بستر شي، او د خاصو کسانو سکونت پکښې ملحوظ نه وي.
ب: دوکانونه او حمامونه هم د همدې قبيلې څخه دي.
ج: هوټلونه او د اودس ماتې کوټې هم غير مسکونه کوټې دي.
د: جوماتونه او مدارس همداسې درواخلئ.
زمونږ په فکر هغوی به محض د مثال په توگه د څينو غير مسکونه کوټو نومونه اخستي وي او

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۸۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۹۹
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۰
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۳۴۸؛ المفصل في احكام المراة والبيت المسلم ج۳ ص۴۹۴؛ احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حصر به بې مطلب نه وي، كه نه نو كوم تعميرات چې د خاصو كسانو د سكونت خايونه نه وي هغه ټول پكښې شامل دي لكه د تفريح سالون او داسې نور.

هو! كه په ذكرو شوو غير مسكونه تعميراتو كښې په خينو خاصو خايونو باندې بنديز لګولى شوى وي، لكه په جومات كښې د ملا امام كوټه او يا په مدرسه كښې د مدير خونه، نو هلته بايد د اجازې اخستلو حكم عملي كړى شي.

## متاع څه معنى؟

۱۲_ په ﴿ فِيهَا مَتَٰعٌ لَّكُمْ ﴾ كښې د ﴿ مَتَٰعٌ ﴾ كلمه د دوه وو معناوو دپاره استعمالېږي[۱] چې:

الف: هر هغه شى په كوم باندې چې په يوه وجه ګټه اخستلى شي، لكه چې په همدې معنى باندې په [يوسف:۶۵] ايت كښې استعماله شوې ده.

ب: په يوه شي باندې تر اوږده وخته پورې نفعه (ګټه) اخستل.

په دې مقام كښې علماوو كرامو ذكره شوې كلمه د مطلقې ګټې اخستلو په معنى باندې تفسيره كړې ده[۲]، يعنې تاسو ته بې اجازې هغو كورونو ته په ورننوتلو باندې څه ګناه نشته چې هغه د خاصو كسانو دپاره استوګنځايونه نه وي او ستاسو دپاره پكښې څه ګټه اخستل توقف ولري.

## ضرورت د اجازه اخستلو مخه نيسي

۱۳_ فقهاء كرام وايي چې: "اَلضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ" يعنې ضرورتونه ممنوع شيان او كارونه مباح او جائز ګرځوي. نو په همدې بنياد د ضرورت د كبله جائزه ګرځي چې سړى پردي كور ته بدون د اجازې اخستلو ورننوځي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: كه په كوم كور كښې اور ولګېږي نو د اور د مړ كولو دپاره جائزه ده چې پرته د اذنه څوك ورداخل شي.

ب: كه څوك د ظالمانو (كفارو) د پلوه تعقيب شي نو د نجات دپاره بدون د اجازې په پردي كور كښې پنا اخستل جائز دي. همدا صورت د افغانستان په جهاد كښې زښت ډېر عملي شوى دى او مجاهدينو وربانديې د روسانو څخه نجات موندلى دى، چې يا به په همغه كور كښې چرته پټ شو او يا به په ديوالونو باندې بل كور ته د نجات دپاره ورواوښتل او د كفارو څخه به تريتم شوه.

ج: كه په كوم كور كښې د مسلمانانو ترمنځ مرګونى جنګ پيل شي نو د جنګ د بندولو دپاره بې اجازې ورننوتل جائز دي. په همدې صورت باندې _لله الحمد_ مونږ په ۱۳۵۶ ه ش كال د افغانستان د كندز په ولايت كښې عمل كړى دى.

د: كه كوم يو كافر د پنا اخستلو دپاره د چا كور ته ننوځي نو مجاهدينو ته جائزه ده چې بدون د اذنه يې هلته تعقيب كړي، البته په هغه حالت كښې چې جهاد جاري وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۸۱

(۲) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ که په کوم کور کښې داسې منکراتو جریان درلود چې په اسلامي حکومت باندې یې د منعه ورل لازم ګرځېدلې وه نو محتسبانو او اسلامي پولیسو ته بدون د اجازې څخه ورداخلېدل جواز لري او داسې نور.

﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾ ﴾

[۳۰] (اې پیغمبره!) نارینه مؤمنانو ته ووایه چې: (د خپل ایمان په قوت) د خپلو سترګو ځینې نظرونه (د محارمو څخه) ټیټ کړي او خپل عورتونه (د لوڅولو او غیر شرعي استعمال څخه) وساتي. دغه کار د دوی دپاره ډېر پاکیزه (او بهتر) دی.

(او دا هم ورته ووایه چې) یقیناً الله ﷻ په هغو کارونو باندې خبردار دی کوم چې دوی یې (ښه په مهارت سره) کوي.

[۳۱] او (اې پیغمبره!) زنانه مؤمنانو ته ووایه چې: (دوی دې هم په خپل ایماني قوت سره) د خپلو سترګو ځینې نظرونه (د محارمو څخه) ټیټ کړي او خپل عورتونه دې (د لوڅولو او غیر شرعي استعمال څخه) وساتي، او دوی دې خپل زینتونه (سنګارونه چاته) نه ښکاره کوي مګر هغه چې ترې (پخپله) ښکارېږي، او (هم) دوی دې خپل تکرۍ (څپتې) په خپلو ګرېوانونو (سینو) باندې ووهي (ورخواره کړي، چې تیونه یې لوڅ نه شي).

او دوی دې خپل زینتونه نه ښکاره کوي مګر خپلو خاوندانو (مېړونو) ته، یا خپلو پلرونو ته (یا خپلو ترونو او ماماګانو ته)، یا د خپلو خاوندانو پلرونو (خپلو خسرانو) ته، یا خپلو ځامنو ته، یا د خپلو خاوندانو ځامنو ته، یا خپلو ورونو ته (سکه وي او که ناسکه)، یا د خپلو ورونو ځامنو (خپلو وریرونو) ته، یا د خپلو خویندو ځامنو (خپلو خوریونو) ته، یا خپلو ښځو ته (چې د مسلمانانو زنانه وي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښخه عبارت دي)، یا هغو وینځو ته د کومو چې د دوی ښې لاسونه یې مالکان شوي دي، یا د نارینه وو ښځه داسې چوپړانو ته چې (زنانه وو ته) د احتیاج (اړتیا) د خاوندانو ښځه نه وي (په جنسي ارتباط نیولو نه پوهیږي)، یا هغو ماشومانو ته چې د زنانه وو په عورتونو باندې یې پوهه نه وي حاصله کړې (په جنسي ارتباط نیولو نه پوهیږي).

او (هم) زنانه دې (په ځمکه باندې) خپلې پښې (په درز سره) د دې دپاره نه وهي ترڅو هغه شی (خلکو ته) معلوم کړی شي کوم چې دوی پټ کړی دی چې د دوی د زینتونو څخه عبارت دي.

او (دا هم ورته ووایه چې) تاسو ټول الله ﷻ ته توبه تائب شئ ای مؤمنانو! (نارینه یاست او که ښځینه)؛ شاید چې تاسو فلاح (کامیابي په دواړو دارینو کښې) مونده کړئ.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

په دې ایتونو کښې د هغو اوو درزونو څخه د دوهم درز د بندولو چاره نازله شوې ده کوم چې وړاندې د [النور:۲۷] ایت لاندې په ارتباطاتو کښې د الله ﷻ په توفیق ذکر شوې وه، نو د مطلب خلاصه او توضیحات یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

۱ــ په ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ يَغُضُّوا ﴾ کلمه د "غَضّ" ـلکه "مَدّ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "غَضّ" د اواز ټیټولو او یا د سترګو د نظر ښکته کولو ته وایي[۱]، چې په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده.

ب: په ﴿ مِنْ أَبْصَارِهِمْ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د تبعیض دپاره دی[۲] چې د عذرونو د کبله ځینو محارمو ته کتل جواز لري، یوه مثال ته یې نبي کریم ﷺ په لاندې حدیث کښې اشاره کړې ده چې:

«إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ»[۳] یعنې کله چې ستاسو کوم کس یوې خاصې ښځې ته قصد وکړي چې په نکاح سره یې واخلي نو که وسه یې وشي چې هغه شي ته وګوري کوم چې نوموړی کس د هغې نکاح ته وربلي (او ورباندې باعث وي) نو دا کار دې وکړي (ورته ودې وګوري چې د راتلونکي صحبت دپاره دا کار ګټور دی).

همدارنګه یوه ورځې نبي کریم ﷺ علي ﷺ مخاطب کړ چې: «يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ»[۴] یعنې: ای علي! یوه نظر پسې بل نظر پیرو مه جوړه وه (چې بلا اختیاره دې په محارمو باندې اول نظر ونښلي نو په اختیار سره ورته بل کرت مه ګوره (او مه هغه ته ادامه ورکوه) ځکه چې تاته اولنی نظر دی (وربادې نه ګنهګاریږې) او تاته بل نظر نشته (شرعًا درته جواز نه لري).

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۴؛ القاموس المحیط ج۳ ص۳۹۹

(۲) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۲۹۴

(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۲۸۴

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د ﴿ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ﴾ جمله په دې خاص مقام کښې أبو العالية (المفسر) عليه الرحمة په ستر عورت سره تفسیره کړې ده[1] مګر بهتره دا ده چې په خپل عموم سره پرېښودله شي ترڅو د زنا څخه د عورت ساتلو ته هم شامله شي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پيغمبره! نارينه مؤمنانو ته ووايه چې دوی خپل نظرونه د محارمو څخه ښکته وګرځوي او د چا عورت ته ونه ګوري، او همدارنګه دوی ته ووايه چې د خپلو عورتونو هم حفاظت وکړي، نه يې چاته بربنډ کړي چې څوک يې وګوري، او نه خپل غليظ عورتونه په ناجائزو محلونو کښې استعمال کړي؛ دا کار د دوی دپاره ډېر پاکيزه او سپېڅلی دی.

الله ﷻ څکه تاسو ته ذکر شوی ارشاد درنازل کړ چې يقيناً همدی ﷻ ستاسو په اعمالو باندې خبردار دی چې تاسو يې د صنعت په توګه کوئ، ته به وايې چې ستاسو کسب ګرځېدلی دی، چې د جاهليت په زمانه کښې رواج وه.

۲ـ په ﴿ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ ﴾ کښې بايد د وړاندېنی توضيح درېګوني ټکي په نظر کښې ونيول شي نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

ای پيغمبره! د خپل اُمت مؤمنانو زنانه وو ته هم ووايه چې: د خپل ايمان په قوت د خپلو سترګو نظرونه کنټرول کړي او بدون د خاصو ځانونو څخه (لکه د نکاح کولو نيت، يا د طبي ضروري علاج) محارمو او ناجائزو عورتونو ته ونه ګوري. همدارنګه دوی پوه کړه چې د خپلو عورتونو حفاظت وکړي او چاته يې لوڅ نه کړي، او هم خپل غليظ عورتونه د زنا او فحاشۍ څخه په حفاظت او قابو کښې وساتي.

## څه ګټور معلومات

۳ـ په دې مقام کښې غواړو چې د محترمو لوستونکو پام لاندې ټکو ته راواړوو:

الف: د نحوي تحليل په لحاظ بايد په ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ ﴾ او ﴿ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ ﴾ دواړو جملو کښې هغه دوه تحليلونه تطبيق کړی شی کوم چې مونږ ـ د الله ﷻ په توفيق ـ د [إبراهيم: ۳۱] ايت لاندې ليکلي دي چې بيا ليکل يې اوږدوالی پيدا کوي.

ب: مفسرينو کرامو د محارمو څخه د خپلو سترګو د اداره کولو دپاره ډېرې ګټې ليکلې دي چې تقريباً لسو ګټو ته رسېږي[2] لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

اول: هرڅوک چې د محارمو څخه خپلې سترګې اداره کړي نو الله ﷻ به هغه ته ربښتيني فراست ورکړي، او د زړه نورانيت به يې اضافه کړي.

دوهم: او هم به ورته قلبي اطمنان په نصيب کړي او د اضطراب او تشويش څخه به يې په امن کښې وګرځوي، او شجاعت به يې زيات کړي.

---

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۱۷۷
(۲) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ د همدغو ګټو په ارتباط په لاندې نبوي حديث باندې اکتفاء کوو چې:

«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا»(۱) يعنې هيڅ يو مسلمان نه دی چې د کومې ښځې محاسنو او ښايست ته اول کرت وګوري او بيا ترې د الله ﷻ له ډاره خپل نظر ټيټ کړي مګر الله ﷻ به ورته په زړه کښې داسې بندګي واچوي چې خوند او خواږه به يې پخپله مونده کړي.

ج: لکه څنګه چې نارينه مکلف دي چې د زنانه وو محارمو ته ونه ګوري همدارنګه زنانه هم د نارينه وو په نسبت همدغه مکلفيت لري، لکه چې همدا موضوع په لاندې حديث کښې ښه پوره واضحه شوې ده:

يوه ورځې عبدالله بن أم مکتوم (په دواړو سترګو باندې ړند) صحابي ﷺ نبي کريم ﷺ ته په داسې حال کښې ورغی چې د أمهات المؤمنين څخه أم سلمه او ميمونه رضي الله عنهما هلته موجودې وې، نو نبي کريم ﷺ دواړو ته امر وکړ چې د نوموړي صحابي ﷺ څخه پرده وکړئ.

دوی دواړه وايي چې مونږ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! دغه صحابي ﷺ خو ړوند دی چې نه مونږ ګوري او نه مو پېژني. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ»(۲) يعنې ايا تاسو دواړه ړندې ياست؟ ايا تاسو دواړه يې نه ګورئ؟!

د: کله چې څوک يوازې وي او هيڅوک موجوديت ونه لري چې عورت ته يې وګوري هم په کار ده چې خپل عورت بدون د ضرورته لوڅ نه کړي، او د الله ﷻ سره مؤدبانه کړنلاره تعقيب کړي. همدا مضمون په لاندې حديث کښې ډېر ښه واضحه شوی دی:

د يوه اوږده حديث په ضمن کښې يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! که زمونږ کوم يو تنها وي او هيڅوک ورسره نه وي نو بيا هم بايد خپل عورت لوڅ نه کړي؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «فَاللهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ»(۳) يعنې په دغه وخت کښې الله ﷻ ډېر ښه لايق دی چې حيا (او شرم) ترې وکړی شي.

## د عورت تعريف او ډولونه

۴ـ د "عورة" د کلمې اطلاق د انسان په هغه اندام باندې کېږي د کومو د لوڅولو څخه چې سړي ته شرم او حيا ورځي(۴)، يا په بل عبارت: عورت هغه اندام يا اندامونو ته ويل کېږي د کوم لوڅول چې شرعًا اجازه ونه لري.

د عورت په ډولونو کښې علماوو کرامو ډېر اوږده او تحقيقي بحثونه کړي دي او د مذاهبو

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۹۹
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۱۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۵ : سنن ابن ماجه ص۱۳۸
(۴) لسان العرب ج۴ ص۶۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نظریات یې د پوره دلایلو سره لیکلي دي[۱]، مونږ د لوستونکو څخه هیله کوو چې د زیات تفصیل دپاره هملته مراجعه وکړي خو دلته دې فقط لاندې څو د هر ضروري بحثونه د نظره تېر کړي:

الف: د نارینه وو عورت د نارینه وو په لحاظ د بدن هغه برخه ده کومه چې د نامه څخه لاندې او د زنګانه څخه پورته حصه تشکیلوي، البته د زنګانه په شمول.

ب: د زنانه وو عورت د نورو زنانه وو په لحاظ عین ذکر شوی عورت دی.

ج: د نارینه وو عورت د زنانه وو په لحاظ عین همدغه عورت دی.

د: د زنانه وو عورت په نظر سره نامحرمو نارینه وو ته ټول بدن عورت دی مګر مخ او دواړه لاسونه یې عورت نه دي، البته د احنافو علیهم الرحمة په نزد.

هـ: د زنانه وو عورت په نظر سره محرمو نارینه وو ته (لکه پلار او ورور) ټول بدن عورت دی، مګر د مخ او لاسونو په شمول سر او وېښتان، غوږونه، سینه، دواړه متې او دواړه قدمونه په عورت کښې شامل نه دي.

## محرم او نامحرم څوک-څوک دي؟

۵ـ د هرې زنانه دپاره هغه څوک محرم ګڼل کېږي د کوم سره یې چې نکاح د همېشه دپاره حرامه وي[۲] لکه نسبي پلار او ورور، یا زوم (د لور خاوند)، یا رضعي پلار او ورور؛ نو د خور خاوند (اوښی) د ښینې دپاره شرعي محرم نه دی بلکې شرعًا اجنبي (پردی) دی، چې نکاح یې فقط د خور تر مرګه او یا طلاقه پورې حرامه ده او بس.

## د زینت تعریف او ډولونه

۶ـ په ﴿ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَا ﴾ کښې د لاندې نکاتو هېرول په کار نه دي:

الف: په ﴿ زِينَتَهُنَّ ﴾ کښې د "زِينَة" کلمه د هر هغه شي دپاره وضعه شوې ده په کوم سره چې بل شی ښایسته کېږي[۳]، چې په مقابل کښې یې د "شين" کلمه استعمالېږي چې د هغه شي معنی ورکوي کوم چې بل شی عیبجن او بدرنګوي.

زینت یا ښائست لاندې درې ډولونه لري[۴]:

اول: نفسي زینت یا ښایست، چې سړی وربانذې په معنوي لحاظ ډولي کېږي، لکه علم او حقه عقیده او یا عقل او حلم او یا داسې نور.

دوهم: بدني زینت یا ښایست، چې الله ﷻ چاته د پیدا ینښت په لحاظ سپېڅلی بدن ورکړي. لکه پیمخې خبره او معتدل قد او قامت او داسې نور.

---

(۱) المفصل في احكام المراة والبيت المسلم ج۳ ص۱۶۴، ص۲۹۳؛ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۵ ص۱۱۸
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۷
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۲۰۲
(۴) مفردات الراغب ج۳ ص۲۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دريم: خارجي زينت او ښايست، چې څوک په خارجي شيانو سره په کسبي توګه خپل ځان ډولي کړي، لکه حلال مال او يا لکه د زنانه وو دپاره ښايسته جامې، زيورات او داسې نور.

په دې مقام کښې اول ډول زينت مطرح نه دی فقط دوهم او دريم ډول زينتونه مطرح دي چې تفصيل يې په راتلونکې توضيح کښې ـ د الله ﷻ په توفيق ـ راروان دی.

ب: زنانه مکلفې دي چې هغه زينت چاته ښکاره نه کړي چې په هغوی پورې بالفعل اتصال ولري، لکه چارګل په پوزه، او غاړکۍ په غاړه. که نه نو په بازارونو کښې خو زيورات په ډاګه خرڅېږي او څه بنديز ورباندې نشته؛ نو د همدې کبله ـ والله ﷻ أعلم ـ د ﴿ زِينَتَهُنَّ ﴾ په عوض "زِينَةً" بدون د اضافته نه دی شوی.

## ايا د زنانه لاسونه او مخ عورت نه دي؟

۷ـ د ﴿ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ په تفسير کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ويشلي شوي دي:

الف: ځينې علماء کرام ـ چې په سر کښې يې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما واقع دی ـ وايي چې: د زنانه مخ او لاسونه د هغې په عورت کښې شامل نه دي(۱). نو په زنانه وو باندې نه د مخ پټول لازم دي او نه ورباندې د هغو ګانو پټول واجب دي کوم چې په مخ او د مړوندونو پورې د لاسونو سره ارتباط لري(۲) لکه د پوزې پيزوان، د ګوتو زرينې ګوتې او داسې نور.

په دې تقدير د ﴿ زِينَتَهُنَّ ﴾ څخه د زينت دريمه معنی په داسې ډول سره مراد ېږي چې د زنانه وو اندامونو ته هرومرو شمولیت مونده کوي، نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: زنانه دې خپل ډول او سنګار لا څه چې خپل ټول اندامونه عموماً او هغه اندامونه خصوصاً نه لوڅوي په کومو پورې چې زينت اتصال لري، مګر په هغوی باندې د هغو اندامونو په لوڅولو باندې ګناه نشته کوم چې عادةً ښکاره دي چې د مخ او لاسونو څخه عبارت دي.

په همدې مضمون باندې په لاندې حديث شريف کښې صراحت شوی دی چې:

يوه ورځې اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنها په باريکه جامو کښې نبي کريم ﷺ ته ورغله نو هغه ﷺ ترې اعراض وکړ او ورته يې وويلې چې: «يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ يَصْلُحْ لَهَا أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلَّا هَذَا وَهَذَا. وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ وَكَفَّيْهِ»(۳) ای اسماء! يقيناً کله چې ښځه د حيض وخت ته ورسېږي (بالغه شي) نو هغې ته صلاحيت نشته (جواز نه لري) چې د دغه او د دغه څخه پرته ترې کوم اندام وليدلی شي او خپل مخ او خپلو ورغوو ته يې اشاره وکړه.

ب: ځينې نور علماء کرام ـ چې په سر کښې يې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه واقع دی ـ وايي چې: ښځه

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۸۳؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۵

(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۷۰

(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۲۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ټوله عورته ده او جواز نه لري چې يا مخ ښکاره کړي او يا لاسونه (د مروندو پورې)[۱].

نو په دې تقدير په ﴿ زِينَتَهُنَّ ﴾ کښې د زينت دربهمه معنى مراد ېږي چې اندامونه پکښې شموليت نه لري، چې حاصل يې داسې راځېږي: زنانه دې د خپل ډول او سنګار څخه هيڅ شی نه ښکاره کوي او نه دې هغه اندامونه ښکاره کوي په کومو پورې چې زينت پيوستون لري، مګر هغه چې بدون د دې د اختيار څخه څرګند شي، چې يا يې پلو باد ووهي او سنګار يې وليد شي او يا دا چې ټټول يې د دې د وسې څخه بهر وي، لکه قد او قامت او يا هغه حجاب او پرده چې خپل ځان يې پکښې رانغښتی وي.

همدې مضمون ته نبي کريمﷺ اشاره کړې ده چې فرمايلي دي: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ»[۲] يعنې زنانه عورت ده (ټول بدن يې عورت دی).

## تبصره

۸ـ مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې:

الف: د ذکرو شوو دواړو ګروپونو علماوو کرامو ترمنځ به نزاع لفظي وي او پر کوم واقعيت به ولاړه نه وي، او دا ځکه چې د ضرورت په حال کښې د مخ او لاسونو لوڅول بالاتفاق جائز دي، همدارنګه د لمانځه په حال کښې يې هم په لوڅولو څه شرعي بنديز نشته[۳] د همدې کبله محرمه ښځه مخ لوڅی لمونځ کوي، که نه نو په احرام تړلو باندې خو د عورت لوڅول جواز نه پيدا کوي.

او د فتنې او فساد په وخت کښې د مخ او لاسونو پټول بالاتفاق واجب دي چې په کتلو پورې يې شرعي غرض تعلق ونه لري، او صرف د شهوانيت په نيت ورته وکتل شي[۴]؛ د همدې کبله نبي کريمﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَالْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ»[۵] يعنې نو سترګې چې دي د دواړو زنا محارمو ته نظر کول دي.

ب: که د دواړو ګروپونو نزاع لفظي ونه ګڼو نو مونږ ته د دوهم ګروپ نظر بهتر برېښي په تېره بيا په دې زمانه کښې چې مونږ پکښې ژوند کوو. او دا ځکه چې:

اول: په مسلمانه زنانه باندې خو يوازې غض البصر او ستر العورة واجب نه دی بلکې هغه مکلفه ده چې د [الأحزاب:۵۹] ايت په مقتضی جلباب هم واغوندي؛ او جلباب هغه لوی څادر دی چې د يوې سترګې څخه په غير (چې لاره ورباندې وګوري) د زنانه نور ټول بدن پټ کړي[۶] نه يې ترې مخ ښکاره شي او نه لاسونه.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۲۹۲
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۲۲
(۳) تفسير البيضاوي في هذا المقام.
(۴) بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۱۵ ص۱۲۲
(۵) صحيح مسلم ج۲ ص۳۳۶
(۶) تفسير البغوي ج۳ ص۵۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


یا په بل عبارت: که بالفرض په ښځه باندې د دې ایت په بنیاد د مخ پټول واجب نه وي نو د هغه ایت په بنیاد خو ورباندې واجب دي.

دوهم: عائشه رضی الله عنها د "إفك" په قیصه کښې وایي چې: «فَخَمَّرْتُ وَجْهِي بِجِلْبَابِي»[۱] یعنې کله چې زه صفوان رضی الله عنه وپېژاندلم (چې د حجاب د نزول څخه وړاندې یې لیدلې وم) نو ما خپل مخ په خپل ځادر سره را پټ کړ، او خپل ځان مې راتاو کړ، چې شرحه یې د [النور: ۱۱] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېره شوه. نو که بالفرض د جلباب اغوستل د مخ پټولو ته شامل نه وی نو عائشې ابی رضی الله عنها به ورباندې خپل مخ نه وی پټ کړی.

دریم: د امهات المؤمنین په شمول ټولو صحابیاتو ـرضوان الله علیهن ـ د ایت شریف څخه د مخونو پټول فهم کړي وه او په خپلو ځانونو باندې یې عملي کړي وه. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

عائشه رضی الله عنها وایي چې: مونږ د نبي کریم ﷺ سره په احرام کښې وو خو کله به چې په مونږ باندې د سورو (نارینه وو) ډله تېرېدله «فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ»[۲] یعنې نو کله به چې زمونږ محاذات (برابر) ته راورسېدل نو زمونږ هرې یوې به خپل لوی ځادر د خپل سر څخه په خپل مخ راخور کړ، نو کله به چې د سورو ډله زمونږ څخه تېره شوه نو مونږ به خپل لوی ځادر د مخونو څخه پورته کړ.

همدارنګه یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته یوه ښځه (أُم خلاد رضی الله عنها) ورغله چې خپل ځان یې په نقاب (پرده) کښې راتاوه کړې وه او د خپل هغه زوی پوښتنه یې کوله کوم چې په جهاد کښې شهید شوی وه، نو یوه صحابي رضی الله عنه ورته وویلې چې: ایا ته په داسې حال کښې د زوی پوښتنه کوې چې خپل ځان دې په نقاب (پرده) کښې ښه پوره رانغښتی دی؟ (په دې وخت کښې هم تاته پرده درپه یاده ده؟). أُم خلاد رضی الله عنها جواب ورکړ چې: «إِنْ أُرْزَأَ ابْنِي فَلَنْ أُرْزَأَ حَيَائِي» یعنې که زه په زوی کښې نقصانمنده شوم نو هیڅکله به په خپله حیا او شرم کښې نقصانمنده نه شم (که زوی راڅخه الله ﷻ واخست نو حیا خو یې راڅخه نه ده أخستې، که په هغه مصیبت ککړه شوم په دې مصیبت خو خپل ځان نه ککړوم).

نو نبي کریم ﷺ نوموړې ته جواب ورکړ چې ستا د زوی دپاره د دوه وو شهیدانو اجر دی. هغې وویلې چې: دا ولې ای د الله رسوله؟ نبي کریم ﷺ وویلې چې: «لِأَنَّهُ قَتَلَهُ أَهْلُ الْكِتَابِ»[۳] دا ځکه چې یقیناً هغه اهل الکتابو وژلی دی.

ج: د اسماء رضی الله عنها کوم حدیث چې وړاندې په اومه توضیح کښې تېر شو چې د اول ګروپ علماء کرامو د نظر په تائید باندې یې دلالت کاوه، د هغه په هکله ځینو علماوو کرامو[۴] لیکلي دي چې:

اول: دا حدیث د دوه وجوهو د کبله ضعیف دی چې د نورو نصوصو په مقابل کښې د استدلال

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۶
(۲) سنن ابي داود ج۱ ص۲۵۴
(۳) سنن ابي داود ج۱ ص۳۳۷
(۴) مسؤلية المراة المسلمة لعبد الله بن جار الله ص۵۶؛ رسالة الحجاب لمحمد بن صالح بن عثيمين ص۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قابل نه دی: یوه دا چې په سند کښې یې د یو پلوه انقطاع ده[۱] او د بله پلوه پکښې سعید بن بشیر موجود دی چې احمد بن حنبل او یحیی بن معین او نورو منقدینو ضعیف ګڼلی دی.

دوهم: که د نوموړي حدیث د کمزورۍ او ضعف څخه سترګې پټې کړی شي نو بیا په هغې زمانه باندې محمول دی په کومه کښې چې لا حجاب نه وه فرض شوی او لاسونه او مخ د زنانه وو په عورت کښې نه وه شامل کړی شوي. یا په بل عبارت: په دغه تقدیر منسوخ دی او د استدلال وړ نه دی، د همدې کبله وربانديې امهات المؤمنین او نورو صحابیاتو ـرضوان الله علیهن ـ عمل نه دی کړی.

## سوال جواب

د: که څوک وایي چې الله ﷻ خو زنانه وو ته څکه په "غض البصر" باندې توصیه کړې ده چې د نارینه وو په عورت کښې لاسونه او مخ شامل نه دی او د پټولو مکلفیت یې وربانديې نشته، نو پوښتنه دا ده چې: ایا نارینه وو ته په "غَضُّ الْبَصَر" سره ارشاد کول دا معنی نه ورکوي چې د زنانه وو په عورت کښې به مخ او لاسونه شامل نه وي بلکې نارینه به مکلف وي چې ورته ونه ګوري؟

یا په بل عبارت: کله چې د زنانه وو ټول بدن عورت شي او پټول یې وربانديې فرض وګرځي، نو نارینه به د څه شي څخه منعه کړی شي چې: خپل نظر ترې کنټرول کړئ او ورته ونه ګورئ؟

مونږ وایو چې: په دې تقدیر نارینه وو ته د "غَضُّ الْبَصَر" مکلفیت څکه متوجه شوی دی چې څه لرې نه ده چې کومه یوه زنانه د خپل عورت په پټولو کښې پاتې راشي او یا ترې په سهوه او خطا کښې دا کار صورت ونیسي؛ نو په دغه وخت کښې ټول نارینه مؤمنان مکلفیت لري چې د خپل ایمان په قوت سره ترې خپلې سترګې اداره کړي.

یا په بل عبارت: ای مؤمنانو! که بالفرض کومه یوه زنانه خپل ځان ګنهګار کړي او یا د عورت په بربنډولو کښې معذوره وګڼلی شي نو تاسو خپل ځانونه مه ګنهګاروئ او همدارنګه تاسو په کتلو سره معذور نه ګڼلی کېږئ.

## جَیْب څه معنی؟

۹ـ په ﴿وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ﴾ کښې د "جُیُوب" کلمه د "جَیْب" ـلکه "عَیْب"ـ جمعه ده، "جَیْب" د کمیس هغه پرېکړې ځای ته وضعه شوی دی کوم چې د اغوستونکي د سینې په برابر موقعیت لري او د اغوستلو په وخت کښې ترې سر وباسي[۲] چې په پښتو کښې ورته مونږ "ګرېوان" وایو، یعنې زنانه دې خپل پوڼې (ټکري) په خپلو سینو باندې ورخواره کړي چې تیونه یې پټ شي. د جاهلیت په زمانه کښې د زنانه وو عادت وه چې خپل پوڼې به یې په سرونو باندې واچول او دواړه څنډې به یې شاته خوشې کړې نو خپلې سینې او تیونه به یې بربنډ کړه.

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۱۱

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي: چې كله دا (ذكر شوى) ايت شريف نازل شو نو لومړنيو مهاجرنو ښځو سمدستي عملي كړ او په خپلو پونړنو باندې يې خپلې سينې ونغاړلې (پټې كړې) الله ﷻ دې ورباندې رحم او مهرباني وكړي[1].

## بيا هم د زينت كلمه

﴿ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ ﴾ الآية، كښې د "زِينَة" د كلمې څخه دوه كرته ۱۔ په ﴿ وَلَا يُبْدِينَ ﴾ سره ورته اشاره شوې ده او بله دغه استثناء، صورت ونيوه، يوه هغه ده چې په ﴿ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ سره ورته اشاره شوې ده او بله دغه بحث پكښې روان دى، نو زينت په دوه ډوله دى: يو ظاهري او څرګند زينت دى، چې زنانه يې د علماوو په اختلاف- په پټولو باندې مكلفيت نه لري او لږ وړاندې شرحه شو -والحمد لله ﷻ.
او بل خفي او پټ زينت دى چې د ځينو خاصو اشخاصو دپاره يې ورته لوځول جائز دي.
په دې مقام كښې همدغه پټ او خفي زينت مطرح دى، چې كومو اشخاصو ته يې څرګندول جواز لري شايد چې په ذكري ترتيب كښې به يې د استحقاق ترتيب په نظر كښې نيول شوى وي، چې اشخاص د لاندې كسانو څخه عبارت دي:

الف: ښځې دې د خپلو مېړنو څخه باطني زينت او سنګار نه پټوي بلكې مكلفيت لري چې د سنګار په زيادت كښې ورته زيار وباسي.

ب: خپلو پلرونو او نيكونو ته په هغې اندازه څرګندول جائز دي كوم چې وړاندې په څلورمه توضيح كښې ليكل شوي دي، والحمد لله ﷻ.

ج: د خپلو مېړونو پلرونو او نيكونو ته هم همدغه اندازه زينت وربنكاره كول روا دي.

د: خپلو ورونو ته هم جواز لري برابره خبره ده چې سكه ورونه وي او يا نا سكه.

ه: د سكه او ناسكه ورونو زامنو او لمسيانو ته هم جواز لري.

و: د سكه او ناسكه خويندو زامنو ته او همدارنګه د دوى لمسيانو او كړوسيانو ته هم شريعت اجازه وركړې ده.

## سوال جواب

ز: كه څوک وايي چې: ايا ماماګانو او ترونو ته اجازه شته چې د خپلو خورزو او وريرو هغو ځايونو ته وګوري كوم چې وړاندې په څلورمه توضيح كښې ذكر دي؟

مونږ وايو چې: هو! دوى دواړو ته اجازه شته، ځكه چې مونږ د [البقرة:۱۳۳] ايت لاندې ليكلي دي چې تره د پلار غوندې دى. او همدارنګه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمّ»[2] يعنې خاله (د مور خور) د مور غوندې ده. نو معلومه شوه چې خال (ماما) هم د پلار غوندې دى. نو په دې تقدير د پلرونو په ذكر سره ترونو او ماماګانو ته هم اشاره شوې ده.

---

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۰
[2] صحيح البخاري ج۲ ص۶۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د رضاع خپلوان هم د نسبي خپلوانو غوندې دي

ح: نبي كريم ﷺ د عائشې رضي الله عنها د يوې پوښتنې په جواب كښې وفرمايل چې: «نَعَمْ إِنَّ الرَّضَاعَةَ تُحَرِّمُ مَا تُحَرِّمُ الْوِلَادَةُ»[۱] يعني هو! يقيناً رضاعت (تى رودل) هغه شى حراموي كوم چې ولادت (نسب) يې حراموي، نو كومو ښځو ته كتل چې نسبي خپلوانو ته جواز لري همغو ښځو ته رضعي خپلوان هم كتلى شي.

همدارنګه عائشې (ام المؤمنين) رضي الله عنها د نبي كريم ﷺ د څه سوال جواب څخه وروسته ويلي دي چې: «حَرِّمُوا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا تُحَرِّمُونَ مِنَ النَّسَبِ»[۲] يعني: تاسو د تي رودلو هغه خپلوان خپل محارم وګڼئ كوم چې تاسو يې د نسب د امله خپل محارم ګڼئ؛ لكه رضعي پلار او رضعي تره او هم رضعي ماما او نور.

## مسلمانانې ښځې هم محرمې دي

ط: مونږ ــ لله الحمد ــ وړاندې په څلورمه توضيح كښې ليكلي دي چې يوه ښځه د بلې ښځې فقط هغو اندامونو ته نه شي كتلى كوم چې د نامه څخه ښكته او د زنګانه څخه پورته وي، او نور ټول بدن ته كتل ورته جواز لري. همدې مطلب ته الله ﷻ په ﴿ أَوْ نِسَآئِهِنَّ ﴾ كلماتو سره اشاره وكړه.

خو د اضافت څخه معلومېږي چې دلته مسلمانې ښځې مطلب دي چې د دوى هم مسلكې او هم عقيده وي، نو جواز نه لري چې مسلمانه ښځه كافرې ښځې ته د ﴿ مَا ظَهَرَ مِنْهَا ﴾ څخه په غير نور څه زينت ورڅرګند كړي[۳].

## وينځه هم محرمه ده

ي: په ﴿ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ ﴾ كښې هغه اشتباه پورته شوې ده چې د ﴿ أَوْ نِسَآئِهِنَّ ﴾ څخه چاته ذهن ته ورتله، هغه دا چې: مسلمانې ښځې ته به جواز نه لري چې خپلې كافرې وينځې ته خپل باطني (پټ) زينت ورڅرګند كړي؟.

د جواب حاصل دا دى چې: مسلمانانو ښځو ته خاص د وينځو په باره كښې اجازه شته كه څه هم كافرې وي. اما هغوى ته اجازه نشته چې خپلو غلامانو ته يې ورڅرګند كړي او دا خكه چې مونږ وړاندې په پنځمه توضيح كښې د الله ﷻ په توفيق ليكلي دي چې د محرم څخه هغه څوک مطلب دى چې په ابدي توګه يې ورباندې نكاح حرامه وي. نو په همدې بنياد غلامان د خپلو مولاګيو دپاره شرعي محرمان نه شي جوړېدلى او خپل باطني زينتونه نه شي ورڅرګندولى، خكه هره يوه مولاګى چې خپل غلام ازاد كړي هغې ته جائزه ده چې د نورو موانعو د عدم موجوديت په صورت كښې نوموړى

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۶۶
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۷
(۳) احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نکاح واخلي، نو معلومه شوه چې دلته د ﴿ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ ﴾ څخه فقط وینځې مرادې دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

که څوک وايي چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ فاطمة الزهراء رضي الله عنها ته یو غلام وروبانه او د همدغه غلام سره کور ته ورغی، خو د فاطمې رضي الله عنها یو وړوکی او لنډکی پوننۍ (ټکری) په سر وه چې خپل سر به یې پکښې پټ کړ نو پښې به یې ښکاریدلې او که پښې به یې پکښې پټې کړې نو سر به یې لوڅیده. نو کله چې نبي کریم ﷺ هغه په تکلیف او مشقت کښې ولیدله نو خطاب یې ورته وکړ چې: «إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ»[1] یعني یقینًا شان دا دی چې په تا باندې په دې کښې څه باک نشته چې د سر ویښتان یا قدمونه دې څرګند شي، ځکه چې دا دې پلار دی او دا دې غلام دی (خپل خان او غلام ته یې اشاره وکړه).

مونږ وایو چې: د [الکهف:۷۴] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي چې د غلام کلمه د هغه ماشوم معنی ورکوي کوم چې بلوغ ته نه وي رسېدلی؛ نو د پاسني حدیث حاصل داسې راوځي چې: ته ولې خپل ځان په تکلیف او حرج کښې اچوې دلته خو فقط ستا پلار او ستا ماشوم غلام دی چې د دواړو څخه په تاباندې ستر کول واجب نه دي.

په همدې موضوع کښې ـ إن شاء الله ﷻ ـ د [النور:۵۸] ایت لاندې څه نور بحث هم راروان دی، ورته منتظر اوسئ.

## إربة څه معنی؟

یا: په ﴿ أَوِ ٱلتَّـٰبِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ ﴾ کښې لاندې لغات تحلیلونه غواړي:

الف: د "تَابِعِين" کلمه د "تَابِع" جمعه ده، "تَابِع" دلته د هغه چا لقب دی کوم چې د خپلې مستقلې ارادې خاوند نه وي بلکې د ړانده غوندې هر لور ته یې چې څوک سوق کړي همغه خوا اختیاروي.

ب: د "إِرْبَة" کلمه د "فِعْلَة" په وزن مصدر ده چې د احتیاج معنی ورکوي[2]، دا وزن په نوعیت باندې دلالت کوي[3]، نو دلته د احتیاج څخه هغه خاصه نوعه احتیاج مراد دی کوم چې په جنسي ارتباط پورې اړه لري.

نو د معنی حاصل یې داسې راځي چې: زنانه وو ته اجازه ده چې د خپل باطني ډول (سنګار) څه برخې هغو نارینه وو (سړیو) ته ورڅرګندې کړي کوم چې چوپړان دي او د هغو کسانو جملې څخه نه دي کوم چې زنانه وو ته د جنسي ارتباط د حیثه اړتیا لري او نه د زنانه وو په لیدلو او ناسته ولاړه باندې تلذذ اخلي او بالآخره نه یې بل چاته خبرې اترې او نور کیفیات انتقالوي.

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۱۱

(۲) مفردات الراغب ص۱۱ : لسان العرب ج۱ ص۲۰۸

(۳) الکافیة في النحو ص

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه دا خبره چې دغه ډول نارينه (سړي) څوک-څوک دي؟ نو د دوی په تشخيص کښې علماوو کرامو متعد اقوال کړي دي(۱). لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: دوی هغه احمقان (سادګان) دي چې صرف د خپلې ګېډې په غم کښې وي (خوري او څښي) او د جنسي ارتباط سره څه علاقه نه لري او نه ورباندې پوهېږي.

دوهم: دوی هغه نامردان دي چې نارينتوب او شهواني قوت بالکل نه لري.

دريم: دوی هغه فاني بوډاګان دي چې د ډېر بوډاتوب د کبله يې جنسي ارتباط ته ميلان او تمايل ختم شوی وي، نه يې چاته زړه کېږي او نه ورته د زنانه تمه کېږي او داسې نور.

## تبصره

زمونږ په فکر –والله ﷻ أعلم– په دې مقام کښې د تابعيت (چوپړتيا) قيد په حکم کښې څه اثر نه لري، بلکې محض د واقع بيان دی چې دغه ډول خلک عمومًا د خپلې ارادې خاوندان نه وي او هر لور ته يې چې څوک کشوي همغسې کش کېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه هرڅوک د خپل محيط او خپل چاپيريال خلک ډېر ښه تشخيصولی شي چې دا سړی يوازې د خپلې ګېډې په غم کښې دی او د دې سره د جنسي ارتباط څه فکر هم شته، دا ليونی دی بالکل د ګرنګو دی په هيڅ شي باندې نه پوهېږي، دا ليونی دی خو د جنسي ارتباط په لحاظ ليونی نه دی (د هر چا ښځه ورته زيات شوقمند دی)، دا د زنانه وو محاسن نورو ته انتقالوي او دا يې نه انتقالوي، بالآخره دا په خپل خوی باقي پاتې دی او په دې کښې بدلون راغلی دی او داسې نور.

## ظهور څه معنی؟

يب: په ﴿ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُواْ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلطِّفْلِ ﴾ کلمه جنس ده خو په دې مقام کښې ترې جمعه (أطفال) مراد ده، د همدې کبله په ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ سره توصيفه شوې ده(۲).

او د ﴿ لَمْ يَظْهَرُواْ ﴾ کلمه د "ظُهُور" څخه اشتقاقه شوې ده چې دلته لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: "ظُهُور" په معنی د خبرتيا او پوهې، لکه چې الله ﷻ د أصحاب الکهف څخه حکايت کوي چې: ﴿ إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُواْ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ ﴾ [الکهف: ۲۰] يعنې دوی په خپلو منځو کښې وويلې چې که کفار په تاسو باندې خبرتيا او اطلاع (پوهه) حاصله کړي نو تاسو به رجم کړي.

ب: "ظُهُور" په معنی د غلبې سره، لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَأَصْبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ﴾ [الصف: ۱۴] يعنې مونږ مؤمنانو ته په خپلو دښمنانو باندې تائيد ورکړ نو دوی پرې غالب وګرځېدل (او پرې زورور شوه).

نو دواړو معناوو په لحاظ سره يې حاصل داسې راځي چې: زنانه وو ته جائزه ده چې خپل ښکلي

---

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۴ ص۳۶۱؛ زاد المسير ج۵ ص۲۵۶

(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باطني زينتونه هغو ماشومانو ته ښکاره کړي کوم چې لا د زنانه وو عورتونه نه پيژني او نه پوهيږي چې خلک د عورتونو سره څه کوي، يعنې تميز نه لري. يا: هغه ماشومانو ته کوم چې د دې توان او وسه نه لري چې د زنانه وو د عورتونو څخه جنسي استفاده وکړي، يعنې تميز لري، خو د ماشومتوب د کبله د جنسي ارتباط وسه نه لري.

خو ځينو علماوو کرامو په دې مقام کښې لومړني معنی اخستل بهتره ګڼلې ده[1] د همدې کبله په [النور:۵۸] ايت کښې الله ﷻ باتميزه ماشوم ته په دريوو وختونو کښې بدون د اجازې څخه د چا کور ته ورتتونل نه دي جائز کړي.

## اوه ګوني احکام

۱۱_ الله ﷻ د ستر او پردې په موضوع کښې نارينه وو ته فقط دوه حکمونه نازل کړي دي چې د خپلو سترګو نظر اداره کړئ (محارمو ته مه ګورئ) او د خپلو عورتونو اداره په خپلو لاسونو کښې ونيسئ، مه يې لوڅوئ چې خلک ورته وګوري او مه يې په غير شرعي ځايونو کښې استعمالوئ.

اما زنانه وو ته يې په همدې موضوع کښې لاندې اوه حکمونه نازل کړي دي:

الف: خپلې سترګې اداره کړئ.

ب: خپل عورتونه اداره کړئ.

ج: خپل زينتونه مه برښندوئ (چې تفصيل يې وړاندې تېر شو).

د: خپل پوټي (ځيټې) په خپلو سينو باندې ورخواره کړئ.

هـ: خپل هغه زينتونه چې ستاسو د وسې لاندې دي د خاصو اشخاصو څخه په غير بل چاته مه ښکاره کوئ (لکه چې وړاندې تېر شوه).

و: خپل ځانونه په لويو څادرونو (جلابيب) کښې پټ کړئ (چې پوره بحث يې _إن شاء الله ﷻ_ د [الأحزاب:۵۹] ايت لاندې راروان دی).

ز: اوم حکم دا دی چې: ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ﴾، يعنې زنانه دې خپلې پښې په زغرده سره په ځمکه باندې د دې دپاره نه وهي ترڅو خلکو ته هغه څه ورمعلوم کړی شي کوم چې دوی ترې په پرده کښې پټ کړي دي. يا په بل عبارت: زنانه لکه څنګه چې مکلفې دي چې خپل زينت چاته وربنکاره نه کړي همدارنګه دوی مکلفيت لري چې د خپل زينت (ګاڼو) شرنګ او ترنګ هم چا ته ورنه وروي. اوحتی مکلفيت لري چې د خپل ځان عطريات هم د اجنبيانو دماغونو ته ورنه رسوي. لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ عَلَى قَوْمٍ لِيَجِدُوا مِنْ رِيحِهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ»[2] يعنې هره يوه ښځه چې عطريات استعمال کړي نو بيا په يو قوم (يو چا) باندې تېريږي چې هغوی د دې عطري بوی مونده کړي، نو هغه زناکاره ده (چې د نامحرمو پام يې خپل

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۹
(۲) سنن النسائي ج۲ ص۲۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خان ته راواړاوه او د سترګو په زنا باندې یې اخته کړه، او هم یې په خپل خان باندې د عطریاتو د کبله بدګومانه کړه او د فساد په تمه کښې یې واچول).

شاید چې د زنانه وو دپاره د ذکرو شوو تاکیداتو وجه به دا وي چې شیطانان د انسان د خطاکولو په هکله د زنانه وو څخه ډېره استفاده کوي، د همدې کبله د نصاراوو د تبشیري ډلې یوه کس ویلي دي چې څومره کار چې د یوې زنانه څخه د اسلام په تخریب کښې اخستل کېږي هومره کار د سلو نارینه وو څخه نه اخستل کېږي؛ ځکه په هر عصر کښې کفار د همدې حیلې څخه کار اخلي. نن ورځ[1] چې کفري دولتونه د افغانستان اسلامي دولت په رسمیت نه پېژني او د یوه مستقل دولت په نظر ورته نه ګوري نو یوه بهانه یې دا هم نیولې ده چې تاسو ولې مختلط تعلیم ته اجازه نه ورکوئ، او زنانه ولې په رسمي دوائرو کښې په کارونو باندې نه ګمارئ.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نبوي احادیث ولولئ:

اول: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ»[2] یعنې ښځه عورت ده (چې باید د کورونو څخه بدون د ضرورته ونه وځي) نو کله چې ووځي نو شیطان یې د خپل إشراف (نظر) لاندې نیسي او په رنګارنګ حیلو سره د خلکو توجه ور اړوي او په ګناه باندې یې اخته کوي (نو تر هغه د شیطان د نظر لاندې وي ترڅو چې کور ته بېرته ورداخله شي).

دوهم: «مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِي النَّاسِ فِتْنَةً أَضَرَّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ»[3] یعنې ما د خپل وفات څخه وروسته په خلکو کښې د سړیو (نارینه وو) په ضرر د ښځو څخه د فتنې د حیثه زیات ضررناک شی نه دی پرېښی (دوی ته زیات خطر د همدې وجې متوجه دی).

## ایا د ښځو اواز هم ستر دی؟

۱۲ـ څرنګه چې په ذکر شوي ایت شریف کښې ښځې د هغه اواز د اورولو څخه منعه کړې شوي دي کوم چې د هغوی د ګاڼو څخه د غیر محرمو نارینه وو غوږونو ته رسېږي، نو ځینې علماء کرام د همدې ایت په استناد وایي چې: د زنانه وو په اواز کښې د هغوی د ګاڼو اواز څخه زیاته فتنه پورته کېږي، نو په کار دي چې د دوی د اواز اورېدل بدون د ضرورته حرام وګڼل شي[4]؛ د همدې کبله د دوی أذان هم مکروه دی، او نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ»[5] یعنې کله چې په لمانځه کښې امام سهوه شي نو د سړي دپاره تسبیح ویل دي څو فتحه ورکړي چې سبحان الله، او د زنانه وو دپاره یو لاس په بل لاس باندې وهل دي چې د تېس څخه یې امام په خپله سهوه باندې پوه شي، نه تسبیح چې اواز پرې پورته کړي.

---

(۱) ۱۳۷۸/۵/۱ هـ ش

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۲۲

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۶

(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۹

(۵) سنن النسائي ج۱ ص۱۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تاسو ټول توبه تائب شئ!

۱۳ـ بنیادمانو ته د حوصلې ورکولو دپاره او د دې دپاره چې دوی د وړاندېنیو ارشاداتو په تعمیل کښې د وارخطایۍ سره مخامخ نه شي، د بیان په پای کښې الله ﷻ ټول مؤمنان ـ نارینه وي او که زنانه ـ مخاطب کړه چې: ﴿ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ یعنې اې مؤمنانو! تاسو ټول الله ﷻ ته توبه تائب شئ او د خپلو هغو تقصیراتو ببننه وغواړئ کوم چې ستاسو څخه د احکامو په تعمیل کښې واقع کېږي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ»[۱] یعنې هر یو بنیادم ډېر خطاء کېدونکی دی، دډېرو خطاکېدونکو ډېره غوره هغه څوک دی چې ډېر توبه کوونکی وي.

﴿ وَأَنكِحُواْ ٱلْأَيَٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ۚ إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱلَّذِينَ يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا ۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُواْ فَتَيَٰتِكُمْ عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُواْ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ وَمَثَلًا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۲] او (اې مؤمنانو!) د خپلو ځانونو (اصیلو) د جملې څخه مجردان (نارینه وي او که زنانه وي) په نکاح ورکړئ (او یا ورته نکاح وکړئ). او (همدارنګه) د خپلو غلامانو او خپلو وینځو څخه (هم) صلاح درلودونکي (په نکاح ورکړئ او یا ورته نکاح وکړئ).

که دوی (مجردان) فقیران وي (یا د غلامانو او وینځو مالکان فقیران وي) نو الله ﷻ به یې د خپله فضله غنیان وګرځوي. او (د) الله ﷻ (خزانې) پراخه دی (الله ﷻ ستاسو په ټولو حالاتو باندې) پوه دی.

[۳۳] او هغه کسان دې خپل عفت وساتي کوم چې (د) نکاح کولو (اسباب) نه مومي، (البته) ترڅو (د همدغه عفت په برکت) الله ﷻ دوی د خپله فضله غنیان وګرځوي (او د مهرونو توان ورکړي). او هغه کسان کوم چې ستاسو څخه د کتابت عقد غواړي (البته چې دوی) د هغو مملوکانو څخه

[۱] سنن ابن ماجه ص۳۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت دي د کومو چې ستاسو ښي لاسونه مالکان شوي دي، نو د هغوی سره د کتابت عقد په دې شرط وکړئ چې تاسو په هغوی کښې په خیر (امانت او قوت) باندې پوه شئ (چې پکښې شته).
او تاسو هغوی (دغو مکاتبینو) ته د هغه مال څخه څه برخه ورکړئ کوم چې تاسو ته الله ﷻ درکړی دی (برابره خبره ده چې زکات وي او که نور خیرات وي).
او تاسو خپلې وینځې په بغاوت (فحاشۍ) باندې (هیڅکله) مه مجبوروئ (خاصتاً په هغه وخت کښې) چې هغوی د پاکلمنۍ (عفت) اراده لري. (البته چې دا مجبورول تاسو د دې دپاره کوئ ترڅو) د حقیر (او نږدې) ژوند څه سامان (ورباندې) ولټوئ (ترلاسه کړئ خو دا کار ستاسو د مروت څخه ډېر لرې دی). او هرڅوک چې خپلې وینځې (دغه کار ته) مجبورې کړي نو یقیناً الله ﷻ د هغوی (وینځو) د مجبورولو څخه وروسته (هغوی ته) بښونکی (او په هغوی) مهربان دی (نه په مجبوروونکو باندې).

[۳۴] او یقیناً موږ تاسو ته داسې ایتونه درنازل کړي دي چې (په هره ساحه کښې تاسو ته د لارو) واضحه کوونکي دي، او یو مثال مو د هغو خلکو د (مثالونو) څخه هم درنازل کړی دی کوم چې ستاسو څخه مخکښې تېر شوي دي (البته د افک په قیصه کښې).
او (بالاخره موږ تاسو ته) د تخویف څخه ډک نصیحت (هم درنازل کړی دی. البته یوازې) د متقیانو دپاره (چې همدوی ترې ګټه پورته کوي اوبس).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د فحاشۍ د مخنیوي دپاره او په همدې باندې د بدنامولو د مخنیوي دپاره د هغو اوو طریقو څخه متباقي څلورو طریقو ته اشاره شوې ده د کومو شمېره چې د [النور:۲۷] ایت په ارتباط کښې تېره شوې ده نو حاصل یې داسې راځي چې:
ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ارشاد ورسوه چې په زنا باندې د تورېدلو څخه او په تورېدلو باندې د بدنامۍ څخه د نجات په لاندې طریقو باندې هم عمل وکړئ:

۱ـ هر څوک چې بې واده وي هغه ته واده وکړئ او یا یې واده کړئ. مثلاً:

الف: خپلې بې واده زنانه په نکاح ورکړئ، برابره خبره ده چې بالکل واده شوې نه وي او یا د واده څخه وروسته کونډې شوې وي.

ب: خپلو بې واده نارینه وو ته نکاح وکړئ برابره خبره ده چې کونډان شوي وي او یا یې اصلاً واده نه وي کړی، البته دا شرط پکښې د نظره ونه غورزوئ چې دوی د مهرونو د باره وتلی شي.

ج: خپلې هغه وینځې هم په نکاح ورکړئ په کومو کښې چې د ودولو صلاحیت او استعداد وي.

د: همدارنګه خپل غلامان هم بې نکاح مه پرېږدئ، خو په هغه صورت کښې چې تاسو پکښې د نکاح صلاحیت ګورئ، چې د باره یې وتلی شي او په نکاح کولو سره ستاسو د خدمت څخه سرغړونه نه اختیاروي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ذکرو شوو څلور واړو صورتونو کښې تاسو د نفقې تشویش مه کوئ، چې د دوی نفقه به څنګه شي؟ او د دوی اولادونه به څه شی وخوري؟، البته په هغه تقدیر چې دوی فقیران وي او د مهر څخه په غیر نوره وسه ونه لري، او یا د دوی مالکان فقیران وي او دا خکه چې: که دوی فقیران وي نو الله ﷻ خو فقیر نه دی ډېر ژر به الله ﷻ دوی په خپل فضل (حلال مال) باندې غنیان وګرځوي خو کله يې چې اراده وشي.

نو څرنګه چې الله ﷻ د یو پلوه د پراخی خاوند دی او د بله پلوه ستاسو په احتیاجاتو (اړتیاوو) باندې ښه پوه دی نو تاسو د همده ﷻ عبادت وکړئ او په تقوی باندې کلک شئ نو د داسې طرف څخه به روزي درکړي چې ستاسو به هیڅ ګومان هم نه وي.

۲_ او هغه څوک چې د نکاح کولو وسه نه لري او د مهر د ورکړې څخه عاجز وي نو هغوی دې په خپل عفت باندې تر هغه کلک شي او صبر دې وکړي ترڅو چې الله ﷻ دوی په خپل فضل (حلال مال) باندې غنیان وګرځوي او د مهر د ورکړې توان ورکړي، او یا ورته داسې ښځه میسره کړي چې په لږ مهر باندې قناعت کوي کوم چې د ده د وسې پوره وي.

په دې باندې علاوه په تجرد باندې صبر کول او د خپل عفت ساتل هم الله ﷻ بې اجره نه پرېږدي، څه لرې نه ده چې د همدغه صبر په برکت د نکاح کولو توان مونده کړي.

۳_ که ستاسو په غلامانو او وینځو کښې داسې کسان وي کوم چې ستاسو څخه مکاتبیت غواړي چې ماته سمدستي مشروطه ازادي راکړه نو کله چې ما دومره او دومره پیسې وګټلې نو بیا به قطعي ازادي راکړې، نو د دوی په هکله دا هدایت عملي کړئ:

الف: هغوی مکاتب وګرځوئ او د کتابت عقد ورسره لاسلیک کړئ خو په دې شرط چې تاسو په هغوی کښې خیر او ښېګڼه ګورئ، چې د مشروطو مبالغو د توانه وتلی شي او د فحاشی او نورو غیر شرعي کارونو په کولو باندې نه مبتلاء کېږي.

ب: په دې باندې علاوه د هغوی سره د هغو مالونو څخه څه کومک هم وکړئ کوم چې الله ﷻ تاسو ته درکړي دي، او هم ورسره په ټاکلو شوو او منلو شوو مبالغو کښې تخفیف وکړئ او د څه برخې څخه يې ورتېر شئ.

۴_ خپلې وینځې په فحاشۍ او کچنیتوب باندې په ټولو حالاتو کښې مه مجبوره کوئ خصوصًا لا په هغه حال کښې چې هغوی پخپله د دغه کرغېړن عمل کولو ته اراده نه لري او غواړي چې خپله پاکلمني وساتي.

ایا تاسو ته د دې څخه حیا نه درځي او تاسو شرم نه کوئ چې په بل شي باندې نه بلکې په فحاشۍ باندې د دې حقیرې دنیا د مال متاع د موندلو هڅه کوئ، او د کچنیو ګټې وټې ته لاس اوږد کړئ؟.

برسېره په دې په دغه صورت کښې د فحاشۍ ټوله ګناه ستاسو په غاړه درپرېوځي او ستاسو څخه چې هرڅوک دغه کار ته اقدام وکړي نو هغه به الله ﷻ ونیسي، او مجبوره کړی شوو وینځو ته به مغفرت وکړي او دا خکه چې الله ﷻ هغوی ته د مجبوریت څخه وروسته هم ښونکی دی چې په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فحاشۍ به يې مواخذه نه کړي او هم وربانديې مهربان دی چې د ظالمانو د تسلطه به نجات ورکړي، او د نېک عملۍ توفيق به يې په نصيب شي.

۵_ ای پيغمبره! زمونږ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه چې: مونږ تاسو ته داسې کتاب درنازل کړی دی چې د لاندي درېوو صفتونو هم درلودونکی دی:

الف: په داسې ايتونو بانديې مشتمل دی چې تاسو ته د ژوند هره برخه په ډېر وضاحت سره ښيې او ستاسو د سوکالۍ څرګند احکام درته بيانوي.

ب: دا کتاب د هغو خلکو په حالاتو بانديې هم مشتمل دی کوم چې ستاسو څخه وړانديې تېر شوی وه چې ترڅو ترې تاسو عبرت واخلئ او د هلاکت کنديې ته خپل ځانونه وررونه غورزوئ.

او هم درته پکښې د افک د واقعې غونديې د هغو واقعاتو څه مثالونه هم درنازل شوي دي کوم چې په پخوانيو قومونو کښې تېر شوي دي، لکه د يوسف ﷺ قيصه، د مريمې رضي الله عنها قيصه او داسې نور.

ج: همدارنګه مونږ تاسو ته په دې کتاب کښې د اخطار سره-سره پند او نصيحتونه هم درنازل کړي دي، البته هغه څوک به ترې ګټه پورته کوي کوم چې په خپلو زړونو کښې څه د تقوی د صفت درلودونکی وي او د الهي عذاب څخه د بچ پاتې کيدلو څه خيال ورسره وي.

نو ای مؤمنانو! تاسو په خپل کتاب بانديې په عمل کولو سره منګولې ښخې کړئ او په هره ساحه کښې يې د خپلو ځانونو دپاره مشال او ډيوه وګرځوئ.

## توضيحات

۱_ په ﴿ وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: دا ايت شريف ټولو مؤمنانو ته ارشاد کوي چې په نکاح کولو يا نکاح ورکولو کښې فقر او غناء ته ډېره پاملرنه ونه کړي بلکې ديندارې ګلکه په نظر کښې ونيسي، ځکه چې مال د نن او سبا شی دی او ديندارې د باقياتو څخه ده.

ب: د "أَيَامَى" کلمه د "أَيِّمٌ" _لکه "فَيْعِلٌ"_ (صفت مشبه) جمعه ده چې د "أَمَ يَئِيمُ" _لکه "بَاعَ يَبِيعُ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، نو په اصل کښې "أَيَايِمُ" وه خو د "ي" توری په "الف" تبديل او د "م" په توري سره قلب مکان شو نو "أَيَامَى" ترې جوړ شو.

"أَيَامَى" هغو نارينه او زنانه وو ته وضعه شوې ده کوم چې د نکاح درلودونکي نه وي برابره خبره ده چې د نکاح کولو څخه وروسته کونډان شوي وي او يا اصلاً د نکاح څخه محروم پاتې وي[1]، مګر په بې مېړه ښځې (خصوصاً په کونډې) بانديې يې ډېر اطلاق کېږي[2] لکه چې راتلونکي نژدې "د" توضيح احاديث هم ورته څه اشاره کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۱۴۷؛ لسان العرب ج۱۲ ص۳۹
(۲) مفردات الراغب ص۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مونږ د [آل عمران: ۳۹] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې د احنافو علیهم‌الرحمة په نزد عبادت نه د خپل ځان فارغ ګرځولو ځخه په نکاح باندې مشغولیت بهتر دی او د شوافعو علیهم‌الرحمة په نزد خبره بالعکس ده.

خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت شریف لاندې هم د شوافعو علیهم‌الرحمة او هم د احنافو علیهم‌الرحمة پوره دلایل ذکر کړي دي[1]، که څوک یې د لوستلو شوق لري هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، دلته رانقلول یې دا مختصر کتاب ډېر اوږدوي.

د: که څوک خپلو مربوطو خپلوانو نارینه وو ته نکاح کوي هم باید اجازه ترې واخلي چې فلانی درته په نکاح باندې اخلم، او د هغه وروسته دې په نکاح اقدام وکړي چې د "هو" جواب په صراحت سره واخلي؛ همدارنګه په کونډو یا مطلقو کښې هم صریحي د "هو" جواب ته ضرورت دی.

اما د پېغلو په هکله په اشارې سره د "هو" جواب کفایت کوي چې یا وخاندي او یا چپه پاتې شي او وژاړي خو په دې شرط چې په "نه" باندې صراحت ونه کړي.

د دې مقام د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

اول: یوه ورځې نبي کریم ﷺ علي ﷺ مخاطب کړ چې: «يَا عَلِيُّ! ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا: الصَّلَاةُ إِذَا آنَتْ، وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ، وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا»[2] یعنې ای علي! درې کارونه دي چې ته یې مه وروسته کوه، یو لمونځ دی چې کله یې وخت راورسېږي (داخل شي) او بله جنازه ده چې کله حاضره شي (نو لمونځ ورباندې اداء کړئ او دفنه یې کړئ) او بل بې مېړه زنانه یا بې مېرمنې نارینه دی چې کله ورته سیال (مناسب ځای) مونده کړې.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ» یعنې بې مېړه (کونډه ښځه) ترهغه په نکاح سره نه ورکوله کېږي ترڅو چې ورسره مشوره وکړی شي، او پېغله ترهغه په نکاح باندې نه ورکوله کېږي ترڅو چې ترې اجازه واخستله شي. چا ووېلې چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟» یعنې: ای د الله رسوله! اجازه یې څنګه ده؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «أَنْ تَسْكُتَ»[3] اجازه یې دا ده چې چپه شي.

دریم: نبي کریم فرمایلي دي چې: «الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا»[4] یعنې کونډه ښځه د خپل ځان په هکله د خپل ولي (خپلوان) څخه ډېره مستحقه ده چې ځان پخپله په نکاح باندې ورکړي، او د پېغلې ځخه د هغې د نفس (ځان) په هکله اجازه غوښتله کېږي، خو اجازه یې چپ کېدل دي.

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۳ ص۲۱۲؛ تفسير المظهري ج۶ ص۵۰۳

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۴۳،۲۰۶

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۷۷۱

(۴) سنن النسائي ج۲ ص۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: د ﴿ وَٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ د کلمې په اشتقاق کښې دوه احتماله صورت نیولی شي[۱] هغه دا چې:

اول: دا د هغې صلاح څخه اشتقاقه شوې ده کوم ته چې شریعت صلاح وایي یعنې خپلې وینځې او غلامان په نکاح باندې ورکړئ کوم چې تقواداره او دینداره وي، څه لږې نه ده چې تاسو ورسره د دینداری د کبله مرسته وکړئ چې دینداري یې په تجرد سره خرابه نه شي.

دوهم: دا د لغوي صلاح څخه اخستله شوې ده، یعنې هغوی په هغه وخت کښې په نکاح کړئ او یا په نکاح ورکړئ چې د نکاح صلاحیت او استعداد پکښې موجود وي، هسې نه چې د موانعو هیڅ مراعات ونه کړئ او د نکاح بندوبس یې وکړئ.

مونږ ته بهتره برېښي چې: ذکره شوې کلمه د هغې صلاح څخه اشتقاق وګڼله شي کومه چې دواړو معناوو ته شامله ده چې په: "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الصَّلَاحُ" څخه ترې تعبیر کېږي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: تاسو خپلې وینځې او خپل غلامان هله په نکاح ورکړئ او یا ورته نکاح وکړئ چې شرعي صلاح ولري او دینداره وي او د نکاح استعداد هم پکښې څه ناڅه موجود وي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ ﴾ څخه داسې څرګندېږي چې الله ﷻ فقیرانو ته وعده ورکړې ده چې په نکاح سره به یې غنیان وګرځوي. همدغه مضمون نبي کریم ﷺ هم په یوه حدیث کښې بیان کړی دی چې: «ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ: الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالْمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الْأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ الْعَفَافَ»[۲] یعنې درې کسان دي چې په الله ﷻ باندې حق دی (په خپل اقدس ذات باندې یې حق ګڼلي دی) چې کومک ورسره وکړي، یو د ده ﷻ په لار کښې مجاهد، او بل هغه غلام مکاتب چې د معقودو پیسو د ورکړې اراده لري، او نکاح کوونکی چې په نکاح کښې یې د خپل ځان د عفت د ساتلو نیت وي.

نو پوښتنه دا ده چې: د الله ﷻ په وعده کښې خو خلف (بې وفائي) نشته خو مونږ ځینې فقیران ګورو چې په واده سره یې فقیري د منځه نه ځي بلکې د فقیرۍ پېټی یې لا پسې درنېږي خصوصاً په دې زمانه کښې چې په افغانانو کښې د زنانه وو ولورونه ملا ماتوونکې اندازې ته رسېدلي دي چې څه بیان ته یې د الله ﷻ په توفیق د [النحل:۵۹] ایت لاندې اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو ذکره شوې وعده د "إِنْ شَاءَ" په کلمې سره مقیده ګڼلې ده، یعنې الله ﷻ به فقیران نکاح کوونکې غنیان وګرځوي خو که اراده یې وشي. لکه چې په همدې قید باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦٓ إِن شَآءَ ﴾ [التوبة:۲۸] یعنې ای مؤمنانو! د سږ کال څخه په غیر بیا مشرکان المسجد الحرام ته مه پرېږدئ چې ورشي، او که تاسو د فقر څخه داربږئ چې د دوی په بندولو سره به تجارت بند شي، نو

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۱۴۸

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې څخه مه ډاريږئ څكه چې الله ﷻ به تاسو په خپلو (حلالو) مالونو باندې د بل طرفه غنيان كړي، خو په دې شرط چې اراده يې وشي.

مكر مونږ ته داسې برېښي چې د ذكر شوي سوال جواب ته د ﴿ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴾ په تعقيب كښې اشاره شوې ده. هغه دا چې: د الله ﷻ خزانې ډكې دي مكر وركړه ترې د ده ﷻ په علم پورې اړه لري، چې څوك حسن تصرف كوي او څوك سُوء تصرف كوي؟ څوك كاسبان دي او څوك لټان دي؟ څوك متقيان دي او څوك متقيان نه دي؟ او داسې نور.

د همدې كبله الله ﷻ په بل ايت كښې د نكاح د منځه تللو د غني ګرځولو سبب ښودلى دى چې: ﴿ وَإِن يَتَفَرَّقَا يُغْنِ ٱللَّهُ كُلًّا مِّن سَعَتِهِۦ ﴾ [النساء: ۱۳۰] يعنې كه مېړه او ښځه يو تربله جدا شي نو الله ﷻ به هر يو د خپلو پراخه خزانو څخه غني وګرځوي.

او د همدې كبله په راتلونكي متصل ايت كښې مجردانو ته هم ارشاد شوى دى چې د غني ګرځېدلو پورې خپل عفت وساتي دغه دى د الله ﷻ فضل (حلال مال) در روان دى.

## څو نكات

۳_ په ﴿ وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا ﴾ كښې علماوو كړامو د "نِكَاح" كلمه په دې مقام كښې د عقد په معنى نه ده اخستې بلكې په هغه شي باندې يې معنى كړې ده د كوم په سبب چې د نكاح عقد صورت نيسي چې د مهر څخه عبارت دى[۱].

د دې نظير د "رِكَابُ" كلمه ده چې د هغه شي دپاره وضعه شوې ده په كوم باندې چې سړى سوريږي لكه آس او اوښ، يا لكه د "لِحَافُ" كلمه چې د هغه شي معنى وركوي په كوم كښې چې سړى خپل ځان نغاړي لكه برستن او نور[۲].

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې: هغه كسان دې خپل عفت وساتي كوم چې هغه اسباب نه مومي په كوم باندې چې نوموړى د نكاح خاوند ګرځي، البته تر هغه وخته پورې ترڅو چې الله ﷻ دوى په خپل فضل سره (په حلال مال) باندې غنيان كړي.

پاتې شوه دا خبره چې خپل عفت څنګه وساتي؟ نو هغې طريقې ته نبي كريم ﷺ په يوه حديث كښې اشاره كړې ده او فرمايلي يې دي چې: «فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّ الصَّوْمَ لَهُ وِجَاءٌ»[۳] يعنې اى ځوانانو! تاسو كورونه اباد كړئ (ودونه وكړئ) ترڅو ستاسو سترګې او ستاسو عورتونه ستاسو د قابو لاندې راشي، نو ستاسو څخه چې هرڅوك د كور ابادولو توان نه لري نو په ده باندې نفلي روژې نيول دي، چې يقيناً د ده دپاره د روژې نيول داسې مثال لري لكه چې خپل ځان يې خسي كړى وي (په روژو نيولو سره يې شهوت د قابو لاندې واقع كېږي).

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۱۵۰
(۲) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۲۴۳
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ په ﴿ وَٱلَّذِينَ يَبۡتَغُونَ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ کښې د "كِتَابْ" کلمه د يې ځخه عبارت ده چې غلام د خپل مولی ځخه خپل ځان په بيه واخلي چې په خپل کسب سره به مال ګټي او دومره-دومره اندازه به يې خپل مولی ته ورکوي، اوکله يې چې ټاکلی شوی مال تسليم او تکميل کړ نو نوموړی به ازاد وي او غلامي به يې ختمه وي[۱].

دا ډول عقد د غلامانو د ازادولو دپاره فقط اسلام تشريع کړی دی چې د جاهليت په زمانه کښې چا نه پېژانده[۲]. دغه ډول عقد ته دغه نوم ځکه اېښودل شوی دی چې د "كِتَابْ" کلمه اصلاً يا د "فَرض" په معنی سره ده، او يا د کتابت معنی ورکوي، چې نوموړی عقد په دواړو معناوو باندې مشتمل دی. او دا ځکه چې مولی په خپل ځان باندې ازادول فرضوي او غلام د مال د ورکړې التزام کوي، او يا دا چې دغه ډول معاهدې معمولاً ليکلی کېږي.

۵_ په ﴿ إِنۡ عَلِمۡتُمۡ فِيهِمۡ خَيۡرٗا ﴾ کښې د "خَيْر" کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده[۳]، مګر مونږ ته هغه معنی بهتره برېښي کومه چې شيخ المفسرين عليه الرحمة غوره کړې ده هغه دا چې د کار او کسب د قوت او د مال د ساتنې امانتداري ولري[۴] چې د مال د ګټلو ځخه عاجز نه وي او چې څه وګټي هغه ترې نه ضائع کېږي، که نه نو په ټول عمر کښې به په خپل عقد باندې وفا ونه شي کړی او د همېشه دپاره به د جامعې د اوږو پېټی وي.

۶_ د ﴿ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ ءَاتَىٰكُمۡ ﴾ په اړوند ځينې علماء کرام وايي چې په ﴿ وَءَاتُوهُم ﴾ کښې هغه کسان مخاطب دي کوم چې د خپلو غلامانو سره د کتابت عقد ترسره کوي[۵]، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: که ستاسو غلامان ستاسو ځخه مشروط ازادېدل غواړي نو که تاسو په هغوی کښې قدرت او امانت ګورئ نو په مشروطه توګه يې ازاد کړئ او د ټاکلي شوي مال ځخه (چې تاسو ته الله ﷻ درکړي) څه برخه ورته عفوه کړئ.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په ﴿ وَءَاتُوهُم ﴾ کښې په ټول مؤمنان مخاطب وي چې تاسو د غلامانو په ازادولو کښې خيراتونه ورکړئ او يا ورته څه برخه عفوه کړئ او بالآخره يا د مفروضه زکات ځخه څه برخه ورکړئ چې الله ﷻ ورته په [التوبة: ۶۰] ايت کښې د ﴿ وَفِي ٱلرِّقَابِ ﴾ په نازلولو سره اشاره کړې ده.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ أَعَانَ مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ غَارِمًا فِي عُسْرَتِهِ أَوْ مُكَاتَبًا فِي رَقَبَتِهِ أَظَلَّهُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ»[۶] يعني هرڅوک چې مجاهد سره د الله ﷻ

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۴۲
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۱۵۲
(۳) زاد المسير ج۵ ص۳۵۸
(۴) تفسير الطبري ج۱۸ ص۱۲۹
(۵) تفسير البغوي ج۲ ص۳۴۳
(۶) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په لار کېښي یا د پوروړي سره د سختۍ څخه د هغه په نجات کېښې او یا د یوه مکاتب سره د هغه د غاړې په خلاصون کېښې کومک وکړي، نو الله ﷻ به يې په هغې ورځ کېښې د خپل رحمت په سوري کېښې ودروي په کومه کېښې چې د ده ﷻ د رحمت د سوري څخه په غیر بل د رحمت سورى موجودیت نه لري.

## دا شرط احترازي نه دی

۷ـ که څوک وايي چې د ﴿ إِنۡ أَرَدۡنَ تَحَصُّنٗا ﴾ څخه دا ښکاره کېږي چې په فحاشۍ باندې د خپلو وینځو مجبورول په دې شرط سره جواز نه لري چې هغوی د عفت او پاکلمنۍ اراده لري، که بالفرض دغه اراده يې نه درلوده بیا به يې مجبورول جائز وي؛ نو ایا دا ډول تفسیر صحت لري؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی شرط د احتراز دپاره نه دی بلکې د واقع بیان دی او دا څکه چې:

الف: إکراه او مجبوریت په هغه وخت کېښې صورت نیسي چې وینځې په فحاشۍ باندې ناخوښې وي، کله چې دوی د عفت اراده او نیت نه لري نو بیا خو يې مجبورولو ته حاجت نشته.

ب: عبدالله بن اُبي (المنافق) دوه وینځې درلودې چې یوه "مُسَيْكَة" نومېده او د بلې نوم "أُمَيْمَة" وه، نوموړي منافق به دواړه مجبورولې چې فحاشي وکړي او پیسې پیدا کړي، نو دواړو نبي کریم ﷺ ته شکایت وکړ «فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ وَلَا تُكۡرِهُواْ فَتَيَٰتِكُمۡ عَلَى ٱلۡبِغَآءِ إِنۡ أَرَدۡنَ تَحَصُّنٗا ﴾ الآية»[1] نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

او څینو علماوو کرامو په همدې هکله څینې نور شان نزولونه او واقعات هم لیکلي دي[2].

## یو نحوي تحلیل

۸ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَمَن يُكۡرِههُّنَّ ﴾ کېښې موصول (مَن) د صلې په لحاظ مبتدأ ده، او ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعۡدِ إِكۡرَٰهِهِنَّ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ يې خبر دی. نو پوښتنه دا ده چې: په خبر کېښې هغه عائد (ضمیر) کوم یو دی چې مبتدأ او خبر سره وتړي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کېښې لاندې دوه تحلیلونه صورت نیولی شي:

الف: د مبتدأ خبر محذوف دی او مذکور نه دی چې اعتراض وارد شي نو ظهور يې داسې کېږي چې: "وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ أَخَذَهُ اللهُ"[3] یعنې څوک چې په خپلو وینځو باندې په زور فحاشي وکړي نو الله ﷻ به يې هم د إکراه په ګناه او هم د فحاشۍ په ګناه باندې ونیسي؛ او وینځو ته به الله ﷻ مغفرت او عفوه وکړي.

ب: عائد دلته مقدر دی چې په "لَهُمْ" سره ترې تعبیر کولی شو او دا څکه چې:

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۲۲

(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۱۵۷؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۲۰

(۳) تفسیر تبصیر الرحمن ج۲ ص۶۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما ذکر شوی ایت شریف داسې تفسیر کړی دی چې: «فَإِنَّ اللّٰهَ لَهُنَّ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ وَالْمُهُنَّ عَلَى مَنْ أَكْرَهَهُنَّ»[1] ته به وايي چې داسې نازل شوی دی چې: "فَإِنَّ اللّٰهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ لَهُنَّ غَفُوْرٌ رَحِيْمٌ لَا لَهُمْ" يعنې هر څوک چې خپلې وينځې فحاشی ته مجبورې کړي نو يقيناً الله ﷻ خاص همدغو مجبورو کړی شوو وينځو ته بښوونکی دی چې نه به يې په إکراهي ګناه باندې ونيسي او نه به يې په دې باندې ونيسي چې د إکراه په تشخيص کښې غلطې شوې وي او په غير مجبورونکې إکراه باندې يې د مجبورونکې إکراه ګومان کړی وي.

او خاص په همدغو مجبورو کړی شوو وينځو باندې مهربان دی چې د نېکۍ زيات توفيق به ورکړي او د ظالمانو څخه به يې نجات په نصيب کړي.

او هغو کسانو ته به الله ﷻ نه مغفرت وکړي او نه به پرې مهرباني وکړي کومو چې هغوی فحاشی ته مجبورې کړې دي بلکې ګناه به يې په همدغو کسانو باندې وربار کړی شي.

## دوه ډوله تفسير

۹ـ په ﴿وَمَثَلًا مِّنَ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُمْ﴾ کښې د "مَثَل" کلمه علماوو کرامو د مقام په لحاظ په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسيره کړې ده:

الف: د دې زمانې د کفارو حال د پخوانيو زمانو د کفارو د حال سره تشبيه کړی شوی دی.

يعنې: ای انسانانو! تاسو ته مونږ په قرآن کريم کښې دا خبره هم درنازله کړې ده چې د تکذيب په صورت کښې ستاسو حال د پخوانيو هلاکو شوو قومونو غوندې دی لکه عاديان او ثموديان، نو بايد چې تاسو د هغوی غوندې په کفرياتو باندې کلک نه شئ چې د هغوی د سرنوشت سره به مخامخ شئ. همدې مضمون ته په [الرعد:۶] ايت کښې اشاره شوې ده.

ب: دلته خاص د إفک د واقعې پخوانيو مثالونه په نظر کښې نيولی شوي دي. يعنې مونږ تاسو ته په دې قرآن کريم کښې د إفک د واقعې غوندې د پخوانيو قومونو څه واقعات هم درنازل کړي دي چې خپل مخلص بندګان مو د اتهاماتو څخه وژغورل، نو بايد تاسو ترې عبرت واخلئ او چا پورې بهتانونه ونه تړئ هسې نه چې په دنيا او آخرت کښې د خجالت او شرمندګۍ سره لاس او ګرېوان شئ.

اوس نو د پخوانيو قومونو دروغينو واقعاتو د بربنډولو لاندې څو مثالونه ولولئ:

اول: الله ﷻ په بي بي مريمې رضي‌الله‌عنها پورې دروغين تهمت په [مريم: ۳۰] ايت کښې رانازل کړی دی چې د هغې د ماشوم زوی په خوله ترې پرده پورته شوه.

دوهم: کوم دروغ چې په يوسف عليه‌السلام پورې تړلی شوي وه د هغو د بربنډولو قيصه الله ﷻ په [يوسف:۲۸] ايت کښې نازله کړې ده.

درېم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ مُوسَى كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيرًا لَا

[1] تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ»[۱] يعني موسى عليه السلام حياناک او ستركوونكى سړى وه چې د خپل عورت څخه به يې هيڅ شى نه ليدل كيده (چا نه شو ليدلى)، د بني اسرائيلو غوندې په ډاګه به يې غسل نه كاوه.

نو هغوى ورپورې تهمت وتاړه چې موسى عليه السلام ځكه خپل عورت نه لوڅوي چې يا برګى مرض لري او يا چوره دى او يا بل څه عيب لري، خو الله ﷻ اراده وكړه چې د دغه اتهام څخه يې پاک كړي.

نو يوه ورځې يې تنها غسل كاوه او خپلې جامې يې په ډبره باندې كېښودلې نو كله چې د غسل څخه فارغ شو او ويې غوښتل چې جامې واغوندي، نو ډبرې ترې جامې وتښتولې. موسى عليه السلام خپله همسا واخستله او ډبره يې تعقيب كړه او نارې يې وهلې چې: اى ډبرې! زما جامې راكړه. ډبره ونه دربده، او د الله ﷻ په امر يې د بني اسرائيلو يوې ډلې ته جامې ورسولې چې موسى عليه السلام هلته وررورسېد نو هغوى وليد چې ده ته خو الله ډېر ښايسته بدن وركړى دى او هيڅ عيب نه لري، نو موسى عليه السلام خپلې جامې د ډبرې څخه واخستلې او ډبره يې درې يا څلور او يا حتى پنځه ګوزاره ووهله. همدې مضمون ته په [الأحزاب:۶۹] ايت كښې اشاره شوې ده.

څلورم: همدارنګه په بني اسرائيلو كښې په يوه صالح سړي باندې، چې "جُرَيْج" نومېده يوې كچنۍ ښځې تور ولګاوه چې زما دغه ماشوم د دغه سړي څخه دى چې زما سره يې نا مشروع ارتباط نيولى وه مګر نبي كريم ﷺ فرمايي چې كله د ماشوم څخه پوښتنه وشوه چې: «مَنْ أَبُوكَ يَا غُلَامُ قَالَ الرَّاعِي»[۲] ستا پلار څوک دى؟ اى هلكه!، هغه جواب وركړ چې زما پلار شپونكى دى (جُرَيج نه دى)، يعني د ده مور د شپونكي سره نا مشروع ارتباط نيولى دى، نه د جُرَيج سره (د نبي كريم ﷺ بيان هم د الله ﷻ بيان دى).

پنځم: ځينو مفسرينو كرامو د [القصص:۸۱] ايت لاندې ليكلي دي چې قارون يوې ښځې ته رشوت وركړى وه ترڅو په موسى عليه السلام باندې تهمت وتړي چې د دې سره تور شوى دى، خو كله چې هغه د همدغه بهتان اعلانولو ته چمتو شوه نو موسى عليه السلام ورته وويلې چې: ستا دې په الله ﷻ سوګند وي چې رښتيا ووايه په تا باندې څه باعث دى چې په ما باندې تهمت تړې؟.

هغې وويلې چې: "إِنَّ قَارُوْنَ أَعْطَانِي كَذَا وَكَذَا عَلَى أَنْ أَقُوْلَ ذٰلِكَ لَكَ"[۳] ماته قارون دومره-دومره (پيسې) راكړې دي ترڅو زه تاته دغه خبره وكړم (بهتان درباندې وتړم).

## تبصره

۱۰_ مونږ ته د "مَثَل" دپاره ذكر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافي نه برېښي كېدى شي چې د بدليت په اعتبار دواړه مراد كړى شي، مګر څرنګه چې وړاندې د إفك قيصه تېره شوې ده نو د مقام په لحاظ سره دوهم تفسير په زړه پورى برېښي، والله ﷻ اعلم.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۳؛ صحيح مسلم ج۲ ص۲۶۶
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۳۷
(۳) تفسير ابن كثير ج۳ ص۴۰۱؛ الدر المنثور ج۶ ص۴۳۶؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۷؛ تفسير الخازن ج۳ ص۵۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ
ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ
زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ
ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿٣٥﴾ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا
ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ
وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٣٧﴾ لِيَجۡزِيَهُمُ
ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٨﴾ ﴾

[۳۵] الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو (د) نور (مالک) دی، د الله ﷻ د نور (رڼا) صفت داسې دی لکه چې یوه (رڼه) تاخچه وي چې په هغې کښې یوه بله ډیوه وي، (او) بله ډیوه په ښیښه کښې (بنده) وي، (او) ښیښه (د خپلې رڼا په سبب) داسې وي لکه یو ځلېدونکی ستوری (چې د ملغلرې غوندې شغلې وهي).

(او ذکره شوې) بله ډیوه د داسې ونې (د تېلو) څخه بلېږي کومه چې برکتناکه ده (او) د زیتون (ونه یې نوم) دی، کومه چې نه (د غره) په شرقي طرف کښې واقع وي (چې د ښېګا د پلوه د شعاع څخه محرومه وي) او نه یې په غرب طرف کښې واقع وي (چې د سهار د پلوه وربانديې شعاع نه نښلي بلکې په هواره ځمکه کښې ولاړه وي. او د نومورې) ونې تېل نژدې وي (چې د ډېرې صفائی د کبله د خپله خانه) رڼا وکړي که څه هم اور ورته نه وي رسېدلی (ډیوه نه وي بَله کړی شوې).

(نو الهي نور په متعددو مراحلو سره) د نور د پاسه نور دی (لکه څنګه چې ذکر شوی محسوس نور په متعددو مراحلو سره د نور د پاسه نور دی. خو د دومره وضاحت سره-سره کفار او منافقان ترې محروم دي ځکه چې) الله ﷻ د خپل نور دپاره هغه چاته هدایت کوي (او مطلب ته یې رسوي) کوم ته یې چې اراده وشي.

او الله ﷻ د خلکو دپاره (معقول شیان په محسوسو) مثالونو کښې بیانوي (ترڅو ترې دوی استفاده وکړي)، او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

[۳۶] (د الهي نور څخه داسې) رجال (سړي استفاده کوي) چې په داسې کورونو کښې سباګان او بېګاګان (هر سبا او هر بېګا) الله ﷻ ته تسبیحات وایي (او لمونځونه ورته پکښې کوي) د کومو (کورونو په هکله) چې همده ﷻ امر کړی دی چې (ظاهراً او باطنًا دې) پورته کړی شي او د ده ﷻ نوم دې پکښې یاد کړی شي (چې د جوماتونو څخه عبارت دي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٣٧] (البته) داسې سړي کومو لره چې د الله ﷻ ذکر او (هم) د لمانځه د اقامت او د زکات د ورکړې څخه نه تجارت غافل ګرځولی شي او نه پلورل او پیرودل (نور عقود او معاملات)، کوم چې د داسې ورځې څخه ډارېږي چې زړونه او سترګې پکښې اوړي او رااوړي (په اضطراب کښې واقع وي).

[٣٨] (دا ټول کارونه) د دې دپاره (ترسره کوي) ترڅو ورته الله ﷻ د هغو عملونو چې دوی کړي دي ډېر ښه اجر (ثواب) ورکړي او د خپل فضل څخه (پرې) زیادت هم وکړي.

او الله ﷻ هغه چاته بې حسابه (پرېمانه نعمتونه) وررزوي کوي کومو ته یې چې اراده وشي.

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو د وروستني ایت مضمون دا وه چې الله ﷻ د انسانانو دپاره د ژوند په هره ساحه کښې د قرآن کریم روښانه ایتونه نازل کړي دي چې د پخوانیو او راتلونکو زمانو حالات پکښې ټول بیان شوي دي، خو دا ښه خبره ده چې یوازې متقیان ترې استفاده کولی شي او نور خلک (منافقان او کفار) ترې په تورو تیارو کښې پراته دي او هیڅ ګټه ترې نه شي پورته کولی.

په دې او هم په راتلونکو ایتونو کښې ذکر شوی مضمون تعقیب شوی دی او د مؤمنانو او هم د کفارو او منافقانو حالات د ښلو-ښلو مثالونو په ضمن کښې ښه پوره څرګند شوی دی او رڼاوې وربا‌ندې اچولی شوې دي، نو د مطلب خلاصه او توضیحات یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

## د مطلب خلاصه او توضیحات

١ـ په ﴿ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ کښې د "نور" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [یونس: ٥] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوې ده چې د "ضِیَاء" د کلمې سره څه نسبت لري، اما په دې مقام کښې وربا‌ندې لاندې مطالب وراضافه کوو:

الف: نور (رڼا) متعدد ډولونه لري[١] لکه:

اول: د آخرت رڼا، الله ﷻ د منافقانو څخه حکایت کوي او فرمایي: ﴿ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ مِن نُّورِكُمۡ﴾ [الحدید:١٣] یعنې د قیامت په ورځ به یوازې د مؤمنانو سره د ایمان او نېک عمل رڼاوې وي نو کله چې هغوی د منافقانو (نارینه وو او زنانه وو) څخه د جنت په لور جدا شي نو دوی به په هغوی باندې غږ وکړي چې مونږ ته څه انتظار وکړئ چې مونږ هم ستاسو د رڼاوو څخه څه استفاده وکړو، که نه نو مونږ خو په تورتم کښې پاتې شوو.

دوهم: په دنیا کښې د هغو شیانو رڼاوې دي کوم چې د سر په سترګو باندې لیدل کېږي لکه لمر سپوږمۍ او نور روښانه شیان.

دریم: په دنیا کښې د هغو شیانو رڼاګانې کومې چې د زړه په سترګو (بصیرت) باندې کتلی کېږي او بس. لکه د پیغمبرانو او الهي کتابونو او یا لکه د عقل او علم او نورو شیانو رڼاوې

---

(١) مفردات الراغب ص ٥٣٠؛ حاشیة الشیخ زاده على تفسیر البیضاوي ج٣ ص٤٢٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د "نُور" کلمه په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده، چې د هرې معنى سره معنوي او يا باطني رڼاوې ملګرې دي څه مثالونه يې دا دي[1]:

اول: "نُور" يعنې ايجاد، چې ټول مخلوقات يې د عدم د تيارو څخه د وجود رڼا ته راويستلي دي.

دوهم: "نُور" يعنې هدايت، چې هر شي ته يې پيدايښت ورکړى دى او بيا يې ورتـه مناسبه لاره هم ښودلې ده لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ [طه: ۵۰] يعنې موسى ﷺ د فرعون په مقابل کښې خپل رب ﷻ داسې معرفي کړ چې زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دى چې هر شي ته يې مناسب شکل ورکړى دى (په مناسب شکل يې پيدا کړى دى) او بيا يې ورته د خپل شکل په مطابق لارښوونه هم کړې ده چې په څه ډول ترې استفاده وکړي.

دريم: "نُور" يعنې تدبير او تنظيم، چې الله ﷻ ټول عالمونه پيدا کړي دي او د دوى روزمره تدبير او تنظيم يې هم په خپل اختيار کښې ساتلى دى او هيڅچا ته يې د تکويناتو په انتظام کښې برخه نه ده ورکړې. نو په دې تفسير سره د ذکر شوي ايت مضمون د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ [الأعراف: ۵۴] ايت مضمون ته ورته ګڼل کېږي چې شرحه يې هملته تېره شوې ده.

څلورم: "نُور" يعنې د الله ﷻ د وجود او توحيد دلايل، چې اسمانونه او ځمکې بلکې ټول کائنات ورباندې مشتمل دي.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې څلور واړه معناوې سره هيڅ منافات نه لري ځکه چې ايجاد، هدايت، تدبير (تنظيم) او داسې نورې معناوې د الله ﷻ صفات دي، نو ښه دا ده چې د "نُور" د کلمې څخه "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ النُّورُ" مراد کړى شي ترڅو ټولو معناوو ته شامله شي.

ج: په ﴿ ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ کښې په الله ﷻ باندې په دريوو اعتباراتو سره د "نُور" اطلاق شوى دى[2] چې درېواړه اعتبارات په مصداق کښې متحد دي هغه دا چې:

اول: "نُور" په معنى د "منور" (اسم فاعل) سره دى، يعنې الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو روښانه کوونکى دى.

دوهم: د "نُور" د کلمې سره د "ذُو" کلمه مقدره ده، يعنې الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو د نور (رڼا) خاوند دى.

دريم: د "نُور" اطلاق په الله ﷻ باندې مبالغتاً صورت نيولى دى لکه چې خلک وايي: "فُلَان رحمة" فلانکى ټول رحمت دى، نو دلته به يې حاصل داسې راوخېژي چې: د اسمانونو او ځمکو بلکې د ټولو عالمونو رڼا (روښنايي) د الله ﷻ د پلوه ده چې د ده ﷻ څخه په غير نور هيڅوک پکښې موثر نه شي واقع کېدلى.

(۱) شرح النووي على صحيح مسلم ج۱ ص۹۹؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۸۹؛ روح المعاني ج۱۸ ص۱۶۴؛ المحرر الوجيز ج۱۱ ص۳۰۴
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۳۸۰؛ تفسير القاسمي ج۱۲ ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د تمثیل د ارکانو وضاحت

۲_ الله ﷻ خپل عظیم الشان نور ته (چې په ټولو عالمونو باندې مشتمل دی) په څو ټکو کښې وضاحت ورکړی دی او د خلکو اذهانو ته یې نژدې کړی دی هغه دا چې:

الف: په ﴿ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ﴾ کښې د "مِشْكَاة" کلمه دلته د هغې تاخچې څخه عبارت ده کومه چې بل خوا ته نه وي وتلې[۱] او "مِصْبَاح" د بلې ډیوې نوم دی[۲]، یعنې د الهي نور (رڼا) مثال داسې دی لکه چې یوه روښانه ډیوه په تاخچه کښې ایښې وي چې د دریوو طرفو څخه یې مخې بندې وي چې رڼا یې خوریدلو ته نه پریږدي.

ب: په ﴿ ٱلْمِصْبَاحُ فِى زُجَاجَةٍ ﴾ کښې د ﴿ زُجَاجَةٍ ﴾ کلمه هغې ډبرې ته وضعه شوې ده کومه چې شفافه وي او ورڅخه د نظر د تیریدلو مخه نه نیسي[۳] چې په پښتو کښې ورته "ښیښه" وایي، یعنې د ذکر شوي ډیوې رڼا د دې کبله لا اضافه شوې وي چې په ښیښه کښې ایښې وي.

ج: په ﴿ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّىٌّ ﴾ کښې د ﴿ دُرِّىٌّ ﴾ کلمه "دُرّ" ته منسوبه ده[۴] "دُرّ" ملغلرې ته ویل کېږي، یعنې ذکره شوې ښیښه په روښانتیا او صفایي کښې هغه ستوري ته ورته وي کوم چې د ملغلرې غوندې صاف او تک سپین وي.

د: په ﴿ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ ﴾ کښې د ذکرې شوې ډیوې تېلو ته اشاره ده، یعنې د هغې تېل د پوندانې او یا د شړشمو تېل نه وي چې خیرې ولري او رڼا یې څه اندازه خچنه وي، بلکې تېل یې د برکتناکې ونې تېل وي چې د زیتون د ونې څخه عبارت ده.

هـ: په ﴿ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د نوموړې ډیوې تېل د عادي زیتون څخه نه وي چې د ورځې په اوږدو کښې په ځینو وختونو کښې ورته لمر رسېږي او په ځینو ګښې وربانډې سوری وي چې تېل یې پوره صاف نه وي (لږ څه خیرې ولري). بلکې هغه زیتون د داسې ونې تېل دي چې په ډاګ کښې ولاړه وي، د لمر ختلو څخه نیولې آن د لمر د پرېوتلو پورې وربانډې د لمر شغلې لګېږي او تېل یې ښه تصفیه کړی شوي وي که بالفرض یا شرقي وي نو د ماسپښین څخه وروسته به وربانډې لمر نه لګېدلې، او که غربي وی نو د سهار د پلوه به د لمر د شغلو څخه محرومه وی، نو د همدې کبله نوموړي تېل صاف وي چې:

و: په ﴿ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِىٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ﴾ کښې د ذکر شوو تېلو صفایي تمثیله شوې ده، چې دا تېل دومره صاف وي چې نژدې وي چې د اور د وراچولو (د ډیوې د بلولو) څخه وړاندې شغلې خورې کړي او رڼا وکړي.

۱

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۴۴۱
(۲) مفردات الراغب ص۲۸۰
(۳) التفسیر الکبیر ج۲۳ ص۲۳۵
(۴) البحر المحیط ج۸ ص۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: تر دې خایه تمثیل بشپړ او پوره شو خو د ذکر شوې نور (رڼا) کمال ته د ﴿ نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ په جمله کښې اشاره شوې ده، یعنې هغه نور د کوم سره چې حق (الهي نور) تشبیه شوی دی او وړاندې یې څه وضاحتونه بیان شوه، داسې نور دی چې مرحله په مرحله یې قوت موندلی دی مثلاً:

اول: ډیوه په تاخچه (مِشْكَاة) کښې اېښودلې شوې ده، که نه نو رڼا به یې خوره وره شوې وی.

دوهم: برسېره پر دې، ډیوه په ښیښه کښې بنده ده چې رڼا یې وراضافه کړې ده.

دریم: د ډیوې تېل هم د نورو بوټو څخه نه دی بلکې د زیتون (ښون) د ونې څخه دي.

څلورم: په ښون (زیتون) کښې هم خاص زیتون دی چې لمر یې تېل ډېر صاف کړي.

## د تمثیل تطبیق

۳ـ که څه هم ذکر شوی مثال ځینو علماوو کرامو د مفرداتو په تشبیه باندې حمل کړی دی[۱] مګر د ﴿ نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې دلته مرکبه تشبیه مراده ده[۲]، ځکه چې دا ﴿ نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ د مقدرې مبتدأ خبر دی چې په "ذٰلِكَ" سره ترې تعبیر کوو، "ذٰلِكَ" هغه نور ته اشاره ده کوم چې په ﴿ مَثَلُ نُورِهِ ﴾ کښې وړاندې ذکر دی.

یعنې کله چې الهي نور د هغه نور سره تشبیه کړی شو کوم چې مرحله په مرحله تقویه شوی دی نو الهي نور د داسې نور نوم شو چې ډېر پیاوړی وي او د انوارو د اجتماع (تراکم) څخه تشکیل شوی وي. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې ذکر شوی نور مرحله په مرحله تقویه شوی دی همدارنګه الهي نور هم په مرحلوي توګه تقویه موندلې ده، چې د نبي کریم ﷺ په بعثت سره او د قرآن کریم په مرحلوي نزول سره د الله ﷻ د وحدانیت هغو عقلي دلایلو قوت وموند په کومو باندې چې لا د وړاندې څخه مخلوقاتو لاربښوونه کوله.

په همدې مطلب باندې دا جمله هم دلالت کوي چې: ﴿ يَهْدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ یعنې الهي نور (رڼا) د هغه نور (رڼا) غوندې واضحه او څرګنده ده کومې ته چې په وړاندې متعددو مرحلو کښې اشاره وشوه، خو د دې سره-سره منافقان او کفار ترې محروم دي او هدایتورباندې نه شي موندلی؛ او دا ځکه چې الله ﷻ هغه چاته هدایت کوي (مطلب ته یې رسوي) کوم ته یې چې اراده وشي، نو هغوی ته یې اراده نه ده شوې ځکه وربانددې تپ ړانده دي.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ﴾ [فصلت:۵۳] یعنې ژر دی چې مونږ به کفارو ته وخت په وخت د دوی په اطرافو (شاوخوا) او د دوی په نفسونو کښې د خپل حقانیت دلایل وروښایو (درګرده د ښودانې سلسله روانه ده) آن تر دې چې دوی ته څرګنده او واضحه شي چې دغه قرآن په حقه د الله ﷻ کتاب دی، خو د دې سره دوی

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۳ ص۲۳۲؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۳۹۹

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۲۱۲؛ روح المعاني ج۱۸ ص۱۶۹؛ تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په جهالت کښې غرق او ډوب دي. دا څکه چې: ﴿ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى ٱلصُّدُورِ ﴾ [الحج:۴۶] يعنې کفار څکه عبرت نه اخلي (د نور څخه استفاده نه شي کولی چې) يقيناً خبره دا ده چې د دوی د سترګې ړندې نه دي مګر هغه زړونه يې ړانده دي (بصيرت نه لري) کوم چې د دوی په سينو کښې موقعيت لري.

## د تمثيل ګټه

۴ـ په ﴿ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَٰلَ لِلنَّاسِ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې الهي نور په ذکر شوي مرحلوي مثال کښې د دې دپاره واچولی شو چې د خلکو د قابو لاندې راشي او په اذهانو کښې يې په ښه توګه ځای ونيسي که نه نو الهي نور د دې څخه په مراتبو او مراتبو سره لوړ او اوچت دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د ذکر شوي مرحلوي مثال څخه خو لمر ډېر روښانه دی او په جلتي سره د خلکو په اذهانو کښې ځای نيسي نو د څه حکمت په بنياد الهي نور د لمر سره تشبيه نه کړی شو؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د الهي نور د ذکر څخه د کفارو او منافقانو د شبهاتو او اعتراضاتو مخنيوی مطلب دی، نو د همدې مطلب د بيان دپاره يې د داسې نور (رڼا) سره تشبيه ښه مناسبه برېښي چې شاوخوا يې تورتم وي، لکه ذکر شوی مثال، نه د هغې رڼا سره چې په شاوخوا کښې يې بالکل تورتم موجوديت ونه لري لکه لمر.

۶ـ همدې مطلب ته په ﴿ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ کښې اشاره شوې ده، يعنې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی، په دې باندې هم پوهېږي چې کفار او منافقان د ذکرې شوي قوي رڼا څخه استفاده نه شي کولی چې خپل اعتراضات ورباندې جواب کړي او خپل شبهات ورباندې پورته کړي څکه چې دوی خپل د نېکيو استعدادونه د خاورو سره برابر کړي دي او په زړونو باندې يې مهر لګېدلی دی، که نه نو په الهي رڼا او نور کښې خو څه نقصان او قصور نشته.

## يو نحوي تحليل او څه وضاحتونه

۷ـ په ﴿ فِى بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا ٱسْمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْءَاصَالِ ۝ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ وَٱلْأَبْصَٰرُ ۝ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦ ﴾ کښې علماوو کرامو د اعراب په اعتبار سره متعدد تحليلونه کړي دي چې ټول تقريباً اتو (۸) تحليلونو ته رسېږي[۱] مګر مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفيق هغه تحليل ته اشاره وکړو کوم چې په زړه پورې او د تکليف څخه خالي دی، او بيا د څه وضاحتونو څخه وروسته د جملې ټول اجزاء د اعراب په لحاظ سره وټرو او د اسانتيا په غرض يې سره راغونډ کړو. تحليل او وضاحتونه دا دي:

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۳۹۱؛ البحر المحيط ج۸ ص۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ کښې د "فِي" توری په ﴿يُسَبِّحُ لَهُۥ﴾ پورې تعلق نيسي: او "بُيُوت" د "بَيْت" جمعه ده چې په دې مقام کښې ورته علماوو کرامو متعدد مصداقات ښودلي دي[۱] مګر اکثره علماء وايي چې دلته د "بُيُوت" څخه مطلق جوماتونه مراد دي[۲] چې راتلونکی صفت يې همدغه نظر تاييدوي.

ب: د ﴿أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ﴾ جمله د ﴿بُيُوتٍ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده؛ او نور وضاحت يې دا دی چې:

ج: د ﴿أَذِنَ﴾ کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په "أَمَرَ" سره تفسيره کړې ده[۳]. شايد چې د "أمر" څخه به په "إذن" (اجازې) سره د دې دپاره تعبير کړی شوی دی چې مؤمنان د جوماتونو جوړولو او تعظيم کولو ته بالکل چمتو دی، ته به وايې چې امر ته احتياج نه لري بلکې فقط اجازې اخستلو ته اړ دي.

د: د ﴿أَن تُرۡفَعَ﴾ کلمه خو د "رَفَعَ" ـ لکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام کښې دوه معناوې درلودلی شي او دواړه صحت لري:

اول: يوه د جوړولو اوابادولو معنی ده لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَإِذۡ يَرۡفَعُ إِبۡرَٰهِـۧمُ ٱلۡقَوَاعِدَ مِنَ ٱلۡبَيۡتِ وَإِسۡمَٰعِيلُ﴾ [البقرة:۱۲۷] يعنې او هغه وخت ياد کړه چې کله ابراهيم ﷺ د بيت الله بنيادونه پورته کول او اسماعيل ﷺ هم (ورسره پکښې ملګری وه) او دواړو کعبه شريفه جوړوله.

دوهم: بله د تعظيم او تشريف معنی ده چې په معنوي توګه پورته کول دي لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿نَرۡفَعُ دَرَجَٰتٖ مَّن نَّشَآءُ﴾ [يوسف:۷۶] مونږ د هغه چا درجې او چتوو (په نورو فضليت ورکوو) کومو ته چې زمونږ اراده وشي.

په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د جوماتونو په تعظيم او تفضيل کښې زښت ډېر احاديث راغونډ کړي دي[۴]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ د اوږدوالي د غمه دلته رانقل نه کړه.

## سوال جواب

ه: که څوک وايي چې: په ﴿يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا﴾ کښې د "فِي" توری په ﴿يُسَبِّحُ﴾ پورې تعلق نيسي او ضمير پکښې ﴿بُيُوتٍ﴾ ته راجع دی، حال دا چې د وړاندېني تقرير مطابق په ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ کښې هم د "فِي" توری په همدغې ﴿يُسَبِّحُ﴾ پورې تعلق نيسي، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: "يُسَبِّحُ لَهُ فِي بُيُوتٍ ـ فِي بُيُوتٍ". نو د دغه تکرير په نزول کښې څه حکمت دی؟

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۲ ص۲۶۵
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۳۹۲
(۳) روح المعاني ج۱۸ ص۱۷۴
(۴) تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۹۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلمـ چې: دا تکرير د تاکيد د پاره نازل شوی دی او تاکيد ته د دې کبله ضرورت وه چې:

اول: ترڅو د فاصلې د اوږدوالي د کبله څوک اشتباه ونه کړي چې ﴿ فِي بُيُوتٍ ﴾ به په ﴿ يُسَبِّحُ ﴾ پورې تعلق نه وي نيولی.

دوهم: ترڅو مونږ پوه کړی شو چې د ﴿ فِي بُيُوتٍ ﴾ تقديم د اختصاص دپاره نه دی، بلکې د اهتمام دپاره دي چې په جوماتونو کښې الهي اذکار او تسبيحات (لمونځونه) ډېر اهم دي.

و: د [الأعراف:۲۰۵] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق په ﴿ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴾ کښې د "غُدُوّ" او "آصَال" دواړه کلمې ښې پوره شرحه شوې دي چې د سباګانو او ماښامګانو څخه عبارت دي، بيا شرحې ته يې اړتيا نه ګورو.

ز: د ﴿ رِجَالٌ ﴾ کلمه څکه مرفوعه ده چې د ﴿ يُسَبِّحُ لَهُ ﴾ دپاره فاعل واقع شوې ده، شايد چې په دغې کلمې به د دې دپاره صراحت شوی وي چې د زنانه وو لمونځونه (اذکار او تسبيحات) په کور کښې د جومات څخه بهتر دي، دا څکه چې:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خَيْرُ مَسَاجِدِ النِّسَاءِ قَعْرُ بُيُوتِهِنَّ»[۱] يعنې د زنانه وو دپاره بهتر جوماتونه چې لمونځ پکښې وکړي د دوی د کورونو نهايت دننه ځايونه دي.

دوهم: او همدارنګه يې فرمايلي دي چې: «خَيْرُ صَلَاةِ النِّسَاءِ فِي قَعْرِ بُيُوتِهِنَّ»[۲] يعنې د زنانه وو بهتر لمونځ هغه دی کوم چې د دوی د کورونو په نهايت داخل کښې اداء کړی شي.

ح: د ﴿ رِجَالٌ ﴾ ذکره شوې کلمه لاندې دوه صفتونه لري:

اول: ﴿ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ ﴾، دا صفت د يو پلوه د هغوی د اعمالو د سمون نمايندګي کوي، او د بله پلوه په دغه صفت کښې د ﴿ تِجَٰرَةٌ ﴾ او ﴿ بَيْعٌ ﴾ دواړه کلمې په مصداق کښې متحدې برېښي چې "تجارة" خو د "بيع" څخه پرته بل شی نه دی.

مفسرينو کرامو د همدغه مصداقي تکرار د مخنيوي دپاره متعددې وجې ليکلي دي[۳] مګر مونږ ته چې په دې باره کښې کوم شی غوره برېښي هغه دا دی چې دلته د ﴿ تِجَٰرَةٌ ﴾ کلمه د هغې بيع او شراء څخه عبارت ده کومې چې د ګټې او مفاد د موندلو دپاره صورت نيسي چې په عام عرف کښې د سوداګرۍ په نامه يادېږي، او د ﴿ بَيْعٌ ﴾ د کلمې څخه يوازې پلورل مطلب نه دي بلکې د پلورلو عقد ترې مطلب دی چې فقهاء کرام يې د "بيعات" په لفظ باندې جمعه کوي، او دا کلمه په "شراء" باندې هم مشتمله ده.

يا په بل عبارت: دلته د ﴿ بَيْعٌ ﴾ څخه هغه بيع او شراء مراد دي کوم چې د سوداګرۍ څخه پرته

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۱۸۴
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۱۹۱
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۳۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د خپلو ضروریاتو د پوره کولو دپاره صورت نیسي.
هوا د دې خبرې یاد ساتل په کار دي چې د ﴿ تِجَٰرَةٌ ﴾ او ﴿ بَيۡعٌ ﴾ دواړه کلمات د مثال په توګه نازل شوي دي او حصر پکښې مطلب نه دی، نو ذکر شوي "رجال" په هیڅ معامله باندې د الله ﷻ د عبادت څخه غافل نه ګرځي.
دوهم: بل صفت يې ﴿ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴾ دی چې د هغوی د عقیدوي سمون نمایندګي کوي.
د قیامت ورځې ته څکه دا لقب (چې زړونه او سترګې پکښې اوړي او رااوزي) ورکول شوی دی چې هلته به زړونه هم په اضطراب کښې وي او په هغو شیانو باندې به پوه شي چې په پخوا ورباندې نه وه پوه شوي، او هم به کله د نجات تمه کوي او کله به د هلاک څخه ډارېږي. همدارنګه سترګې به هم د زړونو په شان په اضطراب کښې واقع وي چې داسې شیان به وګوري کوم چې پخوا يې نه وه لیدلي، او هم به د ډېرې وارخطايي د کبله کله يو خوا ګوري او کله بله خوا، او داسې نور.
ط: په ﴿ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦ ﴾ کښې د "ل" توری هم په ﴿ يُسَبِّحُ ﴾ پورې تعلق نیسي او د ﴿ رِجَالٌ ﴾ د دواړو صفتونو مراعات پکښې د نظره نه غورزولی کېږي.

## یادونه

ي: هیله ده چې د ﴿ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ ﴾ په تفسیر کښې هغه تحقیق په نظر کښې ونیولی شي کوم چې د الله ﷻ په توفیق په ﴿ بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ [النحل:۹۶] کښې تېر شوی دی.

## مستانفه جمله او د هغې حاصل

یا: د ﴿ يُسَبِّحُ ﴾ فعل د وړاندېني متعلق ﴿ فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ ﴾ او د وروستنیو متعلقاتو "لَهُ، فِيهَا، بِالْغُدُوِّ، لِيَجْزِيَهُمُ اللهُ" اوهم د هغه فاعل (رِجَال) سره کوم چې په دوه وو صفتونو ﴿ لَّا تُلۡهِيهِمۡ ﴾، ﴿ يَخَافُونَ ﴾ باندې موصوف دی جمله فعلیه مستانفه ده چې د اعراب محل نه لري، او يو اعتراض ورباندې جواب شوی دی، هغه دا چې:
ایا د هغه نور (رڼا) څخه چا استفاده کړې ده او یا به يې ترې وکړي د کوم کمال ته چې په وړاندېني ایت کښې اشاره شوې ده؟ د جواب حاصل يې دا دی چې:
هوا د ذکر شوي نور (رڼا) څخه په عمومي توګه هغو رجالو (سړیو) استفاده کړې ده او هم به ترې استفاده وکړي کوم چې د الله ﷻ د ذکر او هم د بدني او مالي عبادتونو څخه يې هیڅ شی نه شي غافلولی، دوی په دنیاوي تجارتونو او معاملاتو باندې مشغول وي خو چې کله د لمانځه وخت وروړسېږي سمدستي خپلو ټولو مشاغلو ته توقف ورکوي او د خپل رب ﷻ په ذکر او تسبیحاتو (لمونځونو) باندې مشغولېږي، او همدارنګه کوم چې د زیات عبادت سره-سره د قیامت د ورځې د شرمندګۍ څخه هم ډارېږي او ایمانونه يې د خوف او رجا (ډار او اُمید) تر منځ قرار لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په خاصه توګه ترې هغه رجال (سړي) استفاده کوي او هم به ترې استفاده وکړي کوم چې په ټولو سباګانو او ټولو بېګاګانو کښې (هر سبا هر بېګا) په هغو کورونو (جوماتونو) کښې تسبیحات وايي او په عبادتونو باندې پکښې مشغول وي، د کومو په هکله چې الله ﷻ امر کړی دی چې اباد دې وساتل شي او هم دې د هغو تعظیم وکړی شي او د ده ﷻ نوم دې پکښې قولاً او عملاً یاد کړی شي.

ذکر شوي رجال د الهي نور (رڼا) څخه د دې دپاره په کلکه استفاده کوي ترڅو ورته الله ﷻ د نېکو اعمالو ډېره ښایسته او خوندوره جزا ورکړي، او په دې باندې علاوه د خپل فضل باران ورباندې په شېبو-شېبو وکړي.

۸_ د ﴿ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴾ په تعقیب کښې ذکرو شوو رجالو (سړیو) ته تمه ورکړه شوې ده چې خپل مطلب ته به ورسېږي.

یعنې ای پیغمبره! د ذکرو شوو رجالو (سړیو) امید بې ځایه نه دی او دا ځکه چې الله ﷻ هغه چاته خپل نعمتونه په بې کچه توګه ورروزي کوي کومو ته یې چې اراده وشي، څه لرې نه ده چې دوی هم د اراده کړی شوو کسانو څخه وشمېرلی شي.

﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٣٩﴾ أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۹] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی د دوی اعمال (په آخرت کښې د ګټې د حیثه) په هواره ځمکه کښې د سراب غوندې دي چې تږی سړی ورباندې د اوبو ګومان کوي.

(نو په آخرت کښې هیڅ ګټه نه لري) آن تر دې چې یو کافر خپل عمل ته (د قیامت په ورځ) ورشي نو (هلته) به هیڅ (ګټور) شی مونده نه کړي او د خپل عمل په نزد (د قیامت په ورځ) به الله ﷻ مونده کړي نو پوره حساب به ورته ورکړي (سخته محاسبه به ورسره وکړي) او الله ﷻ توند حسابی دی (ډېر ژر حسابونه تصفیه کوي).

[۴۰] یا (د کفارو اعمال د بنیادونو د حیثه په دنیا کښې) د داسې تیارو غوندې دي چې په ژور دریاب کښې موقعیت لري داسې دریاب چې د اوبو څپو پټ کړي وي، چې د پاسه یې (نورې) د اوبو څپې وي، چې د پاسه یې (ګڼې) وریځې وي.

(دغه تیارې) داسې تیارې وي چې ځینې د ځینو د پاسه وي (او ډېر زیات تورتم ترې تشکیل شوی وي. آن تر دې چې څوک پکښې واقع وي او) کله خپل لاس (د کتلو دپاره) راوباسي (سړګو ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نه به ورنژدې شي چې ورېې ګوري
يې ورېورته کړي) نو (نه به يې وګوري او) نو هغه لره هيڅ رڼا نشته (ورته کړي) نو هغه لره هيڅ رڼا نشته او (دا ځکه) هرچا ته چې الله ﷻ نور (رڼا) ونه ګرځوي

## د مطلب خلاصه او توضيحات

وروسته په دې ايتونو کښې د همدغه نور په نسبت د حال څخه وروسته په دې ايتونو کښې د همدغه نور په نسبت د الهي نور په نسبت د مؤمنانو د حال څخه چې په لاندې ډول وړاندې کېږي کفارو حال ته اشاره شوې ده چې د مطلب خلاصه او توضيحات يې په لاندې ډول وړاندې کېږي

۱ـ الله ﷻ د کفارو دپاره (چې د الهي نور څخه استفاده نه کوي) دوه مثالونه نازل کړي دي په يوه مثال کښې د دوی د هغو اعمالو حال بيان شوی کومو ته چې دوی په تمه دي چې په آخرت کښې به ترې استفاده وکړي او په کار به يې ورشي. او په بل مثال کښې په دنيا کښې د دوی د اعمالو هغه حال ته اشاره شوې ده چې بنياد يې په شبهاتو او اعتراضاتو او باطلو عقائدو باندې اېښودل شوی دی.

## دا په ياد وساتئ!

۲ـ په دې ايتونو کښې د کفارو په اعمالو باندې د دوه وو مثالونو په ضمن کښې يوې تبصرې ته اشاره شوې ده. هغه دا چې:

الف: په اول مثال کښې د هغوی اعمال ضائع ښودلی شوي دي، ته به وايې چې دا مثال د هغو کلماتو په مقابل کښې نازل شوی دی په کومو کښې چې الله ﷻ مؤمنانو ته په نېکو اعمالو باندې د احسن جزاء وعده ورکړې وه چې: ﴿ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ [النور:۳۸]، چې شرحه يې ډېره نژدې تېره شوې ده بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

ب: په دوهم مثال کښې د کفارو د اعمالو د ضائع کېدلو وجې ته اشاره شوې ده چې د دوی اعمالو په کفري ګنو او ډېلو تيارو کښې صورت نيولی دی، او د ايمان د رڼا څخه يې برخې دي.

## لومړی مثال

۳ـ په ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَعْمَٰلُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ ٱلظَّمْـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا ﴾ کښې لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: د "سَرَاب" کلمه د روانو اوبو د هغه باطل شکل څخه عبارت ده چې د لمر د شعاعو د کبله په هوار بيابان کښې د ټکنده غرمې په وخت د سړي په سترګو کښې ګرځي نو سړی دا ګومان کوي چې هاغه دې اوبه رواني دي، حال دا چې هلته اوبه موجوديت نه لري[۱]، دغه خيالي شکل ته په پښتو کښې "شګو ګل" وايي، دا په شديده ګرمۍ کښې صورت نيسي

ب: د "قِيعَة" کلمه د "قَاع" د کلمې غونډې هوارې ځورې ورې ځمکې ته ويل کېږي لکه چې څه شرحه يې د [طه:۱۰۶] ايت لاندې تېره شوې ده. والحمد لله ﷻ.

ج: د "ظَمْآن" کلمه ډېر تږي سړي ته وضعه شوې ده، که څه هم په ډېره ګرمۍ کښې د سراب

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۸۰؛ لسان العرب ج۱ ص۴۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لیدنه په تېري سړي پورې اختصاص نه لري مګر د ورلړدي کېدلو په وخت کښې خاص همدغه ډېره خواشیني او ناأمیدي ورپېښېږي، نو ځکه ورباندې په مثال کښې صراحت کړی شوی دی.

## یو اشکال او د هغه د حل ګولو طریقې

۴_ که څه هم د ایت شریف اصلي مطلب ځرګند دی چې کفارو ته د دوی اعمال هیڅ ګټه نه شي رسولی خو همدغه مطلب د ایت شریف د کلماتو څخه په قاعدوي (قانوني) ډول سره راویستل اشکال لري او دا ځکه چې:

ظاهره دا ده چې د ﴿ وَوَجَدَ اللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥ ﴾ جمله د ﴿ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا ﴾ په جمله باندې عطفه ده، او د ﴿ عِندَهُۥ ﴾ ضمیر "سَرَاب" ته راجع دی، نو حاصل به یې داسې راځېږي چې کله تږی سړی ورشي نو هلته به هیڅ ګټور شی مونده نه کړي او هلته (د سراب په نزد) به د پوره سزا او کاملې محاسبې سره مخامخ شي.

حال دا چې د پوره سزا ځای خو دنیا نه ده (چرته چې سراب صورت نیولی دی) بلکې د پوره سزا ځای د مرګ څخه وروسته د محشر میدان دی.

ذکر شوی اشکال په دوه وو طریقو سره حل کېدلی شي[1] چې د هرې یوې طریقې مهم ټکي لاندې لوستلی شئ:

الف. د لومړنی طریقې مهم ټکي دا دي:

اول: ذکر شوی تمثیل په ﴿ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا ﴾ باندې تمام شوی دی.

دوهم: د تمثیل د تمامیت څخه وروسته بله جمله مقدره ده چې تشبیه ورباندې دلالت کوي، او همدغه مقدره جمله د ﴿ وَوَجَدَ اللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥ ﴾ د جملې دپاره معطوف علیها ده، چې صورت یې داسې جوړېږي: "فَكَذَلِكَ الْكَافِرُ يَظُنُّ عَمَلَهُ نَافِعًا لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَوَجَدَ اللهَ عِنْدَهُ فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ".

دریم: د ﴿ عِندَهُۥ ﴾ ضمیر هغه "عَمَلَهُ" ته راجع دی کوم چې په مقدره جمله کښې شامل دی.

نو حاصل به یې داسې راځېږي چې: د کفارو اعمال په نظر سره آخرت ته په هواره ځمکه کښې د "سَرَاب" غوندې دي چې تږی سړی ورباندې د اوبو ګومان کوي آن تردې چې کله هلته ورشي ترڅو په اوبو باندې خپل خان خړوب کړي نو هلته هیڅ شی مونده نه کړي او ناأمیده او مایوسه پاتې شي همدارنګه کافر سړی ګومان کوي چې د قیامت په ورځ به ورته خپل عمل ګټور واقع شي خو چې کله هلته (د محشر میدان ته) ورشي نو د خپل عمل څخه به هیڅ ګټه مونده نه کړي چې بول به ضائع سوي وي؛ خو د نوموړي مایوسي او ناأمیدي به په همدې حال باندې بریې نه بسوده شي بلکې هلته به خپل عمل په نزد الله ﷻ مونده کړي چې په پوره سزا به یې ورسوي او سخته محاسبه به ورسره وکړي

---

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۳۱۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

څلورم: که څوک وايي چې کفار خو په بيا ژوندي کېدلو باندې عقيده نه لري ترڅو د خپل عمل کتې وتې ته په تمه شي؟

مونږ د همدې سوال جواب ـ د الله ﷻ په توفيق ـ د [النحل:٦٢] ايت لاندې ليکلی دي چې لنډيز يې دا دی:

ځينې کفار په بيا راژوندي کېدلو عقيده لري لکه اهل الکتاب او نور، او څوک چېورباندې عقيده نه لري هغوی وايي چې که بالفرض مونږ بيا راژوندي شو نو مونږ ته به نېک اعمال په درد باندې وخوري.

پنځم: د کفارو نېک اعمال په دوه ډوله دي او دواړه ډوله ضائع دي:

- يو ډول هغه دی چې حقيقتًا نېک اعمال دي لکه صله رحمې، مېلمه پالنه او داسې نور؛ خو د عقيدې سمون (ايمان) ورسره ملګری نه وي نو ځکه د ضياع سره مخامخ کېږي.

همدې ډول ضياع ته الله ﷻ په [إبراهيم:١٨] ايت کښې د ايرو د ډېرۍ مثال ورکړي چې تېز باد ورباندې وچلېږي.

- بل هغه اعمال دي چې بنياد يې په ضياع باندې ايښودلی شوی دی خو کفارو ته نېک اعمال برېښي لکه د بوتانو عبادت او د اولادونو قرباني کول او داسې نور.

ب: د دوهمې طريقې مهم ټکي دا دي:

اول: ذکر شوی تمثيل په ﴿يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً﴾ باندې تمام شوی دی.

دوهم: په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ﴾ کښې د ﴿حَتَّىٰٓ﴾ توری په هغې تشبيه پورې تعلق نيسي په کومه باندې چې په ﴿كَسَرَابِۭ﴾ کښې د "ک" توری دلالت کوي.

درېم: په ﴿إِذَا جَآءَهُۥ﴾، ﴿لَمۡ يَجِدۡهُ﴾، ﴿وَوَجَدَ ٱللَّهَ﴾ مستتر ضميرونه او همدارنګه په ﴿فَوَفَّىٰهُ﴾، ﴿حِسَابَهُۥ﴾ کښې بارز ضميرونه پنځه واړه يوه کافر ته راجع دي چې ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ﴾ ورباندې مشتمل دي.

څلورم: په ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ﴾، ﴿لَمۡ يَجِدۡهُ﴾، ﴿عِندَهُۥ﴾ کښې بارز درېواړه ضميرونه د يوه کافر عمل ته راجع دي چې د ﴿أَعۡمَٰلُهُمۡ﴾ کلمه ورباندې مشتمله ده.

په دې طريقه کښې د اشکال د حل دپاره مقدرې جملې ته اړتيا نشته. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د ټولو کفارو اعمال په بياباني هواره ځمکه کښې د "سَراب" غوندې دي چې تږی سړی ورباندې د اوبو ګومان کوي.

دا مشابهت دومره قوي دی چې آن تردې کله چې هر يو کافر خپل عمل ته (د محشر ميدان ته) ورشي چرته چې د ده په ګومان د ده ګټور عمل موجوديت لري نو هيڅ ګټور شی به مونده نه کړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او برسېره په دې د خپل عمل په نزد (د محشر په میدان کښې به) الله ﷻ په داسې عالي شان سره مونده کړي چې د ده پوره محاسبه به ورکړي او په سخت حساب او سخت عذاب سره به يې ونيسي، دا کار به الله ﷻ د هر کافر سره وکړي چې ده ﷻ ته هيڅ مشکلات نه لري ځکه چې الله ﷻ توند حسابي دی، د يوه سره محاسبه ورته د بل د محاسبې مانعه نه جوړېږي.

## دوهم مثال

۵ـ د دوهم مثال په ارتباط لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: په دې مثال کښې د کفارو اعمال په دنیا کښې د عقيدې په لحاظ کښې تمثيل شوي دي، لکه څنګه چې په اول مثال کښې په آخرت کښې د نتيجې په اعتبار سره تمثيل شوي وه.

ب: په ﴿ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ ﴾ کښې د ﴿ لُّجِّيٍّ ﴾ کلمه "لُجَّةٌ" ته منسوبه ده، "لُجَّةٌ" د بحر هغې برخې ته ويل کېږي چې د ژوروالي اَندازه يې څوک نهٔ شي درک کولی[1].

ج: په حقيقت کښې د ﴿ يَغْشَنهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ ﴾ ټول کلمات د ﴿ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ ﴾ دپاره تفسير واقع شوي دي او د تيارو مرحلوي قوت ته پکښې اشاره شوې ده. لکه چې په ﴿ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشْكَوٰةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ ﴾ الآية، کښې د "نُور" مرحلوي کمال او قوت ته اشاره شوې وه.

د: همدارنګه د ﴿ ظُلُمَٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ﴾ کلمات د ﴿ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ ﴾ د کلماتو په مقابل کښې نازل شوي دي.

هـ: په ﴿ إِذَآ أَخْرَجَ يَدَهُۥ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ﴾ کښې په ذکرو شوو مرحلوي تيارو باندې يوه تبصره شوې ده لکه چې د الهي نور په بيان کښې د ﴿ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ﴾ کلماتو د تبصرې شکل درلودی.

و: په ﴿ لَمْ يَكَدْ يَرَىٰهَا ﴾ کښې دواړه ضميرونه هغه چاته راجع دي کوم چې د دغو ټولو تيارو په بېخ کښې واقع وي[2]، چې په "الَّذِي وَقَعَ" سره ترې تعبير کوو، دغه مرجع که څه هم په صراحت سره ذکره نه ده مګر حکمًا ذکره ده چې د کلام سوق ورباندې دلالت کوي.

ز: بالآخره د ﴿ وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ﴾ جمله داسې ګڼله کېږي لکه چې د الهي نور په بيان کښې د ﴿ يَهْدِى ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ په مقابل کښې نازله شوې وي.

## د دوهم مثال لنډيز

۶ـ که څه هم ځينو علماوو کرامو[3] ذکر شوی مثال د مفرداتو په تشبيه باندې تفسير کړی دی مګر مونږ دلته هم مرکبه تشبيه خوښوو لکه څنګه مو چې د الهي نور په تمثيل کښې مرکبه تشبيه خوښه کړې وه، نو د حاصل لنډيز يې داسې راځېږي:

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۳۵۴
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۱۸۳
(۳) البحر المحيط ج۸ ص۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دنیا کښې د کفارو اعمال د بنیاد د حیثه لاندې مثال لري:

الف: د دوی اعمال د داسې تیارو غوندې دي کومې چې په ژور دریاب کښې موقعیت لري.

ب: دغه دریاب داسې څپو پټ کړی وي چې د پاسه یې نورې څپې وي (او نورې او نورې...)؛ یا په بل عبارت: د داسې تیارو غوندې وي چې د غرونو-غرونو اوبو لاندې وي.

ج: بیا د دغو ګڼو څپو (او ګڼو اوبو) د پاسه تکه توره شپه وي او وریځې هم د اسمان مخ پټ کړی وي او د ستورو د رڼا مخه یې نیولې وي.

د: پوره واضحه ده چې دغه تیارې چې د کفارو کفري اعمال ورسره تشبیه کړی شوي دي ځینې د ځینو نورو د پاسه دي او قت په قت پرتې دي او ټولو د تورتم په جوړولو کښې سره لاس یو کړی دی، چې د مجموعې څخه یې ډېره سخته او پېړه تیاره تشکیله شوې ده.

ه: نو ګڼوالی او پېړوالی (قوت) یې دومره اندازې ته ختلی دی که بالفرض څوک په دغو تیارو کښې راګېر وي او وغواړي چې خپل لاس وګوري نو سترګو ته یې وراوچت کړي هم، نه به یې وګوري او نه به نژدې شي چې ویې ګوري، حال دا چې دا یې خپل لاس دی او ډېر ورته نژدې دی او ډېر ورته څرګند دی.

و: همدارنګه د کفارو اعمال د داسې کفري عقیدې (تورې تیارې) څخه منشأ اخلي چې په ډېرو واضحه دلایلو باندې باور نه کوي او په څرګندو معجزاتو باندې یې سترګې پټې کړې دي، دوی په هغه الهي نور باندې تېر ړانده دي په کوم باندې چې ټوله دنیا رڼا ده.

نو دوی نه د پیغمبر ﷺ خوارقو ته ګوري او نهورباندې د قرآن کریم اعجاز څه اثر غورزوي. ځکه چې:

ز: الله ﷻ هغوی ته د سُوء (بد) استعداد د کبله رڼا نه ده ورکړې او هر چا ته چې الله ﷻ رڼا ورنه کړي نو هغه هیڅکله رڼا (توفیق) نه شي موندلی که څه هم ډېر واضحه دلایل ورته وړاندې کړی شي.

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍۖ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ
صَلَاتَهُۥ وَتَسْبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٤١﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِۖ وَإِلَى
ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى
ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن
يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٣﴾ يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ
وَٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُوْلِي ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٤﴾ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍۖ فَمِنْهُم مَّن
يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰٓ أَرْبَعٍۚ يَخْلُقُ ٱللَّهُ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٥﴾ لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن
يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤٦﴾ ﴾

[۴۱] ایا ته (ای پیغمبره!) نه ګورې چې یقینًا الله ﷻ چې دی همده ﷻ ته هغه څوک (او هغه شی) تسبیحات وایي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي، او مرغان هم (ورته) په داسې حال کښې (تسبیحات وایي) چې خپل وزرونه یې (په هواء کښې) خواره کړي وي.

هر شی په خپله بلنه (عبادت) او خپله تسبیح باندې پوهېږي (چې خپل رب ﷻ څنګه وبلي او څنګه ورته تسبیح ووایي)، او الله ﷻ په هغه څه باندې پوه دی کوم چې دوی یې کوي.

[۴۲] او خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واکداري (او اختیار) دی، او خاص الله ﷻ ته بېرته ورګرځېدل (ورتاوېدل) دي.

[۴۳] ایا ته (ای پیغمبره!) نه ګورې (نه پوهېږې) چې: یقینًا الله ﷻ ورېځې روانوي (او ټوټو ته یې حرکت ورکوي) بیا یې، (د ټوټو) په منځکښې یوځایوالی راولي، بیا یې (ټوټې) یوه د بلې د پاسه ږدي (او پیړه ورېځ ترې جوړوي)، نو (ای کتونکیه!) ته څاڅکې ګورې چې د ورېځې د وُتونو (نریو سوریو) څخه وځي (او د ځمکې په لور ښکته لوېږي). او (همدارنګه) الله ﷻ له اسمانه (له پاسه) د داسې غرونو څخه چې هلته موجود دي (چې د ورېځو څخه کنایه دي) څهږلی نازلوي، نو په همدې ږلۍ سره هغه چاته رسونه کوي (مصیبتورباندې نازلوي) کوم ته چې د همده ﷻ اراده وشي، او د هغه چا څخه یې بېرته تاوه وي (د مصیبت څخه یې بچ کوي) کوم ته یې چې اراده وشي، د (نوموړې) ږلۍ د برېښنا شغلې نږدې وي چې سترګې (د سترګو نور) د منځه یوسي.

[۴۴] الله ﷻ شپه او ورځ اړوي را اړوي (حالات یې بدلوي)، یقینًا په دغه تقلیب کښې د سترګو د خاوندانو دپاره (د پند اخستلو دپاره ډېر لوی) عبرتي درس دی.

[۴۵] او الله ﷻ (په ځمکه باندې) هر حرکت کوونکی (هر ساکښ) د اوبو څخه پیدا کړی دی، نو د دوی ځینې هغه څوک (هغه شیان) دي چې په ګېډه تلل کوي (ښوییږي)، او ځینې هغه څوک دي چې په دوه وو پښو باندې تلل کوي. او ځینې هغه څوک (شیان) دي چې په څلورو (پښو) تلل کوي، الله ﷻ هغه شیان پیدا کوي کومو ته یې چې اراده وشي (او په څومره پښو باندې یې چې خوښه وي په همغومره باندې یې روانوي).

یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت* درلودونکی دی (هر څه چې وغواړي هغه کولی شي).

[۴۶] بې شکه مونږ (تاسو ته) روښانه (او روښانه کوونکې) دلایل درنازل کړي دي، او الله ﷻ هغه چاته برابرې لارې ته هدایت کوي (مطلب ته یې رسوي) کوم ته یې چې اراده وشي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د دې سورت د [۲۵] ایت څخه راپدېخوا الله ﷻ خپل هغه نُور (چې ټول عالمونه ورباندې رڼا

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي، د يوه تمثيل په ضمن کښې پوره واضحه کړه چې مؤمنان ترې په دنيا او آخرت کښې اعظمي استفاده کوي او کفار ترې په دواړو دنياوو کښې بې برخې پاتې دي. په دې ايتونو کښې ذکر شوی مضمون تعقيب شوی دی او د توحيد څه دلايلو ته پکښې اشاره شوې ده چې يوازې مؤمنان ترې پوره ګټه پورته کوي او د ايمان رڼا يې ورباندې لا اضافه کېږي، او کفار ترې په دواړو سترګو باندې تېر رانده دي او کفر يې ورباندې لا تقويه کېږي.

لنډه دا چې په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو د مضمون دپاره څو مثالونه ښودلي شوي دي چې حق ورباندې روښانه شوی دی. نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د توحيد لاندې دلايل قرائت کړه:

۱ـ ايا ته نه ګورې ايا ستا علم نشته (ای پيغمبره!) چې: يقيناً خاص الله ﷻ ته هرڅوک تسبيحات وايي او د ټولو نواقصو څخه عموماً او د شرکياتو څخه خصوصاً ورته پاکي نسبتوي. دغه کار يوازې هغه څوک نه کوي کوم چې د عقل خاوندان دي بلکې غير ذو العقول هم په همدغو تسبيحاتو او تنزيهاتو باندې مشغول دي، حتی په هوا کښې مرغان هم په داسې حال کښې د الله ﷻ په توحيد باندې لاړښوونه کوي او د نواقصو څخه ورته په تقديس باندې قائل دي چې په الوتنه کښې د خپلو وزرونو خوروونکي او غزوونکي دي.

د هغو موجوداتو (چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي د مرغانو په شمول) هر يو په خپل عبادت او په خپله تسبيح باندې پوهېږي، هر يوه ته الله ﷻ د هغه د عبادت او تسبيحاتو طرز او طريقه ورښودلې ده، چې ته په دغه ډول خپل رب ﷻ يادوه، او ته په دغه ډول.

او الله ﷻ په هغو ټولو افعالو باندې پوه دی کوم چې هغوی يې کوي، نو د هر يوه عبادت ورته معلوم دی او د هر يوه په تسبيحاتو باندې علم لري، که څه هم نور څوک ورباندې پوه نه شي. او دا ځکه چې: خاص الله ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو واک او اختيار دی او خاص الله ﷻ ته بېرته ورتاوېدل دي؛ نو اول او آخر ټول همده ﷻ پورې اختصاص لري او بس.

۲ـ ای پيغمبره! ايا ته نه ګورې (ايا ته علم نه لرې) چې د الله ﷻ په وحدانيت باندې کائنات الجو (د ځمکې او اسمان ترمنځ موجودات) څنګه دلالت کوي هغه دا چې:

الف: الله ﷻ په روښانه ورځ او په شنه اسمان کښې د وريځې ټوټې پيدا کوي او بيا حرکت ورکوي چې ځينې ټوټې يې د ځينو نورو سره ضميمه کوي. يا په بل عبارت، بيا د وريځو ټوټې يو د بل د پاسه ږدي او ښه قوي پيړه وريځ ترې جوړوي.

ب: نو د همدغې پيړې وريځې د منځو څخه د باران څاڅکي ښکته ورو وي، او ته يې په خپلو سترګو باندې ګورې چې د همدغې وريځې څخه د اوبو څاڅکی راوځي او په ځمکه باندې تويېږي.

ج: الله ﷻ د اسمان څخه بلکې د هغو وريځو څخه چې د اسمان په طرف کښې واقع دي او د غرونو په شان پېړې او ډبلې برېښي، څه ږلۍ هم نازلوي. يا په بل عبارت: د همدغو وريځو څخه لکه څنګه چې د باران څاڅکی رانازلوي همدارنګه ترې ږلۍ هم نازلوي. نو همدغه ږلۍ هغه چاته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رسوي چې د ده ﷻ ورته اراده وشي، او د هغه چا څخه يې اړوي (بېرته تاووي) چې د ده ﷻ ورته اراده وشي؛ په چا باندې يې وروي او څوک ترې بچ پاتې کوي.

د: الله ﷻ د وريځې څخه د باران يا د ږلۍ په شکل اوبه نازلوي خو په عين حال کښې په همدغو وريځو کښې برېښنا هم پيدا کوي، چې د اور څخه نمايندګي کوي او د اوبو سره متضاد طبيعت لري، او رڼا يې دومره تېزه وي چې نژدې وي چې د سترګو رڼا د منځه يوسي او کتونکي ړانده وګرځوي.

۳_ الله ﷻ شپه او ورځ اړوي را اړوي، چې کله ټوله دنيا تکه توره شپه کړي او کله ورباندې د ورځې رڼا ورخوره کړي، کله ورځ په شپه باندې اوږده کړي او کله بالعکس شپې ته په ورځې باندې اوږدوالی ورکړي او داسې نور.

يقينًا په دغه کار کښې د بصيرت د خاوندانو دپاره ډېر لوی عبرتي درس نغښتی دی چې د خپل رب ﷻ وحدانيتورباندې وپېژني.

۴_ الله ﷻ هر يو ساکښ د اوبو څخه پيدا کړی دی، خو د دې سره-سره چې د ټولو اصل يو دی په ساختمانونو او اشکالو کښې ډېر زيات تفاوت لري لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د همدغو آبي حيواناتو څخه ځينې هغه دي چې بالکل پښې نه لري بلکې په خپلو ګېډو او سينو باندې مزل کوي، لکه په دريابونو کښې ماهي او په وچه کښې مار.

ب: ځينې نور په دوه وو پښو باندې تلل راتلل کوي، لکه انسان او نور حيوانات.

ج: ځينې نور څلور پښې لري، لکه اوښان او ګډې او نور.

د: ځينې لا د څلورو پښو څخه اضافه پښې لري، لکه غڼه او د غوږ زنزه.

ذا: ځکه چې الله ﷻ هر شی په هغه شکل سره پيدا کوي _او د پيدا کولو سلسله يې لا روانه ده_ په کوم باندې چې د همده ﷻ ورته اراده وشي. يقينًا چې الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی او هر څه کولی شي.

ای پيغمبره! بې شکه چې مونږ تاسو انسانانو ته د خپل قدرت ډېر واضحه او ډېر واضحه کوونکي دلايل درنازل کړي دي او هغو ټکو ته مو پکښې متوجه کړي ياست کوم چې تاسو ته د سمې لارې په موندلو کښې ګټه رسوي، خو د دې سره-سره کفار ترې ګټه نه شي پورته کولی.

او دا ځکه چې الله ﷻ د حقې او سمې لارې هدايت (او مطلب ته رسونه) هغه چاته کوي کومو ته يې چې اراده وشي، او کفارو ته يې دغې ارادې صورت نه دی نيولی چې دوی د همدغې لارې د موندلو هڅه نه کوي او په کفر باندې خوشاله دي.

## توضيحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء:۴۴] ايت لاندې په دې باره کښې ښه پوره تحقيق کړی دی چې هر شی د الله ﷻ تسبيحات وايي، په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحتونه وراضافه کوو:

الف: که څه هم د "مَنْ" توری د ذو العلمو دپاره استعمالېږي مګر په ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د تغليب په توګه ټولو ساکښانو ته شاملېږي.

## سوال جواب

ب: که څوک وايي چې: د تغليب په بناء د "مَنْ" توری خو مرغانو ته هم شامل بريښي نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو: څرنګه چې د ﴿ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ په صراحت سره د دواړو د مابين حال نه څرګندوي نو الله ﷻ ذکر شوي کلمات نازل کړه ترڅو د دواړو د مابين په حيواناتو باندې هم صراحت وکړې شي، د همدې کبله ورسره د ﴿ صَٰٓفَّٰتٍ﴾ کلمه هم نازله شوه چې د وزرونو په خورولو باندې دلالت کوي او د الوتنې حال ته پکښې اشاره ده.

يعنې په اسمانونو او په ځمکو کښې ټول ساکښان د الله ﷻ تسبيحات وايي، همدارنګه هغه مرغان هم ورته تسبيحات وايي کومو چې خپل وزرونه خواره کړي وي او د اسمان او ځمکې ترمنځ په الوتنه باندې بوخت وي.

ج: که څه هم علماوو کرامو د ضمائرو په اعتبار سره د ﴿ كُلٌّ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥ﴾ دپاره متعدد تفسيرونه کړي دي[1] مګر مونږ ته بهتره بريښي چې په دغې جمله کښې درېواړه ضميرونه د ﴿ كُلٌّ﴾ کلمې ته راجع شي، يعنې هر يو ساکښ د خپل عبادت ډول او د خپلو تسبيحاتو په طرز باندې پوهېږي چې د خپل رب ﷻ په څه ډول عبادت وکړي او په څه ډول ورته تسبيحات ووايي، او الله ﷻ هم ورباندې پوهېږي مګر ای انسانانو! تاسو ورباندې نه پوهېږئ. لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ﴾ [الإسراء:۴۴] مګر تاسو يې په تسبيحاتو باندې فقاهت (پوهه) نه شئ حاصلولی.

## دوه لغات

۲ـ په دې مقام کښې د لاندې دوه وو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ يُزۡجِي سَحَابًا﴾ کښې د "سَحَاب" کلمه د "سَحَابَةٌ" دپاره معناً جمعه ده[2] د همدې کبله ورته په ﴿ ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيۡنَهُۥ﴾ کښې د "بَيْن" کلمه مضافه شوې ده، حال دا چې دا کلمه مفرد ته نه مضافېږي، او د همدې کبله په ﴿ وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ﴾ [الرعد:۱۲] کښې يې صفت ﴿ ٱلثِّقَالَ﴾ جمعه نازله شوې ده، که نه نو مفرد خو په جمعه باندې نه توصيفېږي.

ب: په ﴿ يَخۡرُجُ مِنۡ خِلَٰلِهِۦ﴾ کښې د "خِلَال" کلمه د "خَلَل" جمعه ده لکه څنګه چې "جِبَال" د "جَبَل" جمعه ده. او "خَلَل" د دوه وو شيانو فرجې (وُت) ته ويل کېږي[3].

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: الله ﷻ په شنه اسمان کښې د وريځې وړې-وړې ټوټې پيدا کوي، بيا د همدغو ټوټو ترمنځ پيوستون واقع کوي، آن تر دې چې ښه پېړه وريځ ترې جوړه شي نو

---

(۱) البحر المحيط ج۸ ص۵۶؛ التفسير الکبير ج۲۴ ص۱۰
(۲) تفسير الطبري ج۱۸ ص۱۵۳
(۳) مفردات الراغب ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا د همدغې پېرې او ډبلې وريځې د نريو سوريو څخه د باران څاڅکي راوباسي او په ځمکه باندې يې په شېبو-شېبو وروي؛ ايا د ده ﷻ څخه په غير بل څوک دا کار کولی شي؟

## ايا په اسمان کښې د ږلۍ غرونه شته؟

۳ـ مفسرينو كرامو په ﴿ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ ﴾ کښې متعدد تفسيرونه کړي دي[1] لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: اکثره علماء کرام وايي[2] چې په ﴿ مِن جِبَالٍ فِيهَا ﴾ کښې د "مِن" توری د بعضيت دپاره دی او د متعلق په لحاظ سره د ﴿ وَيُنَزِّلُ ﴾ دپاره مفعول واقع شوی دی؛ اما په ﴿ مِنۢ بَرَدٍ ﴾ کښې د "مِن" توری د ﴿ جِبَالٍ ﴾ دپاره بيان دی. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: او الله ﷻ د اسمان څخه د داسې غرونو څه برخې رانازلوي چې په اسمانونو کښې موقعيت لري او د ږلۍ څخه جوړ دي.

نو د همدوی په نزد په اسمانونو کښې د ږلۍ غرونه شته.

ب: ځينې علما کرام وايي چې: د ﴿ مِن جِبَالٍ فِيهَا ﴾ د ﴿ مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ دپاره بدل واقع شوی دی، او هم د ﴿ جِبَالٍ ﴾ کلمه د وريځو څخه کنايه ده[3].

که څه هم وريځې د ځمکې د طرفه هوارې برېښي مگر د اسمان د طرفه ډېرې لوړې او ژورې لري، ته به وايې چې د غرونو مجموعه ده. مونږ د حج په سفر کښې د الوتکې څخه د اسمان د طرفه په همدې شکل سره ليدلي دي.

او په ﴿ مِنۢ بَرَدٍ ﴾ کښې د "مِن" توری د بعضيت دپاره دی او د مدخول په اعتبار د ﴿ وَيُنَزِّلُ ﴾ دپاره مفعول دی. يعنې الله ﷻ د اسمان څخه بلکې د وريځو د هغو غرونو څخه چې زمونږ څخه پاس واقع دي، د ږلۍ څه برخې نازلوي. نو په دې قول سره په اسمان کښې د ږلۍ غرونه نشته.

## يو تطبيق

۴ـ که د اکثرو علماوو قول په ﴿ مِن جِبَالٍ فِيهَا ﴾ کښې د ږلۍ په کثرت او ډېروالي باندې حمل کړی شي لکه چې وايي: "لِفُلَانٍ جِبَالٌ مِنَ الْمَالِ"[4] فلانکي لره د مالونو څخه غرونه دي (زېښت ډېر مال لري)، نو همغه مضمون به ترې راوځېژي په کوم باندې چې د دوهم قول خاوندان قائل دي چې: الله ﷻ د اسمان د پلوه د هغو زېښتو ډېرو ږليو څخه ږلۍ نازلوي په کومو باندې چې د ده ﷻ خزانې مالا مال ډکې دي او کمبود پکښې نه واقع کېږي. همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾ [الحجر: ۲۱] او هيڅ شی نه دی مگر زمونږ په نزد يې خزانې دي او مونږ يې نه نازلوو مگر په معلومې (ټاکلې) اندازې سره.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۴۱۷
(۲) المحرر الوجيز ج۱۱ ص۳۱۷
(۳) تفسير ابن كثير ج۳ ص۲۹۷
(۴) التفسير الكبير ج۲۴ ص۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او که د هغوی قول په ذکره شوې معنی باندې حمل نه کړی شي نو بیا مونږ ته همدغه وروستنی قول بهتر برېښي او دا ځکه چې:

اول: الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴾ [النبا:۱۴] او مونږ د نښبخونکو (زبېښونکو) وريځو څخه په زغرده بهېدونکې اوبه نازلوو. او پوره واضحه ده چې د ﴿ ٱلْمُعْصِرَٰتِ ﴾ کلمه د باران درلودونکو وريځو څخه عبارت ده[۱].

دوهم: همدارنګه الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴾ [الواقعة:۶۹] يعنې ايا تاسو اوبه د وريځې څخه نازلې کړي دي او که مونږ يې نازلوونکي ياستو؟. او دا هم ځرګنده ده چې د ﴿ ٱلْمُزْنِ ﴾ کلمه د وريځو دپاره وضعه شوې ده[۲].

درېم: مونږ په خپلو سترګو ليدلي دي چې باران د وريځو څخه راورېږي هغه دا چې مونږ په الوتکه کښې د الوتنې په حال کښې وو او په الوتکه باندې ډېر سخت باران ورېده، خو کله يې چې د وريځې څخه ورپورته کړه نو پاس اسمان بالکل شين وه، او لاندې باران ورېده.

هو! په دې تقدير بايد په ﴿ مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د "سَمَاء" څخه هغه جرم مراد نه کړی شي کوم چې د ځمکې مقابل دی او شين ښکارېږي، بلکې دلته ترې فقط "پاس" مراد کړی شي لکه چې وايي: "سَمَاءُ كُلُّ شَيْءٍ أَعْلَاهُ"[۳] د هر شي اسمان هغه دی کوم چې ورباندې د پاسه وي.

## يادونه

۵ـ که څه هم ځينو علماوو کرامو[۴] په ﴿ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ﴾ کښې دواړه بارز ضميرونه د "مَا نَزَلَ مِنَ السَّماء" په تاويل سره باران او ږلۍ دواړو ته راجع ګڼلي دي، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمائر به يوازې ږلۍ (برد) ته راجع وي، چې د يو پلوه ورسره متصل ذکر دي او د بله پلوه د ﴿ فَيُصِيبُ ﴾، ﴿ وَيَصْرِفُهُۥ ﴾ د جملو سره ښه تناسب لري چې دغه دواړه جملې اکثره په مصيبت کښې استعمالېږي او د مصيبت احتمال په ږلۍ کښې ډېر دی د باران په پرتله.

## هره دابه د اوبو څخه پيدا کړی شوې ده

۶ـ د ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ﴾ په ارتباط مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۳۰] ايت لاندې ښه پوره تحقيق کړی دی چې هر ژوندی شی د اوبو څخه پيدا کړی شوی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې فقط يوه خبره وراضافه کوو چې که څوک غواړي چې د حيواناتو د توالد او تناسل په طريقو باندې پوه شي نو ځينو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۵] چې ډېر بحث يې پکښې کړی دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۸؛ لسان العرب ج۴ ص۵۷۷؛ القاموس المحيط ج۳ ص۲۳۸
(۲) مفردات الراغب ص۴۸۷؛ لسان العرب ج۱۳ ص۴۰۶؛ القاموس المحيط ج۴ ص۲۳۸
(۳) مفردات الراغب ص۲۴۹
(۴) تفسير ابن کثير ج۳ ص۲۹۷
(۵) الجواهر للطنطاوي ج۱۲ ص۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو تذکر

۷ـ وړاندې الله ﷻ فرمایلي وو چې: ﴿ وَلَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ﴾ [النور: ۳۴] یعنې او مونږ تاسو ته واضحه کوونکي دلایل درنازل کړي دي. بیا یې د همدغه مطلب د اثبات دپاره متعدد ایتونه نازل کړه.

نو په ﴿ لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ ﴾ الآیة کښې یې یو ځل ذکر شوي مطلب ته اشاره وکړه، ته به وایې چې هلته همدغه مطلب د مدعي په شکل نازل شوی وه او د اثبات څخه وروسته د نتیجې په شکل ورباندې یو ځل بیا صراحت وکړی شو. همدې ډول نزول ته د [البقرة: ۱۲۲] ایت لاندې اشاره شوې ده هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۚ وَمَآ أُو۟لَٰٓئِكَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ يَأْتُوٓا۟ إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿٤٩﴾ أَفِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرْتَابُوٓا۟ أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهُۥ ۚ بَلْ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾

[۴۷] او دوی (منافقان) وايي چې: مونږ په الله ﷻ او په پیغمبر باندې ایمان راوړی دی او مونږ یې اطاعت کوو، بیا د همدغه اقرار څخه وروسته د دوی یوه ډله (اطاعت ته) شا کوي (او خپل د ایمان راوړلو اقرار تکذیبوي. خو حقیقت دا دی چې) همدغه خلک ایمان راوړونکي نه دي (په دروغو باندې اقرار کوي).

[۴۸] او کله چې دوی (منافقان) الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ته ور وبللی شي ترڅو د دوی ترمنځ (شرعي) فیصله وکړي، نو ناڅاپه د دوی یوه ډله (چې بلله شوې وي) اعراض کوونکي وي (د بللو اجابت نه کوي).

[۴۹] او که دوی لره (په بل چا باندې) حق وي (او په دعوه کښې حق په جانب وي) نو (بدون د بللو څخه) نبي کریم ﷺ ته په څغاسته (ورځي او) اطاعت یې کوي.

[۵۰] (نو ای پیغمبره!) ایا د دوی په زړونو کښې (د نفاق) مرض دی (چې په اولني صورت کښې دعوت نه قبلوي) یا دوی (د پیغمبر ﷺ په نبوت کښې) شک لري، (او) یا (بالآخره) دوی ډارېږي چې په دوی باندې به الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ ظلم وکړي؟

(دغه یو هم د دعوت د عدم قبول سبب نه دی) بلکې (اصلي سبب یې دا دی چې) همدغه منافقان ظالمان دي (او غواړي چې د خلکو مالونه په ظلم سره وخوري. او د دعوت په قبول کښې یې دا مطلب نه پوره کېږي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو څرګندو کفارو حال ته اشاره شوې وه کوم چې د وحدانیت د دلایلو (الهي نُور) څخه په ډاګه انکار کوي، په دې ایتونو کښې د ناڅرګندو کفارو (منافقانو) څه علامات ښودلي شوي دي، چې په پټه د دلایلو (الهي نُور) څخه انکار کوونکي دي.

۲_ هغه ایتونه په دې مضمون ختم شوي وه چې په سمه لاره باندې تګ د هغه چا په نصیب کېږي کومو ته چې د الله ﷻ اراده وشي، په دې ایتونو کښې د هغو خلکو یو مثال ته اشاره شوې ده چې هدایت ته یې د الله ﷻ اراده نه ده شوې، نو حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د څرګندو کفارو د حال څخه وروسته اوس په خپل امت باندې د ناڅرګندو کفارو (منافقانو یو مثال قرائت کړه او څه علامات یې ورته بیان کړه هغه دا چې:

۱_ منافقان (ناڅرګند کفار) وایي چې: مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او په وحدانیت سره یې پېژنو، او همدارنګه مونږ د ده ﷻ په پیغمبر ﷺ باندې عقیده لرو او اطاعت یې په خپلو ځانونو باندې فرض بولو (په عملي میدان کښې یې پیاده کوو).

بیا د همدغې خبرې څخه وروسته د هغوی یوه ډله بې اطاعتي کوي او د الله ﷻ د پیغمبر د اوامرو څخه مخ په شا ځي او مخونه ترې اړوي.

دا د هغوی د یوې ډلې حال دی چې د عمل په میدان کښې څرګند شو، دا حال په همدوی (یوې ډلې) پورې اختصاص نه لري، بلکې د هغوی هر یو فرد او هره یوه ډله همدغسې د بې اطاعتی کړنلارې ته چمتو ده، یا په بل عبارت: په عملي میدان کښې د هغوی د ټولو د زړونو خبث او پلیتي څرګندېږي او دا ځکه چې هغوی ټول په حقیقت او واقع کښې نه په الله ﷻ عقیده لري او نه یې پیغمبر ﷺ په رسالت سره پېژني.

۲_ د مثال په توګه: کله چې همدغه منافقان (په دروغو ایمان راوړونکي) دېته وبللی شي چې راشئ خپلې منازعې او جګړې په اسلامي چوکاټ کښې حل او فصل کړئ او د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته ورشئ چې ستاسو ترمنځ فیصله وکړي، نو په همدغه وخت کښې د هغوی یوه ډله د ذکر شوي دعوت څخه اعراض کوي او دې ته نه حاضرېږي چې منازعات په اسلامي شریعت باندې هوار کړي.

۳_ دا د یو پلوه، او د بل پلوه که همدغه منافقان په کومه منازعه کښې حق په جانب وي او یا ورته خپل ځانونه حق په جانب برېښي نو په دغه وخت کښې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ ته د فیصلې اخستلو دپاره په داسې حال باندې ورځغلي چې غاړه اېښودونکي او فرمان منونکي وي.

۴_ ای پیغمبره! که د همدغو ناڅرګندو کفارو په هکله پوښتنه وکړي چې:

الف: ایا دوی د دې کبله شرعي فیصلې ته په مطلقه توګه غاړې نه ږدي چې په زړونو کښې یې د نفاق مرض دی، او رښتیانی ایمان یې نه دی راوړی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: یا د دې کبله چې د پیغمبر ﷺ په نبوت کښې شکمند دي؟
ج: بالآخره یا د دې کبله چې دوی ډاربږي چې الله ﷻ او د ده ﷺ پیغمبر ﷺ به ورباندې تېری وکړي او حق به یې د پښو لاندې کړي؟

نو که څه هم ذکر شوي درېواړه خاصیتونه د منافقانو څخه لرې نه دي، بلکې اولنی دواړه خو واقعیت لري، مګر دا یو هم د اعراض سبب نه دی بلکې د اعراض اصلي وجه یې دا ده چې همدوی ظالمان دي او د حق او عدالت څخه تښتي، دوی د فیصلو دپاره هغه چاته په منډو ورځغلي د کوم فیصلې چې په خیانت سره صورت نیسي او د چا په نزد چې رشوت کارګر واقع کېدلی شي، بالآخره څوک چې د همدوی په شان منافق او بې دینه وي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې ځینو علماوو کرامو(۱) د ذکرو شوو ایتونو دپاره همغه شان نزول لیکلی دی کوم چې د [النساء: ۶۰] ایت دپاره تاسو لیکلی وه؛ هغه دا چې د یوه منافق -چې "بشر" نومېده- د یوه یهودي سره څه منازعه او جګړه ونښته، نو یهودي غوښتل چې جګړه د فیصلې دپاره نبي کریم ﷺ ته یوسي او منافق تاند واهه چې په کعب بن الاشرف یهودي باندې فیصله وکړي، بالآخره د یهودي غوښتنه عملي شوه او نبي کریم ﷺ د دواړو په منځکښې فیصله وکړه چې په نتیجه کښې د عمر الفاروق ﷺ د لاسه منافق په قتل ورسېد، چې مفصله قیصه یې هملته ذکره ده، والحمد لله ﷻ.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه دوه ډوله روایتونه سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو واضحه کړې ده چې سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه(۲) نو دواړه روایتونه سره هیڅ منافات نه لري ځکه چې همغه یوه قیصه د دواړو مقامونو دپاره مصداق ګڼلی کېږي.

په همدې موضوع کښې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۸۲] ایت لاندې ښه تحقیق کړی دی.

## إذعان څه معنی؟

۲ـ په ﴿ يَأْتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ﴾ کښې د ﴿ مُذۡعِنِينَ ﴾ کلمه د "إذعان" څخه اشتقاقه شوې ده، د "إذعان" معنی دا ده چې په سرعت (ځغاسته) سره یوه حکم ته غاړه کېښودله شي(۳) یعنې کله چې د منافقانو په بل چا باندې حق وي نو بیا د نبي کریم ﷺ فیصلې ته په ځغاسته غاړه ږدي او دا ځکه چې د دوی باور دی چې په اسلامي شریعت کښې حق نه تلف کېږي اوضرور حقدار ته رسېږي.

## د ایت شریف ارشاد

۳ـ که څه هم په ﴿ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥ ﴾ کښې الله ﷻ د منافقانو د عدم

(۱) المحرر الوجیز ج۱۱ ص۳۱۸
(۲) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۳) لسان العرب ج۱۳ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عدالت څخه د ډارېدلو احتمال خپل اقدس ذات ته هم راجع کړی دی خو اصلي مطلب دا دی چې ایا منافقان ډارېږي چې نبي کريم ﷺ به ورباندې ظلم وکړي؟ شاید دا ډول نزول به د دې دپاره غوره کړی شوی وي ترڅو د قیامت د ورځې پورې ټول خلک په ښه پوه شي چې د نبي کريم ﷺ فیصله د الله ﷻ فیصله ده. لکه چې د نبي کريم ﷺ اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی.

د همدې قبیلې څخه د اسلامي قاضیانو هغه فیصلې هم دي کومې چې واقعاً د شریعت په چوکاټ کښې صورت نیولی وي. نو هغه کسان چې د الله ﷻ فیصلې دي څوک چې ورباندې راضي نه وي نو په حقیقت کښې د الله ﷻ په فیصله باندې راضي نه دی او په ایمان کښې یې نقصان دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ﴿أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ کښې د ﴿بَلۡ﴾ توری د اضراب دپاره دی او اضراب دې ته وایي چې د "بَلۡ" د مقابل حکم نقیض ما بعد ته اثبات کړی شي[1]؛ نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: په منافقانو کښې نه منافقت شته او نه په شک کښې واقع دي او نه په نبي کريم ﷺ باندې د ظالم (غیر عادل) عقیده لري، بلکې همدوی پخپله ظالمان دي؛ حال دا چې دا خو مطلوبه معنی نه ده؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿بَلۡ﴾ د کلمې دپاره لاندې معناوې کړې دي:

الف: دلته د ﴿بَلۡ﴾ توری یوازې د ﴿أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥ﴾ سره تړاو لري او بس[2] یعنې: ایا منافقان د دې څخه ډارېږي چې نبي کريم ﷺ به ورباندې ظلم وکړي؟ دغسې نه ده دوی نه ډارېږي، د همدې کبله په هغه وخت کښې په جلتۍ سره ورځغلي کله چې دوی حق په جانب وي، بلکې خبره دا ده چې دوی پخپله ظالمان دي او غواړي چې د خلکو مالونه په ظلم او ناجائزه طریقه باندې وخوري.

ب: دغه توری د ذکرو شوو درېواړو خاصیتونو څخه اضراب دی، خو په دې معنی نه چې هغه د منافقانو څخه سلب کړی شي او ظلم ورته اثبات کړی شي بلکې په دې معنی چې دغه درېواړه د هغوی د اعراض اسباب نه دي چې پیغمبر ﷺ د فیصلې څخه غاړې وغړوي، د اعراض سبب یې همدا یو دی چې دوی پخپله ظالمان دي او غواړي چې د خلکو مالونه په ظلم سره وخوري[3].

پاتې شوه ذکر شوې درې خاصیتونه، نو لومړني دواړه خو د منافقانو څخه نه جدا کېدونکي دي چې نه د قلبي مرض څخه خلاصېږي او نه د شک او شبهې څخه. اما درېیم خاصیت اصلاً موجود نه دی او دا خکه چې که منافقانو په نبي کريم ﷺ باندې د ظالم ګومان کولی نو په هغه وخت کښې به په جلتۍ سره نه ورځغلېدلی کله چې دوی حق په جانب وي.

---

(۱) شرح ابن عقیل علی الألفیة في النحو ج۲ ص۱۸۴
(۲) تفسیر الطبري ج۱۸ ص۱۵۶
(۳) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۸۷

Scanned by CamScanner

ځ: دغسې نه ده چې دغه توری د همېشه دپاره هغه معنی ورکوي کومه چې ورته په سوال کښې ذکره شوې ده، بلکې کله د دې دپاره هم استعمالېږي چې ما بعد يې د ما قبل دپاره مويد وي[1] لکه چې الله ﷻ د مشرکانو په حال کښې فرمايي: ﴿بَلْ قَالُوٓا۟ أَضْغَـٰثُ أَحْلَـٰمٍۭ بَلِ ٱفْتَرَىٰهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ﴾ [الانبياء:۵] يعنې مشرکان يوازې په دې اکتفاء نه کوي چې قرآن کريم ته د جادو لقب ورکړي بلکې دوی وايي چې دا د باطلو خوبونو مجموعه ده، بلکې د خپله ځانه يې جوړ کړی دی، بلکې دا د اشعارو مجموعه ده او نوموړی سړی (نبي کريم ﷺ) يو شاعر دی.

نو په دې مقام کښې د ﴿بَلْ﴾ توری د تائيد دپاره دی او بس.

که څه هم ذکر شوي درېواړه جوابونه سره څه منافات نه لري، ممکنه ده چې د بدليت په لحاظ سره درېواړه مراد کړی شي، مگر مونږ ته د دقت ذ کبله دوهم (منخنی) جواب په زړه پوری برېښي د همدې کبله مو د (مطلب خلاصه) عنوان لاندې يوازې د همدغه په ذکر باندې اکتفاء کړې ده.

﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾﴾

[۵۱] يقيناً د مؤمنانو قول (او خبره) چې: (سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا) وامو ورېده او اطاعت مو وکړ، په هغه رخت کښې (هم) د دوی قول (او خبره همدغه يوه) ده کله چې دوی د دې دپاره الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ ته وروبللی شي ترڅو د دوی ترمنځ (په جګړه کښې) فيصله وکړي.

او دغه کسان همدوی فلاح (نجات) موندونکي دي.

[۵۲] او هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر اطاعت وکړي او د الله ﷻ څخه وډار شي او (هم) د ده ﷻ (د عصيان او عذاب) څخه خپل ځانونه وساتي نو دغه کسان همدوی کامياب (او مطلب ته رسېدونکي) دي.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د منافقانو خاصيت او د تګلارې نتيجه بيانه شوې وه، او په دې ايتونو کښې –بالمقابل– د سوچه مؤمنانو خاصيت او د دوی د تګلارې ثمراتو ته اشاره شوې ده چې حاصل او توضيحات يې لاندې لوستلی شئ:

## د مطلب خلاصه او توضيحات

۱–که څوک وايي چې: په ﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ﴾

[1] مفردات الراغب ص۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د ﴿ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کلمات د ﴿ كَانَ ﴾ دپاره مقدم خبر دی، او د ﴿ أَن يَقُولُواْ ﴾ کلمات ورته موخر اسم دی، چې مضمون يې د "انْ" توري په لحاظ "قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ" راخېژي، ته به وايې چې داسې نازل شوی دی: "إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ".

نو پوښتنه دا ده چې ايا دا غير مفيد کلام نه دی؟ ايا دا ډول کلام د الهي کتاب سره مناسبت لري؟

مونږ وايو چې: په ذکر شوي ايت کښې دا عبارت: ﴿ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ﴾ په خبر پورې تعلق نيسي او د همدې تعلق په لحاظ د اسم او خبر ترمنځ تغاير واقع کېږي او کلام بې اندازې مفيد او ګټور جوړېږي، چې حاصل يې داسې راخېژي:

يقينًا د مؤمنانو قول او خبره ﴿ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ وامو ورېده او اطاعت مو وکړ، په هغه وخت کښې هم د مؤمنانو قول او خبره همدا يوه ده چې: ﴿ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ﴾ "وامو ورېده او اطاعت مو وکړ" کله چې دوی الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ ته د دې دپاره ور وبللی شي ترڅو د دوی ترمنځ په شخړه او جګړې کښې فيصله وکړي، که څه هم د دوی حق په جانبتوب يقيني نه وي.

د مؤمنانو قول او خبره د منافقانو په شان دوه رنګي نه لري چې د ګټې په حال کښې "سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا" وايي، په منډه ورځغلي، او د دې حال څخه په غير "سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا" وايي (وامو ورېده خو منو يې نه) او د شرعي فيصلې څخه مخونه اړوي بلکې هغه چاته د خپلو شخړو فيصله وړاندې کوي کوم چې په خيانت سره شهرت لري، لکه کعب بن اشرف او نور.

او همدغه کسان فلاح موندونکي دي او په دائمي توګه به د نعمتونو څخه مستفيد وي.

## فلاح او فوز څه فرق لري؟

۲ـ په ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ کښې د "مُفْلِحُون" کلمه اصلاً د "فَلَاحٌ" څخه اشتقاقه شوې ده، او په ﴿ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴾ کښې د "فَائِزُون" کلمه د "فَوْزٌ" څخه اخستلې شوې ده؛ نو پوښتنه دا ده چې دغه دواړه مصدرونه (فَلَاحٌ، فَوْزٌ) څه فرق لري؟

مونږ وايو چې: ذکر شوي دواړه مصدرونه که څه هم په مصداق کښې فرق نه لري مګر د مفهوم په لحاظ لاندې تفاوت لري:

الف: "فَلَاحٌ" د دې څخه عبارت ده چې څوک په نعمتونو کښې دائم پاتې شي او د عذابونو څخه نجات مونده کړي[1].

ب: "فَوْزٌ" دې ته وايي چې څوک خپل مطلب ته ورسېږي او د شرونو او عذابونو څخه بچ پاتې شي[2].

د لومړي مصدر حاصل وړاندې تېر شوی دی او د دوهم مصدر حاصل داسې راخېژي چې: هرڅوک چې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پيغمبر ﷺ د ارشاداتو اطاعت وکړي او هم د الله ﷻ څخه د خپلو

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۴۷
(۲) القاموس المحيط ج۳ ص۵۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سابقه وو ګناهونو په هکله ودار شي او بالآخره په راتلونکي وخت کښې د الله ﷻ بې اطاعتۍ او عصیان (ګناهونو) څخه خپل ځان په وقایه کښې کړي، نو دغه کسان همدوی کامیابان دي او د عذابونو او شرونو څخه بچېدونکي دي.

## یو صرفي تخفیف

۳_ د ﴿ يَتَّقْهِ ﴾ کلمه په اصل کښې "يَوْتَقِيْهِ" وه، د "و" توری په "ت" بدل او بیا ادغام شو، او د "ي" توري په جزم سره سقوط وموند چې دغه کلمه په مجزومه ﴿ وَيَخْشَ اللّٰهَ ﴾ کلمه باندې عطفه ده، بیا د "ق" د توري زېر د تخفیف دپاره وغورزولی شو نو "يَتَّقْهِ" ترې جوړ شو لکه څنګه چې نازل شوی دی.

﴿وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُوا۟ ۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا۟ ۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَـٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٥٤﴾﴾

[۵۳] او منافقان په داسې حال کښې په الله ﷻ باندې سوګند کوي چې د خپلو سوګندونو (په تاکید کښې) کوښښ کوونکي دي، چې هرومرو که (بالفرض) ته دوی ته امر وکړې (چې د کورونو څخه ووځئ) نو خامخا ضرور به دوی (ترې) ووځي (او ستا د امر اطاعت به وکړي).

(ای پیغمبره! ته ورته) ووایه چې: سوګندونه مه کوئ طاعت معروف (او څرګند) شی دی (چې په تاسو کښې نشته او په سوګندونو سره درکښې صورت نه نیسي)؛ یقیناً الله ﷻ په هغو عملونو باندې خبردار دی کوم چې تاسو يې (اوس یا په راتلونکي کښې کوئ).

[۵۴] (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې: د الله ﷻ اطاعت وکړئ او د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ (په اطاعت کښې يې ټګي مه کوئ).

نو که دوی (د ربښتیني اطاعت څخه) مخونه واړول نو یقیناً په ده (پیغمبر ﷺ) باندې هغه شی دی کوم چې (د الله ﷻ د پلوه) ورباندې تحمیل شوی (فرض کړی شوی) دی، او په تاسو باندې هغه شی دی کوم چې (د ده ﷺ د پلوه) په تاسو باندې تحمیل شوی (فرض کړی شوی) دی. او که چرته تاسو (همدا اُوس ربښتیني) اطاعت وکړئ نو لاره به مونده کړئ (او خپله فریضه به اداء کړئ).

او په پیغمبر ﷺ باندې خو (بله فریضه) نشته مګر (د احکامو) څرګنده رسونه (ورباندې شته چې په ډېر ښه طریقه باندې اداء کړې دي).

## ارتباط او شان نزول

د دې ایتونو ارتباط په شان نزول کښې نغښتی دی، هغه دا چې کله ذکر شوي ایتونه نازل شوه او منافقانو ته ورسولی شوه نو دوی د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغله او د خپلو څانونو د تزکیه کولو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره يې په کلکو سوګندونو کښې شروع وکړه چې مونږ ستا د امر اطاعت کوو او هره يوه خبره دې منو، که څه هم په هغې کښې د کورونو څخه وتل شامل وي.

نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه[1] چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

اې پيغمبره! منافقان ستا حضور ته درځي او د الله ﷻ په نامه ډېر په کلکه سوګندونه کوي چې: والله، بالله، تالله که بالفرض ته مونږ ته امر وکړې چې د خپلو کورونو څخه د جهاد دپاره او يا بدون د جهاد څخه ووځئ، نو مونږ به هرومرو خپل کورونه خالي کړو او ستا د امر اجابت به وکړو، نو کله چې مونږ ستا د پلوه د دغسې ثقيل حکم منلو ته چمتو او تيار ياستو، نو په نورو اوامرو کښې به هيڅ ناغېړي ونه کړو.

۱ـ نو کله چې هغوی تاته د خپلې تزکيې دپاره درغله نو ورته ووايه چې:

الف: اې هغو کسانو کومو چې فقط په خولو سره ايمان راوړی دی! سوګندونه مه کوئ، په سوګندونو باندې خپل ځانونه مه تزکيه کوئ چې ضرور به تاسو اطاعت وکړئ.

ب: ستاسو اطاعت خو معلوم دی، ستاسو اطاعت مونږ ته په تجربه باندې په اثبات رسېدلی دی چې يوازې دخولې اطاعت دی او بس.

ج: نو ستاسو اطاعت به په راتلونکي کښې هم په هغه ډول وي لکه څنګه چې پخوا وه، او دا ځکه چې تاسو د منافقت څخه لاس نه دی اخستی، او يقيناً الله ﷻ ستاسو په هغو اعمالو باندې خبردار دی کوم چې تاسو يې په راتلونکي کښې يا سمدستي کوئ؛ بالفرض که مونږ په سوګندونو باندې تېر باسئ الله ﷻ خو به هيڅکله پرې تېر نه شئ ويستلی.

د: اې پيغمبره! يو ځل بيا ورته په صراحت سره ووايه چې سوګندونه مه کوئ، د الله ﷻ اطاعت وکړئ او همدارنګه د الله ﷻ د پيغمبر ﷺ اطاعت وکړئ او په عملي ميدان کښې خپل انقياد څرګند کړئ، چې بدون د سوګندونو څخه ستاسو اطاعت اثبات شي.

۲ـ نو که بيا هم منافقانو د صريحو اوامرو اطاعت ونه کړ او مخونه يې ترې واړول نو په دغه صورت کښې ورته ووايه چې:

الف: ستاسو د بې اطاعتۍ څخه د الله ﷻ په پيغمبر ﷺ باندې هيڅ بد اثر نه پرېوځي، د ده ﷺ په اوږو باندې د الله ﷻ د پلوه هغه مکلفيت اېښودلی شوی دی کوم يې چې په ډېره ښه طريقه اداء کړی دی؛ يا په بل عبارت: د الله ﷻ احکام يې تاسو ته ورسول او خپله غاړه يې په ډېره ښه وجه خلاصه کړه. اما کوم مکلفيت چې ستاسو په غاړه باندې د الله ﷻ د پلوه اېښودلی شوی وه نو هغه ستاسو په غاړو باندې پاتې شو او اطاعت مو ونه کړ.

نو د قيامت په ورځ به هيڅکله ستاسو د جنايت او بې اطاعتۍ په هکله پيغمبر ﷺ ته ملامته

(۱) البحر المحيط ج۸ ص۶۳؛ زاد المسير ج۵ ص۳۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راجع نه کړی شي چې تا ولې بې اطاعتی ته پرېښودلي وه.

ب: ای منافقانو! اوس هم وخت تېر نه دی، که تاسو همدا نن د ده ﷺ اطاعت وکړئ او د منافقت څخه لاس واخلئ نو سمه لاره به مونده کړئ، او هيڅکله به الله ﷻ تاسو په پخوانيو جنايتونو باندې ونه نيسي.

ج: بالآخره د الله ﷻ د پلوه ټولو عالمونو ته ـ د منافقانو په شمول ـ اعلان کړه چې په پيغمبر ﷺ باندې د څرګندې رسونې څخه علاوه نور څه نشته، چې خپل دغه مکلفيت يې په پوره مېړانه اداء کړی دی، نور خلک پوهېږي او کار يې.

## توضيحات

١ـ په ﴿ وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ﴾ کښې د ﴿ جَهْدَ ﴾ کلمه مصدر ده چې د فاعل معنی ورکوي او د ﴿ وَأَقْسَمُوا ﴾ د ضمير څخه د حاليت په اعتبار منصوبه ده[1]، يعنې او منافقان په داسې حال کښې په الله ﷻ باندې سوګندونه کوي چې په خپلو سوګندونو کښې په کلکوالي سره کوښښ کوونکي دي. د کلکوالي مثالونه يې دا دي:

الف: "نُقْسِمُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ، رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ". ب: "نُقْسِمُ بِاللهِ وَتَاللهِ، ثُمَّ تَاللهِ" او داسې نور.

## متعدد تحليلونه

٢ـ د ﴿ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ﴾ په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي[2] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته مبتدأ مقدره ده، يعنې: "اَلْمَطْلُوْبُ مِنْكُمْ طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ"، تاسو سوګندونه مه کوئ دا ستاسو څخه نه غوښتلی کېږي، ستاسو څخه په شريعت کښې د معروف إطاعت غوښتنه کېږي نو دغه کار وکړئ.

ب: دلته خبر مقدر دی، يعنې: "طَاعَةٌ مَعْرُوفَةٌ أَوْلَى مِنَ الْأَيْمَانِ الْكَاذِبَةِ"، سوګندونه مه کوئ د دروغو د سوګندونو څخه معروف اطاعت بهتر دی لکه چې ټول مؤمنان اطاعت کوي او سوګندونه نه کوي.

ج: ﴿ طَاعَةٌ ﴾ مبتدأ ده او خبر يې "مَعْرُوفَةٌ" دی، او نکره خو کله په مثبت کلام کښې هم د عموم دپاره استعمالېږي او د ابتدائيت دپاره صالحه ګرځي. لکه چې وايي: "تَمْرَةٌ خَيْرٌ مِنْ جَرَادَةٍ" مطلقه کجوره د مولخ څخه بهتره ده، چې په خيراتولو سره يې د هغه محرم غاړه خلاصېږي کوم چې مولخ يې وژلی وي.

يعنې سوګندونه مه کوئ، ستاسو مطلق اطاعت معلوم دی چې ټول د ټګۍ برګۍ څخه جوړ دی، نو په سوګندونو سره يې د قبول مقام ته نه شئ رسولی.

---

(١) روح المعاني ج١٨ ص١٩٩

(٢) البحر المحيط ج٨ ص٦٣؛ المحرر الوجيز ج١١ ص٣٢٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته همدغه دربېم تحلیل بهتر برېښي چې د ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ سره ښه پیوند
نیولی شي، یعنې ستاسو پخوانی اطاعت خو ټولو ته معروف او څرګند دی او په راتلونکې
اطاعت باندې مو الله ﷻ خبردار دی، چې هغه هم د ټګۍ څخه ډک دی، چې ضرور به یې د سزا
سره مخامخ شئ.

﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا
ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ
بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡفَٰسِقُونَ (٥٥) وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ (٥٦)
لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ (٥٧) ﴾

[۵۵] الله ﷻ ستاسو د جملې څخه هغو کسانو ته وعده ورکوي کومو چې (ربښتیانی) ایمان راوړی وي او نېک عملونه کوي (داسې وعده چې) هرومرو ضرور به دوی په ځمکه کښې داسې خلیفه ګان وګرځوي، لکه څنګه یې چې هغه کسان (پکښې) خلیفه ګان ګرځولي وه کوم چې د دوی څخه مخکښې تېر شوي دي (لکه بني اسرائیل د فرعونیانو د هلاکت څخه وروسته)، او (هم) هرومرو ضرور به د دوی دپاره (په ځمکه کښې) هغه دین قوي (او محکم) وګرځوي کوم چې ورته الله ﷻ خوښ (غوره) کړی دی (چې د اسلام څخه عبارت دی). او (هم) هرومرو ضرور به دوی ته د دوی د خوف (او ډار) څخه وروسته آمن (د) بدیل (په توګه) ورکړي.

(او دا ځکه چې) دوی (یوازې) زما عبادت کوي او زما سره (په عبادت کښې) هیڅ شی نه شریکوي. (نو هرڅوک چې په همدغه حال کښې خپل ایمان ته ادامه ورکړي همدوی کامیابان دي) او هرڅوک چې د دغې وعدې د تحقق څخه وروسته کفران (او کفر) وکړي نو دغه کسان همدوی کامل فاسقان دي (او د نعمتونو د ادامې استحقاق نه لري).

[۵۶] (نو ای مؤمنانو! فسق مه کوئ) او خپل لمونځونه ودروئ او (هم) زکاتونه ورکړئ او د پیغمبر ﷺ اطاعت وکړئ، شاید چې په تاسو باندې رحم وکړی شي.

[۵۷] (ای پیغمبره!) هرومرو ته ګومان مه کوه (او نه دې ستا اُمتیان ګومان کوي) چې هغه کسان به په ځمکه کښې (د الله ﷻ) عاجز کوونکي (او کمزور کوونکي) شي کومو چې کفر غوره کړی دی (او د وعدې د پوره کولو مخه به یې ونیسي).

(او داځکه چې:) د دوی اوسېدنځای اور (دوزخ) دی، او (دا دوزخ) د بېرته ورتاوېدلو ډېر بد (او ناکاره) ځای دی (یا په بل عبارت: همدوی مقهور او مغلوب وي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او شان نزول

د [النور: ۴۲] ایت څخه راپه ښخوا تر دې خایه پورې که څه هم په ضمني توګه د مؤمنانو څه صفاتو ته اشاره شوې ده مګر په قصدي ډول پکښې یا د څرګندو کفارو او یا د ناڅرګندو کفارو (منافقانو) حالات بیان شوي دي. نو څه لرې نه ده چې د ځینو مؤمنانو زړونو به غوښتي وي چې: کاش! داسې ټولنه مو درلودی چې د څرګندو کفارو د خطراتو څخه مامونه او د منافقانو څخه خالي وی، ترڅو مو پکښې خپل دین په احسنه طریقه پیاده کړی وی، او د هیڅ طرفه راته ډار او خطر متوجه نه وی؛ نو الله ﷻ به په دې ایتونو کښې د همدغو هیلو او قلبي غوښتنو اجابت نازل کړی وي.

همدې مضمون ته ورته مضمون د دغو ایتونو په شان نزول کښې هم روایت شوی دی چې یوه ورځې صحابه وو کرامو ﷺ آرزو وکړه چې: ای د الله رسوله! په مونږ باندې تر نن ورځې پورې داسې وخت نه دی راغلی چې د دښمنانو څخه په امن کښې شوي یاستو او خپله وسله مو په بې غمی سره د خپلو غاړو څخه غورزولې وي. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «لَنْ تَلْبَثُوْا اِلَّا يَسِيْرًا حَتّٰى يَجْلِسَ الرَّجُلُ مِنْكُمْ فِي الْمَلَاِ الْعَظِيْمِ مُحْبِيًا لَيْسَتْ فِيْهِمْ حَدِيْدَةٌ»[۱] یعنې تاسو به درنګ ونه کړئ مګر لږ وخت چې ستاسو یو سړی به په لویه اجتماع کښې په داسې حال ناست وي چې خپل ځان به یې (بې غمه) په څادر کښې رانغښتی وي، او په دغې لویه اجتماع کښې به د هیڅا سره اوسپنه (وسله) موجودیت ونه لري. نو الله ﷻ په دغو ایتونو کښې د خپل پیغمبر خبره تصدیقه کړه چې حاصل یې داسې راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د خپل اُمت مؤمنانو ته عمومًا او خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته خصوصًا اعلان کړه چې:

۱_ الله ﷻ ستاسو د جملې څخه _چې په طیبه کلمه باندې قائل یاست_ هغو کسانو ته وعده ورکوي کومو چې په ربښتیاني ډول باندې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې هم ورسره ملګري کړي دي چې:

الف: ضرور هرومرو به دوی په ځمکه کښې خلیفه ګان وګرځوي، او هیڅ معارض او مقابل به ورسره موجودیت ونه لري چې دوی ترې په ډار کښې واقع شي او نه به د دوی په ټولنه کښې داسې منافقان شتون ولري چې کارونه یې ورتخریب کړي.

ب: کوم کسان چې سمدستي د ځمکې د واکدارۍ خبرې کوي د هغوی ټغر به د ځمکې دمخه ټول کړي. لکه چې الله ﷻ همدغسې عملیه په پخوانیو قومونو کښې پیاده کړې ده، چې کفار یې هلاک کړي دي او د ځمکې خلافت یې مؤمنانو ته عنایت کړی دی.

ج: همدارنګه به مؤمنانو ته د دوی هغه دین پوره پیاوړی کړي کوم چې الله ﷻ د همدوی دپاره

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۰۱؛ الدر المنثور ج۶ ص۲۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوره کړی دی، نو د ځمکې پر مخ به داسې څوک ژوندی پرینږدي کوم چې د دوی د غوره کړی شوي دین د پرمختګ مخنیوی وکړي.

د: بالآخره الله ﷻ به دوی ته د خوف او ډار په عوض امن د بدیل په توګه ورکړي، آن تردې چې دوی به د ډېر امنیت د کبله د وسلې ګرځولو ته څه اړتیا ونه لري.

۲ـ ذکرو شوو ایماندارانو او صالحانو ته به ذکره شوې وعده دپوره کېدلو څخه وروسته تر هغه ادامه ولري او استمرار به مونده کړي ترڅو چې دوی یوازې زما عبادت کوي او په هیڅ وجه راسره هیڅ شی شریک ونه ګرځوي. یا په بل عبارت: ترڅو چې دوی یوازې په ماباندې اعتماد ولري او د کفري دولتونو څخه خپل اعتماد په بشپړه توګه سلب کړي.

۳ـ ای پیغمبره! کله چې الله ﷻ هغوی ته خپل وعده ورپوره کړه نو هرڅوک او هره یوه ډله چې د وعدې پوره کولو څخه وروسته ناشکري وکړي او د الله ﷻ څخه په غیر په بل چا (یا بل کفري دولت) باندې اعتماد وکړي نو د الله ﷻ په نزد همدغه کسان فاسقان دي او د فاسقانو سره ذکره شوې وعده ادامه نه مونده کوي، بلکې هغه د صالحانو (غیر فاسقانو) پورې اختصاص لري.

۴ـ نو ای پیغمبره! خپل اُمت ته اطمنان ورکړه چې بې غمه اوسئ ذکره شوې وعده پوره کېدونکې ده، هیڅ تشویش مه کوئ، فقط خپل لمونځونه ودروئ او خپل زکاتونه ورکړئ او د خپل پیغمبر ربنتیانی اطاعت وکړئ، شاید چې په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه رحم وکړی شي او د ذکرې شوې وعدې د تحقق جوګه وګرځئ.

۵ـ ای پیغمبره! مه ته تشویش کوه او نه دې ستا اُمت تشویش کوي چې کفار به د الله ﷻ د ارادې مخه بنده کړي اوورباندې به زورور شي (پرې به یې نه ږدي چې ستاسو سره خپله وعده په ځمکه کښې پیاده کړي). او دا ځکه چې:

الف: د الله ﷻ عاجز کوونکی هیڅوک نه شي جوړېدلی، چې زور یې ورباندې د پاسه شي.

ب: کفار د الله ﷻ دښمنان دي چې په آخرت کښې یې ورته دوزخ ټاکلی دی، چې د بېرته ورتاوېدلو ډېر بد ځای دی.

لنډه دا چې کفار په دنیا او اخرت کښې د الله ﷻ په نزد مقهور او مغلوب دي او هم د ذلت سره مخامخ کېدونکي دي.

## توضیحات

۱ـ کـه څوک وایي چې په ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ ﴾ کښې د "مِنْ" توری د بعضیت دپاره دی[١] او د "کُمْ" په ضمیر سره صحابه کرام ﷺ مخاطب دي، نو پوښتنه دا ده چې: دوی خو ټول عادلان دي ایا د دوی سره د ﴿ مِنكُمْ ﴾ د کلماتو نزول مناسب دی؟ حال دا چې د ځینو په عدالت باندې دلالت کوي او بس؟

(١) التفسیر الکبیر ج٢٤ ص٢٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو: ځینو علماوو کرامو د "مِنْ" ذکر شوی توری د بیان دپاره اخستی دی[١]، یعنې الله ﷻ هغو کسانو ته وعده ورکوې کومو چې ایمان راوړی دی او نېک عملونه یې کړي چې هغوی همدا ستاسو (صحابه وو کرامو ﷺ) څخه عبارت دي.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د "مِنْ" توری د تبعیض دپاره دی خو د "کُمْ" په ضمیر باندې هغه څوک مخاطب دی کومو چې ایمان راوړی دی، برابره خبره ده چې په صداقت سره وي او که په منافقت سره وي، نو د "مِنْ" د توري په نزول باندې د وعدې څخه منافقان بې برخې شوي دي. اما ذکره شوې وعده د قیامت د ورځې پورې تولو مؤمنانو ته شامله ګڼله کېږي، چې د سوچه ایمان او صالح عمل خاوندان جوړ شي.

د دې ډول ضمیر لاندې نظائر ولولئ:

الف: په ﴿ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ ﴾ [النساء:٧٧] ایت کښې د "کُمْ" په ضمیر باندې د دواړو ډلو (مؤمنانو او منافقانو) مجموعه مخاطبه کړی شوې ده.

ب: په ﴿ وَلَوۡ أَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَنِ ٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ﴾ [النساء:۶۶] ایت کښې د "هُمْ" ضمیر د مؤمنانو او منافقانو مجموعې ته راجع دی. د زیات تحقیق دپاره دې په همدې کتاب کښې د ذکرو شوو ایتونو تحقیقاتو ته مراجعه وکړی شي.

## استخلاف څه معنی؟

٢ــ په ﴿ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾ کښې د "يَسْتَخْلِفَ، اسْتَخْلَفَ" دواړه کلمې د "اسْتِخْلاف" څخه اشتقاقي شوې دي، "اسْتِخْلاف" دېته وايي چې څوک د بل چا دپاره خليفه (نائب) وټاکل شي[٢].

په دې مقام کښې الله ﷻ مؤمنانو ته د "اسْتِخْلاف" وعده ورکړې ده، چې په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسير کېدی شي:

الف: الله ﷻ به د کفارو حکومتونه رنګ کړي او په عوض به يې صالحان مؤمنان د حکومت او اقتدار خاوندان وګرځوي، لکه چې په پخوانيو زمانو کښې يې د فرعونيانو حکومت درې ورې کړ او د ځمکې د اقتدار واګې يې د بني اسرائيلو په ولکه کښې ورکړې.

الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُهۡلِكَ عَدُوَّكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرَ كَيۡفَ تَعۡمَلُونَ ﴾ [الأعراف:١٢٩] يعنې موسى ؑ خپل قوم مخاطب کړ چې: تاسو وارخطا کېږئ مه! او خپل رب ﷻ ته اُميد وکړئ چې ستاسو دښمن (فرعونيان) به هلاک کړي او په عوض به يې تاسو په ځمکه کښې خليفه ګان وګرځوي، نو وبه وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ (شکر کوئ او که ناشکري).

---

(١) تفسير الكشاف ج٣ ص٢٥١

(٢) لسان العرب ج٩ ص٨٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د موسی ﷺ ذکره شوي خبره الله ﷻ رښتیا کړه چې فرعونیان یې هلاک کړل او د ځمکې واکې یې د بني اسرائیلو په ولکه کښې ورکړې لکه چې په [الأعراف:۱۳۷] ایت کښې پرې صراحت شوی دی.

ب: الله ﷻ به د پیغمبر ﷺ د وفات څخه وروسته د شریعت په نفاذ کښې اُمتیان د ده ﷺ خلیفه ګان وګرځوي، یا په بل عبارت: د ده ﷺ اُمتیان به همغه حالت ته ادامه ورکړي کوم چې د پیغمبر په ژوند کښې موجود وه، او یا به د څه فرجې (وَت) څخه وروسته د کفارو اقتدار ختم کړي او د ده ﷺ اُمتیان به په اقتدار کښې راولي.

نبي کریم ﷺ د خلافت د همدغې معنی په دوه وو صورتونو باندې صراحت کړی دی چې فرمایلې یې دي:

اول: «لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ لَبَعَثَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ رَجُلًا مِنَّا يَمْلَؤُهَا عَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا»[۱] یعنې که بالفرض د دنیا د عمر څخه نه وي پاتې مګر یوه ورځ، نو دغه یوه ورځ به الله ﷻ اوږده کړي ترڅو پکښې زمونږ (د ساداتو) څخه داسې یو سړی مبعوث کړي چې ټوله دنیا په عدل باندې ډکه کړي لکه چې په عین وخت کښې به په ظلم باندې ډکه وي (نو دا به لرې کړي او هغه به پکښې ځای په ځای کړي). همدارنګه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې نوموړي سړي ته د «خَلِيفَةُ اللهِ الْمَهْدِيُّ» لقب ورکړی دی[۲].

دوهم: «الْخِلَافَةُ فِي أُمَّتِي ثَلَاثُونَ سَنَةً ثُمَّ مُلْكٌ بَعْدَ ذَلِكَ»[۳] یعنې زما په امت کښې به په اتصال سره دېرش کاله خلافت وي بیا د دې څخه وروسته به پاچاهي وي.

دغه دېرش کاله ځینو علماوو کرامو[۴] په داسې ډول پوره کړي دي چې: دوه (۲) کاله د ابو بکر الصدیق ؓ د خلافت، لس (۱۰) کاله د عمر الفاروق ؓ د خلافت، دولس (۱۲) کاله د عثمان الغني ؓ د خلافت او شپږ (۶) کاله د علي ؓ د خلافت دورې وې، چې ټول دېرش (۳۰) کاله کېږي.

ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه بل ځای کښې هم اشاره کړې ده چې په یوه اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ زَوَى لِيَ الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا»[۵] یقیناً الله ﷻ ماته ځمکه راغونډه کړه نو ما یې مشرقونه او مغربونه ولیده، او بې شکه زما امت چې دی واکداري به یې هغې ځمکې ته ورسېږي کومه چې ماته الله ﷻ راغونډه کړې وه (او په ماباندې یې ولیدله).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د علي ؓ د خلافت په دوره کښې خو آمن نه وه بلکې خوف او ډار په منطقه

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۲۱۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۰۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۴۶
(۴) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۵۵
(۵) صحیح مسلم ج۲ ص۳۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې خور وه، نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه شېږ کاله هم د ایت شریف په وعده کښې شامل ګڼلی شي؟

مونږ وايو چې: په ایت شریف کښې هغه خوف او ډار د مومنانو څخه نفې کړی شوی دی کوم چې د کفارو د پلوه اسلامي جامعې ته متوجه وي، او د څلورم خلیفه په زمانه کښې خوف او ډار د کفارو د پلوه ورته متوجه نه وه، چې د ایت شریف سره منافات ولري. بلکې د خپلمنځي اختلاف د امله يې تحقق موندلی وه.

په همدې مضمون باندې د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول روایت په صراحت سره دلالت کوي.

## تبصره

۴ـ که څه هم د ایتونو د سیاق سره په دې مقام کښې د خلافت لومړی معنی ډېره مناسبه بریښي مګر زمونږ په فکر څه لرې نه ده چې دلته د خلافت لومړی معنی په عبارة النص او دوهمه معنی په اشارة النص سره اراده کړی شي؛ نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: الله ﷻ مومنانو صالحانو ته وعده ورکړې ده چې د وخت د کفارو حکومت به ړنګ کړي او د ځمکې واګې به د همدوی په لاس ورکړي ترڅو پکښې دوی د خپل پیغمبر ﷺ په نیابت اسلامي شریعت پیاده کړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د راشده خلفاوو د دېرشو (۳۰) کلونو څخه علاوه خو په دنیا کښې ډېر اسلامي حکومتونه تېر شوي دي او لا روان دي تېرېږي، نو ایا دغه حکومتونه د ذکرې شوې وعدې مصداقات نه شي جوړېدلی؟ یا په بل عبارت: څه وجه ده چې د دنیا دغو مستقلو اسلامي حکومتونو ته د خلافتونو القاب نه شي ورکولی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوي حکومتونه څکه د وعدې مصداقات نه شي جوړېدلی چې:

الف: دغه اسلامي حکومتونه د کفارو څخه عموماً او د امریکا د حکومت څخه خصوصاً په ډار کښې دي، او په ذکره شوې وعده کښې دا خبره شامله ده چې د کفارو څخه به مامون وي.

ب: دغه حکومتونه په بې غمۍ سره په ټولو ساحو کښې اسلامي شریعت یا نه عملي کوي او یا يې د کفارو د ډاره نه شي عملي کولی، او په وعده کښې د الهي غوره دین تعمیل یوه څرګنده نښه ده.

شاید چې د وعدې ذکر شوې دوه مهمې برخې به هغوی ته څکه نه وي ورکړې شوې چې د صالح عمل شرط پکښې منتفي دی او شتون نه لري. د همدې کبله هر یو حکومت د استقلال مدعي دی، او د یوه سره هم دا خیال نشته چې په ټوله دنیا کښې دې ټول مسلمانان د یوه حکومت تر بېرغ لاندې راټول شي او تعدد دې د منځه لاړ شي، د حکومتونو تعدد ته خو شریعت اجازه نه ورکوي.

## اسلامي امارت یا د وعدې مصداق

۶ـ هو! په موجوده زمانه کښې[1] یوازې د افغانستان اسلامي امارت دی چې د کفارو څخه عموماً

(۱) ۱۴۲۰/۵/۱۰ هـ ق - ۱۳۷۸/۵/۳۱ هـ ش - ۱۹۹۹/۸/۲۲ م.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د امریکا د حکومت خصوصاً نه ډارېږي، که څه هم پروسکال یې وربانديې کروز توغندي وورول او سږ کال یې وربانديې اقتصادي بنديزونه ولګول خو د دې سره سره اسلامي امارت لکه ونه مستقیم په خپل مکان دی که خزان وربانديې ورشي که بهار؛ په همدغه حال کښې یې په زنانه وو بانديې شرعي حجاب عملي کړ، د رسمي دوائرو څخه یې د کار کولو څخه منعه کړې او هم یې شرعي حدود اجراء کړه او د مختلط تعلیم مخه یې بنده کړه.

الله ﷻ دې وکړي چې په هره برخه کښې شریعت عملي کړي او د رشوت مخه هم ونیسي او کوم زاړه کمونستان چې چرته غلي او پټ شوي دي هغوی هم د منځه یوسي. ترڅو د یو پلوه همدغه امارت په دې زمانه کښې د ذکرې شوې وعدې مصداق وګرځي، او د بله پلوه د راتلونکي الخليفه المهدي د راڅرګندېدلو زمینه مساعده شي ـ آمین یا رب العالمین.

## درې جملې او اعرابي محلونه

۷ـ په دې مقام کښې باید د لاندې درېوو جملو اعرابي محلونه په نظر کښې ونیولی شي چې په تفسیر بانديې اثر غورزوي:

الف: په ﴿ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْـًٔا ﴾ جمله کښې دوه احتماله تحقق موندلی شي[۱]:

اول: دا جمله د ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ ﴾ څخه حال واقع شوې ده، یعنې په داسې حال کښې صالحانو مؤمنانو ته الله ﷻ وعده ورکوي چې دوی خاص زما عبادت کوي او هیڅ شی راسره په عبادت کښې نه شریکوي. نو په دې تقدیر سره دا جمله د ما قبل دپاره تاکید واقع کېږي.

دوهم: دا جمله مستانفه ده، ته به وایې چې چا د ذکر شوې وعدې د ورکړې وجه پوښتلې وي او په جواب کښې ورته ویل شوي وي چې هغوی ته ذکره شوې وعده ځکه ورکړه شوې ده چې دوی یوازې زما عبادت کوي او په عبادت کښې راسره هیڅ شی نه شریکوي.

نو په دې تقدیر دا جمله تاسیس فائده کوي، او د تاکید څخه تاسیس بهتر وي.

ب: د ﴿ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴾ جمله په مقدره جمله بانديې عطفه ده چې د هغې ظهور داسې صورت نیسي: "مَنْ آمَنَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ".

دا د یو پلوه او د بله پلوه د ﴿ كَفَرَ ﴾ کلمې په اشتقاق کښې لاندې دوه احتماله صحت لري:

اول: چې د "كُفْرَان" څخه مشتقه وګڼله شي، چې د ناشکرۍ معنی ورکوي[۲].

دوهم: چې د "كُفْر" څخه واخستله شي، چې د عدم ایمان دپاره وضعه شوې ده[۳].

زمونږ په فکر په دې مقام کښې لومړی اشتقاق بهتر دی چې "كُفْرَان" په "كُفْر" بانديې مشتمل دی، یا په بل عبارت: ټول کفار ناشکران دي او په مؤمنانو کښې هم ناشکران شته.

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۲۰۴

(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۲۵۲

(۳) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۸_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي عبارت کښې ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو دغه کلمه ذکر شوي بيان ته اشاره ګڼلې ده[۱] يعنې هرڅوک چې د ذکرې شوې وعدې د ورکړې څخه وروسته خپل ايمان ته ادامه ورکړي نو هغه کامياب دی او هرڅوک چې بالعکس ورباندې کافر شي او عقيده پرې ونه کړي نو هغوی په فسق کښې کمال ته رسېدلي دي، ته به وايې چې فسق په همدوی کښې منحصر دی.

مګر کومه خبره چې غوره او بهتره برېښي هغه دا ده چې په ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ سره به د ذکرې شوې وعدې بيان ته نه بلکې حصول ته اشاره وي، يعنې هرڅوک چې د ذکرې شوې وعدې د تحقق او حصول څخه وروسته خپل ايمان ته ادامه ورکړي او د کفر او کفران څخه خانونه بچ وساتي نو دوی کاميابان دي، او څوک چې د هغې د تحقق څخه وروسته کفر او کفران غوره کړي نو همدوی په فسق کښې کمال ته رسېدلي دي او ډېر ژر به د نعمتونو د زوال سره مخامخ شي.

ج: که څه هم ځينو علماوو کرامو د ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ الآية، جملات په ﴿ قُلْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ ﴾ [النور: ۵۴] کښې په ﴿ أَطِيعُوا ﴾ باندې عطفې ګڼلي دي[۲]، مګر بهتره داسې څرګندېږي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې دا به په هغې مقدرې جملې باندې عطفې وي په کومې باندې چې د ﴿ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾ کلمات دلالت کوي، نو ظهور به يې داسې صورت ونيسي چې: "فَلَا تَفْسُقُوْا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ" تر آخره پورې.

يعنې ای مؤمنانو! خپل ځانونه فاسقان مه جوړوئ بلکې خپلو ايمانونو ته ادامه ورکړئ او په بدني او مالي عبادتونو باندې او هم د خپل پيغمبر ﷺ په اطاعت باندې مستمر اوسئ! شايد چې په تاسو باندې د الله ﷻ د جانبه رحم وکړی شي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُواْ ٱلْحُلُمَ
مِنكُمْ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلَوٰةِ ٱلْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعْدِ
صَلَوٰةِ ٱلْعِشَآءِ ۚ ثَلَٰثُ عَوْرَٰتٍ لَّكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۚ
طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾ وَإِذَا بَلَغَ ٱلْأَطْفَٰلُ مِنكُمُ ٱلْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُواْ كَمَا ٱسْتَـْٔذَنَ ٱلَّذِينَ مِن
قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ وَٱلْقَوَٰعِدُ مِنَ

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۹۱
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۳ ص۴۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِى لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ
مُتَبَرِّجَٰتٍۭ بِزِينَةٍ ۖ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾

[۵۸] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! هرومرو او ضرور دې هغه کسان ستاسو څخه (د درننوتلو دپاره) اجازه واخلي د کومو چې ستاسو ښي لاسونه مالکان شوي دي او هغه کسان (دې هم درڅخه اجازه واخلي) کوم چې ستاسو (احرارو) د جملې څخه د احتلام وخت ته نه وي رسېدلی (البته دغه اجازه اخستل) په درېوو وختونو کښې (ضرور) دي، (هغه دا:) د سبا د لمانځه څخه وړاندې، او په هغه وخت کښې چې تاسو (پکښې) خپلې جامې ږدئ، چې د غرمې د وخت څخه عبارت دی، او (بالاخره) د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته.

(دا) ستاسو دپاره د عورتونو (د لوڅولو) درې وختونه دي، د دې درېوو وختونو څخه وروسته نه په تاسو باندې ګناه شته (چې هغوی ته تعلیم ورنه کړئ) او نه په هغوی باندې (څه ملامته او غابښ چیچي شته چې بې اجازې درننوځي).

(هغوی) په تاسو باندې طواف کوونکي (وتونکي او ننوتونکي) دي (او) ستاسو ځینې په ځینو نورو باندې (هم طواف کوونکي) دي (ستاسو هم ورته اړتیا پېښېږي).

(ای پیغمبره!) په دغه شان سره الله ﷻ تاسو ته ایتونه (احکام) بیانوي، او الله ﷻ پوه (او) د حکمت خاوند دی.

[۵۹] او کله چې ستاسو څخه ماشومان بلوغ (د احتلام حد) ته ورسېدل نو دوی دې (بیا) داسې اجازه اخلي (او بې اجازې دې نه داخلېږي) لکه څنګه چې هغه کسان اجازه اخلي کوم چې د دوی څخه (لا) وړاندې بلوغ (د احتلام حد) ته رسېدلي وه (او اجازې یې اخستې).

دغه ډول الله ﷻ تاسو ته خپل ایتونه (احکام) بیانوي، او الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.

[۶۰] او ناستې (سپین سرې) ښځې چې دي (دا) د هغو ښځو څخه عبارت دي چې (د بوډاتوب د کبله) تمه نه کوي چې څوک به یې په نکاح باندې واخلي، نو په دوی باندې څه ګناه نشته چې خپلې لوېې جامې (حجابونه او څادرېګانې) په داسې حال کېږدي چې په زینت سره ځرګندونکې نه وي.

او که دوی (د همدغه بوډاتوب د حال سره-سره د څادریګانو د غورزولو څخه) خپل ځانونه په ځنګ وساتي (او پرهېزګاري تره وکړي) نو دا کار ورته ډېر بهتر دی (چې دا عزیمت دی او هغه رخصت).

او الله ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی (هرڅه اوري او په هرڅه پوهېږي).

## ارتباط او شان نزول

۱ـ وړاندېني ایتونه په عقیدوي احکامو او ترغیب او ترهیب باندې مشتمل وه، په دې ایتونو کښې د معاشرتي احکامو او آدابو بیان تکمیل شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ که څوک وايي چې: په کار وه (مناسب وه) چې دا ايتونه د [النور:۳۴] ايت څخه وروسته په توقيفي توګه ايښودل شوي وی، ځکه چې د معاشرتي احکامو او آدابو څه برخې اختتام موندلی دی، ترڅو د ملغلرو اميل مرتب تشکيل شوی وی او په منځکښې یې د عقدوي احکامو څه برخه په توقيفي توګه نه وی ځای په ځای شوې؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ أعلمـ چې: د ايتونو د نزول په وخت کښې خلک د معاشرتي احکامو او آدابو سره نابلده او ناآشنا وه، نو څه لرې نه وه چې تعميل يې ورباندې ثقيل اودروند تمام شوی وی. نو د دغه ثقل د تخفيف کولو دپاره الله ﷻ د ذکرو شوو احکامو او آدابو په منځکښې څه عقيدوي احکام او د ترغيب او ترهيب ايتونه کېښودل ترڅو ټولو مسلمانانو ته ارشاد وکړي چې تاسو ورباندې د ايمان په قوت سره عمل کولی شئ نو خپل ايمان قوي کړئ چې اجراء کول يې درباندې اسان او تخفيف شي.

مونږ ته په تجربه ثابته شوې ده چې د معاشرتي احکامو او ادابو تعميل د ايمان قوت غواړي ځکه چې د تعميل په صورت کښې سړی د خپلوانو او اقاربو د اعتراضاتو او غُصې لاندې واقع کېږي او ځينې لا ورسره بالکل د ناستې ولاړې څخه لاس اخلي او دښمني ورسره اختياروي او داسې نور.

۳ـ اما د شان نزول په باب يې علماوو کرامو دوه روايتونه ذکر کړي دي[۱]، څه لرې نه ده چې دواړه يې د نزول اسباب وګڼلی شي. هغه دا چې:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ د ضرورت د کبله عمر ﷜ د يوه غلام په ذريعه راوغوښت، غلام هغه ته په ټکنده غرمه کښې ورغی چې نبي کريم ﷺ دې بولي.

دغه غلام عمر ﷜ په داسې حال باندې وليد د کوم په ليدلو باندې چې نوموړی ﷜ خوښ نه شو. د همدې کبله کله يې چې د دعوت اجابت وکړ او د نبي کريم ﷺ په حضور کښې حاضر شو نو عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! کاش چې الله ﷻ مونږ ته داجازې غوښتلو په هکله څه نور اوامر او نواهي هم نازل کړي وی. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ.

ب: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يوه ښځه ورغله ـچې "أسْمَاء بنت مُرْثَد" نومېدهـ او عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! په مونږ باندې زمونږ غلامان او خدمتګاران په داسې حال کښې هم راداخلېږي چې مونږ په هغه حال کښې داخلېدل نه خوښوو. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت نازل کړ، چې حاصل يې په لاندې ډول راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د معاشرتي آدابو او احکامو څه متباقي برخه قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ د الله ﷻ د پلوه مؤمنان مخاطب کړه چې: ای مؤمنانو! تاسو په لاندې ارشاداتو عمل وکړئ:

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په څلورشتو ساتونو کښې درې خله (یا په درېوو وختونو کښې) باید ستاسو مملوکان (وینځې وي او که غلامان) او هغه ماشومان کوم چې لا بالغ شوي نه وي هم بدون د اجازې ځنځه تاسو ته درداخل نه شي. یا په بل عبارت: ذکرو شوو دواړو ډلو ته تعلیم وکړئ او په دغو درېوو وختونو کښې د اجازې اخستل ورزده کړئ او پرې عملي یې کړئ. هغه دا چې:

اول: د سهار د لمانځه څخه وړاندې چې تاسو لا د بسترو څخه نه یاست پورته شوي.

دوهم: د غرمې په وخت کښې چې تاسو د خوب دپاره خپلې جامې غورزولې وي، او د عورت د لوڅېدلو احتمال مو موجود وي.

درېم: د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته چې تاسو د ویده کېدلو دپاره خپل ځانونه چمتو کړي وي او یا ویده یاست.

دغه درې وختونه ستاسو دپاره داسې وختونه دي چې ستاسو د خاصو اندامونو د لوڅېدلو احتمال پکښې شته دی او تاسو نه خوښوئ چې د چا نظر ورباندې ولګېږي، که څه هم هغوی ستاسو مملوکان او یا ماشومان وي.

ب: د دغو درېوو وختونو څخه په غیر نه په تاسو باندې څه ګناه شته چې تعلیم ورته ونه کړئ او نه په هغوی باندې څه باک او پروا شته، چې یا ورته په غُصه شئ او یا یې ورټې.

ج: د ذکرو شوو درېوو وختونو څخه په غیر ځکه په تاسو باندې څه بندیز نشته، چې خدمتګاران په تاسو باندې طواف کوونکي دي او تاسو ته ځي راځي. یا په بل عبارت: خدمتګاران تاسو ته د خدمت د ترسره کولو دپاره تاوېږي راتاوېږي او تاسو هغوی ته د استخدام دپاره په سات ګړۍ کښې اړتیا مونده کوئ، نو که بالفرض په ټولو وختونو کښې د اجازې اخستلو ضرورت واجب وګرځولی شي نو تاسو او هغوی (دواړه ډلې) به په حرج کښې واقع شئ، او الله ﷻ تاسو په حرج کښې نه غورزوي.

۲ـ ای پیغمبره! په دغه ډول دقیقه توګه الله ﷻ د احکامو په نزول کښې ستاسو اړتیاوې مراعاتوي، او په ځرګنده توګه یې درنازلوي، او دا ځکه چې الله ﷻ پوه دی ستاسو ټولې اړتیاوې ورته معلومې دي او هم د حکمت خاوند دی چې په هر یوه حکم کښې یې بې شمېره ګټې او فائدې نغښتې دي.

۳ـ هو! که ستاسو هغه ماشومان (کومو ته چې د درېوو وختونو څخه په غیر د بې اجازې ننوتلو جواز ورکړی شوی وي) بلوغ ته ورسېږي نو بیا دې د نورو بالغانو نارینه وو په شان په ټولو اوقاتو کښې اجازه واخلي، او نه باید تاسو هغوی ته د بې اجازې داخلېدلو اختیار ورکړئ چې دا خو به وړاندې بې اجازې راداخلېدل نو اوس دې هم راداخل شي. یا په بل عبارت: نه دې نوموړي نوي بالغان د خپلو خانونو څخه ماشومان جوړوي او نه ورته باید تاسو د ماشومانو په نظر وګورئ.

۴ـ ای پیغمبره! په دغې دقیقه توګه الله ﷻ ستاسو دپاره خپل احکام بیانوي، او الله ﷻ هم پوه دی او هم د حکمت خاوند دی.

۵ـ ای پیغمبره! بل حکم په خپل اُمت باندې د زړو او سپین سرو زنانه وو په هکله قرائت کړه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومې چې د بوډاتوب څخه داسې مرحلې ته رسېدلې وي چې د نکاح اُمید ورسره نه وي، نه پخپله د جنسي ارتباط سره علاقه لري او نه ورته په همدې ملحوظ د چا تمه پیدا کېږي. هغه دا چې:

الف: په دوی باندې څه ګناه او نیونه نشته چې خپلې اضافه جامې ـلکه جلباب او لویې څادرګانې ـ وغورزوي او په څمکه باندې یې کېږدي.

ب: خو په همدغه حال کښې هم دا شرط ده چې خپل زینت دې د جاهلیت د زمانې غوندې نه ځرګندوي چې خلک ورباندې د بې شرمې ښځې ګومان وکړي او یا ورته د چا تمه پیدا شي، او نه دې په نخرو باندې حرکت کوي.

ج: د لوی حجاب نه اغوستل ذکرو شوو بوډایانو زنانه وو ته جواز لري او ورباندې ګنهګارېږي نه؛ اما که په همدغه حال کښې هم د ځوانانو زنانه وو په شان خپل خانونه په پرده کښې وساتي او بې حجابه بهر ونه وځي نو دا کار ورته بهتر دی، چې نه به پخپله د اتهام لاندې واقع شي او نه به د نارینه وو پام خپلو ځانونو ته راواړوي.

د: الله ﷻ اورېدونکی دی، په دغسې زنانه وو پورې هم چې څوک څه خبره وکړي هغه اوري، او پوه دی، که بوډۍ زنانه د ذکرې شوې اجازې څخه بده استفاده وکړي او په چل سره خپل ځان نارینه وو ته ځرګند کړي نو دا کار ترې هم نه پټېږي او نه یې څوک غولولی شي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النور:۲۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ خطاب که څه هم نارینه وو ته متوجه دی مګر د تغلیب په توګه پکښې زنانه هم شاملې دي، همدارنګه په دې مقام کښې د ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ د نارینه وو خطاب زنانه وو ته هم شامل دی.

۲ـ د ﴿ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا۟ ٱلْحُلُمَ مِنكُمْ ﴾ په ارتباط د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځې راګرځي:

الف: یوه دا چې د [النور:۳۱] ایت په توضیحاتو کښې تېر شوه ـلله ﷻ الحمد والثناء ـ چې بالغ غلام د خپلې مولاګۍ په نسبت د اجانبو غوندې دی او نکاح یې ورته په ابدي توګه حرامه نه ده، نو جائزه نه ده چې د خپلې مولاګۍ محاسن وګوري[۱].

حال دا چې په دې ایت کښې ـچې بحث پکښې روان دی ـ غلام ته حق ورکړی شوی دی چې د درېوو اوقاتو څخه په غیر بدون د اجازې ورداخل شي، نو څه لرې نه ده چې د خپلې مولاګۍ په محاسنو باندې یې سترګې ولګېږي؟

د دې پوښتنې جواب دا دی چې: دلته د ﴿ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ ﴾ څخه هغه غلامان مطلب دي کوم چې لا بلوغ ته نه وي رسېدلي[۲] او دا ځکه لکه څنګه چې بالغ غلام د بالغ اصیل حکم لري

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۱۷
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنگه ماشوم غلام هم د ماشومَ اصیل غوندې دی، نو بدون د اجازې ورننوتل (د درېوو اوقاتو څخه په غیر) دواړو ته جائز دي.

اما پاتې شوې وینځې، نو هغوی هم په همدې حکم کښې په دلالة النص سره شاملې دي.

ب: بله پوښتنه دا ده چې: د ﴿ لِيَسْتَئْذِنكُم ﴾ کلمه د امر کلمه ده چې وجوب فائده کوي، حال دا چې ماشومان (اصیل وي او که کم اصل) مکلف نه دي او خطاب ورته متوجه نه دی؟

د دې جواب دا دی چې: دغه امر په حقیقت کښې بادارانو او پلرونو ته متوجه دی، چې تاسو خپلو ماشومانو ته (اصیل وي او که کم اصل) د اجازې غوښتل ورزده کړئ. لکه چې په یوه حدیث کښې همدې مضمون ته په ورته مضمون باندې صراحت شوی دی هغه دا چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ»[۱] يعنې تاسو خپلو اولادونو ته د لمانځه په ودرولو باندې په داسې حال کښې امر وکړئ چې اوه کلن وي. دغه حديث د [طه:۱۳۲] ايت شريف په توضيحاتو کښې مکمل ليکلی شوی دي، والحمد الله ﷻ.

## د حُلُم د کلمې معنی

۳_ د "حُلُم" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يوسف:۴۴] ايت لاندې شرحه کړې ده چې اصلاً د خوب لېدلو دپاره وضعه شوې ده خو د کنايې په توګه د بلوغ په حال کښې استعمالېږي[۲]؛ شايد چې وجه به يې دا وي چې په دغه حال کښې بنيادم خپل ځان په خوب کښې په جنسي ارتباط باندې مشغول ګوري حتی چې کله لا ورباندې غسل هم واجبېږي.

په دې مقام کښې همدغه د بلوغ کنايي معنی مراده ده، پاتې شوه دا خبره چې په څومره عمر کښې بنيادم بالغ ګڼلی کېږي او مکلفيت ورته متوجه کېږي، نو دا موضوع مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۶] ايت لاندې شرحه کړې ده، که دلته څوک نوره شرحه غواړي نو څينو اوږدو کتابونو[۳] ته دې مراجعه وکړي.

## هېر مو نه شي!

۴_ هېر مو نه شي چې د ﴿ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍ ﴾ معنی په دې مقام کښې هغه نه ده د کومې په هکله چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ»[۴] يعنې اجازه غوښتل تر درې خله پورې دي نو که په دغو درې خلو کښې ورته اجازه ورنه کړه شوه نو بايد چې بېرته وګرځي.

بلکې په دې مقام کښې ترې درې وختونه مراد دي، يعنې ذکر شوي اصيل او کم اصل ماشومان بايد په درېوو وختونو کښې اجازه واخلي: يو د سهار د لمانځه څخه وړاندې، بل په غرمه کښې او

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۱ ص۷۱

(۲) مفردات الراغب ص۱۲۹؛ لسان العرب ج۱۲ ص۱۴۵

(۳) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۳۱

(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۲۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېم د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته؛ او یا په بل عبارت: دغه د ﴿ثَلٰثَ مَرّٰتٍ﴾ کلمه په عین ایت کښې په درېوو وختونو سره تفسیره شوې ده.

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه که څه هم د ﴿اَلْعِشَآءِ﴾ د کلمې اطلاق د ماښام په وخت باندې هم کېږي[1] مگر په دې مقام کښې ترې د ماسخوتن وخت مطلب دی، نه د ماښام. په همدې مطلب باندې د ایتونو سیاق او ﴿ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ﴾ کلمات دلالت کوي، او دا ځکه چې د ماښام وخت خو داسې وخت نه دی چې د ځینو خاصو اندامونو د لوڅولو احتمال پکښې موجودیت ولري.

## ایا د ماشومانو دپاره اجازت اخستل اوس هم ضرور دي؟

۵ـ په دې مسئله کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې: ایا اوس هم لازمه ده چې په دغو درېوو وختونو کښې د بنیادم خپل بچیان (ماشومان) د داخلېدلو دپاره اجازه واخلي او که څنگه؟[2]، مگر مونږ یوازې د عبد الله عباس رضی الله عنهما د دوو قولونو په ذکر باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې:

الف: نوموړی وایي چې: «لَمْ یُؤْمِنْ بِهَا أَكْثَرُ النَّاسِ آیَةَ الْإِذْنِ وَإِنِّي لَآمُرُ جَارِیَتِي هَذِهِ تَسْتَأْذِنُ عَلَيَّ»[3] یعنې یو ایت دی چې اکثرو خلکو ورباندې دعمل د حیثه ایمان نه دی راوړی (عمل یې ورباندې نه دی کړی) چې د "إذن" د ایت څخه عبارت دی، او یقینًا زه خپلې دغې وینځې ته امر کوم چې په ماباندې د داخلېدلو دپاره اجازه واخلي (زه ورباندې عمل کوم).

ب: نوموړی په یوه بل اورېده حدیث کښې وایي چې: «إِنَّ اللهَ حَلِیمٌ رَحِیمٌ بِالْمُؤْمِنِینَ یُحِبُّ السَّتْرَ وَكَانَ النَّاسُ لَیْسَ لِبُیُوتِهِمْ سُتُورٌ وَلَا حِجَالٌ فَرُبَّمَا دَخَلَ الْخَادِمُ أَوِ الْوَلَدُ أَوْ یَتِیمَةُ الرَّجُلِ وَالرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ فَأَمَرَهُمُ اللهُ بِالِاسْتِئْذَانِ فِي تِلْكَ الْعَوْرَاتِ فَجَاءَهُمُ اللهُ بِالسُّتُورِ وَالْخَیْرِ فَلَمْ أَرَ أَحَدًا یَعْمَلُ بِذَلِكَ بَعْدُ»[4] یعنې یقینًا الله ﷻ د حلم خاوند او په مؤمنانو باندې مهربان دی، او ستر (پرده) خوښوي، پخواني خلک وه چې کوټو یې پردې نه درلودې، او نه یې ډولۍ (پټ ځایونه) درلوده، نو ډېر ځله به داسې پېښېدله چې خدمتگار او بچی (او بالآخره) یا د سړي بې پلاره ماشومه (چې په کور کښې به یې اوسېدله) ورباندې په داسې حال کښې ورداخل شوه، چې پخپله سړی به د خپل اهل سره په جنسي ارتباط مشغول وه، نو الله ﷻ دوی ته امر وکړ چې په دغو درېوو د ستر په وختونو کښې اجازه واخلي، نو بیا الله ﷻ خلکو ته پردې او مالونه ورکړه (پراخي یې ورباندې ور وستله) نو ما هیڅوک ونه لیده چې د دې څخه وروسته یې په دغه استیذان باندې عمل کړی وي.

### تبصره

۶ـ د احادیثو ځینې شارحین وایي[5] چې د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د لومړي قول څخه دوهم

---

(۱) مفردات الراغب ص۳٤۷
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۳۰۲
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۳٤۹
(٤) سنن ابي داود ج۲ ص۳۵۰
(۵) بذل المجهود في حل ابي داود ج۲۰ ص۱۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قول ته رجوع کړې ده، او یا دا چې لومړنی قول په ندب (استحباب) باندې او دوهم قول په جواز باندې محمول دی. یا په بل عبارت: هلته یې خلک ملامته کړه چې بدون د پراخۍ څخه یې په ایت شریف باندې عمل نه وه کړی او دلته یې ترې ملامته لرې کړه چې د دوی د پراخیو او پټو ځایونو خاوندان ګرځېدلي وه او څه اړتیا نه وه چې د خپلو بچیانو او ماشومانو خدمتګارانو ته په اجازه اخستلو امر وکړي.

مونږ ته همدا نظر بهتر برېښي چې ذکر شوی استیذان د دې کبله متروک ګرځولی شوی وه چې په وروستنیو وختونو کښې یې موجبات د منځه تللي وه، نو که بالفرض بیا په مسلمانانو باندې پخوانی حال راتاو شي او یا په موجوده وخت کښې د مناطقو په لحاظ ځینې مسلمانان د پخواني حال سره مخامخ وي، نو په هغوی باندې لازمه ده چې د ایت شریف په مقتضی عمل وکړي.

په همدې مطلب باندې د ایتونو لاندې جملې هم دلالت کوي:

الف: په ﴿ ثَلَٰثُ عَوْرَٰتٍ ﴾ کښې د ﴿ عَوْرَٰتٍ ﴾ کلمه اصلاً د هغو اندامونو دپاره وضعه شوې ده د کومو د لوځولو (بربنډولو) څخه چې سړي ته حیاء (شرم) ورځي[1].

په دې مقام کښې د مبالغې په توګه ذکر شوي درېواړه وختونه د ﴿ عَوْرَٰتٍ ﴾ په نامه یاد شوه، یعنې دغه درېواړه وختونه د عورتونو د بربنډولو سره دومره زیات تړاو لري ته به وایې چې پخپله همدغه درې وختونه درې عورتونه دي. نو ای مؤمنانو! که بالفرض په دغو وختونو کښې تاسو د عورتونو بربنډوالي ته نه مجبور کېدلی نو الله ﷻ به پکښې په ماشومانو باندې استیذان نه وی ضرور کړی.

ب: په ﴿ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ﴾ کښې د ﴿ جُنَاحٌ ﴾ کلمه د ګناه او میلان دواړو معنی ورکوي، که د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الْجُنَاحُ" په لحاظ دواړه معناوې مرادې کړی شي نو ډېر ښه تناسب به مونده کړي. یعنې څرنګه چې په دغو وختونو کښې استیذان د ضرورت د کبله صورت نیولی دی نو د دغو درېوو وختونو څخه په غیر په تاسو باندې ګناه نشته چې هغوی ته د استیذان تعلیم ونه کړئ، او په هغوی باندې په توبیخ سره میلان او ملامته نشته چې تاسو ولې بدون د استیذانه راداخل شوئ، ځکه چې ستاسو ضرورت په درېوو وختونو باندې پوره شوی دی نو که تاسو بې ضرورته خپل عورت بربنډوئ هغوی ته د ملامتۍ ګوته نه نیوه کېږي.

ج: په ﴿ طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم ﴾ کښې دې ته اشاره ده که بالفرض ستاسو د اشد ضرورت وجه نه وی نو په هغوی باندې به استیذان بالکل ضروري نه وی ګرځولی شوی ځکه چې هغوی تاسو ته ځي او راځي ته به وایې چې ستاسو څخه طواف کوي، او پوره څرګنده ده چې د طوافیت غوښتنه دا ده چې استیذان ضرور نه کړی شي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ وَالطَّوَّافَاتِ عَلَيْكُمْ»[2] یعنې

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۶۱۷
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پښو پلیته نه ده خکه چې دا د طواف کوونکو نارینه وو او طواف کوونکو ښځینه وو څخه ده.

د: په ﴿بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې طوافیت یوازې هغوی پورې خاص نه دی چې د خدمت د اجراء کولو دپاره ستاسو شاوخوا ګرځي راګرځي. بلکې تاسو ټول ځینې په ځینو نورو باندې طواف کوونکي یاست، حتی تاسو هم اړ یاست چې د خپلو خدمتګارانو او ماشومانو شاوخوا وګرځئ او د خدمت کولو فرمایش ورکړئ، که بالفرض په هغوی باندې په ټولو وختونو کښې استیذان ضرور کړی شوی وی نو تاسو به د زیات حرج او زیاتې ستونزې سره مخامخ شوي وی ترڅو مو د هغوی د موندلو تالاش کولی چې خدمت ورته په ګوته کړئ.

ه: په ﴿وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ کښې د ﴿الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ کلمات په لاندې تفسیرونو سره صورت نیولی شي[1].

اول: د دغو کلماتو څخه هغه کسان مطلب دي کوم چې د دوی څخه وړاندې بلوغ ته رسېدلي وي. یعنې کله چې ماشومان بلوغ ته ورسېږي نو بیا دې خپل خان د ماشومانو د ډلې څخه وباسي او د هغو سړیو غوندې دې په ټولو اوقاتو کښې اجازه اخلي کوم چې د دوی څخه وړاندې بلوغ ته رسیدلي دي، او خپل خانونه دې داسې وګڼي لکه چې لا پخوا بلوغ ته رسېدلي وي او غټ-غټ سړي وي.

دوهم: دلته هغه کسان مطلب دي د کومو د استیذان حکم چې په [النور:۲۷] ایت کښې لا د وړاندې څخه نازل شوی دی. یعنې په دغه صورت کښې دې دوی خپل خانونه د دې ګروپ څخه دباندې وګڼي او په هغه ګروپ کښې دې داخل وشمېري کوم ته چې هلته اشاره شوې ده.

تقریباً دواړه تفسیرونه په مصداق کښې متحد دي.

په ایت شریف کښې د اشارې په توګه مسلمانان په غوږ وهلی شوي دي چې باید ماشومانو ته د بلوغ څخه وروسته د غټو-غټو سړیو په نظر وګوري او داسې دې نه وایي چې دا خو تر پرونه پورې کور ته راننوت نو نن یې ولې ایسار کړو، دا خکه چې هلته په بېل حال وه او اوس په بېل حال دی.

## د دې فرق پېژندل ضروري دي

۷_ که څوک وایي د وړاندې بیان څخه په اثبات ورسېده چې د ضرورت د کبله بدون د اجازې یوه کورته د ماشومانو ورداخلېدل جائز ګرځول شوي دي، او د [النور:۲۹] ایت لاندې وړاندې تېر شو _لله ﷻ الحمد والثناء_ چې بالغو نارینه وو ته هم جائزه ده چې د ضرورت د کبله بدون د اجازې کوم کور ته ورداخل شي، نو پوښتنه دا ده چې: د دواړو ډلو د ضرورتونو څه فرق دی؟

مونږ وایو چې: اصل په ماشومانو کښې عدم استیذان دی. اما استیذان د ضرورت د کبله صورت نیسي، لکه وړاندې درې وختونه. او اصل په بالغو نارینه وو کښې _بالعکس_ استیذان دی اما عدم استیذان د ځینو خاصو مواقعو په لحاظ جواز مونده کوي. لکه چې ځینو صورتونو ته یې د ذکر شوي ایت لاندې اشاره شوې ده.

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۲۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د حجاب د لزوم یو بل دلیل

دا د هر څه څخه وړاندې په ﴿ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ ﴾ الآية، کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "قَوَاعِد" کلمه د "قَاعِدَة" جمعه ده، "قَاعِدَة" هغې زنانه ته وايي کومه چې د اولاد د زېږولو او د حيض لېدلو څخه ناسته وي[1]، خو په دې مقام کښې نوموړې کلمه په ايت شريف کښې تفسير شوې ده چې: ﴿ الَّتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا ﴾ يعنې "قَوَاعِد" هغه زنانه دي چې د نکاح کولو څخه يې د بېر بوډاتوب د کبله تمه قطعه شوې وي، چې څوک به يې په نکاح باندې واخلي، که بالفرض څوک د نکاح اراده وکړي او نور شرعي موانع ونه لري.

ب: په ﴿ فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ ﴾ کښې د "ثياب" کلمه په دې مقام کښې د هغو جامو څخه عبارت نه ده په کومو باندې چې زنانه خپل عورتونه پټوي، او دا ځکه چې د عورت پټول خو په ټولو زنانه وو باندې فرض دي، برابره خبره ده چې ځوانې وي او که بوډۍ، د همدې کبله يې سرلوڅې لمونځ کول جواز نه لري[2]، بلکې دلته ترې هغه لوی څادرونه او ټکري مطلب دي چې د مخ په شمول ټول بدن پټوي، چې په بل ايت کښې ترې د "جَلَابِيب" په کلمه باندې تعبير شوی دی؛ کېدلی شي چې مونږ ترې په حجابونو سره تعبير وکړو او يا ورته د څادريګانو نوم کېږدو.

نو حاصل به يې داسې راووځي چې: په زړو بوډيو زنانه وو باندې ګناه نشته چې حجابونه وغورزوي، بلکې د حجابونو په غورزولو کښې په ځوانو زنانه وو باندې ګناه ده.

ج: په ﴿ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ ﴾ کښې د ﴿ مُتَبَرِّجَاتٍ ﴾ کلمه د "تَبَرُّج" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَبَرُّج" دېته وايي: چې زنانه پرديو نارينه وو ته خپل ډول او سينګار ښکاره کړي[3]، په دې مقام کښې لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

اول: يوه دا چې د هغه ډول او سنګار څخه خپل ځانونه بېخ وساتي کوم چې د نارينه وو توجه جلبوي، چې نه جالبې جامې واغوندي اونه زيورات استعمال کړي.

دوهم: بله دا چې بايد د هغوی ظهور او ښکاره‌دل جالب نه وي، چې په ناز او مکيز سره خبرې اترې وکړي او يا په نخرو سره حرکات او سکنات پيل کړي.

د: په ﴿ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ﴾ کښې د ﴿ يَسْتَعْفِفْنَ ﴾ کلمه د "إِسْتِعْفَاف" څخه اشتقاقه شوې ده، "إِسْتِعْفَاف" دېته وايي: چې څوک د کوم شي څخه خپل ځان پاک وساتي او د ارتکاب څخه يې صبر وکړي[4]، يعنې که د جواز سره‌سره بوډۍ زنانه په عزيمت باندې عمل وکړي او د لويو څادرونو او حجابونو د غورزولو څخه خپل ځانونه پاک او په صبر کښې وساتي، چې د ځوانو زنانه وو په څېر

---

(١) تفسير القاسمي ج١٢ ص٢٣٤؛ مفردات الراغب ص٤٢٤

(٢) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص٣٣٤

(٣) لسان العرب ج٢ ص٢١٢

(٤) لسان العرب ج٩ ص٢٥٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په شرعي چوکاټ کښې خپل ځانونه په پردو کښې وساتي؛ نو دا کار ورته ډېر بهتر دی، چې د يو پلوه د هغو خطراتو څخه بچ کېږي د کومو د امله چې په ګناه کښې د اخته کېدلو امکان دی، او د بله پلوه ورباندې څوک اتهام هم نه شي لګولی چې په زينت سره يې بروز (ځرګندونه) کړې ده او د نارينه وو پام يې خپل ځان ته اړولی دی.

﴿لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُوا۟ مِنۢ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَٰنِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَٰمِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَٰلِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوْ صَدِيقِكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا۟ جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ۚ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾﴾

[۶۱] په ړانده باندې هيڅ حرج (ګناه) نشته او نه په ګوډ باندې څه ګناه شته او (هم) نه په مريض باندې څه ګناه شته او نه (د هغوی په شمول) ستاسو (د روغو رمتيو) په ځانونو باندې (څه ګناه شته په دې کښې) چې د خپلو کورونو (د اولادونو د کورونو) څخه خوراک وکړئ (او) يا د خپلو پلرونو د کورونو څخه (او) يا د خپلو مورګانو د کورونو څخه (او) يا د خپلو ورونړو د کورونو څخه (او) يا د خپلو خويندو د کورونو څخه (او) يا د خپلو ترونړو د کورونو څخه (او) يا د خپلو پلرنيو تروزګانو د کورونو څخه (او) يا د خپلو تروزګانو د کورونو څخه (او) يا د هغو کورونو څخه چې تاسو يې د کونجيګانو (د تصرف) خاوندان ياست، (او بالآخره) يا د خپلو دوستانو (د کورونو) څخه (په دې ټولو کښې درباندې څه حرج اوګناه نشته).

په تاسو باندې (په دې کښې هم) څه ګناه (او ملامته) نشته چې ټول په اجتماعي صورت سره يا په انفرادي صورت سره خوراک وکړئ.

نو کله چې تاسو کورونو ته ورننوتلئ نو په خپلو ځانونو (خپلو وروڼو) باندې (مسنون) سلام واچوئ (هغوی ته تحفه ورکړئ) داسې تحفه چې د الله ﷻ د پلوه (ستاسو دپاره مشروعه کړی شوې ده (او هم) ډېره برکتناکه (او) پاکيزه (سوتره تحفه) ده.

(ای پيغمبره!) په دغه ډول سره الله ﷻ ستاسو دپاره احکام واضحه کوي، شايد چې تاسو د عقل څخه کار واخلئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د ماشومانو ځځه د ځه شرطونو په لحاظ په اجازه غوښتلو کښې او د زړو سپين سرو زنانه وو ځخه د څادري او حجابونو په غورزولو کښې حرج پورته کړی شوی وه. په دې ایتونو کښې د ګوډو او ړوندو او مریضانو په شمول د ټولو مؤمنانو ځخه د خپلوانو په کورونو کښې په خوراک او څښاک باندې بندیز (حرج او ګناه) پورته کړی شوې ده.

۲ـ هلته کورونو ته د ورننوتلو دپاره د اجازو غوښتل مطرح وه او دلته د ننوتلو ځه وروسته د کړو وړو بیان مطرح دی، چې شان نزول او توضیحات یې په لاندې ډول وړاندې کېږي.

## شان نزول او توضیحات

پوره څرګنده ده چې په هر ځای کښې د ایتونو مطالب د شان نزول په ښودلو سره ډېر ښه توضیح کېږي، نو په همدې ملحوظ د دغو ایتونو په توضیحاتو کښې علماوو کرامو تقریبًا اته قوله کړي دي، او د شان نزول متعدد صورتونه يې ورته حکایت کړي دي[1].

۱ـ مګر کوم بیان چې مونږ ـ د الله ﷻ په توفیق ـ په نظر کښې نیولی دی د هغه مهم ټکي دا دي:

الف: په ﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَن تَأْكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمْ ﴾ الآية، کښې د ﴿ أَن تَأْكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمْ ﴾ کلمات په ذکر شوو څلورو واړو صورتونو کښې د حرج (ګناه) دپاره ظرف دی، او ضمير پکښې څلورو واړو ډلو ته راجع دی.

ب: که څه هم په ﴿ أَن تَأْكُلُواْ ﴾ کښې د خطاب ضمير یوازې د ﴿ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ سره تطابق لري او بس، او د نورو درېوو صورتونو دپاره باید "أَنْ يَأكُلُوا" د غیاب په ضمير سره نازل شوی وی، مګر د تغلیب په توګه هغوی هم د خطاب په ضمير کښې شامل ګڼلي شوي دي. د دې ایت مثال کټ مټ په: ﴿ وَقُلْنَا يَـٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ﴾ [البقرة:۳۵] کښې د ﴿ وَكُلَا ﴾ کلمه ده چې د خطاب ضمير پکښې آدم عليه السلام او بي بي حواء رضي الله عنها (دواړو) ته متوجه دی حال دا چې آدم عليه السلام د "یا" په توري مخاطب ګرځېدلی دی اما بي بي حواء رضي الله عنها غائبه ده چې په اسم ظاهر ﴿ وَزَوْجُكَ ﴾ سره ذکره ده، او ټولو اسماء ظاهره وو ته د غیاب ضمير راجع کېږي، نه د خطاب[2].

ج: د ایت شریف د نزول شان داسې وه چې[3]: کله به چې نبي کریم ﷺ کومې غزا ته تلو صحابه کرامو ﷺ به معذورو خلکو، یا خپلو اقاربو او یا خپلو دوستانو ته د خپلو کورونو سرپرستي ورسپارله چې زمونږ د بېرته راستنېدلو پورې تاسو زمونږ کورونه د څارنې لاندې وساتئ، او تاسو

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۳: تفسير البغوي ج۳ ص۳۵۷: احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۳۴: الدر المنثور ج۶ ص۲۲۴: تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۰۵

(۲) شرح ملا جامي في النحو ص۲۱۲

(۳) تفسير الطبري ج۱۸ ص۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته اجازه ده چې زمونږ د کورونو څخه خوراک او څښاک وکړئ. حتی په خپلو کورونو کښې به چې هیڅوک پاتې نه شو نو د هغو کلیګانې به یې ورته هم ورسپارلې. خو د ذکرو شوو اجازو سره-سره به خلیفه ګانو د کورونو څخه نه خوراک کاوه او نه څښاک، او ګومان به یې کاوه چې مونږ به پرې ګنهګار شو، احتمال لري چې مونږ ته یې د مجبوریتونو د کبله اجازې راکړې وي، او قلبًا به وربانديې خوشاله او رضامند نه وه.

د ښه وضاحت دپاره لاندې یو مثال ولولی:

یو خلې الحارث بن عمرو ﷺ د نبي کریم ﷺ سره غزا ته لاړ او په خپل کور باندې یې مالک بن زید ﷺ د خلیفه په حیث وټاکه، نو کله چې هغه د غزا څخه بېرته راستون شو خپل خلیفه یې په ډېر کمزوري او ضعیفه حال کښې ولید؛ نو پوښتنه یې ترې وکړه چې دا ولې؟ خلیفه جواب ورکړ چې: «تَحَرَّجْتُ أَنْ آكُلَ طَعَامَكَ بِغَيْرِ إِذْنِكَ»[1] یعنې ما خپل ځان په حرج کښې واچاوه چې بدون ستا د اجازې څخه ستا د طعام څخه څه وخورم نو ځکه دغسې کمزوری یم (ما ګومان کاوه چې تا به راته په اخلاص اجازه نه وه کړې).

نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او نوموړې اشتباګانې یې جوابې کړې.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۲ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: نظر وړاندېنې تحلیل ته ـ چې لومړنۍ توضیح وربانديې مشتمله ده ـ په کار وه چې ذکر شوی مضمون په "لَيْسَ عَلَى أَنفُسِكُمْ حَرَجٌ" باندې اداء کړی شوی وی، چې د یو پلوه لنډ دی او د بله پلوه معلولینو ته هم شامل دی؟

مونږ وایو چې: په معلولینو ﴿ٱلْأَعْمَىٰ﴾، ﴿ٱلْأَعْرَجِ﴾، ﴿ٱلْمَرِيضِ﴾ باندې ځکه صراحت وکړی شو چې په هغه وخت کښې د خلیفه ګانو ډله په عمده توګه د همدغو معلولینو او معذورینو څخه تشکیلېدله، او څوک چې روغ رمټ وه هغوی په ندرت سره د غزا څخه پاتې کېدل.

د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولی:

اول: د تبوک په غزا کښې نبي کریم ﷺ علي ﷺ په مدینه منوره کښې د خلیفه په توګه پرېښود خو هغه ورته عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ایا ته ما په زنانه وو او ماشومانو کښې د خلیفه په حیث پرېږدې؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى غَيْرَ أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي»[2] یعنې ایا ته نه خوښېږې چې ته زما د پلوه داسې وګرځولی شوې لکه چې هارون د موسی ﷺ څخه په قوم کښې ګرځولی شوی وه (کله چې هغه ﷺ د طور غره ته تللی وه)، بې د دې څخه چې شان دا دی چې زما څخه بعد (په غیر) بل پیغمبر نشته، نو هارون ﷺ پیغمبر وه او ته پیغمبر نه یې.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۵۸

(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۲۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: کعب بن مالک ﷺ د تبوک د غزا څخه پاتې شوی وه، نوموړی په خپله اوږده قیصه کښې وايي چې: زه په دې باندې دهر غمژن کېدلم چې په مدینه منوره کښې زما په نظر نه راتلل مګر هغه څوک چې په هغه باندې به د منافقت طعن لګېدلی وه «أَوْ رَجُلًا مِمَّنْ عَذَرَ اللهُ مِنَ الضُّعَفَاءِ»(۱) او یا هغه سړی چې د هغې ډلې څخه به وه کوم چې الله ﷻ معذورین ګرځولي وه چې د کمزورانو څخه به عبارت وه، لکه ګوډ، ړوند، ماشوم، زنانه او داسې نور.

دریم: انس ﷺ وايي چې: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَوْمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى»(۲) یعنې یقینًا نبي کریم ﷺ عبدالله بن أم مکتوب (په یوه غزا کښې) خلیفه درولی وه چې خلکو ته به یې امامت کاوه، حال دا چې نوموړی صحابي ﷺ په سترګو باندې ړوند وه.

د همدې کبله چې د خلیفه ګانو ډله د اکثریت په حیث د معلولینو څخه تشکیله شوې وه د ﴿ حَرَجٌ ﴾ کلمه د ذکرو شوو درېواړو معلولینو سره جدا-جدا نازله شوې ده، ترڅو هغوی هر یو ښه مطمئن وګرځي، که نه نو یو کرت نزول یې هم د ټولو دپاره کفایت کاوه.

ب: که څوک وايي چې: عین دغه ډول کلمات په بل ایت کښې نازل شوی دی چې: ﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ ﴾ [الفتح:۱۷]، او هلته ترې (بالاتفاق) مراد دا دی چې په دغو کسانو باندې جهاد ته د نه وتلو د کبله څه حرج (او ګناه) نشته. نو پوښتنه دا ده چې تاسو ترې په دې مقام کښې د همغه ایت مضمون ولې مراد نه کړ، حال دا چې د قرآن کریم ځینې ایتونه د ځینو دپاره تفسیر واقع کېږي؟

مونږ وایو چې که څه هم همدغه مضمون په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو مراد کړی دی(۳)، خو مونږ خکه مرجوح (کمزوری) وګڼه چې:

اول: د دغه مضمون سره په دې مقام کښې سیاق او سباق (وړاندې ېبرته) توافق نه لري؛ یا په بل عبارت: په دې تقدیر سره د ایتونو تناسب د منځه ځي او ملغلرې دانه وانه ګرځي.

رښتیا چې ایتونه یو تربله تفسیر واقع کېږي خو شرط پکښې دا دی چې هلته موانع موجودیت ونه لري، او دلته یې عدم تناسب مانع دی.

دوهم: په دې تقدیر باید د "أَنْ لا يَنْفُرُوا" کلمات مقدر کړی شي، او پوره واضحه ده چې تقدیر خلاف الاصل دی، ترڅو چې ورته ضرورت پېښ نه شي باید چې التزام یې ونه کړی شي.

ج: په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ په عوض "وَلَا عَلَيْكُمْ" نازل نه کړی شو، حال دا چې دا عبارت لنډ دی او په معنی کښې یې هم څه قصور نه واقع کېږي؟

مونږ وایو چې: دغه د "أَنفُس" کلمه په دې مقام کښې د معلولینو په مقابل کښې نازله شوې ده،

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۳۴
(۲) سنن ابي داوُد ج۱ ص۸۸
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۲ ص۳۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه به وايي چې داسې: "وَلَا عَلَيْكُمْ أَيُّهَا الْأَصِحَّاءُ" نازل شوی وي چې: ای جوړو (روغو) خلکو په تاسو باندې حرج نشته نو په معلولينو باندې به حرج د کومه راشي.

د: که څوک وايي چې: د ﴿ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی، حال دا چې د خپله کوره خو هرڅوک بلا حرجه (بې ګناه) خوراک او څښاک کوي؟

مونږ وايو چې ـ والله ﷻ أعلم ـ: د ﴿ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ ﴾ نزول په لاندې حکمتونو باندې ولاړ دی:

اول: ترڅو اجازه ورکړی شوو خلکو ته په خوراک او څښاک کښې ترغيب ورکړی شي چې ستاسو د خپلوانو کورونه د اجازې په صورت کښې ستاسو د خپلو کورونو څخه څه کم نه دي.

دوهم: د ﴿ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ ﴾ څخه د سړي د خپلو اولادونو کورونه مطلب دي، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې يوه سړي ته وفرمايل چې: «أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ»[1] يعنې ته او ستا مال (دواړه) د خپل پلار ياست.

ه: که څوک وايي چې: ايا اوس هم جائزه ده چې سړی د هغو د کورونو څخه خوراک او څښاک وکړي د کومو ذکر چې په ايت شريف کښې نازل شوی دی؟

مونږ وايو: هو! د ټولو خپلوانو د دوستانو د کورونو څخه خوراک او څښاک د قيامت تر ورځې پورې جائز دي خو په دې شرط چې د کور خاوند ورته اجازه وکړي، لکه چې همدا شرط په شان نزول کښې په صراحت سره ذکر دی، دغه جواز په دغه شرط سره د نورو خپلوانو کورونو ته هم شامل دی.

## يوه مسئله

۳ـ ځينو علماوو کرامو په ﴿ أَوۡ مَا مَلَكۡتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ ﴾ کښې د "ما" کلمه عامه اخستې ده چې د کورونو څخه علاوه باغونو او دوکانونو ته يې هم شامله ګڼلې ده[2]، نو په همدې تفسير باندې پهره دارانو ته جائزه ده چې د هغه باغ څخه په شرعي معروفه طريقه باندې خوراک او څښاک وکړي کوم چې هغوی ته د حفاظت دپاره په ولکه کښې ورکړی شوی وي. زمونږ په فکر شپانه ته به هم جائزه وي چې د خپل بادار د ګډو څخه په مشروعه طريقې سره شوده نوش جان کړي او داسې نور.

## سوال جواب:

۴ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه وجه ده چې خپلوان د جمعې په کلماتو سره نازل شوه (لکه آباء، أمّهات او داسې نور) خو په ﴿ أَوۡ صَدِيقِكُمۡ ﴾ کښې د "صَدِيق" کلمه مفرده نازله شوې ده؟

مونږ وايو چې: د "صَدِيق" کلمه د "خَلِيْطٌ" د کلمې غوندې په واحد او مثنی بلکې په جمعه باندې يې هم اطلاق کېږي[3]، نو دلته ترې د جمعيت معنی مراده ده او قرينه ورباندې دا ده چې د جمعې ضمير (كُمْ) ته يې اضافت مونډلی دی.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۶۵ : مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۵۹۶
(۲) روح المعاني ج۱۸ ص۲۱۹
(۳) تفسير ابي السعود ج۶ ص۱۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه هم څه لرې نه ده چې په افرادي نزول سره به دې ته هم اشاره وي چې رښتين دوستان ډېر نه وي لکه څنګه چې خپلوان او اقارب ډېر وي.

## أشتات څه معنى؟

۵ـ په ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا﴾ کښې د "أشتات" کلمه د "شتّ" جمعه ده، او "شتّ" يا مصدر دى ـلکه "مَدّ"ـ او يا صفت مشبهٔ دى ـلکه "حَقّ"ـ، په هر تقدير په دې مقام کښې د متفرق (جدا) معنى ورکوي[۱]، يعنې په تاسو باندې په دې کښې څه ګناه نشته چې په اجتماعي صورت (په ګډه) خوراک وکړئ او يا جدا-جدا خواړه وخورئ.

الله ﷻ په ذکر شوي رخصت سره د ډېرو تشويشونو مخه ونيوه کوم چې د خلکو په اذهانو کښې ګرځېدل[۲]. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينو خلکو د معلولينو سره د خوراک او څښاک څخه ډډه کوله چې څه لرې نه ده چې مونږ د هغوى څخه اضافه خوراک او څښاک وکړو او خپل ځانونه ګنهګار کړو[۳].

ب: ځينو معلولينو (ناروغو) خلکو هم د روغو خلکو سره د خوراک او څښاک څخه خپل ځانونه په ځنګول چې لرې نه ده چې هغوى به زمونږ په اشتراک باندې خوښ نه وي او په حرج کښې به يې واقع کړو او يا به د هغوى په نسبت غټې-غټې لمړۍ پورته کړو[۴].

ج: بالآخره د بني کنانه وو په نامه يوه قبيله وه چې بدون د اشتراکه (په انفرادي توګه) ورته خوراک او څښاک ګناه ښکارېده، حتى د خوراک د موجوديت سره-سره به يې لوږه تېرولـه چې څوک مونده شي او په يوه کاسه ورسره کيني[۵].

## دا رخصت دى عزيمت نه دى

۶ـ که څه هم په انفرادي توګه خوراک او څښاک جائز او رخصت دي مګر بهتر او عزيمت دا دى چې په ګډه توګه صورت ونيسي او دا ځکه چې:

الف: يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته يو سړي ورغى او عرض يې وکړ چې: اى د الله رسوله! مونږ ډوډۍ خورو خو مړېږو نه. نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې: ايا تاسو جدا-جدا خوراک کوئ؟ سړي وويلې چې: هو!. نو نبي کريم ﷺ ورته ارشاد وکړ چې: «فَاجْتَمِعُوا عَلَى طَعَامِكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيهِ»[۶] يعنې تاسو په خپل طعام باندې ورټول شئ (په ګډه يې وخورئ) او د الله ﷻ نوم ورباندې ياد کړئ نو الله ﷻ به درته پکښې برکت واچوي (او ورباندې به ماړه شئ).

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۰: تفسير القرطبي ج۱۲ ص۳۱۷
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۴۶۰
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۲۴۳
(۴) التفسير الكبير ج۲۴ ص۳۵: تفسير البغوي ج۳ ص۳۵۷
(۵) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۰۵: اسباب النزول للواحدي ص۲۲۳
(۶) سنن ابن ماجه ص۲۳۶: مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كُلُوا جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا فَإِنَّ الْبَرَكَةَ مَعَ الْجَمَاعَةِ»[۱] يعنې تاسو خوراک په اجتماعي توګه وکړئ او جدا جدا يې مه خورئ ځکه برکت د اجتماعي صورت سره دی.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: که متعدد خلک په يوه دستارخوان باندې کيني چې د خوراکي شيانو ظروف يې هم متحد وي، حال دا چې د هر چا کاسه جدا-جدا وي او هرڅوک يې په جدا-جدا پليټ کنبې را اچوي او جدا-جدا يې خوري، نو پوښتنه دا ده چې ذکر شوی صورت اجتماعي برکتناک صورت دی او که انفرادي جائز صورت؟

مونږ وايو چې: د دغه صورت په هکله ځينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې: "وَمَا أَحْسَنُ عَادَةُ الإِنْفِرَادِ بِالْقِصَاعِ مِمَّا تَطَيَّبَ مَعَ نَفْسِ الْمَرْضَى وَالأَصِحَّاءِ فِي الإِجْتِمَاعِ"[۲] يعنې دغه څومره ښه عادت دی چې صرف کاسې يې جدا-جدا وي (او دستارخوان متحد وي) چې د مريضانو او روغو خلکو دواړو دپاره په اجتماعي خوراک کنبې شمېرل کېږي.

## دوه ډوله تفسير

۸ـ علماوو کرامو دا جمله ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ ﴾ په دوه ډوله تفسيره کړې ده[۳] هغه دا چې:

الف: څرنګه چې ټول مسلمانان د يو جسد مثال لري نو په مسلمان ورور باندې سلام اچول داسې دي لکه چې سړی په خپل ځان باندې سلام واچوي. د همدې اطلاق دپاره د [النور:۱۲] ايت لاندې څو مثالونه هم تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي: چې کله تاسو کورونو ته ورداخل شوئ نو هلته په مسلمانانو اوسېدونکو باندې سلام واچوئ، چې دغه د سلام اچولو طريقه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه د تحفې په حيث ټاکلې شوې ده چې ډېره بابرکته او پاکيزه تحفه ده.

ب: کله چې سړی کوم کور ته داخل شي او هلته څوک موجوديت ونه لري نو په دغه وخت کنبې دې په خپل ځان باندې سلام واچوي چې: "اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ".

مونږ ته لومړنی تفسير په زړه پورې برېښي چې تقريباً په دوهم تفسير باندې مشتمل دی او دا ځکه چې کله سړی په چا باندې سلام واچوي نو په حقيقت کنبې هغه په خپل ځان باندې هم سلام واچاوه، چې بل څوک به په "عَلَيْكُمُ السَّلَامُ" باندې جواب وکړي او سلام اچوونکی به هم د سلام څخه بې برخې پاتې نه شي.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۳۶

(۲) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۲۳۷

(۳) تفسير المظهري ج۶ ص۵۶۳؛ تفسير البغوي ج۳ ص۲۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو نحوي تحلیل

۹ــ په ﴿ فَسَلِّمُوا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً ﴾ کښې باید لاندې نحوي تحلیل په نظر کښې ونیولی شي:

الف: د ﴿ تَحِيَّةً ﴾ کلمه په ﴿ فَسَلِّمُوا ﴾ سره منصوبه ده چې په معنی کښې د "تَسْلِيْم" سره متحده ده. یا په بل عبارت: دا کلمه ورته مفعول مطلق دی[1]، خو په لفظ کښې اختلاف لري او بس.

ب: ﴿ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾ د متعلق (ثابتة) په لحاظ د نوموړې کلمې یو صفت دی.

ج: ﴿ مُبَٰرَكَةً ﴾، ﴿ طَيِّبَةً ﴾ یې دوه نور صفتونه دي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: تاسو په مسلمانانو ورونو باندې سلام واچوئ، تحفه ورکړئ داسې تحفه چې د الله ﷻ د پلوه درته ټاکلې شوې ده، او هم ډېره برکتناکه او پاکیزه (سوتره) تحفه ده.

## سلام اچول مبارکه تحفه ده

۱۰ــ نبي کریم ﷺ د ﴿ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةً طَيِّبَةً ﴾ کلمات په لاندې حدیث کښې ډېر تفسیر کړي دي:

د یوه حدیث مضمون دی چې کله سړی کور ته داخل شي نو د دخول په وخت کښې الله ﷻ یاد کړي (سلام واچوي) او د طعام په وخت کښې هم الله ﷻ یاد کړي ("بِسْمِ الله" ووایي)، نو شیطان (خپلو پیروانو ته) وایي چې: "لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ" یعنې ستاسو دپاره په دې کور کښې نه د شپې تېرولو ځای پاتې شو او نه د شپېنۍ خوراک.

او کله چې داخلېدونکی د دخول په وخت کښې د الله ﷻ نوم یاد نه کړي نو شیطان پیروانو ته وایي چې د شپې ځای مو مونده کړ، او کله چې د خوراک په وخت کښې هم د الله ﷻ نوم یاد نه کړي نو ورته وایي چې: "أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ"[2] تاسو د شپې ځای هم مونده کړ او د شپېنۍ خوراک ځای هم لاس ته درغی.

﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ فَإِذَا ٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمُ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾ لَّا تَجْعَلُوا دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۹۷

(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ ﴿٦٤﴾

[۶۲] يقيناً مؤمنان هغه كسان دي كومو چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پيغمبر ﷺ (رښتيانی) ايمان راوړی وي، او كله چې د پيغمبر ﷺ سره په يوه جامع (اجتماعي) كار باندې مشغول وي نو دوی (ترې) تر هغه نه ځي ترڅو چې د پيغمبر ﷺ څخه اجازه واخلي.

بې شكه هغه كسان چې ستا څخه (ای پيغمبره!) اجازې اخلي دغه كسان همغه كسان دي كوم چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پيغمبر ﷺ باندې (د استمرار په توګه) ايمان راوړي. نو كله چې دوی ستا څخه د خپلو ځينو كارونو (اړتياوو) دپاره اجازه وغوښتله، نو د دوی څخه هغه چاته اجازه وركړه كوم ته چې ستا خوښه شي، او د الله ﷻ څخه ورته مغفرت (هم) وغواړه (ترڅو دوی ښه مطمئن او خوشاله شي).

يقيناً الله ﷻ ښونكی (او) مهربان دی (ښښنې او مهربانۍ به ورباندې وكړي).

[۶۳] (ای مؤمنانو!) تاسو د نبي كريم ﷺ دعوت (او رابلل) په خپلو منځو كښې داسې مه ګرځوئ (مه ګڼئ!) لكه ستاسو د ځينو دعوت ځينو نورو ته (دا عادي بلل نه دي بلكې د الله ﷻ بلل دي).

بې شكه الله ﷻ په هغو كسانو باندې علم لري كوم چې ستاسو د جملې څخه په داسې حال كښې (بدون د اجازې) ښويه وځي چې ځينې كسان ځينې نورو ته ځانونه پناه كوي (او په غلا سره د مجلس څخه وځي).

نو هغه كسان (منافقان) دې وډار شي چې (په چل او پټه سره) د پيغمبر ﷺ د امر څخه مخالفت كوي (او كار ورانولو ته يې ملاوې تړلې وي، البته د دې خبرې څخه) چې دوی ته به (په دنيا كښې) فتنه (مصيبت) ورسېږي او يا به ورته (په آخرت كښې) دردناك عذاب ورسېږي.

[۶۴] (ای خلكو!) خبردار اوسئ چې يقيناً خاص الله ﷻ ته هغه څه دي كوم چې په اسمانونو او ځمكو كښې موجود دي، (او په دې باندې هم اګاه اوسئ چې) يقيناً الله ﷻ په هغه حال باندې پوهېږي چې تاسو ورباندې ياست (اخلاص دی او كه منافقت).

او كله چې دوی (ټول خلك) الله ﷻ ته ورتاو كړی شي نو الله ﷻ به يې په هغو كړو وړو باندې خبر كړي كوم چې دوی (په دنيا كښې) كړي دي، او (دا خكه چې) الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

## ارتباطونه

۱ـ وراندې د داخلېدلو دپاره د اجازې غوښتل او د هغې مربوطات بيان شوي وه، او دا ايتونه د بهرته وتللو دپاره د اجازې په غوښتلو باندې مشتمل دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ هغه د عامو مسلمانانو څخه د اجازې اخستل مطرح وه او دلته خاص د نبي کريم ﷺ څخه د اجازې اخستل مطرح دي.

۳ـ هغه د نبي کريم ﷺ په اطاعت باندې ټول اصولي شوي وه او دلته په همدې ارتباط څه ترغيبي او ترهيبي احکام نازل شوي دي چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

اې پيغمبره! د وړاندېنيو اجتماعي احکامو د قرائت څخه وروسته اوس په خپل امت باندې لاندې ارشادات قرائت کړه:

۱ـ تاسو مؤمنان وپېژنئ، رښتياني مؤمنان هغه کسان دي کوم چې دغه صفات ولري:

الف: چې په اخلاص سره يې په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبر ﷺ ايمان راوړي وي او د منافقت هيڅ ډول پټنېي شتون ونه لري.

ب: کله چې دوی د نبي کريم ﷺ سره په کوم اجتماعي کار باندې مشغول وي ـ لکه جهاد يا د شورا مجلس او يا نور ـ نو دوی بې اجازې اجتماعي کار نه پرېږدي چې په خپل سر ترې لاړ شي، بلکې کله چې دوی ته د تللو کوم ضرورت پېښ شي نو د نبي کريم ﷺ څخه د هر څه څخه وړاندې اجازه غواړي نو که اجازه يې ترلاسه کړه نو لوموړی اجتماعي کار پرېږدي او که نه نو د خپله ځايه حرکت نه کوي.

۲ـ نو اې پيغمبره! تاته د مؤمنانو د استيذان په اړه لاندې ارشادات درکول کېږي:

الف: يقيناً هغه کسان کوم چې اجتماعي کار په خپل سر نه خوشې کوي او ستا څخه د اجازې غوښتل ضرور ګڼي نو همدغه کسانو په رښتيانې توګه په الله ﷻ او د ده ﷻ په پيغمبر ﷺ باندې ايمان راوړی دی، دوی رښتياني مؤمنان دي.

ب: نو کله چې دغو رښتيانيو مؤمنانو ستا څخه د خپلو ځينو کارونو په هکله اجازه وغوښتله نو ته دغه وصايا په پام کښې ونيسه:

اول: ستا چې چاته د اجازې د ورکولو خوښه نه وي هغوی ته اجازه مه ورکوه.

دوهم: او چاته چې ستا خوښه شي نو هغوی ته اجازه ورکړه.

دریم: مګر د اجازې د ورکولو په صورت کښې هغوی ته د الله ﷻ څخه د ګناهونو مغفرت هم وغواړه؛ ترڅو هغوی د يو پلوه ستا په رضامندۍ باندې مطمئن شي چې په اخلاص دې اجازه ورکړې ده، او د بله پلوه پوه شي چې اجازه اخستل که څه هم جواز لري مګر خلاف الاولی (نه ښه) کار خو دی، بايد چې مغفرت ورته وغوښتلی شي.

څلورم: کله چې ته ورته مغفرت وغواړې نو الله ﷻ به ورته مغفرت وکړي او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

۳ـ اې مؤمنانو! تاسو ته د الله ﷻ د پلوه د نبي کريم ﷺ په هکله لاندې ارشادات درکول کېږي:

الف: ستاسو په منځکښې پيغمبر ﷺ څه عادي سړی نه دی، نو تاسو د ده ﷺ بلنه داسې مه ګڼئ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه چې تاسو ځینې کسان ځینو نورو کسانو ته بلنه ورکوي، بلکې د ده ﷺ بلنه په حقیقت کښې د الله ﷻ بلنه ده او د ده ﷺ د بلنې اجابت د الله ﷻ د بلنې اجابت دی.

ب: حال دا چې الله ﷻ ستاسو په ټولو حرکاتو او سکناتو باندې ډېر ښه پوهېږي او هیڅ شی ترې پټ نه شي پاتې کېدلی، په هر ډول اجابت باندې علم لري. نو الله ﷻ په هغو کسانو باندې هم علم لري کوم چې د پیغمبر ﷺ د مجلس څخه بې اجازې ښویه وځي او یا بل کس ته خپل ځان پټوي او د هغه په څنګ کښې بهر ته وځي (د نبي کریم ﷺ د مبارک نظر څخه خپل ځان پنا کوي) او د اطاعت څخه یې په چل سره خپل ځان ګوښه کوي.

ج: نو کوم کسان چې دغه ډول په غلا باندې د نبي کریم ﷺ د مجلس څخه وځي هغوی په واقع کښې د الله ﷻ د امر څخه مخالفت کوي، نو ځکه ورته په کار دي چې د دوه وو سزاګانو څخه وډار شي: یوه دا چې الله ﷻ به وورباندې آفت او مصیبت ورنازل کړي، بله دا چې یا به ورته د الله ﷻ د پلوه په دنیا او آخرت کښې دردناک عذاب ورسېږي. او دا ځکه چې:

د: تاسو خبردار اوسېږئ! چې د اسمانونو او ځمکو بلکې د ټولو مخلوقاتو واکداري یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري، نو هر شي ته چې اراده وکړي هغه کولی شي.

هـ: په دې باندې علاوه په هغو ټولو حالاتو او کیفیاتو باندې پوه دی په کوم باندې چې تاسو ژوند کوئ، نو ستاسو اخلاص او منافقت ورته دواړه معلوم دي، ستاسو په ښکنده توګه ویل او په پټه توګه ویل ورته یو برابر دي.

۴ـ ای پیغمبره! کله چې قیامت قائم او ټول مخلوقات الله ﷻ ته بېرته ورتاو شي نو په هغه وخت کښې به هر څوک په خپلو کړو وړو باندې خبر کړي چې دا کار دې کړی دی او دا کار دې نه دی کړی، ته په دې کښې ګنهګار یې او په دې کښې دې ثواب ګټلی دی.

لنډه دا چې د خلکو څخه خپل اعمال هېرېږي مګر د الله ﷻ څخه د دوی اعمال نه هېرېږي، او الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی چې هیڅ شی د ده ﷻ د کامل علم څخه نه شي وتلی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې په ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ کښې د ﴿ إِنَّمَا ﴾ توري د حصر دپاره دی، نو د مضمون حاصل یې داسې راخېژي چې: د "مؤمن" اطلاق په هغه چا پورې حصر دی کوم چې په الله ﷻ او د ده ﷺ په پیغمبر باندې یې ایمان راوړی وي او هم بدون داجازې څخه جامع کار نه پرېږدي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا هغه څوک مؤمن نه دی چې ایمان یې راوړی وي خو بدون د اجازې جامع کار پرېږدي؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ څخه کامل مؤمنان مراد کړي دي[1]، نو کوم صورت چې په سوال کښې ذکر دی هغه مؤمن دی مګر کامل مؤمن نه دی، یا په بل

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت: دلته د کاملو مؤمنانو حصر مطلب دی نه د مطلقو مؤمنانو، ترڅو اعتراض وارد شي.
مګر کوم جواب چې مونږ ته په زړه پوری برېښي هغه دا دی چې ذکر شوی حصر اضافي حصر دی، یعني هغه مؤمنان چې ذکر شوي دواړه صفات ولري هغوی رښتیاني مؤمنان دي او منافقان نه دي.
په همدې جواب باندې لاندې دلایل دلالت کوي:
الف: په راتلونکي متصل ایت شریف کښې الله ﷻ د همدغو خلکو څخه (چې د جامع کار څخه بې اجازې خپل ځانونه وباسي) داسې تعبیر کړی دی چې: ﴿ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ ﴾. نو دا عبارت په درېو عاداتو باندې مشتمل دی چې درېواړه د منافقت څخه استازیتوب کوي، هغه دا چې:
اول: د ﴿ يَتَسَلَّلُونَ ﴾ کلمه د "تَسَلُّل" ـ لکه "تَكَرُّم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "تَسَلُّل" دېته وضع شوی دی چې یو شي د بل شي څخه ښویه ووځي لکه چې تُوره د خپل تیکي څخه بهر شي[1]. منافقان هم د جامع کار څخه ښویه وتل او د اجازې غوښتل یې د خپلو ځانونو دپاره څه ختل نه ګڼل.
دوهم: د ﴿ لِوَاذًا ﴾ کلمه د "لاوَذَ، يُلاوِذُ" دپاره مصدر دی، او معنی یې دا ده چې یو کس بل کس ته پټ شي او په چل سره د اجتماع څخه ووځي[2]. همدا کار به منافقانو کاوه چې کله به کوم مؤمن اجازه واخستله او د مجلس څخه به پورته شو نو منافق به یې په څنګ کښې خپل ځان پټ کړ ترڅو نبي کريم ﷺ ته څرګند نه شي، او په غلا سره به یې مجلس پرېښووده.
درېیم: د ﴿ يُخَالِفُونَ ﴾ کلمه د "مُخَالَفَة" څخه اخستله شوې ده، "مُخَالَفَة" دېته وایي: چې سړی د بل سړي په ضد کار کوي او په مقابل کښې یې ولاړ وي او تر وسې پورې یې په کار کښې خنډونه اچوي[3].

پوره واضحه ده چې ذکر شوي درېواړه عادات: "تَسَلُّل، لِوَاذ، مُخَالَفَة" د منافقانو عادات وه، چې په هر وخت کښې به یې په کار اچول، خو د خندق په غزا کښې یې ترې ډېر کار اخستی وه.
ب: ځینو علماوو کرامو لیکلي دي[4]: چې کله نبي کريم ﷺ او مؤمنان (صحابه کرام ﷺ) په دغې غزا کښې د خندق په کنودلو مصروف وه نو د منافقانو کار دا وه چې په پټه به پرته د اجازې خپلو کورونو ته تلل او په چل سره به یې د خندق د کنودلو څخه ځانونه په څنګول، اما کله به چې مؤمنانو ته څه اړتیا پېښه شوه نو د هر څه څخه وړاندې به یې د نبي کريم ﷺ څخه اجازه واخستله او بیا به د خپلو اړتیاوو په پوره کولو باندې مشغولېدل، خو مجردې چې خپلې اړتیاوې به یې پوره کړې نو سمدستي به بېرته راستنېدل او په خپل کار (د خندق په کنودلو) به مصروفېدل، نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او د مخلصو مؤمنانو او منافقانو علامات یې په ډاګه کړه.

---

(۱) لسان العرب ج۱۱ ص۳۳۹؛ مفردات الراغب ص۲٤۳
(۲) لسان العرب ج۳ ص۵۰۷
(۳) لسان العرب ج۹ ص۹۰
(٤) الدر المنثور ج۶ ص۲۲۹؛ سیرت ابن هشام ج۳ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جامع کار د کوم کار نوم دئ؟

۲ـ په ﴿ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰٓ أَمۡرٍ جَامِعٍ لَّمۡ يَذۡهَبُوا ﴾ کښې د ﴿ أَمۡرٍ جَامِعٍ ﴾ کلمات علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیر کړي دي[۱]، لکه د جُمعې یا اخترونو لمونځونه او یا د غزا او جهاد د مشورې اجتماع او داسې نور.

زمونږ په فکر علماوو کرامو به د مثالونو په توګه ذکر شوي نومونه اخستي وي او حصر به یې مطلب نه وي؛ دا ځکه چې د ﴿ أَمۡرٍ جَامِعٍ ﴾ مفهوم ډېر عام دی هغه ټول موضوعات پکښې شاملېږي کوم چې د خلکو د اجتماع او غونډېدلو غوښتنه کوي، یا په بل عبارت: هر اجتماعي کار "امر جامع" دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې د قیامت تر ورځې پورې په دغسې اجتماعي کارونو کښې د اشتراک ځخه وروسته بدون د مشرانو د اجازې چرته لاړ نه شي چې په خپل سر د منافقانو غونډې اجتماع پرېږدي.

## اجازه اخستل او سلام اچول

۳ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النور:۲۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د داخلېدلو دپاره د اجازې اخستل باید د سلام اچولو سره پیوسته وي، چې په تقدیم او تاخیر کښې یې علماوو کرامو ځه اختلاف کړی دی. نو په کار دي چې د رخصت کېدو دپاره هم سلام واچولی شي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يَجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ»[۲] یعنې کله چې ستاسو یو نفر کوم مجلس ته ورسېږي نو په اهل المجلس باندې دې سلام واچوي، نو که دا ورته بهتره ځرګنده شوه چې کیني نو کېدې کیني، بیا چې کله د مجلس ځخه پورته شي او غواړي چې لاړ شي نو بیا دې په اهل المجلس باندې سلام واچوي، او دا ځکه چې لومړی حالت خو د وروستني حالت ځخه په سلام اچولو سره زیات مستحق (بهتر) نه دی، بلکې دواړه حالتونه یو برابر دي.

## دعاء الرسول ځه معنی؟

۴ـ په ﴿ لَّا تَجۡعَلُوا دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضًا ﴾ کښې د ﴿ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۳]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ دُعَآءَ ﴾ کلمه مصدر ده او فاعل ته مضافه ده چې لاندې معناوې درلودلی شي:

اول: چې په خپله معنی (رابلل) باندې پرېښودل شي. یعنې تاسو د نبي کریم ﷺ دعوت (رابلل) داسې مه ګڼئ لکه چې تاسو په خپلو منځو کښې یو بل رابلئ، او دا ځکه چې د پیغمبر ﷺ د دعوت اجابت په تاسو باندې واجب دی.

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۲۲۳؛ التفسیر الکبیر ج۲ ص۳۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۰؛ سنن ابي داود ج۲ ص۳۵۱
(۳) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۲۳۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دا کلمه د ښېراوو معنی ورکوي. يعنې د پيغمبر ﷺ ښېراوې د خپلمنځي ښيراوو په څېر مه ګڼئ، د ده ﷺ ښېراوې د الله ﷻ په نزد مقبولې او مستجابې دي، او د بې اجازې پورته کېدلو په صورت کښې د ښېراوو احتمال شته.

ب: دغه کلمه مصدر ده خو خپل مفعول ته مضافه ده. يعنې تاسو په هغه ډول باندې نبي کريم ﷺ ته اواز مه کوئ لکه څنګه چې په خپلو منځو کښې يو تربله اواز کوئ، بلکې په ټيټ اواز او د احترام په القابو سره ورته غږ وکړئ، لکه يا رسول الله! يا نبي الله! او داسې نور.

## تبصره

۵ـ که څه هم ذکر شوي ټول تفسيرونه سره يو تر بله منافات نه لري نو که د ﴿دُعَآءَ﴾ څخه "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الدُّعَاءُ" مراد کړی شي ټولو ته به شموليت مونده کوي، مګر کومه معنی چې د مقام (سياق او سباق) سره پوره تناسب لري هغه دا ده چې دعاء خپل فاعل ته مضافه شي او په خپله اصلي معنی (رابللو) باندې پرېښودله شي، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: تاسو د پيغمبر ﷺ رابلل د خپلمنځي رابللو په شان مه ګڼئ او د ده ﷺ د مجلس څخه رخصت کېدل د خپلو مجالسو څخه د رخصت کېدلو غونډې مه ګڼئ، دا د منافقانو کار دی چې د پيغمبر دعوت ورته عادي دعوت (رابلل) برېښي او د ده ﷺ څخه رخصت کېدل ورته عادي رخصت کېدل ځرګندېږي؛ تاسو د هغوی خاصيت مه خپلوئ.

په همدې ځای د الله ﷻ په توفيق د "النور" سورت پښتو ترجمه او تفسير ختم شو.
۱۳۷۸/۶/۱۱ هـ ش.

Scanned by CamScanner

# الفرقان (۲۵)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم د لومړي ایت څخه اخستلی شوی دی چې د ﴿ ٱلۡفُرۡقَانَ ﴾ کلمه پکښې نازله شوې ده.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د ایتونو شمېره یې اوه اویاوو (۷۷) ته رسیږي[1].

ب: د کلمو شمېر یې اته سوه دوه اویا (۸۷۲) دی، او د حرفونو شمېره یې درې زره اوه سوه اتیا (۳۷۸۰) ده[2].

۳ـ د دې سورت ټول ایتونه د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي ایتونه دي چې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي، مګر په درېوو ایتونو کښې یې څه اختلاف شته چې د ځینو علماوو کرامو په نزد مدني ایتونه دي چې د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي. دا درې ایتونه د ﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ﴾ څخه پیل کېږي او په ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ باندې ختمېږي.

## د دې سورت محتویات

۴ـ که څه هم قرآن کریم د الله ﷻ کتاب دی او غیر متناهي علوم پکښې نغښتل شوي دي نو د بندګانو د توان څخه وتلې ده چې د کوم سورت محتویات تشخیص کړي، مګر مونږ د مثال په توګه لیکو چې په دې سورت کښې لاندې مضامین هم مونږ ته ارشاد شوي دي:

الف: د الله ﷻ د وحدانیت دلایل پکښې نازل شوي دي.

ب: د نبي کریم ﷺ په نبوت باندې د کفارو اعتراضات پکښې رد شوي دي.

ج: د قیامت د ورځې ځینو حالاتو ته پکښې هم اشاره شوې ده.

د: او هم پکښې د مخلصو مؤمنانو څه اختصاصي صفات بیان شوي دي او داسې نور.

## د دواړو سورتونو ارتباط

۵ـ څرنګه چې د عقیدې او عمل ارتباط د نوک او د اورۍ مثال لري نو:

الف: د "النُّور" په سورت کښې غټه برخه په احکامو پورې نښتې وه او په دې سورت (الفُرقان) کښې د عقیدې په تصحیح باندې زیات زور اچولی شوی دی.

ب: هلته هم نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې وه او په تېره بیا د "إفك" د پېښې بیان یې په زیات توقیر او تسلۍ باندې مشتمل وه، او په دې سورت کښې هم نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکول د نظره نه دي غورزولی شوي او داسې نور.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۴ ص۴۲۳

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۴ ص۴۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴿١﴾ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ
فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴿٢﴾ وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا
يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱] هغه اقدس ذات (ﷻ) ډېر زيات برکتناک (او د نعمتونو خاوند) دی چې په خپل (خاص) بنده (محمد ﷺ) باندې يې د دې دپاره فُرقان (قرآن) نازل کړی دی ترڅو د ټولو عالمونو (پېريانو او انسانانو) دپاره (د قيامت تر ورځې پورې د الله ﷻ له عذابه) ډارووونکې شي.

[۲] هغه اقدس ذات (ﷻ) چې خاص همده ﷻ ته د اسمانونو او ځمکو ملکيت دی، او نه يې ولد نيولی دی او نه ورته په ملکيت (او واکدارۍ) کښې شريک شته او (بالآخره) هر شی يې پيدا کړی دی، نو په اندازه کړی يې دی اندازه کول.

[۳] او (د دې سره-سره) مشرکانو د همده ﷻ څخه په غير داسې معبودان نيولي دي چې هيڅ شی نه شي پيدا کولی حال دا چې دوی (پخپله د الله ﷻ د پلوه) پيدا کړی شوي دي، او (همدارنګه) دوی د خپلو ځانونو دپاره نه د ضرر توان لري (چې مخه يې ونيسي) او نه د ګټې (چې خپلو ځانونو ته يې راکش کړي)، او (په دې باندې علاوه) نه د مرګ توان لري (چې څوک مړ کړي) او نه د ژوند (چې چاته ژوند ورکړي) او (حتی) نه د بېرته راپورته کولو (راژوندي کولو وسه لري).

## ارتباطونه

۱ـ د وړاندېنۍ سورت (النور) په وروستنيو ايتونو کښې د نبي کريم ﷺ په اطاعت باندې زور اچولی شوی وه چې په عدم اطاعت کښې يې د دنيا او آخرت مصيبتونه نغښتې دي، د دې سورت (الفرقان) په لومړني ايت کښې د اطاعت د فرضيت وجې ته اشاره شوې ده.

۲ـ هلته په وروستني ايت کښې دا مضمون هم شامل وه چې الله ﷻ د هر شي مالک دی او په هر شي باندې پوهېږي، دلته همدغه مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې دغه مطالب قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ هغه اقدس ذات ډېر برکتناک دی او د دوام په توګه ټولې ښېګنې وړپورې اختصاص لري چې په خپل بنده (محمد ﷺ) باندې يې داسې کتاب نازل کړی دی چې حق د باطل څخه په ډاګه جدا کوي د خلکو ټول مشکلات حل کوي. البته دا کتاب يې د دې دپاره وړباندې ورنازل کړی دی چې ټولو عالمونو ته ډاروونکی وګرځي، يا په بل عبارت: د همدغه کتاب د تنزيل د کبله يې د همده ﷻ اطاعت د قيامت تر ورځې پورې په ټولو عالمونو باندې واجب او فرض ګرځولی دی.

۲ـ په دې باندې علاوه همدغه اقدس ذات دا صفات هم لري:

الف: خاص همده ﷻ پورې د اسمانونو او ځمکو واکداري اختصاص لري، هر شی د همده ﷻ په اراده باندې ځرخېږي او بس.

ب: همدا اقدس ذات ﷻ د ولديت څخه پاک او منزه دی چې نه زېږولی شوی دی او نه يې څه شی زېږولی دی، او نه ورسره ولديت مناسبت لري.

ج: همدا اقدس ذات ﷻ په واکدارۍ کښې هيڅوک او هيڅ شی شريک نه لري او نه ورسره د شريک موجوديت لياقت لري. او دا ځکه چې:

د: هر شی همده ﷻ پيدا کړی دی نو ټول موجودات د همده ﷻ مخلوقات دي، ايا مخلوق د خپل خالق سره اشتراک درلودلی شي؟

هـ: په دې باندې علاوه هر شی يې په ډېره دقيقه توګه په اندازه کړی دی، د هر شي حدود يې ټاکلي دي، چې هيڅ شی د خپلو ټاکلو حدودو څخه نه شي وتلی.

يا په بل عبارت: هر شي ته يې خاصه څېره او خاص عادت ورکړی دی، د هر شي د حيات موده او د خوراک او څښاک نوعيت يې ورته ټاکلی دی، او داسې نور.

۳ـ خو د ذکر شوي بيان سره-سره مشرکان په خپلو شرکياتو باندې کلک دي، او خپلو باطلو معبودانو ته په تقدس او اشتراک قائل دي، نو دوی د الله ﷻ څخه په غير داسې معبودان نيولي دي چې:

الف: هيڅ شی نه شي پيدا کولی او نه کوم شي ته حدود ټاکلی شي، بلکې همدغه معبودان پخپله د الله ﷻ د جانبه پيدا کړی شوي دي او له هره حيثه محدود ګرځولی شوي دي.

ب: دغه معبودان د خپلو ځانونو دپاره نه د تاوان د مخنيوي قدرت لري او نه د ګټې د رسولو وسه لري، نو پوره واضحه ده چې د خپلو عابدينو دپاره خو هرومرو د خير او شر دواړو څخه عاجز دي.

ج: د دغو باطلو معبودانو په لاس کښې نه مرګ شته او نه ژوند چې چاته يې ورکړي او يا يې د چا څخه واخلي، او نه دا توان لري چې د قبرونو څخه څوک راپورته کړي او يا يې د راپورته کولو مخه ونيسي، چې د حساب کتاب څخه يې بچ کړي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ ﴾ کښې د ﴿ تَبَارَكَ ﴾ کلمه اصلاً د "بَرَكَة" څخه اشتقاقه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي ده چې د خير او ښېګڼي (نعمتونو) د زيادت معنى ورکوي[1]، خو کله چې همدغه "بَرَكَة" مصدر د "تفاعل" باب ته واړولی شي نو په زينت ډېر او بې شمېره ډېروالي او زيادت باندې دلالت کوي، چې د الله ﷻ څخه په غير د بل هيچا سره مناسبت نه لري، د همدې کبله دغه کلمه په الله ﷻ پورې اختصاص موندلی دی[2]، لکه چې فرمايي: ﴿وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ﴾ [النحل:۱۸] يعنې که تاسو چېرته قصد وکړئ چې د الله ﷻ نعمتونه وشمېرئ نو انتهاء (پای) ته به يې ونه شئ رسولی.

## فرقان څه معنی؟

په ذکر شوي ايت شريف کښې قرآن کريم ته د "فُرْقَان" لقب ورکړی شوی دی، دغه کلمه د "فَرَقَ يَفْرُقُ" دپاره مصدر ده[3] چې په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه معناوو سره تفسيره کړې ده[4]:

الف: دا قرآن کريم داسې کتاب دی چې د قيامت تر ورځې پورې حق او باطل سره جدا کوي او که څوک پکښې اشتباه کوي د هغه اشتباه پورته کوي. نو د فارق معنى يې ورکړه.

ب: دا قرآن کريم داسې کتاب دی چې په درويشتو کلونو کښې ټکړه-ټکړه نازل کړی شوی دی. په دې تقدير مصدر د اسم مفعول (جدا کړی شوي) په معنی سره کېږي.

څينو علماوو کرامو په دې مقام کښې دوهمې معنی ته ترجيح ورکړې ده[5] مګر زمونږ په فکر د "مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ الْفُرْقَانُ" په تاويل سره د دواړو معناوو اراده کول هم څه منافات نه لري، او داځکه قرآن کريم لکه څنګه چې د حق او باطل ترمنځ جدايي راولي همدارنګه ټوټه-ټوټه هم نازل شوی دی لکه چې راتلونکی [۳۲] ايت ورباندې دلالت کوي.

## عَالَم څه معنی؟

۲_ په ﴿لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾ کښې د "عَالَمِين" کلمه د تغليب په توګه د "عَالَم" _لکه "خَاتَم"_ جمعه ده، "عَالَم" د الله ﷻ څخه په غير د ډېرو مختلفو النوع مخلوقاتو دپاره وضعه شوی دی، خو کله چې جمعه کړی شي، لکه چې په دې مقام کښې د جمعيت په ډول نازل شوی دی، نو بيا ترې ډېر متحد النوع مخلوقات مرادېږي اما په مختلفو انواعو باندې يې جمعيت دلالت کوي[6].

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې د ذکرې شوې قاعدې په بنياد د "الْعَالَمِين" کلمه خو مختلفو مخلوقاتو ته شاملېږي لکه پرښتې، حيوانات او داسې نور. نو پوښتنه دا ده چې: ايا نبي کريم ﷺ د پېريانو او انسانانو څخه په غير نورو مخلوقاتو ته هم د پيغمبر په صفت استولی شوی دی؟

---

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۳۹۵
(۲) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۵
(۳) اضواء البيان ج۶ ص۲۶۴
(۴) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۱۴۶
(۵) تفسير المراغي ج۱۸ ص۱۴۶
(۶) لسان العرب ج۱۲ ص۴۲۱؛ مفردات الراغب ص۴۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه يوازې پيريان او بنيادمان مراد دي، دا ځکه چې همدوی مکلفيت لري او نور مخلوقات په اختياري عبادت باندې مکلف نه دي. په همدې مطلب باندې د ﴿ نَذِيرًا ﴾ کلمه دلالت کوي، يعنې د الله ﷻ د پراخه نعمتونو څخه يو د ېر عظيم الشان نعمت دا دی چې په خپل بنده باندې يې قرآن کريم د دې دپاره نازل کړی دی چې مکلفو مخلوقاتو ته د الله ﷻ د عذابونو څخه ډاروونکی وګرځي.

پاتې شوه دا خبره چې د نبي کريم ﷺ رسالت د قيامت تر ورځې پورې ټولو پيريانو او بنيادمانو ته شامل دی، نو دا موضوع ـ د الله ﷻ په توفيق ـ د [الأنعام:۱۹] ايت لاندې تېره شوې ده چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو، خو په دې مقام کښې وربانډې هم ځينو علماوو کرامو څه بحث کړی دی[۱] که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## يادونه

۴ـ که څوک غواړي چې په ﴿ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا ﴾ کښې د هغو دقيقو اندازو څه مثالونه ولولي کومې چې الله ﷻ د خپلو مخلوقاتو په پيدايښت کښې مراعات کړې دي، نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲]، دا لنډ تفسير يې دلته د رانقلولو توان نه لري.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٌ ٱفۡتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَۖ فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا ﴿٤﴾ وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ﴿٥﴾ قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٦﴾ وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ﴿٧﴾ أَوۡ يُلۡقَىٰٓ إِلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٞ يَأۡكُلُ مِنۡهَاۚ وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلٗا مَّسۡحُورًا ﴿٨﴾ ٱنظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُواْ لَكَ ٱلۡأَمۡثَٰلَ فَضَلُّواْ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ سَبِيلٗا ﴿٩﴾ ﴾

[۴] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی وايي چې: دغه (قرآن کريم) نه دی مګر دروغ دي چې هغه (د نبوت مدعي) د خپله ځانه افتراء کړي (تړلي) دي، او يوه بل قوم (ډلې) ورسره وربانډې (په جوړولو کښې) کومک کړی دی.

---

(۱) روح المعاني ج۱۸ ص۲۳۱

(۲) الجواهر للطنطاوي ج۱۲ ص۱۵۳؛ تفسير نمونه ج۱۵ ص۱۱؛ في ظلال القرآن ج۵ ص۲۵۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو بې شکه دوی (کفارو) په ظلم سره او په دروغو سره راتګ وکړ (دوی غټ دروغ جوړ کړه).
[۵] او همدوی (کفار) وايي چې (دا قرآن کریم بل شی نه دی مګر) د پخوانیو قومونو قیصي دي، چې هغه (د نبوت مدعي) یې د لیکلو غوښتنه کړې ده نو دا (لیکلی شوي قیصي) په هغه (د نبوت په مدعي) باندې (د حفظ دپاره) سبا او بیګا لوستلی کېږي (ترڅو یې حفظ کړي او بیا یې خلکو ته د اسماني کتاب په توګه وړاندې کړي).
[۶] (ای پیغمبره!) ته (ورته) ووایه چې: دا (قرآن کریم دروغین کلام نه دی بلکې) هغه اقدس ذات (ﷻ په حقه) نازل کړی دی چې په اسمانونو او ځمکو کښې په پټو (شیانو) باندې پوهېږي (او د همدغو غیبي علومو ښېلګې پکښې د ورایه برېښي). یقیناً همدغه اقدس ذات (ﷻ) ښښونکی (او مهربان دی (نو تاسو ته اوس هم د توبې فرصت شته دی).
[۷] او کفار (دا هم) وايي چې: دغه پیغمبر (د نبوت مدعي) ته څه دي چې (زمونږ غوندې) په بازارونو کښې ګرځي؟ ولې نوموړي ته پرښته رالېښکته نه کړی شوه چې د نوموړي سره ډارووونکې ګرځېدلې وی.
[۸] یا ولې نوموړي ته خزانه (د غیبو څخه) ور ونه غورزولې شوه؟ یا ولې هغه ته داسې (امتیازي) باغ نشته چې هغه ترې خوراک وکړي؟
او (بلکې) ظالمان (مشرکان یو تربله) وايي چې: (د نوموړي د پیروی په صورت کښې) تاسو پیروي نه کوئ مګر د یوه سړي چې جادو کړی شوی دی (او عقل ورپاتې نه دی).
[۹] (ای پیغمبره!) وګوره! چې تاته څنګه مثالونه ولې (بیانوي، او په یوه خبره باندې نه ودرېږي) نو دوی لاره ورکه کړه نو (په آینده کښې به هم) د (سمې) لارې د موندلو توان ونه لري.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دې ته هم شامل وه چې الله ﷻ په خپل مخلص او عظیم الشان بنده (محمد ﷺ) باندې عظیم الشان نعمت (قرآن کریم) ورنازل کړی دی ترڅو ټول عالمونه د الهي عذاب (دوزخ) څخه وډار کړي. په دې ایتونو کښې د کفارو عکس العمل ته اشاره شوې ده چې د یو پلوه د عظیم الشان نعمت ناشکري او سپکاوی کوي او د بله پلوه یې د عظیم الشان بنده تکذیب او توهین ته بډې وهلې دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې د مشرکانو هغو ناشکریو او سپکاویو بیان قرائت کړه د کومو چې دوی د عظیم الشان نعمت او عظیم الشان بنده په هکله مرتکب شوي دي، هغه دا چې:
۱_ مشرکان او کفار د قرآن کریم په هکله وایي چې:
الف: دا کتاب نه دی مګر دروغین کتاب دی او په رښتیا سره د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی، بلکې هغه چا د خپله خانه جوړ کړی دی کوم چې د نبوت مدعی دی او په دې باندې علاوه څینو نورو خلکو ورسره د همدغه کتاب په جوړولو کښې کومک کړی دی.



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای پیغمبره! یقینًا دا کتاب د الله ﷻ د پلوه حقاني کتاب دی او یقینًا دغه کتاب ته د دروغو نسبت کول لوی ظلم او لوی دروغ دي، یا په بل عبارت: دا کتاب دروغین کتاب نه دی بلکې د مشرکانو تهمتونه دروغین او ظلمونه دي، دا کتاب پخپله د خپل خان تصدیق کوي چې ټول فصحاء او بلغاء د هغه په مثل د یوه ایت د جوړولو څخه عاجزان دي، نو دغسې کتاب ته د دروغو نسبت کول خومره لوی ظلم دی؟!

ب: مشرکان وايي چې: دا کتاب (قرآن) په حقائقو باندې مشتمل نه دی بلکې فقط د پخوانیو خلکو دقیصو یوه مجموعه ده، چې دا قیصې د نبوت مدعي په چا باندې لیکلي دي او په وړاندې یې پرتې دي او یا یې په خپل ذهن کښې ساتلي دي، او خپلو پیروانو ته یې درګرده زده کوي چې د هغوی د پلوه ورباندې سبا او بېګا قرائت کېږي ترڅو یې نوموړی د یو پلوه غلطۍ تصحیح کړي او د بل پلوه ورباندې نورې قیصې وراضافه کړي.

ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې: دا کتاب په حقائقو باندې مشتمل دی او د لومړنیو او آخرنیو غیبي علوم پکښې راغونډ شوي دي، دا ځکه چې دا کتاب هغه اقدس ذات (ﷻ) نازل کړی دی چې په اسمانونو او ځمکو کښې په پټو اسرارو باندې پوهېږي، تاسو خو لږ څه د زړه سترګې بېرته کړئ او په دقت سره ورته وګورئ چې واقعیت وپېژنئ. نو که دغه کار وکړئ (په حقائقو اعتراف وکړئ) نو الله ﷻ به تاسو په پخوانیو کفریاتو باندې ونه نیسي او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

۲ـ مشرکان او کفار د پیغمبر ﷺ په هکله د نه منلو په غرض لاندې بهانې تراشي:

الف: چې دغه کس کوم چې د نبوت مدعي دی ولې زمونږ غوندې خوراک او څښاک کوي او ولې د رزق د موندلو دپاره په بازارونو کښې ګرځي راګرځي؟ نو کله چې د نوموړي کړه وړه زمونږ څخه څه تفاوت نه لري نو مونږ د ده په نبوت باندې هم باور نه شو کولی، ایا دا عجیبه نه ده چې هغه دې پیغمبر وي او مونږ دې عادي خلک اوسو؟

ب: که بالفرض نوموړی پیغمبر وی نو په کار وه چې یوه پرښته ورسره په دغې دنده کښې ملګرې وی او د خلکو په دعوت او انذار کښې یې ورسره اشتراک درلودی. نو که هغه په خپله دعوه کښې ربښتینی وي نه دغه کار ورسره ولې صورت ونه نیوه؟

ج: که نوموړی ربښتیانی پیغمبر وی نو په ده باندې به د غیبو خزانه نازله شوې وی او له دې څخه به یې بې پروا کړې وی چې د رزق موندلو دپاره کار او کسب وکړي، نو دا کار ولې ونه کړی شو؟

د: که دا هم ونه شوه نو په کار وه چې د شام او عراق د باغونو غوندې یو خاص باغ یې درلودی چې په مختلفو میوجاتو باندې ډک وی، چې د نبوت مدعي د همغه باغ څخه خوراک او څښاک کولی او د مشقت څخه خلاص وی. الله ﷻ خو قدرت لري چې همدغسې سمسور باغ ته د مکې په وچه کانګړه ځمکه کښې صورت ورکړي؛ نو پوښتنه دا ده که بالفرض نوموړی په خپله دعوه کښې صادق وی نو دغه کار ولې ونه شو؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: بالآخره ذکر شوي ظالمان (کفار) وايي چې: دغه کس چې د نبوت مدعي دی بل څوک نه دی مګر يو جادو کړی شوی سړی دی، چې دماغ يې خراب شوي دي او اوتې بوتې وايي، ايا مونږ د عقل خاوندان د دغسې بې مغزه او بې حقيقته (د ليونيانو په خبرو) باندې عقيده وکړو؟

۳_ ای پيغمبره! وګوره! چې مشرکان ستا دپاره څنګه مثالونه بيانوي او د ايمان نه راوړلو دپاره څنګه پلمې جوړوي، بلکې هرڅوک چې د عقل څخه کار واخلي هغه به ضرور پوه شي چې د هغوی يوه خبره هم د واقعيت بنياد نه لري او دا ځکه چې:

الف: پخوانيو پيغمبرانو هم ستا غوندې خوراک او څښاک کاوه او په بازارونو کښې د کار او کسب دپاره ګرځېدل راګرځېدل.

ب: د هغوی د يوه پيغمبر سره هم پرښته په ډاګه او څرګنده توګه نه وه لېږلې شوې.

ج: هغوی يوه هم نه غيبي خزانه درلوده او نه يې امتيازي باغ درلود.

د: اما دا خبره (چې دا جادو کړی شوی او ليونی دی) پخپله همدوی ته هم دروغ برېښي خو د عناد د کبله ورباندې قول کوي، که نه نو دوی ته همدا سوال متوجه کېږي چې: ايا تاسو ټول د ليوني د يوې خبرې مقابله هم نه شئ کولی؟ ايا ليونی ستاسو څخه په فصاحت او بلاغت کښې زيات دی؟ او داسې نور.

نو حقيقيت دا دی چې مشرکانو قصداً لاره پرېښودله نو دوی به هيڅکله د حقې لارې د موندلو توان مونده نه کړي او همېشه به په غلطه لاره روان وي.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَ ﴾ کښې د ﴿ قَوۡمٌ ءَاخَرُونَ ﴾ کلمات د کوم قوم څخه عبارت دي (هغوی څوک وه چې مشرکانو د نبي کريم ﷺ دپاره اُستاذان ټاکلي وه)؟

مونږ وايو چې: په دې هکله مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النحل:۱۰۳] ايت لاندې څه وضاحت ليکلی دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، فقط دومره ليکو چې دغه _د هغوی په ګومان_ استاذان ټول اعجميان وه او د اهل الکتابو څخه وه.

## د إکتتاب او املاء معناوې

۲_ په ﴿ وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا ﴾ کښې د "اکۡتَتَبَ" کلمه د "اِکۡتِتَاب" څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصلي مجرد يې "کِتَابَة" دی، "اِکۡتِتَاب" دېته وايي چې يو سړی د بل چا څخه وغواړي چې د کوم حاجت په هکله ورته ليکنه وکړي[۱].

او په ﴿ فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ ﴾ کښې د ﴿ تُمۡلَىٰ ﴾ کلمه د "اِمۡلاءُ" څخه اخستله شوې ده، "اِمۡلاءُ" دې ته وضعه شوې ده چې په کاتب باندې د ليکلو دپاره څه مضمون قرائت کړی شي[۲].

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۶۹۸
(۲) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۴۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي

۳_ هېر مو نه شي چې په ذکر شوي عبارت کښې د "عَلَيْهِ" ضمير نبي کريم ﷺ ته راجع دی، او د "هِيَ" ضمير د ﴿أَسَـٰطِيرُ﴾ کلمې ته راجع دی خو لاندې حيثيتونه لري:

الف: چې هغه "أَسَاطِير" ته راجع شي چې د کتابة څخه وړاندې وي. نو په دې تقدير د املاء نسبت نبي کريم ﷺ ته د مجاز په توګه صورت نيسي ځکه چې _د مشرکانو په زعم_ کاتب ته همده امر کړی وه چې قيصې وليکي»[1]. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: مشرکان وايي چې دا کتاب د پخوانيو د قيصو مجموعه ده چې د نبوت مدعي يې په کتابة باندې امر کوي، نو د ده په کاتب باندې سبا او بېګا د ليکلو دپاره قرائت کېږي او بيا يې نوموړی مدعي په خلکو باندې لولوي چې دا د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی.

ب: چې نوموړی د "هِيَ" ضمير هغه "أَسَاطِير" ته راجع وګڼلی شي کوم چې د کتابة څخه وروسته د يوه کتاب په شکل ګرځېدلی وي. نو په دې تقدير د قرائت دپاره لوستل د مجاز په توګه د املا (د کتابت دپاره لوستل) په نامه ياد شوي دي[2]. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: مشرکان وايي چې بيا دغه د قيصو جوړ کړی شوی کتاب د نبوت په مدعي باندې سبا او بېګاه د دې دپاره قرائت کېږي ترڅو يې نوموړی حفظ کړي او د اسماني کتاب په نوم باندې يې خلکو ته وړاندې کړي چې زه پيغمبر يم او دا الهي کتاب دی.

که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري مګر مونږ ته دوهم تفسير په زړه پورې برېښي چې په تبادر سره ذهن ته راځي.

## يوه نحوي خبره

۴_ په ﴿أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ﴾ کښې د ﴿يُلْقَىٰ﴾، ﴿تَكُونُ﴾ دواړه کلمې مرفوع دي او په ﴿لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ﴾ کښې په ﴿أُنزِلَ﴾ باندې عطفې دي چې د ﴿لَوْلَآ﴾ څخه دواړه لاندې دي او په تحضيض (تېزولو) کښې شاملې دي، دا ځکه چې د ﴿أُنزِلَ﴾ کلمه که څه هم ماضي ده خو په معنی کښې مضارع ده[3] يعنې داسې ولې نه کېږي چې د نبوت په مدعي باندې يا پرښته نازله شي او يا ورته خزانه ورکړی شي او بالآخره يا يو باغ ولري.

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًۢا ﴿١٠﴾ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلسَّاعَةِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴿١١﴾

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۰۳

(۲) تفسير الکشاف ج۳ ص۲۶۴

(۳) اللباب في علوم الکتاب ج۱۲ ص۴۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾ وَإِذَآ أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا
مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾ لَّا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا
﴿١٤﴾ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾
لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۰] هغه اقدس ذات (ﷻ) ډېر برکتناک (او د نعمتونو خاوند) دی، چې که اراده یې وشي تاته به (په دې دنیا کښې) د هغه (دنیاوي باغ) څخه ډېر بهتر باغونه وګرځوي (درکړي) چې لاندې ترې ویالې بهېږي، او هم به درته (په دنیا کښې) بنګلې وګرځوي (درکړي).

[۱۱] بلکې مشرکان قیامت ته د دروغو نسبت کوي، او مونږ د هغه چا دپاره سوزونکی (دوزخ) تیار کړی دی څوک چې قیامت ته د دروغو نسبت کوي.

[۱۲] کله چې (نوموړی) دوزخ د لرې ځای څخه کفار وګوري نو (کفارو ته به ډېر په غُصه شي او) دوی به د هغه د ډېرې غُصې (اثار) او تېز اواز (غړنبېدل) واوري.

[۱۳] او کله چې کفار د دوزخ څخه په یوه تنګ ځای کښې ولچک (او غوراب) کړی شوي واچولی شي، نو دوی به هلته هلاکت (او حسرت) وروبلي (چې راشه همدا دې وخت دی).

[۱۴] (خو دوی ته به وویلی شي چې) تاسو نن ورځ یو هلاکت (او حسرت) مه دربلئ او (بلکې ډېر هلاکتونه (او حسرتونه) دروبلئ (چې عذابونه مو ډېر او متنوع دي).

[۱۵] (ای پیغمبره!) ته (کفارو ته) ووایه چې: دغه (دوزخ) بهتر دی او که هغه د همېشوالي جنت (بهتر دی) د کوم وعده چې د متقیانو سره کړی شوې ده؟.

دا جنت د دوی دپاره (د عملونو) جزا ده او د بېرته ورګرځېدلو ځای دی.

[۱۶] متقیانو لره په جنت کښې هغه شیان دي کوم چې دوی یې غواړي، حال دا چې دوی به (هلته) همېشه وي. (ای پیغمبره! دغه د جنت ورکړه) ستا په رب ﷻ باندې غوښتله شوې وعده ده (چې هرومرو به یې پوره کوي).

## ارتباط او شان نزول

د دې ایتونو ارتباط د شان نزول په روایت کښې نغښتی دی هغه دا دی چې:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د یوه اوږده حدیث څه لنډ غونډې مضمون دی[۱]، چې کله مشرکانو د ایمان د نه راوړلو دپاره بهانه ونیوله او ویې ویلې چې دغه پیغمبر ولې زمونږ غونډې خوراک او څښاک کوي او زمونږ غونډې د رزق د پلټنې پسې په بازارونو کښې ګرځي راګرځي (په اصطلاح که

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۴؛ الدر المنثور ج۶ ص۲۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوموړی ربښتیانی پیغمبر وی نو دغه کار ته به یې څه اړتیا نه درلودی بلکې یا به د غیبي خزانې او یا د امتیازي باغ درلودونکی وی).

نو نبي کریم ﷺ ډېر غمژن شو او د تسلی دپاره یې الله ﷻ دا ایت نازل کړ چې: ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِیٓ إِن شَآءَ ﴾ تر آخره پورې، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ته د کافرانو په ستغو سپورو خبرو باندې مه غمژن کېږه او خپل خان په لاندې مطالبو باندې متسلي او ډاډه کړه چې:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې که اراده یې وشي د هغو باغونو څخه به تاته په دنیا کښې بهتر باغونه درکړي د کومو ذکر چې مشرکان د بهانو نیولو په غرض وړاندې کوي، چې لاندې به ترې ځلور ویالې بهېږي او همدارنګه به دلته په دنیا کښې ډېرې اوچتې بنګلې او محلونه هم درکړي، او بالآخره د هغې خزانې څخه بهترې خزانې به هم درکړي کومې چې هغوی ته ډېرې بهترې برېښي، او دا ځکه چې ټول نعمتونه د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي او همدی ﷻ د ډېرو زیاتو برکاتو او خیرونو خاوند دی.

۲ـ خو په یاد ولره که الله ﷻ د مشرکانو فرمایشات عملي هم کړي او څه چې دوی ستا د پاره غواړي هغه تاته درکړي هم، نو دوی به ایمان رانه وړي، او دا ځکه چې د دوی فرمایشات د یقین موندلو په غرض صورت نه نیسي بلکې په دې غرض صورت نیسي چې دوی د قیامت د ورځې تکذیب کوي او تر هغه به ایمان رانه وړي چې ترڅو قیامت په خپلو سترګو وګوري، خو هلته به ورته ایمان راوړل هیڅ ګټه ونه شي رسولی او دا ځکه چې هلته مونږ د دغسې تکذیب کوونکو دپاره دوزخ تیار کړی دی چې صفات یې دا دي:

الف: کله چې دوزخ د قیامت د ورځې څخه انکار کوونکي د لرې څخه وګوري نو ډېر به ورته په غُصه شي او په غړېدلو به ورته شروع وکړي، او دوی به دغه غُصه او غړېدل لا د ورایه واوري او د خوف او ډار د کبله به ترې زړونه وباسي.

ب: خو بیا چې کله همدغه منکرین په دوزخ کښې وروغورزولی شي او د هر طرفه وربانديې تعذیب پیل وکړي او په یوه تنګ ځای کښې واچولی شي او بالآخره د یو پلوه غوراب او ولچک کړي شي او د بل پلوه ځینې منکران د ځینو نورو سره د اور په زنځیرونو کښې وتړلی شي، نو په همدغه حال کښې به د هلاکت او مرګ غوښتنه وکړي.

ج: مګر دوی ته به په جواب کښې وویلی شي چې تاسو د یوه هلاکت او یوه مرګ سوال مه کوئ بلکې د ډېرو مرګونو او هلاکتونو غوښتنه وکړئ، او دا ځکه چې ستاسو تعذیب همدا یو ډول نه دی بلکې ډېر ډولونه لري چې د هر یوه څخه ستاسو دپاره مرګ بهتر او غوره دی، مګر په یاد ولرئ چې تاسو به په دغه دوزخ کښې همېشه یاست او په دوامداره توګه به پکښې کړېږئ. چې نه به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پکښې مرۍ اونه به پکښې ژوند کولی شي؛

۳ـ ای پیغمبره! اوس نو کفار مخاطب کړه او پوښتنه ترې وکړه چې: ای کفارو! ایا دغه عذابونه بهتر دي چې ستاسو دپاره په قیامت کښې تیار کړی شوي دي او که هغه دائمي جنت بهتر دی د کوم چې جنتیانو (متقیانو) ته وعده ورکړه شوې ده؟

الف: د متقیانو دغه وعده ضرور هرومرو پوره کېدونکې ده، چې دا د همدوی د تقوی جزا ټاکلې شوې ده او همدا ورته د بېرته ورګرځېدلو ځای تیار کړی شوی دی.

ب: جنتیانو ته به په دغه جنتونو کښې هغه څه تیار وي کومو ته چې د دوی اراده کېږي او کوم چې د دوی زړونه غواړي.

ج: دا وعده به ضرور پوره کړی شي او دا ځکه چې ستا رب ﷻ دا وعده په خپل اقدس ذات باندې د فضل او لطف د مخې حتمي ګرځولې ده، چې په همدغې وعدې باندې وفاء کول به د قیامت په ورځ مؤمنان هم غواړي او پرښتې به هم سوال کوي چې: ای ربه! مؤمنانو ته وعده کړی شوي جنتونه تفضلاً ورکړه.

## توضیحات

۱ـ نبي کریم ﷺ دا ایت شریف: ﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِيٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيۡرٗا مِّن ذَٰلِكَ﴾ الآية، ډېر ښه تفسیر کړی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ سره جبرائیل ؑ ناست وه چې د الله ﷻ د پلوه یوه بله پرښته راغله او عرض یې وکړ چې: ای پیغمبره! زه ستا رب ﷻ رالېږلی یم چې «أَفَمَلِكًا نَبِيًّا يَجْعَلُكَ أَوْ عَبْدًا رَسُولًا» یعنې چې تا پاچا پیغمبر جوړ کړي او که بنده پیغمبر (چې پاچاهي ونه لري)؟.

نو نبي کریم ﷺ ته جبرائیل ؑ اشاره وکړه چې تواضع غوره کړه. نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «بَلْ عَبْدًا رَسُولًا»[۱] یعنې زه غواړم چې خپل رب ﷻ مې بنده پیغمبر وګرځوي چې پاچاهي ونه لرم. نو که بالفرض پاچاهي یې غوښتې وی نو دستي به پاچا پیغمبر ګرځېدلی وی.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا قُلْتُ لَا يَا رَبِّ وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا» (الحديث)[۲] یعنې ماته خپل رب ﷻ دا خبره راوړاندې کړه چې ماته د مکې معظمې شګې سره زر وګرځوي، نو ما دا خبره قبوله نه کړه او ومې ویلې چې: ای زما ربه! زه دغه نه غواړم مګر دا غواړم چې یوه ورځ موړ شم او ستا شکر اداء کړم او بله ورځ وږی شم او تاته زاری وکړم او یاد دې کړم.

## ایا دوزخ لیدل کولی شي؟

۲ـ که څوک وایي چې په ﴿إِذَا رَأَتۡهُم مِّن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ﴾ کښې د ﴿رَأَتۡهُم﴾ مستتر ضمیر "سَعِير"

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۱۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(دوزخ) ته راجع دی، نو پوښتنه دا ده چې: ایا دوزخ لیدل کولی شي؟

مونږ وایو: ځینو علماوو کرامو خو په دې مقام کښې رؤیة (لیدل) د ظهور څخه کنایه اخستی دی[۱]، مگر بهتره دا ده چې په جواب کښې وویلی شي چې: هو! دوزخ لیدل کولی شي او څه ضرورت نشته چې ایت شریف ته تاویل ورکړو. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: مونږ ـ د الله ﷻ په توفیق ـ د [إبراهیم:۱٦] ایت لاندې د نبي کریم ﷺ یو اورېد حدیث رانقل کړی دی چې د قیامت په ورځ به د اور څخه یوه غاړه (برخه) راووځي چې: «لَهُ عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ»[۲] یعنې دوه سترگې به لري چې لیدل به کوي او دوه غوږونه به لري چې اورېدل به کوي او ژبه به لري چې خبرې به کوي.

ب: په یوه اوږده حدیث کښې د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! وَهَلْ لِجَهَنَّمَ مِنْ عَيْنٍ؟» یعنې: ای د الله ﷻ پیغمبره! او ایا دوزخ هم کومه سترگه لري؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ، أَمَا سَمِعْتُمُ اللهَ يَقُولُ ﴿ إِذَا رَأَتْهُمْ ﴾ الآيَة»[۳] هو! ایا تاسو د الله ﷻ څخه نه اورئ چې فرمایي: ﴿ إِذَا رَأَتْهُم ﴾ الآية-؟! یعنې کله چې دوزخ د لرې څخه کفار وگوري.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په ﴿ سَمِعُواْ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴾ کښې د "تَغَيُّظًا" او "زَفِيرًا" دواړه کلمې د ﴿ سَمِعُوا ﴾ دپاره مفعول واقع شوې دي حال دا چې د "زَفِير" کلمه خو د شدید اواز دپاره وضعه شوې ده[۴] چې اورېدل کېږي، اما د "تَغَيُّظ" د کلمې اصلي توري خو د "غَيْظ" څخه دي چې د غضب یا د شدید غضب معنی ورکوي[۵]، نو پوښتنه دا ده چې: غضب خو نه اورېدل کېږي نو ایا د نوموړې کلمې دپاره مفعول واقع کېدلی شي؟

مونږ وایو چې: دغه سوال ته ځینو علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[٦] خو بهتر جواب دا دی چې: "اَلتَّغَيُّظُ إِظْهَارُ الْغَيْظِ وَقَدْ يَكُوْنُ مَعَ صَوْتٍ مَسْمُوْعٍ"[۷] "تَغَيُّظ" د غُصې (غضب) د څرگندولو څخه عبارت دی چې دا ځرگندونه کله د اورېدل شوي اواز سره وي.

## یادونه

۴ـ په ﴿ مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ ﴾ کښې د ﴿ مُقَرَّنِينَ ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [إبراهیم:۴۹] ایت

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۲۵۲.
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵
(۳) الدر المنثور ج٦ ص۲۳۸؛ مسند الشامیین للطبراني ج۸ ص۳۲۰
(۴) تفسیر البغوي ج۲ص۴۰۱
(۵) القاموس المحیط ج۳ ص۴۳۴
(٦) اللباب في علوم الکتاب ج۱۲ ص۴۸۸
(۷) مفردات الراغب ص۳۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې تفسیره شوې ده چې دوزخیان به په دوزخ کښې ولچک او غوراب کړی شي او یا به متماثل کفار په زنځیرونو کښې وتړلی شي. نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

## ثُبور څخه معنی؟

۵ـ په ﴿ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴾، ﴿ ثُبُورًا وَاحِدًا ﴾، ﴿ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴾ کښې د "ثُبور" کلمه هلاک او زیان او هم حسرت ته وضعه شوې ده. یعنې کله چې دوزخیان په دوزخ کښې واچولی شي نو هغوی به ناري کړې چې "وَاثُبوراه" ای زمونږ هلاکه او حسرته! راشه چې همدا دې وخت دی. نو دوی ته به د حسرت د زیاتولو دپاره وویلی شي چې تاسو یوه هلاک او یوه حسرت ته غږ مه کوئ بلکې ډېرو هلاکونو او حسرتونو ته اواز وکړئ چې د یو پلوه ستاسو عذاب دائمي دی او د بله پلوه نور عذابونه (لکه مار، او لړم) هم در روان دي.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وایي چې: په ﴿ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ کښې په "ذَٰلِكَ" سره "سَعِير" (دوزخ) ته اشاره ده، چې سراسري شر دی او هیڅ ښېګڼه پکښې نشته، حال دا چې د ﴿ خَيْرٌ ﴾ د کلمې غوښتنه دا ده چې څه ښېګڼه دې ولري مګر د جنت د ښېګڼو څخه لږه؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۲۷۱] ایت لاندې لیکلی شوي دي چې د "خَيْر" کلمه کله-کله د تفضیلي معنی څخه ویستله کېږي او صرف په ښېګڼه باندې دلالت کوي، چې دلته تري ویستلې شوې ده، نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ته کفارو تهووایه چې: ایا دغه دوزخ ښه دی چې هیڅ ښېګڼه پکښې نشته او که جنت ښه دی چې سراسري د ښېګڼو څخه ډک دی.

د دې ډول استعمال نظیر دا دی چې: "اَلْعَسَلُ أَحْلَى مِنَ الْخَلِّ" شات د سرکې څخه ډېر خواږه دي؛ حال دا چې په سرکه کښې هیڅ خوږوالی نشته، یا دا چې: "فُلَانٌ أَسْمَعُ مِنَ الْجِدَارِ" فلانکی د دېوال څخه ښه اورېدونکی دی؛ حال دا چې دېوال بالکل د اورېدلو صلاحیت نه لري.

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ
هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ
وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا
تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا
﴿١٩﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْأَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾

[۱۷] په کومه ورځ چې الله ﷻ مشرکان او هغه (شیان یا کسان) حشر کړي د کومو چې دوی د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوي، نو (دغو معبودانو ته به) ووايي چې: ایا تاسو زما دغه بندګان بې لارې کړي وه او که دوی پخپله لاره ورکه کړې وه؟

[۱۸] معبودان به ووايي چې: (ای الله!) تاته (د شرک څخه) پاکي ده، مونږ ته مناسب نه دي چې ستا څخه په غیر څه دوستان ونیسو (او خپل عبادت ته يې راوبلو چې بې لارې شي، نو دوی مونږ نه دي بې لارې کړي) مګر (د ګمراهۍ وجه يې دا ده چې) دوی او د دوی پلرونو ته تا (د دنیا) ګټې وټې ورکړې وې (او دوی ورباندې وغولېده) آن تر دې چې (شرعي) پند (قرآن کریم) يې هېر کړ، او دوی (ستا په علم او ازلي قضاء کښې) هلاک شوی قوم وه.

[۱۹] نو (د دغه جواب څخه وروسته به مشرکان مخاطب کړی شي چې) ستاسو معبودانو خو ستاسو هغې خبرې ته د دروغو نسبت وکړ کومه چې تاسو به ویل (چې دوی آلهه او معبودان دي). نو (نن ورځ) تاسو وسه نه لرئ چې (د عذاب مخه د خپلو ځانونو څخه) واړوئ او نه د نصرت (وسه لرئ چې څه کومکیان مونده کړئ).

او (ای مکلفو انسانانو!) هرڅوک چې ستاسو څخه ظلم وکړي (او کفر غوره کړي) نو هغه ته به مونږ لوی عذاب وروڅکو.

[۲۰] او (ای پیغمبره!) مونږ ستا څخه وړاندې هیڅ پیغمبران نه دي استولي مګر (داسې حال به يې درلود) چې یقینًا دوی به (ستا غوندې) خوراک (او څښاک) کاوه او (هم به ستا غوندې) په بازارونو کښې ګرځېدل.

او مونږ تاسو (ټول انسانان) ځینې د ځینو نورو دپاره امتحان ګرځولي یاست (چې په دغه امتحان کښې کامیابي په صبر سره صورت نیسي)، ایا تاسو صبر کوئ؟.

او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ (د ټولو انسانانو په حالاتو باندې) بینا دی (نو هر چاته به موافقه جزا یا سزا ورکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو غوندې د نبي کریم ﷺ تسلي او ډاډینې ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ته د کفارو په نادودو باندې مه غمژن کېږه او د خپلې ډاډینې دپاره لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسه او خپل ځان ورباندې متسلي کړه:

۱ ـ داسې وخت ضرور راتلونکی دی چې د مشرکانو باطل معبودان به د همدوی څخه خپله بېزاري او برائت اعلان کړي؛ د ښه وضاحت دپاره لاندې سوال جواب قرائت کړه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کله چې الله ﷻ ټول کفار او هغه شیان چې دوی یې د الله ﷻ څخه پرته عبادت کوي راغونډ کړي نو د دوی د معبودانو څخه به پوښتنه وکړي او ورته به ووایي چې: ایا زما دغه بنده ګان (چې ما پیدا کړي دي او ما ورته پیغمبران وراستولي وه) تاسو زما د لارې څخه بې لارې کړي وه، او که دوی پخپله حقه او سمه لاره ورکه کړې وه؟

ب: معبودان به په جواب کښې ووایي چې:

اول: ای زمونږ ربه! تاته د دې خبرې څخه پاکي ده چې په عبادت کښې ته څوک شریک ولرې.

دوهم: مونږ ستا مخلوق یاستو، مونږ ته مناسبه نه ده چې ستا څخه په غیر دوستان ونیسو او خپل عبادت ته یې راوبولو (په لوی لاس یې د سمې لارې څخه واړوو).

دریم: ای زمونږ ربه! د دغو کفارو د کفر وجه دا نه وه چې د هدایت اسباب ورته نه وه رسیدلي او یا ورته پیغمبران نه وه ورغلي، بلکې وجه یې دا وه چې دوی په مادي نعمتونو کښې غرق شوه، البته هغه نعمتونه چې دوی ته او د دوی پلرونو ته تا ورکړي وه، نو د آخرت څخه یې په غفلت کښې واچول او معنوي نعمتونه یې ټول د پښنو لاندې کړه، دوی ته په کار وه چې د دواړو ډولونو نعمتونو څخه یې استفاده کړې وی او ستا شکریه یې اداء کړې وی خو دوی دا کار ونه کړ، آن تر دې چې ستا هدایت یې هېر کړ او خپل ځانونه یې د هلاکت په کنده کښې واچول لکه څنګه چې دوی ستا په ازلي علم او ازلي قضاء کښې هلاک شوی قوم وه.

۲_ نو د معبودانو د ذکر شوي جواب څخه وروسته به د الله ﷻ د پلوه همدا کفار (مشرکان) مخاطب کړی شي چې:

الف: ای کفارو! دغه دی چې ستاسو په وړاندې تاسو خپله معبودانو تکذیب کړئ او ستاسو هغه خبرې یې ټولې دروغ کړې چې تاسو ته یې د عبادت بلنه درکړې وه، او یا یې ستاسو د شفاعت کولو کومه وعده کړې وه.

ب: نو نن ورځ تاسو د خپل نجات دپاره هیڅ وسیله نه لرئ، په تاسو کښې دا توان نشته چې یا د عذاب مخه د خپلو ځانونو څخه واړوئ او یا د خپلو ځانونو د نصرت دپاره کوم نصرت کوونکی او مددګار مونده کړئ.

ج: نو د همدې کبله به نن ورځ مونږ هغه چاته ډېر لوی عذاب وروڅکو او پرې اخته به یې کړو کومو چې په دنیا کښې ظلم کړی وه او کفر یې غوره کړی وه.

۳_ ای پیغمبره! مونږ ستا څخه وړاندې پیغمبران په داسې حال نه وه استولي چې خوراک او څښاک به یې نه کاوه او په بازارونو کښې به نه ګرځېدل، بلکې هغوی خوراک او څښاک کاوه او په بازارونو کښې به هم ګرځېدل راګرځېدل. نو ته هم د هغوی د جملې څخه یو پیغمبر یې نو ته به هم د هغوی غوندې خوراک او څښاک کوې او په بازارونو کښې به هم ګرځې راګرځې، نو دا کارونه نه د نبوت سره منافات لري او نه لیاقت لري چې کفار یې د ایمان د نه راوړلو دپاره پلمه جوړه کړي.

۴_ ای پیغمبره! الله ﷻ دا کولی شي چې د کفارو ژوند ته خاتمه ورکړي خو دا کار څکه نه کوي چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دنیا د امتحان میدان دی، په دې میدان کښې تاسو ټول یو تربله د امتحان لاندې واقع کېږئ مثلاً:
الف: تاسو (پیغمبران) د کفارو دپاره امتحان یاست چې په تاسو ایمان راوړي او که نه.
ب: کفار ستاسو دپاره امتحان دي چې تاسو د هغوی اذیتونه او سپورو ستغو خبرو باندې صبر کوئ او که نه.
ج: همدارنګه د ټولو بنیادمانو مختلف طبقات څینې د څینو نورو دپاره امتحان او ازمېښت دی، نو د قیامت په ورځ به هر چاته د امتحان نتیجه په لاس ورکړی شي، نو ایا تاسو صبر کوئ؟ بلکې تاسو همدغسې خپل صبر ته ادامه ورکړئ.
او بې شکه ستا رب ﷻ د هر چا په کارونو او د هر چا په کړو وړو بینا دی، چې هیڅ شی ترې نه پټېږي او نه ترې پټېدلی شي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ ﴾ کښې د "أَنتُمْ" په کلمه باندې به د قیامت په ورځ د مشرکانو معبودان مخاطب کړی شي، اما په دې کښې اختلاف دی چې دا معبودان به کوم-کوم وي. لاندې مثالونه یې ولولئ:
الف: څینې وایي چې ذکر شوی استنطاق به جماداتو معبودانو ته راجع کړی شي او په قدرتي توګه به هغوی سوال جواب وکړي، لکه چې هلته به پښې او لاسونه خبرې وکړي.
ب: جمهور علماء کرام په دې قول باندې کلک دي چې دا استنطاق به پرښتو او هغو پیغمبرانو ته راجع کړی شي د کومو چې کفارو عبادت کړی وه، په همدې قول باندې لاندې ایتونه هم دلالت کوي:
اول: ﴿ قَالُوا سُبْحَانَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ﴾ [سبأ: ۴۱] یعنې کله چې الله ﷻ ټول کفار د قیامت په ورځ راغونډ کړي نو بیا به پرښتو ته ووایي چې: ایا دغو کفارو ستاسو عبادت کاوه؟ پرښتې به ووایي چې: ای الله! تاته د دې څخه پاکي ده چې مونږ درسره په عبادت کښې خپل ځانونه شریک کړو، ته خو د دوی څخه په غیر زمونږ دوست یې، که بالفرض دا کار مونږ کړی وی نو بیا خو به ته زمونږ دوست نه وې.
دوهم: ﴿ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ ﴾ [المائدة: ۱۱۶] یعنې د قیامت په ورځ به الله ﷻ عیسی علیه السلام ته ووایي چې: ایا تا خلکو ته ویلي وه چې ما او زما مور دواړه د الله ﷻ څخه په غیر دوه معبودان ونیسئ؟ عیسی به ووایي چې: ای الله! تاته د شریک څخه پاکي ده، ماته مناسب نه دي چې داسې خبره وکړم کومه چې ناحقه وي (دا خبره ناحقه او باطله ده چې ما به خپل عبادت ته خلک رابللي وي).

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي چې د قیامت په ورځ به د ټولو معبودانو څخه ذکره شوې پوښتنه وکړی شي که څه هم هغوی په دنیا کښې جمادات وي، نو مرحله په مرحله د ټولو اراده کول هیڅ منافات نه لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "بُور" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَكَانُواْ قَوْمًۢا بُورًا ﴾ کښې د "بُور" کلمه د "بَارَ، يَبُورُ، بواراً" څخه د "بائر" (اسم فاعل) جمعه ده؛ او ځينې وايي چې نوموړې کلمه (بُور) هم د همدغه باب دپاره مصدر ده چې مفرد، مثنی او جمعه پکښې درېواړه يو برابر دي[۱]. نو د "بوار" يا "بُور" کلمه د هلاکت معنی ورکوي[۲] چې په دې مقام کښې ترې معنوي هلاکت مطلب دی، يعنې معبودان به د الله ﷻ په حضور کښې عرض وړاندې کړي چې: ای الله! دغو کفارو ته ستا د نعمتونو څخه بلاګانې او مصيبتونه جوړ شوه، چې ستا د پلوه دوی ته او هم د دوی پلرونو ته ورکړی شوي وه نو دوی يې شکريه ونه کړه او خپل ځانونه يې ورباندې په معنوي هلاکت سره هلاک کړه.

## دنيا د امتحان ميدان دی

۴ـ ځينې علماء کرام وايي چې په ﴿ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ﴾ کښې ټول انسانان مخاطب ګرځولي شوي دي[۳]، يعنې په ټولو زمانو کښې د انسانانو د حالاتو بدلون رابدلون د امتحاناتو په حيث صورت نيسي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه د نظره تېر کړئ:

الف: په ټولو زمانو کښې د وخت پيغمبر د خلکو دپاره د امتحان په حيث استولی شوی وه چې ايمان ورباندې راوړي او که نه؟ بالمقابل د هر پيغمبر دپاره د خپلې زمانې خلکو د امتحان حيثيت درلود چې الهي احکام ورته په څه ډول سره رسوي؟.

همدا مضمون نبي کريم ﷺ په قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه حکايت کړی دی چې: «إِنَّمَا بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ»[۴] يعنې ای پيغمبره! يقيناً ته ما د دې دپاره د پيغمبر په حيث مبعوث کړی يې ترڅو تا امتحان کړم او په تا سره نور خلک هم امتحان کړم.

د همدې کبله د قيامت په ورځ د دواړو ډلو څخه پوښتنه کېږي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [الأعراف:۶] يعنې نو ضرور هرومرو به مونږ د هغو خلکو څخه پوښتنه وکړو کومو ته چې پيغمبران وراستولی شوي وه او ضرور هرومرو به د پيغمبرانو څخه هم پوښتنه وکړو.

ب: کفار د مؤمنانو دپاره امتحان دی چې ايا د هغوی څخه متاثر کېږي چې په دين کښې ورسره مداهنت وکړي او که نه؟ او بالعکس مؤمنان د کفارو دپاره امتحان دي چې د حقارت په نظر ورته ګوري او که ځنګه؟ همدې ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضْحَكُونَ ﴾ [المطففين:۲۹] يعنې کله چې د قيامت په ورځ مؤمنانو ته نعمتونه ورکړی شي

---

(۱) مفردات الراغب ص۶۲
(۲) لسان العرب ج۴ ص۸۶
(۳) تفسير الطبري ج۱۸ ص۱۹۴
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۳۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د نعمتونو ورکړې وجه به داسې وښودله شي چې: يقيناً هغه کسان کومو چې جرم (کفر) اختيار کړی وه په دنيا کښې يې د هغو کسانو څخه خندنې او مسخرې کولې کومو چې ايمان اختيار کړی وه، نو څکه نن ورځ دوی ته بهترې ورکړې شوه.

ج: غنيان د فقيرانو دپاره امتحان دی چې مواسات (خواخوږي) ورسره کوي او که نه، او فقيران د غنيانو په هکله امتحان دي چې د دوی په مال او متاع باندې رخه او حسد کوي او که نه.

د: همدارنګه روغ او ناروغ او هم عالم او جاهل بلکې ټول ګروپونه يو تربله امتحان دی، نو په کار دي چې سړی په دنيا کښې په مختلفو حالاتو باندې سرسري تېر نه شي او ډېر په زير سره ورته وګوري، او هم په کار دي چې د خپل ځان او د خپل محيط په هکله د الله ﷻ څخه همېشه په ډار کښې اوسي.

## ډېر بهتر علاج او تداوي

٥ـ نبي کريم ﷺ د دې دپاره ډېر بهتر علاج او ښه تداوي ښودلې ده چې سړی د الله ﷻ نعمتونه حقير ونه ګڼي چې په امتحان کښې ناکام شي او خپل ځان کنترول نه کړی شي، هغه دا چې فرمايلي يې دي: «إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ»[1] يعنې کله چې ستاسو کوم يو هغه چاته وګوري کوم ته چې په ده باندې په مال او نورو مخلوقاتو کښې بهترې ورکړې شوې وي لکه مالونه او اولادونه او نور، نو نومړی کس دې هغه چاته وګوري کوم چې د ده څخه په ورکړې شوو نعمتونو کښې ښکته وي، نو غني دې فقير ته وګوري او روغ دې ناروغ ته وګوري او داسې نور، خو په نورو خلکو باندې دې رخه نه کوي او د حسد څخه دې تېر شي.

عون بن عبدالله بن عتبه علیه الرحمة په همدې موضوع کښې د ذکر شوي حديث شريف مضمون داسې تجربه کړی دی چې: «صَحِبْتُ الْأَغْنِيَاءَ فَلَمْ أَرَ أَحَدًا أَكْبَرَ هَمًّا مِنِّي أَرَى دَابَّةً خَيْرًا مِنْ دَابَّتِي وَثَوْبًا خَيْرًا مِنْ ثَوْبِي وَصَحِبْتُ الْفُقَرَاءَ فَاسْتَرَحْتُ»[2] يعنې ما د غنيانو سره ناسته ولاړه کوله نو ما هيڅوک نه ليده چې زما څخه به زيات غمژن وي، ما به څاروي ليده چې زما د څاروي څخه بهتر وه، او ما به جامه او لباس ليده چې زما د جامې او لباس څخه به غوره وه او داسې نور (نو زه به غمژن کېدلم)، او د فقيرانو سره مې ناسته ولاړه شروع کړه چې زما څخه به په نعمتونو کښې ټيټ وه نو سمدستي مستريح شوم او ارام مې مونده کړ (د قلبي اضطراب څخه خلاص شوم).

د الله ﷻ په توفيق په همدې ځای د اتلسمې سپارې ترجمه او تفسير بشپړ شو، د الله ﷻ څخه زيات توفيق غواړو ترڅو د [الناس] سورت ترجمه او تفسير هم پای ته ورسوو.

آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ

١٤٢٠/٧/٢ هـ ق = ١٣٧٨/٦/٢٠ هـ ش = ١٩٩٩/٩/١٢ م.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٦٠؛ مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٩٠

(٢) جامع الترمذي ج١ ص٣٠٧

Scanned by CamScanner

# د اتم ټوک
# محتویات



Scanned by CamScanner

د موسى علیه السلام د ژبې غوټه پرانستله شوه ......... ۵
تبصره ......... ۶
"وزیر" څه معنى؟ ......... ۶
هېر مو نه شي ......... ۷
د "أزر" معنى ......... ۷
د "مَرَّةً أُخْرَىٰ" معنى ......... ۱۲
موسى علیه السلام پورې د مربوطو څینو واقعاتو ذکر ۱۲
په موسى علیه السلام باندې محبت اچولى شوى وه ... ۱۳
سوال جواب ......... ۱۴
د "فُتُون" معنى ......... ۱۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ......... ۱۴
"وَنَى" څه معنى؟ ......... ۱۵
"لِيِّن" څه معنى؟ ......... ۱۷
یادونه ......... ۱۸
سوال جواب ......... ۱۸
متعدد تفسیرونه ......... ۲۱
"بال" څه معنى؟ ......... ۲۲
د ایتونو تنسیق ......... ۲۳
سوال جواب ......... ۲۳
دلته اضافت عهدي دی ......... ۲۵
سوال جواب ......... ۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ......... ۲۶
یو نحوي تحلیل ......... ۲۷
سوال جواب ......... ۲۷
"نُحْشَ" څه معنى؟ ......... ۳۱
د "نجوى" معنى ......... ۳۱
سوال جواب ......... ۳۱
یو نحوي تحلیل ......... ۳۲
"طریقة" څه معنى؟ ......... ۳۲
د "خَيَال" معنى ......... ۳۳
سوال جواب ......... ۳۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ......... ۳۶
سوال جواب ......... ۳۷
تبصره ......... ۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ......... ۳۷
یادونې ......... ۳۸
دلته بله جمله مقدره ده ......... ۴۰
سوال جواب ......... ۴۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ......... ۴۱
د دې زمانې فرعون ......... ۴۲
د "هَوْيَان" معنى ......... ۴۵
سوال جواب ......... ۴۵
سامري څوک وه؟ ......... ۴۶
بني اسرائیلو د وعدو څخه مخالفت وکړ ......... ۴۹
"مَلْك" څه معنى؟ ......... ۵۰
د "أوزار" معنى ......... ۵۰
د "أوزار" کلمه په خپله حقیقي معنى سره ده .. ۵۱
سوال جواب ......... ۵۲
یوه متوسطه لاره ......... ۵۳
غیر مقبول اعتذار ......... ۵۳
سوال جواب ......... ۵۴
دلته "اتباع" څه معنى؟ ......... ۵۵
دیره د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام سنت ده ......... ۵۶
مقبول اعتذار ......... ۵۶
د "خَطْب" معنى ......... ۵۹
سوالونه او جوابونه ......... ۵۹
علماء کرام څه معنى؟ ......... ۶۰
عجیبه بندیخانه ......... ۶۱
موسى علیه السلام خپله خبره ربښتیا کړه ......... ۶۲
خوسکی وسوزېد او ذوب نه شو ......... ۶۲
د قران کریم یو نوم "ذکر" دی ......... ۶۴
"حِمْل" څه معنى؟ ......... ۶۵
د "زُرْق" معنى ......... ۶۵
سوال جواب ......... ۶۶
یادونه ......... ۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "نسف" معنی ........ ۷۰
سوال جواب ........ ۷۱
د خمکې څلور کیفیتونه ........ ۷۱
یو مطلب په یاد ولرئ ........ ۷۲
سوال جواب ........ ۷۲
د "خشوع" او "همس" معناوې ........ ۷۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۷۳
تبصره ........ ۷۴
"عنو" څه معنی؟ ........ ۷۴
د "ظلم" او "هضم" ترمنځ فرق ........ ۷۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۷۷
د ایت شریف ارشاد ........ ۷۸
آدم ﷺ هېر دله وه ........ ۷۸
"عزم" څه معنی؟ ........ ۷۸
سوال جواب ........ ۸۱
پیغمبران علیهم السلام په عصمت کښې دي ........ ۸۲
په "اهبطا" کښې څوک مخاطب دي ........ ۸۵
"ضنک" څه معنی؟ ........ ۸۵
تبصره ........ ۸۵
سوال جواب ........ ۸۶
ړوند په دوه ډوله دی ........ ۸۷
یوه مهمه مسئله ........ ۸۸
د "نهی" معنی ........ ۸۸
غوره تفسیر ........ ۹۲
د پنځو لمونځونو استنباط ........ ۹۳
د ایتونو ارشاد ........ ۹۴
عظیمه او دائمه معجزه ........ ۹۴
تبصره ........ ۹۵

## الأنبياء (۲۱)

سریزه ........ ۹۷
"اقتراب" څه معنی؟ ........ ۱۰۰
سوال جواب ........ ۱۰۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۰۱
د "اسرار" معنی ........ ۱۰۲
یو نحوي تحلیل ........ ۱۰۳
یادونه ........ ۱۰۳
کفار په یو خبره ولاړ نه دي ........ ۱۰۳
د مشرکانو د شپږو اشتباهګانو رد ........ ۱۰۶
سوال جواب ........ ۱۰۷
د "قصم" او "رکض" معناوې ........ ۱۰۹
سوال جواب ........ ۱۰۹
په دې مقام کښې د "لهو" معنی ........ ۱۱۱
د درېوو لغاتو معناوې ........ ۱۱۲
د الله ﷻ مخلوقات محصور نه دي ........ ۱۱۳
د پرښتو تسبیحات او زمونږ تنفس ........ ۱۱۳
سوال جواب ........ ۱۱۴
د څو اشتباهګانو جوابونه ........ ۱۱۵
برهان التمانع ........ ۱۱۷
سوال جواب ........ ۱۱۸
یو نحوي تحلیل ........ ۱۱۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۱۹
"شفقة" څه معنی؟ ........ ۱۲۲
د "رتق" او "فتق" معناوې ........ ۱۲۵
تبصره ........ ۱۲۶
سوال جواب ........ ۱۲۶
هر ژوندی شی د اوبو څخه پیدا شوی دی ... ۱۲۸
تبصره ........ ۱۲۹
سوال جواب ........ ۱۲۹
د "فج" معنی ........ ۱۳۰
د "فلک" معنی ........ ۱۳۱
"ذوق" څه معنی؟ ........ ۱۳۳
یو نحوي تحلیل ........ ۱۳۳
د "عجل" معنی ........ ۱۳۶
سوال جواب ........ ۱۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"كِلاءٌ" يا "كِلاءَةٌ" څه معنی؟ ۱۴۰
"إِصْحَابٌ" څه معنی؟ ۱۴۱
سوال جواب ۱۴۱
"نَفْحَةٌ" څه معنی؟ ۱۴۲
د "رُشْدٌ" معنی ۱۵۰
"تَمَاثِيل" څه معنی؟ ۱۵۱
یادونه ۱۵۱
"كَيْدٌ" څه معنی؟ ۱۵۱
یادونه ۱۵۱
ابراهیم ﷺ خپله نقشه عملي کړه ۱۵۲
"جُذَاذٌ" څه معنی؟ ۱۵۲
دلته د "كَبِير" معنی ۱۵۲
څه چې ابراهیم ﷺ غوښتل هغه وشوه ۱۵۳
د ابراهیم ﷺ څخه استنطاق پیل شو ۱۵۳
سوال جواب ۱۵۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۵۴
یادونه ۱۵۵
سوال جواب ۱۵۶
هېر مو نه شي ۱۵۶
"نُكِسَ" څه معنی ۱۵۷
د متکبرانو دائمي کړنلارې ۱۶۱
د ابراهیم ﷺ د اور کمیت او کیفیت ۱۶۱
"منجنیق" څه شي ته ویل کیږي؟ ۱۶۲
هم انکار او هم اقرار ۱۵۳
اور مکلف شو ۱۶۳
ابراهیم ﷺ نجات مونده کړ ۱۶۴
سوال جواب ۱۶۴
درې ملګرې په لاره کښې څلور شوه ۱۶۵
د "نَافِلَةٌ" معنی ۱۶۶
نمرودیان په څه شي هلاک شوه ۱۶۷
د لوط ﷺ قوم ناپاکه کارونه کول ۱۶۷
عاقبت په متقیانو پورې اختصاص لري ۱۶۸
د نوح ﷺ ښېراوې ۱۶۸
"كَرْبٌ" څه معنی؟ ۱۶۹
څو نکات ۱۷۱
سوال جواب ۱۷۳
د ذکرې شوې فیصلې نظایر ۱۷۳
سوال جواب ۱۷۵
یادونه ۱۷۶
د غرونو او مرغانو تسبیحات ۱۷۶
"لَبُوس" څه معنی؟ ۱۷۷
سوالونه او جوابونه ۱۷۷
یادونه ۱۷۸
د اسرائیلیاتو په هکله زمونږ مکلفیت ۱۸۰
د ایوب ﷺ څه حالات ۱۸۰
سوال جواب ۱۸۱
هم نجات او هم عوضونه ۱۸۲
ذا الکفل څوک وه ۱۸۶
ذا النون د یونس ﷺ لقب دی ۱۸۷
"قَدَرٌ" د تنګی معنی هم ورکوي ۱۸۸
درې تیارې ۱۸۸
یادونې ۱۸۹
"فَرْجٌ" څه معنی؟ ۱۸۹
سوال جواب ۱۸۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۱۹۰
غوره تفسیر ۱۹۵
یادونه ۱۹۶
"حَدَبٌ" او "نَسَلَ" څه معنی؟ ۱۹۶
یو نحوي تحلیل ۱۹۷
"حَصَبٌ" څه معنی؟ ۱۹۷
یادونه ۱۹۸
سوال جواب ۱۹۸
د "زَفِيرٌ" معنی ۱۹۸
په دوزخ کښې کفار اوریدل نه شي کولی ۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د مفهوم عموم ته اعتبار دی ........ ۱۹۹
"فزع" څه معنی؟ ........ ۱۹۹
یو تفسیري تحلیل ........ ۲۰۰
دلته د "الزُّبُور" د کلمې معنی ........ ۲۰۴
سوال جواب ........ ۲۰۵
تبصره ........ ۲۰۶
یوه خاطره ........ ۲۰۶
"بَلاغ" څه معنی؟ ........ ۲۰۸
نبي کریم ﷺ د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی ۲۰۸

الحج (۲۲)

سریزه ........ ۲۱۱
د "زَلْزَلَة" معناوې ........ ۲۱۴
دلته زلزله په کومه معنی سره ده ........ ۲۱۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۱۶
تبصره ........ ۲۱۶
"ذُهُول" څه معنی؟ ........ ۲۱۶
سوال جواب ........ ۲۲۱
د "عَلَقَة" او "مُضْغَة" معناوې ........ ۲۲۱
د "مُخَلَّقَة" او "غَیر مُخَلَّقَة" معناوې ........ ۲۲۲
تبصره ........ ۲۲۲
عجیبه یادونه ........ ۲۲۳
سوال جواب ........ ۲۲۳
هیر مو نه شي ........ ۲۲۳
"رَذَالَة" څه معنی؟ ........ ۲۲۴
د "هُمُود" معنی ........ ۲۲۴
"بَهْجَة" څه معنی؟ ........ ۲۲۴
سوال جواب ........ ۲۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۲۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۲۷
د څنګ تاوول (تکبر کول) ........ ۲۲۷
"خَرَف" څه معنی؟ ........ ۲۳۱
سوال جواب ........ ۲۳۱
دوه ډوله تفسیر ........ ۲۳۵
سوال جواب ........ ۲۳۷
"مَجُوس" څوک دی؟ ........ ۲۳۷
د "رؤیة" معنی ........ ۲۳۹
"سجود" دوه معناوې لري ........ ۲۳۹
سوالونه او جوابونه ........ ۲۴۰
د "حَمِیم" معنی ........ ۲۴۵
"صَهْر" څه معنی؟ ........ ۲۴۵
د "مَقَامِع" معنی ........ ۲۴۶
سوال جواب ........ ۲۴۷
دوه ډوله تفسیر ........ ۲۴۷
یو نحوي تحلیل ........ ۲۵۰
المسجد الحرام یا حرم شریف ........ ۲۵۰
د حرم شریف خصوصیات ........ ۲۵۱
حرم شریف څومره ساحه ده ........ ۲۵۱
د "بَوّاء" معنی ........ ۲۵۴
سوال جواب ........ ۲۵۴
د ابراهیم ﷺ اعلان ........ ۲۵۵
"ضَامِر" څه معنی؟ ........ ۲۵۵
سوال جواب ........ ۲۵۶
تبصره ........ ۲۵۶
معلومې ورځې کومې ورځې دي ........ ۲۵۷
ایا د قربانیو د غوښو خوراک جائز دی؟ ........ ۲۵۸
"تَفَث" څه معنی؟ ........ ۲۵۸
سوال جواب ........ ۲۵۸
درې طوافونه ........ ۲۵۹
بیت العتیق د کعبې شریفې لقب دی ........ ۲۵۹
یو اعرابي تحلیل ........ ۲۶۲
سوال جواب ........ ۲۶۳
دوه ډوله تفسیر ........ ۲۶۴
"زُور" څه معنی؟ ........ ۲۶۴
مشرک ګرځېدل یا د اسمانه رالوېدل ........ ۲۶۵


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




سوال جواب ...... ۲۶۶
هېر مو نه شي ...... ۲۶۶
د قربانيو حکمتونه ...... ۲۷۰
"مَنسَك" څه معنى؟ ...... ۲۷۰
د "إخبَات" معنى ...... ۲۷۰
صرفي او نحوي تحليلونه ...... ۲۷۱
"صَوَافّ" څه معنى؟ ...... ۲۷۱
"قانِع" او "مُعتَرّ" څه معنى؟ ...... ۲۷۱
د جهاد إذن نازل شو ...... ۲۷۶
څلور ډوله عبادتخونې ...... ۲۷۶
يادونه ...... ۲۷۷
"مَشِيد" څه معنى؟ ...... ۲۸۰
سوال جواب ...... ۲۸۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۸۱
د مشرکانو استهزاء ...... ۲۸۳
سوال جواب ...... ۲۸۴
سوال جواب ...... ۲۸۴
"تَمَنّي" څه معنى؟ ...... ۲۸۷
دوه ډوله تفسير ...... ۲۸۸
تبصره ...... ۲۸۹
سوال جواب ...... ۲۹۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۹۰
يادونه ...... ۲۹۱
"عَقِيم" د کومې ورځې لقب دى؟ ...... ۲۹۲
د "نَعِيم" معنى ...... ۲۹۳
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۹۶
تبصره ...... ۲۹۶
يادونه ...... ۲۹۷
د دوه وو لغاتو (لَطِيفٌ، خَبِيرٌ) معناوې ...... ۳۰۰
سوال جواب ...... ۳۰۰
د دوه وو لغاتو (رَءُوفٌ، رَحِيمٌ) معناوې ...... ۳۰۰
د "مَنسَك" معنى ...... ۳۰۲
د "سُلطَان" معنى ...... ۳۰۵
"سَطوَة" څه معنى؟ ...... ۳۰۵
سوال جواب ...... ۳۰۸
د طالب او مطلوب مصداقات ...... ۳۰۸
دوه ډوله تفسير ...... ۳۱۲
حق جهاد د کوم جهاد نوم دى؟ ...... ۳۱۲
په دين کښې حَرَج نشته ...... ۳۱۳
يو نحوي تحليل ...... ۳۱۴
سوال جواب ...... ۳۱۴
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۱۴

**المؤمنون (۲۳)**

سريزه ...... ۳۱۷
"إفلاح" څه معنى؟ ...... ۳۲۰
"خُشوع" څه معنى؟ ...... ۳۲۰
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۲۲
"لَغو" څه معنى؟ ...... ۳۲۲
دوه ډوله تفسير ...... ۳۲۳
تبصره ...... ۳۲۳
د "فُرُوج" معنى ...... ۳۲۳
سوال جواب ...... ۳۲۴
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۲۵
يادونه ...... ۳۲۶
سوال جواب ...... ۳۲۶
يوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۲۷
يادونه ...... ۳۲۷
د "سُلَالَة" معنى ...... ۳۲۹
د دوه وو لغاتو (قَرَار، مَكِين) معناوې ...... ۳۳۰
يادونه ...... ۳۳۰
د انسان د هډوکو ټوله شمېره ...... ۳۳۰
د "خَلقًا آخَر" معنى ...... ۳۳۱
سوال جواب ...... ۳۳۱
يادونه ...... ۳۳۲


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




'طور سیناء' څه معنی؟ ...... ۳۳۷
سوال جواب ...... ۳۳۷
ماثور تفسیر ...... ۳۳۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۴۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۴۳
یوه عجیبه بې انصافي ...... ۳۴۳
یادونې ...... ۳۴۳
سوال جواب ...... ۳۴۴
'قرنا اخرین' څه معنی؟ ...... ۳۴۸
سوال جواب ...... ۳۴۸
یو نحوي تحلیل ...... ۳۴۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۴۹
سوال جواب ...... ۳۵۰
تبصره ...... ۳۵۰
دلته د 'ما' توری زائد نه دی ...... ۳۵۱
'غثاء' څه معنی؟ ...... ۳۵۱
د 'تترا' د کلمې تحلیل ...... ۳۵۳
یادونه ...... ۳۵۳
د 'احادیث' د کلمې تحلیل ...... ۳۵۳
سوال جواب ...... ۳۵۶
د څو لغاتو معناوې ...... ۳۵۶
تبصره ...... ۳۵۷
د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او ټولو مؤمنانو
مشترک ارشاد ...... ۳۵۹
'أمة' څه معنی؟ ...... ۳۶۰
هېر مو نه شي ...... ۳۶۰
'زبرة' څه معنی؟ ...... ۳۶۰
د 'غمرة' معنی ...... ۳۶۱
ماثور تفسیر ...... ۳۶۴
غوره تفسیر ...... ۳۶۹
'جؤار' څه معنی؟ ...... ۳۷۰
سوال جواب ...... ۳۷۰
تبصره ...... ۳۷۱
'نکوص' څه معنی؟ ...... ۳۷۱
یو صرفي او نحوي تحلیل ...... ۳۷۱
سوال جواب ...... ۳۷۳
یادونه ...... ۳۷۳
'خرج' او 'خراج' څه فرق لري؟ ...... ۳۷۴
'نکب' څه معنی؟ ...... ۳۷۴
متعدد تفسیرونه ...... ۳۷۶
یو صرفي تحلیل ...... ۳۷۸
تبصره ...... ۳۷۸
سوال جواب ...... ۳۸۱
'ذرأ' څه معنی؟ ...... ۳۸۱
څو وضاحتونه ...... ۳۸۵
د 'سحر' یوه معنی ...... ۳۸۶
څو ټکي ...... ۳۸۹
د 'أدفع' معنی ...... ۳۹۰
'همز' څه معنی؟ ...... ۳۹۰
سوال جواب ...... ۳۹۰
'برزخ' څه معنی؟ ...... ۳۹۱
سوال جواب ...... ۳۹۵
په ایتونو کښې تناقض نشته ...... ۳۹۵
د 'لفح' او 'کلوح' معناوې ...... ۳۹۶
'خسأ' څه معنی؟ ...... ۳۹۷
یادونه ...... ۳۹۷
په دنیا کښې د کفارو عمر ...... ۳۹۹
دوه تحلیلونه ...... ۴۰۰
یادونه ...... ۴۰۰


## النور (۲٤)


سریزه ...... ۴۰۲
یو اعرابي تحلیل ...... ۴۰۶
سوال جواب ...... ۴۰۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د حدودو دولونه ۴۰۶
د "جَلْد" معنی ۴۰۷
د "رَأفَة" د کلمې معنی ۴۰۸
طائفه څومره خلکو ته ویل کېږي ۴۰۸
ایا په حد کښې تغریب شامل دی؟ ۴۰۹
سوال جواب ۴۱۱
ایا د حد سره د تغریب ثبوت څه نظایر لري؟ ۴۱۱
رجم هم په ایت شریف باندې زیادت دی ۴۱۲
هېر مو نه شي ۴۱۳
عجیبه قیصه ۴۱۴
د رجم سره د دُرو وهل نه جمعه کېږي ۴۱۴
په رجم کښې احصان ضرور دی ۴۱۵
مشکل المراد ایت ۴۱۶
د اشکال څخه د وتلو لارې ۴۱۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۱۹
سوال جواب ۴۱۹
تعزیر څه معنی؟ ۴۲۰
د محارمو سره نکاح ۴۲۰
لوطي هم باید تعزیر شي ۴۲۱
سوال جواب ۴۲۱
څوک چې خاروی ته ورشي ۴۲۱
څو ټکي ۴۲۳
په قذف باندې سرې فاسق ګرځي ۴۲۴
سوال جواب ۴۲۴
ایا د محدود في القذف شهادت همېشه مردود دی؟ ۴۲۵
د لعان په ارتباط څو ټکي ۴۲۹
سوال جواب ۴۳۰
د لعنت او غضب څه فرق دی؟ ۴۳۱
د لعان نتیجه ۴۳۱
نحوي تحلیلونه ۴۳۲
د إفک واقعه ۴۳۵
د "إفْك" معنی ۴۳۸
"عُصْبَةٌ" څه معنی؟ ۴۳۸
دا تهمت لګول ستاسو د پاره په خیر تمام شو ۴۳۹
د عایشې رضي‌الله‌عنها فضائل ۴۳۹
ګناهونه د عمل په اندازه ۴۳۹
د بهتان مؤسس څوک وه؟ ۴۴۰
ایا په دې بهتان کښې څوک په حد ګرې شو ۴۴۰
تاسو ولې د بهتان رد ونه کړ؟ ۴۴۱
تبصره ۴۴۲
دروغژنان څوک دي؟ ۴۴۳
سوال جواب ۴۴۳
"إفاضَة" څه معنی؟ ۴۴۴
درې ګناهونه ۴۴۴
تاسو نه څه په کار وه؟ ۴۴۴
سوال جواب ۴۴۵
څو بیا داسې ونه کړئ ۴۴۶
د ګناه اشاعت خوښول هم ګناه ده ۴۴۶
یادونه ۴۴۷
سوال جواب ۴۴۷
په څینو مهمو موضوعاتو کښې د وحي د تاليدلو حکمت ۴۴۸
د دې ایتونو یو نظیر ۴۴۹
د "وَلَا يَأْتَلِ" کلمه د څه شي څخه اشتقاقه شوې ده ۴۵۱
سوال جواب ۴۵۱
د ابو بکر صدیق رضي‌الله‌عنه اجابت ۴۵۲
دوه دوله تفسیر ۴۵۴
هېر مو نه شي ۴۵۵
د یوې ژبې انکار او شهادت ۴۵۶
متعدد تفسیرونه ۴۵۷
تبصره ۴۵۷
څو ټکي ۴۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "استیناس" د کلمې تحلیل ...... ۴۶۱
تبصره ...... ۴۶۲
اول کلام دی او که سلام؟ ...... ۴۶۲
تبصره ...... ۴۶۳
ایا د دروازې ټکول اذن غوښتل دي؟ ...... ۴۶۳
اجازه غوښتل ترڅو؟ ...... ۴۶۴
اجازه غوښتونکی باید څنګه ودرېږي؟ ...... ۴۶۵
هېر مو نه شي ...... ۴۶۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۶۶
غیر مسکونه کورونه ...... ۴۶۶
"متَاع" څه معنی؟ ...... ۴۶۷
ضرورت د اجازه اخستلو مخه نیسي ...... ۴۶۷
څو ټکي ...... ۴۶۹
څو ګټور معلومات ...... ۴۷۰
د عورت تعریف او ډولونه ...... ۴۷۱
محرم او نامحرم څوک-څوک دي؟ ...... ۴۷۲
د "زینت" تعریف او ډولونه ...... ۴۷۲
ایا د زنانه وو مخ او لاسونه عورت دي؟ ...... ۴۷۳
تبصره ...... ۴۷۴
سوال جواب ...... ۴۷۶
"جَیب" څه معنی؟ ...... ۴۷۶
بیا هم د "زینت" کلمه ...... ۴۷۷
سوال جواب ...... ۴۷۷
د رضاع خپلوان هم د نسبي خپلوانو غونډې دي ...... ۴۷۸
مسلمانې ښځې هم محرمې دي ...... ۴۷۸
وینځه هم محرمه ده ...... ۴۷۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۷۹
"اِربَة" څه معنی؟ ...... ۴۷۹
تبصره ...... ۴۸۰
"ظُهُور" څه معنی؟ ...... ۴۸۰
اوه ګونې احکام ...... ۴۸۱
ایا د ښځو اواز هم ستر دی؟ ...... ۴۸۲
تاسو ټول توبه تائب شئ ...... ۴۸۳
څو ټکي ...... ۴۸۶
سوال جواب ...... ۴۸۸
څو نکات ...... ۴۸۹
دا شرط احترازي نه دی ...... ۴۹۱
یو نحوي تحلیل ...... ۴۹۱
دوه ډوله تفسیر ...... ۴۹۲
تبصره ...... ۴۹۳
د "نور" په ارتباط څه معلومات ...... ۴۹۵
د تمثیل د ارکانو وضاحت ...... ۴۹۷
د تمثیل تطبیق ...... ۴۹۸
د تمثیل ګټه ...... ۴۹۹
سوال جواب ...... ۴۹۹
یو نحوي تحلیل او وضاحتونه ...... ۴۹۹
سوال جواب ...... ۵۰۰
مستأنفه جمعه او د هغې حاصل ...... ۵۰۲
لومړی مثال ...... ۵۰۴
یو اشکال او د هغه د حل کولو طریقه ...... ۵۰۶
سوال جواب ...... ۵۰۶
دوهم مثال ...... ۵۰۷
د دوهم مثال لنډیز ...... ۵۰۷
هر شی د الله ﷻ تسبیحات وایي ...... ۵۱۱
سوال جواب ...... ۵۱۲
دوه لغات ...... ۵۱۲
ایا په اسمان کښې د ږلۍ غرونه شته؟ ...... ۵۱۳
یو تطبیق ...... ۵۱۳
یادونه ...... ۵۱۴
هره دابه د اوبو څخه پیدا کړی شوې ده ...... ۵۱۴
یو تذکر ...... ۵۱۵
سوال جواب ...... ۵۱۷
"اِذعان" څه معنی؟ ...... ۵۱۷
د ایت ارشاد ...... ۵۱۷

Scanned by CamScanner